# د حق او باطل جګړې

**تاريخي حقايق، پايلې او عبرتونه د اسلام سره د کفارو،**
**مشرکينو، مادي پالو اوسيکولرو عناصرو د دښمنيو لنډ او مستند بيان**

**ليکوال:**
**عبد المالک «همت»**

**د کتاب نوم:** د حق او باطل جګړې

**د کتاب اصلي نوم:** پیکار میان حق و باطل

**لیکوال:** عبدالمالک «همت»

**موضوع:** نور عقیدوي مسائل (ایمان، جبر، اختیار، قضا او قدر، مهدی، انسان، شیطن، پیرې، فرشتی او...)

**د چاپ شمېر:** لومړی (دیجیتال)

**د چاپ تاریخ:** سلواغه ۱۳۹۵ هـ ش - جمادي الأول ۱۴۳۸ هـ ق

**سرچینه:**

**دا کتاب د عقیدې د کتابخانې سایت نه داونلود شوی دی.**

**www.aqeedeh.com/pa**

**برېښنا لیک:** **book@aqeedeh.com**

**د موحدینو ګروپ ویب پاڼو**

www.mowahedin.com www.aqeedeh.com

www.videofarsi.com www.islamtxt.com

www.zekr.tv www.shabnam.cc

www.mowahed.com www.sadaislam.com

**په عقیدې سایت کې ددغه کتاب خپرول، دهغه د ټولو محتواوو سره دسایت د همغږۍ په معنا نه ده.**

contact@mowahedin.com

بسم الله الرحمن الرحيم

# سرليکونه

**سرليکونه............................................................ أ**

**سريزه ............................................................... ۱**

**د انسانانو په خټه کې د رذايلو تومنه ........................................ ۴**

د نفس د شهوت لومړنۍ قرباني: .......................................۷

**د ټولو پيغمبرانو ﷤ دين همدغه اسلام وو ........................................ ۱۵**

**ادريس ﷤ او د کفر او فساد پر ضد لومړنۍ پاڅېدنه ........................................ ۲۷**

**حضرت نوح ﷤ او د اسلام سره د هغه د قوم دښمني........................................۳۰**

په قرآن کريم کې د قوم د سردارانو يادوني: .......................................۳٤

**حضرت هود ﷤ او د اسلام سره د عاديانو دښمني........................................ ۳۷**

د ظالمانو پر ضد پاڅون ته بلنه: .......................................٤۰

د جرأت او زړه ورتيا درس: .......................................٤۲

په مځکه کې د کبر او ځان غوښتني پای هلاکت دی: .......................................٤٤

**حضرت صالح ﷤ او د اسلام سره د ثمودو دښمني........................................ ۴۶**

د کفارو دهري او مادي اندونه: .......................................۵۰

**حضرت ابراهيم ﷤ او د اسلام سره د نمروديانو دښمني........................................ ۵۳**

د بابل واکمني: .......................................۵٤

د بت پالني پر ضد د ابراهيم ﷤ جهاد: .......................................۵۵

د ابراهيم ﷤ محاکمه: .......................................۵٦

د ابراهيم ﷤ لخوا زړونه په لاس راوړل: .......................................۵۷

د ابراهيم ﷤ او نمرود مناظره: .......................................۵۷

د حضرت ابراهيم ﷤ هجرت: .......................................۵۹

د نمرود او نمرودیانو برخلیک: ............................. ٦٠
د ابراهیم‌علیه‌السلام په کیسه کې د شجاعت درس: ........................ ٦٢
پخوانۍ او اوسمهالې بت پالنه: ........................................ ٦٣
د ظلم سره مقابله: ..................................................... ٦٤
زموږ د مهال د نمرودیانو حال: ........................................ ٦٦
**حضرت لوط‌علیه‌السلام او د سدوم د اوسېدونکو بدکارۍ ................................ ٦٨**
اوسمهال د لواطت څرنګوالی: ......................................... ٧٤
**حضرت شعیب‌علیه‌السلام او د اسلام سره د مدین د اوسېدونکو دښمني ..................... ٧٦**
د ظلم انجام: ............................................................ ٧٨
حضرت شعیب‌علیه‌السلام او د اسلام سره د ایکه والودښمني ......................... ٧٨
د ایکه والو پوپنا کېده: ............................................... ٧٩
**یوسف‌علیه‌السلام او د مصر دشپنو واکمنو عیاشۍ او ظلمونه ............................. ٨١**
د اشرافو د ښځو مکر: ................................................ ٨٢
یوسف‌علیه‌السلام د ظالمانو په بند کې: ................................... ٨٣
په دې کیسه کې د دغه مهال د عیاشۍ انځور: ............................. ٨٥
**حضرت موسی‌علیه‌السلام او د اسلام سره د فرعونیانو دښمني ................................. ٨٧**
د مدین پر لور: ........................................................ ٨٩
موسی‌علیه‌السلام د سپین ږیري سړي په کور کې: ............................. ٨٩
د احسان او ښېګڼې بدله: ............................................. ٩٠
د موسی‌علیه‌السلام د نبوت پیل: ............................................ ٩٠
موسی‌علیه‌السلام فرعون ایمان ته بولي: ....................................... ٩١
د فرعون د قوم د مشرانو خبرې: ........................................ ٩٢
د فرعون له قوم څخه د یوه مېړني سړي شجاعت: .......................... ٩٢
د فرعون د مېرمني ایماني مقاومت: .................................... ٩٤
له مصر څخه د موسی‌علیه‌السلام او د هغه د قوم وتل: ........................... ٩٥
د اسلام سره د ستر پانګوال قارون دښمني: ............................... ٩٦

د موسیٰ عليه السلام غوره صفات: ........................................ ۹۷
د موسى او فرعون د مبارزو نه شلېدونکې لړۍ: .......................... ۹۹
**مرييتوب څنګه رامنځ ته سو؟................................................ ۱۰۲**
**د اسلام په وړاندې د يهودو سرکښۍ او دښمنۍ ........................... ۱۱۱**
د ظالمانوسره له جګړې څخه د بني اسرائيلو ډډه: ......................... ۱۱۳
د فاسد سوي ولس له منځه بايد نوى نسل وروزل سي: ...................... ۱۱٤
د فلسطين فتح: ..................................................... ۱۱٦
د طالوت واکمني: ................................................... ۱۱۷
د جالوت وژل: ...................................................... ۱۱۹
د داود عليه السلام واک ته رسېدل: ........................................ ۱۲۰
د شنبې د ورځې له حکمونو سر غړوونکي (اصحاب سبت) : ......... ۱۲۰
د آبيشالوم ښورښ: .................................................. ۱۲۳
**د حضرت سليمان عليه السلام واكمني............................................ ۱۲۴**
د اسرائيلو د ورانيو لومړى ستر پېر (دور) ................................ ۱۲٤
د لوى څښتن له لوري وروستۍ موقع: ................................... ۱۲۸
يوناني ولکه او مکابي غورځنګ: ........................................ ۱۲۹
وروستۍ موقع هم له لاسه ووتل: ........................................ ۱۳۰
**حضرت زكريا او حضرت يحيى (عليهما السلام) اود اسلام سره د يهودو دښمنۍ ...... ۱۳۳**
د يحيىٰ عليه السلام زيږېدل: ............................................. ۱۳۳
د خداى د دښمنانو لخوا د زکريا او يحيى (عليهما السلام) وژل:....... ۱۳٤
**د تورات په تحريفولو سره د اسلام سره د يهودو دښمني.......................... ۱۳۶**
**حضرت عيسىٰ عليه السلام او د اسلام سره د يهودو او روميانو دښمنۍ ................ ۱۴۱**
د عيسىٰ عليه السلام لومړني پيروان مسلمانان وه: ................................ ۱٤۱
د عيسىٰ عليه السلام د مبعوثېدو پر مهال ديهودو ګمراهي: .......................... ۱٤۱
د حضرت عيسىٰ عليه السلام د مبعوثېدو پر مهال د روم حالت:................. ۱٤۲
مريان: ............................................................ ۱٤۳

د مريانو پاڅونونه: ........................................... ۱۴۴
د حضرت عيسىؑ د مبعوثېدو پر مهال ديني چارې: ................ ۱۴۵
د مسيح انتظار: .......................................................... ۱۴۶
د حضرت عيسىؑ څرګندېدل: .......................................... ۱۴۶
د عيسىؑ مبارزه او نبوت: .............................................. ۱۴۷
د حاكمو ډلو غبرګون: .................................................. ۱۴۹
توطئه او عيسىؑ دار ته پورته كول: .................................... ۱۵۰
دا وو له ظلم څخه د بې وزلو د ژغورونكې برخليک: ................... ۱۵۳
د اسلام د دښمنانو لخوا د انجيل تحريفول .............................. ۱۵۵
د برناباس انجيل: ........................................................ ۱۶۰
**د عيسىؑ د دين په تحريفولو سره د اسلام سرهد پولس دښمني................ ۱۶۳**
د عېسويانو كړوني: ...................................................... ۱۶۹
د قسطنطين لخوا د عېسويت منل: ...................................... ۱۷۰
تر قسطنطين وروسته: .................................................... ۱۷۱
په نړۍ كې د مسيحيت خپرېده: ......................................... ۱۷۳
د كليساوالو د ظلمونو يو څو بېلګې: ................................... ۱۷۳
ستر ببلتون او پر ډلو ټپلو باندې د عېسويت وېشنه: ...................... ۱۷۷
د كليسا د واک زوال: ................................................... ۱۸۰
**حضرت محمد ﷺ او د اسلام سره د كفارو دښمني .............................. ۱۸۲**
د حضرت محمدﷺ لنډ ژوند ليک: .................................... ۱۸۲
د حضرت محمدﷺ د مبعوثېدو د اړتيا مهال: ......................... ۱۸۲
پيغمبرې او د ډول ډول طاغوتي ځواكونو مقابلې ته دانګل: ............. ۱۸۵
اقتصادي كلابندي او بنديزونه: ........................................ ۱۸۷
د زورونو او ګواښونو سره سره د رسول اللهﷺ ټينګ هوډ: .............. ۱۸۸
اسلام او مسكينان: ..................................................... ۱۸۸
حبشې ته هجرت: ....................................................... ۱۹۰
د مشركينو بل چال: .................................................... ۱۹۱

**مدينې منورې ته د رسول ﷺ هجرت او نوی ژوند ........................ ۱۹۴**
په مدينه کې د مهاجرو او انصارو تر منځ مواخات: ........................۱۹٥
د مسلمانانو او يهودو تر منځ تړون: ........................۱۹۷
**د اسلام سره د منافقانو دښمني ........................ ۲۰۰**
د منافقانو سره د مسلمانانو چلند: ........................۲۰۲
د کفارو سره د جګړې او ژوبلې اجازه ........................۲۰۳
رسول الله ﷺ د وينو توييدو پلوی نه وو: ........................۲۰۸
مسلمانان بايد پياوړې پوځونه ولري ........................۲۱۰
**په عربي ټاپو وزمه کې د مشرکينو سره جګړې ........................ ۲۱۴**
د طبقات ابن سعد د کتاب سره سم د سراياوو تفصيل ........................۲۱٦
د رسول الله ﷺ د غزاوو تفصيل ........................۲۲۰
سريې او غزاوې: ........................۲۲۲
سريې (اکتشافي او ګښتي ګزمې) : ........................۲۲۲
**د بدر کبرى غزا........................۲۲۳**
د صحابه وو ايماني ولولې: ........................۲۲٤
يو له بله سره مخامخ کېدل: ........................۲۲٥
د ابو جهل وژل: ........................۲۲٥
د قيديانو په هکله د اصحابو بېلې بېلې نظريې: ........................۲۲٥
د دې ستري غزا پايلې: ........................۲۲٦
**د احد غزا ........................۲۲۸**
د کوچنيانو سره د جهاد مينه: ........................۲۲۹
جګړه: ........................۲۲۹
تر برې وروسته ماته: ........................۲۳۰
په دې جګړه کې د ښځو ونډه: ........................۲۳۲
**د احزابو يا خندق غزا ........................ ۲۳۶**
د احزابو (د کفارو د ډلو) سره د سولې خبرې: ........................۲۳۷

**د حديبيې سوله، نوي شرايط او نوي بدلونونه ........................................ ۲۳۹**
د حديبيې د سولې سياسي ګټې ........................................ ۲٤٥
**ټولواکانو او واکمنانو ته ليکونه (په نړيواله کچه اسلام ته بلنه)........................ ۲۴۷**
د روم د ټولواکمن پر نامه ليك: ........................................ ۲٤٧
د ايران د ټولواکمن پر نامه ليك: ........................................ ۲٤٩
د حبشې د پاچا پر نامه ليك: ........................................ ۲٥٠
د مصر د واکمن پر نامه ليك: ........................................ ۲٥١
**د مکې مکرمې پرتمينه فتح ........................................ ۲۵۳**
د ابوسفيان اسلام راوړل: ........................................ ۲٥٤
د مکې مکرمې د فتحې پايلې ........................................ ۲٥٦
**د اسلام سره د مدينې د يهودو دښمني او د هغو برخليک ........................ ۲۵۸**
په مدينه منوره کې د يهودو د مېشتېدو تاريخ: ........................................ ۲٥٨
د محمدﷺ او محمدي امت سره د يهودو دښمنۍ: ........................................ ۲٦٠
د ابوعفك وژل: ........................................ ۲٦٥
د بنو قينقاعو شړل: ........................................ ۲٦٥
د کعب بن اشرف وژل: ........................................ ۲٦٧
د بنو نضيرو شړل: ........................................ ۲٦٨
د بنو قُرَيظه وو له عبرته ډك برخليك: ........................................ ۲٦٩
د ابو رافع وژل: ........................................ ۲٧١
خيبر د دسيسو منځی (مرکز) : ........................................ ۲٧٢
زهر جني غوښې: ........................................ ۲٧٤
د فَدَك، وادی القری او تيماء يهود: ........................................ ۲٧٤
**د عربو له ټاپو وزمې څخه د مشرکينو، يهودو او نصاراوو د ايستلو په هکله ............ ۲۷۶**
د عربو په ټاپو وزمه کې اسلام دښمنيو او د رسولﷺ غزاوو ته کتنه... ۲٧٧
**د يهودو د ورانيو او اخلالګريو دوام ........................................ ۲۸۳**
په مسلمانانو کې د يهودو لخوا ناسم روايتونه څنګه خپاره سول؟ ...... ۲٨٥

اسلامي حکومتونه او د اسلام سره د يهودو دښمنئ: ............ ۲۸۵
**د اسلام سره د لوېديزيانو پر له پسې جګړې او دښمنئ............ ۲۸۸**
څه اړيني څرګندوني: ............ ۲۸۸
څه تاريخي څرګندوني: ............ ۲۹۰
د روم د ستر واکئ د بېلو بېلو ښاخونوپه هکله: ............ ۲۹۲
د عربو په ټاپو وزمه کي عېسويت: ............ ۲۹٤
د اسلام سره د روميانو د دښمنيو لاملونه: ............ ۲۹۵
**د موته جګړه، پر عېسوي روم باندي د بريو پيلامه ............ ۲۹۸**
**د تبوک غزا ............ ۳۰۱**
د معان د رومي والي مسلمانېدل ............ ۳۰۲
**د حضرت ابو بکر صديقﷺ له وختو څخه د سترو فتوحاتو پيلېده ............ ۳۰۴**
د اسپانيې فتح ............ ۳۰٦
پر فرانسه باندي وردانګل ............ ۳۱۲
سمندري فتوحات ............ ۳۱۳
د روم د سمندر ټاپوګان: ............ ۳۱۵
د اسلامي فتوحاتو بل پېر ............ ۳۱٦
**د عثماني ستري واکمنئ په ټينګېدوسره د اسلامي فتوحاتو بيا پيلېدل ............ ۳۱۹**
ترکان، بېزنتين او اروپا: ............ ۳۱۹
د قسطنطنيې تاريخي او پرتمينه فتح او د بېزنتين له منځه تله ............ ۳۲۳
قبچاق سلطنت او د ماسکو فتح ............ ۳۲٤
د عېسوي طاغوتيانو متقابل اقدامات ............ ۳۲٦
طاغوتي پروپاګنډ: ............ ۳۲۸
د منحرف عېسويت په عقايدو کي ترميم او د جګړې عقيده: ............ ۳۲۹
په اسپانيه کي د اسلام پر ضد د کرکو تحريک: ............ ۳۲۹
د اسلامي نړئ بې واکي: ............ ۳۳۰
**صليبي جګړې ............ ۳۳٦**

صلیبي نظریه: ............................................ ۳۳۶
د صلیبي جګړو د لاملونو په هکله: ................................ ۳۳۷
پاپ دوهم اوربانوس او پطرس: ................................... ۳۴۱
په لومړۍ جګړه کي ګډون کوونکي نامتو جګړه ماران: .................. ۳۴۲
د صلیبي جګړو په لار اچولو سره د اروپایانو جنایتونه ................... ۳۴۳
لومړۍ صلیبي جګړه (له ۱۰۹۵ع. تر ۱۰۹۹ع.کال پوري) .............. ۳۴۵
د صلیبیانو لومړۍ واکمني: ...................................... ۳۵۱
د صلیبیانو دوهمه واکمني: ...................................... ۳۵۲
د معرة النعمان نیول او د زرګونو مسلمامانو عام وژنه: ................... ۳۵۳
د پطرس مرګ: ................................................ ۳۵۴
د لومړۍ صلیبي جګړې بریالیتوب او تا ریخي جنایتونه: ................. ۳۵۴
د دې جګړې پایلي: ............................................. ۳۵۷
دوهمه صلیبي جګړه ............................................. ۳۵۸
جګړې ته د الماني صلیبیانو خوځېدنه: .............................. ۳۶۰
د فرانسوي صلیبیانو پوځونه: ...................................... ۳۶۰
انطاکیې ته رسېدل: ............................................ ۳۶۱
پر دمشق برید: ................................................ ۳۶۲
د دې جګړې پایلي: ............................................. ۳۶۲
د صلیبي جګړو د ناکامیو پیل ...................................... ۳۶۲
د صلیبي جګړو په بهیر کي د بېزنتین بیا سر راپورته کول: ............... ۳۶۳
د بیت المقدس بیرته ژغورنه ....................................... ۳۶۴
درېیمه صلیبي جګړه ............................................ ۳۶۵
څلورمه صلیبي جګړه ............................................ ۳۶۶
پنځمه صلیبي جګړه ............................................. ۳۶۸
شپږمه صلیبي جګړه ............................................. ۳۶۹
ډرامه یي جګړه او بیت المقدس: ................................... ۳۷۰
د مسلمانانو اعتراضونه: .......................................... ۳۷۲

له اروپا څخه د نورو ځواکونو رسېدل: ..........................۳۷۳
د بيت المقدس لاس پر لاس کېدل: ..............................۳۷۳
اوومه صليبي جګړه ..............................................۳۷٤
د منصورې جګړه او د صليبيانو سخته ماته: ......................۳۷٦
اتمه صليبي جګړه ..............................................۳۷۸
د اتمې صليبي جګړې لاملونه: .................................۳۷۸
د اتمې صليبي جګړې پوځونه: ..................................۳۸۱
د صليبي پوځونو خوځېدنه او پشپړتيا: ..........................۳۸۱
د مستنصر لخوا د جهاد اعلان: ................................۳۸۲
د صليبيانو کلابندي: .........................................۳۸۲
د نهم لويي د ماتې لاملونه: ..................................۳۸٥
د صليبيانو پر شا کېدل: .....................................۳۸٥
د سولې په منلو کې اختلاف: .................................۳۸٦
د دې جګړې پايلې: ..........................................۳۸۸
د صليبي جګړو په بهير کې د مرګ ژوبلې بله څپه،لوېديځ او مغول....۳۸۹
**پانګوالي نظامونه ........................................... ۴۰۱**
سيکولريزم ...................................................٤۰۲
سيکولريزم د پانګوالۍ او ښکېلاك په چوپړ کې: .....................٤۰۳
لذت، ماديت او عياشي د سيکولريزم ستر مظاهر دي: ...................٤۰٥
**اخيستليک .................................................... ۴۰۹**
**«د حق او باطل جګړې» نومي کتاب له وروستۍ برخې څخه ................ ۴۱۶**
د دې کتاب د ځينو املايي بڼو په هکله څرګندوني .......................٤۱٦
**د دې کتاب د ځينو لغاتو او اصطلاحاتو معناوي.......................... ۴۲۸**
**د مجهولي (ې) او (و) غلطه کارونه ............................................ ۴۳۲**

## قرآني مرغلري:

﴿وَهَمَّتْ كُلُّ أُمَّةٍۭ بِرَسُولِهِمْ لِيَأْخُذُوهُ ۖ وَجَٰدَلُوا۟ بِٱلْبَٰطِلِ لِيُدْحِضُوا۟ بِهِ ٱلْحَقَّ فَأَخَذْتُهُمْ ۖ فَكَيْفَ كَانَ عِقَابِ ۝٥﴾ [المؤمن: ٥].

ژباړه: «هر ولس پر خپل پيغمبر باندي حمله وکړه، څو هغه ونيسي (ويې وژني). هغو تېرلو د باطل په وسله سره د حق د مغلوب ښوولو هڅه وکړه، خو په پای کي ما هغوی ونيول، نو وګوره چي زما عذاب څنګه سخت وو».

## قرآني مرغلري

﴿بَلْ نَقْذِفُ بِٱلْحَقِّ عَلَى ٱلْبَٰطِلِ فَيَدْمَغُهُۥ فَإِذَا هُوَ زَاهِقٌ ۚ﴾ [الأنبياء: ١٨].

ژباړه: «بلکي موږ په حق سره پر باطل واری کوو او دا حق د باطل سر داسي ماتوي چي ګوري يې بيا محو سوی وي».

﴿وَقُلْ جَآءَ ٱلْحَقُّ وَزَهَقَ ٱلْبَٰطِلُ ۚ إِنَّ ٱلْبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ۝٨١﴾ [الإسراء: ٨١].

ژباړه: «ووايه (اعلان وکړه) چي حق راغی او باطل له منځه ولاړ، بې شکه چي باطل له منځه تلونکی دی».

# سریزه

حامداً ومصلیاً ومسلماً وبعد:

ما په دې کتاب کې د حق او باطل یا د خیر او شر د ځواکونو تر منځ د شخړو او جګړو په هکله معلومات په لنډون سره وړاندې کړي دي، څو د عقل او پوهې خاوندانو ته ښه څرګنده سي چې پر ګران اسلامي هیواد افغانستان باندې د مادي پالې او وینې چیښونکي، سراښې امریکا او باطل پلوي لوېدیزې نړۍ دا اوسنۍ په ډېر زور اوزوږ تېرى او د مرګ ژوبلې ناتار او همدغسې پر عراق او نورو اسلامي هیوادونو باندې د کفارو ډول ډول بلوسې، تعرضونه او بې خرته مرګ ژوبلې او ورانۍ او د فحشاوو او ډول ډول نادودو دودول د همدې شخړو د لړۍ یوه کړۍ ده، نه بل څه. البته د ترهګرۍ (تروریزم) سره مبارزه د مسلمانانو سره د کفارو د جګړو د پر لار اچولو لپاره د نورو پلمو غوندې یوه پلمه ده. که نه په عراق کې خو د ترهګرۍخبره نه وه او هغه د کېمیاوي وسلو ډنډورې یې هم لکه چې نړیوالوته څرګنده سوه درواغ وې. د نړۍ په نورو ګوټونو کې چې مسلمانان د کفارو د ډول ډول مظالمو سره مخامخ دي هلته خو د ترور او تروریزم البوشاکه هم نسته او که وي همدغه د امریکایي او لوېدیزو کفارو دولتي او جاسوسي ترهګري ده نه بل څه.

زما له ډېره مهاله په خیال کي وه چې د اسلام د سپېڅلي دین سره د ډول ډول کفارو او مادي پالو او د هغو د طواغیتو د دښمنیو په هکله یو جامع او مستند کتاب ولیکم، خو د ډېرو تلاښونو سره سره مي د دې موضوع د سمي او بشپړي څېړني او را سپړني لپاره لکه څنګه چې ښایېدل هغسي ماءخذونه پیدا نه کړل. ځکه په دې اړه زیاتره کتابونه په عربي ژبه لیکل سوي دي چې دلته یې موندل ستونزمن کار دی. خو دونه وسوه چې په دې ترځ کي مي د المکتبة الشاملة په نامه د برېښنایي کتابونو د یوې مغتنمي ټولګي سي ډې

ومونډل چې ډول ډول کتابونه پکښې ځای سوي دي او په کمپیوټر کې په اچولو سره کار ځني اخیستل کیږي. دغه راز مي څه نور کتابونه په عربي، اردو او فارسي ژبو هم ومونډل. څنګه چې مي نور تلاښ بې ګټې باله نو مي په خپل کتابتون کې موجود او ترلاسه سوي مواد مطالعه کړل. بیا مي د دې قاعدې په مقتضا چې: «مَا لَا يُدْرَكُ كُلُّه لَا يُتْرَكُ كُلُّه»[1] پر لوی څښتن ﷻ باندې په توکل سره په کار ګوتې پورې کړې، چې بالاخره دادی د لوی څښتن ﷻ په فضل او احسان په دې هکله دغه لنډ معلوماتي کتاب بشپړ سو.

که څه هم دا کتاب د بشپړې او هر اړخیزې څېړنې پر بنسټ نه دی لیکل سوی، خو ټول اړین معلومات په ډېره لنډه توګه او په ساده الفاظو پکښې ځای سوي دي او لوستونکي ته هغه څه چې ورته اړتیا ده په لنډو ټکو کې وړاندې کوي.

د کتاب د نور څرنګوالي په هکله باید ووایم چې که څه هم کتاب د تاریخ لیکنې د اصولو سره په بشپړ مطابقت کې نه دی لیکل سوی او په زیاترو موضوعاتو کې له لنډ اوګنډ معلوماتو وړاندې کولو کار اخیستل سوی دی، خو کوښښ سوی دی چې له نامستندو خبرو او ضعیفو روایتونو څخه ډډه وسي.

د کتاب د مصادرو په هکله باید ووایم چې ما په دې کتاب کې د انبیاوو عليهم السلام ، پخوانیو ولسونو او د هغو د طواغیتو په هکله زیاتره د قرآن کریم له آیتونو او کیسو او د هغه له مستندو تفسیرونو، صحیحو احادیثو، معتبرو کتابونو او موجودو تاریخونو څخه استفاده کړې ده. پر دې سر بېره مې ځیني ځایونه د تورات او انجیل د هغو څرګندونو څخه هم ګټه اخیستې ده چې د قرآن کریم او اسلام د لارښوونو سره په تضاد کې نه وې. همداراز مي له ډېرو نورو کتابونو څخه هم مواد را اخیستي دي چې پر ځای پر ځای مي د هغو حوالي هم ورسره لیکلي دي. صرف د ځینو هغو کتابونو د ټوک او پاڼو شمېرې مي نه

---

۱- کوم څه چې په بشپړه توګه نه درک کیږي (نه پیدا کیږي) نو دا ښه نه ده چې ټول پرېښول سي، بلکې د وس په کچه دې د څېړلو او مونډلو کوښښ وسي.

دي ليكلي چي په المكتبة الشاملة كي درج دي او ما ګټه ځني اخيستې ده. ځكه د هغو د ټوک او پاڼي شمېره ښوول، كه څه هم په المكتبة الشاملة كي ښوول سوي خو د چاپ سوو كتابونو سره د نه مطابقت له امله بې ګټې باله سي. البته كه د چا د كتاب اصلي عبارت په كار وي كولای سي په المكتبة الشاملة (الاصدار الثاني) كي يې ومومي.

په هر صورت ما تر خپله وسه خپل كوښښ وكړ چي د كتاب محتويات مستند او دقيق ولیکم. زه فکر كوم چي په اوسمهال كي د كفر او اسلام د رواني څو اړخيزي جګړې په هكله دا كتاب لوستونكي ته د حق او باطل لاري په ډېره ښه او روښانه توګه ښيي، او زما اصلي موخه هم همدا ده. زه پوهيږم چي زما په ديګ كار كي حتماً نيمګړتياوي سته، انسان له سهوي او خطا خالي نه دی، نو كه كوم حګای كومه غلطي را خګخه سويګ وي هيله من يم راوبخښل سي.

زما دعاده چي ای لويه څښتنه! زما ظلوم او جهول انسان خو دغه وس دی او بنده تر خپله وسه پړ دی. زه په ډېر عجز او تضرع درته وايم چي:

﴿لَا يُكَلِّفُ ٱللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا ۚ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَعَلَيْهَا مَا ٱكْتَسَبَتْ ۗ رَبَّنَا لَا تُؤَاخِذْنَآ إِن نَّسِينَآ أَوْ أَخْطَأْنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تَحْمِلْ عَلَيْنَآ إِصْرًا كَمَا حَمَلْتَهُۥ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِنَا ۚ رَبَّنَا وَلَا تُحَمِّلْنَا مَا لَا طَاقَةَ لَنَا بِهِۦ ۖ وَٱعْفُ عَنَّا وَٱغْفِرْ لَنَا وَٱرْحَمْنَآ ۚ أَنتَ مَوْلَىٰنَا فَٱنصُرْنَا عَلَى ٱلْقَوْمِ ٱلْكَٰفِرِينَ ﴿٢٨٦﴾﴾ [البقرة: ٢٨٦].

﴿سُبْحَٰنَ رَبِّكَ رَبِّ ٱلْعِزَّةِ عَمَّا يَصِفُونَ ﴿١٨٠﴾ وَسَلَٰمٌ عَلَى ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٨١﴾ وَٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٨٢﴾﴾ [الصافات: ١٨٠-١٨٢].

**عبد المالک همت**
**کندهار، د ۱۳۸۸ لمريز کال**
**د چنګاښ لسمه**

# د انسانانو په خټه کي د رذايلو تومنه

لکه چي څرګنده ده د انسانانو په خټه، جبلت او طبيعت کي د فضايلو تر څنګ د رذايلو غريزه هم مونده سي. له دې امله د تاريخ په اوږدو کي تل د انسانانو داسي ډلي رامنځ ته سوي چي د نس، نفس او هوا او هوس او عيش او نوش او لذايذو د شهوتونو، واک غوښتني،استکبار،لوړتيا او ځان غوښتني، ځاني او طبقاتي ګټو او ماديـاتو د تابعيت او تر لاسه کولو په موخه د وينو تويوني، دښمنيو، د جګړو د اور بلوني او ډول ډول فسادونو، ورانيو، له سمي لاري اوښتنو، د رسولانو او د حق د لاري د لارويانو د دروغجن ګڼلو، له رڼا څخه تيارو ته د وګړو د ټېل وهلو او داسي نورو جنايتونو، درندو ګټو او ځناورتوبونو او د دې چارو د خوښوني له امله د نورو انسانانو پر حقونو، ګټو، ځانونو، ناموسونو او شتو باندي په تېري کولو سره هم د خپلو همنوعانو پر ضد درېدلي او هم د لوی څښتنﷻ له ښوولي لاري څخه اوښتي دي. ان دې شومو او ناولو موخو ته د رسېدو لپاره يې د لوی څښتن په کتابونو کي لاسوهني او تحريفونه کړي دي او داسي هم سوي چي مذهبي کتاب يې يوڅه وايي خو دوی يې په خلاف بل څه کوي، او حتیٰ چي بېل دينونه او مذهبونه يې هم را ايستلي دي، بلکي ځينو د خدايي دعوې هم کړي دي. په دې هکله قرآن کريم ډېري روښاني څرګندوني لري چي موږ له هغو څخه ځيني په دې ډول را اخيستي دي:

﴿وَإِذۡ قَالَ رَبُّكَ لِلۡمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّي جَاعِلٞ فِي ٱلۡأَرۡضِ خَلِيفَةٗۖ قَالُوٓاْ أَتَجۡعَلُ فِيهَا مَن يُفۡسِدُ فِيهَا وَيَسۡفِكُ ٱلدِّمَآءَ وَنَحۡنُ نُسَبِّحُ بِحَمۡدِكَ وَنُقَدِّسُ لَكَۖ قَالَ إِنِّيٓ أَعۡلَمُ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ٣٠﴾ [البقرة: ٣٠].

ژباړه: «در په ياد کړه (ای محمده!) کله چي ستا رب ملايکو ته وويل چي زه په مځکه کي د يوه خليفه پيدا کوونکی يم. هغو وويل: آيا ته په مځکه کي داسي يو څوک ټاکې چي ورانی به کوي او ويني به تويوي؟ حال دا چي موږ ستا د ثنا سره

تسبيح وايو او تا په سپېڅلتيا يادوو».

له دې مبارک آيت څخه څرګندېږي چي له لويه سره وراني او ويني تويـول د انسانانو پـه خټـه کـي اخښـلي دي. ملايکـو تـه د لـوی څښـتن ﷻ پـه اراده سـره معلومه سوې وه چي د انسانانو دا ځانګړنه ده چي په ځمکـه کـي بـه يـو پـر بـل ظلم او تېری او ورانی کوي، ځکه چي «خليفـه تـه خـو هلـه اړتيـا پيښـېږي چـي ظلم، فساد او تجاوز موجود وي». تفسير عثماني

بيا لږ څه وروسته د لوی څښتن وينا ده:

﴿وَإِذْ قُلْنَا لِلْمَلَـٰٓئِكَةِ ٱسْجُدُوا۟ لِـَٔادَمَ فَسَجَدُوٓا۟ إِلَّآ إِبْلِيسَ أَبَىٰ وَٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَـٰفِرِينَ ﴿٣٤﴾ وَقُلْنَا يَـٰٓـَٔادَمُ ٱسْكُنْ أَنتَ وَزَوْجُكَ ٱلْجَنَّةَ وَكُلَا مِنْهَا رَغَدًا حَيْثُ شِئْتُمَا وَلَا تَقْرَبَا هَـٰذِهِ ٱلشَّجَرَةَ فَتَكُونَا مِنَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٣٥﴾ فَأَزَلَّهُمَا ٱلشَّيْطَـٰنُ عَنْهَا فَأَخْرَجَهُمَا مِمَّا كَانَا فِيهِ ۖ وَقُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ بَعْضُكُمْ لِبَعْضٍ عَدُوٌّ ۖ وَلَكُمْ فِى ٱلْأَرْضِ مُسْتَقَرٌّ وَمَتَـٰعٌ إِلَىٰ حِينٍ ﴿٣٦﴾ فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَـٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلتَّوَّابُ ٱلرَّحِيمُ ﴿٣٧﴾ قُلْنَا ٱهْبِطُوا۟ مِنْهَا جَمِيعًا ۖ فَإِمَّا يَأْتِيَنَّكُم مِّنِّى هُدًى فَمَن تَبِعَ هُدَاىَ فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٣٨﴾ وَٱلَّذِينَ كَفَرُوا۟ وَكَذَّبُوا۟ بِـَٔايَـٰتِنَآ أُو۟لَـٰٓئِكَ أَصْحَـٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَـٰلِدُونَ ﴿٣٩﴾﴾ [البقرة: ٣٤-٣٩].

ژباړه: «او ياد کړه ای رسوله کله چي موږ ملايکو ته امر وکړ چي آدم ته د تعظيم سجده وکړئ، نو ټولو سجده وکړه، خو ابليس سجده ونه کړه، له سجدې کولو څخه يې منع راوړه او غرور اولويي يې وکړه او دی پخوا لا د لوی څښتن په علم کي له کافرانو څخه وو. بيا موږ آدم ته وويل چي ته او ستا مېرمن دواړه په جنت کي اوسئ او څه چي مو زړه غواړي له پراخه لاسه يې خورئ. خو دې وني ته (د مېوې خوړلو لپاره) مه نژدې کېږئ، که نه نو له ظالمانو څخه به وشمېرل سئ. پای شيطان دواړه (هغي وني ته په لمسولو او زموږ له امر څخه په سر غړولو) له جنته وښويول او له هغه حالته يې وايستل چي پکښې وه. او موږ امر وکړ چي اوس تاسي له دې جنته کوز سئ، تاسي يو د بل دښمنان ياست او ستاسي تر يوې ټاکلي مودې پوري په ځمکه کي استوګنه او هلته ژوند تېرول دي. په دې وخت کي آدم له خپل پروردګار څخه څو کلمې زده کړې او توبه يې وکښل چي پروردګار د ده توبه قبوله کړه، ځکه چي هغه لوی بخښونکی او د رحمت څښتن دی. بيا موږ وويل چي ټول له دې جنته

کوز سئ. بیا چې تاسي ته زما لخوا کوم هدایت ورسیږي نو څوک چې زما د دې هدایت پیروي وکړي، پر هغو باندي به څه بېره او غم نه وي او څوک چې کفر غوره کړي او زموږ آیتونه درواغ وګڼي، هغوی دوږخ ته ورتلونکي دي او په هغه کي به تل اوسیږي».

له دې آیتونو څخه دغه ټکي څرګند سول:

(الف) تر ټولو دمخه ابلیس د ګناه مرتکب سو او سره له دې چې له ملایکو څخه وو د لویی، ځان غوښتني او ځان لوړبلني له امله یې د لوی څښتن له امره مخالفت وکړ او د کافرانو په ډله کي وشمېرل سو. پر دې بنسټ غرور او استکبار او ځان تر بل ښه، لوی، لوړ، ځواکمن او اصیل ګڼل ابلیسي اوشیطاني خصوصیات دي. شیطان وویل چې زه ځکه آدمعليه السلام ته سر نه ټیټوم چې زه تر ده غوره یم، ځکه زه له اوره پیدا سوی یم او دی له ختې څخه او له دې امله د انسانانو دښمن سو.

(ب) د شرعي د قانون د سموالی نه منل او له پلي کولو څخه یې انکار د شیطاني سیاست یو اصل باله سي.

(جـ) د مسلمانانو پر ځای کفارو ته ترجیح ورکول بل شیطاني اصل باله سي.

(د) له هماغه پیله د شیطان او د شر او شیطان د ډلي او په مځکه کي د لوی څښتن د خلافت د تمثیلوونکو یا په بله وینا د حق د پلویانو او باطل د پلویانو تر منځ دښمني رامنځته سوې او تل تر تله به الی ماشاء الله روانه وي.

(هـ) له ازله او له هماغه پیله بیا تر وروستیو شېبو شیطان او د شیطان ډلي انسانان، په تېره مسلمانان غولوي او د ډول ډول بدمرغیو موجبات یې برابروي. په دې توګه له سمي لاري څخه د خلکو اړول او د دین د له منځه وړلو لپاره کوښښونه کول د شیطاني، استکباري سیاست یوه برخه ده.

﴿قَالَ فَبِمَآ أَغۡوَيۡتَنِي لَأَقۡعُدَنَّ لَهُمۡ صِرَٰطَكَ ٱلۡمُسۡتَقِيمَ ١٦ ثُمَّ لَأٓتِيَنَّهُم مِّنۢ بَيۡنِ أَيۡدِيهِمۡ وَمِنۡ خَلۡفِهِمۡ وَعَنۡ أَيۡمَٰنِهِمۡ وَعَن شَمَآئِلِهِمۡۖ وَلَا تَجِدُ أَكۡثَرَهُمۡ شَٰكِرِينَ ١٧﴾ [الأعراف: ١٦-١٧].

ژباړه: «شیطان وویل: څنګه چې تا زه په ګمراهۍ اخته کړی یم زه به هم ستا د

سمي لاري پر سر باندي دغو انسانانو ته د بې لاري کولو لپاره څارو کښېنم، له وړاندي وروسته، ښي خوا کیڼي خوا، له هر لوري به یې را ایسار کړم او ته به د دوی زیاتره شکر کښونکي ونه مومې».

(و) هغه کسان چي د لوی څښتن پر لار ولاړ سي او یا پر خپلو تېروتنو توبه وکاږي د ﴿فَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ۝٣٨﴾ په ډله کي به وي.

(ز) شیطان او د شیطان ډلي او کفار او سرکښان او د دوی ملګري او د لوی څښتن د لارښوونو درواغ ګڼونکي به ﴿أَصْحَابُ النَّارِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ۝٣٩﴾ وي.

(ح) له هماغو لومړیو وختونو څخه څرګنده سوه چي د نس شهوت او د لوی څښتن نافرماني د ظلم موجبات برابروي.

## د نفس د شهوت لومړنی قرباني:

په نړی کي تر ټولو د مخه د آدمعليه السلام زوی هابیل د هغه د ورور قابیل لخوا د نفس د شهوت قرباني سو. قرآن کریم د غه کیسه داسي راته کوي:

﴿وَاتْلُ عَلَيْهِمْ نَبَأَ ابْنَيْ آدَمَ بِالْحَقِّ إِذْ قَرَّبَا قُرْبَانًا فَتُقُبِّلَ مِنْ أَحَدِهِمَا وَلَمْ يُتَقَبَّلْ مِنَ الْآخَرِ قَالَ لَأَقْتُلَنَّكَ قَالَ إِنَّمَا يَتَقَبَّلُ اللَّهُ مِنَ الْمُتَّقِينَ ۝٢٧ لَئِنْ بَسَطْتَ إِلَيَّ يَدَكَ لِتَقْتُلَنِي مَا أَنَا بِبَاسِطٍ يَدِيَ إِلَيْكَ لِأَقْتُلَكَ إِنِّي أَخَافُ اللَّهَ رَبَّ الْعَالَمِينَ ۝٢٨ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ تَبُوءَ بِإِثْمِي وَإِثْمِكَ فَتَكُونَ مِنْ أَصْحَابِ النَّارِ وَذَلِكَ جَزَاءُ الظَّالِمِينَ ۝٢٩ فَطَوَّعَتْ لَهُ نَفْسُهُ قَتْلَ أَخِيهِ فَقَتَلَهُ فَأَصْبَحَ مِنَ الْخَاسِرِينَ ۝٣٠﴾ [المائدة: ٢٧-٣٠].

ژباړه: «او دوی ته د آدم د دوو زامنو کیسه هم بشپړه واوروه. کله چي هغو دواړو قرباني وکړه، نو له هغو څخه د یوه قرباني ومنل سوه او د بل دا ونه منل سوه هغه وویل زه به تا ووژنم. هغه جواب ورکړ لوی څښتن خو یوازي د پرهېزګارانو قربانۍ قبلوي. که ته زما د وژلو لپاره لاس پورته کړې نو زه ستا د وژلو لپاره لاس نه پورته کوم (زه ستا د وژلو فکر نه کوم او لومړی وار نه درباندي کوم)، زه له رب العالمین خدای څخه بېرېږم. زه غواړم چي زما او ستا خپله ګناه ستا پر غاړه سي او دوږخي سې. همدا د ظالمانو د ظلم سزا ده. په پای کي د هغه نفس د خپل ورور وژل د هغه لپاره آسان کړل او د هغه په وژلو له هغو خلکو څخه سو چي زیان کاران دي».

مشهوره ده چې په لومړيو کې د آدم او حوا (عليهما السلام) له يوځای کېدو څخه په يوه وخت کې هلک او انجلۍ پيدا کېدل. له بل حمل څخه به بيا هلک او انجلۍ پيدا کېدل. د يوه حمل د وررور او خور نکاح به يې د بل حمل د وررور او خور سره کول. د هابيل سره پيدا سوې خور بد رنګه وه، خو د قابيل سره پيدا سوې خور ښايسته وه. د هغه مهال د اصولو سره سم بايد د هابيل نکاح د قابيل د خور سره او د قابيل نکاح د هابيل د خور سره سوې وای. خو قابيل غوښتل چې د هابيل د بد رنګې خور پر ځای د خپلې ښايستې خور سره واده وکړي. حضرت آدمعليه السلام دی پوه کړ، خو هغه سر نه خلاصاوه. بالاخره آدمعليه السلام دواړو ته حکم وکړ چې په دې هکله د لوی څښتن حضور ته قرباني وړاندې کړي او ورته ويې ويل د چا قرباني چې قبوله سوه د قابيل د خور نکاح به د هغه سره وسي. د هابيل قرباني ومنل سوه؛له آسمان څخه اور راغی او هغه يې وخوړل، چې دا د هغې د قبلېدو دليل باله سو. خو قابيل د حسد له مخې او د اماره بالسوء نفس او شهوت په تقاضا ظلم ته لاس واچاوه، خپل وررور يې وواژه.

له دې کيسې څخه څرګنده سوه چې حسد، حرص او د نفس شهوت د ظلم کولو او جرايمو د تر سره کولو موجبات برابرکړي او حاسدان او شهوتيان يې ابليسي، قابيلي او د ظلم او زور سياست او جنايتونو او شر او فساد ته را مات کړي دي. پر همدې بنسټ قابيليان تل د تاريخ په اوږدو کې د دښمنيو، بديو، شرونو، ظلمونو او بې حياييو پلويان وي او هابيليان د حق او عدالت بلېنده وال او د حيا او وفا، مړاني او عفت سر لاري.

ابليس پلوي، مادي پال ځواکونه ګومان کوي چې نعوذ بالله خدای او هغه دنيا او جنت او دوږخ او نور څه نسته. بس همدغه د دې دنيا مادي ژوند دی، نه پر چا باندې د ظلم او زور پوښتنه کيږي او نه څوک بيرته راژوندی کيږي. ځکه نو دوی صرف پر مادياتو عقيده لري او د هوا او هوس او نفسي خواهشونو تابع سوي او د دغو مادي غوښتنو او ګټو د تر لاسه کولو په موخه پر ډول ډول مادي پالو ډلو، لکه د دين تحريفوونکي سرکښه يهودو، بې لاري نصاراوو، بت پالانو، منافقانو، سيکولرانو، کمونيستانو، نيچريانو او نورو ډول

ډول دهريانو باندي وېشل سوي دي. دغه ډلي خوشي په خوشي له دينه (توحيد او اسلاميته) نه دي اوښتي. دوی که شرعاً او عقلاً بې عقلان بلل کيږي، درسته ده، دوی بې عقلان دي، خو هسي پر مخ لېونيان يا ګردسره بې خبره ناپوهان نه دي چي د هيڅ لپاره يې سمه لار پرې اښې ده. بلکي دوی د خپلو دنيوي او مادي ناروا ګټو او ظالمانه واک د ساتلو او ټينګولو په موخه د حق او الهي عدالت له لاري انحراف کړی او د باطلو او ابليسي ظالمانه سياست لار يې خپله کړې ده. پر دې بنسټ دغه ټولي ډلي له معنوياتو سره پردی دي او هيڅ سروکار نه ور سره لري، بس خپل مادي ژوند په هره ناروا او غير انساني طريقه چي وي؛ پر نورو باندي په تېري وي، په ښکېلاک او وراني وي، په ظلم وتعدی وي، په عام وژنه او ويني بهونه وي او که په چل ول او داسي نورو وي، سمبالوي يې او په دې لار کي لګيا دي هلي ځلي کوي. دوی په دې لار کي شرم، حيا او ټيټتيا نه پېژني.او د غندني، پيغور او په راتلونکې کي د بد قضاوت څه پروا نه کوي. بلکي دين او د دين او مذهب (رشتيني اسلام) پيروي د ناپوهو خلکو کار بولي او ملنډي په وهي.

لوی څښتن دغه کسان داسي را پېژني:

﴿أَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَـٰهَهُۥ هَوَىٰهُ أَفَأَنتَ تَكُونُ عَلَيْهِ وَكِيلًا ﴿٤٣﴾ أَمْ تَحْسَبُ أَنَّ أَكْثَرَهُمْ يَسْمَعُونَ أَوْ يَعْقِلُونَ ۚ إِنْ هُمْ إِلَّا كَٱلْأَنْعَـٰمِ ۖ بَلْ هُمْ أَضَلُّ سَبِيلًا ﴿٤٤﴾﴾ [الفرقان:٤٣-٤٤].

ژباړه: «ته کله د هغه چا حال ته ځير سوی يې چي هغه خپل نفسي خواهش خپل خدای ګرځولی وي؟ آيا ته پر سمه لار باندي د داسي چا د را اړولو مسؤوليت پر غاړه اخيستلای سې؟ آيا ته ګومان کوې چي له دوی څخه زيات کسان اوري او له عقله کار اخلي؟ دوی خو (په بې عقلي او حقيقت نه پوهېدلو کي) د څارويو غوندي دي، بلکي تر هغو لازيات لارورکي دي».

دغه راز فرمايي:

﴿أَفَرَءَيْتَ مَنِ ٱتَّخَذَ إِلَـٰهَهُۥ هَوَىٰهُ وَأَضَلَّهُ ٱللَّهُ عَلَىٰ عِلْمٍ وَخَتَمَ عَلَىٰ سَمْعِهِۦ وَقَلْبِهِۦ وَجَعَلَ عَلَىٰ بَصَرِهِۦ غِشَـٰوَةً فَمَن يَهْدِيهِ مِنۢ بَعْدِ ٱللَّهِ ۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ﴿٢٣﴾ وَقَالُوا۟ مَا هِىَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنْيَا نَمُوتُ وَنَحْيَا وَمَا يُهْلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهْرُ ۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنْ عِلْمٍ ۖ إِنْ هُمْ إِلَّا

يَظُنُّونَ ﴿٢٤﴾﴾ [الجاثية: ٢٣-٢٤].

ژباړه: «آیا تا کله د هغه چا پر حال باندې غور کړی دی چې خپل نفسي خواهش يې خپل خدای ګرځولی دی او لوی څښتن د علم سره سره هغه په ګمراهې اخته کړی دی او د هغه پر زړه او غوږونو باندې يې مهر وواهه او د هغه پر سترګو يې پردې وغوړولې؟ له لوی څښتن وروسته بل څوک دی چې هغه ته لار وښيي؟ آيا تاسې څه درس نه اخلئ؟ دوی وايي چې ژوند فقط همدغه زموږ دنيوي ژوند دی. همدلته زموږ مړه کېدل او ژوندي کېدل دي او د ورځو له ګرځېدو پرته بل کوم شی نسته چې موږ له منځه وړي. په حقيقت کې د دوی سره په دې باب څه علم نسته. دوی مازې د ګومان اواټکل له مخې دغه خبرې کوي».

بيا لوی څښتن فرمايي:

﴿يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ قَدۡ أَنزَلۡنَا عَلَيۡكُمۡ لِبَاسٗا يُوَٰرِي سَوۡءَٰتِكُمۡ وَرِيشٗاۖ وَلِبَاسُ ٱلتَّقۡوَىٰ ذَٰلِكَ خَيۡرٞۚ ذَٰلِكَ مِنۡ ءَايَٰتِ ٱللَّهِ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ﴿٢٦﴾ يَٰبَنِيٓ ءَادَمَ لَا يَفۡتِنَنَّكُمُ ٱلشَّيۡطَٰنُ كَمَآ أَخۡرَجَ أَبَوَيۡكُم مِّنَ ٱلۡجَنَّةِ يَنزِعُ عَنۡهُمَا لِبَاسَهُمَا لِيُرِيَهُمَا سَوۡءَٰتِهِمَآۚ﴾ [الأعراف: ٢٦-٢٧].

ژباړه: «ای د آدم اولادې! موږ تاسې ته جامې نازلې کړې دي چې ستاسې د بدن شرم ځايونه وپوښي او ستاسې د بدن د ساتنې او ښکلا وسيله هم وي، او ډېره غوره جامه د پرهېزګارۍ جامه ده. دا د لوی څښتن له نښانو څخه يوه نښانه ده. په کار ده چې خلک ورڅخه درس واخلي. ای د آدم اولادې داسې ونه سي چې شيطان تاسې بيا هغسې په فتنه اخته کړي، لکه چې هغه ستاسې مور پلار له جنته وايستل او له هغوڅخه يې کالي وايستل، څو د هغو شرم ځايونه د يو بل په وړاندې لوڅ سي».

له دې آيتونو څخه څرګنده سوه چې کالي او شرم او حيا د انسان د فطرت يوه ستره غوښتنه ده. خو د انسانانو د عريانيت او لوڅوالي د دودولو او د حيا او عفت د منځه وړلو لپاره ډول ډول پلانونه طرح کول او پلي کول د ابليسي نظام ستره او غوره پاليسي ده.

لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَا تَتَّبِعُواْ خُطُوَٰتِ ٱلشَّيۡطَٰنِۚ إِنَّهُۥ لَكُمۡ عَدُوّٞ مُّبِينٌ ﴿١٦٨﴾ إِنَّمَا يَأۡمُرُكُم بِٱلسُّوٓءِ وَٱلۡفَحۡشَآءِ وَأَن تَقُولُواْ عَلَى ٱللَّهِ مَا لَا تَعۡلَمُونَ ﴿١٦٩﴾﴾ [البقرة: ١٦٨-١٦٩].

ژباړه: «او د شيطان پر لارو مه ځئ ځکه چې هغه ستاسې ښکاره دښمن دی.

هغه تاسې ته د بدۍ او فحشا (بې حیایی) امر کوي او دې ته مو بولي چې په خدای پورې هغه خبرې وتړئ چې نه په پوهېږئ».

﴿وَكَذَٰلِكَ جَعَلۡنَا لِكُلِّ نَبِيٍّ عَدُوّٗا شَيَٰطِينَ ٱلۡإِنسِ وَٱلۡجِنِّ يُوحِي بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٖ زُخۡرُفَ ٱلۡقَوۡلِ غُرُورٗاۚ﴾ [الأنعام: ۱۱۲].

ژباړه: «او موږ انسي شیطانان او جني شیطانان د هر پیغمبر دښمنان ګرځولي دي چې یو بل ته د غولوني او فریب لپاره خوږې خبرې رسوي».

له دغه آیت څخه څرګنده سوه چې ابلیس او د هغه د انسي او جني شیطانانو ټول ځواکونه د نړۍ د ټولوانسانانو، په تېره د انبیاوو او د هغو د پیروانو دښمان دي. ابلیس او د هغه ډله خلک بدیو، فحشاوو او د لوی څښتن او د هغه د پیغمبرانو د دین (اسلام) او توحید او سمې لارې په هکله چټې او دروغجنو خبرو ته وربولي، په دې هکله له هیڅ چل ول، زور زیاتي او داسې نورو څخه مخ نه اړوي او تل د اسلام او مسلمانانو پر ضد د عامو، ناپوهو، بې شعورو او بې شخصیتو خلکو د درولو، د هغو د غوسې او دښمنۍ راپارولو او د هغو پرضد جګړې ته د هغو د هڅولو په موخه ډول ډول دسیسې، شکونه، شبهې او نیوکې په لار اچوي. چې د دې شیطاني قوتونو په وسوسو او د سیسو بې مغزه، بې ایمانه او د ضعیف شخصیت څښتن موزیګیان غولېږي او د انبیاوو، صلحاوو، حق او حقیقت پر ضد د خدای په مځکه کې ګمراهیو، ورانیو او جنګ جګړو ته چمتو کېږي.

قال الله تعالی:

﴿وَكَانَ ٱلۡإِنسَٰنُ أَكۡثَرَ شَيۡءٖ جَدَلٗا ٥٤﴾ [الکهف: ٥٤].

ژباړه: «انسان ډېر زیات جګړه مار دی».

له دې آیت څخه څرګندېږي چې قرآن د حق په څرګندولو کې څه نیمګړتیا نه ده پرې ایښې، خو انسان ګردسره جګړه مار موجود دی.

قال الله تعالی:

﴿وَيُجَٰدِلُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ بِٱلۡبَٰطِلِ لِيُدۡحِضُواْ بِهِ ٱلۡحَقَّۖ وَٱتَّخَذُوٓاْ ءَايَٰتِي وَمَآ أُنذِرُواْ هُزُوٗا ٥٦﴾ [الکهف: ٥٦].

ژباړه: «کافرانو د باطلو وسله را اخيستې ده او حق او رشتيا په لاندې کوي او زموږ په آيتونو او ورکړل سوو اخطارونو ملنډې وهي».

دا آيت څرګندوي چي د شيطان پر لار روان کفار د حق په مقابل کي هيڅ رشتينی دليل نه لري، بلکي د خپلو ګټو د ساتلو او شومو موخو د تر سره کولو لپاره هڅې کوي چي په درواغو او باطلو سره رشتيا او حقيقت غلې او مات کړي.

لوی څښتن فرمايي:

﴿زُيِّنَ لِلنَّاسِ حُبُّ ٱلشَّهَوَٰتِ مِنَ ٱلنِّسَآءِ وَٱلۡبَنِينَ وَٱلۡقَنَٰطِيرِ ٱلۡمُقَنطَرَةِ مِنَ ٱلذَّهَبِ وَٱلۡفِضَّةِ وَٱلۡخَيۡلِ ٱلۡمُسَوَّمَةِ وَٱلۡأَنۡعَٰمِ وَٱلۡحَرۡثِۗ ذَٰلِكَ مَتَٰعُ ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَٱللَّهُ عِندَهُۥ حُسۡنُ ٱلۡمَـَٔابِ ١٤﴾ [آل عمران: ١٤].

ژباړه: «خلکو ته نفسي غوښتني، ښځې اولادونه، د سرو سپينو زېرمې (ډېر مالونه) ښايسته اسونه، څاروي او کروندې ښايسته سوي او د ډېري مينې وړ ګرځول سوي دي، خو دا هر څه د څو ورځو دنيوي ژوندانه وسايل دي. په حقيقت کي چي ډېر ښه استوګنځی دی، هغه د لوی څښتن سره دی».

عفيفه او پاک لمنې ښځه، صالح اولاد او د نېکو چارو د تر سره کولو لپاره مال او شته ډېر ښه دی. خو حقيقت دادی چي نفسي شهوتونه، په آزادانه توګه او بې له قيد او قيودو له مادي نعمتونو څخه ګټه اخيستنه، نفس پالنه، د نورو په خواري او بې چاره ګي کي عيش او هوسايي خوښونه د مادي پالو، سيکولرو پانګوالو بنسټيزي موخي تشکيلوي. دغو طواغيتو او طاغوتپالو ته معنويات هيڅ ارزښت نه لري، خو ماديات هر څه بولي او دغه ماديات د دوی د نفس پالني لامل ګرځېدلي دي. پر دې بنسټ ښځه په دې بازار کي تر ټولو ارزانه توکی دی او د عيش سامان ګواکي د ژوند اصلي موخه او مقصد دی نعوذ بالله. نوځکه چي د دغو شيانو سره مينه د انسانانو په ختمه کي اخښل سوې ده. ځکه نو مادي پال طواغيت د دغو شيانو د لاس ته راوړو لپاره د اسلام له سمي لاري څخه اوښتلو او ظلم او تيري ته مخه کوي، او بيا دغه توکي د ظلمونو او ناروااوو لاملونه جوړوي.

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿زُيِّنَ لِلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلْحَيَوٰةُ ٱلدُّنْيَا وَيَسْخَرُونَ مِنَ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْۘ وَٱلَّذِينَ ٱتَّقَوْاْ فَوْقَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ وَٱللَّهُ يَرْزُقُ مَن يَشَآءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ ٢١٢﴾ [البقرة: ۲۱۲].

ژباړه: «كومو خلكو چي د كفر لار غوره كړې ده، هغو ته د دنيا ژوند ډېر خوږ او په زړه پوري ګرځېدلی دی. دوی په مومنانو ريشخندونه وهي؛ خو د قيامت په ورځ به همدا پرهېزګاران د دوی په پرتله د لوړ مقام خاوندان وي. پاته سوه د لوی څښتن روزي، نو د لوی څښتن اختيار دی چا ته چي يې خوښه سي بې حسابه يې وركوي».

له دې آيت څخه څرګنده سوه چي څنګه چي كفارو او ابليسي ځواكونو ته د دنيا ژوند او ماديات ډېر خواږه دي، ځكه نو د هغو د لاسته راوړلو او خونـدي كولو لپاره دا هرڅه تېري او مظالم تر سره كوي.

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿فَلَوْلَا كَانَ مِنَ ٱلْقُرُونِ مِن قَبْلِكُمْ أُوْلُواْ بَقِيَّةٍ يَنْهَوْنَ عَنِ ٱلْفَسَادِ فِي ٱلْأَرْضِ إِلَّا قَلِيلًا مِّمَّنْ أَنجَيْنَا مِنْهُمْۗ وَٱتَّبَعَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ مَآ أُتْرِفُواْ فِيهِ وَكَانُواْ مُجْرِمِينَ ١١٦﴾ [هود:۱۱۶].

ژباړه: «نو ولي په هغو قومونو كي چي تر تاسي د مخه تېر سوي دي د خير خلك پيدا نه سول چي خلك يې پـه مځكـه كي لـه ورانـۍ خپرولـو څخـه منع كـړي وای؟ دغسي خلك كه را پيدا هم سول، خو ډېـر لـږ وه، چـي مـوږ هغـوی لـه هغـو قومونـو څخه وژغورل، ظالمان په هغو خوندونو پسې سول چي د هغو وسايل ور ته پرېمانـه وركړل سوي وه او هغوی مجرمان وګرځېدل».

﴿وَقَالَ ٱلْمَلَأُ مِن قَوْمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ بِلِقَآءِ ٱلْأٓخِرَةِ وَأَتْرَفْنَٰهُمْ فِي ٱلْحَيَوٰةِ ٱلدُّنْيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يَأْكُلُ مِمَّا تَأْكُلُونَ مِنْهُ وَيَشْرَبُ مِمَّا تَشْرَبُونَ ٣٣﴾ [المؤمنون: ۳۳].

ژباړه: «د هغه (نوح) د قوم مشرانو چي كفر يې غوره كړ او د آخرت را تـګ يـې درواغ وباله او موږ په دنيوي ژوندانه كي سوكاله كړي وه، وويل دا سړی بل هـيڅ نـه دی بې له دې چي ستاسي غونـدي يـو وګـړی وي، تاسي چـي څـه خـورئ دی هـم هماغه خوري او تاسي چي څه چيښئ دی هم هماغه چيښي».

د قوم دغسي شتمنو مخورو په هر دور كي پيغمبرانو عليهم السلام د حق خاونـدان او د تولني د ښېګڼې غوښتونكي دروغجن ګڼلي دي او د هغـو پـر ضـد د باطـل د پلويانو سره درېدلي دي، چي له امله يې د قوم اكثريت له ايمان راوړلو او نورو

نېکمرغیو څخه بې برخې سوي او په ډول ډول بدمرغیو اخته سوي دي.

## د ټولو پیغمبرانو عليهم السلام دین همدغه اسلام وو

قال الله تعالی:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ﴾ [آل عمران: ۱۹].

ژباړه: «د لوی څښتن په وړاندې دین همدا اسلام دی. له دې دین څخه پرته چې اهل کتابو کومې بېلې بېلې لارې غوره کړې دي، د هغو د دې چار چلند له دې پرته بل هیڅ دلیل نه وو چې هغو د علم له ورکول کېدو وروسته په خپلو منځو کې یو پر بل باندې د تېرې کولو لپاره داسې وکړل».

له دې مبارک آیت او د قرآن کریم له نورو آیتونو څخه جوتېږي چې زموږ واحد خدای د حضرت آدم عليه السلام له وختو څخه د نړۍ د ټولو وګړو لپاره همدغه د اسلام په نامه یو دین غوره کړی دی، او د ټولو انسانانو د ژوندانه د سم سمبالښت لپاره یې همدغه یوه لار غوره کړې ده. همدغه راز د ټولو پیغمبرانو عليهم السلام دین هم له حضرت آدم څخه تر حضرت محمد ﷺ پورې همدغه اسلام وو او دی او دنده او موخه یې د مکاني او زماني شرایطو د اختلاف سره سره یوه ده. ټول رسولان یې خلکو ته د دغه دین سره استولي دي. هغوی ټول د دغه ستر امانت حاملین وه. له دې پرته نور هرڅه باطل او ورک لارې ده. لوی څښتن له دې دینه پرته بل دین نه مني. دغه راز دغه دین په هیڅ توګه بدلون هم نه مومي، او لوی څښتن یې د قیامت تر ورځې حافظ او ساتونکی هم دی. پر لوی څښتن باندې ایمان هم د هغه پر وحدانیت ایمان دی او دا وحدانیت د دین د وحدت تقاضا کوي کوم چې لوی څښتن خلکو ته غوره کړی دی، څو د خپل ژوند ټولې چارې د هغه پر بنسټ جوړې کړي. مسلمانان هم هغه دي چې یوازې پر لوی څښتن او د هغه پر ټولو رسولانو ایمان ولري او د کفر او شیطان د احزابو او صفوفو په وړاندې، په یوه اسلامي ډله کې ودرېږي

البته دا هم باید وویل سي چي یوازې د اسلام په دعوه کولو او صرف په ژبه د کلمې په ویلو څوک نه مسلمانیږي او نه څوک یوازې په لمانځه، حج او روژو نیولو مسلمانیږي. دا هغه اسلام نه بلل کیږي چي لوی څښتن له هغه پرته په بل څه نه راضي کیږي. اسلام له تسلیم، طاعت او مطابعت څخه عبارت دی. اسلام دادی چي د بنده ګانو پر هیوادونو او نورو ټولو چارو د لوی څښتن کلام حاکم سي. نه دا چي د امریکا په مشرۍ څو کفري هیوادونو پر څو اسلامي هیوادونو تیري کړي وي او دوی او یهود او یا د کفارو ګوډاګیان د هغو په نماینده ګي حکومت پر کوي او مسلمان یوازې طاعت او عبادت تر سره کوي او خپل نور مسؤولیتونه هیڅ نه درکوي او نه یې تر سره کوي.

دلته دا هم باید وویل سي چي د کفارو او د شیطان د ډلو سرکښي او له دینه اوښتل او نوري لاري خپلول د جهل او ناپوهۍ له امله نه دي. دوی ته د خدای پر وحدانیت، د بشریت پر طبیعت او د عبودیت پر حقیقت قاطع علم راغلی وو خو بیا به یې هم د ناروا ګټو د تر لاسه کولو او د هغو د خوندي کولو لپاره سرکښۍ، ظلم او عدوان ته مخه کول. په دې توګه د دوی دغه سرکښي د بغي او د نورو پر حق د تیري له مخي ده.

موږ په تاریخونو کي لولو چي د سیاسي واکمنو ډلو لخوا به د علم سره سره، د دغسي سر کښیو پر بنسټ په لوی لاس مذهبي اختلافات رامنځته کېدل. لکه چي ځینو قیصرانو به پر خپل تر لاس لاندي هیواد باندي د واک د هر اړخیز ټینګښت لپاره د یوه منځني مذهب د رامنځ ته کولو کوښښونه کول او له ایمان او عقیدې څخه به یې په سیاسي او وطني مسایلو کي د لوبوني په توکه ګټه اخیستل. دغه راز موږ په تاریخ کي لولو چي مصریانو او شامیانو او د هغو پیروانو به د روم له واکمنو څخه د سیاسي مسایلو او ګټو پر سر بد راتله. له دې امله هغو د روم له رسمي مذهب څخه کرکه کول. البته د دغسي اختلافاتو رامنځته کېده د یهودو او عیسویانو په ژوند کي ډېر لیدل کېدل. چي په دې کتاب کي به پر خپلو خپلو ځایونو خبري پر وسي. چي البته دا ټول په قصد او پوهه سره وه او ډېر ستر او شنیع تیری او بغاوت باله سي.

لوی څښتن جل جلاله پر مځکه باندي د انسانانو د استوګني له هماغه پيله د هغو د ژوند سمه لار ور وښوول. خو وروسته له هغو څخه ځينو د شهوتونو د غلبې، له خپلو روا حقونو څخه د پورته او زياتو امتيازاتو او ګټو د ترلاسه کولو، د شبهو د زياتوب، د زړونو د سختوالي، د بدعتونو د رامنځ ته کېدو او داسي نورو له امله يو په بل پسې د ژوند دغه سمه لار (د اسلام دين) پرېښود او د هوا او هوس او د مادي ګټو د ترلاسه کولو او خوندي ساتلو په موخه او تقاضا يې ډول ډول ناسم چلندونه غوره کړل. هغو دغه سمه لار د انساني رذيله خواصو په تقاضا، د نس، نفس او تسلط او لوړتيا خوښوني د شهوتونو او د واک او قدرت خوښوني او غوښتني، شيطاني وسوسو، غفلت، مادياتو خوښوني، سرابښی او د نورو د حقونو د لاندي کولو، غرور او استکبار، تر نورو د ځان او خپلي ډلي او قوم د اصيل او لوړ ګڼلو، غولونو، بديو او فحشاوو ته د تمايل او داسي نورو له امله ورکه کړه او شر خوښوني، سرکښی، بغاوت او ظلم او حسد ته د تمايل پر بنسټ يې تحريفونه هم پکښي وکړل. د مځکي او آسمان انساني او غير انساني، خيالي او مادي ډول ډول موجودات يې د لوی څښتن سره شريك وګڼل، په خدای ورکړي علم کي د ډول ډول وهمونو، نظريو او فلسفو په ګډولو سره يې بې شمېره مذهبونه رامنځته کړل. د اخلاقو او تمدن (شريعت) هغه عادلانه اساسات چي د لوی څښتن لخوا ټاکل سوي وه يا يې پرېښوول يا يې ګډوډ کړل او د خپلو نفسونو د غوښتنو او د خپلو تعصبونو سره سم يې د ژوند داسي قوانين له ځانه جوړ کړل چي له هغو څخه د خدای مځکه د ظلم او تېريو تورو لړو او لوخړو پر سر واخيسته.

دغه کيفيت حضرت علامه سيد جمال الدين افغاني رحمه الله په خپل يوه مضمون «جنسيت او اسلام» کي په ښېلو الفاظو په دې ډول څرګندوي: «له يوه يوه څخه داسي ډلي جوړېږي چي په اندونو کي يې يووالی وي او ګډي ګټې ولري. بيا چي دا ډلي د حرص او هوس تر اغېزې لا ندي راسي نو د زور زياتي او ظلم او تېري پر لور ګام اوچت کړي. د ډلو ښېلي ښېلي موخي سره ټکر سي او د مرګ ژوبلي ډګر تود سي. د سره ټکر سوو موخو په دې ډګرکي ملي تعصب رامنځته سي او له ګټو څخه دا احساس پياوړی سي چي پلانی هندی دی او

بستانی، انګرېز، روسی یا ترکمن دی. دا شیان د دې سرابښ (حریص) عصبیت زېږنده دي» (سید جمال الدین افغاني، اند او ژوند ۲۰۷ مخ).

له دې امله لوی څښتنﷻ بېلو بېلو سیمو ته په بېلو بېلو وختونو کې د دغو بې لارو وګړو سمې لارې (اسلام) ته د بیرته را اړولو لپاره په زرګونو پیغمبران ولېږل.البته دا پیغمبران د دې لپاره نه وه لېږل سوي چې هر یو په خپل خپل نوم یو مذهب را وباسي او ځان ته یو نوی او بېل امت وتاکي، بلکې د هغو د لېږني موخه داوه چې خلکو ته یو وار بیا هغه ورکه کړې حقه لار ور وښیي او بیرته له هغو څخه یو امت جوړ کړي.

﴿كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾﴾ [البقرة: ۲۱۳].

ژباړه: «په لومړیو وختونو کې ټول خلك یو امت وو او پر یوه لار (اسلام) روان وه. (بیا چې دې وضعې دوام ونه کړ او اختلافونه را منځته سول) نو لوی څښتن پیغمبران ولېږل چې په سم تګ زېری ورکوونکي او د انحراف له پایلو څخه بېروونکي وه، او د هغو سره یو ځای یې حق کتاب ولېږی څو هغه اختلافونه چې د حق په باب د خلکو تر منځ راغلي وه فیصله کړي. (او د دې اختلافونو د پیښېدو دلیل دا نه وو چې په لومړیو کې خلکو ته د حق ښوونه نه وه سوې. نه!) اختلاف هغو کسانو را پیدا کړ چې د حق په برخه کې معلومات ورکړه سوی وو. هغو د روښانو لارښوونو له موندلو وروسته صرف په دې موخه حق پرېښووی، بېلې بېلې لارې یې را منځته کړې چې غوښتل یې په خپلو منځو کې یو پر بل تېری وکړي. نو لوی څښتن هغو کسانو ته چې پر پیغمبرانو یې ایمان راوړ په خپل اذن د حق هغه لار وښوول چې خلکو پکښې اختلاف کړی وو. د لوی څښتن چې چاته خوښه سي سمه لار ورښیي».

په دې ډول هر پیغمبر چې د لوی څښتن له لوري اسلام ته د وګړو د بېرته ورګرځېدو او د اسلام د بیا سم رامنځ ته کېدو لپاره ور لېږل سوی دی د هغه دین هم همدغه اسلام وو، او هر کتاب چې د لوی څښتن لخوا د نړۍ په هره

ژبه هر قوم ته نازل سوی دی، هغه د همدې اسلام ښوونه کړې ده. کله چې په قرآن کریم کې د انبیاوو عليهم السلام احوال په دقت سره ولولو راته څرګندیږي چې دوی ټولو خپل ولسونه د لوی څښتن توحید، د عبادت سوچه والي، د آخرت پر ورځ ایمان لرلو، د طواغیتو او زورواکو ظالمانو سره شلوون، د هغو له پلوی څخه ډډې کولو، بلکې د دغسې ابلیسي ځواکونو سره ډغرې وهلو، د هغو له ولکې او سلطې څخه د ځان ژغورلو او د هغو له واکه د راپرزولو، د الهي او توحیدي نظام د ټینګولو، د ظلم او تیري نه کولو، عدالت او د ښو اخلاقو خپلولو او د ناوړو عادتونو او عملونو پرېښوولو او د دې او هغې دنیا نېکمرغۍ ته ور بلل او پر دې یې اتفاق وو. د دې لړۍ په وروستۍ کې لوی څښتن جل جلاله زموږ خاتم الانبیا حضرت محمد مصطفیٰ صلی الله علیه وسلم ټولې نړۍ ته د یوه جامع او بشپړ دین او شریعت سره چې د پخوانیو ټولو حقه ادیانو په غېږ کې نیوونکی هم دی را لیږلی دی.

خو څنګه چې به د پیغمبرانو له لارښوونو او غوښتنو څخه ځیني د هغو د ګټو، واک او نفسي غوښتنو پر ضد وې، نو به یې د هغو تر خبرو خپلې باطلې رایې او نفسي غوښتني غوره وګڼلې او د هغو خبرې به یې په درواغو لېکه کړې، د هغو او د هغو د پلویانو سره به یې دښمنۍ راواخیستې او په ډول ډول زورونو او کړونو به یې د هغو کړولو او ان وژلو ته لاس واچاوه. په دې توګه چې به چا د لوی څښتن د پیغمبر خبره منل هغه به مسلمان او د حق د لارې لاروی به سو او چا چې نه منل هغه به کافر او د باطلو پلوی به سو.

په دې هکله د لوی څښتن دې وینا ته پام وکړئ:

﴿لَقَدْ أَخَذْنَا مِيثَٰقَ بَنِيٓ إِسْرَٰٓءِيلَ وَأَرْسَلْنَآ إِلَيْهِمْ رُسُلًاۖ كُلَّمَا جَآءَهُمْ رَسُولُۢ بِمَا لَا تَهْوَىٰٓ أَنفُسُهُمْ فَرِيقًا كَذَّبُواْ وَفَرِيقًا يَقْتُلُونَ ﴿٧٠﴾ وَحَسِبُوٓاْ أَلَّا تَكُونَ فِتْنَةٌ فَعَمُواْ وَصَمُّواْ ثُمَّ تَابَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ ثُمَّ عَمُواْ وَصَمُّواْ كَثِيرٌ مِّنْهُمْۚ وَٱللَّهُ بَصِيرُۢ بِمَا يَعْمَلُونَ ﴿٧١﴾﴾ [المائدة:۷۰-۷۱].

ژباړه: «موږ له بني اسرائیلو څخه کلکه ژمنه اخیستې او هغو ته مو ډېر پیغمبران لیږلي، خو هر کله چې کوم پیغمبر هغو ته د هغو د نفسي غوښتنو پرخلاف احکام راوړي دي، نو چاته یې د درواغو نسبتونه کړي دي او څوک یې وژلي دي او له ځان

سره يې دا انګېرلې ده چې څه فتنه راولاړه نه سي. له دې امله ړانده کاڼه سول. بيا لوى څښتن هغو ته بخښنه وکړه، خو له هغو څخه زياتره کسان لا زيات ړانده کاڼه سول. لوى څښتن د هغو دا ټول حرکتونه څاري».

دلته دا خبره د يادولو وړ ده چې د پيغمبرانو عليهم السلام اصلي دنده دا نه وه چې هغوى د طواغيتو او منحرفو وګړو سره جنګ جګړې او شخړې په لاره واچوي، بلکي د دوى له اوصافو څخه يو ډېر ښه صفت چې لوى څښتن ورته ور په برخه کړى وو رحمت او شفقت وو، چې پر ټولو انسانانو يې درلود. لکه چې لوى څښتن د حضرت محمد ﷺ په هکله فرمايي:

﴿وَمَآ أَرۡسَلۡنَٰكَ إِلَّا رَحۡمَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٠٧﴾ [الأنبياء: ۱۰۷].

ژباړه: «او مونږ ته د ټولي نړۍ د خلکو لپاره رحمت لېږلى يې».

او چې قرآن کريم په لږ غور سره وکتل سي څرګنده به سي چې نور نبيان هم د رحمت او لورېيني په صفت پسوللي وه. لوى څښتن پيغمبران د دې لپاره را استولي دي چې د انسانانو ګمرهۍ، بخولي او بدمرغۍ او ويرونه او بې وزلۍليري کړي. نېکو چاروته د هغو لارښوونه وکړي، د مستضعفو او بې چاره ګانو مرسته او ننګه وکړي د ظالمانو او تېري کوونکو لاسونه د هغو له ګرالبو لنډ کړي او له هغو څخه هم سالم انسانان جوړ کړي او له طغيان او سرکښۍ څخه يې را وګرځوي. خو لکه چې څرګنده ده دغسي سرکښه عناصر زياتره د خپلو ګټو او مصالحو د خوندي ساتلو په خاطر د انبياوو او د حق د پلويانو پر ضد په ډول ډول مخالفتونو او ژوبلو وژنو لاس پوري کوي، دښمنۍ ورسره را اخلي، له کور کلي څخه يې باسي، وهي او ټکوي يې، سپکي سپوري ورته وايي، پوسخندونه په وهي، بندي کوي يې، عذابونه پر تېروي، وژني يې او که يې څه پلويان موندلي وي وسله وال تېري او خونړي بريدونه پر کوي. بشري تاريخ، قرآن کريم او اوسني واقعيتونه ټول د دې خبرو تاييد کوي. لنډه دا چې باطل پالي تل د حق سره دښمني کوي او د انبياوو د لورېيني او مهربانۍ په وړاندي له غرور، جبر او طغيانه کار اخلي. په دې صورت کي نو مصلحت تقاضا کوي چې د دغسي کسانو شر دفع سي او ان په ځينو مواردو کي غوڅ او سخت چلند ورسره وسي. په حقيقت کي دغسي چلند دغسي انسانانو ته هم

ګټور دی. دا داسې مثال لري،لکه کوچنیان چې په زوره ښوونځي ته لېږل کیږي او درسونه په داسې حال کې په ویل کیږي چې زړه یې نه غواړي. په دې صورت کې که د غیر عقلاني عواطفو پربنسټ کړنه وسي او کوچنی لوبو او ساعت تېریو ته پرېښوول سي، پایله به یې دا سي چې راتلونکې به یې خرابه سي. کله چې یو جراح ډاکټر د ناروغ پر بدن د جراحۍ چاړه راباسي او د بدن غوښې یې ورپرې کوي او یا یې هډوکي ماتوي یا یې د بدن کوم غړی پرې کوي دا ګرده پر ناروغ باندې د لورېیني او ترحم او د هغه د خیر او ښېګڼې لپاره دي.

په دغسې صورتونو کې قرآن کریم د بشپړو مسلمانانو صفتونه داسې بیانوي:

﴿مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ ٱللَّهِۚ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ أَشِدَّآءُ عَلَى ٱلۡكُفَّارِ رُحَمَآءُ بَيۡنَهُمۡۖ﴾ [الفتح: ۲۹].

ژباړه: «محمد د الله رسول دی او کوم کسان چې د هغه سره ملګري دي، پر کافرانو سخت او په خپلو منځو کې خواخوږي دي».

بل ځای د کاملو مسلمانانو اوصاف داسې ښیي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَن يَرۡتَدَّ مِنكُمۡ عَن دِينِهِۦ فَسَوۡفَ يَأۡتِي ٱللَّهُ بِقَوۡمٖ يُحِبُّهُمۡ وَيُحِبُّونَهُۥٓ أَذِلَّةٍ عَلَى ٱلۡمُؤۡمِنِينَ أَعِزَّةٍ عَلَى ٱلۡكَٰفِرِينَ يُجَٰهِدُونَ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَلَا يَخَافُونَ لَوۡمَةَ لَآئِمٖۚ ذَٰلِكَ فَضۡلُ ٱللَّهِ يُؤۡتِيهِ مَن يَشَآءُۚ وَٱللَّهُ وَٰسِعٌ عَلِيمٌ ٥٤﴾ [المائدة: ٥٤].

ژباړه: «ای مومنانو! که له تاسې څخه څوک له خپل دین څخه واوړي لوی څښتن به ډېر ژر نور داسې خلک پیدا کړي چې لوی څښتن مینه ور سره کوي او هغوی د لوی څښتن سره مینه کوي، د مومنانو سره به نرمي کوي او پر کافرانو به سختي. د لوی څښتن په لار کې به جهاد کوي او د هیڅ ملامتوونکي له ملامتیا به نه بېریږي. دا د لوی څښتن فضل دی چا ته چې یې خوښه سي ور په برخه کوي یې. لوی څښتن د ډېرو پراخو وسایلو خاوند دی او په هر څه پوهیږي».

بل ځای مسلمانانو ته داسې لارښوونه کوي:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَٰهِدِ ٱلۡكُفَّارَ وَٱلۡمُنَٰفِقِينَ وَٱغۡلُظۡ عَلَيۡهِمۡۚ﴾ [التوبة: ۷۳].

ژباړه: «ای پیغمبره! د کافرانو او منافقانو سره جهاد روان وساته، او پر هغو سخت اوسه».

بل ځای فرمايي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ قَٰتِلُواْ ٱلَّذِينَ يَلُونَكُم مِّنَ ٱلۡكُفَّارِ وَلۡيَجِدُواْ فِيكُمۡ غِلۡظَةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ١٢٣﴾ [التوبة: ١٢٣].

ژباړه: «ای مومنانو! د هغو کافرانو سره وجنګېږئ چي تاسي ته نژدې دي. او بايد هغوی په تاسي کي سختي وومي او وپوهېږئ چي لوی څښتن د پرهېزګارانو ملګری دی».

د حضرت رسول اکرمﷺ په صفتونو کي راغلي دي چي هغه «نَبِيُّ الرَّحْمَةِ ونَبِيُّ الْمَلْحَمَةِ» دی. يعني د رحمت او مهربانۍ او د جهاد او حماسو او سترو جګړو نبي دی. دغه راز د امام محمد بن يوسف الصالحي الشامي (په ۹٤۲هـ مړ) په «سبل الهدی والرشاد في سيرة خير العباد» کتاب کي راغلي دي چي په تورات کي د رسول اللهﷺ نوم «احمد الضحوك القتال» ليکلی دی. «الضحوك القتال» يعني د مومنانو سره موسکی او خنده رويه او د کافرانو او د خدای د دښمنانو په وړاندي جهاد کوونکی.

حضرت ابن عباسرضي الله عنهما فرمايلي دي: «هم للمؤمنين كالوالد للولد والسيد للعبد، وهم في الغلظة على الكفار كالسبع على فريسته» (تفسير القرطبي) يعني مسلمانان بايد د مسلمانانو په وړاندي داسي وي، لکه پلار د زوی په وړاندي او خاوند د مريي په وړاندي او پر کفارو باندي په سختۍ او غلظت کي بايد داسي وي، لکه څيرونکي ځناور پر خپل ښکار باندي.

نو څنګه چي مادي پالو کفارو د پيغمبرانو خبري نه منلې او د هغو په وړاندي يې له تشدد او ژوبلي وژني څخه کار اخيست، د اړتيا پر بنسټ به د کفر او اسلام يا د حق او باطل تر منځ شخړي او جنګ جګړې رامنځته سوې او سخته دښمني به يې تر منځ ولوېدل، لوی څښتن فرمايي:

﴿وَكَأَيِّن مِّن نَّبِيّٖ قَٰتَلَ مَعَهُۥ رِبِّيُّونَ كَثِيرٞ فَمَا وَهَنُواْ لِمَآ أَصَابَهُمۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ وَمَا ضَعُفُواْ وَمَا ٱسۡتَكَانُواْۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلصَّٰبِرِينَ ١٤٦ وَمَا كَانَ قَوۡلَهُمۡ إِلَّآ أَن قَالُواْ رَبَّنَا ٱغۡفِرۡ لَنَا ذُنُوبَنَا وَإِسۡرَافَنَا فِيٓ أَمۡرِنَا وَثَبِّتۡ أَقۡدَامَنَا وَٱنصُرۡنَا عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡكَٰفِرِينَ ١٤٧ فَـَٔاتَىٰهُمُ ٱللَّهُ

ثَوَابَ ٱلدُّنۡيَا وَحُسۡنَ ثَوَابِ ٱلۡأٓخِرَةِۗ وَٱللَّهُ يُحِبُّ ٱلۡمُحۡسِنِينَ ﴿١٤٨﴾ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِن تُطِيعُواْ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ يَرُدُّوكُمۡ عَلَىٰٓ أَعۡقَٰبِكُمۡ فَتَنقَلِبُواْ خَٰسِرِينَ ﴿١٤٩﴾ بَلِ ٱللَّهُ مَوۡلَىٰكُمۡۖ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلنَّٰصِرِينَ ﴿١٥٠﴾ سَنُلۡقِي فِي قُلُوبِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ ٱلرُّعۡبَ بِمَآ أَشۡرَكُواْ بِٱللَّهِ مَا لَمۡ يُنَزِّلۡ بِهِۦ سُلۡطَٰنٗاۖ وَمَأۡوَىٰهُمُ ٱلنَّارُۖ وَبِئۡسَ مَثۡوَى ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿١٥١﴾﴾ [آل عمران: ۱٤٦-۱٥۱].

ژباړه: «تر دې دمخه ډېر پیغمبران داسي تېر سوي دي چي د هغو په ملګرتیا کي ډېر خدای پالونکي وجنګېدل. د خدای په لار کي چي کوم غمونه پر هغو راغلل هغوی په زړه ماتي نه سول. کمزوري یې ښکاره نه کړه. او د (باطل په وړاندي) یې سرونه ټیټ نه کړل. لوی څښتن همداسي زغمونکي خوښوي. د هغو دعا صرف داوه چي: ای زموږ پروردګاره! زموږ خطاوي او ګناوي راوبخښه، زموږ پښې ټینګي کړه او پر کافرانو باندي زموږ د بر لاسی لپاره مرسته راسره وکړه. په پای کي لوی څښتن هغو ته د دنیا ثواب هم ورکړ او تر هغه غوره ثواب یې په آخرت کي هم ور په برخه کړ. د لوی څښتن همدغسي نېک عمله کسان خوښیږي. ای مومنانو! که تاسي د هغو خلکو په خوښه کړنه وکړئ چي کفر یې غوره کړی دی نو هغوی به تاسي بېرته پر شا واړوي او تاسي به ناکام سئ. (د هغو خبري غلطي دي) حقیقت دادی چي لوی څښتن ستاسي ملاتړ او مرستندوی دی، او هغه ډېر ښه مرستندوی دی. هغه وخت ډېر ژر راتلونکی دی چي موږ د حق نه منونکو په زړونو کي ېېره واچوو. ځکه چي هغو د لوی څښتن سره په خدایی کي هغه څه شریک بللي دي چي د هغو په برخه والی کي لوی څښتن کوم سند نه دی نازل کړی. د هغو وروستی استوګنځی دوږخ دی او ډېر بد هغه استوګنځی دی چي دغو ظالمانو ته ور په برخه وي».

دا هم باید له یاده ونه باسو چي د اسلام د مقدس دین د برقرارولو او د باطل د طردولو او له منځه وړلو لپاره سرښندني او هر اړخیزي هلي ځلي په کار دي. د حضرت مولانا مودودي رحمه الله په وینا د دې دین لار هیڅکله په ګلانو نه ده فرش سوې. د مهالونو په اوږدو کي چي هر چا پر اسلام ایمان راوړی دی ځان، مال او ډېرڅه یې د دې دین د کامیابی او د دواړو جهانو د نېکمرغی د ګټلو لپاره په خطر کي اچولي دي او هر طاغوت چي د هغه په مخ کي خنډ سوی دی د هغه د نسکورولو لپاره یې په سرښندنه مقابله او مبارزه کړې ده. په دې هکله د قرآن کریم دې ارشاد ته پام وکړئ:

﴿أَمْ حَسِبْتُمْ أَن تَدْخُلُواْ ٱلْجَنَّةَ وَلَمَّا يَأْتِكُم مَّثَلُ ٱلَّذِينَ خَلَوْاْ مِن قَبْلِكُمۖ مَّسَّتْهُمُ ٱلْبَأْسَآءُ وَٱلضَّرَّآءُ وَزُلْزِلُواْ حَتَّىٰ يَقُولَ ٱلرَّسُولُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ مَتَىٰ نَصْرُ ٱللَّهِۗ أَلَآ إِنَّ نَصْرَ ٱللَّهِ قَرِيبٌ ٢١٤﴾ [البقرة: ٢١٤].

ژباړه: «آیا تاسي دا ګڼئ چي همداسي به جنت ته ننوزئ. په داسي حال کي چي تر اوسه لا پر تاسي هغه هر څه نه دي تېر سوي، چي تر تاسي دمخه پر مومنانو باندي راغلي دي. پر هغو ستونزي راغلې، کړاوونه پرتېر سول، وبوږنول سول، ان تر دې چي د وخت رسول او د هغه مومنو ملګرو فریادونه وکړل چي د لوی څښتن مرسته به کله راسي؟ په هغه وخت کي هغو ته ډاډ ورکړه سو چي د لوی څښتن مرسته نژدې ده».

لکه چي له تاریخونو او د قرآن کریم له تفاسیرو څخه څرګندیږي د یوه پیغمبر په مبعوثېدو او هلو ځلو سره به د نړۍ د یوه ګوټ په خلکو کي د اسلام حق دین برقراره سو، خو د پیغمبر تر وفات وروسته به بیا د مهالونو په تېرېدو سره خلک بیا له سمي لاري واوښتل. چي بیا به لوی څښتن د هغو د لارښوونې لپاره استازی ورته ولېږی او بیا به د حق او باطل جګړه ونښته. چي دا لړۍ د حضرت محمدﷺ تر مهاله او په راوروسته کي د اسلام او کفر تر منځ تر همدې اوسه روانه ده او نوره به هم الی ماشاء الله روانه وي.

د ولسونو په تېره د انبیاوو تاریخ ښوولې ده چي د انبیاوو بلنو به لومړی د مظلومو، بې وزلو او مستضعفو وګړو په زړونو کي ځای نیوی او زیاتره به دغو وګړو پر انبیاوو ایمان راوړی او د هغو ملاتړ به یې کاوه. دا ځکه چي دوی به د هغو په بلنه کي عدالت، برابري، مینه او وروري او له ډول ډول مظالمو څخه د ځانونو ژغورل لیدل. خو بر عکس به فرعونان، نمرودان، شدادان، قیصران، ستړواکان، ظالمان، سرکښان او ډول ډول لوی او واړه واکمنان، شتمن او په اصطلاح اشراف او لویان د انبیاوو د دعوت په وړاندي درېدل. دا ځکه چي دوی د ټولو ټولنیزو فسادونو، شرونو او ناروغیو زېږي وه، کوم چي د انبیاوو د بلني په منلو کي یې خپلي ګټي په خطر کي لیدلې. په پایله کي به د دوی د ګمراهۍ، سرکښۍ، حسادت، ځان غوښتنو او حق ته د غاړي نه ایښوولو له امله اړ کېدل چي د انبیاوو او د هغو د بې وزلو ملګرو پر ضد ودریږي، د غرور

او تکبر لار واخلي، په باطلو او غولونه تمسك وکړي او د حق پلويان وزوروي، په ټيټو سترګو ورته وګوري او ان اراذل يې وبولي او په وينو يې خپل لاسونه ورنګوي.

خو لکه چي په قرآن کريم کي لولو د لوی څښتن سنت او اراده داده چي خپل استازي د بې وزلو په ملاتړ پياوړي کړي او د هغو پر دښمنانو باندي په غلبه او بري سره خپل نعمت پر ولوروي. لکه چي فرمايي:

﴿إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي ٱلْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَآئِفَةً مِّنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَآءَهُمْ وَيَسْتَحْيِۦ نِسَآءَهُمْۚ إِنَّهُۥ كَانَ مِنَ ٱلْمُفْسِدِينَ ۝٤ وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِي ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ۝٥﴾ [القصص: ٤-٥].

ژباړه: «فرعون په مځکه کي سرکښي وکړه او د هغې اوسېدونکي يې پر ډلو ووېشل، د هغو يوه ډله يې خواره کړه، د هغو هلکان يې وژل او د هغو ښځي (نجوني) يې ژوندۍ پرېښوولې، دغه فرعون له مفسدانو څخه وو. او موږ اراده درلوده چي پر هغو خلکو لورونه وکړو چي په مځکه کي ضعيف کړی سوي وه او هغوی لارښوونکي وګرځوو او هغوی وارثان کړو او په مځکه کي واك ورکړو».

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَقَدْ سَبَقَتْ كَلِمَتُنَا لِعِبَادِنَا ٱلْمُرْسَلِينَ ۝١٧١ إِنَّهُمْ لَهُمُ ٱلْمَنصُورُونَ ۝١٧٢ وَإِنَّ جُندَنَا لَهُمُ ٱلْغَٰلِبُونَ ۝١٧٣﴾ [الصافات: ١٧١-١٧٣].

ژباړه: «موږ د خپلو لېږل سوو بنده ګانو سره له پخوا څخه لا ژمنه کړې ده چي خامخا به د هغو سره مرسته وسي او زموږ پوځ به هرو مرو برلاسی سي».

د لوی څښتن د استازو او رشتينو بنده ګانو ژوند ټول په رشتينولۍ او د کفر، فساد، ظلم او بې عدالتۍ سره په غزا، جهاد او مبارزه کي، پر لوی څښتن په ايمان لرلو، په زړه ورتيا سره او په رشتياني شجاعت او مړانه کي تېر سوی او پای يې د مستکبرينو، جبارانو، فرعونانو، ټګانو او خاينانو او د شر او فساد د عناصرو وربوزونه په خاورو چيخلي دي او بيله څه مادي ګټي او هيلي يې کړېدلي او زورېدلي وګړي کوم چي د ولسونو اکثريت تشکيلوي له ډول ډول مظالمو او د بنده ګانو له بنده ګۍ څخه ژغورلي دي.

لکه چې په پخوانیو ټولنو او ولسونو کې د دغو مادي پالو طاغوتي او ظالمو کفري ځواکونو د ناوړو او استکباري کړنلارو د پلي کېدو په پایله کې ډول ډول فسادونه، لکه د لوی څښتن په وړاندې کفر، هغه ته شریك نیول، د نعمتونو ناشکري، سرکښي، غرور، ورانۍ او بدمرغۍ، د ولسونو خوارول او ښکېلول، اسراف، بې ځایه لګښتونه، د بې وزلو د لاسنیوي پر ځای د هغو لوټول او د هغو د شتو لاندي کول او خوړل، خیانت، چل ول، په درانه کانې رانیول او په سپك کانې ورکول، زنا او لواطت او نور رامنځته سول او بیا چې د لوی څښتن د استازو او نورو مصلحینو هلو ځلو، نصیحتونو او ویناوو ځای ونه نیو، نو د لوی څښتن په قهر او غضب اخته سول او بالاخره داسي پوپنا سول چې یوازي یې کیسې په کتابونو او تاریخونو کې پاته سوې.

## ادریسعليه السلام اود کفر او فساد پر ضد لومړنی پاڅېدنه

﴿وَٱذۡكُرۡ فِي ٱلۡكِتَٰبِ إِدۡرِيسَۚ إِنَّهُۥ كَانَ صِدِّيقٗا نَّبِيّٗا ٥٦ وَرَفَعۡنَٰهُ مَكَانًا عَلِيًّا ٥٧﴾ [مریم: ٥٦-٥٧].

ژباړه: «او په دې کتاب (قرآن کریم) کې د ادریس یادونه بیان کړه، هغه یو رشتینی انسان او پیغمبر وو او هغه موږ لوړ مقام ته رسولی وو».

ادریسعليه السلام په بابل کې وزیږېد او هلته لوی سو. لومړی یې د شیثعليه السلام په علم او لارښوونه کړنه کول، کوم چې د آدمعليه السلام زوی او د ده د پلار د نیکه، نیکه وو. بیا چې لوی سو لوی څښتن د پیغمبرۍ او نبوت منصب ور وسپاره.

په تفسیر خازن، تفسیراللباب، معالم التنزیل او نورو کې وایي چې د قابیل د توکم یوشمېر وګړو د اور عبادت غوره کړی وو او په لهو لعب، ساز او سرود، شرابو، زنا او فساد او فحشاوو اخته سوي وه. له دې امله لوی څښتن حضرت ادریسعليه السلام تر حضرت آدمعليه السلام وروسته د خپل لومړنی پیغمبر ( نبي) په توګه د وحیو سره ورواستاوه چې سمې لارې ته د قابیل د توکم او زامنو لارښوونه وکړي،له ګمراهۍ، کفر او د شیث او آدمعليه السلام د شریعت له مخالفت او انحراف څخه یې را وګرځوي او د لوی څښتن عبادت، توبې او پښېمانۍ ته یې وبولي. خو لکه چې تفاسیر او نور کتابونه وایي ډېرو لږو کسانو د ده پیروي وکړه او اکثریت وګړي یې مخالف سول او د ده خبري یې ونه منلې. له دې امله حضرت ادریسعليه السلام د دوی سره د جګړې په تکل کې سو او په دې منظور یې وسلې جوړولو ته لاس واچاوه. په معالم التنزیل، خازن او روح المعاني تفسیرونو کې لیکي چې ادریسعليه السلام لومړی شخص دی چې په قلم یې لیک کښلی دی. دغه راز هغه لومړی شخص دی چې کالي یې وګنډل او د ګنډلو کالو اغوستل یې دود کړل او د لومړي ځل لپاره یې وسلې جوړې کړې او د کفارو سره په وجنګېدی. خو داسې ښکاري چې حضرت ادریسعليه السلام دوی سمې لارې ته راوانه ړولای سول او بالاخره د هغو د مخالفتونو له امله اړ سو چې د خپلو لږو پیروانو سره له بابل څخه مصر ته مهاجر سي. ادریس په

مصر کې خلک د لوی ښتن توحيد، عدالت، نېکۍ او معروف ته بلل او له منکرو يې راګرځول. دغه راز هغه خلک د دين د دښمنانو سره جنګ او جهاد ته هڅول او لار ښوونه يې ورته کول چې د خپلو شتو زکاتونه بې وزلو ته ورکړي. لکه چې تفاسير وايي لوی ښتن تر ادريس‌عليه السلام وروسته دغه ټول ورک لاري د نوح‌عليه السلام د توپان پر مهال غرق کړل. (النبوت والانبياء ۲۲۳مخ او يو شمېر تفاسير).

د تفهيم القرآن په ۳/ ۱۰۱مخ کې وايي: د مفسرينو عمومي مفکوره داده چې په بايبل کې چې د کوم ستر شخصيت نوم حنوک (Enoch) ښوول سوی دی، هغه ادريس‌عليه السلام دی.

د تلمود په اسرائيلي روايتونو کې د هغه حالات په زيات تفصيل سره راوړل سوي دي، چې لنډيز يې دادی: له حضرت نوح‌عليه السلام څه دمخه چې کله په بنيادمانو کې فساد پيل سو نو د خدای فرښتې حنوک ته، چې له خلکو څخه بېل يې روحاني ژوند تېراوه، آواز وکړ چې: «ای حنوکه! پاڅېږه له ګوښه کونج څخه ووزه او د مځکې په اوسېدونکو کې وګرځه راوګرځه، هغو ته هغه لاره وښيه چې هغو ته ورباندي تلل په کار دي او هغه کړنلارې وروښيه چې په هغو باندي ورته عمل کول په کار دي». د دغه امر له مخې هغه ووت او ځای په ځای يې خلک راغونډ کړل. حنوک تر ۳۵۳ کلونو پوري پر انساني نسل باندي حکمران پاته سو. د هغه حکومت د عدل او حق پالني حکومت وو. د هغه په زمانه کې د خدای پر مځکه باندي رحمتونه اورېدل. ( The Talmud Selections, pp.18-21)

پورتنۍ خبري د عېسويانو په يوه کتاب کې چې «قديم آبائی بزرگ و انبياء کے سوانح حيات» نومېږي هم په تفصيل سره ليکل سوي دي.

يادونه:

ځيني عالمان وايي چې د نوح‌عليه السلام تر قوم دمخه نور خلک د آدم‌عليه السلام تر مهاله د فطرت د دين پابنده وه او بېله لويه ښتنه يې د بل څه عبادت نه دی کړی، او تر نوح‌عليه السلام د مخه بل بېروونکي او رسول نه دی ور لېږل سوی. البته شيث، ادريس او آدم‌عليهم السلام انبيا وه، نه رسولان کوم چې وحي ورته سوي وي. په دې هکله دوی دا آيت دليل وړاندي کوي:

﴿كَانَ ٱلنَّاسُ أُمَّةً وَٰحِدَةً فَبَعَثَ ٱللَّهُ ٱلنَّبِيِّـۧنَ مُبَشِّرِينَ وَمُنذِرِينَ وَأَنزَلَ مَعَهُمُ ٱلْكِتَٰبَ بِٱلْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ ٱلنَّاسِ فِيمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ ۚ وَمَا ٱخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا ٱلَّذِينَ أُوتُوهُ مِنۢ بَعْدِ مَا جَآءَتْهُمُ ٱلْبَيِّنَٰتُ بَغْيًۢا بَيْنَهُمْ ۖ فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لِمَا ٱخْتَلَفُوا۟ فِيهِ مِنَ ٱلْحَقِّ بِإِذْنِهِۦ ۗ وَٱللَّهُ يَهْدِى مَن يَشَآءُ إِلَىٰ صِرَٰطٍ مُّسْتَقِيمٍ ﴿٢١٣﴾﴾ [البقرة: ۲۱۳].

(د دغه آیت ژباړه په (۳۹) مخ کي سوې ده). او بل د حضرت ابن عباس رضي الله عنهما دا حديث دليل وړاندي کوي: «كان بين نوح وآدم عشرة قرون كلهم على شريعة من الحق، فاختلفوا فبعث الله النبيين مبشرين ومنذرين» دغه حديث حاکم په المستدرك على الصحيحين کي په ۳۹٦۸شمېره روايت کړی دی او وايي چي صحيح دی، خو بخاري او مسلم نه دی روايت کړی.

ژباړه: د نوح او آدم (عليهما السلام) تر منځ لس پېړۍ واټن وو. او کومو خلکو چي په دغه زمانه کي ژوند کاوه ټول د حق دين او شريعت پابند وه. خو بيا يې وروسته اختلاف سره وکړ او لوی ښښتن دوی ته زېری کوونکي او بېروونکي نبيان ولېږل.

خو د آيت په هکله شهيد سيد قطب رحمه الله په في ظلال القرآن کي ليکي: دا چي لومړی خلک يو امت وو دا درسته ده. د هغو يوه لار او يو تصور وو. خو دا د بشر د هغي لومړنۍ کوچنۍ مجموعې حالت ته اشاره ده چي د آدم او حوا (عليهما السلام) له کهول او اولادې څخه د هغو د تصوراتو او اعتقاداتو تر اختلافونو دمخه موجوده وه. په دې توګه قرآن کريم فرمايي چي انسانان له يوه اصله او له يوې کورني څخه دي کومه چي د آدم او حوا کورنۍ ده. خو بيا چي د دې کهول غړي ډېر سول او يوه خوا او بله خوا خپاره سول،اختلافونه پکښې رامنځ ته سول.

# حضرت نوح عليه السلام او د اسلام سره د هغه د قوم دښمني

﴿وَلَقَدۡ أَرۡسَلۡنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوۡمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمۡ أَلۡفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمۡسِينَ عَامٗا فَأَخَذَهُمُ ٱلطُّوفَانُ وَهُمۡ ظَٰلِمُونَ ١٤ فَأَنجَيۡنَٰهُ وَأَصۡحَٰبَ ٱلسَّفِينَةِ وَجَعَلۡنَٰهَآ ءَايَةٗ لِّلۡعَٰلَمِينَ ١٥﴾ [العنكبوت: ١٤-١٥].

ژباړه: «موږ نوح د هغه قوم ته ولېږی او هغه پنځوس کم زرکاله د هغو په منځ کي واوسېدی. په پای کي هغه خلک توپان ونیول. په داسي حال کي چي هغوی ظالمان وه. بیا موږ نوح او د بېړۍ خلک وژغورل او هغه مو د نړیوالو لپاره د عبرت یوه نښانه وګرځول».

نوح عليه السلام د لوی څښتن له اولوالعزمو پیغمبرانو څخه وو چي د لومړي رسول په توګه د هغه قوم ته ولېږل سو. هغه خپل قوم ته له بت پالني څخه د لوی څښتن وحدانیت ته بېخي ډېر عمر بلنه ورکړه، خو دونه نتیجه یې ورنه کړه. او ډېرو لږو کسانو ایمان پر راوړ.

د اسلامي نړۍ ستر عالم او مفسر استاد عفیف عبدالفتاح طباره لیکي: قرآن کریم د نوح عليه السلام له پېړ (مهال) څخه د انساني ټولني طبیعت او ترکیب راښیي او هغه پر دوو مختلفو طبقو وېشي، لومړی: د اشرافو او شتمنو طبقه چي اوسمهال د پانګوال او بورژوا په نومونو پېژندل کیږي. دوهم: د کارګرانو او فقیرانو طبقه چي نن مهال د کارګري طبقې او [پرولتاریا] په نومونو بلل کیږي. قرآن کریم د نوح عليه السلام په کیسه کي موږ ته څرګندوي چي یوازي بېوزلان، کارګران او مستضعفان دي چي د پیغمبرانو بلنو ته مثبت جواب وایي او له هغو څخه هرکلی او پیروي کوي. ځکه چي د هغو په بلنو کي عدالت، مساوات او مینه او محبتویني او پوهیږي چي دغه بلني د نشتمنو او شتمنو په منځ کي مساوات او وروروګلوي رامنځ ته کوي او د مظلومانو حق له ظالمانو څخه اخلي او اجازه نه ورکوي چي ظلم او تېری وکړي خو د دې په عکس

اشراف او شتمن د پیغمبرانو بلنې نه مني. لکه چې د نوح عليه السلام د وخت اشرافو هم د هغه د دعوت له منلو څخه ډډه وکړه او داسې جواب یې ورکړ:

﴿فَقَالَ ٱلْمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوْمِهِۦ مَا نَرَىٰكَ إِلَّا بَشَرًا مِّثْلَنَا وَمَا نَرَىٰكَ ٱتَّبَعَكَ إِلَّا ٱلَّذِينَ هُمْ أَرَاذِلُنَا بَادِيَ ٱلرَّأْيِ وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾﴾ [هود: ۲۷].

ژباړه: «د هغه په جواب کې د هغه د قوم هغو مشرانو چې د هغه د خبرو له منلو څخه یې ډډه کړې وه، وویل: زموږ په نظر خو ته پرته له دې چې موږ غوندې یو انسان یې بل څه نه یې. او موږ ګورو چې زموږ له قوم څخه صرف هغو کسانو چې زموږ په اند ټيټ خلک وه، بې فکره او بې سنجشه یې ستا پیروي غوره کړې ده».

دا جواب د اشرافو اند دود (د تفکر ډول) چې لويي او تکبر پکښې نغښتی دی موږ ته مشخصوي. دغه راز دغه متکبره او مغروره ډله، بې وزلي ډلي ته وايي:

﴿وَمَا نَرَىٰ لَكُمْ عَلَيْنَا مِن فَضْلٍۭ بَلْ نَظُنُّكُمْ كَٰذِبِينَ ﴿٢٧﴾﴾ [هود: ۲۷].

ژباړه: «او موږ په تاسي کې تر موږ هیڅ ډول لوړوالی او فضیلت نه وینو، بلکې موږ ګومان کوو چې تاسي دروغجن یاست». (داستان های پیامبران در قرآن ۱۲۳مخ).

قرآن کریم او د هغه تفاسیر وايي چې د نوح عليه السلام قوم د هغه خبرې نه منلې، په تېره د هغه د قوم اشرافو چې ډېر ستر چارواکي او عالي رتبه صاحب منصبان پکښې وه د هغو کسانو په هکله چې د نوح عليه السلام خبرې یې منلې وې ورته ویل چې له تا څخه چې کومو کسانو پیروي کړې ده، بې ارزښته او رذیل وګړي دي چې د بې وزلو، کارګرانو، بزګرانو او په ډېرو ټيټو او ساده کارونو بوختو کسانو له ډلي څخه دي. خو نوح عليه السلام پر خپل قوم باندې د شفقت او لورېيني له امله په صبر او زغم سره خپل دعوت ته ادامه ورکړه او د هغو سره به یې په پټه او څرګنده خبرې اترې او مجادله کول. هغو ته به یې ویل چې ستاسي جهالت او په شتو او مقامونو باندې ستاسي غرور لامل سوی دی چې له سمې لارې څخه اوښتي یاست او هدایت نه منئ. څنګه چې هغو د نوح عليه السلام اسکېرلي پیروان د شتو او ټولنيز موقف له پلوه د خپلو ځانونو سیال نه ګڼل نو

يې ور ته وويل که ته غواړې چي موږ پر تـا ايمـان راوړو نـو تـه دغـه کسـان لـه ځانه ليري کړه، اما نوح‏‏ دغه وړانديز ونه مانه او ويې ويل:

﴿وَيَٰقَوۡمِ لَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مَالًاۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَى ٱللَّهِۚ وَمَآ أَنَا۠ بِطَارِدِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۚ إِنَّهُم مُّلَٰقُواْ رَبِّهِمۡ وَلَٰكِنِّيٓ أَرَىٰكُمۡ قَوۡمٗا تَجۡهَلُونَ ٢٩ وَيَٰقَوۡمِ مَن يَنصُرُنِي مِنَ ٱللَّهِ إِن طَرَدتُّهُمۡۚ أَفَلَا تَذَكَّرُونَ ٣٠﴾ [هود: ۲۹-۳۰].

ژباړه: «اى زما ولسه! زه هيڅکله نه يم حاضر چي هغه کسان چي ايمان يې راوړى دى له ځانه ليري کړم. هغوى د خپل رب حضور ته ورتلونکي دي، خو زه ګورم چي تاسي جهالت غوره کوئ. او اى قومه! که زه دغه خلک وشړم نو د لوى څښتن له نيوني څخه به ما څوک وژغوري؟ آيا ستاسي په ذهن کي دونه خبره هم نه کښېني؟».

عبدالفتاح طباره ليکي: «قرآن کريم څوارلس سوه کاله وړانـدي د طبقـاتو او ټولنيزو اختلافونو د له منځه وړلو لپاره اقدام کړى دى او په بـې شـمېرو آيتونـو کي يې وګړي دوستى، وروري او برابري ته بللي او هڅولي دي. د نوح په کيسه کي د لوى څښتن اراده پر دې ده چي خلکو ته روښانه کړي چي اشـراف او شتمن پر نورو باندي هـيڅ امتيـاز نـه لـري. کومـه انسـاني ټولنـه چـي د لـوى څښتن د منلو وړ ده هغه ټولنه ده چي انسانان په هغـې کـي پـه حقوقـو او دنـدو کي برابر دي. او پر يوه باندي د بل لوړوالى او درناوى يوازي د علم او تقوا، له فساد او ورانيو څخه د ډډې کولو او خلکو ته د خدمتونو او ښو چارو د تر سره کولو پر بنسټ دى.

د قرآن کريم له نظره که شتمنو د حـق اواز تـه غـوږ نيـولاى، هـيڅ کلـه بـه د ټولني د تپيـو (طبقـو) پـه منـځ کـي جګـړې او مبـارزې نـه رامـنځ تـه کيـدلاى». (داستان‌هاى پيامبران در قرآن۱۲٤ او ۱۲٥ مخونه).

د نوح خبرو د هغه پر قوم اغېزه ونه کـړه او د حـق پـه وړانـدي د زيـات عناد او دښمنى لـه املـه يـې د هغـه خبـري رد کـړې، لجاجـت او شـخړي يـې ورسره پيل کړې او پاى يې ور ته ويل:

﴿قَالُواْ يَٰنُوحُ قَدۡ جَٰدَلۡتَنَا فَأَكۡثَرۡتَ جِدَٰلَنَا فَأۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ٣٢ قَالَ إِنَّمَا يَأۡتِيكُم بِهِ ٱللَّهُ إِن شَآءَ وَمَآ أَنتُم بِمُعۡجِزِينَ ٣٣ وَلَا يَنفَعُكُمۡ نُصۡحِيٓ إِنۡ

أَرَدتُّ أَنْ أَنصَحَ لَكُمْ إِن كَانَ ٱللَّهُ يُرِيدُ أَن يُغْوِيَكُمْ هُوَ رَبُّكُمْ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ ﴿٣٤﴾﴾ [هود: ٣٢-٣٤].

ژباړه: «ای نوحه! تا زموږ سره جګړه وکړه او ډېره دي وکړه، بس اوس نو که رشتینی یې هغه عذاب راوله چې موږ ته یې اخطار راکوې. نوح جواب ورکړ: هغه خو به لوی څښتن راولي، که یې خوښه سي او تاسي دونه وس نه لرئ چې د هغه مخه ډب کړئ. اوس که زه ستاسي څه خیر ښېګڼه هم وغواړم تاسي ته څه ګټه نه سي رسولای. کله چې لوی څښتن ستاسي د بې لاريتوب اراده کړې وي. هغه ستاسي رب دی او د هغه لوري ته ستاسي ورستنېدل دي».

بیا کله چې نوحؑ د خپل قوم لخوا تر فشارونو او تهدیدونو لاندې راغی لوی څښتن ته یې شکایت وکړ:

﴿قَالَ رَبِّ إِنَّ قَوْمِي كَذَّبُونِ ﴿١١٧﴾ فَٱفْتَحْ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَتْحًا وَنَجِّنِي وَمَن مَّعِيَ مِنَ ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١١٨﴾﴾ [الشعراء: ١١٧-١١٨].

ژباړه: «نوح دعا وکړه ای زما پروردګاره! زما قوم زه دروغجن وګڼلم اوس نو زما او د دوی تر منځ غوڅه پرېکړه وکړه او ما او زما ملګرو مومنانو ته نجات راکړه».

بیا یې وویل:

﴿رَّبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَٱتَّبَعُواْ مَن لَّمْ يَزِدْهُ مَالُهُۥ وَوَلَدُهُۥٓ إِلَّا خَسَارًا ﴿٢١﴾ وَمَكَرُواْ مَكْرًا كُبَّارًا ﴿٢٢﴾ وَقَالُواْ لَا تَذَرُنَّ ءَالِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا ﴿٢٣﴾ وَقَدْ أَضَلُّواْ كَثِيرًا وَلَا تَزِدِ ٱلظَّٰلِمِينَ إِلَّا ضَلَٰلًا ﴿٢٤﴾﴾ [النوح: ٢١-٢٤].

ژباړه: «لویه څښتنه! هغو زما خبره ونه منل او د هغو مشرانو پیروي یې وکړه چې د مال او اولاد په پیداکولو لا زیات زیانمن سوي دي. دغو کسانو (مشرانو) د ډېري لويي دسیسې جال غوړولی دی. دغو مشرانو کشرانو ته وویل: خپل معبودان هیڅکله مه پرېږدئ. او خپل بتان ود او سواع او یغوث، یعوق او نسر مه پرېږدئ. دوی ډېر خلک ګمراه کړي دي او ته هم ای ربه! دغو خلکو ته له ګمراهۍ پرته بل څه مه زیاتوه».

بیا نوحؑ خپل قوم ته د پوپنا کېدو ښرا کوي:

﴿وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى ٱلْأَرْضِ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ دَيَّارًا ۝٢٦ إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا۟ عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا۟ إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا ۝٢٧﴾ [النوح: ٢٦-٢٧].

ژباړه: «نوح وويل: لويه څښتنه! له دغو کافرانو څخه هيڅ يو پر مځکه ژوندی مه پرېږده. که تا دوی پرېښوول نو دوی به ستا بنده ګان ګمراه کړي. او د دوی له اولادې څخه چي هر څوک پيدا سي بد کاری، بې حيا او سخت کافر به وي».

نو هغه وو چي لوی څښتن د نوح﵇ دعا قبوله کړه، هغه ته يې د بېړۍ جوړولو لارښوونه وکړه او بيا يې د ده او د ده د مسلمانو ملګرو پرته نور ټول په توپان هلاک کړل.

## په قرآن کريم کي د قوم د سردارانو يادوني:

په قرآن کريم کي زياتره د قوم د سردارانو او مخورو لپاره د ﴿ٱلْمَلَأُ﴾ لفظ کارول سوی دی. دا يو داسي جامع لفظ دی چي د ظالمو واکمنو د ملاتړو، مصلحت خوښو، شتمنو، منافقانو او د قبايلو او سيمو د مشرانو لپاره استعماليږي. (دغه راز په قرآن کي دوی په نورو نومونو هم ياد سوي او د پيغمبرانو په هکله د دوی مخالفتونه غندل سوي دي).

دا د خدای عجب شان دی چي دغه وګړي د پيغمبرانو د مخالفت کوونکو د فهرست په سر کي راځي. د دې لامل بل هيڅ نه سي کېدای بيله دې چي دوی د شتو او جاه ميني ور اخيستي وي او له دې امله د لوی څښتن لور ته د هر بلونکي مخالفت کوي. دغو شتمنو لويانو د حضرت نوح﵇ سره مخالفت د جګړې تر پولي ورساوه. د لوی څښتن په مځکه کي يې فتنې او فسادونه وکړل او د خدای د دغه سپېڅلي پيغمبر د مخالفت لپاره يې هر راز وسايل په کار واچول. د دې ککړو عناصرو په هکله لوی څښتن داسي فرمايي:

﴿وَمَآ أَرْسَلْنَا فِى قَرْيَةٍ مِّن نَّذِيرٍ إِلَّا قَالَ مُتْرَفُوهَآ إِنَّا بِمَآ أُرْسِلْتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ۝٣٤﴾ [سبأ: ٣٤].

ژباړه: «او موږ چي کومي سيمي ته يو خبر ورکوونکی لېږلی وي د هغه ځای شتمنو دا ويلي وي چي په کوم څه چي ته را لېږل سوی يې موږ هغه نه منو».

د نوح ﷺ د قوم سردارانو هغو بې وزلو وګړو ته چې پر هغه يې ايمان راوړی وو رذيلان ويل او پر هغه يې يو غټ اعتراض دا وو چې ستا متابعت خو يوازي بې وسو او خوارو رذيلانو کړی دی او له اشرافو او لويانو څخه يوه هم ستا د بلني هرکلی نه دی کړی.

البته دا هغه خبري دي چې د واکمنو او شتمنو او بې وزلو او نشتمنو ډلو تر منځ له هغه مهاله تر اوسه رواني دي. دغه طبقاتي کشمکش نن مهال چې د علم، تهذيب او تمدن دور باله سي نور هم ژور سوی دی. د علم او پوهي د ځينو مدعيانو عادت وي چې د بې علمو وګړو په وړاندي په خپل علم او پوهه ډېره لويي او فخر کوي. ډېر ليدل سوي دي چې دغسي په اصطلاح عالمان دغوکسانو ته په سپکه سترګه ګوري او کله کله ناوړه الفاظ هم ورته استعمالوي.

دغه راز شتمن او پانګوال هم د بېوزلو خلکو سره، که څه هم د علم او فضل خاوندان وي، سپکه وضع کوي او تر ځان يې کښته او ټيټ ګڼي او اوسمهالي پردي پال واکمن او لوی چارواکي خو د عامو خلکو سره په فرعوني دماغ کړنه کوي او هيڅ يې پر سړو نه شمېري. په داسي حال کي چې دا ټول د جاهليت او ټيټ فطرت عادتونه دي. دغسي وګړي که هر څونه د حق او عدالت، مساوات او داسي نورو په هکله ليکني کوي يا يې په شعارونو ستوني څيري هيڅ رشتيا نه وايي.

هو! يوه بله د يادولو خبره پاته ده او هغه داده چې له بده مرغه له دغو بې وزلو وګړو څخه ډېری ليدل کيږي چې د ښو او پاکو انسانانو او د حق او د دوی د دې او هغي دنيا د نېکمرغۍ د پلويانو او مسلمانو لارښوونکو د خبرو د اورېدلو او منلو او واک ته د هغو د رسولو پر ځای د دغسي بې علمو، پردي پالو، خاينو، د حق او اسلام د مخالفو او د پردو په تبليغاتو جوړو سوو واکمنانو، رهبرانو، لويانو او اغاګانو خبري اوري او په پټو سترګو يې مني او پيروي يې کوي او خپله د خپل هيواد واک ورسپاري. چې دا ډېر د تاثر ځای دی. لوی څښتن د دغسي بې وزلو او مستکبرو توکو په هکله فرمايي:

﴿وَلَوۡ تَرَىٰٓ إِذِ ٱلظَّٰلِمُونَ مَوۡقُوفُونَ عِندَ رَبِّهِمۡ يَرۡجِعُ بَعۡضُهُمۡ إِلَىٰ بَعۡضٍ ٱلۡقَوۡلَ يَقُولُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لَوۡلَآ أَنتُمۡ لَكُنَّا مُؤۡمِنِينَ ۝٣١ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُوٓاْ أَنَحۡنُ صَدَدۡنَٰكُمۡ عَنِ ٱلۡهُدَىٰ بَعۡدَ إِذۡ جَآءَكُمۖ بَلۡ كُنتُم مُّجۡرِمِينَ ۝٣٢﴾ [سبأ: ۳۱-۳۲].

ژباړه: «کاشکي ته د دوی حال هغه مهال ووينې چي دغه ظالمان د خپل رب په حضور کي ولاړ وي. په هغه وخت کي به دوی يو پر بل باندي ملامتي اچوي. بې وزلي به تکبرکوونکو غټانو ته ووايي: که تاسي نه وای موږ به مومنان وای. (يعني: ای ظالمانو!دا تاسي واست چي موږ مو تېر ايستلي او له سمي لاري اړولي وو او د حق د بلونکو د خبرو له منلو څخه موګرځولي وو. که تاسي داسي نه کولای موږ به د ايمان خاوندان وای). دغه غټان به دغو بې وزلو ته جواب ورکړي: آيا تاسي له هغه هدايت څخه چي درته راغلی وو، موږ راګرځولي واست؟ نه داسي نه ده، بلکي تاسي په خپله مجرمان واست».

يعني: موږ خو څو تنه وو، موږ څنګه او په کوم واک او زور تاسي په دونه ډېر شمېر وګړي له سمي لاري څخه راګرځولای سوای. تاسي پخپله د حق د پلويانو پر خبرو غوږ نه دی ايښی او د خپلو خواهشاتو پيروي موکول او اوس په خپله ګناه موږ ګرموئ. که تاسي زموږ ماموريتونه او نوکری نه کولای او موږ ته مو رايه نه راکولای او واک مو نه را سپارلای موږ کله پر تاسي حکومت کولای سوای. زموږ پوځونه او د واک او شتمنۍ سر چينه خو تاسي واست. تاسي زموږ په پلوي مظاهرې کولې او زموږ په پلوي مو شعارونه ورکول. تاسي موږ په ټيکسونو او مرستو راکولو حمايه کولو. تاسي په حرامو او حلالو کي ری نه واهه او زموږ له واک څخه مو د حرامو په ترلاسه کولو او نارواوو په تر سره کولو کي ګټه اخيسته. ستاسي د ښو چارواکو پر ځای زموږ غوندي خلک خوښ وه. لوی څښتن مو دي د دغسي دواړو ډلو له حاله وساتي.

## حضرت هودعليه السلام او د اسلام سره د عاديانو دښمني

﴿وَإِلَىٰ عَادٍ أَخَاهُمْ هُودًا ۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُوا۟ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥٓ ۖ إِنْ أَنتُمْ إِلَّا مُفْتَرُونَ ﴿٥٠﴾ يَٰقَوْمِ لَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ أَجْرًا ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَى ٱلَّذِى فَطَرَنِىٓ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٥١﴾ وَيَٰقَوْمِ ٱسْتَغْفِرُوا۟ رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوبُوٓا۟ إِلَيْهِ يُرْسِلِ ٱلسَّمَآءَ عَلَيْكُم مِّدْرَارًا وَيَزِدْكُمْ قُوَّةً إِلَىٰ قُوَّتِكُمْ وَلَا تَتَوَلَّوْا۟ مُجْرِمِينَ ﴿٥٢﴾﴾ [هود: ٥٠-٥٢].

ژباړه: «عاديانو ته موږ د هغو ورور هود ولېږی. هغه وويل: ای قومه! د لوی څښتن بنده ګي وکړئ. له هغه پرته ستاسي بل هيڅ څښتن نسته. تاسي مازي تومت لګوئ. ای قومه! زه پر دې باندي له تاسي څخه څه مزدوري نه غواړم، زما اجر پر هغه چا دی چي زه يې پيدا کړی يم. نو آيا تاسي له پوهي کار نه اخلئ؟».

او ای قومه له خپل څښتن څخه بخښنه وغواړئ او بيا د هغه لوري تـه ور و ګرځئ. هغه به پـر تاسي بانـدي د آسـمان اوبـه درخوشي کـړي او ستاسي پـر اوسني ځواك به نور ځواك هم در زيات کړي. تاسي د مجرمانو غوندي مـخ مـه اړوئ.

عاديان د نوحعليه السلام او د هغو مومنانو چـي د هغـه سـره پـه بېړۍ کـي ژغـورل سوي وه اولاده وه. دوی لومړی د نوحعليه السلام پر دين وه، يعني مسـلمانان وه. خـو څنګه چي مهالونه پر تېر سول او په مځکه کي خپاره سول شيطان خطا ايستل، له سمي لاري يې واړول او په ډول ډول شهوتونو کي يـې ډوب کـړل، چـي پـه سر کي يې د اسلام مخالفت، د هوا او هوس پـه تقاضـا د واکمنـۍ او ګټـو تـر لاسه کولو شهوتونه وه. (في ظلال القرآن)

د دوی عام ټولنيز کړه وړه د بغاوت، ورکـلارۍ او ظلـم او تېـري پـر بنسـټ ولاړ وه.لـه دې املـه هغـو تـه لـوی څښـتن هـودعليه السلام د خپـل اسـتازي پـه توګـه واستاوه.

د قرآن او تفاسيرو له څرګندونو څخه په ګوته کيږي چي عاديان له جسماني پلوه ډېر ځواکمن او هڅور وګړي وه او په خپل وخت کي داسي يـو بـې ساري

ځواکمن قوم وو چې بل قوم يې د مقابلې وس نه درلود. دوی د ډېر ځلانـد مدنيت خاوندان وه او د لويو لويو پخو، د نګـو او ښـکلو مـانيو پـه جوړولـو او درلودلو يې نوم ايستلی وو. دغه مادي پر مختګ او جسماني زور او ځـواکمني لامل سوې وه چې هغوی يې په ډېره ناوړه توګه پـه دغسـي کبر،لـويي او نـاوړو چارو او جرايمو اخته کړي وه او پر خپل ولس او نورو کمـزورو هيوادونـو يـې ظلمونه او تېري کول او د لوی څښتن له احکامو څخه يـې سرکښـۍ او بغـاوت ته ملاوي تړلي وې.

﴿فَأَمَّا عَادٌ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ﴾ [فصلت: ۱۵].

ژباړه: «اما عاديانو په مځکه کي د حق له لاري څخه انحراف وکړ، د لويی چلند يې غوره کړ او ويې ويل چي تر موږ بل زورور څوک دی؟».

د هغو سياسي او اقتصادي واک د څو تنو لويو ظالمانو په لاس کي وو. چي د هغو په وړاندي چا سپوڼ نه سواى وهلای..

﴿وَتِلۡكَ عَادٞۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمۡ وَعَصَوۡاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمۡرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ۝٥٩ وَأُتۡبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنۡيَا لَعۡنَةٗ وَيَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ عَادٗا كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّعَادٖ قَوۡمِ هُودٖ ۝٦٠﴾ [هود: ۵۹-۶۰].

ژباړه: «دغه وه عاديان چي د خپل څښتن له نښانو څخه منکر سول. د هغه د استازو خبره يې ونه منل او د هر سرکښه او جابر دښمن فرمان ته يې غاړه کښېښوول. پای پر دې دنيا هم د لعنت وړ وګرځېدل او د قيامت په ورځ هم. واورئ! عاديان په خپل پروردګار کافران سول. ښه واورئ! چي د هود قوم عاديان ليري وغورځول سول».

او کله چي به يې پر کوم چا لاس پورته کاوه په ډېره ظالمانه توګه به يـې پـر پور ته کاوه او سخت او ځناورانه چلند به يې ورسره کاوه.

﴿وَإِذَا بَطَشۡتُم بَطَشۡتُمۡ جَبَّارِينَ ۝١٣٠﴾ [الشعراء: ۱۳۰].

ژباړه: «(هود ورته وويل:) او کله چي پر چا لاس پورته کوئ په جابرانه توګه يې پر پورته کوئ».

هود﵇ دوی ته په دې اړه تبليغ وکړ؛ د شرك پرېښوولو، پر يوه لوی څښتن ايمان راوړلو او د هغه اطاعت او د ظلم او تېري پرېښـوولو تـه يـې وبلـل. او د

لوی څښتن له عذابه یې وبېرول، خو دوی دا د پخوا، زړې او د نه منلو خبـري وګڼلې او داسي فکر یې کاوه چي د هغه بلنه به څه تاوان ور ونه رسوي.

﴿إِنۡ هَٰذَآ إِلَّا خُلُقُ ٱلۡأَوَّلِينَ ﴿١٣٧﴾ وَمَا نَحۡنُ بِمُعَذَّبِينَ ﴿١٣٨﴾﴾ [الشعراء: ١٣٧-١٣٨].

ژباړه: «دا له هماغو پخوانیو خبرو پرته بل څه نه دي. او موږ په عذاب نه اخته کیږو».

پای قوم د هغه دښمن سو او د هغه د قوم مشرانو پر هغه باندي د نـاپوهی، درواغو او د هغو له پلار نیکه څخه د ژوندانه د ور پاته نظام د ګډوډولو تورونه ولګول.

﴿قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦٓ إِنَّا لَنَرَىٰكَ فِي سَفَاهَةٖ وَإِنَّا لَنَظُنُّكَ مِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ﴿٦٦﴾﴾ [الأعراف: ٦٦].

ژباړه: «د هغه د قوم مشرانو چي د هغه د خبري له منلو څخه انکار کاوه وویل: موږ تا په ناپوهي اخته ګڼو او زموږ ګومان دی چي ته دروغجن یې».

بالاخره پر عادیانو باندي تر درې کالو وچکالی او د هغو تر انکار او پر هغه باندي تر استمرار وروسته لوی څښتن وپتیل چي هـودﷺ او پـر هغـه بانـدي ایمان راوړونکي وژغوري:

﴿وَلَمَّا جَآءَ أَمۡرُنَا نَجَّيۡنَا هُودٗا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَهُۥ بِرَحۡمَةٖ مِّنَّا وَنَجَّيۡنَٰهُم مِّنۡ عَذَابٍ غَلِيظٖ ﴿٥٨﴾﴾ [هود: ٥٨].

ژباړه: «بیا کله چي زموږ حکم راغی نو موږ هود او هغه خلك چي د ده سره یې ایمان راوړی وو، په خپل رحمت سره وژغورل او هغو ته مو له یوه سخت عذاب څخه نجات ورکړ».

او د انکار کوونکو او سر کښو ظالمانو سره یې داسي کړنه وکړه:

﴿وَأَمَّا عَادٞ فَأُهۡلِكُواْ بِرِيحٖ صَرۡصَرٍ عَاتِيَةٖ ﴿٦﴾ سَخَّرَهَا عَلَيۡهِمۡ سَبۡعَ لَيَالٖ وَثَمَٰنِيَةَ أَيَّامٍ حُسُومٗاۖ فَتَرَى ٱلۡقَوۡمَ فِيهَا صَرۡعَىٰ كَأَنَّهُمۡ أَعۡجَازُ نَخۡلٍ خَاوِيَةٖ ﴿٧﴾ فَهَلۡ تَرَىٰ لَهُم مِّنۢ بَاقِيَةٖ ﴿٨﴾﴾ [الحاقة: ٦-٨].

ژباړه: «اما عادیان په یوه ډېره سخته توپاني لوخړه پوپنا سول. لوی څښتن دغه لوخړه پر هغو پرله پسې تر اوو شپو او اتو ورځو مسلطه کړه. (که ته هلته وای نو)

تابه دوی پر مځکه باندې داسې مړه پراته لیدلي وای لکه د خرماوو وراسته بېخونه. نو آیا اوس له هغو څخه تاته څوك له تباهۍ څخه پاته ښکاري؟».

## د ظالمانو پر ضد پاڅون ته بلنه:

لاندې کرښې مو د «داستان‌های پیامبران در قرآن» لـه ١٥٤ـ ١٥٩ مخونـو څخه را اخیستي دي.

لوی څښتن ﷻ عادیان وغندل چې ولې یې د ظالمانو له لارښوونو څخه پیروي وکړه او له دې امله د هلاکت او د ده له رحمت څخه د لیرې کېدو مستحق سول او فرمایي:

﴿وَتِلْكَ عَادٌۖ جَحَدُواْ بِـَٔايَٰتِ رَبِّهِمْ وَعَصَوْاْ رُسُلَهُۥ وَٱتَّبَعُوٓاْ أَمْرَ كُلِّ جَبَّارٍ عَنِيدٍ ۝٥٩ وَأُتْبِعُواْ فِي هَٰذِهِ ٱلدُّنْيَا لَعْنَةً وَيَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِۗ أَلَآ إِنَّ عَادًا كَفَرُواْ رَبَّهُمْۗ أَلَا بُعْدًا لِّعَادٍ قَوْمِ هُودٍ ۝٦٠﴾ [هود: ٥٩-٦٠].

ژباړه: «دغه عادیان وه چې د خپل څښتن له نښانو څخه منکر سول. د هغه د استازو خبره یې ونه منل او د هر سرکښه او جابر دښمن فرمان ته یې غاړه کښېښوول. پای پر دې دنیا هم د لعنت وړ وګرځېدل او د قیامت په ورځ هم. واورئ! عادیان په خپل پروردګار کافران سول. ښه واورئ! چې د هود قوم عادیان لیرې وغورځول سول».

د هر ظالم او حق نه پېژندونکي له تسلط څخه د آزادۍ او خلاصون لپاره بلنه یوه داسې بلنه ده چې قرآن کریم یې د خپلو پیروانو په غوږونو کې زمزمه کوي. څو خپل ځانونه د هر تېري کوونکي او خدای دښمنه ظالم له واک څخه وژغوري.

په پورتنې آیت کې له ظالم انسان څخه د قرآن تعبیر ډېر دقیق او لطیف دی او هغه ته یې د«جبار» او «عنید» دوه صفته کارولي دي. جبار متکبر او مغرور او بې رحمه انسان باله سي چې لجاجت، د حق سره دښمني او له باطلو څخه ننګه او دفاع د هغه له څرګندو صفاتو څخه وي. اسلام خپلو پیروانو ته اجازه نه ورکوي چې د ظالمواو سخت زړو مغرورانو او باطلو په وړاندې سرونه ټیټ کړي او بنده ګۍ ته یې غاړې کښېږدي او په پایله کې په ډول ډول بخولو او

عذابونو اخته سي او د هغو د لاسونو آلې وګرځي. څو هغوی د خپلو شومو او باطلو موخو په تر سره کولو کي کار ځني واخلي. بلکي اسلام خپلو پيروانو ته چيغي وهي چي د دغو ظالمانو په وړاندي پاڅون وکړي، د هغو دروغجن واک ته تسليم نه سي او ښه وپوهيږي چي د ظالمانو د غوښتنو په وړاندي تسليمېدل د صحيح ايمان سره مخالفت دی. ايمان بايد د انسان نفس ته شرافت، کرامت او عزت په برخه کړي او د حق د مخالفو قدرتونو له ولکې يې وژغوري. هغه څوک چي د رشتياني ايمان خاوند وي تر ځان تېريږي، خو ظلم او تېري ته نه تسليميږي. د ايمان رشتيني خاوندان د خدای نه منونکو او بې رحمو ظالمانو د سلطې د منلو په هکله هيڅ عذر نه سي درلودلای او هيڅ اجازه نه لري چي د هغو تر فرمان لاندي محکوم، او بې واکه واوسي او د تعظيم په دود سرونه ور ته ټيټ کړي. دا يوه نه بخښونکې ګناه ده. ځکه چي د ايمان خاوندان ډېر دي او ظالمان په اقليت کي دي. پر دې سربېره د مظلومانو د بريالیتوب ستر لامل د هغو حقانيت او د ظالمانو د ماتي مهم سبب د هغو ظلم او تېری دی. کله چي د ايمان خاوندان د آزادۍ او خپلواکۍ لپاره را پاڅي او په دې لار کي ونه ښريږي او پر لوی څښتن او پر خپل حقانيت متکي وي او له بې اتفاقۍ او بېلوالي څخه ډډه وکړي او خپلواکي خپل سپېڅلی هدف وګڼي او هغې ته د رسېدو په لار کي له هيڅ ډول قربانۍ څخه ډډه ونه کړي، هرومرو به يې په لاس راوړي.

مومنان بايد د کفر، ظلم او بې عدالتۍ پر ضد را پاڅيږي. له مادي، معنوي او فکري قدرت څخه ګټه واخلي. د منظمو پلانونو او کړنلارو په لار اچولو سره مخ په وړاندي ولاړ سي. له خپله ځانه او له خپل موقعيت او شرايطو او د کفر او ظلم پر ضد د لوی څښتن د دين د مبارزې په اړه او همدارنګه د حق د دښمنانو او د هغو د حالت او برخليک په اړه بايد دقيق شناخت ولري او پر هغو آيتونو باندي په ايمان سره چي زړې ورکوي چي: د هر ظالم او ويني بهوونکي پای هلاکت او پوپنا کېده دي. بايد پر خپل بريالیتوب يقين او باور ولري.

﴿وَٱسۡتَفۡتَحُواْ وَخَابَ كُلُّ جَبَّارٍ عَنِيدٖ ١٥ مِّن وَرَآئِهِۦ جَهَنَّمُ وَيُسۡقَىٰ مِن مَّآءٖ صَدِيدٖ ١٦﴾ [إبراهيم: ١٥-١٦].

ژباړه: «او هر متکبر، سرکښ او عنادګراو له حق څخه منکر نهیلی سو او تر دې هاخوا ته د هغه لپاره دوږخ دی، هلته به هغه ته د وینو زوو غوندي اوبه ورکړی سي».

﴿وَلَا تَهِنُواْ وَلَا تَحۡزَنُواْ وَأَنتُمُ ٱلۡأَعۡلَوۡنَ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ١٣٩﴾ [آل عمران: ١٣٩].

ژباړه: «بې زړه کېږئ مه، اندېښمن کېږئ مه، همدا تاسي بر لاسي یاست که تاسي مومنان اوسئ».

هو! لوی ښتن د هود قوم هلاک کړ، ځکه چي کافرانو او ظالمانو ته تسلیم سول او له هغو څخه یې اطاعت او پیروي وکړه او د هغو باطلي لارښووني یې پلي او عملي کړې. له دې امله په دنیا او آخرت کي د لوی ښتن له رحمت څخه بې برخي سول او د ترټني او لعنت مستحق وګرځېدل. تر دې وروسته هم د لوی ښتن دغه سنت او قانون ادامه لري. هر څوک، ډله او ولس چي د کافرو ظالمانو د نامشروعو غوښتنو په وړاندي تسلیم سي په هلاکت، بدبختي او الهي عذاب به اخته سي.

﴿وَلَن تَجِدَ لِسُنَّتِ ٱللَّهِ تَحۡوِيلًا ٤٣﴾ [فاطر: ٤٣].

ژباړه: «او ته به هیڅکله ونه وینې چي کوم څواک د لوی ښتن کړنلاره د هغه له ټاکلي مسیر څخه واړولای سي».

## د جرأت او زړه ورتیا درس:

د حضرت هودؑ کیسه موږ ته د سپېڅلو موخو او له ایمان او عقیدې څخه د ننګي او ملاتړ په لار کي د غیرت، شهامت، جرأت او سربښندني درس راښیي. دا درس د هر مصلح اوخیر غوښتونکي انسان لپاره چي خپل ځان یې

له حق او عقيدې څخه د دفاع په لار کي وقف کړی وي د لاري مشال باله سي.

هودﷺ خپل قوم ته وايي:

﴿قَالَ إِنِّيٓ أُشۡهِدُ ٱللَّهَ وَٱشۡهَدُوٓاْ أَنِّي بَرِيٓءٞ مِّمَّا تُشۡرِكُونَ ۝٥٤ مِن دُونِهِۦۖ فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ۝٥٥﴾ [هود: ٥٤-٥٥].

ژباړه: «زه ستاسي پر ظالمانه کړنو باندي لوی څښتن شاهد نيسم او تاسي هم شاهدان اوسئ چي زه له هغو څخه چي له لوی څښتن سره يې په خدايي کي برخه وال ګڼئ بېزاره يم. تاسي ټول زما پر خلاف په لاس يو کولو کي صرفه مه کوئ او مه را ته ګورئ».

دې جملې ته پام وکړئ: ﴿فَكِيدُونِي جَمِيعٗا ثُمَّ لَا تُنظِرُونِ ۝٥٥﴾.

(ټول راغونډ سئ، تصميم ونيسئ، وژنئ مي؛ زوروئ مي هر کار چي کولای سئ، مه يې را څخه سپموئ. دا اوس دستي لاس په کار سئ).

هودﷺ په دې غوڅه او له زړه ورتيا ډکه وينا سره چي د ايمان، رشتينولی او مړاني او پر لوی څښتن باندي د توکل له ستر سمندر څخه سر چينه اخلي غواړي کافرانو او ظالمانو ته وښيي چي دی د هغو له دُسو او توطئو څخه نه بېرېږي. دوی که هرڅونه په څرګنده ځواکمن ايسي او شمېر يې ډېر دی، خو دی نه ځني ډاريږي. دغه مړانه او شجاعت هغو کسانو ته چي زړونه يې له ايمان او عقيدې څخه پياوړي سوي او د سمون او خير غوښتني مينه يې پر عواطفو او احساساتو باندي غالبه سوې وي، طبيعي چاره باله سي او د هغو يوه ځانګړنه ګڼل کيږي. د لوی څښتن دوستان هيڅ نه بيريږي او د کفر، فساد او ظلم له پلويانو څخه سترګه نه کوي. د ايمان خاوند په خپل زړه کي داسي ځواک او غښتلتيا لري چي هره ستونزه او خطر ورته آسانه کوي.

د هودﷺ د مړاني او شجاعت رمز او حکمت پر لوی څښتن باندي په توکل کي وو. آيا ده خپل قوم ته نه ويل چي:

﴿إِنِّي تَوَكَّلۡتُ عَلَى ٱللَّهِ رَبِّي وَرَبِّكُمۚ﴾.

«زما توکل پر لوی څښتن دی چي زما رب هم دی او ستاسي رب هم».

نو هغه څوک چي پر خپل رب توکل کوي او خپل موندونکي ته چي د نړۍ د ټولو قدرتونو پيدا کوونکی دی، پناه وروړي د دې وړتيا او لياقت لري چي ببره يې په امن او بې وزلي يې په واک بدله سي. کوم کسان چي د ټولني د اصلاح په لار کي ګام اخلي او خلک د لوی څښتن او حق لاري ته بولي تر ټولو زيات دغسي ايمان او توکل ته اړتيا لري. څو تل د ايمان، يقين، صبر او د خدای د رضا په لار کي د هر راز سربښندني د رضا رڼا د هغو په زړونو کي وځليږي.

## په مځکه کي د کبر او ځان غوښتني پای هلاکت دی:

د حضرت هود عليه السلام کيسه هغه ډېر بد او ناوړه برخليک بيانوي کوم چي د مغرورو او تېری کوونکو ملتونو په انتظار کي دی. قرآن کريم د عاديانو قوم داسي توصيفوي:

﴿فَأَمَّا عَادٌ فَٱسۡتَكۡبَرُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بِغَيۡرِ ٱلۡحَقِّ وَقَالُواْ مَنۡ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةًۖ أَوَ لَمۡ يَرَوۡاْ أَنَّ ٱللَّهَ ٱلَّذِي خَلَقَهُمۡ هُوَ أَشَدُّ مِنۡهُمۡ قُوَّةٗۖ وَكَانُواْ بِـَٔايَٰتِنَا يَجۡحَدُونَ ١٥ فَأَرۡسَلۡنَا عَلَيۡهِمۡ رِيحٗا صَرۡصَرٗا فِيٓ أَيَّامٖ نَّحِسَاتٖ لِّنُذِيقَهُمۡ عَذَابَ ٱلۡخِزۡيِ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَاۖ وَلَعَذَابُ ٱلۡأٓخِرَةِ أَخۡزَىٰۖ وَهُمۡ لَا يُنصَرُونَ ١٦﴾ [فصلت: ١٥-١٦].

ژباړه: «اما عاديانو په مځکه کي د حق له لاري څخه انحراف وکړ، د لويی چلند يې غوره کړ او ويې ويل چي تر موږ بل زورور څوک دی؟ هغو دا فکر ونه کړ چي کوم خدای چي هغوی پيدا کړي دي تر دوی زيات زورور دی؟ هغو زموږ له آيتونو څخه انکار کاوه. په پای کي موږ په څو شومو ورځو کي پر هغو سخت توپاني باد والوزاوه. څو په هغو د دې دنيا په ژوند کي د ذلت او رسوايی د عذاب خوند وڅکو او د آخرت عذاب خو تر دې هم زيات رسوا کوونکی دی. هلته به هيڅوک د هغو مرسته ونه کړي».

عاديانو د ننني امريکايانو غوندي په مځکه کي خپل ځانونه لوړ او ستر ګڼل، په خپل ځواک مغروره او د خدای له ځواکه ناخبره وه. له دې امله لوی څښتن په بد حالت او خواري اخته او پوپنا کړل.

دا يو ستر عبرت دی چې قرآن کريم يې موږ ته انځوروي، څو هغه ته په دقت سره ځير سو او درس ځني واخلو.

د کوم څه ادعا چې عاديانو په تېرو مهالو نو کې کول، نن يې امريکا او نور کفري ځواکونه کوي، کوم چې د علم او پرمختک له امله ځواکمن سوي دي. دوی چې شته او واک ترلاسه کړي دي هم خپله د لوی ښتن له لاري بې لاري سوي او هم نور د خدای له لاري اړوي. پر نورو هيوادونو يرغلونه او تېري کوي، د نړی ولسونه خواری او غلامۍ ته ور ټېل وهي او د هغو پر ځانو او مالو يې ولکه ټينګه کړې ده، په جنايتونو، لوټماريو او ټګيو لګيادي او په توطئو او د شومو او ناځوانمردانه نخشو په طرح کولو او پلي کولو سره خپل واک ټينګولو او لوټماريو ته دوام ورکوي. په ډول ډول بڼو يې د مستضعفو ولسونو او افرادو او ان يوې کورنۍ په منځ کې د نفاق او دښمنيو اورونه بلوي، څو په دې توګه د نړۍ پر ولسونو باندي خپله ولکه ټينګه کړي او ځانونه د هغو کالخوايان وبولي او د حال په ژبه د عاديانو غوندي ووايي چې: ﴿مَنْ أَشَدُّ مِنَّا قُوَّةً﴾ «تر موږ بل زورور څوک دی؟» خو هرو مرو به وليدل سي چې تر دوی ځواکمن سته. آيا انګرېزانو، هيټلريانو او شورويانو په غرور او لوړتيا غوښتني سره د زور له لاري په ځمکه کې فساد او وراني نه کول؟ او ځانونه يې تر نورو لوړ نه بلل؟ د هغو پای څه سو؟

## حضرت صالح عليه السلام او د اسلام سره د ثمودو دښمني

د قرآن کریم د څرګندونو سره سم حضرت صالح عليه السلام د ثمودیانو قوم ته د پیغمبر په توګه واستول سو. هغه د ثمودیانو د قوم یو مخور سړی وو. د ده ولس چي له ده څخه حق دین ته د بلني توقع نه درلوده، کله چي یې له ده څخه د کفر، شرك او ظلم او فساد د پرېښوولو اعلان واورېد اریان پاته سول. نو له هماغه پیله څخه هغو پر ده باندي ډول ډول تورونه ولګول.

﴿۞وَإِلَىٰ ثَمُودَ أَخَاهُمْ صَٰلِحًاۚ قَالَ يَٰقَوْمِ ٱعْبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُۥۖ هُوَ أَنشَأَكُم مِّنَ ٱلْأَرْضِ وَٱسْتَعْمَرَكُمْ فِيهَا فَٱسْتَغْفِرُوهُ ثُمَّ تُوبُوٓاْ إِلَيْهِۚ إِنَّ رَبِّي قَرِيبٌ مُّجِيبٌ ﴿٦١﴾ قَالُواْ يَٰصَٰلِحُ قَدْ كُنتَ فِينَا مَرْجُوًّا قَبْلَ هَٰذَآۖ أَتَنْهَىٰنَآ أَن نَّعْبُدَ مَا يَعْبُدُ ءَابَآؤُنَا وَإِنَّنَا لَفِي شَكٍّ مِّمَّا تَدْعُونَآ إِلَيْهِ مُرِيبٍ ﴿٦٢﴾﴾ [هود: ٦١-٦٢].

ژباړه: «موږ د ثمودیانو قوم ته د هغو ورور صالح واستاوه. هغه وویل: ای زما ولسه! د لوی څښتن عبادت وکړئ. له هغه پرته ستاسي کوم بل معبود هیڅ نسته. هغه تاسي له مځکي څخه موندلي او پر هغې یې استوګن کړي یاست. نو له هغه څخه د خپلوګنهونو بخښنه وغواړئ او هغه ته رجوع وکړئ. یقین دی چي زما رب نژدې او د دعاوو قبلوونکی دی. هغو وویل: ای صالحه! تر دې دمخه موږ تا ته ډېري هیلي درلودې. آیا ته موږ د هغو له پالني څخه منع کوې چي زموږ پلرونو او نیکونو یې عبادت کاوه او هغو خبرو ته مو بولې چي موږ شك پکښې لرو او په خرخښه کي یې اچولي یو؟».

د ثمودو د قوم یو عادت داوو چي په مادي او حسي لذتونو او خوندونو، لکه خوړلو، چیښلو او سترو ودانیو په جوړولو کي یې اسراف او افراط کاوه. بله بدي یې داوه چي د صالح عليه السلام خبري یې چي د لوی څښتن پیغمبر وو نه منلې او د هغو خلکو خبرو ته یې غوږ ایښووی چي د حق او حقیقت ضد، تېری کوونکي او د خدای په مځکه کي فساد خپروونکي وه. له دې امله

حضرت صالحؑ پر دوی نیوکي کولې او د دوی دا چاري یې په کلکه غندلې. قرآن کریم په د ې هکله فرمایي:

﴿كَذَّبَتْ ثَمُودُ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٤١﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ صَٰلِحٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٤٢﴾ إِنِّى لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٤٣﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٤٤﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍ ۖ إِنْ أَجْرِىَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٤٥﴾ أَتُتْرَكُونَ فِى مَا هَٰهُنَآ ءَامِنِينَ ﴿١٤٦﴾ فِى جَنَّٰتٍ وَعُيُونٍ ﴿١٤٧﴾ وَزُرُوعٍ وَنَخْلٍ طَلْعُهَا هَضِيمٌ ﴿١٤٨﴾ وَتَنْحِتُونَ مِنَ ٱلْجِبَالِ بُيُوتًا فَٰرِهِينَ ﴿١٤٩﴾ فَٱتَّقُوا۟ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٥٠﴾ وَلَا تُطِيعُوٓا۟ أَمْرَ ٱلْمُسْرِفِينَ ﴿١٥١﴾ ٱلَّذِينَ يُفْسِدُونَ فِى ٱلْأَرْضِ وَلَا يُصْلِحُونَ ﴿١٥٢﴾﴾ [الشعراء: ١٤١-١٥٢].

ژباړه: «د ثمودیانو قوم پیغمبران دروغجن وبلل. کله چي د هغو ورور صالح هغو ته وویل: آیا تاسي (له لوی ښتن څخه) نه بېرېږئ؟ زه تاسي ته یو امین پیغمبر یم. نو له لوی ښتن څخه وبېرېږئ او زما خبره ومنئ. زه پر دې کار باندي له تاسي څخه د څه شي غوښتونکی نه یم. زما اجرخو د رب العالمین پر ذمه دی. آیا تاسي به په ټولو هغو شیانو کي چي دلته دي، همداسي په ډاډ او امان کي پاته سئ؟ یعني په دغو بڼونو او چینو کي؟ په دغو کښتونو او د خرماوو په ونو کي؟ کوم چي شکوفې یې نرمي او نازکي دي؟ تاسي غرونه کینئ او دنګي ودانۍ پکښي جوړوئ. نوله خدایه وبېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. د بې باکو او له حد څخه د تېري کوونکو هغو خلکو خبري مه منئ چي په مځکه کي فساد او وراني خپروي او سمون نه راولي».

د دغې ټولني یوه لړکي د حضرت صالحؑ بلنه ومنل، خو ډېرو ونه منل. په تېره د دې قوم مخورو او لویو سردارانو د هغه بلنه رد کړه او د هغه سره یې د دښمنۍ لار را واخیسته. هغو د هغو کسانو چي پر حضرت صالحؑ باندي یې ایمان راوړی وو په زوږولو او تنګولو پیل وکړ او پر هغو باندي یې ظلم کولو ته ملا وتړل. دوی د حضرت صالحؑ سخت دښمنان سول. ځکه ده هغوی د ګمراهۍ پرېښوولو او د یوه الله عبادت ته بلل. لکه چي پوهېږو د لوی ښتن پر استازي باندي قهر او غضب یوازي د ثمودیانو کار نه وو، بلکي تر دوی دمخه د نوحؑ قوم او عادیانو او نورو هم دغه نادودي تر سره کولې. له دې امله دی چي قرآن کریم په دې هکله داسي یادونه کوي:

﴿أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ نَبَؤُاْ ٱلَّذِينَ مِن قَبۡلِكُمۡ قَوۡمِ نُوحٖ وَعَادٖ وَثَمُودَ وَٱلَّذِينَ مِنۢ بَعۡدِهِمۡ لَا يَعۡلَمُهُمۡ إِلَّا ٱللَّهُۚ جَآءَتۡهُمۡ رُسُلُهُم بِٱلۡبَيِّنَٰتِ فَرَدُّوٓاْ أَيۡدِيَهُمۡ فِيٓ أَفۡوَٰهِهِمۡ وَقَالُوٓاْ إِنَّا كَفَرۡنَا بِمَآ أُرۡسِلۡتُم بِهِۦ وَإِنَّا لَفِي شَكّٖ مِّمَّا تَدۡعُونَنَآ إِلَيۡهِ مُرِيبٖ ۝٩﴾ [إبراهيم: ٩].

ژباړه: «آيا تاسي ته د هغو وګړو خبري نه دي رسېدلي چي ترتاسي دمخه تېر سوي دي؟ يعني د نوح د قوم، د عاديانو او ثموديانو او کوم چي تر دوی وروسته وه او شمېر يې يوازي لوی څښتن ته معلوم دی. دوی ته چي د دوی پيغمبران د روښانو او څرګندو خبرو او نښانو سره ورغلل. نو هغو خپلي ګوتي په خوله کي ونيولې (يعني د بېزارۍ څرګندونه يې وکړه) او ويې ويل: د کوم پيغام سره چي تاسي لېږل سوي ياست موږ هغه نه منو او د کوم شي لوري ته چي تاسي بلنه راکوئ د هغه په هکله موږ په ډېر اندېښناك شك کي لوېدلي يو».

دغه راز لوی څښتن فرمايي:

﴿قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لِلَّذِينَ ٱسۡتُضۡعِفُواْ لِمَنۡ ءَامَنَ مِنۡهُمۡ أَتَعۡلَمُونَ أَنَّ صَٰلِحٗا مُّرۡسَلٞ مِّن رَّبِّهِۦۚ قَالُوٓاْ إِنَّا بِمَآ أُرۡسِلَ بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ۝٧٥ قَالَ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُوٓاْ إِنَّا بِٱلَّذِيٓ ءَامَنتُم بِهِۦ كَٰفِرُونَ ۝٧٦﴾ [الأعراف: ٧٥-٧٦].

ژباړه: «د هغه په قوم کي چي کوم متکبر لويان وه، هغو بې وزلو وګړو ته چي ايمان يې راوړی وو وويل: آيا ستاسي يقين دی چي صالح د خپل رب لخوا را لېږل سوی پيغمبر دی؟ هغو ورته وويل: موږ پر هغو چي هغه راوړي دي ايمان راوړی دی. دغو متکبرو لويانو ورته وويل: موږ دغه دين نه منو چي تاسي ايمان پر راوړی دی».

ثموديانو له حضرت صالح ؑ څخه داسي يوه معجزه وغوښتل چي د ده پر رسالت دلالت وکړي. ځکه نو هغه پر خپل دعوت باندي د خلکو د باور او د لوی څښتن اطاعت ته د هغو د هڅوني لپاره هغو ته د يوې اوښې معجزه وښوول چي لوی څښتن په غير عادي توګه پيدا کړه (ځينو ويلي دي چي دغه اوښه له يوې ډبري څخه را ووتل). بيا يې ورته وويل:

﴿قَالَ هَٰذِهِۦ نَاقَةٞ لَّهَا شِرۡبٞ وَلَكُمۡ شِرۡبُ يَوۡمٖ مَّعۡلُومٖ ۝١٥٥ وَلَا تَمَسُّوهَا بِسُوٓءٖ فَيَأۡخُذَكُمۡ عَذَابُ يَوۡمٍ عَظِيمٖ ۝١٥٦ فَعَقَرُوهَا فَأَصۡبَحُواْ نَٰدِمِينَ ۝١٥٧﴾ [الشعراء:١٥٥-١٥٧].

ژباړه: «صالح وويل: دغه اوښه ده. يوه ورځ د هغې د اوبو د چيښلو ده او بله ورځ ستاسي ټولو د اوبو اخيستلو لپاره ده. هغې ته څه تکليف مه ورکوئ. که نه تاسي به د يوې ستري ورځې په عذاب اخته سئ. (خو دوی دا خبري ونه منلې) اوښه يې پر پښو ټپي کړه او ويې وژل. چي پای پر دې کار پښېمانه سول».

څنګه چي د پرله پسې ورک لاريو او خپل سريو سره سره د ثموديانو په قوم څه نه کېدل نو دوی نور هم سپين سترګي سول.

﴿وَقَالُواْ يَٰصَٰلِحُ ٱئۡتِنَا بِمَا تَعِدُنَآ إِن كُنتَ مِنَ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ٧٧﴾ [الأعراف: ٧٧].

ژباړه: «هغو و ويل: ای صالحه! له کوم (عذاب څخه) چي ته موږ بېروې که ته په رشتيا د لوی څښتن رسول يې، نو هغه را باندي راوله».

کله چي د حضرت صالح‌ﷺ د تبليغي هلو ځلو له امله د ثمودو د قوم اشراف، او واکمن د خپل واک، دولت او تسلط پر له منځه تلو وبېرېدل، نو يې وپتېيل چي صالح‌ﷺ ووژني:

﴿قَالُواْ ٱطَّيَّرۡنَا بِكَ وَبِمَن مَّعَكَۚ قَالَ طَٰٓئِرُكُمۡ عِندَ ٱللَّهِۖ بَلۡ أَنتُمۡ قَوۡمٞ تُفۡتَنُونَ ٤٧ وَكَانَ فِي ٱلۡمَدِينَةِ تِسۡعَةُ رَهۡطٖ يُفۡسِدُونَ فِي ٱلۡأَرۡضِ وَلَا يُصۡلِحُونَ ٤٨ قَالُواْ تَقَاسَمُواْ بِٱللَّهِ لَنُبَيِّتَنَّهُۥ وَأَهۡلَهُۥ ثُمَّ لَنَقُولَنَّ لِوَلِيِّهِۦ مَا شَهِدۡنَا مَهۡلِكَ أَهۡلِهِۦ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٤٩ وَمَكَرُواْ مَكۡرٗا وَمَكَرۡنَا مَكۡرٗا وَهُمۡ لَا يَشۡعُرُونَ ٥٠﴾ [النمل: ٤٧-٥٠].

ژباړه: «هغو جواب ورکړ ای صالحه! موږ ته او ستا ملګري شوم ګڼو. هغه ور ته وويل: ستاسي د هري شومتيا لامل د لوی څښتن په علم کي دی. بلکي تاسي هغه وګړي ياست چي ازمايل کيږئ. په هغه ښار کي نهه تنه داسي قبايلي مشران وه چي په هيواد کي يې وراني خپرول او سمون يې نه راوستی. هغو سره وويل چي په لوی څښتن باندي يو له بله لوړه وکړئ چي د شپې لخوا پر هغه او د هغه پر کورنۍ باندي شواخون وو هو او وبه يې وژنو او بيا به د هغه وارثانو ته ووايو چي موږ د هغو د مړيني پر مهال موجود نه وو او په يقين سره موږ رشتيا وايو. دوی خو دغه پټه دُسه جوړه کړه او موږ هم يو پټ تدبير په کار واچاوه، اما دوی نه په پوهېدل».

خو د لوی څښتن مرسته او نصرت د حضرت صالح‌ﷺ سره وو. کفار او مشرکين په خپلو شومو موخو او مقاصدو کي بريالي نه سول او لوی څښتن حضرت صالح‌ﷺ د هغو د دُسو او توطئو څخه وساتی.

کله چې صالحعليه السلام په دول دول لارو خپل ولس ته د حق بلنه وړاندې کړه او هغو ونه منل او ويې ليدل چې له هغو څخه هيڅوك د حق منلو ته نه دی چمتو، نو دوی ته يې خبر ورکړ چې په درو ورځو کې به پوپنا سئ. البته د ايمان څښتنان له عذابه وژغورل سول.

﴿فَقَالَ تَمَتَّعُواْ فِي دَارِكُمْ ثَلَٰثَةَ أَيَّامٍۖ ذَٰلِكَ وَعۡدٌ غَيۡرُ مَكۡذُوبٖ ۝٦٥﴾ [هود: ٦٥].

ژباړه: «(صالح) ور ته وويل: تاسي تر درو ورځو پورې په خپلو کورونو کې له ژونده ګټه واخلئ (بيا به په عذاب اخته سئ) دا د لوی څښتن داسي ژمنه ده چې هيڅ نه درواغ کيږي».

درې ورځې وروسته د حضرت صالحعليه السلام خبر رشتيا جوته سوه او د ثمودو قوم تباه او پوپنا سو.

﴿وَأَخَذَ ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ ٱلصَّيۡحَةُ فَأَصۡبَحُواْ فِي دِيَٰرِهِمۡ جَٰثِمِينَ ۝٦٧ كَأَن لَّمۡ يَغۡنَوۡاْ فِيهَآۗ أَلَآ إِنَّ ثَمُودَاْ كَفَرُواْ رَبَّهُمۡۗ أَلَا بُعۡدٗا لِّثَمُودَ ۝٦٨﴾ [هود: ٦٧-٦٨].

ژباړه: «کومو خلکو چې ظلم کړی وو يوه هولناك آواز (ټکې) ونيول او دوی په خپلو سيمو کې داسي بې سا او بې حرکته مړه وغورځېدل چې تا به ويل دوی هلته هيڅ نه اوسېدل. واورئ چې ثموديان په خپل رب کافران سول. واورئ چې ثموديان ليرې وغورځول سول».

## د کفارو دهري او مادي اندونه:

لکه چې څرګنديږي قرآن کريم د کفارو د دهري او مادي اندونو او د هغو د لذاتو او مادياتو د بنده ګۍ په هکله هم څرګندوني کړي دي. هغو چې د لوی څښتنجل جلاله د پيغمبرانو سره په دښمني کې په کومو دهري دلايلو تمسک کړی دی هغه يې هم څرګند کړي دي. په دې لړ کې د المؤمنون د سورې د لاندې آيتونو د څرګندونو په هکله ځيني تفاسير وايي چې دا د هودعليه السلام د قوم د مشرانو خبري دي، خو ځيني يې د صالحعليه السلام د قوم د مشرانو خبري بولي. په هر صورت د قرآن کريم څرګندوني په دې ډول دي:

﴿ثُمَّ أَنشَأۡنَا مِنۢ بَعۡدِهِمۡ قَرۡنًا ءَاخَرِينَ ۝٣١ فَأَرۡسَلۡنَا فِيهِمۡ رَسُولٗا مِّنۡهُمۡ أَنِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥٓۚ أَفَلَا تَتَّقُونَ ۝٣٢ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ مِن قَوۡمِهِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ وَكَذَّبُواْ

بِلِقَآءِ ٱلۡأٓخِرَةِ وَأَتۡرَفۡنَٰهُمۡ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا مَا هَٰذَآ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُكُمۡ يَأۡكُلُ مِمَّا تَأۡكُلُونَ
مِنۡهُ وَيَشۡرَبُ مِمَّا تَشۡرَبُونَ ﴿٣٣﴾ وَلَئِنۡ أَطَعۡتُم بَشَرٗا مِّثۡلَكُمۡ إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٣٤﴾
أَيَعِدُكُمۡ أَنَّكُمۡ إِذَا مِتُّمۡ وَكُنتُمۡ تُرَابٗا وَعِظَٰمًا أَنَّكُم مُّخۡرَجُونَ ﴿٣٥﴾ ۞هَيۡهَاتَ هَيۡهَاتَ لِمَا
تُوعَدُونَ ﴿٣٦﴾ إِنۡ هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا نَحۡنُ بِمَبۡعُوثِينَ ﴿٣٧﴾ إِنۡ هُوَ إِلَّا
رَجُلٌ ٱفۡتَرَىٰ عَلَى ٱللَّهِ كَذِبٗا وَمَا نَحۡنُ لَهُۥ بِمُؤۡمِنِينَ ﴿٣٨﴾ قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي بِمَا كَذَّبُونِ ﴿٣٩﴾
قَالَ عَمَّا قَلِيلٖ لَّيُصۡبِحُنَّ نَٰدِمِينَ ﴿٤٠﴾ فَأَخَذَتۡهُمُ ٱلصَّيۡحَةُ بِٱلۡحَقِّ فَجَعَلۡنَٰهُمۡ غُثَآءٗۚ فَبُعۡدٗا
لِّلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٤١﴾﴾ [المؤمنون: ٣١-٤١].

ژباړه: «تر هغه (د نوح د قوم تر هلاکېدو) وروسته موږ د یوه بل پېر (دور) قوم رامنځ ته کړ. بیا مو په هغو کې د هغه قوم یو پیغمبر ولېږی. چې د لوی څښتن بنده ګي وکړ ئ. ستاسي لپاره له هغه پرته کوم بل معبود نسته. آیا تاسي نه بېرېږئ؟ د هغه د قوم کومو مشرانو چې کفر غوره کړ او د آخرت راتګ یې درواغ وباله او هغوی موږ د دنیا په ژوندانه کې سوکاله ساتلي وه، هغو وویل دا سړی هیڅ نه دی، مګر ستاسي په څېر یو بشر دی، تاسي چې څه خورئ دی هم هغه خوري او چې څه چیښئ دی هم هغه چیشي. اوس که تاسي د خپل ځان غوندي د یوه سړي اطاعت ومانه، نو تاسي به تاوان کړی وي. آیا دی تاسي ته خبر درکوي چې کله تاسي مړه او خاوري سئ او د هډوکو کوټنۍ در څخه جوړه سي په هغه وخت کې به تاسي (له قبرونو څخه) را وایستل سئ؟ دغه وعده چې ستاسي سره کیږي لیري ده، بېخي لیري ده. ژوند همدغه د دې دنیا دی. دلته مرو او ژوندي کیږو او بیا هیڅ نه را پاڅول کیږو. دغه سړی د خدای په نوم باندي مازي درواغ جوړوي او موږ هیڅکله پر ده باندي ایمان نه راوړو. پیغمبر وویل: پروردګاره! دغو خلکو چې زه دروغجن ګڼلی یم نو اوس دا ته زما مرسته وکړه. لوی څښتن وفرمایل: هغه مهال نږدې دی چې دوی پر خپلو کړو پښېمانه سي. پای دوی د عدالت سره سم یوې ستري چیغې ونیول او موږ هغوی نېزوړو غوندي وغورځول. ایسته دي وي ظالم قوم».

که قرآن کریم او د هغه تفاسیر په غور وکتل سي څرګنده به سي چې زیاترو کفارو به لوی څښتن مانه، خو د دې تر څنګ به یې نور باطل خدایان او بتان هم لمانځل، نور ډول ډول بد اعمال به یې هم ترسره کول او ظلمونه به یې هم کول. اما څنګه چې به د دین او انبیاووؑ بلني د دوی د مادي ګټو سره په

ټکر کي سوې او يا به يې ځينو نورو مصلحتونو او داسي نورو لاملونو اجازه نه ورکول چي د هغو خبري ومني، نو دوی بـه دښـمني ورسـره راواخيسـتل او نـه داچي د لوی څښتن او د هغه له احکامو او لارښوونو به يې سرغړاوه، بلکي دا به يې هم ويل چي:

﴿وَقَالُواْ مَا هِيَ إِلَّا حَيَاتُنَا ٱلدُّنۡيَا نَمُوتُ وَنَحۡيَا وَمَا يُهۡلِكُنَآ إِلَّا ٱلدَّهۡرُۚ وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ۝٢٤﴾ [الجاثية: ٢٤].

ژباړه: «دوی وايي چي ژوند يوازي همدغه زموږ دنيوي ژوند دی، همدلته زموږ ژوندي کېدل او مړه کېدل دي او له زمانې (د ورځو له ګرځېدو پرته) بل څه نسته چي موږ له منځه يوسي».

خو لوی څښتن د دوی دغه باطل اند ردوي او فرمايي:

﴿وَمَا لَهُم بِذَٰلِكَ مِنۡ عِلۡمٍۖ إِنۡ هُمۡ إِلَّا يَظُنُّونَ ۝٢٤﴾ [الجاثية: ٢٤].

ژباړه: «په حقيقت کي په دې باب د دوی سره څه علم نسته، دوی مازي د ګومان پر بنسټ دغه خبري کوي».

په دې ډول څرګنديږي چي ټول پخواني او اوسني کفار که د مکي مشرکين وه که نور او که اوسني يهود، هنود، نصارا، کمونستان او سيکولر عناصر او نور دي، که يې څه هم لاري بېلي بېلي دي او په خپلو منځو کي د مادي او دنيوي مصالحو له مخي اختلافونه سره لري، خو له اصله ګرده مادي پال دي او د مادي پالني او ځينو نورو سرټمبه ګيوله امله يې ـ چي هغه هم له مادي پالني سرچينه اخلي ـ د لوی څښتن د حق دين سره را اخيستې ده او ځني منکر سوي دي، د مسلمانانو سره په دښمني کي سره يو سوي دي او هغو ته يې سلا يوه ده. څه ښه يې ويلي دي چي: «الْكُفْر مِلَّة وَاحِدَة» (کفر ټول يو ملت باله سي). هر چا د دې او هغه دين او مسلک په نامه خپل خپل دکانونه پرانيستي دي او خپلي خپلي مادي ګټي ځني ترلاسه کوي.

# حضرت ابراهیم﵇ او د اسلام سره د نمرودیانو دښمني

قال الله تعالی:

﴿قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ﴾ [الممتحنة: ٤].

ژباړه: «ستاسي لپاره په ابراهیم او د هغه په ملګرو کي یوه غوره نمونه ده. چي هغو خپل قوم ته په ډاګه وویل: موږ له تاسي او ستاسي له دغو معبودانو څخه چي تاسي یې د خدای پر ځای بنده ګي کوئ ګردسره بېزاره یو، موږ له تاسي څخه منکر سوي یو او تر څو پوري چي پر یوه لوی څښتن ایمان را نه وړئ زموږ او ستاسي تر منځ د تل لپاره دښمني او کینه ولوېده».

حضرت ابراهیم﵇ د خدای خلیل، د حضرت محمد ﷺ سر نیکه؛ بلکي د ډېرو انبیا وو او عربو پلار دی، او زموږ سپېڅلی دین، اسلام د هماغه ابراهیمي دین پر بنسټونو ولاړ دی. همدا راز د مکې مکرمې او کعبې شریفي تاریخ هم له همدغه ستر او سپېڅلي پیغمبر څخه را پیلیږي.

لوی څښتن د حضرت ابراهیم﵇ حال په ځانګړې توګه د خلکو لپاره د بېلګې او مثال په توګه بیان کړی دی. هغه خپل بت پال ولس ته د لوی څښتن پیغام ورساوه او له بد برخلیك څخه یې وبېرول. خو د هغه قوم د هغه د خبرو د منلو پر ځای د هغه کلک مخالفت وکړ.

د لوی څښتن دغه ستر استازی چي له اولوالعزمو پیغمبرانو څخه دی، د ډول ډول بخولو سره مخامخ سو، خو د دې ټولو ازموینو په وړاندي یې له صبر او زغم څخه کار واخیست. پر خپل ایمان باندي د لوی غره په شان ټینګ ولاړ وو. هیڅ شکایت ځني ونه سو او پېښو او حوادثو هیڅ ضعف او سستي پکښې رانه وسته.

اسلامي مورخين، د لوی څښتن په پيغمبري باندې د حضرت ابراهيمعليه السلام مبعوث کېده د ختيځ د اند او فکر په تاريخ کې يو نوی تحول او تازه مکتب بولي چې تر ده دمخه يې سابقه نه درلوده. هغه د ظلم، کفر، بت او باطل پالنې او بې لارۍ په ډېره تياره او له فساد او ورانۍ ډکه دوره کې په پيغمبرۍ مبعوث سو، چې د دې ناوړو چارو پر ضد يې ستر تاريخي جهاد پيل کړ. د دې پرځای چې هغه د مهال د ډېر زلند او قهار ځواک څخه سترګه وکړي، وډارېږي، او اېل يې سي، ډغرې يې ور سره ووهلې او هغه يې د خپلې ارادې ـ چې د لوی څښتن له ارادې څخه را ولاړه سوې وه ـ ايل کړ او نه دا چې د بت پالنې پر ځای يې خدای پالنه رامنځ ته کړه، بلکې د مادي پالنې او د انسانانو د خدای ګڼنې او د خدای په توګه د انسان لخوا د انسان پالنې سره يې هم مبارزه وکړه.

## د بابل واکمني:

د حضرت عيسیعليه السلام تر زېږېدو څه له پاسه دوه زره کاله يا د نوو څېړنو له مخې شاوخوا اووه پېړۍ دمخه د بابل سلطنت ډېر په غوره کې وو. مالي او اقتصادي حالت يې ډېر پياوړی وو. ستر پوځي ځواک يې درلود. هره خوا يې امنيت وو، او ښې او ښادۍ پکښې پرېمانه وې. خو د دغه ځای واکمنان پر دې سربېره چې د بتانو پالنه يې کول، ډېر ظالمان هم وه. په دوی کې بيا د حضرت ابراهيمعليه السلام د مهال واکمن نمرود تر ټولو ظالم وو. دغه واکمن دونه مغروره سوی وو چې د خدايي دعوه يې کړې وه او د ټولواکمنۍ په لويه بتخانه کې يې د خپل ځان زرينه مجسمه اېښې وه او رعيتو ته يې حکم کړی وو چې د هغې عبادت وکړي.

د يادولو وړ ده چې دغسې واکمنان چې خلک د ځان يا د خپلو مجسمو عبادت ته بولي له آره پر هيڅ معنوي ځواک باور نه لري؛ نه پر لوی څښتن او نه پر کوم بل څه عقيده لري، بلکې دوی داسې ګڼلې وي چې دا نړۍ او هرڅه مادي او د دهر او مهال محصول دي او څنګه چې يې مادي نعمتونه او اسباب پرېمانه سي او واک خوښونه او ځان غوښتنه ډېره غلبه پر وکړي، نو خپل

اطاعت ته د رعیتو په بلنه کي تر دې پولي ورځاندي ولاړ سي چي هغوی د خپل ځان لمانځني او عبادت کولو ته اړ کړي.

لوی ښښتن جل جلاله ابراهیم علیه السلام ته وحي ولېږلې چي نمرود او د هغه لار ورکي قوم بېرته سمي لاري ته وبوله او اسلام ورته وړاندي کړه. هغه د لوی ښښتن د وحدانیت او عبادت په لار کي مبارزه او مجاهده پیل کړه، خپل ځان یې د خپلي عقیدې او ایمان په لار کي د مرګ د خطر سره مخامخ کړ او په دې لار کي یې ستر اخلاص وښود او راتلونکو ولسونو ته د حق او حقیقت پالني یوه ستره بېلګه وګرځېد.

## د بت پالني پر ضد د ابراهیم علیه السلام جهاد:

﴿۞وَلَقَدْ ءَاتَيْنَآ إِبْرَٰهِيمَ رُشْدَهُۥ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِۦ عَٰلِمِينَ ۝٥١ إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِۦ مَا هَٰذِهِ ٱلتَّمَاثِيلُ ٱلَّتِىٓ أَنتُمْ لَهَا عَٰكِفُونَ ۝٥٢ قَالُوا۟ وَجَدْنَآ ءَابَآءَنَا لَهَا عَٰبِدِينَ ۝٥٣ قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَءَابَآؤُكُمْ فِى ضَلَٰلٍ مُّبِينٍ ۝٥٤ قَالُوٓا۟ أَجِئْتَنَا بِٱلْحَقِّ أَمْ أَنتَ مِنَ ٱللَّٰعِبِينَ ۝٥٥ قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلْأَرْضِ ٱلَّذِى فَطَرَهُنَّ وَأَنَا۠ عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ ٱلشَّٰهِدِينَ ۝٥٦ وَتَٱللَّهِ لَأَكِيدَنَّ أَصْنَٰمَكُم بَعْدَ أَن تُوَلُّوا۟ مُدْبِرِينَ ۝٥٧﴾ [الأنبیاء:۵۱-۵۷].

ژباړه: «په یقین سره موږ له پخوا څخه ابراهیم ته زیرکي ورکړې وه او موږ هغه ښه پېژندی. کله چي هغه خپل پلار او خپل قوم ته وویل چي دغه بتان څه دي چي تاسي یې په عبادت سره منجورتوب غوره کړی دی. هغو په جواب کي وویل: موږ خپل پلار او نیکه د دوی د عبادت کوونکي موندلي دي. هغه وویل: تاسي هم ګمراه یاست او پلار او نیکه مو هم په څرګنده ګمراهي اخته سوي وه. هغو وویل: آیا ته موږ ته حق او رشتیا وایې که هسي ټوکي کوې؟ هغه جواب ورکړ: نه! بلکي په رشتیا سره ستاسي رب هغه ذات دی چي د مځکي او آسمانونو ښښتن او د هغو پیدا کوونکی دی. زه پر دې خبره شاهدي ورکوم. او په خدای قسم چي زه به ستاسي په نه شتون کي هرو مرو ستاسي د بتانو څه چاره وکړم».

یو مهال د حضرت ابراهیم علیه السلام د قوم د اختر ورځ وه. پلار یې ورته وویل چي راځه ته هم زموږ سره له ښاره د باندي ووزه. هغه له پخوا څخه لا پتیلي وه چي یو دغسي مهال به د دوی بتان ماتوي. نو هغه وو چي ور ته ویې ویل

چي زه ناروغ يم او نه سم در سره تلای. د ده دا خبره که څه هم په ظاهره دروغ باله سي، خو په حقيقت کي دروغ نه ګڼل کيږي. ځکه چي په هر انسان کي څه ناڅه ناروغي وي.هغه وو چي ابراهيمعليه السلام يو تبر راواخيست او بت خانې ته ورننوتی. بتان يې په لغتو ووهل او بيا يې د ټولو لاسونه پرې کړل، خو په غټ بت يې څه ونه کړه او تبر يې د هغه پر غاړه ورکښېښووی. کله چي د ابراهيمعليه السلام قوم د ښار له د باندي را ستانه سول د بتانو په دغه حال خبر سول. ځکه نو ټول راغونډ سول او نمرود ته يې احوال ورکړ. نمرود ورغی او ويې ويل چي دا کار چا کړی دی؟ خلکو ورته وويل: دلته يو ځوان دی چي دغو بتانو ته يې بد ويل او ابراهيم نوميږي. ښايي دا کار هغه کړی وي.

## د ابراهيمعليه السلام محاکمه:

هغه وو چي د دولت چارواکو ابراهيم ونيو او ورته ويې ويل: زموږ دغه بتان تا مات کړي دي؟

﴿قَالَ بَلْ فَعَلَهُۥ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا فَسْـَٔلُوهُمْ إِن كَانُوا۟ يَنطِقُونَ ﴿٦٣﴾ فَرَجَعُوٓا۟ إِلَىٰٓ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوٓا۟ إِنَّكُمْ أَنتُمُ ٱلظَّٰلِمُونَ ﴿٦٤﴾ ثُمَّ نُكِسُوا۟ عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰٓؤُلَآءِ يَنطِقُونَ ﴿٦٥﴾ قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْـًٔا وَلَا يَضُرُّكُمْ ﴿٦٦﴾ أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ﴿٦٧﴾﴾ [الأنبياء: ٦٣-٦٧].

ژباړه: «هغه جواب ورکړ: دا کار د دوی مشر کړی دی. تاسي له دوی څخه پوښتنه وکړئ! که خبري کولای سي. د دې په اورېدو سره هغوی د خپل وجدان لوري ته وروګرځېدل او (يو د بل سره يې) وويل رشتيا داده چي تاسي ظالمان ياست. خو بيا د هغو رايه واوښته او ويې ويل: تاته خو معلومه ده چي دوی خبري نه کوي. ابراهيم وويل: نو آيا تاسي له لوی څښتنه پرته د هغو شيانو بنده ګي کوئ چي نه تاسي ته د ګټې رسولو وس لري نه د زيان. لعنت دی پر تاسي او ستاسي پر دغو معبودانو چي له لوی څښتن پرته يې عبادت کوئ. آيا تاسي دونه عقل هم نه لرئ؟».

څنګه چي حضرت ابراهيمعليه السلام پر دوی باندي خپل حجت تمام کړ او په دې توګه يې د هغو ناپوهي او ګمراهي ورپه ګوته کړه او هغوی بې جوابه

سول، نو د دې پرځای چې له کفر او شرک څخه توبه وکاږي، له زوره یې کار واخیست او ویې ویل چې دی وسوځئ! ځکه د توحید د دعوت منلو د طاغیانو او طاغوتیانو ګټې په خطر کې اچولې. د خدای بنده ګانو د ظالمانو له اسارت او بنده ګي څخه نجات موند او د هغو له ملګرتیا او پلوۍ څخه یې مخ اړاوه او د دوی د شتو او بیت المال د لوټوونکو د شر دفع کېدو ته چمتو کېدل.

نمرودیانو ډېر لرګي ټول کړل، اور یې بل کړ او په داسي حال کي چې لویي لمبې ځني پورته کېدې ابراهیمعليه‌السلام یې لاس تړلی ور وغورځاوه، خو دغه مهال لوی څښتن اور ته امر وکړ:

﴿يَٰنَارُ كُونِي بَرۡدٗا وَسَلَٰمًا عَلَىٰٓ إِبۡرَٰهِيمَ ٦٩﴾ [الأنبياء: ٦٩].

ژباړه: «ای اوره پر ابراهیم باندي سوړ سه او سلامتیا وګرځه».

## د ابراهیمعليه‌السلام لخوا زړونه په لاس راوړل:

کله چې اور مړ سو خلکو ولیدل چې ابراهیمعليه‌السلام روغ رمټ دی. هغه سمدلاسه اسلام ته د خلکو په بلنه پیل وکړ. خلک اریان پاته سول. مخالفین وشرمېدل او وتښتېدل. په دې توګه د دې ستري معجزې په ښکاره کېدو سره د نمرود او د هغه د قوم ناوړه هڅه شنډه سوه.

د قصه های قرآن په ۷۷مخ کي لیکي: نژدې وه چې خلک د ابراهیمعليه‌السلام بلنه ومني، خپل لارښود یې وټاکي او پرشاوخوا یې یو موټی سي. خو ځینو خپل دنیوي خوندونه او د چوکیو سره مینه تر حق غوره وګڼل. نور هم د ابراهیم له مخالفینو څخه وبېرېدل. ځکه نو څو تنو پر هغه ایمان راوړ او هغه یې هم پټاوه، څو د طاغوتیانو له شره په امان سي.

## د ابراهیمعليه‌السلام او نمرود مناظره:

د ځینو مفسرینو او مورخینو په اند کله چې حضرت ابراهیمعليه‌السلام بتان مات کړل او ونیول سو نمرود چې د خدایی دعوه یې کړې وه، ترڅو ورځو بند

وروسته ور وغوښت، دغه مناظره يې ور سره وکړه او بيا يې امر وکړ چې ويې سوځوئ. خو ځيني وايي چې دغه مناظره لـه اور څخـه د ابـراهيمعليه السلام تـر روغ رمتې وتلو وروسته سوې ده. په هر صورت څنګه چې اسـلام تـه د ابـراهيمعليه السلام بلنه د نمرود او نمروديانو واک او ګټو ته ستر خطـر وو، نمـرود ور تـه پـه قهـر سوی وو. ور ويې غوښت او ور ته ويې ويل: دا څه لړه دي رامنځ ته کړې ده؟ دغه خدای چې ته يې خلک عبادت ته وربولې څوک دی؟ مګـر تـه لـه مـا پرتـه بل خدای پېژنې؟ او هغه څه کولای سي چې زه يـې نـه سـم کـولای؟ ابـراهيم ورته وويـل: زمـا خـدای هغـه څـوک دی چې مـرګ او ژونـد يـې پـه لاس دی. نمرود وويل: زه هم دغسي کوم. سمدستي يې امر وکی چې لـه محبس څخـه دوه تنه راولئ. يو يې چې برائت يې اخستی وو وواژه او ويې ويل: دادی دا مي مړ کی! او بل يې چې په مړينه محکوم سوی وو، ونه واژه او ويـې ويـل: دادی دا مي ژوندی کړ! او که وغواړم دا هم وژلای سم.ابراهيمعليه السلام چې وليـدل چـې نمرود په مناظره کي د استدلال په وړاندي حيله او مغالطه کوي، بـل دليـل يـې وړاندي کړ او ويې ويل: د خدای لمر هره ورځ له ختيځ څخه را پورتـه کيـږي، که ته د ده غوندي خدای يې يو ځل لمـر لـه لوېـديځ څخـه را پورتـه کـړه! خـو نمرود پړ او خړ سو.

﴿أَلَمْ تَرَ إِلَى ٱلَّذِى حَآجَّ إِبْرَٰهِـۧمَ فِى رَبِّهِۦٓ أَنْ ءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ رَبِّىَ ٱلَّذِى يُحْىِۦ وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا۠ أُحْىِۦ وَأُمِيتُ ۖ قَالَ إِبْرَٰهِـۧمُ فَإِنَّ ٱللَّهَ يَأْتِى بِٱلشَّمْسِ مِنَ ٱلْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ ٱلْمَغْرِبِ فَبُهِتَ ٱلَّذِى كَفَرَ ۗ وَٱللَّهُ لَا يَهْدِى ٱلْقَوْمَ ٱلظَّـٰلِمِينَ ﴿٢٥٨﴾﴾ [البقرة: ۲۵۸].

ژباړه: «آيا تا د هغه چا (نمرود) پر حال غور نه دی کړی چې د ابراهيم سره يې جګړه (دليل بازي) کړې وه چې د هغه رب څوک دی؟ د دې جګړې او مناظرې لامل هم دا وو چې لوی څښتن دنيوي واک او قدرت ورکړی وو.ابراهيم وويل: زما رب هغه ذات دی چې د ژوند او مرګ واکمن دی. نو هغه په جواب کي وويل: ژوند او مرګ زما په واک کي دی. ابراهيم وويل: ښه، لوی څښتن لمر له ختيځ څخه را خېژوي، ته هغه له لوېديځ څخه راوخېژوه. د دې په اورېدو هغه کافر اريان پاته سو. خو لوی څښتن ظالمانو ته سمه لار نه ښيي».

نمرود د واک پر له منځه تلو وبېرېدی. ځکه یې نو ابراهیم خوشي کړ او لـه ناکامه یې دی او خپل حال سره پرېښوول. په داسې حال کي چي ډېر بـد یـې ځني راتله. نمرود بېرېدی چي که د ابراهیمعليه السلام سره د ده مخالفت زیات ډاګیـز سي لابه د ده کار خراب سي. ځکه یې نو په ښرګنده کار نه په درلود، خو په پټه یې دښمني ور سره پالل. جاسوسان یې پسې واچول چي ویې څاري او خلـک یې له پیروی او پر هغه باندي له را ټولېدو څخه وبېروي.

پای ابراهیمعليه السلام اړ سو چي وطن پرېږدي.

## د حضرت ابراهیمعليه السلام هجرت:

څنګه چي د ابراهیمعليه السلام د قوم مظالم تر حد تېر سـول، اړ سـو چـي د خپلـي درنې مېرمنې، حضرت لوطعليه السلام او څو نورو پیروانو سره بـل ځـای تـه هجـرت وکړي. تفسیرونه وایي چي د ابراهیم او ملګرو هجرت د دیـن لپـاره پـه مځکـه کي لومړنی هجرت وو.

حضرت ابراهیمعليه السلام چي د کورنه، قوم او د وخت د واکمنو مخالفت ولیـد او مظالم یې تر حد تېر سول نو ییګ د خدای په حکم د وطن پریګشـګوولو او هجرت لار ونیول. هغه د خپلي میګرمني بي بي ساره، خپل وراره لـوطعليه السلام او هغو لإو وګړو سره چي پر ده ییـګ ایمـان راوؤی وو، پـه داسـي حـال کـي چـي خګه مالونه او خګاروي هم ورسره وه د الجزیریګ په شمال کي واقع «حـران» نومي حګای ته (چي وروسته آرام وبلل سو) ولاؤ، د هغه ځای خلک یـې چـي د ستورو پالنه یې کول اسلام ته وبلل خو هغو یې هم خبري ونه منلې. هلته تـر خګه مهال اوسېدو وروسته د ستونزو او زورونو سـره د مخـامخ کېـدو لـه املـه فلسطین (د هغه مهال د شام کنعان) ته ورسیګدی. په دغه سـیمه کـي د کاختـة راتلو له امله، د شپنو (هیکسوس) پاچهانو په زمانه کي مصر ته ولاؤ، هلتـه یـو ظالم پاچا واکمن وو. وایي چي بي بي ساره أیګره شګایسته وه، نو یو چا دغـه واکمن ته د هغیګ د شګکلا او جمال صفت وکؤ. هغـه سـؤي ور واسـتول او پوشګتنه ییګ حګني وکؤه چي دغه شګحګه دي خګه ده؟

ابراهیمعليه السلام وبیګریګدی چي که ورته ووایم چي میګرمن مي ده مؤ به مي کؤي. نو ییګ ورته وویل چي دا میګ خور ده. واکمن په زور بي بي ساره وروغوښتل او لاس یې ور واچاوه، خو لاس ییګ د خدایجل جلاله په امر وچ سو. واکمن ورته وویل چي خدایجل جلاله ته دعا وکؤه چي زما لاس بیګرته روغ کؤي. زه وعده درسره کوم چي تاوان به نه در رسوم؛ بلکیګ احسان به درسره وکؤم. نو هغه وو، چي د سارا د دعا له امله ییګ لاس جوؤ سو. دغه ظالم بیا لاس ور واچاوه، چي بیا ییګ لاس تر د مخه لا أیګر وچ او په درد سو. بیا ییګ عذر ورته وکؤ چي بیا ییګ د سارا د دعا له امله لاس جوؤ سو. نو هغه وو چي واکمن بخشګنه حګني وغوشګته او بي بي هاجره ییګ د هغیګ د دلاسایی لپاره ور وبخشګل. (زیاتره ویل کیاٍي او مشهوره ده چي بي بي هاجره مینحګه وه. خو أیګرو محققینو جوته کؤیګ ده چي دا آزاده او د دغه واکمن لور وه).

کله چي بي بي سارا، ابراهیمعليه السلام ته ورغله هغه پوشګتنه حګني وکؤه چي خګه وسوه؟ دیګ ورته وویل: لوی خګشګتنجل جلاله د کافر، فاجر مکرونه په نطفه کي ور خنثی کړه او هاجره بي بي ییګ د خدمت لپاره راکؤه.

تردیګ وروسته ابراهیمعليه السلام جنوبي فلسطین ته ولاؤ. هلته د ابراهیم او لوط داسي سلا سوه چي دواؤه جلا جلا و اوسي، نو هغه وو چي لوطعليه السلام د مردار سمندرګي (د لوط سمندرګي) په جنوب کي اوسیګدل غوره کؤه او ابراهیمعليه السلام د فلسطین په «بئرسبع» یا«بیر شبع» نومي حګای کي واوسیګدی. بیایې کعبه شریفه ودانه کړه او په شام کي د (١٧٥) کالو په عمر وفات سو او د حبرون (الخلیل) د ښار د میکپیلا (Machpelah) په غار کي خاورو ته وسپارل سو. دغه ځای چي اوس د اسرائیلو په ولکه کي دی ابراهیمعليه السلام په څه پیسو رانیولی وو او په موعوده مځکه کي د ده او د ده د کورنۍ د نورو کسانو لومړی ملکیت وو. (پوپنا سوي ولسونه٦٧ مخ او زمور د قبلي تاریخ١٠٥ او ١٠٧ مخونه)

## د نمرود او نمرودیانو برخلیک:

دا چي په نمرود او د هغه په قوم څه وسول د الحج د سورې له ٤٣ او ٤٤ آيتونو څخه څرګندیږي چي د حق دغو منکرانو ته لوی څښتن لومړی مهلت ورکړ او بیا یې مؤخذه کړي او په عذاب اخته کړي دي.

په دې هکله تفسیرونه او تاریخونه وايي چي د نمرودیانو د ډېرو سرکښیو په پایله کي لوی څښتن خپل ډېر وړوکی مخلوق غوماشي په زیات ډېرښت سره پر مسلطي کړې چي دوی به یې خوړل اوویني به یې زبېښلې، د نمرود لښکریان هم په ډېره بده توګه هلاک سول او د دغه طاغوت په دماغ هم یوه غوماښه ننوتل چي له دې امله په خورا بدو عذابونو اخته سو او ځني ومړ.

ابن عاشور په خپل تفسیر التحریر والتنویر کي لیکي: «پر نمرودیانو باندي لوی څښتن تر مهلت ورکولو وروسته آشوریان [1] مسلط کړل. هغو د دوی هیواد ونیو، او خپله پر واکمن سول. تاریخونو دا هم ثابته کړې ده چي د سوس د عیلام قوم پر کلدانیانو [2]، (د نمرود پر قوم چي پلازمېنه یې بابل وو) د ابراهیمؑ په ژوندوني په ٢٢٨٦ قبل المسیح کي تسلط ومونډ».

اضواء البیان او ځیني نور تفسیرونه لیکي: «د سورت النحل په (٢٦) آیت کي چي کوم دنیوي عذاب یاد سوی دی، هغه د نمرود پر قوم راغلی دی». په دغه آیت کي داسي ویل سوي دي: تر دوی د مخه خلکو همدغسي دسیسې جوړي کړي دي، خو ګورئ چي لوی څښتن د هغو د دسیسو کلا له بېخه

---

١- آشوریان (Assyrains) یو سامي قوم دی چي لومړی یې په بابل کي پراخه واکمني درلوده. په پیل کي د دجلې او فرات پر څنډو اوسېدل، نینوا یې پلازمېنه وه. نخښي او شواهد ښیي چي دا یو لوېمار قوم وو. آسور د دې قوم خدای وو. ځکه نو دغه قوم په دې نامه بولي. د آشور امپراتوري په اوومه او اتمه پېړۍ کي د آسیا او اروپا پر پراخو سیمو واکمنه وه. خو ماد قوم دې هولناکي امپراتورۍ ته د پای ټکی کښېښود.

٢- کلده د سختي مځکي په معنا د هغي سیمي نوم دی چي تر میلاد دېرش کاله د مخه د سومر او آکد پر دوو سیمو وېشل کېده. د دې سیمو خلکو ته کلدانیان وایي. کلدانیان له سامي توکم څخه دي. د بابل ښار یې له سره جوړ کړ. بخت نصر یا بنوکد نسر نامتو کلداني واکمن وو. په ٥٣٨ ق.م. کال ایرانیانو د کلدلنیانو هیواد ونیو.

ونړول، او د هغې چت له پاسه پر هغو را ولوېدی او لـه داسـي لـوري پـر هغـو عذاب راغی چي له هغه لوري يې د راتګ ګومان قدري هم نه وو.

په هر صورت موږ نن مهال وينو چي د دغـي ځـواکمني واکمنـۍ او د دغـه سرکښه قوم نوم او نښان هم نه دی پاته.

## د ابراهيمعليه السلام په کيسه کي د شجاعت درس:

د لوی څښتن پـه لار کـي او سـپېڅلو موخـو تـه د رسـېدو لپـاره د حضـرت ابراهيمعليه السلام ژوند او هلي ځلي موږ ته د جرأت، مړانـي، سرښـندني اوشـجاعت درس راکوي. ابراهيمعليه السلام د نمرود غونـدي جبـار واکمـن او د يـوه بـت پـال او شړل ولس په وړاندي دريږي، په مړانه او شجاعت سره د بـاطلو پـر ضـد حـق خبـري کـوي. د هغـو د بتـانو سـپکاوی کـوي او پـر ځـان بانـدي د دغسـي سرناخلاصـي قـوم قهـر او غوسـه راپـاروي او د هـر راز ظلمونـو او زوررونـو پـه وړاندي يې د غره غوندي ټينګار او مقاومت کوي.

بايد ومنو چي د نمرود او د هغه د قوم د مهـال پـه شـرايطو کـي د حضـرت ابراهيمعليه السلام په شان دعوت او حقي لاري ته بلنـه سـخت، لـه مسـؤوليته ډک او خطرناک کار دی. خو ابراهيمعليه السلام دا هر څه پر ځـان مني او خپـل هـدف تـه د رسېدو په لار کي هيڅ ډول ښېره او اضطراب نه پيژني.

ځکـه نـو د اوسـمهال د حـق او حقيقـت د لاري مبـارزينو او د ناسـمو سمونکو او مصلحينو ته په کار ده چي د قرآن کريم له دغه درس څخه په ښـه توګـه ګټـه او پنـد واخلـي، پـه خپـل کـار او لار کـي يـې پلـی کـړي. د حضـرت ابراهيمعليه السلام او نور انبياوو کـار او لار خپـل سرمشـق وټـاکي. د هغـو پـه پيـروي خپل ځان او هر څه پر خدایجل جلاله وسپاري او په هـر ډول شـرايطو کـي پـر لـوی څښتنجل جلاله توکل وکړي. په دې سپېڅلې دنده کي سسـتۍ او ترديـد تـه لار ورنـه کړي او ښېله ښېري په ابراهيمي قاطعيت او مړانه د باطلو پر ضد حق او حقيقت د بري سرمنزل ته ورسوي.

## پخوانۍ او اوسمهالې بت پالنه:

بت پالنه په نړۍ کي اوږد تاريخ لري. له بده مرغه اوس هم ډول ډول بت پالني دود دي. چي دا د وګړو د عقل او پوهي له نيمګړتيا او همدا رنګه په ناپوهۍ سره عقل او پوهي ته د هغو له سپکاوي څخه استازيتوب کوي. لکه چي پوهيږو په پيل کي ځينو وګړو د څيرونکو ځناورو تصويرونه جوړول او لمانځل يې. ځينو هم د غرونو، ستورو، سپوږمۍ، لمر او داسي نورو لمانځنه کول. ان چي په تاريخونو کي ويل سوي دي چي په ځينو ځايونو کي انسانانو د آلت تناسل لمانځنه پسي را واخيسته. نامتو مځکپوه احمد بن فضلان (تر ۳۱۰هـ/ ۹۲۲م. کال وروسته مړ) چي د عباسي خليفه المقتدر لخوا د سلاويانو د نوي مسلمان سوي واکمن په غوښتنه د اسلام د تبليغ لپاره د هغو ملک ته لیږل سوی وو، په خپل يونليک کي ليکي: «د ترکستان د باشګرد د قوم هر يوه، يو لرګی د نارينه د آلت تناسل په بڼه توږلی او په غاړه کړی وي، او کله چي په سفر ځي يا د دښمن مقابلې ته وردانګي هغه مچوي او يا سجده پر کوي، او ور ته وايي ای خدايه! زما سره داسي وکړه او داسي وکړه!!» (رحلة ابن فضلان٦ مخ).

بيا ځينو وګړو انسان لمانځنه پيل کړه، د ځينو ښو خلکو تر مړيني وروسته به يې د هغو د بتانو درناوی کاوه. ځينو واکمنو به د خدايي دعوه وکړه او رعيت به يې خپل عبادت ته وبلل. هغو به هم د بې واکۍ يا بې همتۍ او زياتره د ناپوهۍ له امله د هغو عبادت مانه. په اوسنۍ متمدنه نړۍ کي ځينو انسانانو د خدايانو نور ډولونه او بتان رامنځ ته کړي دي او لمانځنه يې کوي. «شخصيت پالنه» له دغو بت پالنو څخه يو ډول دی. پټ او ښکاره لاسونه ځيني لويان، حکومتي چارواکي، د ګوندونو او ټولنو مشران، اتلان، اديبان، هنرمندان او داسي نور د نانځکو غوندي جوړ او سينګار کړي، بيايې په زور او تبليغاتو او نورو چلونو مطرح کړي، ان د درواغو کيسې ورته وتراشي او پر خلکو يې وتپي. چي ځيني ناپوهان يې هم د رشتيانيو سترو شخصيتونو په توګه ومني، وينيا وي او لارښووني يې د آسماني وحيو غوندي پلي کوي او بالاخره يې خبره تر لمانځني ورسيږي.

نه ګورئ چې زموږ په هیواد او نورو ځایونو کې د ټولټاکنو پر مهال او په ځینو غونډو او لاریونونو کې د ځینو کسانو ډول ډول غټ او کوچني پر کاغذونو او نورو ټوکرانو او پلاسټیکونو باندې چاپ سوي عکسونه چې په خورا ډېرو لګښتونو یې چاپ کړي وي د واټونو پر څنډو او پر نورو بېلابېلو ځایونو نصبوي، او د ځانونو سره یې وړي او ساده خلک د دغو تصویرونو په مټ رایو ورکولو او له دوی څخه ملاتړ ته هڅوي. دغه راز ځیني سوداګر د ځینو پیرانو، اغاګانو، اتلانو، واکمنانو، هنرمندانو، سندرغاړو او نورو ډول ډول عکسونه د مادي ګټو د ترلاسه کولو په موخه په خورا ډېر شمېر کې چاپوي او خرڅلاو ته یې وړاندي کوي او نور ډېر کسان دغه عکسونه او مجسمې پر ځانګړو ځایونو نصبوي، په دفترونو، کورونو او نورو کې یې ځړوي او په غونډو او مجلسونو کې یې بردي، او په دې ډول د عقیدت او درناوي مراتب ورته وړاندي کوي. ډېر سوداګر بیا په اصطلاح د آزادو او خپلو حقوقو ته د رسېدلو ښځو نیم لغړ عکسونه اخلي، پر خپلو تولیداتو یې چاپوي او له هغو څخه په ګټه اخیستنه بازار ورته پیدا کوي. په دې توګه د جاهلیت د پېر (مهال) یادونه په متمدن مهال کي د کاغذی بتانو او موډرنو مجسمو په دغه ډول خپرونه او لمانځنه تازه کوي.

دغه ډول بت خپرونه او لمانځنه د شرک له مظاهرو څخه باله سي، ټولو انبیاوو عليهم السلام د دغسي ناوړو چارو پر ضد جهاد کړی او باید په کلکه ډډه ځني وسي.

**د ظلم سره مقابله:**

ښېله شکه چې د پیغمبری له ځانګړنو څخه یوه هم د ظلم سره مقابله او ډغري وهل دي. د لوی څښتن جل جلاله د عدالت ټول زېری کوونکي هغه مهال راپاڅېدلي دي چې ظلم او استبداد او د وګړو پر حقونو تېری هره خوا خپور سوی وي. لوی څښتن د وحیو ټول حاملان په داسي حال کي خلکو ته لېږلي دي چې بې وزلي، اسکېرلي او بې چاره ګان د واک او قدرت د څښتنانو لخوا د سختو ستونزو، کړاوونو او زورونو سره لاس او ګرېوان سوي وي.

د وحیو د نزول له تاریخ څخه د وینو بوی څي. د وحیو د نزول اورشو د هغو خلکو د غوښو په ټوټو او وینو لړل سوې وي چې د ظالمانو له لاسه تر پزي رسېدلي وي. د حضرت محمد مصطفیﷺ. پر مهال په روم، ایران، افغانستان او د نړۍ په نورو ګوټونو کي دغسي حالت واکمن وو. عیسیؑ ته هم هغه وخت وحي وسوې چې د روم امپراتورانو خپلي ظالمانه منګولي د بې وزلو وګړو پر ستونو ایښي وې. د موسیﷺ د مبعوثېدو پرمهال فرعونانو پر مصر په تېره پر بني اسرائیلو بده ورځ راوستلې وه. په دې هکله موثق سندونه سته. د وحیو نور منادیان هم په تقریبا همدغسي شرایطو کي پاڅېدلي او د ظالمانو جګړې او مقابلې ته درېدلي دي، چې د طاغوتیانو لخوا بې عزته سوي، وهل سوي، بندیان سوي او وژل سوي دي. خو د دوی یادونه او کارونه د تاریخ په تیارو ګوټونو کي پټ پاته سوی دی.

قرآن کریم د دغسي پیغمبرانو حال احوال ته لنډي اشارې لري. ځینو مورخینو د ډېرو نوم ورکو صالحینو او پیغمبرانو او د ځینو هغو چې نومونه یې معلوم دي، کیسې کړي دي. د بېلګې په ډول ابن اثیر، ابن جریر او نور د جرجیس په هکله داسي معلومات راکوي: جرجیس د فلسطین وو. د حضرت عیسی ځیني حواریون (شاګردان) یې لیدلي وه. په سوداګري بوخت وو، او د بې وزلو سره یې ډېري مرستي کولې. د ده پر مهال په موصل کي د داذانه په نامه یو ظالم واکمن وو چې خلک یې د بت سجدې ته اړ ایستل او که به یې سجده نه ورته کول په عذابونو به یې اخته کول او اور ته یې اچول. جرجیس یې مقابلې ته ور ودانګل، او ور ته ویې ویل: ته د لوی څښتن یو وړوکی بنده یې، چې نه د ځان اختیار لرې، نه د بل چا. او تر تا لوړ داسي خدای سته چې هم ستا اختیار لري او هم د نورو. خو ته د داسي یوه شي عبادت کوې او نور یې هم عبادت ته اړباسې چې هیڅ واک نه لري. بیا یې دغه واکمن د لوی څښتن توحید او عبادت ته وبلی. خو پاچا ور ته په قهر سو، بندي یې کړ، د اوږدې مودې لپاره یې ډېر سخت عذابونه پر تېر کړل، چې د دې عذابونو او د جرجیس د ښو اوصافو او مړاني په لیدو د واکمن مېرمني او څلور دېرشو زرو

تنو اسلام ومانه چې کيسه يې ډېره اوږده ده، لنډه دا چې پای يې هغه د نورو مسلمانو سوو کسانو سره په خورا بده وضع وواژه.

تاريخونو په خپلو پاڼو کې د اسلام سره د خدای نه منونکو او ظالمو کفارو د ډېرو دغسې دښمنيو په هکله اوږدې خبرې کړې دي.

## زموږ د مهال د نمروديانو حال:

د حضرت ابراهيمعليه السلام د مهال طاغوت هم د لوی څښتنجل جلاله پر قانون باندې خپل قانون ته ترجيح ورکول او د نن مهال طاغوتي واکمني ډلې هم د لوی څښتن پر قانون باندې خپل جوړ کړي قوانين غوره ګڼي. که لږ دقيق سو اوسني ظالم واکمنان تر نمرود ډېر زلند، سخت زړه او سرکښه دي.

ابراهيمعليه السلام په ډاګه او په پرله پسې توګه د نمروديانو بتان غندل او ان ور ټوکر يې کړل. د نمروديانو پر بدو کړنو يې په بشپړه آزادۍ سره بد ويل. نه چا بنديز پر لګولی وو او نه يې خبرې ور سانسورولې. خپله خبره يې ان نمرود ته لا په بشپړه آزادۍ سره کولای سوه او هغه هم اورېده. که يې اور ته هم وروغورځاوه په قانون او د محاکمې او د ولس په حضور او خبرتيا کې وو. د هغه آواز يې د هغه په ستوني کې خفه نه کړ. په زور يې د هغه خوله نه وربندول. ربړه يې د هغه سره د خبرو له لارې حلول، نه د جنګ جګړو د توديدو او اوږدېدو له لارې. د هغه پر کور يې د شپې لخوا ناڅاپي يرغل ونه کړ. هغه او د هغه د کورنۍ غړي يې بېله محاکمې په خپلو وينو ونه رنګول. د هغه په کلي او هيواد کې يې د خپلو ګټو د ساتلو لپاره هيڅ ډول ترهګري خپره نه کړه. زنځير او زولانه يې نه کړ. د تن کالي يې ځني ونه کښل. په سر يې کڅوړه ورونه غوستل. له خپلو خپلوانو او عزيزانو څخه يې د هغه پته ورکه نه کړه. ګوانتانامو، اوبوغريب، بګرام او نورو پټو او ښکاره زندانونو غوندې کړاوځايونو ته يې وانه چاوه. د جاسوسۍ مرکزونو په تحقيق ځايونو کې يې سپي ور ونه ښکارل، په سړه هوا کې يې د يخو اوبو نلکۍ پر سر ورخوشې نه کړه. په پښو يې ونه ځړاوه. په توره کوټه کې يې کوته کولفه نه کړ. جنسي تېری يې پر ونه کړ. د نورو سره يو ځای يې ژوندی په ډله ييزو قبرونو کې ښخ نه

کړ. په زندان کي د بغاوت په دروغجن تور يې په بې رحمانه بمبارېو د ډله ييزو وژنو په پايله کي غوبني ور پاش پاش نه کړې. په هغه او د هغه په پلويانو پسي يې د اسلام د ننګي او د لوی ښښتن وحدت ته د بلني او د خپل هيواد د مستضعفو پرګنو د ژغورني او آزادۍ لپاره د جهاد او مبارزې په ګناه يې تر څټه په وسلو سمبال هوايي او ځمکني پوځونه نه وه پسي ګومارلي. خو د نن مهال د دموکراسۍ او د بشر د حقوقو د ننګي دعوه کوونکي نمروديان دا هر څه په خلاص مټ او په پراخه پيمانه کوي. نو له دې څخه معلوميږي چي زموږ د مهال نمرويان د ابراهيمؑ د مهال تر نمروديانو ډېر زلنده دي. لوی ښښتن دې په خپله خدايي ريښې وکاږي. آمين.

# حضرت لوط عليه السلام او د سدوم د اوسېدونکو بدکاري

حضرت لوط عليه السلام د حضرت ابراهيم عليه السلام وراره وو. هغه د لوی ځښتن لخوا د «سدوم د ښار» اوسېدونکو ته د نبي په توګه ولېږل سو. له دغو خلکو څخه ډېر بد، فاسدان، فاجران او کافران جوړ سوي وه. هغو پر غير فطري عمل، يعني لواطت کولو سربېره کوم چي تر دغه مهاله نړيوالوته معلوم نه وو، غلاوي هم کولې او لاري يې هم نيولې او نور ناوړه کارونه يې هم تر سره کول. لوط عليه السلام دوی له دغو بدوکارونو څخه منع کړل او د لوی ځښتن له عذابه يې وبېرول، خو هغو د هغه بلنه او نبوت ونه منل او خپل دغه ناوړه کار ته يې دوام ورکړ. بالاخره دغه خلك په يوه بېروونکې تباهي هلاك سول.

په لرغونې عهدنامه (تورات) کي د لوط ښار «سدوم» ګڼل سوی دی. د پلټنو سره سم دغه ښار د سره سمندرګي په شمال کي د مردار سمندرګي په اورشو کي پروت دی، چي د اسرائيلو او اردون د پولو سره غځېدلی دی. د لرغونو آثارو مطالعه ښيي چي دغه ښار هغسي تباه سو لکه چي قرآن کريم يې تفصيل ورکړی دی.

قرآن کريم د لوط عليه السلام بلنه او بېرونه او د هغه په وړاندي د لوط د قوم غبرګون داسي بيانوي:

﴿كَذَّبَتْ قَوْمُ لُوطٍ ٱلْمُرْسَلِينَ ﴿١٦٠﴾ إِذْ قَالَ لَهُمْ أَخُوهُمْ لُوطٌ أَلَا تَتَّقُونَ ﴿١٦١﴾ إِنِّي لَكُمْ رَسُولٌ أَمِينٌ ﴿١٦٢﴾ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ﴿١٦٣﴾ وَمَآ أَسْـَٔلُكُمْ عَلَيْهِ مِنْ أَجْرٍۖ إِنْ أَجْرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٤﴾ أَتَأْتُونَ ٱلذُّكْرَانَ مِنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿١٦٥﴾ وَتَذَرُونَ مَا خَلَقَ لَكُمْ رَبُّكُم مِّنْ أَزْوَٰجِكُمۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ عَادُونَ ﴿١٦٦﴾ قَالُواْ لَئِن لَّمْ تَنتَهِ يَٰلُوطُ لَتَكُونَنَّ مِنَ ٱلْمُخْرَجِينَ ﴿١٦٧﴾ قَالَ إِنِّي لِعَمَلِكُم مِّنَ ٱلْقَالِينَ ﴿١٦٨﴾﴾ [الشعراء: ١٦٠-١٦٨].

ژباړه: «د لوط قوم پيغمبران دروغجن وبلل. کله چي د هغو ورور لوط هغو ته وويل: آيا تاسي له لوی ځښتن څخه نه بېرېږئ؟ بېشکه چي زه تاسي ته يو معتبره پيغام راوړونکی يم، نو له لوی ځښتن څخه وبېرېږئ او زما حکم ومنئ او زه پر دې

كار باندي له تاسي ځخه د څه مزدورۍ غوښتونكى هم نه يم. زما اجر د ټولو نړيوالو پر څښتن باندي دى. آيا تاسي په نړيوالو كي نارينه وو ته ورځئ او ستاسي په مېرمنو كي چي ستاسي څښتن ستاسي لپاره څه پيدا كړي دي، هغه پرېږدئ؟ رشتيا چي تاسي تر حد تېر سوى خلك ياست. هغو وويل: اى لوطه! كه ته له دې خبرو لاس وانه خلې، نو ته به هم له هغوخلكو ځخه سې چي زموږ له كلو ځخه ايستل سوي دي. لوط وويل: كوم خلك چي ستاسي له كړو وړو ځخه كركه كوي زه هم له هغو ځخه يم».

په دې توګه د حق لاري ته د بلني په جواب كي د لوط‏ﷺ قوم د هغه سره دښمني راواخيسته او هغه ته يې ګواښونه وكړه او د هدايت لاري ته د بللو له امله يې مخالف سول او له وطن ځخه د نورو مومنانو سره د هغه د ايستلو په تكل كي سول. بل ځاى قرآن كريم دغه خبري داسي بيانوي:

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ أَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٨٠﴾ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ شَهْوَةً مِّن دُونِ ٱلنِّسَآءِ ۚ بَلْ أَنتُمْ قَوْمٌ مُّسْرِفُونَ ﴿٨١﴾ وَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُوٓاْ أَخْرِجُوهُم مِّن قَرْيَتِكُمْ ۖ إِنَّهُمْ أُنَاسٌ يَتَطَهَّرُونَ ﴿٨٢﴾﴾ [الأعراف:٨٠-٨٢].

ژباړه: «لوط موږ د هغه ولس ته د پيغمبر په توګه ولېږى. كله چي هغه خپل قوم ته وويل: آيا تاسي داسي بې حيايي كوئ چي تر تاسي دمخه په ټوله نړۍ كي چا نه ده كړې؟ تاسي ښځي پرېږدئ پر نارينه وو خپلي نفساني غوښتني تر سره كوئ؟ حقيقت دادى چي تاسي تر حد بېخي ډېر تېر سوي خلك ياست. خو د هغه د قوم سره بل جواب نه وو ببله دې چي يو بل ته ووايي چي دا له خپله ښاره وباسئ. دوى ډېر پاكي خوښوونكي دي».

لوط‏ﷺ خپل قوم يوې ځرګندي رشتينولۍ ته وباله او له بد برخليك ځخه يې هم وبېراوه. خو قوم يې دې بېروني ته څه پام وانه ړاوه او د لوط‏ﷺ له عذاب ځخه بېرونه يې پرله پسې درواغ وبلل. د لوى څښتن ارشاد دى:

﴿وَلُوطًا إِذْ قَالَ لِقَوْمِهِۦٓ إِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلْفَٰحِشَةَ مَا سَبَقَكُم بِهَا مِنْ أَحَدٍ مِّنَ ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٨﴾ أَئِنَّكُمْ لَتَأْتُونَ ٱلرِّجَالَ وَتَقْطَعُونَ ٱلسَّبِيلَ وَتَأْتُونَ فِى نَادِيكُمُ ٱلْمُنكَرَ ۖ فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِۦٓ إِلَّآ أَن قَالُواْ ٱئْتِنَا بِعَذَابِ ٱللَّهِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ﴿٢٩﴾﴾ [العنكبوت: ٢٨-٢٩].

ژباړه: «او چې لوط خپل قوم ته وویل چې تاسي خو داسي بې حیا کار کوئ چې تر تاسي دمخه له نړیوالو څخه هیچا هم نه دی کړی. آیا تاسي د نارینه وو سره بد فعلي کوئ او (د توکم د پیدا کېدو) لار بندوئ او په خپلو مجلسونو کي بدکار کوئ؟ نو د دې جواب د دوی سره نه وو بېله دې چي ورته وواییي: که ته رشتینی یې نو پر موږ باندي د لوی څښتن عذاب نازل کړه».

څنګه چي لوط ﷺ د خپل قوم دغه چاري ولیدلې نو له لوی څښتن څخه یې مرسته وغوښته:

﴿قَالَ رَبِّ ٱنصُرۡنِي عَلَى ٱلۡقَوۡمِ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٣٠﴾ [العنکبوت: ۳۰].

ژباړه: «لوط عرض وکړ: ای زما څښتنه! د دې ناولو وګړو په وړاندي زما مرسته وکړه».

﴿رَبِّ نَجِّنِي وَأَهۡلِي مِمَّا يَعۡمَلُونَ ١٦٩﴾ [الشعراء: ۱۶۹].

ژباړه: «ای لویه څښتنه! ما او زما کورنۍ د دوی له بدو عملونو څخه وژغوره».

د ده د دعا له امله لوی څښتن دوې ملایکي د انسانانو په بڼه ورولېږلې. هغوی لومړی ابراهیم ﷺ ته ورغلې، هغه ته یې زېری ورکړ چي ستاسي په کور کي به یو کوچنی پیدا سي، بیا یې د خپلو راتلو موخه ورته بیان کړه چي موږ د حضرت لوط ﷺ د نافرمانه قوم د پوپنا کولو لپاره راغلي یو.

﴿۞قَالَ فَمَا خَطۡبُكُمۡ أَيُّهَا ٱلۡمُرۡسَلُونَ ٣١ قَالُوٓاْ إِنَّآ أُرۡسِلۡنَآ إِلَىٰ قَوۡمٖ مُّجۡرِمِينَ ٣٢ لِنُرۡسِلَ عَلَيۡهِمۡ حِجَارَةٗ مِّن طِينٖ ٣٣ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ لِلۡمُسۡرِفِينَ ٣٤﴾ [الذاریات: ۳۱-۳۴].

ژباړه: «حضرت ابراهیم وو یل: ای را لېږل سوو ملایکو! ستاسي موخه څه ده؟ هغو ورته وویل: موږ یوه مجرم قوم ته رالېږلي سوي یو څو پر هغو د پخې ختې ډبري واوروو. چي ستا د څښتن په وړاندي له حد څخه د تېري کوونکو لپاره په نخښه سوي دي».

﴿إِلَّآ ءَالَ لُوطٍ إِنَّا لَمُنَجُّوهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٥٩ إِلَّا ٱمۡرَأَتَهُۥ قَدَّرۡنَآ إِنَّهَا لَمِنَ ٱلۡغَٰبِرِينَ ٦٠﴾ [الحجر: ۵۹-۶۰].

ژباړه: «بېله د لوط له کورنۍ څخه چي موږ به هغه ټوله وژغورو. البته د هغه مېرمن به و نه ژغورو، ځکه د هغې په هکله (لوی څښتن فرمايي:) موږ ټاکلې ده چي هغه به له بېرته پاته کېدونکو څخه وي».

د لوی څښتن دغه استول سوي ملايکي لـه حضـرت ابـراهيمﷺ څخـه تـر رخصتېدو وروسته، لوطﷺ ته ورغلې. څنګه چي دوی د مخه د لوطﷺ سـره هيڅ نه وه ليدلي، نو لوط د هغو په ليدلو څه پرېشانه سو. خو چي د هغـو سـره يې خبري وکړې بيا ډاډه سو:

﴿وَلَمَّا جَآءَتۡ رُسُلُنَا لُوطٗا سِيٓءَ بِهِمۡ وَضَاقَ بِهِمۡ ذَرۡعٗا وَقَالَ هَٰذَا يَوۡمٌ عَصِيبٞ ٧٧﴾ [هود: ٧٧].

ژباړه: «کله چي زموږ لېږل سوي ملايکي لوط ته ورغلې نو هغه وارخطا او زړه تنګی سو او ويې ويل: نن ورځ ډېره سخته ده».

﴿قَالَ إِنَّكُمۡ قَوۡمٞ مُّنكَرُونَ ٦٢ قَالُواْ بَلۡ جِئۡنَٰكَ بِمَا كَانُواْ فِيهِ يَمۡتَرُونَ ٦٣ وَأَتَيۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ وَإِنَّا لَصَٰدِقُونَ ٦٤ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَٱتَّبِعۡ أَدۡبَٰرَهُمۡ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٞ وَٱمۡضُواْ حَيۡثُ تُؤۡمَرُونَ ٦٥ وَقَضَيۡنَآ إِلَيۡهِ ذَٰلِكَ ٱلۡأَمۡرَ أَنَّ دَابِرَ هَٰٓؤُلَآءِ مَقۡطُوعٞ مُّصۡبِحِينَ ٦٦﴾ [الحجر: ٦٢-٦٦].

ژباړه: «لوط وويل: تاسي نابلده ښکارئ! هغو ورته وويل: نه موږ هغه څه راوړي چي دغه خلك يې په هکله شکمن وه، او موږ تاته ديوې تر سره کېدونکي پرېکړې سره راغلي يو او موږ په دې کي ببخي رشتيني يو. نو اوس چي د شپې يو څه برخه پاته سي د خپلي کورنۍ سره ووزه او خپله د هغو شاشا ته ځه. له تاسي څخه دي هيڅوك هم شاته نه ګوري. او چي حکم در ته کيږي هلته ولاړ سئ. او هغه ته موږ خپله دغه پرېکړه ورسول چي د سهار په را رسېدو سره به د دغو وګړو جرړي پرې سي».

په دې ترځ کي قوم ته څرګنده سوه چي لوط ته مېلمانه راغلـي دي. دوی لـه دې مېلمنو څخه هم د خپلو ناوړو ارادو د پوره کېدو په هکله څه ډډه ونـه کـړه. ځکه چي دا د مخه لا د دوی معمول ګرځېدلی وو. دوی د لوط د کور شـاوخوا ته را ټول سول. لوط د خپلو مېلمنو د عفت او عزت په هکلـه پـه تشـويش کـي سو او خپل قوم ته يې داسي خطاب وکړ:

﴿قَالَ إِنَّ هَٰٓؤُلَآءِ ضَيۡفِي فَلَا تَفۡضَحُونِ ۝٦٨ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَلَا تُخۡزُونِ ۝٦٩﴾ [الحجر: ٦٨-٦٩].

ژباړه: «لوط وویل: دا زما مېلمانه دي، نو د دوی په مخکې په دغسې چارو تر سره کولو ما مه رسوا کوئ او له خدایه وبېرېږئ، ما مه بې عزته کوئ».

خو قوم یې ورته وویل:

﴿قَالُوٓاْ أَوَلَمۡ نَنۡهَكَ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝٧٠﴾ [الحجر: ٧٠].

ژباړه: «هغو ورته وویل: آیا ته موږ په وارو وارو نه یې منع کړی چې د ټولې نړۍ ټېکه داري مه کوه؟».

حضرت لوطعليه السلام چې فکر وکړ چې دی او مېلمانه یې بې عزته کېږي، نو یې ورته وویل:

﴿قَالَ لَوۡ أَنَّ لِي بِكُمۡ قُوَّةً أَوۡ ءَاوِيٓ إِلَىٰ رُكۡنٖ شَدِيدٖ ۝٨٠﴾ [هود: ٨٠].

ژباړه: «کاشکې ما ستاسې په وړاندې زور در لودلای چې تاسې مې پر لار کړې وای او یا مې یوه غوره لېپه ځای ته پناه ور وړې وای».

ملایکو هغه ته وویل چې ته مه خفه کېږه، ځکه چې موږ د لوی څښتن لخوا را لېږل سوي یو.

﴿قَالُواْ يَٰلُوطُ إِنَّا رُسُلُ رَبِّكَ لَن يَصِلُوٓاْ إِلَيۡكَۖ فَأَسۡرِ بِأَهۡلِكَ بِقِطۡعٖ مِّنَ ٱلَّيۡلِ وَلَا يَلۡتَفِتۡ مِنكُمۡ أَحَدٌ إِلَّا ٱمۡرَأَتَكَۖ إِنَّهُۥ مُصِيبُهَا مَآ أَصَابَهُمۡۚ إِنَّ مَوۡعِدَهُمُ ٱلصُّبۡحُۚ أَلَيۡسَ ٱلصُّبۡحُ بِقَرِيبٖ ۝٨١﴾ [هود: ٨١].

ژباړه: «هغو وویل: ای لوطه! موږ ستا د پروردګار لخوا را لېږل سوي ملایکې یو. دوی به تا ته هیڅ تاوان ونه رسولای سي. نو چې څه شپه پاته سي د خپلې کورنۍ غړي دي درسره بوزه او ووزه او له تاسې څخه دې هیڅوک شاته نه ګوري. هو! ستا مېرمن (نه در سره ځي) ځکه چې پر هغې باندې هم هغه څه چې پر دغو خلکو باندې راځي راتلونکي دي. پر دوی باندې د عذاب وخت سهار ټاکل سوی دی او آیا سهار نه دی نژدې؟».

په دې توګه څنګه چې د لوطعليه السلام د قوم بد کارونه بېخې ډېر سول، لوی څښتن لوطعليه السلام د خپلو ملایکو په ذریعه وژغوری. د سهار په را رسېدو سره

دغه وګړي په هغه پوپنا کېدو اخته سول چي لوطﷺ يې په هکله دوی ته دمخه خبر ورکړی وو:

﴿وَلَقَدْ رَٰوَدُوهُ عَن ضَيْفِهِۦ فَطَمَسْنَآ أَعْيُنَهُمْ فَذُوقُواْ عَذَابِى وَنُذُرِ ۝ وَلَقَدْ صَبَّحَهُم بُكْرَةً عَذَابٌ مُّسْتَقِرٌّ ۝﴾ [القمر: ۳۷-۳۸].

ژباړه: «بيا دوی د مېلمنو له ساتني څخه د لوط د منع کولو هڅه وکړه. پای موږ د دوی سترګي ړندې کړې. اوس زما د عذاب او زما د خبر داريو خوند وڅکئ او سهار مهال پر دوی تل تر تله عذاب راغی».

د لوطﷺ د قوم د پوپنا کېدو تفصيل قرآن کريم داسي بيان کړی دی:

﴿فَأَخَذَتْهُمُ ٱلصَّيْحَةُ مُشْرِقِينَ ۝ فَجَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِمْ حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ ۝ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَٰتٍ لِّلْمُتَوَسِّمِينَ ۝ وَإِنَّهَا لَبِسَبِيلٍ مُّقِيمٍ ۝﴾ [الحجر:۷۳-۷۶].

ژباړه: «په پای کي د لمر څرك سره سم دوی يوې ځواکمني چاودني ونيول او موږ هغه سيمه پر بل مخ را واړول او د پخې سوي ختې د ډبرو باران مو پر واوراوه. په دې پېښه کي د پوهو خلکو لپاره ستري نخښې دي. او هغه سيمه چي دغه پېښه پکښې سوې وه په لويه لار کي واقع ده. (له مکې څخه د شام په لار کي پرته ده)».

﴿فَلَمَّا جَآءَ أَمْرُنَا جَعَلْنَا عَٰلِيَهَا سَافِلَهَا وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهَا حِجَارَةً مِّن سِجِّيلٍ مَّنضُودٍ ۝ مُّسَوَّمَةً عِندَ رَبِّكَ ۖ وَمَا هِىَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ بِبَعِيدٍ ۝﴾ [هود: ۸۲-۸۳].

ژباړه: «بيا کله چي زموږ د پرېکړې مهال راورسېدی، نو موږ هغه سيمه پر بل مخ را نسکوره کړه او پر هغې باندي مو د پخې ختې د ډبرو لاندي باندي باران واوراوه، چي له هغو څخه هره يوه ډبره ستا د څښتن لخوا په نخښه سوې وه او له ظالمانو څخه دغه عذاب اوس هم ليري نه دی».

﴿ثُمَّ دَمَّرْنَا ٱلْءَاخَرِينَ ۝ وَأَمْطَرْنَا عَلَيْهِم مَّطَرًا ۖ فَسَآءَ مَطَرُ ٱلْمُنذَرِينَ ۝ إِنَّ فِى ذَٰلِكَ لَءَايَةً ۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ۝ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ۝﴾ [الشعراء: ۱۷۲-۱۷۵].

ژباړه: «بيا مو پاته وګړي پوپنا کړل او پر هغو مو يو ډول اورښت وکړ. ډېر ناوړه اورښت وو چي پر بېرول سوو واورول سو. رشتيا چي په دې کي يوه نښانه ده. خو

بیا هم لـه دوی څخـه زیـات یـې نـه دی مسـلمانان. او ښځـکه چې سـتا ښځـتن هـم برلاسی دی او هم مهربان دی».

## اوسمهال د لواطت څرنګوالی:

له بده مرغه په اوسني عصر کې لواطـت پـه ډېـرو ټولنـو کـې دود او مـخ پـر ډېرېدو دی. په تېره په لوېدیځ او امریکا کې ښځي عام سوی دی. د لوېـدیځ پـه سر کـې د امریکـا د کفـري او مـادي پـالو طـاغوتي دولتونـو لخـوا لواطـت او د نارینه سره د نارینه او د ښځي سـره د ښـځي ازدواج قـانوني ګرځېـدلی دی. پـر دې سر برېره امریکا او انګرېز په نورو هیوادونو کې له همجنس بـازانو څخـه پـه کلکه ننګه کوي او پر نورو هیوادونو باندي فشار راوړي چې په خپلو هیوادونـو کـې همجـنس بـازي او د همجـنس بـازانو ازدواج او واده قـانوني کـړي. د انګلستان د بهرنیو چارو وزارت په ټوله نړۍ کې خپلو سـفارتونو تـه لارښـوونه کړې ده چې په ټولـو هیوادونـو کـې د همجـنس بـازۍ د پلویـانو او دودوونکـو سره مرسته وکړي او په نړۍ کې د همجنس بازۍ د فرهنګ د منلو او دودولـو لپاره هلي ځلي وکړي.

لـه دې څخـه د دغـو کفـارو اصـلي موخـه د فحشـاوو دودول او د اسـلام د مقدس دین ارزښتونه تر پښو لاندې کول او بـې ارزښـته کـول دي. او د دې تـر څنګ په دې هکله په اسلام کې انحرافي مذهبي فرقې رامنځ کول دي.

همدا اوس ډېر کفري حکومتونه په دې لټه کې دي چې په خپلو ټولنو کـې د همجنسو واده سوو کسانو د حضور لپاره د منلو وړ تعریف پیدا کړي. البتـه پـه دې هکله ډېرو حکومتونو د همجنس بازانو د حقوقو د تضمین لپـاره پـه خپلـو قوانینو کې بدلونونه راوستي دي.

د سهیلي امریکا په هیوادونو کې هم د همجـنس بـازانو ودونـه ورځ تـر بلـې زیـاتیږي. همـدا اوس د برازیـل پـه ریوګرانـډ ډوسـول ایالـت او د ارژانټـین پـه پلازمېنه بوینس آیـرس کـې د همجـنس بـازانو ازدواج قـانوني سـوی دی. دا پـه داسې حال کې ده چې په شمالي امریکا کې کانـاډا تـر ټولـو د مخـه د همجـنس بازو حقوق په رسمیت پېژندلي دي. استرالیا، نوي زیلینډ او سهیلي افریقا هـم

د همجنس بازانو ازدواج قانوني اعلان کړی دی او په جاپان کې هم د همجنس بازانو د ودونو څخه ملاتړ کیږي.

په دې ترڅ کې ویل کیږي چې په لبنان او مصر کې هم د همجنس بازانو سره رعایت کولو ته لاره پرانیستل کیږي. چې خدای دې وکړي داسې نه وي.

همدا اوس د بخښني نړیوال سازمان چې د بشر د حقونو ستر ننګه کوونکی سازمان دی د LGBT په نامه یوه څانګه پرانیستې ده چې ډېر مهم هدف یې دادی چې په مسیحي او مسلمانو هیوادونو کې د همجنس بازانو له حقوقو څخه دفاع وکړي او دغه هیوادونه تر فشار لاندې راولي چې د همجنس بازانو په هکله په خپلو قوانینو کې بدلونونه راولي. پر دې سر بېره ډېر امریکایي شرکتونه، لکه مایکروسافټ، بوئینګ او نایکي او د دوی تر څنګ د انګلستان د خپرونو شرکت په نړۍ کې د همجنس بازانو د حقوقو له سترو ملاتړو څخه دي. وایي چې اوس د کیپرې په ټاپو کې لڅ او هم جنس بازه وګړي ژوند کوي، چې د سیاحت په کار وبار کې د کیپرې ټاپو د «هم جنس بازو د جنت» په توګه ښوول کیږي.

داسې ښکاري چې په دې هکله په اوسنۍ نړۍ کې د لوی څښتن جل جلاله سره د کفارو دښمنۍ د لوط علیه السلام د مهال تر دښمنیو څو ځلې زیاتې سوي دي.

## حضرت شعیب علیه السلام او د اسلام سره د مدین د اوسېدونکو دښمني

د مدین د قبیلې ښار مدین د شام (اردن) سره نښتی د حجاز وروستۍ برخه وه. چې د تبوک په مقابل کې پروت دی. اوس د مدین په سیمه کې الحمیده، مقنا، الخریبه، تریم، المویلح او ضبا کلي ودان دي. د دغه ځای خلکو چې عربي توکمي وه او کسب او کار یې سوداګري او کرنه وه او ښه ژوند یې درلود لومړی د حضرت ابراهیم علیه السلام د دین پیروه وه. خو د مهالونو په تېرېدو سره هغو دې دین ته بدلون ورکړ، د لوی ښتن د وحدانیت له مستقیم مسیر څخه واوښتل او د بتانو عبادت یې کاوه. ډول ډول ګنهونه یې تر سره کول، ډېر بد معامله، سر کښه او باغي وګړي وه. پېر یې په درانه کانې کاوه، پلور یې په سپک کانې. پر دې سربېره یې لارې نیولې او مسافر یې لوټول او بېرول. مومنان به یې په ډول ډول چلونو تېر ایستل او د لوی ښتن له سمې لارې به یې اړول، لکه چې نن مهال یې امریکایان، لوېدیزیان او د هغو ګوډاګیان تېر باسي او د لوی ښتن له لارې یې اړوي او پر ناوړو لارو یې روانوي. ځیني تفسیرونه وایي چې له عامو مسافرو څخه یې ناروا محصولونه هم اخیستل او د خدای په مځکه کې یې ظلمونه او ورانۍ هم کولې.

لوی ښتن جل جلاله د دغو جرایمو د اصلاح لپاره حضرت شعیب علیه السلام د پیغمبر په توګه ور واستاوه. هغه دوی د لوی ښتن توحید ته وبلل او د ناسمو کارونو او ظلم له ناوړو پایلو څخه یې وبېرول. خو د دې خلکو په سترګو حضرت شعیب علیه السلام ناپوه سړی ورتی، پوسخندونه یې په وهل او د هغه لمانځه، کار او عبادت ته یې په سپکه سترګه کتل او بالاخره یې عداوت او دښمني ورسره را واخیسته.

﴿وَإِلَىٰ مَدۡيَنَ أَخَاهُمۡ شُعَيۡبٗاۚ قَالَ يَٰقَوۡمِ ٱعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مَا لَكُم مِّنۡ إِلَٰهٍ غَيۡرُهُۥۖ قَدۡ جَآءَتۡكُم بَيِّنَةٞ مِّن رَّبِّكُمۡۖ فَأَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَٱلۡمِيزَانَ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تُفۡسِدُواْ فِي ٱلۡأَرۡضِ بَعۡدَ إِصۡلَٰحِهَاۚ ذَٰلِكُمۡ خَيۡرٞ لَّكُمۡ إِن كُنتُم مُّؤۡمِنِينَ ﴿٨٥﴾ وَلَا تَقۡعُدُواْ

بِكُلِّ صِرَٰطٖ تُوعِدُونَ وَتَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ مَنۡ ءَامَنَ بِهِۦ وَتَبۡغُونَهَا عِوَجٗاۚ وَٱذۡكُرُوٓاْ إِذۡ كُنتُمۡ قَلِيلٗا فَكَثَّرَكُمۡۖ وَٱنظُرُواْ كَيۡفَ كَانَ عَٰقِبَةُ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ﴿٨٦﴾ وَإِن كَانَ طَآئِفَةٞ مِّنكُمۡ ءَامَنُواْ بِٱلَّذِيٓ أُرۡسِلۡتُ بِهِۦ وَطَآئِفَةٞ لَّمۡ يُؤۡمِنُواْ فَٱصۡبِرُواْ حَتَّىٰ يَحۡكُمَ ٱللَّهُ بَيۡنَنَاۚ وَهُوَ خَيۡرُ ٱلۡحَٰكِمِينَ ﴿٨٧﴾ ۞قَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ ٱسۡتَكۡبَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَنُخۡرِجَنَّكَ يَٰشُعَيۡبُ وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مَعَكَ مِن قَرۡيَتِنَآ أَوۡ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۚ قَالَ أَوَلَوۡ كُنَّا كَٰرِهِينَ ﴿٨٨﴾ قَدِ ٱفۡتَرَيۡنَا عَلَى ٱللَّهِ كَذِبًا إِنۡ عُدۡنَا فِي مِلَّتِكُم بَعۡدَ إِذۡ نَجَّىٰنَا ٱللَّهُ مِنۡهَاۚ وَمَا يَكُونُ لَنَآ أَن نَّعُودَ فِيهَآ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّنَاۚ وَسِعَ رَبُّنَا كُلَّ شَيۡءٍ عِلۡمًاۚ عَلَى ٱللَّهِ تَوَكَّلۡنَاۚ رَبَّنَا ٱفۡتَحۡ بَيۡنَنَا وَبَيۡنَ قَوۡمِنَا بِٱلۡحَقِّ وَأَنتَ خَيۡرُ ٱلۡفَٰتِحِينَ ﴿٨٩﴾ وَقَالَ ٱلۡمَلَأُ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ مِن قَوۡمِهِۦ لَئِنِ ٱتَّبَعۡتُمۡ شُعَيۡبًا إِنَّكُمۡ إِذٗا لَّخَٰسِرُونَ ﴿٩٠﴾﴾ [الأعراف: ۸۵-۹۰].

ژباړه: «او د مدین اوسېدونکو ته موږ د هغو ورور شعیب ولېږی. هغه وویل: ای زما قومه! د لوی څښتن بنده ګي وکړئ. له هغه پرته ستاسي هيڅ بل خدای نسته. تاسي ته ستاسي د رب څرګنده لارښوونه راغلې ده، نو تله او پیمانه پوره کوئ. خلکو ته د هغو په شیانو کي تاوان مه اړوئ. او په مځکه کي د هغې تر سمون وروسته وراني مه کوئ. په دې کي ستاسي ښېګڼه ده. که یې تاسي ومنئ. او پر هره لار د شکوني لپاره مه کښېنئ، چي خلک وبېروئ. مومنان د لوی څښتن له لاري مه منع کوئ. او د سمي لاري د کږولو په هڅه کي مه اوسئ. هغه مهال درپه زړه کړئ او په غړېدلو سترګو وګورئ چي په نړئ کي ورانوونکي په کوم برخلیک اخته سوي دي. که له تاسي څخه یوه ډله پر هغه لارښوونه چي زه په لېږل سوی یم ایمان راوړي او بله ایمان را نه وړي، نو په صبر سره سترګي پر لار اوسئ، څو لوی څښتن زموږ په منځ کي پرېکړه وکړي او هغه تر هر چا ښه پرېکړه کوونکی دی. د هغه د قوم مشرانو چي په لويي او مغروري اخته وه هغه ته وویل چي ای شعیبه! موږ به تا او هغه خلک چي ستا سره يې ايمان راوړی دی له خپلي سيمي څخه وباسو او يا به بېرته زموږ ملت ته را اوښتونکي یاست. شعیب جواب ورکړ: آیا موږ به په زور واړول سو، که زموږ خوښه هم نه وي؟ که موږ بېرته ستاسي ملت ته دروګرځو موږ به په لوی څښتن پوري درواغ تړونکي يو. کله چي لوی څښتن له هغه څخه موږ ته ژغورنه را په برخه کړې ده. موږ ته خو هغه لوري ته ورګرځېدل هيڅ امکان نه لري. مګر داچي زموږ د رب همداسي خوښه سي. زموږ د رب علم پر هر څه په پراخه توګه چا پېر دی او پر

هغه موږ اعتماد کړی دی. ای پروردګاره! زموږ او زموږ د قوم په منځ کې په حقه پرېکړه وکړه او ته ډېر ښه پرېکړه کوونکی یې. د هغه د قوم مشرانو چې د هغه د خبرې له منلو څخه یې انکار کړی وو په خپلو کې سره وویل: که تاسې د شعیب پیروي ومنل نو تباه به سئ».

## د ظلم انجام:

د حضرت شعیبعليه‌السلام او د هغه د ولس تر منځ د دې شخړو او د دې نافرمانه قوم لخوا د حق نه منلو او د باطلو د پیروۍ پایله دا سوه چې د لوی څښتن نه بدلېدونکې سنت پلی سو. د دغو جرایمو، ورک لاریو، سرکښیو او ظلمونو جزا په داسې سخت او دردناک عذاب سره ورکړه سوه چې د نورو ولسونو د عبرت درس وګرځېده. په دې هکله دې قرآني مرغلرو ته پام وکړئ:
﴿فَأَخَذَتْهُمُ ٱلرَّجْفَةُ فَأَصْبَحُوا۟ فِى دَارِهِمْ جَٰثِمِينَ ۝٩١ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ شُعَيْبًا كَأَن لَّمْ يَغْنَوْا۟ فِيهَا ۚ ٱلَّذِينَ كَذَّبُوا۟ شُعَيْبًا كَانُوا۟ هُمُ ٱلْخَٰسِرِينَ ۝٩٢ فَتَوَلَّىٰ عَنْهُمْ وَقَالَ يَٰقَوْمِ لَقَدْ أَبْلَغْتُكُمْ رِسَٰلَٰتِ رَبِّى وَنَصَحْتُ لَكُمْ ۖ فَكَيْفَ ءَاسَىٰ عَلَىٰ قَوْمٍ كَٰفِرِينَ ۝٩٣﴾ [الأعراف: ۹۱-۹۳].

ژباړه: «هغوی یوه لړزوونکې آفت ونیول (ټکه پر ولوېده او زلزله پر وسوه) او په خپلو کورونو کې پړ مخې نسکور پرېوتل. کومو خلکو چې شعیب دروغجن وګاڼه داسې له منځه ولاړل چې ته به وایې هیڅکله په هغو کورونو کې نه وه اوسېدلي، هماغه د شعیب درواغ ګڼونکي په پای کې پوپنا سول او شعیب په دې وینا کولو سره د هغو له سیمې څخه ووتی چې ای زما قومه! ما د خپل رب پیغامونه تاسې ته ورسول او ستاسې سره مې د خواخوږۍ حق ادا کړ. اوس زه څنګه پر هغه قوم افسوس وکړم چې د حق له منلو څخه انکار کوي».

## حضرت شعیبعليه‌السلام او د اسلام سره د ایکه والودښمني

کله چې د مدین خلک پوپنا سول او شعیبعليه‌السلام او پیروان یې وژغورل سول، لوی څښتن لار ښوونه ورته وکړه چې د «ایکه» نومې ځای خلک د لوی

ځښتن لاري ته وبولي. دغه ځای د اوسني تبوک پر ځای مدین ته نژدې پروت وو چي خلک یې د مدین په پرتله غیر متمدن وه. خو هغو د شعیبعليه السلام بلنه ونه منل او هغه یې دروغجن وباله او دښمني یې ورسره را واخیسته.

﴿كَذَّبَ أَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِ ٱلۡمُرۡسَلِينَ ۝١٧٦ إِذۡ قَالَ لَهُمۡ شُعَيۡبٌ أَلَا تَتَّقُونَ ۝١٧٧ إِنِّي لَكُمۡ رَسُولٌ أَمِينٞ ۝١٧٨ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُونِ ۝١٧٩ وَمَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٍۖ إِنۡ أَجۡرِيَ إِلَّا عَلَىٰ رَبِّ ٱلۡعَٰلَمِينَ ۝١٨٠ ۞أَوۡفُواْ ٱلۡكَيۡلَ وَلَا تَكُونُواْ مِنَ ٱلۡمُخۡسِرِينَ ۝١٨١ وَزِنُواْ بِٱلۡقِسۡطَاسِ ٱلۡمُسۡتَقِيمِ ۝١٨٢ وَلَا تَبۡخَسُواْ ٱلنَّاسَ أَشۡيَآءَهُمۡ وَلَا تَعۡثَوۡاْ فِي ٱلۡأَرۡضِ مُفۡسِدِينَ ۝١٨٣ وَٱتَّقُواْ ٱلَّذِي خَلَقَكُمۡ وَٱلۡجِبِلَّةَ ٱلۡأَوَّلِينَ ۝١٨٤ قَالُوٓاْ إِنَّمَآ أَنتَ مِنَ ٱلۡمُسَحَّرِينَ ۝١٨٥ وَمَآ أَنتَ إِلَّا بَشَرٞ مِّثۡلُنَا وَإِن نَّظُنُّكَ لَمِنَ ٱلۡكَٰذِبِينَ ۝١٨٦ فَأَسۡقِطۡ عَلَيۡنَا كِسَفٗا مِّنَ ٱلسَّمَآءِ إِن كُنتَ مِنَ ٱلصَّٰدِقِينَ ۝١٨٧ قَالَ رَبِّيٓ أَعۡلَمُ بِمَا تَعۡمَلُونَ ۝١٨٨﴾ [الشعراء: ۱۷۶-۱۸۸].

ژباړه: «د ایکه (دګڼ ځنګله خاوندانو) پیغمبران دروغجن وګڼل. هغه مهال یاد کړه چي شعیب هغو ته ویلي وه: آیا تاسي نه بېرېږئ، زه تاسي ته یو امانتګر پیغمبر یم. نو تاسي له لوی ځښتن څخه وبېرېږئ او زما اطاعت وکړئ. زه پر دې کار باندي له تاسي څخه څه اجر نه غواړم. زما اجر خو د رب العالمین پر ذمه دی. پیمانې ښه ډکوئ او چاته زیان مه اړوئ. په سم ترازو تول کوئ. او خلکو ته د هغو شیان کم مه ورکوئ. په مځکه کي فساد مه خپروئ. له هغه ذاته وبېرېږئ چي تاسي او پخواني توکمونه یې پیدا کړي دي. هغو وویل: په تا کوډي سوي دي. ته نور هیڅ نه یې مګر زموږ غوندي یو انسان او موږ خو تا بېخي دروغجن ګڼو. که ته رشتینی یې نو پر موږ باندي د آسمان یوه ټوټه راوغورځوه. شعیب وویل: زما پروردګار په هغه څه پوهیږي چي تاسي یې کوئ».

## د ایکه والو پوپنا کېده:

د ځینو روایاتو سره سم لوی ځښتن پر اصحاب الایکه باندي تـر اوو ورځـو پوري سخته تودوښه مسلطه کړه. بیا د اوریځي یو سیوری راغی او دوی ټول د تودوښي له سختوالي څخه د ژغورني لپاره تر دغي سایې لانـدي را ټـول سـول او د هوسایی څه سا یې واخیسته. خو څو شېبې وروسته له آسمان څخه د اور

لمبې په اورېدو سوې. مځکه ورېږدېده او يوې سختي ټکي هغوی د تل لپاره د مرګ په خوب بیده کړل.

﴿فَكَذَّبُوهُ فَأَخَذَهُمْ عَذَابُ يَوْمِ ٱلظُّلَّةِۚ إِنَّهُۥ كَانَ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ﴿١٨٩﴾ إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَأٓيَةًۖ وَمَا كَانَ أَكْثَرُهُم مُّؤْمِنِينَ ﴿١٩٠﴾ وَإِنَّ رَبَّكَ لَهُوَ ٱلْعَزِيزُ ٱلرَّحِيمُ ﴿١٩١﴾﴾ [الشعراء: ۱۸۹-۱۹۱].

ژباړه: «هغو دی دروغجن وګڼانه په پای کي پر هغو باندي د چترۍ ورځي عذاب راغی او هغه د بېرووونکي ورځي عذاب وو. په یقین سره په دې کي یوه نښانه ده. خو له هغو څخه زیاتره منونکي نه دي. او حقیقت دادی چي ستا رب برلاسی هم دی او خورا مهربان هم».

## یوسف﷣ او د مصر دښمنو واکمنو عیاشۍ او ظلمونه

لکه چي په مخکنیو پاڼو کي مو وویل حضرت ابراهیم﷣ «د حران عرفې» ته په نژدې سیمه کي زیږېدلی دی. چي بیا په کنعان (اوسني فلسطین) کي مېشت سو او هلته وفات سو. د ده له زوی حضرت اسحاق﷣ څخه حضرت یعقوب﷣ وزیږېدی. لکه چي پوهیږو یعقوب﷣ ته اسرائیل هم وایي چي معنا یې په عبراني ژبه د لوی څښتن غوره کړی سوی یا د خدای بنده؛ د عبد الله مترادف ده. څنګه چي د حضرت یعقوب﷣ ورور «عیسو» (العیص) د دنیوي عیش سره زیاته مینه درلوده پر ده باندي په یوه سبب په غوسه سو. له دې امله یعقوب﷣ «حران» ته ولاړ. هلته د دوو مېرمنو خاوند سو او د هغو دوې مینځې یې هم واده کړې. له دغو څلورو مېرمنو څخه یې دوولس اولاده پیدا سوه، چي حضرت یوسف او بنیامین د ده له هغې مېرمني څخه وزیږېده چي مینځه نه وه. په دې توګه بني اسرائیل د ده د دوولسو زامنو اولاده ده. البته د ده په زامنو کي یوازي حضرت یوسف﷣ د لوی څښتن پیغمبر وو. وروسته یعقوب﷣ بیرته کنعان ته ولاړ. څنګه چي د یعقوب﷣ تر تلو وروسته عیسو ځان د پلار (اسحاق﷣) د ټول جایداد وارث ګاڼه نو د یعقوب﷣ په بیرته ور ستنېدو سره اندېښنه ور ولاړه سوه چي دغه شته او جایداد به راڅخه واخلي. نو هغه وو چي عیسو د څلورو سوو تنو سره د ده مقابلې ته چمتو سو. یعقوب﷣ چي له دې خبري وبېرېدی د څو تنو په لاس یې عیسو ته د سولې پیغام او یو غټ سوغات ورواستاوه. په دې توګه د دوی تر منځ سوله وسوه او یعقوب﷣ د حبرون په ښار کي مېشت سو.

د قرآن کریم د کیسې سره سم د یوسف﷣ ورونو ده ته توطئه جوړه کړه او د کنعان څا ته یې واچاوه. خو هغه مصر ته تلونکو کاروانیانو له څا څخه راوکیښ او په مصر کي یې د هیکسوس واکمنو د یوه پاچا پر لومړي وزیر عزیز باندي خرڅ کړ. لومړي وزیر هغه په خپل کور کي استخدام کړ. څنګه چي دی ډېر ښکلی ځوان وو، د وزیر ځواني او ښایستې مېرمني زلیخا زړه پر

پایلود او ځان ته د هغه د توجه د جلبولو په لټه کې سوه. پای خبره دې ته ورسېده چې د کور وروته یې وتړل او یوسفﷺ یې عیاشۍ او عشق بازۍ ته وباله. د خپل بدن ښکلا یې ور ته لڅه کړه او ورته ویې ویل راوړاندې سه ما ځان درته سینګار کړی دی. خو یوسف له دې بد کار او خیانت څخه ډډه وکړه. اما زلیخا پرې نه ښود. یوسفﷺ د تېښتې هڅه وکړه، هغې د شا لخوا کمیس ځنې کش کړ، چې د کشولو له امله څیري او پرې سو. دغه مهال وزیر پر راغی. زلیخا ورته وویل یوسف زما سره د بدکار کولو نیت درلود، او د هغه د بندي کولو غوښتنه یې ځنې وکړه. یوسفﷺ له ځانه دفاع وکړه. دغه مهال د زلیخا یوه خپل چې له پېښې خبر سو، وویل: که د یوسف کمیس د مخ لخوا څیري سوی وي د زلیخا تومت رشتیا دی او که کمیس د شا لخوا څیري سوی وي نو دا د دې معنا لري چې یوسف تښتېدی او زلیخا ورحمله کړې دي. کله چې مېړه ولیدل چې د یوسفﷺ کمیس د شا له لوري شلېدلی دی ویې ویل: دا ستاسې ښځو مکرونه دي او ستاسې چلونه ډېر زیات دي. بیا وزیر یوسفﷺ ته وویل: تر دې خبرې تېر سه او پټه یې کړه. او مېرمنې ته یې وویل: ته هم له خدایه بخښنه وغواړه، ګنهګاره ته یې.

## د اشرافو د ښځو مکر:

پر یوسفﷺ باندې د زلیخا د زړه بایللو خبره د عزیز له کوره د باندې ووته او د اشرافو او لوړ رتبه چارواکو د ښځو یوې ډلې ته ورسېده. هغو په خپلو منځو کې وویل چې د عزیز مېرمن پر خپل نوکر مینه سوې ده او هغه یې د دې سره بد لمنۍ ته اړ ایستلی وو، چې د یوه لوی چارواکي د ښځې لخوا د یوه رانیول سوي عبراني نوکر سره دغسې کار وړ نه دی. دغه خبرې زلیخا ته ورسیدې. هغې دغه ښځې مېلمنې کړې، سترخان یې ورته اوار کړ او د دود سره سم یې د غوښو او نورو خوړو د پرې کولو او بېلولو او میوو پوستولو لپاره د هرې یوې مخ ته ځانګړې چړې کښېښوولې. کله چې هغو په ډوډۍ خوړلو پیل وکړ یوسف یې را وغوښت. هغوی د یوسف زښتې زیاتې ښکلا ته اریانې پاته سوې او د اریانتیا په حال کې یې په چړو خپل لاسونه غوڅ او وینې کړل

او بې اختیاره یې وویل: دا خو بشر نه دی، بلکې دا یوه ښکلې فرشته ده. د لومړي وزیر مېرمنې وویل دا هغه څوک دی چې تاسې یې په اړه پر ما باندې بد ویل. بیا یې خپله لېونۍ مینه څرګنده کړه او ویې ویل: اوس هم که دی زما خبر ونه مني نو بندي به سي او وبه زورېږي.

د اشرافو ښځو یوسف علیه السلام په ډول ډول خبرو او مکرونو وهڅاوه چې د زلیخا سره بد کارۍ ته تن ورکړي او له زوروني او زندان څخه وژغورل سي. خو یوسف علیه السلام د زلیخا او نورو ښځو خبري هیڅ ونه منلې او ویې ویل: ای زما ربه! د هغه کار تر کولو چې دوی مي وربولي ماته بندي خانه ډېره ښه ده. بیا عزیز او د هغه ډلي د رسوایی او د خلکو د بد ویلو له بېري د زلیخا په ګناه بې ګناه یوسف تورن کړ او ویې پتېیل چې د یوې مودې لپاره یې بندي کړي.

## یوسف علیه السلام د ظالمانو په بند کي:

کله چي یې یوسف علیه السلام زندان ته واچاوه، له یوې خوا خوابدی وو او له بله پلوه خوښ وو. خوابدی په دې وو چي دغسي فحاشو او عیاشو عناصرو بې ګناه په ظالمانه توګه بندي کړ. ضمناً د دې خبرو له بدنامۍ څخه په چورت کي وو او فکر یې کاوه چي کوم کسان چي له حقیقته نه دي خبر بد به پر وایي. خو څنګه چي د دغسي چا له کوره وتلی وو او په ګناه نه سو ککړ خوشاله وو.

د یوسف علیه السلام سره د پاچایي دربار دوه تنه نور هم بندیان سول. له هغو څخه یو د پاچا د ساقیانو رئیس او بل د آشپزانو رئیس وو. د تلمود د وینا سره سم دا دواړه پاچا په دې ګناه بندیان کړي وه چي د یوې مېلمستیا په وخت کي په ډوډیو کي شګي پیدا سوي وې او د شرابو په یوه پیک (ګیلاس) کي مچ لوېدلی وو. خو ځیني نور روایتونه وایي چي دوی د پاچا پر ضد د توطئې په تور بندیان سوي وه. په هر صورت یو وخت هغو خوبونه لیدلي وه او یوسف علیه السلام ور تعبیر کړي وه. یوه ته یې ویلي وه چي ته به خوشي سې او بل ته یې ویلي وه چي ته به په دار وځړول سې. چي بیا دغسي وسول.

بیا پاچا خوب ولید. خو تعبیر کوونکو یې سم تعبیر ونه کړای سو. د ساقیانو رئیس چي له زندان څخه خوشي سوی وو پاچا ته وویل چي ستا د

خوب تعبير يوسف کولای سي. هغه دی يوسف ته ولېږی. يوسف يې تعبير ورکړ. د پاچا د ده تعبير ډېر خوښ سو او د هغه د ايله کولو او په دربار کې د هغه د ګومارلو امر يې وکړ. خو حضرت يوسف‌ علیه‌السلام تر هر څه د مخه د خپل جرم د څېړلو غوښتنه وکړه. د څېړني په بهير کې د اشرافو ښځو او زليخا د پاچا په مخ کې اقرار وکړ چې: موږ په هغه کې هيڅ بدي ونه ليدل. زليخا وويل: اوس چې حق څرګند سو نو زه هم وايم چې ما د هغه د مينې د راجلبولو هڅه کړې وه، هغه رشتينی دی. دا کيسه ډېره اوږده ده قرآن کريم په ډېره ښه او ښکلې توګه بيان کړې ده.

بالاخره يوسف‌ علیه‌السلام د پاچا لخوا لومړی وزير او پر مالي چارو او خزانو باندې واکمن وټاکل سو او ډېر اختيارات ورته ور کړل سوه. وايي چې د مصر پخوانی عزيز يې له کاره ګوښه کړ او ځيني وايي چې مړ سوی وو. خو دا خبرې چې زليخا ايمان راوړ او يوسف په نکاح کړه، څه اصل نه لري. بيا يعقوب‌ علیه‌السلام او د ده وروڼه او د دوی نور اړوند کسان چې د ټولو شمېر د اويا تنو په شاوخوا کې وو له کنعان څخه مصر ته ورغله او هلته مېشت سول. چې بيا يعقوب‌ علیه‌السلام او ورپسې يوسف‌ علیه‌السلام هلته وفات سول (يعقوب‌ علیه‌السلام د ده د وصيت سره سم د فلسطين د الخليل په مکپيله غار کې خاورو ته وسپارل سو. يوسف‌ علیه‌السلام هم په دغه ځای کې دفن سوی دی. د ده يو يادګار په نابلس (سکم) کې دی او بل يې د سوريې «قلمون» ته په نژدې کلي «نبک» کې دی). بيا د نورو بني اسرائيلو شمېر زيات سو. خو د مهالونو په تېرېدو سره د هغو اخلاق فاسد سول. د لوی څښتن لور ته يې بلنه پرېښوول او يوازې په دنيايي چارو اخته سول. خلکو هم په پخوانۍ سترګه نه ورته کتل. يوازې په نسب له نورو بېل وه خو نور کټ مټ د نورو خلکو په شان سول. بيا په مصر کې د واک په بدلون او د قبطي فرعونانو په واکمن کېدو سره، په تېره د دوهم رعمسيس او منفته فرعونانو په وختو کې د سترو کړاوونو سره مخامخ سول.

## په دې کیسه کې د دغه مهال د عیاشۍ انځور:

په دې کیسه کې له شتو، سوکالۍ او واک څخه د برخمنو عیاشو او بې بندوبارو فاسدو واکمنو او شتمنو د ماڼیو، کورنیو، چاپېریال اوطبیعتونو او اخلاقو انځور کښل سوی دی. د مصر یو لوړ چارواکی یوسف ﷺ غوندې ښکلی او نوی پر ځواني راغلی ځوان په خپل کور کې د خپلې ښایستې مېرمنې سره ایله کوي. په دغسې عیاش چاپېریال کې له اوسېدونکو مېرمنو څخه زلیخا شرم او حیا هیڅ نه پېژني او خپل مستخدم د ځان سره عیاشۍ او بدلمنۍ ته اړباسي. مېړه یې په خبرېږي او د دې په ګناه او خیانت پوهیږي، خو بس دونه کوي چې یوسف ﷺ ته وایي چې: «تر دې خبرې تېر سه او پټه یې کړه». او خپله مېرمن مازې ملامتوي او ورته واي چې: «ته هم له خدایه بخښنه وغواړه، ګنهګاره ته یې» اوبس!!

نورو عیاشو ښځو ته چې خبر رسیږي زلیخا یوه لویه مېلمستیا ورته کوي، هغوی هم چې یوسف ویني زړونه پربایلی او په خپلو کړو وړو سره مني چې په رشتیا سره له هغو څخه هرې یوې باید په دغسې حالاتو کې هغه څه کړې وای چې زلیخا وکړل.

نو د دې مېلمستیا او د دې ښځو د دې خبرو او قضاوت پر مهال د زلیخا مېړه چیرې وو؟ آیا هغه په دې خبرو خبر سوی وو که څنګه؟ بیا د عزیز مېرمنې ته هیڅ شرم نه درېږي او د دغو ښځو په مخ کې یوسف ته ګواښ کوي چې که د هغې نفسي او شهواني غوښتنې پوره نه کړي، نو هغه به محبس ته ولېږي. بیا عزیز د خلکو د بد ویلو له بېرې خپل تر لاس لاندې بې ګناه انسان، چې د ده او د ده د ناموس او عفت په هکله یې له صداقت او امانت څخه کار اخیستی وو، تورنوي او د بندي خانې توروکوټو ته یې لېږي او په خپله مېرمن هیڅ نه کوي. په دې توګه پر وجدان پښه ایږدي، بې ګناه ګنهګار کوي او ګنهګار بې ګناه کوي، باطل حق کوي او حق باطل ایسوي او د حقیقت او عدالت د هیڅ اصل او قانون پیروي نه کوي.

دا هرڅه د دغسې فاسدو عناصرو او د پر دو تر شا د هغو د ککړ ماهیت څرګندونه کوي او په عین حال کې دا ښیي چې دغسې توکي د ظاهري ساز

وباز او د دموکراسۍ او د بشر د حقوقو د ننګې او داسې ډېرو نورو دعوو په خلاف تر دې کچې له ظلمه مخ نه اړوي چې يوسف غوندې څرګند بې ګناه وګړي په ډېره بې مسؤوليتۍ سره زندان ته اچوي.

البته دا څه نوي او د اوسمهال خبري نه دي. د ظالمو او طاغوتي واکمنو په تېر کې له ډېره مهاله تر اوسه دا خبرې راروانې دي. خو داخبرې اوسمهال په امريکا، اروپا او د هغو په ختيزو تقليد کوونکو ظالمانو او عياشانو کې بېخي ډېرې سوې او خپل اوج ته رسېدلې دي. د دې خبرو بله چاره نسته بېله دې چې د عفت، سپېڅلتيا او الهي عدالت پلويان رشتياني مسلمانان يې پر ضد پرله پسې، هر اړخيزې او نه ستړې کېدونکې مبارزې وکړي او د دغو ظالمو فحاشانو او عياشانو د ککړتياوو ظلمونو او درواغو اوږده داستان ته د پای ټکی کښېږدي. د يادولو وړ ده چې اوس داسې ښکاري چې د لوی څښتن داسې خوښه سوې ده چې د دوی د دې نادودو د اوږده طومار د ورټولېدو مهال ډېر نژدې سوی دی. لوی څښتنﷻ دې نور هم نژدې کړي، آمين.

# حضرت موسی علیه السلام او د اسلام سره د فرعونیانو دښمني

د مصر په پخواني تاریخ کي پنځلسمه واکمنه کورنۍ د شپنو (هیکسوس) پاچهانو په نامه یادیږي. دوی له فلسطین او شام څخه مصر ته تللي وه او د تفهیم القرآن د ۲/ ٥٤٤ مخ د یادونو سره سم تر مسیح علیه السلام شاوخوا دوه زره کاله د مخه یې د مصر سلطنت نیولی وو. لکه چي په مخکنیو پاڼو کي مو وویل د دوی په پېر کي حضرت یوسف علیه السلام ته د لوړتیا ترلاسه کېدو موکه په لاس ورغله او بیا د ده وروڼه بني اسرائیل د مصر په ډېره حاصل ورکوونکې سیمه کي (د دمیاط او قاهرې تر منځ) مېشت سول او هلته یې ستر رسوخ او نفوذ وموند. د دغي واکمنۍ په پېر کي د قدرت ټولي واګي د بني اسرائیلو په لاس کي وې. بیا چي د قبطي قوم ډېري متعصبي کورنۍ د قدرت واګي په لاس کي واخیستې پر بني اسرائیلو یې د هغو ظلمونو لړۍ پیل کړه چي قرآن کریم یې د حضرت موسی علیه السلام په کیسه کي یادونه کړې ده. د دغي کورنۍ دهري او د لوی څښتن جل جلاله او معنویت نه منونکو واکمنو ته یې فرعون ویل. چي معنا یې ده د لمر د خیالي معبود اولاد. له دغه مهاله به هر واکمن ځان ته د فرعون لقب غوره کاوه او خپل قوم ته به یې ښوول چي زه ستاسي لوی رب یم. دغو فرعونانو بني اسرائیل په ډول ډول عذابونو زورول؛ د هغو هلکان به یې وژل او نجوني به یې پرېښوولې؛ ځوانان یې مریان کول او ټیټو کارونو ته به یې ګومارل. تر دې چي د دې ظلمونو له امله د بني اسرائیلو بوډاګان ډېر ژر مړه کېدل او خبره تر دې ورسېده چي مصریانو د کارکولو سړي نه درلوده.

حضرت موسی علیه السلام دغه د لوی څښتن په امر د مصریانو له اسارت څخه د بني اسرائیلو ژغورونکی د فرعونانو د دوهم رعمسیس د واکمنۍ پر مهال وزیږېدی. وایي چي دغه فرعون خوب ولیدی چي د شام لخوا اور راځي او مصر او د هغه ځای خلک سوځي، خو بني اسرائیلو ته ضرر نه رسوي. تعبیر کوونکو فرعون ته وویل چي په بني اسرائیلو کي به یو کوچنی وزیږي چي ستاسي واکمني به ختمه کړي او ستاسي قوم به له دې ځایه وباسي او د زیږېدو

مهال يې هم نژدې دی. نو هغه وو چې فرعون امر وکړ چې د بني اسرائيلو هر نارينه زېږېدونکی وژنئ. د موسیؑ مور هغه په پټه وزېږاوه او بيا يې هغه د خدایﷻ په امر په يوه ټوکرۍ يا صندوخچه کي د نيل سيند ته واچاوه. دغه ټوکرۍ سيند د فرعون حرمسرای ته نژدې پساو کړه، کوچنی د فرعون مېرمني آسيې لاس ته ورغی، هغه يې د جلادانو له وژني وژغورى او فرعون ته يې زارۍ وکړې چې دا ډېر ښايسته کوچنی دی، مه يې وژنه هغه هم ورسره ومنل او د هغه نوم يې موسی (په عبري ژبه موشه له اوبو څخه راکښل سوی، کښېښود). موسیؑ د دغه فرعون په کور کي لوی سو. د فرعون په کور کي د ده د روزني يادوني په قرآن کريم کي سوي دي. کله چې موسیؑ لويښت ته ورسېد پوه سو چې دی له بني اسرائيلو څخه دی چې د فرعونيانو له ظلمونو څخه کړيږي. ده د خپل قوم بني اسرائيلو سره مينه درلوده او هغو هم د ده دغه محبت او لورېينه درک کړې وه. نو کله چې به هغو ته څه ضرر رسېدی ده ته به يې مراجعه کول او ده به مرسته ورسره کول. تر دې چې په دې لار کي يې ډېري ستونزي او کړاوونه وګالل. په دې لړ کي يې يوه ورځ يو ځای وليدل چې يو مصری (قبطي) او يو اسرائيلی يو له بله په جګړه اخته دي. مصری غښتلی، ظالم او تېری کوونکی وو. اسرائيلی بې وزلی وو او د مرستي غوښتنه يې کول. موسیؑ ور وړاندي سو چې بوګانښ يې وکړي او مظلوم له ظالمه وژغوري. خو داسي پېښه سوه چې هغه ظالم مصری يې ټينګه چپلاخه وواهه او ځای پر ځای مړ سو. موسیؑ ډېر خفه سو، خپلي تېروتني ته متوجه سو او له خپل دې عمله او د شيطان له وسوسو څخه يې لوی څښتن ته پناه ورووړه. پر خپلو کړو پښېمانه سو او له خدای څخه يې د بخښني غوښتنه وکړه.

بله ورځ په داسي حال کي چې د دغي پېښي له امله په بېره او وارخطايي کي ګرځېدی د يوې بلي پېښي سره مخامخ سو. هماغه اسرائيلی يې بيا د يوه بل چا سره د جنګ په حال کي وليد. موسیؑ هغه ته په ګمراه وويل، خو بيايې هم وغوښتل چې مرسته ورسره وکړي. اما اسرائيلی ځني وبېرېدی او ګومان يې وکړ چې وژني مي. ځکه نو ځني وويل سول چې پرون دي هغه بل وواژه

نن ماوژنې؟ د فرعون وګړي چي په وژونکي پسي ګرځېدل يوه سول چي وژونکی موسیؑ دی. خبره فرعون ته ورسېده، فرعون ډېر په قهر سو. په دې حال کي ور په زړه سوه چي ښايي دا هغه څوک وي چي ستورپوهانو (منجمانو) ورته ويلي وه چي په مصر کي به اوښتون راولي او د فرعوانانو واکمنی ته به د پای ټکی ږدي. سمدستي يې جلادان د چړو سره پسي واستول. خو لوی څښتن موسیؑ ځني وژغوری، يوه سړي خبر ورکړ چي فرعون دي د وژلو پلان جوړ کړی دی، ژر وتښته. موسیؑ سمدستي وتښتېدی او ويې ويل:

﴿رَبِّ نَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢١﴾ [القصص: ۲۱].

«ای زما پروردګاره! ما د ظالمانو له ډلي وژغوره».

## د مدين پر لور:

موسیؑ بېله څه توښې، ان لڅي پښې د مدين پر لور وخوځېد. کله چي د مدين د خلکو د اوبه خور يوه ځای ته ورسېدی، ويې ليدل چي خلک خپلو څارويو ته اوبه ورکوي او هر څوک کو ښښ کوي چي وار دمخه کړي. څه ليري يې دوې ښځي وليدلې چي د پسونو رمه يې درولې ده او انتظار باسي چي نور خلک ولاړ سي بيا دوی خپل پسونه اوبه کړي.

موسیؑ پوښتنه ځني وکړه. هغو ورته وويل چي موږ خو ښځي يو، د دوی سره زور نه سو وهلای او داسي څوک نسته چي زموږ د پسونو په ژر اوبولو کي زموږ سره مرسته وکړي او پلار مو هم سپين ږيری دی. د دې خبرو په اورېدو سره موسیؑ د هغو مرستي ته ورودانګل. خلک يې ګوښه او ايسته کړل او پسونه يې اوبه کړل. څنګه چي دغه ښځي کور ته ورسېدې، پلار يې د ژر ستنېدو لامل ځني وپوښت. هغو کيسه ورته وکړه. پلار يوه لور په موسیؑ پسي ولېږل چي کور ته يې راولي.

## موسیؑ د سپين ږيري سړي په کور کي:

سپین ږیری زموږ د مهال د خلکو غوندي نه وو چې د دغسې احسان په هکله هیڅ ری ونه وهي او په خپل کور کي خو لاځه چې د خدای په کور (مسجد) کي يې لا پرې نه ږدي. هغه موسیٰ ته د یوه احسان کوونکي پردېس مېلمه په سترګه وکتل او ښه عزت يې ورکړ. له هغه څخه يې د احوال پوښتنه وکړه. هغه د فرعون او د هغه د درباریانو د دسیسې او د لاري د ستونزو په هکله معلومات ورکړه. سپین ږ یري ډاډ ورکړ او ور ته ويې ویل:

﴿لَا تَخَفْۖ نَجَوْتَ مِنَ ٱلْقَوْمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ٢٥﴾ [القصص: ٢٥].

«اوس هیڅ مه بېرېږه ته نور له ظالمانو ژغورل سوی يې».

په دې توګه موسیٰ هلته د آرامۍ، سکون او اطمینان ځای پیدا کړ.

## د احسان او ښېګڼې بدله:

د سپین ږیري یوې لور پلار ته وویل: دا ډېر غښتلی او امین سړی دی او زموږ سره يې احسان کړی دی، ځکه نو دی د نوکر په توګه ونیسه. پلار موسیٰ ته وویل چې زه به له دغو لوڼو څخه یوه درکړم ته اته کاله مرسته راسره وکړه او که لس کاله مرسته راسره وکړې دا به ستا نېکي وي. موسیٰ ومنل. د سپین ږیري د لور سره يې واده وکړ. پرلس کاله سربېره يې نور لس کاله هم ورسره تېرکړه. وروسته د خپلي مېرمني سره مصر ته د تلو په نیت وخوځېد. مفسرین وايي چې مصر ته د موسیٰ سفر د لوی څښتن په امر له ظلم څخه د بني اسرائیلو د ژغورني په موخه وو. هغه په دې سفر کي لار ورکه کړه، خو ډېر ژر يې د شپې د طور غره خوا ته اور ولید. څنګه چې هوا ډېره سړه وه خپل سامان يې کښېښود او خپلي مېرمني ته يې وویل چې ښایي دغه د اور رڼا وي. زه به ورسم ګوندي څه اور درته راوړم چې په توده سې.

## د موسیٰ د نبوت پیل:

کله چې موسیٰ د اور ځای ته ورسېدی په ونه کي يې رڼا ولیدل. بیا د لوی څښتن له لوري ږغ پر وسو:

﴿إِنِّيٓ أَنَا۠ رَبُّكَ فَٱخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِٱلْوَادِ ٱلْمُقَدَّسِ طُوًى ١٢﴾ [طه: ١٢].

«زه ستا رب یم، څپلی دي وباسه، ته د طوی په سپېڅلې ناوه کي یې».

دغه مهال موسی علیه السلام ته د نبوت منصب ورکړه سو او په دغه ځای کي چي د طور سینا غره ته نژدې دی لوی څښتن خبري ورسره وکړې او د ده د لکړي د مار کېدو او د لاس د نوراني کېدو معجزې یې ور وبخښلې او دنده یې ورکړه چي تر ټولو ستر دهري او له لوی څښتن او معنویاتو منکر فرعون ته ور سي او دی او د هغه قوم د لوی څښتن لوري ته وبولي. د حق آواز اوچت کړي او د ظلم او طغیان پر ضد مبارزه په لاره واچوي او خپل قوم ځني وژغوري. بیا لوی څښتن د ده په غوښتنه د رسالت د تبلیغ په چارو کي د ده ورور هارون د ده وزیر وټاکی.

## موسی علیه السلام فرعون ایمان ته بولي:

وایي چي دغه مهال دوهم رعمسیس مړسوی وو او د هغه زوی «منفته» نومی فرعون واکمن وو. موسی علیه السلام او ورور یې د دغه فرعون سره مقابلې ته چمتو سول. هغه ته ورغله څو په نرمه لهجه د لوی څښتن پیغام ور ورسوي، له الحاد او سرکښی یې راوګرځوي او د ده له ظلمه د بني اسرائیلو د ژغورني خبره ورته وکړي. د فرعون سره د خبرو پر مهال موسی علیه السلام ورته وویل: زه د لوی څښتن استازی یم، تاته د څرګندو نښانو سره رااستول سوی یم څو تا د خدای لوري ته وبولم او غوښتنه در څخه کوم چي زما قوم بني اسرائیل زما سره پرېږده چي یو لیري ځای یې بوزم او خدای ته یې وبولم.

فرعون په قهر سو. ورته ویې ویل ته زموږ په کورنۍ کي روزل سوی یې، له دې امله موږ پر تا ډېر حقوق لرو او بل تا یو مصری وژلی دی او بیا تښتېدلی یې. موسی علیه السلام یې په دې جواب خوله ورپټه کړه چي دغه خطا هغه مهال له ما څخه تر سره سوې ده چي زه له ګمرهانو څخه وم او په پیغمبرۍ نه وم مبعوث سوی. ما لوی څښتن ته رجوع وکړه د بخښني غوښتنه مي ځني وکړه او هغه زما تر دغه ګناه را تېر سو.

د موسی علیه السلام او فرعون تر منځ ډېري خبري وسوې، موسی علیه السلام د خپل نبوت د رشتینولۍ په هکله د هغه د لکړي د مار کېدو او د لاس د نوراني کېدو

معجزې ور وښولې. خو فرعون چې يو ملحد او دهري ساکښ وو او د خپلې مادي او دهري مفکورې پر بنسټ يې بېله دهريته بل څه نه منل او نه يې زړه ته لوېدل د هغه خبري ونه منلې او د هغه معجزې يې کوډې وګڼلې او د ده په مقابل کي يې د خپل هيواد له پياوړو ساحرانو څخه مرسته وغوښته، خو د ساحرانو هيڅ جادو کار ورنه کړ، بلکي د حق د سترتوب په وړاندي په سجده پرېوتل او ويې ويل:

﴿ءَامَنَّا بِرَبِّ هَٰرُونَ وَمُوسَىٰ ٧٠﴾ [طه: ٧٠].

«موږ د هارون او موسی پر رب ايمان راوړ».

فرعون نور هم په قهر سو او ساحران يې تهديد کړل او بيا يې هم له طغيان او سرکښۍ څخه لاس وانه خيست.

## د فرعون د قوم د مشرانو خبري:

د فرعون د قوم مشران او سپين ږيري هم زموږ د قوم د اوسمهال د ځينو مشرانو غوندي کور دماغه خلک وه. د حق د ليدلو وړتيا او د رشتيا ويلو مړانه يې نه درلوده. بلکي حق او باطل يې نه سوای سره بېلولای او ښې چاري يې تر سترګو فساد ښکارېدې. ځکه نو هغو دی نور هم د لوی ښښتن په وړاندي سرکښۍ او بغاوت ته وهڅاوه او ورته ويې ويل: آيا ته موسیعليه السلام او د هغه قوم پرېږدې چي په مځکه کي فساد وکړي او ستا او ستا د معبودانو له لمانځني سر وغړوي؟ بالاخره فرعون او د هغه د قوم غټانو وپتېيل چي حضرت موسیعليه السلام ووژني او په دې توګه خپل واک وساتي.

## د فرعون له قوم څخه د يوه مېړني سړي شجاعت:

لکه چي څرګنده ده په دغسي ټولنو کي د عقل او صاف دماغ خاوندان او مېړني انسانان هم پيدا کيږي. په داسي حال کي چي فرعونيانو د موسیعليه السلام د وژلو په باب تدبيرونه سنجول، د فرعون په قوم کي يوه سړي په مړانه او سالم منطق مناقشه وکړه او ور ته ويې ويل: داسي سړی څله وژنئ چي تاسي ته نېکمرغه او بسيا ژوند غواړي؟ او ولې له حق څخه سترګي پټوئ؟ که دا سړی

دروغ وايي، د ده دروغ خو تاسي ته څه ضرر نه رسوي. ځکه دی به يوازي په خپله ګناه ماخوذ وي، خو که رشتيا وايي او تاسي يې خبره نه منئ نو ستاسي د پوپنا کېدو لامل به سي. بيا نو ولي سر ټمبه ګي کوئ او له تېر تاريخ څخه درس نه اخلئ؟ خو دغسي فرعونان تر خپل ځان بل هوښيار کله ويني؟ او دغسي سرټمبه ګان او خود خواهان د دغسي هوښيارانو خبري کله اوري او کله يې مني؟ نور چي نه وي حسد خو يې پر جوش راځي او لکه زموږ د زمانې ځيني نيمچه عالمان چي د پوهو او حق ويونکو مبلغينو په هکله وايي چي عالم نه دی، مازي په تقرير يا ليکنه کي څه وړاندي دی او داسي دی او داسي دی!!

بالاخره دغه پوه مومن له دوی څخه نهيلی سو او خدای ته يې پناه يووړه. خدای تعالی هغه د دوی له شره وژغوره او پر فرعون او د هغه پر قوم يې خپل عذاب نازل کړ. لومړی پر دې ظالمو سرکښانو باندي د لوی ښتن د غضب او ګواښ يو لړ نښانې راغلې. پر دوی باندي چي به لوی ښتن څه غضب نازلاوه او موسی؈ ته به يې خبر ورکاوه، هغسي به کېدل. بيا به دوی له موسی؈ څخه د هغه د ليري کېدو هيله کول، هغه به لوی ښتن ته دعا کول، هغه عذاب به ليري سو، خو سمدستي به فرعونيانو بيا سرکښي کول، دغه بېروونکي عذابونه عبارت وه له وچکالۍ، کاختۍ، د ميوو له لږوالي، توپان، ملخو، شپږو، چونګښو او وينو څخه (د نيل په سيند کي اووه ورځي ويني بهېدلې او ټول کبان يې ووژل سول او بويونه يې پورته سول).

موسی؈ په مصر کي د استوګني په وروستيو مهالونو کي فرعون او د هغه قوم ته ښرا وکړه، ويې ويل:

﴿رَبَّنَآ إِنَّكَ ءَاتَيۡتَ فِرۡعَوۡنَ وَمَلَأَهُۥ زِينَةٗ وَأَمۡوَٰلٗا فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا رَبَّنَا لِيُضِلُّواْ عَن سَبِيلِكَۖ رَبَّنَا ٱطۡمِسۡ عَلَىٰٓ أَمۡوَٰلِهِمۡ وَٱشۡدُدۡ عَلَىٰ قُلُوبِهِمۡ فَلَا يُؤۡمِنُواْ حَتَّىٰ يَرَوُاْ ٱلۡعَذَابَ ٱلۡأَلِيمَ ٨٨ قَالَ قَدۡ أُجِيبَت دَّعۡوَتُكُمَا فَٱسۡتَقِيمَا وَلَا تَتَّبِعَآنِّ سَبِيلَ ٱلَّذِينَ لَا يَعۡلَمُونَ ٨٩﴾ [يونس: ۸۸-۸۹].

ژباړه: «ای زموږ ربه! تا پر فرعون او د هغه پر غټانو باندي د دنيا په ژوند کي د ښکلا اسباب او ډول ډول مالونه لورولي دي. ای زموږ ربه! دا د دې لپاره دي چي

خلک ستا له لارې څخه واړوي؟ ای ربه د هغو مالونه پوپنا کړه او د هغو پر زړونو باندې مهرونه ووهه چې ایمان رانه وړي، تر څو پورې چې یې دردناک عذاب نه وي کتلی. لوی څښتن په جواب کې ور ته وویل: ستاسې دواړو ښرا قبوله سوه. ثابت قدمه اوسئ او د هغو پر لار مه ځئ چې علم نه لري».

## د فرعون د مېرمنې ایماني مقاومت:

په صحیحو احادیثو او تاریخونو کې راغلې دي چې د فرعون مېرمنې آسیې د مزاحم لور پر موسی‌ﷺ ایمان راوړی وو. کله چې فرعون د خپلې لور پر خدمتګارې باندې د هغې د اسلام راوړلو له امله ظلم وکړ او په ډېره بده توګه یې ووژل، نو آسیې د فرعون دغه ظلم هغه ته په مخامخ وینا سره وغانده او کرکه یې ځنې څرګنده کړه. فرعون چې د هغې په اسلام راوړلو پوه او خبر سو هغه یې لمر ته پرې ایستل، پر پښو او لاسو یې مېخونه ورتهک وهل او غټه ډبره یې پر سینه ورکښېښوول او په سخت عذاب یې ووژل. قرآن کریم پر اسلام باندې د هغې د ټینګار او پر ظلم او سختیو باندې د صبر په هکله او همدارنګه د دې خبرې د څرګندولو لپاره چې د کفارو ځواک او قوت د مسلمان په هوډ او ټینګار کې څه بدلون نه سي راوستلای او سره د دې چې د فرعون مېرمن د خپل مهال د ترټولو لوی او ځواکمن کافر ښځه وه خو له ایمانه یې وانه ړولای سوه، داسې خبر راکوي:

﴿وَضَرَبَ ٱللَّهُ مَثَلًا لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱمۡرَأَتَ فِرۡعَوۡنَ إِذۡ قَالَتۡ رَبِّ ٱبۡنِ لِي عِندَكَ بَيۡتًا فِي ٱلۡجَنَّةِ وَنَجِّنِي مِن فِرۡعَوۡنَ وَعَمَلِهِۦ وَنَجِّنِي مِنَ ٱلۡقَوۡمِ ٱلظَّٰلِمِينَ ١١﴾ [التحریم: ۱۱].

ژباړه: «او د مومنانو په هکله لوی څښتن د فرعون د مېرمنې مثال وړاندې کوي، کله چې هغې دعاوکړه چې ای زما ربه! زما لپاره له خپل ځان سره په جنت کې یو کور جوړ کړه او ما د فرعون او د هغه له عمل څخه وژغوره او له ظالم قوم څخه ماته نجات راکړه».

له دې څخه جوتیږي چې مسلمان که هر څونه بې واکه هم وي بیا هم دی د داسې یوه ستر ځواک څښتن دی لکه ایمان او اسلام او د اسلام دښمن چې

هرځونه ځواکمن هم وي بايد سر ورته ټيټ نه کړل سي او په وړاندي يې له حق، اسلام او مظلومانو څخه دفاع وسي.

**له مصر څخه د موسی عليه السلام او د هغه د قوم وتل:**

څنګه چي پر موسی عليه السلام او د هغه پر قوم باندي د فرعون ظلم او تېری تر حد تېر سو، نولوی څښتن حضرت موسی عليه السلام ته وحي وکړې چي خپل قوم دي له مصره وباسه، څو خپل دين وساتلای سي. هغه وو چي دوی پټ د شپې له مصر څخه ووتل. کله چي فرعون د دوی په وتو خبر سو او وبېرېدی چي ښايي دوی به زما او زما د واک د له منځه وړلو او انقلاب راوستلو لپاره تياري نيسي. ځکه نو د پياړو او سمبالو پوځونو سره پسي وخوځېد، څو هر څه ژر هغوی تعقيب کړي او ټول ووژني. بني اسرائيل د سويس خليج ته نـژدې د سره سمندرګي څنډې ته رسېدلي وه چي د فرعون لښکري ور ورسېدې. موسی عليه السلام د سمندر څپڅپاندو څپو ته لکړه وروغورځول، اوبه په ټپه ودرېدې او د لويو غرو غوندي پورته سوې، په سمندر کي وچه لار جوړه سوه. لوی څښتن جل جلاله موسی عليه السلام ته له دغي لاري د تېرېدو امر وکړ. ټول بني اسرائيل د سمندر بلي غاړي ته تېر سول. کله چي فرعون او پوځيان يې وررورسېدل فکر يې وکړ چي دوی ته به هم دغه لار همدغسي وي، دوی هم د بغاوت او دښمنۍ په موخه ور وړاندي سول، کله چي ټول ورننوتل د سمندر څپو د لوی څښتن په امر په مخه کړه او ټول غرق سول.

دغه مهال فرعون بوغي کړې او د ځان د ژغورني لپاره يې زارۍ وکړې چي:

﴿ءَامَنَتْ بِهِۦ بَنُوٓاْ إِسۡرَٰٓءِيلَ وَأَنَاْ مِنَ ٱلۡمُسۡلِمِينَ ٩٠﴾ [يونس: ۹۰].

ژباړه: «زه پر هغه خدای ايمان راوړم چي بني اسرائيلو ايمان پر راوړی دی. له هغه پرته بل معبود نسته او زه له مسلمانانو څخه يم».

لوی څښتن يې په جواب کي داسي وفرمايل:

﴿ءَآلۡـَٰٔنَ وَقَدۡ عَصَيۡتَ قَبۡلُ وَكُنتَ مِنَ ٱلۡمُفۡسِدِينَ ٩١ فَٱلۡيَوۡمَ نُنَجِّيكَ بِبَدَنِكَ لِتَكُونَ لِمَنۡ خَلۡفَكَ ءَايَةٗۚ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلنَّاسِ عَنۡ ءَايَٰتِنَا لَغَٰفِلُونَ ٩٢﴾ [يونس: ۹۱-۹۲].

ژباړه: «اوس ایمان راوړې! په داسي حال کي چي تر دې لږ دمخه دي سرکښي کول او له ورانۍ کوونکو څخه وې. اوس به موږ یوازي ستا جسد وژغورو، تر څو تر تا وروسته خلکو لپاره د عبرت نخښه وګرځي، که څه هم چي زیاتره وګړي داسي دي چي زموږ له نښانو څخه غفلت کوي».

وايي چي د دغه فرعون چي «منفته» نومېدی مومیایي سوی جسد تر نن مهال پوري پاته دی او د قاهرې په موزیم کي ساتل کیږي. په ۱۹۰۷ ع. کال د مصر په اقصر کي د کیندنو په پایله کي د دغه فرعون لښ له یوه قبر څخه راوایستل سو. کله چي «سر ګرافتن الیټ سمت» له دغه لښ څخه د مسالې پټۍ پرانیستلې نو د هغه پر جسد باندي د مالګي یو نښلول سوی استر غوندي وموندل سو، چي په تروو اوبو کي د هغه د ډوبېدو یوه څرګنده نخښه وه. بل داچي د دغه فرعون د قبر له نخښو څخه معلومیږي چي دا قبر هغسي لکه نورو فرعونانو چي خپل قبرونه چمتو کول نه وو چمتو او مجهز سوی. ځکه ده د مرګ انتظار نه درلود او د ځان لپاره یې ځانګړی قبر نه وو چمتو کړی. له دې امله د اوسمهال څېړنو دغه فرعون د موسی فرعون ښوولی دی.

## د اسلام سره د ستر پانګوال قارون دښمني:

قارون چي په بایبل او تلمود کي د قورح (Korah) په نامه یاد سوی دی او د موسی عليه السلام د اکا زوی وو، یو ستر پانګوال وو او سره له دې چي له بني اسرائیلو څخه وو، خو د دغه قوم د ستر دښمن څواک؛د فرعوني واکمنۍ پلوی او مریی وو. د موسی عليه السلام او خپل قوم پر ضد یې د فرعون او فرعونیانو په ګټه کړنه کول. چي د دې ملي خیانت له امله تر فرعون او د هغه تر وزیر هامان وروسته تر ټولو معتبر کس وو. دی په خپله زښته زیاته پانګه او واک ډېر مغرور وو او بې وزلو ته یې هیڅ خیر نه رسېدی، بلکي د خپل مظلوم ولس پر ضد یې د فرعوني ظالمانو سره په مرسته کولو سره د هغو سره ظلم کاوه او د هغو د ګټو ضد واقع سوی وو.

د ده د قوم پوهانو ده ته نصیحت کاوه او هغه یې له دې سرغړاوي څخه منع کاوه او ورته ویل یې:

﴿لَا تَفْرَحْ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْفَرِحِينَ ۝٧٦ وَٱبْتَغِ فِيمَآ ءَاتَىٰكَ ٱللَّهُ ٱلدَّارَ ٱلْءَاخِرَةَ وَلَا تَنسَ نَصِيبَكَ مِنَ ٱلدُّنْيَا وَأَحْسِن كَمَآ أَحْسَنَ ٱللَّهُ إِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ ٱلْفَسَادَ فِى ٱلْأَرْضِ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلْمُفْسِدِينَ ۝٧٧﴾ [القصص: ٧٦-٧٧].

ژباړه: «(په شتو او پانګه) مه خوشالېږه ځکه چي لوی څښتن (په شتو) خوشالېدونکي نه خوښوي. او په کومه شتمني چي خدای درکړې ده د آخرت د کور جوړولو فکر وکړه او له دنیا څخه هم خپله برخه مه هېروه. او احسان وکړه، لکه چي لوی څښتن ستاسره احسان کړی دی او په مځکه کي د ورانۍ هڅه مه کوه. ځکه چي لوی څښتن فساد کوونکي نه خوښوي».

خو څنګه چي د هغه سترګي شتو او پیسو ور ړندې کړې وې، دا خبري یې کله منلې؟ بلکي ډول ډول بې ځایه دلایل یې لا هم ویل،له غرور او تکبر او سرکښۍ او ظلم څخه یې کار اخیست. او ویل یې زه ستاسي نصیحتونو ته څه احتیاج نه لرم. زه تر تاسي په خپل کار ډېر ښه پوهېږم. نو هغه وو چي موسی علیه السلام د قانون لار ورته ونیول او ورته ویې ویل چي د خپلو شتو زکات ورکړه،ځکه ستا په مال کي بې وزلي او فقیران تاکلی حق لري. خو فرعون له زکات ورکولو څخه هم ډډه وکړه او پر موسی علیه السلام یې ناروا تورونه ولګول او خلک یې د هغه پر ضد تحریک کړل. څنګه چي موسی علیه السلام سمي لاري ته د هغه له را اړولو څخه نهیلی سو، ځکه یې نو له لوی څښتن جل جلاله څخه وغوښتل چي خپل عذاب پر نازل کړي. لوی څښتن د موسی علیه السلام دعا ومنل او په زلزله یې هغه د هغه د شتو او ماڼیو سره په مځکه ننایست.

### د موسی علیه السلام غوره صفات:

موسی علیه السلام د لوی څښتن په حکم مریان او اسکېرلي سوي اسرائیلیان د مصریانو د ډېرو مهالونو له سپکاوي او کړاوونو څخه وژغورل. دی سره له دې چي د فرعونانو په ناز او نعمت کي را لوی سوی وو، خو د خپل قوم مریيتوب زوراوه او د هغو کړاوونه یې تجربه کړي او لمس کړي وه. دی د مریيتوب د ټولو ناخوالو سره بلد سوی وو. هغه له مصر څخه د هجرت پرمهال سخت او

اوږده کړاوونه او تکليفونه وګالل. د فرعون د کورنۍ غړی وو، خو چوپان سو. په زيارونو او زحمتونو کي پوخ او پياوړی سو. او پر دې سربېره هغه يو هوښيار او پوه وګړی وو. لکه چي وايي هغه د خپلو کتابونو د پڼځو ټوکونو ليکونکی وو.

موسیٰ‌علیه‌السلام ستر سړی او د لوی څښتن اولوالعزمه پيغمبر تېر سوی دی. هغه د «تر ځان تېرېدني»، «ثبات او استقامت»، «ايمان»، «توکل» او «شهامت» غوندي غورو صفتونو خاوند وو او خپل ژوند يې داسي کارونو ته وقف کړی وو چي خپله يې هيڅ اړتيا نه ورته درلوده. هغه د دې ټولو صفتونو سره سره ډېر متواضع انسان وو، که څه هم د يهودو له سرکښيو او بې انضباطيو څخه کله ناکله په غوسه کېدی. خو وايي چي خښم يې ژر له منځه تی.

د ده قوم په مرييتوب آموخته سوی وو. د مړاني او خپلواک اوسېدلو جوهر يې له لاسه ورکړی وو. دوی تر حضرت يوسف‌علیه‌السلام وروسته په مصر کي ډېر سوي وه او د مهالونو په تېرېدو سره يې په دين کي نوي شيان رامنځ ته کړي وه او د قبطيانو خوی بوی يې اخيستی وو. له دوی څخه ډېر لږ کسان د حضرت ابراهيم‌علیه‌السلام پر دين پاته وه. له دې امله لوی څښتن فرعون پر مسلط کړ. په دې توګه دوی يوازي په نس مزدوران وه. او په دې يې قناعت کړی وو. دوی په اسارت کي موړ نس په آزادي او خپلواکي کي تر لوږي ښه باله. دوی هېره کړې وه چي آزادي څونه خوند او ښېګڼې لري. له دوی څه د آزادۍ د شاتو خوند هېر سوی وو. د خپلو ځانونو د خوارۍ او بې وزلۍ او روحي او اخلاقي زوال نخښي يې نه ليدلې. د خپلو بخولو، کړاوونو او بدمرغيو په رمز او راز نه پوهېدل او د خپلو بديو او بد مرغيو علاج او درملنه نه ور ته ښکارېدل. بلکي په خپلو بدبختيو نه پوهېدل. له يوې خوا د خرافاتو او مزخرفاتو په ډنډ کي لاهو وه او له بلي خوا يې د جبارانو او طاغيانو تر ظلمونو او تېريو لاندي شپې سباکولې. بلکي د هغو ستايني به يې کولې او د انسانانو په وينو ککړ لاسونه به يې ورمچول.

خو موسیٰ‌علیه‌السلام غوندي د حق او د «لا إله إلا الله» پتنګانو به له يوې خوا د دغو ککړو لاسونو د خاوندانو پر ضد مبارزو ته وردانګل او بل لوري ته به يې

دغو د مرګ په خوب بیدو ته د راویښ سئ! ناري وهلې. خو ډېر به داسي کېدل چي دې تر زور او ظلم لاندي کسانو به بیا هم د خپلو بدمرغه کوونکو ظالمانو په پلوي د هغو د رښتیانیو ژغورونکو په مخ کي درېدل.

په تاریخ کي د دغسي وګړو د جهل، بې خبرۍ او ناپوهۍ ډېري بېلګې مونده سي او اوس هم سته او پیغمبران او مصلحین او دعوتګران هم د دغسي وګړو سره په شخړو او ماقشو اخته دي.

## د موسی او فرعون د مبارزو نه شلېدونکې لړۍ:

له فرعون سره د موسی علیه السلام د مبارزې خبري د یوه واکمن سره د یوه تن د مبارزې خبري نه دي او نه دا مبارزه په یوه نبي او یوه ستر جبار واکمن پوري منحصره ده. بلکي دا داسي خبري او پېښي دي چي په هر مهال او ځای کي تکرارېږي او رامنځ ته کېږي. دا د یوه دردوونکي حقیقت انځور دی. د حق او باطل په منځ کي د شخړو انځور، د رحمان د ډلي او د شیطان د ډلي د جنګ جګړو انځور. دا جګړې د ژوندانه له پیله او له هغه مهاله چي انبیا او مرسلین او دعوتګران او مصلحین د ژوندانه په دې ډګر کي را څرګند سوي دي، د لوی څښتن د دوستانو او د ښمنانو تر منځ روانې دي.

یو لوری چي د باطلو او ابلیس د لښکرو سرکښي او بغاوت دی په کثرت کي دی او د ایمان، توحید او الهي رسالت سره په سیالي او رقابت کي اوسي، او بلي خوا ته د حق پلویان دي چي غوره سوي وګړي، انبیا، رسولان، دعوتګران او مصلحین دي، البته دا ډله په اقلیت کي اوسي. خو د ایمان او کفر تر منځ دغه جګړه د سختو شخړو او تاوتریخوالو په پایله کي پر کفر باندي د ایمان په بري سره پای ته رسېږي، لکه چي لوی څښتن فرمایي:

﴿إِنَّا لَنَنصُرُ رُسُلَنَا وَٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ فِي ٱلۡحَيَوٰةِ ٱلدُّنۡيَا وَيَوۡمَ يَقُومُ ٱلۡأَشۡهَٰدُ ﴿٥١﴾﴾ [المؤمن:٥١].

ژباړه: «باور ولرئ چي موږ هم د دې دنیا په ژوند کي د خپلو پیغمبرانو او مومنانو مرسته هرو مرو کوو او په هغه ورځ به یې هم وکړو چي کله شاهدان ولاړ وي».

دا د لوی څښتن سنت دی او هیڅکله بدلون نه مومي. شر د جګړه مار دښمن په څېر مجسم سوی دی، نه تسلیمیږي او نه سوله او روغه جوړه مني. بلکي هوډ يې کړی چي الهی بلنه چي د ښېګڼې قصد لري او مينه، ورورې او انسانيت غواړي او د مځکي پر مخ د ټولو وګړو په منځ کي د عدل او سولې د ټینګښت لپاره هلې ځلې کوي، له منځه یوسي

شر په وحشيانه توګه تاوتريخوالی رامنځ ته کوي او په قهر او په خښم وي او هر مهال د لوی څښتن پر انبياوو او اولياوو د بريد کولو په فکر کې وي، لکه چي د دوی لخوا هغو ته له توربرېښونو او تهديدونو څخه په څرګنده معلوميږي. د لوی څښتن دې وینا ته پام وکړئ:

﴿وَقَالَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ لِرُسُلِهِمْ لَنُخْرِجَنَّكُم مِّنْ أَرْضِنَآ أَوْ لَتَعُودُنَّ فِي مِلَّتِنَاۖ فَأَوْحَىٰٓ إِلَيْهِمْ رَبُّهُمْ لَنُهْلِكَنَّ ٱلظَّٰلِمِينَ ١٣﴾ [إبراهيم: ۱۳].

ژباړه: «کافرانو خپلو پيغمبرانو ته وويل: موږ تاسي له خپله هيواده باسو يا به تاسي بيرته زموږ دين ته راګرځئ. نو د دوی پروردګار دوی ته وحي ولېږلې چي موږ به دغه ظالمان هلاک کړو».

د سرکښۍ منطق په هر مهال کي همدغسي دی، نه په مينه او محبت پوهيږي او نه دليل مني او نه عقل او منطق ته ارزښت ورکوي. بلکي له بريدونو، ترهګرۍ، زورولو، بندي کولو او وژلو پرته بله لار او کار نه لري. لکه چي د دوی مشر فرعون وويل:

﴿قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَآءَهُمْ وَنَسْتَحْيِۦ نِسَآءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَٰهِرُونَ ١٢٧﴾ [الأعراف: ۱۲۷].

ژباړه: «زه به د هغو زامن ووژنم او ښځي به يې ژوندۍ پرېږدم او موږ پر هغو لاسبري یو».

د موسی علیه السلام د مهال د فرعون منطق په هر مهال کي د ټولو فرعونانو منطق دي. لکه چي په هر مهال کي د ټولو انبياوو منطق د عقل، پوهي، صبر او حکمت منطق دي. وګورئ چي موسی علیه السلام د فرعونيانو لخوا تر ډول ډول زورونو او کړاوونو ګاللو وروسته وفرمايل:

﴿قَالَ مُوسَىٰ لِقَوْمِهِ ٱسْتَعِينُواْ بِٱللَّهِ وَٱصْبِرُوٓاْۖ إِنَّ ٱلْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَن يَشَآءُ مِنْ عِبَادِهِۦۖ وَٱلْعَٰقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ ١٢٨﴾ [الأعراف: ۱۲۸].

ژباړه: «موسی خپل قوم ته وویل: له لوی څښتن څخه مرسته وغواړئ او زغم ولرئ. دغه مځکه د لوی څښتن ده، له خپلو بنده ګانو څخه چي یې چا ته خوښه سي ورکوي یې. او پای بری د هغو دی چي له لوی څښتن څخه بېرېږي».

له دې څخه موږ ته د ټولو انبیاوو په کار او بلنه کي د موخي او لوري یووالی څرګندېږي. همدا شان د باطلو بلونکي هم همدا یوه د باطلو د بلني او پالني موخه او لوری لري.

پر دې بنسټ په هر مهال کي «هر فرعون لره موسی سته او هر موسی لره فرعون». او د حق او باطل تر منځ د دې شخړو او مبارزو پایله هم هماغه یوه خبره ده او هغه د حق احقاق او غلبه او د باطلو، سرکښیو او تېریو غوڅه او پرېکړونې ماته او له منځه تله. لوی څښتن فرمایي:

﴿وَنُرِيدُ أَن نَّمُنَّ عَلَى ٱلَّذِينَ ٱسْتُضْعِفُواْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ ٱلْوَٰرِثِينَ ٥ وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِى ٱلْأَرْضِ وَنُرِىَ فِرْعَوْنَ وَهَٰمَٰنَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُم مَّا كَانُواْ يَحْذَرُونَ ٦﴾ [القصص: ٥-٦].

ژباړه: «او موږ اراده درلوده چي پر هغو خلکو مهرباني وکړو چي په مځکه کي اسکېرلي سوي وه او هغوی لارښوونکي کړو او په مځکه کي یې وارثان و کرځوو او واک ورکړو او فرعون او هامان او د هغو لښکرو ته به هغه څه وښیو چي ځني بېرېدل».

# مریيتوب څنګه رامنځ ته سو؟

دوو چارو د مریيتوب نظام را منځ ته کړ. یو: اضافي کار، او بل د یوه تن د ژوندانه تر لګښتونو د هغه دکار د ارزښت زیاتوب. د تولید د وسایلو د بشپړتیا سره چې د صنعت د پرمختګ پایله ده، کرنې او مالدارۍ پراختیا ومونده او دې چارې سربېره پر دې چې اضافي کار یې را منځ ته کړ، ممکنه یې کړه چې د یوه تن د کار ییبره (محصول) د هغه د ژوندانه له لګښتونو څخه زیات سي. د انسان د ژوندانه په دې پېر کې وو چې فاتحو او بریالیو وګړو اسیران کار ته وګومارل او د هغو د لاس د ګټې اضافي برخه یې د ځان کړه. په دې ډول په بشاري ژوند کې نوی فصل پرانیستل سو، یعنې: د قبایلو غټان او ملکیتونه رامنځ ته سول او بالاخره مریيتوب او مریي ساتل پیل سول.

په دې توګه د بشر د ژوندانه په ډېرو پخوانیو مهالونو کې مریيتوب او مریی لرل رامنځ ته سول. د بېلګې په توګه په «کوتي» ټولنه کې د مریانو زبېښاک دود سو. په سومري[1] او اکدي[2] ټولنو کې هم له مریانو څخه ګټه ترلاسه کېدل. او د اکدي لړۍ په دوهمه نیمایي کې د مریانو زبېښاک شدت ومونده. د کاسیانو[3] په واکمنۍ کې هم مریيتوب په بشپړه توګه دود وو. آشوریانو چې یو ډول جنګي ټولنه یې درلوده له جنګي مریانو څخه ډېره ګټه اخیستل. د روم او یونان په ټولنو کې هم مریي درلودل په رسمیت پېژندلي حقوق وه. لکه چې

---

۱- یوه لرغونې طایفه ده چې د فارس د خلیج په څنډو او د کلدې په سهیل کې اوسېدل او تر میلاد درې زره کاله دمخه د تمدن او صنعت څښتنان وه. او د کلدې ډېر پخواني متمدن خلک ګڼل کېدل.

۲- اکد ته منسوب دي کوم چې د بني سامو یوه طایفه وه چې په شاوخوا درې زره کاله قبل المیلاد کلونو کې یې ژوند کاوه.

۳- کا سیسو (Cassissuo) یا کاس سو یوه لرغونې طایفه وه چې د ایران په لوېدیزو غرونو کې اوسېدل او کوسیان او کیسي یې هم ورته ویل. فرهنګ عمید.

افلاطون او ارسطو مريي درلودل روا ګڼل. وايي چي افلاطون له مريانو څخه دونه بد وړل چي د مريي د لفظ له ويلو څخه به يې ډډه کول. او د آتن دموکراتان يې غندل چي ولي د مرييتوب د له منځه وړلو له غورځنګ څخه ملاتړ کوي. په ځينو ټولنو کي د مريانو سره تر حد تېري غير انساني کړني کېدلې. د بيلګې په توګه تر اسلام دمخه عربو خپلي مينځي زنا ته اړايستلې. (تاريخ انبياء، حماسهٔ بت شکنان۲۲۰ او ۲۲۱مخونه).

له پورتنيو خبرو څخه زموږ موخه داده چي په لرغوني مصر کي له مرييتوب څخه بحث وکړو او د يهودي مريانو د ژغورني په هکله د موسی‌ علیه السلام هلي ځلي څرګندي کړو او بيا وګورو چي د اسلام مبارک دين د مرييتوب د له منځه وړلو لپاره څنګه اقدامات وکړل، خو د اسلام دښمنانو په دې هکله کوم جنايات ترسره کړي دي.

په لرغوني مصر کي غالب حق درلود چي مغلوب مريی کړي. هر چا چي به جنګي اسير د کار وړ او ګټور وباله مريی کاوه به يې. د مصر له لرغوني تاريخ څخه پاته ودانۍ د مرييتوب له يوه منظم او پرمختللي نظام څخه يادوني کوي. او د دې ودانيو سترتوب هم د مريي لرونکو پر سخت زړه توب دلالت کوي.

تر ميلاد دمخه په څلورمه زريزه کي د فرعونانو له څلورمي کورنۍ څخه درې فرعونه د خئوپس (Cheops)، خِفرِن (Chephren) او مسرين (Myccrinus) په نومونو واکمن وه، چي له دوی څخه په دغو نومونو درې هرمه پاته دي او دا هرمونه د لرغوني نړۍ له تر ټولو سترو بناوو څخه ګڼل کيږي.

د «خئوپس» هرم چي د دوو نورو ترڅنګ د «جيزه» په سيمه کي د«ممفيس» په شمال کي جوړ سوی دی، همدا اوس سره له دې چي د مهالونو په تېرېدوسره يې د باد، تودوښي او لندبل د اغېزو له امله څه اوږدوالي له لاسه هم ورکړی دی، (۱۳۷) متره اوږد دی. د موربي ضلعي اوږدوالی يې ۲۲۷متره دی او دروندوالی يې ۰۰۰/ ۸۸۳/ ٤ ټنه اټکل سوی دی.

«خِفـرِن» هـرم تـر«خئوپس» څـه کـوچنی دی او (۱۳٦) متـره اوږد دی. او «میسرین» هرم سره د دې چي تر نورو دوو هرمو کوچنی دی، د مصر تر نـورو هرمونو غټ دی. باید وویل سي چي په مصر کي نژدې اتیا هرمه سـته. د دغـو هرمونو ټولي غټي ډبري د هغو بېچاره او اسـکېرلو مریـانو پـر اوږدو هلتـه وړل سوي دي.چي په جګړو کي له خپلو کورنیو او خپلوانو څخه بېل سوي وه. دغه بې معنا قبرونه او دغه د ډېرو غټو غونډیو ډبري هغه مهـال یـوه پربلـه اېښـوول سوي دي چي د انجنیرۍ زده کړي نوي پیل سوي وې. د دې هرمونو د کار پـه پای کي مصریان دونه مسکینان سول چي تـا بـه ویـل تـازه لـه یـوې سـختي او اوږدې جګړې څخه وزګار سوي دي.

وایي چي د «خئوپس» هرم پر جوړولو باندي د ورځي درو لکـو کـارګرو تـر دېرشو کالو کار وکړ. په زرګونو مظلومو مریانو د دې فرعوني ودانیو په کار کي خپل ځانونه له لاسه ورکړل. د ډبرو دغه جګي غونډۍ مـوږ تـه د فرعونـانو لـه قساوت او ظلمونو پرته نـور څـه راښـیي؟ (تـاریخ انبیـاء، حماسـهٔ بـت‌شـکنان ۲۲۲ مخ).

د مصـر تـاریخ د واکمنـو لـه څلـورمي کـورنۍ څخـه د شـپنو (هیکسـوس) واکمنو د ولکې تر مهاله د بېلابېلو پلازمېنو له جګړو، د دینونو له اختلافـاتو او ډول ډول نورو ګډوډیو څخه خبري کوي. بیا دغه هیـواد د شـپنو واکمنـو لاس ته ولوېد. بیا هم د مرییتوب د اوږده مهال تر زغملو وروسته د قبطي قوم ډېري متعصبي کورنۍ د قدرت واګي په لاس کي واخیستې.په دې پېر کي، په تېـره د دوهم رعمسیس او منفته فرعونانو په وختو کي بني اسـرائیل د سـترو کړاوونـو او بخولو سره مخـامخ سـول، چـي پـای حضـرت موسـیﷺ د لـوی څښـتن د وحدانیت او عدالت په برقرارولو سره د دغو اسکېرلو د ننګي او ژغـورني لپـاره د دغو فرعونانو په پېر کي مبعوث سو. دغه مهال مصـریانو پـر نـورو هیوادونـو تېري کول. څنګه چي مصر یو فاتح هیواد سو، نو د ډول ډول توکمونو وګړي د ډول ډول رنګونو، لباسونو او آدابو سره پکښـي اوسـېدل، خـو دوی د ټـولني پـه اداره کي هیڅ ډول ونـډه نـه درلـوده. بلکي دا داسـي بدمرغـه وګـړي وه چـي د دوی په مټو کي د کار د ځواک د شتون له امله مصـر تـه راوسـتل سـوي وه. لـه

دوی څخه ډېرى داسي وګړي وه چي په زور له خپلو کورنيو، مېرمنو او زامنو څخه رابېل سوي وه. يا هغه بدمرغه وګړي وه چي په نابرابرو جګړو کي يې خپلي مېرمني، اولادونه او کورنۍ له لاسه ورکړي وې. دوى په مصر کي د هغه نوي رامنځ ته سوي تمدن قربانيان وه، چي له ډېرو ليرو ځايونو څخه يې غټې غټې ډبري د دوی پر اوږو د اهرامو د ودانولو ځايونو ته راوړلې. دا هغه تمدن وو چي د فرعونانو د جبر، طاغوتيت، او سرکښۍ او د بې وزلو د لابې وزلۍ او خوارۍ اسباب يې برابر کړي وه او د دې سترو مظالمو پر ضد د حضرت موسیٰ عليه السلام پاځون د لوی څښتن جل جلاله د هغې ژمني تر سره کېده وه چي پټېيلې يې وه مځکه د هغې وارثانو ته وسپاري. لوی څښتن هغه پاڅولی وو چي د «فرعون بت» مات کړي او د فرعوني دربار پر نازولو باندي د آرام خوب حرام کړي. د فرعوني بلا اسيرانو ته د ويښېدو بلنه ورکړي او د ځان ژغورلو او آزادولو ته يې وهڅوي.

تر دې خبرو وروسته به وګورو چي دين او بې دينه تمدن د مرييتوب په هکله څه کړي دي:

په تورات کي د مريانو په هکله راغلي دي: «که عبري مريی رانيسې، شپږکاله دي خدمت وکړي او پر اووم کال دي بېله بيې آزاد سي. که يوازي راغلی وي يوازي دي ولاړ سي. او که د مېرمني خاوند وي مېرمن دي ورسره ولاړه سي. که يې بادار ښځه ورغوښتې وي او زامن يا لوڼي يې ورزېږولي وي، نو ښځه او اولادونه دې د بادار وي او مريی دي يوازي ولاړ سي. خو که مريی ووايي چي زه د خپل بادار، مېرمني او اولادونو سره مينه لرم او نه غواړم آزاد واوسم، نو دې بادار هغه د لوی څښتن حضور ته بوزي او هغه دي د دروازې يا د دروازې د چارچوب نژدې ته ورسوي او بادار دې غوږ په نېره ور سوری کړي او مريی دی د تل لپاره د هغه مرييتوب ومني». (دخروج سِفر، ۲۱باب: ۱ـ ۷ آيتونه).

خو د مسخ سوي مسيحي دين په انجيلونو او نورو ليکنو کي له مريي لرونکي څخه د مريي د اطاعت په هکله ټينګار سوی دی. وايي چي عيسیٰ عليه السلام ويلي دي: «مريی تر خپل بادار غوره نه دی» (متي، ۱۰ باب: ۲٤ او يوحنا،

۱۵باب: ۲۰ او ۱۳ باب: ۱٦). همدا راز ویل کیږي چې هغه سپارښتنه کړې ده چې: «ډېر ښه مریی هغه دی چې بادار یې راسي او دی په کار لګیا ووینې» (لوقا، ۱۲باب: ۳۷، ۱۷باب: ۷، متي،۲٤باب: ٤٥).

اما د اسلام موخه د مرییتوب په هکله داوه چې دا ښکارنده ګردسره له منځه یوسي، خو نه د داسي فرمان په صادرولو چې په اسلامي ټولنه کې د شخړو او تاوتریخوالي لامل سي او د امریکا غوندي په ډېره سخته ورانوونکې کورنۍ جګړه اخته سي او بیا هم اصلي ربړه حل نه سي او د تور پوستو د ذلت او سپکاویو مسئله باقي پاته سي. بلکي اسلام دا ربړه په کراره کراره، د مریانو د آزادولو په هکله د ډول ډول احکامو، هڅونو او توصیو په لاره اچولو سره اواره کړه. قرآن کریم او نبوي احادیثو ته په کتو سره اسلام د مریانو د آزادولو اخلاقي نهضت پیل کړ. د اخروي ژغورني، د ګنهونو د تویېدو او د ثوابونو د ګټلو لپاره یې د مریانو آزادول ډېره ښه وسیله وګڼل او بالاخره یې دا مسئله په ډېر ښه تدبیر او حکمت سره حل کړه.

قرآن کریم د البلد د سورې په ۱۱ ـ ۱٦ آیتونو او د النور د سورې په ۳۲ آیت او د التوبه د سورې په ٦۰ آیت کي د مریی آزادول یا د هغه په آزادولو کي مالي مرسته کول یا د آزادولو تړون ورسره لاسلیکول یا د کوم بې وزلي د پور په ادا کولو کي مرسته کول یا کوم خپل، ګاونډي، یتیم یا بل بې وزلي ته بسپنه ورکول یا خواړه او داسي نور ورکول د انسان د لوړتیا پر لور تګ او ډېر غوره عمل ګڼلی دی. پر دې بنسټ رسولﷺ خپل پیروان د مریانو آزادولو ته هڅول او ان په دې نهضت کي یې په خپله ونډه واخیسته او (٦۳) تنه مریان یې آزاد کړل. د هغه له مېرمنو څخه یوازي د عایشې بي بيرضي الله عنها د آزادو سوو مریانو شمېر (٦۷) تنو ته ورسېد. د رسولﷺ اکا حضرت عباسرضي الله عنهما په خپل ژوند کي (۷۰) تنه مریان آزاد کړل. حکیم بن حزامرضي الله عنه (۱۰۰) تنه، عبدالله بن عمررضي الله عنهما زرتنه، ذوالکلاع حمیريرضي الله عنه اته زره تنه او عبدالرحمان بن عوفرضي الله عنه دېرش زره تنه آزاد کړل. دغسي پېښي د نورو ډېرو صحابه وو په ژوند کي ډېري موندل کیږي، چې په هغو کي د حضرت ابوبکر او حضرت عثمانرضي الله عنهما نومونه ډېر شهرت لري. دا د لوی څښتن د رضا ګټلو یوه عامه ولوله وه چې د

هغې له مخي زياتو وګړو هم خپل مريان آزادول او هم يې له نورو څخه رانيول او آزادول يې. د راتلونکي لپاره هم اسلام د مرييتوب دغه بڼه په قطعي توګه حرامه کړه او هيڅ‌پا نه سوه کولای چي يو اصيل انسان مريی کړي. په دې هکله اسلام ډېر څه کړي دي خو موږ پر هغو ټولو باندي دلته د بحث د اوږدېدو له بيري نه سو ږغېدلای.

اوس به وګورو چي په دې هکله نورو څه کړي دي. په افريقا، هند او د نړۍ په ډېرو نورو وروسته پاتو هيوادونو کي خو د مرييتوب او مريانو د بدمرغيو داستان دونه اوږد دی چي دا کتاب يې د څېړلو حوصله نه لري. په دې ټولنو کي د مرييتوب پر ضد هيڅ هم نه دي سوي او که سوي هم وي څه کټه يې نه ده کړې. ځکه موږ همدا اوس وينو چي په دغو پراخو وچو کي په مليونونو وګړي که څه هم په رسمي توګه مريان نه دي، خو ژوند يې تر مريانو څه چي تر څارويانو هم بد تر دی. موږ به دلته د هغو ولسونو (اروپايانو) په هکله خبري وکړو چي ځانونه تر ټولو متمدن ګڼي. موږ خو چي ليدلي اروپايانو هم له ډېر پخوا څخه د نورو ولسونو وګړي په پراخه پيمانه او په خورا کرکجنه توګه مريان کول او له دې مدرکه يې ستري ګټي ترلاسه کړي دي. په تېره دوی د صنعتي انقلاب په سيوري کي نورو هيوادونو او ولسونو ته د تېريو لاسونه اوږده کړل او ډېر ولسونه يې په ډله ييزه توګه اېل او مريان کړل او اوس هم داکار په ډېر شدت او پراخه پيمانه، په ډول ډول نومونو او مکرونو او د خپلو محکومو او مظلومو خلکو د شتو او سرونو په ښندلو ترسره کوي.

کرسټف کولمب لومړني سړی وو چي د دوی لخوا د مريانو سوداګرۍ ته وګومارل سو او هغه داکار د لومړي ځل لپاره پيل کړ او زښت زيات سورپوستي يې ووژل. چي بيا هلته د ده ښکېلاکي او وحشيانه سياستونه په ده پسې نورو اروپايي ښکېلاکګرو او فاتحانو تر ده لا په بده توګه پلي کړل. اسپانويانو او پرتګاليانو وپتېيل چي د افريقا توران په امريکا کي په کارونو وګوماري. دا د افريقا ملتونو ته يوه لويه بخوله سوه. د تاريخ په دې پړاو کي د مريانو خرڅولو بازار ښه تود سو او دغه کرکجن تجارت تر نولسمي پېړۍ دوام وکړ. پرتګال لومړنی هيواد وو چي د مريانو تجارت يې پيل کړ او تر

۱۵۸۰م.کال پورې یې د دغه کثیف تجارت انحصار په لاس کې وو. بیا نورو اروپایي هیوادونو هم افریقا او د مریانو تجارت ته مخه کړه او دا کار تر ډېره د اروپایانو لپاره ډېره ګټوره دنده وه. سوداګرو به زاړه توپکان، باروت، شراب، د لړو بیو ټوکران او د سینګار سامانونه افریقا ته وړل او مریان به یې په رانیول. سپین پوستو د تورپوستو د ځینو قبایلو مشران او د ځینو افریقایي هیوادونو واکمنان د ځان کړي او د تورو انسانانو په خرڅولو یې روږد کړي وه. په دې توګه اروپایانو د افریقایانو پر لوټولو سربېره، د هغو ترمنځ د خپل منځي اوږدو جګړو، چل ول، داړه ماریو، تښتونو او نورو ډول ډول جنایتونو اورونه هم بل کړل. هره سیمه به د بلې سیمې سره او هر ګاونډی به د بل ګاونډي سره جنګېدی څو انسانان د اسیرانو په توګه ونیسي او پر اروپایانو یې وپلوري. دغه جګړې تر څلورو سوو کالو پورې پرله پسې روانې وې. ځیني واکمنان چې د اسپانویانو او پرتګالیانو سره په دې چټله سوداګرۍ ککړ سوي وه د خپل دغه کار په ناوړو پایلو وپوهېدل. د کانګو پاچا ترینکامبومبا چې د ۱۵۰۰م.کال په شاوخوا کې مسیحي سوی هم وو، ولیدل چې پرتګالیانو د قبایلي مشرانو سره په بېله توګه معاملې پیل کړي او په دې توګه د ده د واك د بنسټونو د سستولو کوښښونه کوي. له دې امله پاچا لیزبون ته دیوه لیك په لېږلو سره داسې شکایت وکړ: «ټول هیواد د ورانۍ سره مخامخ سوی دی او ژر دی چې له اوسېدونکو څخه خالي سي». خو دې خبرو د مریانو په سوداګرۍ کې څه ځنډ رانه ووست. افریقایي فاسدو مشرانو د اروپایي شیانو، په تېره د وسلو د ترلاسه کولو لپاره د اروپایانو سره معاملو ته دوام ورکړ. که به کوم واکمن یا د سیمې مشر له دې کاره ډډه کول بل رقیب او ګاونډي به سمدستي دې ټیټـتیا ته تن ورکاوه. پاڅونونه او ښورښونه به کېدل خو اروپایانو به په چل ول یا زور غلي کول.

د مریانو د پېر او پلور عمده بازارونه د ګیني په خلیج، لوېدیزه، ختیزه او استوایي افریقا کې وه. سوداګرو د مریانو سره ډېره بده او ظالمانه وضع کول. هغوی به یې وهل ټکول او د څارویو غوندې به یې په بېړیو کې په زنځیرونو تړل. کله کله به یې د هغو د مړیني د مخنیوي لپاره زنځیرونه ځني لیري کول.

د ځای تنګی، لږ ډوډۍ او د سفر ستونزو به په زرګونو ځوان افریقایان په بېړیو کې د مرګ کومې ته ورټېل وهل. که به کوم مریی ناروغ سو یا به د مرګ په حال کې وو هغه به یې سمندر ته غورځاوه. ډېرو به د سپین پوستو له اسارت څخه د بد وړلو له امله پخپله ځانونه سمندر ته غورځول. بیا به یې روغ مریان له ناروغو بېلول. پر بدنونو باندې به یې د اړوندو شرکتونو نخښې په اور داغلې او خرڅلاو ته به یې وړاندې کول. سوداګرو به د مریانو د ډېرو درنو تلفاتو سره سره ډېرې غوښنې ګټې ترلاسه کولې. هغو به هر مریی په افریقا کې له اویا تر سلو فرانکو رانیوی او په امریکا کې به یې په لس برابره زیاته بیه خرڅاوه. ځینو امریکایانو او نورو به بیا د افریقا پر ځینو ساحلونو بریدونه کول او په زرګونو بې دفاع افریقایان به یې نیول او په امریکا کې به یې د مریانو په توګه پلورل. په یوه بېړۍ کې به یې پنځه زره تنه افریقایان اچولي وه. چې ډېر به یې پر لارې مړه سول او لږ به یې امریکا ته ورسول سول. تاریخونه وایي چې دغه وګړي زیاتره مسلمانان وه. خو په امریکا کې به یې د دیني مناسکو له تر سره کولو هم منع کړل.

له افریقا څخه د ایستل سووتورپوستو ځوانانو شمېره ښوول او د هغو د ایستلو له امله د دغې وچې د ورانۍ په هکله روښانه انځور ورکول څه آسانه خبر نه ده. له افریقا څخه د صادرو سوو نارینه او ښځینه تورانو شمېره د امریکا د تورانو له مخې هم نه سي اټکل کېدلای. ځکه کوم افریقایان چې به په زور امریکا ته بېول کېدل نه یې سوای کولای چې د نورو غونډې په طبیعي او عادي توګه اولادونه وزېږوي. ستونزمنو کارونو، لږو خوړو، ناسمو روغتیایي شرایطو او د سوداګرو ناوړو چلندونو د تورانو د مړیني کچه لوړه بېول. له بله پلوه به له هرو شپږو افریقایانو څخه یو تر امریکا رسېدی. زیات شمېر افریقایان د مریانو له سوداګرو څخه د پټېدو له امله په ځنګلونو کې له منځه ولاړل. پایله دا سوه چې افریقا د خپلو روغو وګړو ستره برخه له لاسه ورکړه، هغه ترلاسه کړې پرمختیا یې بایلوده او نوره هم د ترقۍ له کاروانه وروسته پاته سوه. په مجموعي توګه د له منځه تللو تورپوستو شمېر له سلو تر یوسل او پنځوسو ملیونو تنو اټکلوي. یوازې لس ملیونه تورپوستي امریکا ته ژوندي

ورسېدل. له دې بخولو څخه د خلاصون لارې پر مالکانو حملې، د کښتونو سوځل، ځان وژنه، پاڅون یا تېښته وه. په دې توګه به مریان یا وژل کېدل او یا به وژغورل سول. عمومي پاڅون د دوی د مبارزې تر تولو غوره لار وه. یوازې په متحدو ایالتونو کې چې تر ټولو لوی مریې لرونکی هیواد وو د تورانو (۱۱۰) پاڅونونه وسول، چې له امله یې زرګونه تورپوستي ووژل سول. امریکاته د تورپوستو انتقال د توکمونو د اختلاط مسئله هم رامنځته کړه او ډېر سره او تور توکمي یې له منځه یووړل. د سپینو او تورو، سپینو او سرو او تورو او سرو له ګډون څخه بیل توکمونه را منځته سول.

په ۱۷۹۹ع.کال فرانسویانو په خپلو مستعمرو کې د مریيتوب نظام ته قانوني بڼه ورکړه. په فرانسه کې د «روح القوانین» لیکونکي مونتسکیو د مریې کولو او مریې لرلو ملاتړ کاوه. د آدم سمیټ په نامه یوه فیلسوف مریان ځاروي ګڼل. د «کاترین» د مهال په روسیه کې مریان په مځکه پوري تړلي وه.

انګرېزان د انسان په زبېښاک کې تر دې کچې ورانـدي ولاړل چې د کوچنیانو پر آزادي یې هم تېری وکړ. او ډېر کوچنیان د کارځایونو په تنګو قفسونو کې مړه سول.

په دې توګه به دغو امریکایانو اولوېدیځوالو له یوې خوا د انسانانو پر خرڅولو او پر هغو باندې د دغسې ظلمونو ترسره کولو له لارې لویې ګټې ترلاسه کولې او له بلې خوا به یې په بې شرمۍ سره د بشر د حقوقو چیغې هم وهلې او اوس هم دادی موږ وینو چې دوی هم تر دې بتر جنایتونه تر سره کوي او هم په سپین سترګۍ سره د دموکراسۍ او د بشر دحقونو ډولونه وهي او ګوډاګیان یې نخاوي ورته کوي...

اوس دې نو د مریيتوب په هکله پر اسلام باندې جاهل اعتراض کوونکي ووایي چې په دې هکله اسلام څه کړي او د اسلام دښمنانو څه کړي او همدا اوس دوی د مسلمانانو او نورو انسانانو په هکله څه کوي؟

## د اسلام په وړاندې د يهودو سرکښۍ او دښمنۍ

له بده مرغه د لوی څښتن ﷻ په دې خاورينه کره کې بني اسرائيل ډېر سرکښه او بې لا رې قوم جوت سوی دی. دوی د اسماعيل عليه السلام د اولادې (عربو) او د اسحاق عليه السلام د اولادې سره سخت مخالفت درلود. ان لکه چې پوهېږو دوی د خپل ورور حضرت يوسف عليه السلام په نسبت د شيطان پيروي وکړه او د هغه په هکله يې له حسد، مکر، درواغو او دسيسې څخه کار واخيست. تر دې وروسته هم دوی په ظلم او دسيسو کې نوم وايست. لکه چې د «آهاز» (Ahaz) په نامه د دوی يوه پاچا د ۷۳۵ ق.م. په شاوخوا کې خپل يو زوی ژوندی وسوځاوه. تر ده وروسته د ده يوه بل ځای ناستي «مناسه» (Menasseh) نومي هم دغسې جنايت تر سره کړ. دوی د تاريخ په ډېرو پړاوونو کې، په تېره د حضرت محمد ﷺ له بعثت څخه تر دې ګړيه د لوی څښتن د پيغمبرانو او د اسلام د پيروانو او حق او حقيقت په وړاندې زښتې زياتې او ډول ډول دښمنۍ او دسيسې په لاره اچولې دي او اوس هم لګيا دي په پراخه پيمانه يې تر سره کوي. چې په خپلو دې سرکښيو او بې لاريو يې د مځکې کرې، انسانانو او په زياته مسلمانانو ته درانه تاوانونه اړولي دي. ان د مسلمانانو همدا اوسنۍ بدمرغۍ هم زياتره د دوی له لوري دي. څنګه چې لوی څښتن پر دوی باندي د دې ګمراهيو او ډول ډول ناشکريوله امله له بېخې ډېره مهاله په قهر دی، دوی د تاريخ په اوږدو کې د ډول ډول سپکاويو او لالهانديو سره لاس او ګرېوان دي چې تر اوسه يې که يې څه هم په فلسطين کې د امريکا، انګرېزانو او نورو په هراړخيز ملاتړ اشغالي حکومت جوړ کړی دی، د آرام او روغې ورځې مخ نه دی ليدلې.

دا چې دوی په ظاهره ډېر عاجزه وګړي ښکاري، خو په باطن کې ډېر لجوج، خشن او غچ اخيستونکي دي، دا له دې امله دي چې دوی په تاريخ کې د سپکاويو، اسارتونو او لالهانديو او کړونو ډېري سختي لوړي او ژوري ليدلي

دې او دا یوه حتمي خبره ده چې دغسې تولنیزې ناخوالې او لوړې ژورې، په ولسونو کې بېلې خلقې ځانګړنې رامنځ ته کوي. موږ به دلته د اسلام په وړاندې د یهودو د ډول ډول سرکښیو او د اسلام او مسلمانانو سره د دوی د دښمنیو او له دې امله د دوی د ذلت او خواریو په هکله په لنډو ټکو کې څه رڼا واچوو.

کله چې لوی ښتن بني اسرائیل د فرعون او د هغه د پیاوړو لښکرو تر غرقېدو وروسته له عذاب او ذلته وژغورل، موسیٰ‌علیه‌السلام ته یې لارښوونه وکړه چې د بیت المقدس پر لور وخوځي. بني اسرائیلو په لار کې یو قوم ولیدی چې بتان یې لمانځل. نو هغو هم له موسیٰ‌علیه‌السلام څخه وغوښتل چې موږ ته هم دغسې بتان جوړ کړه. بیا موسیٰ‌علیه‌السلام قناعت ورکړ چې دا د ناپوهانو خبرې مه کوئ. بیا تږي سول او په داسې حال کې چې په قهر وه له موسیٰ‌علیه‌السلام څخه یې اوبه وغوښتې. لوی ښتن موسیٰ‌علیه‌السلام ته لارښوونه وکړه چې هلته یوه لویه ډبره په لکړه ووهي. کله چې هغه ډبره په لکړه ووهل دوولس چینې ځنې راووتلې. چې د بني اسرائیلو دوولسو قبیلو ګټه ځنې واخیستل. کله چې د سینا ټاپو وزمې ته ورسېدل، له لمر او تودوښې څخه یې شکایت وکړ. لوی ښتن اوربځ ورته را واستول. کله چې یې د لارې توښه مخ پر تمامېدو سوه لوی ښتن «من او سلوا» غوندې نعمتونه پر نازل کړل. خو هغو یې کفران وکړ او نور نعمتونه یې وغوښتل.

بیا کله چې موسیٰ‌علیه‌السلام د تورات راوړلو لپاره «طور» غره ته تی، هارون‌علیه‌السلام یې خپل وکیل وټاکی او دوی ته یې ویلي وه چې زما سفر به تر دېرشو ورځو زیات نه سي، خو څنګه چې هغه د لوی ښتن په امر لس ورځې نور هم وځنډېد، نو دوی دا کار د موسیٰ‌علیه‌السلام وعده خلافي وګڼل او د هغه په غیاب کې د بني اسرائیلو یوه رند او بې لارې سړي چې ټیټې موخې یې درلودې او په قرآن کریم کې «سامري» بلل سوی دی له سرو زرو څخه د ګیلګې یوه مجسمه جوړه کړه. هغه دغه ګیلګی هغو ته د هغو د معبود په توګه معرفي کړ او لارښوونه یې ورته وکړه چې د هغه عبادت وکړي. هغو د ګیلګې چار چاپېر نڅا پیل کړه. هارون‌علیه‌السلام چې له دې ناوړه کاره د دوی د منع کولو تلاښ وکړ

هيڅ ګټه يې ونه کړه. لوی څښتن موسیٰ‌عليه‌السلام د قوم د دې کار او د سامري له ټګۍ څخه خبر کړ. کله چي راستون سو ډېر په قهر سو، د تورات ډبريني ټوټې يې، چي د لوی څښتن له لوري ورسپارل سوي وې له مځکي ووهلې. هارون‌عليه‌السلام يې د سر او ږيري تر وربښتانو ونيو او خپل قوم او ورور يې سرزنش کړ. خو هارون‌عليه‌السلام ور ته وويل چي زما په خوله يې نه کول او زما د وژلو توطئه يې جوړه کړه. بيا سامري ورته وويل چي زه پخوا لا پوهېدم چي ته پر حق پيغمبر نه يې، ځکه مي نو دا کار وکړ او اوس هم ستا پيروي نه کوم او د خپل ګيلګي عبادت کوم. موسیٰ‌عليه‌السلام سامري ته ښرا وکړه چي له امله يې په سخت عذاب اخته سو، بيايې د ګيلګي مجسمه وسوځول او بني اسرائيل له خپل دې ناوړه کاره پښېمانه سول. بيا موسیٰ‌عليه‌السلام د دوی اويا تنه د بخښني د غوښتني لپاره طور غره ته بوتله، خو هغو هلته هم سرکښي وکړه او له هغه څخه يې وغوښتل چي موږ تر هغو پر تا ايمان نه راوړو چي لوی څښتن په خپلو سترګو ونه وينو. له دې امله ټکه پر ولوېده. بيا د موسیٰ‌عليه‌السلام د زاريو له امله وبخښل سول او روغ رمټ سول.

## د ظالمانوسره له جګړې څخه د بني اسرائيلو ډډه:

لوی څښتن د موسیٰ‌عليه‌السلام سره د بيت المقدس د فتح کولو ژمنه کړې وه او ورته ويلي يې وه چي بني اسرائيل وګوماره چي فلسطين فتح کړي. نو کله چي موسیٰ‌عليه‌السلام او بني اسرائيل دغي سپېڅلي مځکي ته ورسېدل هلته يې د کنعانيانو او حيثانيانو له پاتي شونو څخه جبار اوظالم وګړي وموندل. موسیٰ‌عليه‌السلام بني اسرائيلو ته امر وکړ چي بيت المقدس ته ننوزي، د دغو ظالمانو سره جهاد وکړي او له دغه ځايه يې وباسي. خو څنګه چي په بني اسرائيلو کي د تدبير او جهاد ته د اقدام واک او جوهر له منځه تللی وو او د عزت تر ژوند يې د ذلت ژوند تر سترګو ښه ايسېدلی وو، له دښمن څخه د بېري او د آرامۍ او هوسايی د خوښوني له امله يې له جهاد څخه ډډه وکړه. د بايبل د څرګندونو سره سم دوی وويل کاشکي موږ په مصر يا دې دښت کي مړه سوي وای. خدای ولي په دې خلکو موږ وژني؟ بيايې په خپلو منځو کي سره وويل

راځئ چې يو بل څوک خپل مشر وټاکو او بيرته مصر ته ولاړ سو. خو لـه هغـو دوولسو تنو څخه چې د فلسطين د احوالو د معلومولو لپاره مصر ته تللي وه او په دې هکله يې رپوټ وړاندي کړ يـوازي حضـرت يوشـع او کالـب جهـاد تـه چمتو وه او نور يې هم ور ته وهڅول، امـا بنـي اسـرائيل د دوی د سنګسـارولو په تکل کي سول او موسیٰ عليه السلام ته يې وويل:

﴿يَٰمُوسَىٰٓ إِنَّا لَن نَّدۡخُلَهَآ أَبَدٗا مَّا دَامُواْ فِيهَا فَٱذۡهَبۡ أَنتَ وَرَبُّكَ فَقَٰتِلَآ إِنَّا هَٰهُنَا قَٰعِدُونَ ٢٤﴾ [المائدة: ٢٤].

ژباړه: «ای موسی! موږ تر څو چې دغه ظالمان هلته وي هيڅکله نه ورځو. ته او ستا رب ورسئ او ورسره وجنګيږئ، موږ دلته درته ناست يو».

موسیٰ عليه السلام چې د دوی دا نټه او بې غيرتي وليدل لوی څښتن ته يـې وويـل: ای زما ربه زه له خپله ځانه او خپل وروره پرته پـر بـل چـا څـه واک اختيـار نـه لرم، نو ته موږ له دې فاسقانو څخه بېل کړه. هغه وو چې لـوی څښـتن پـه دې جرم پر دوی باندي هغه هيواد تر څلوېښتو کلونـو پـوري حـرام کـړ. بيـا دوی د فاران او د هغه د شاوخوا سيمو په دښتونو کي نتلي او اسکېرلي ګرځېـدل، څـو دغه توکم چې د ذلت او ټيټ ژوند سره عادت سوی وو له منځـه ولاړ او نـوي او د رشتيني اسلام او مړاني په روحيه روزل سوي ځوانان راپور ته سول.

## د فاسد سوي ولس له منځه بايد نوی نسل وروزل سي:

کوم ولس چې د مستبدينو او د اسلام، اخلاقـو او عـدل او انصـاف خـلاف ډول ډول فرعوني او ابليسي واکمنيو د تېريو، ورانيو، ظلمونو او نادودو په بهير کي وروزل سي او د تېري کوونکـو او د هغـو د ګوډاګيـو د ظلمونـو او فجـايعو سره خوی ونيسي، طبيعي ده چې خپل غوره صفات او ښه اخـلاق او حسـنات له لاسه ورکوي او د ريا، چل ول، غوړه ماليو او دوه مخيو او داسي ډېرو نـورو ناوړو عادتونو په ناروغيو اخته کيږي. په دې منځ کي رشتيني، حـق پـالونکي او حق ويونکي وګړي ګوښو ته ټېل وهل کيږي او په تدريج سره له منځـه ځـي. د چارو واګي څو ناپوهو او بې خاصيتو څېروته سپارل کيږي. اجتماعي او اداري فسادونه، بډې او اختلاسونه عامي او معمولي چاري ګرځي. روابط پر ضوابطو

غلبه مومي. طبقاتي اختلافونه او نااندولی رامنځ ته کیږي. بې وزلي نور هم بې وزلي کیږي او څو تنه چالاکه حرامخواره د خلکو پر ځانونو او مالونو او د ولس او هیواد پر شؤونو واکمن کیږي. د بیان او عقایدو او قلم رشتینې آزادي له ټولني کډه کوي او ځای یې د درواغو، پردو او د هغو لاسپوڅو ته د چاپلوسۍ او غوړه مالۍ او د هغو د جوال د خولې نیولو آزادي نیسي. په دغسي ناخوالو شرایطو کي ولس د طاغوت او طاغوت پلوو د ظلمونو، ناوړو کړنو او کفري لارښوونو اطاعت کوي او په مننه او خوښي سره سر ورته ټیټوي. بالاخره د دې ناخوالو په دوام داره کېدو سره دغه ناوړه اخلاق او باطل او باطل پالنه په ولس کي ریښې ځغلوي او موروثي بڼه غوره کوي.

بني اسرائیل هم دغسي وه. د فرعون او فرعونیانو ظلمونو او د ژوند ناسمو شرایطو د هغو حوصلې ټیټې کړي وې او د بدو او ناوړو خویونو او عادتونو سره یې آموخت نیولی وو. خوار، زبون، جبون، ډارن او بې ارادې وګړي ځني جوړ سوي وه او د حق د پلوۍ او د پت، عزت او آزادۍ او خپلواکي د ژوند سره پردي سوي وه. څو چي د دغسي قوم د دغسي ځانګړنو په پام کي نیولو سره لوی څښتن جل جلاله حضرت موسی علیه السلام غوندي د ځانګړي او پیاوړي شخصیت څښتن پیغمبر ورته ورواستوی او هغوی یې د فرعون او فرعونیانو، د ټولني د نادودو پر ضد ډغري وهلو او سپېڅلي مځکي ته د ننوتلو لپاره مبارزې او جهاد ته وبلل. خو څنګه چي هغو د ځپلي او ترټلي حالت او خوارۍ، مریيتوب او ذلت سره خوی نیولی وو حاضر نه وه چي د لوی څښتن په امر او د موسی علیه السلام په بلنه جهاد، د خپل حیثیت اعادې او حق اخیستلو او عدالت رامنځ ته کولو ته ور ودانګي. ځکه نو قرآن کریم موږ ته خبر راکوي چي لوی څښتن وغوښتل چي دغه د ټیټو عادتونو سره عادي سوی او آموخته سوی قوم تر څلوېښتو کالو په بیابانونو کي وګرځي. څو په دې موده کي د ټیټتیا سره آموخته او د بېرې په پوپناکوونکې ناروغي اخته ولس چي د ظلم په وړاندې د درېدو وړتیا یې له لاسه ورکړې وه او د فرعونیانو غلامي یې تر سترګو ښه ایسېدلې وه له منځه ولاړ سي او نوی په سمه پوهه پسوللی او د غلیم په وړاندې د مبارزې په روحیه روزلی توکم رامنځ ته سي.

له دې څخه موږ باید وپوهیږو چې د لوی څښتن د روزني او تربیې دغه طریقه ښايي د خپلو اصلاحي موخو سرمشق وګرځوو او پوه سو چې زموږ د ولس ډېرى وګړي چې د ډېرو مودو ظلمونو او ناخوالو له امله په ډول ډول ورانیو اخته سوي دي هله اصلاح کیږي چې د خپلواکۍ، آزادۍ غوښتني، مړاني او عدالت په روحیه اسلامي احکامو او اوامرو ته غاړه ایښوونکی، نوی اصلاح سوی توکم وروزل سي. زموږ د ټولني د دعوتګرانو او مصلحینو دغه مهم ټکي ته د پاملرني په هیله.

## د فلسطین فتح:

کله چې د سزا څلویښت کاله پوره کېدو ته نژدې سول حضرت هارونؑ د ادوم پولي ته نژدې پر «هور» غره باندي وفات سو. وروسته موسیؑ بني اسرائیل د «موآب» سیمي ته ننایستل. د دې سیمي تر فتح کولو وروسته د «موآب» د درې د «عباریم» پر غره باندي وفات سو. د ده پر ځای د یوسفؑ له لمسیانو څخه یو تن حضرت یوشعؑ د ده لومړی خلیفه سو. هغه د شام او نورو ځایونو د جابرو واکمنو سره جګړې وکړې او د اریحا ښار یې فتح کړ. دا د فلسطین لومړی ښار وو چې د بني اسرائیلو په لاس ورغی. بیا یې په ډېره لږه موده کي فلسطین فتح کړ او پر ډېرو نورو ځایونو یې هم واک وموند. تر دې بریو وروسته هم په بني اسرائیلو کي شر او ورانکاریو په ډول ډول بڼو سر را پورته کړ، ستر جرمونه یې تر سره کړل او ډېر پیغمبران یې شهیدان کړل، چې لوی څښتن د دې ګنهونو له امله سختي سزاوي ورکړې.

په فلسطین کي بېلابېل مشرک ولسونه مېشت وه. د دوی د ډېرو بداخلاقیوله امله د دوی عبادت ځایونه د فحاشیو او بدکاریو مراکز ګرځېدلي وه. واکمنو یې په ظلم او جبر شهرت موندلی وو. په تورات کي بني اسرائیلو ته دنده وکړه سوې وه چې دغه بدکاري ولسونه او ظالم واکمنان له هغه ځایه وباسي. خو دوی دې لارښوونو ته شا کړه او هلته یې یو متحد حکومت ټینګ نه کړ، بلکي د دوی دوولسو قبیلو له فتح سوو سیمو څخه ځیني د خپل قبایلي عصبیت پر بنسټ سره ووېشلې او د نن مهال د عربو غوندي کوچني کوچني

حکومتونه یې پکښې جوړ کړل. په دې ډول دوی او په فلسطین کې پخواني استوګن مشرکین ګډ اوسېدل او پای د دوی د ګډ اوسېدو له امله د دغو ولسونو ټولو شرکیاتو،اخلاقي مفاسدو، فحاشیو او عیاشیو دوی ته سرایت وکړ.

یوشع د مرګ تر ساعته پر دوی حکومت وکړ. کله چې وفات سو څو تنو قاضیانو تر څه مهاله د چارو واګې په لاس کې واخیستې، خو څه خاص واک یې نه درلود. بیا لوی څښتن پر دوی باندې ظالم او جابر واکمنان مسلط کړل. بالاخره پایله دا سوه چې په فلسطین کې د دوی ټول دښمنان د دوی پر ضد سره یو سول او د پرله پسې بریدونو په پایله کې یې دوی د فلسطین له زیاتي برخې څخه بې برخې کړل. تر دې چې په یوه خونړۍ جګړه کې یې دوی ته سخته ماته ورکړه. د دوی ښځې او ماشومان یې اسیران کړل او هغه صندخ یې چې د دوی سپېڅلي کتاب تورات پکښې خوندي وو او دوی«د عهد صندخ» (د لوی څښتن د ژمنې صندخ) باله او ډېر برکتي او د دوی د بري او ډاډ وسایل پکښې خوندي وه او دوی به په جګړو کې د پوځونو په مخ کې وړی ځني یو وړ. ډېر وختونه په دې توګه پر تېر سول څو د دوی د یوه پیغمبر او قاضي سموئیل (شمویل) وخت راورسېد. (د النبوة والانبیاء له ۲۷٤ مخ څخه لنډون)

## د طالوت واکمني:

سموئیل تر ډېرمهاله پر بني اسرائیلو حکومت وکړ. کله چې زوړ سو بني اسرائیلو له خپل دې ناوړه حالت څخه د راوتلو او د دښمنانو سره د مقابلې کولولپاره له سموئیل څخه وغوښتل چې یو پاچا ورته وټاکي څو ټول د هغه تر بیرغ لاندې را غونډ سي او د هغه په مشرۍ د لوی څښتن په لار کې وجنګیږي. څنګه چې سموئیل ته د دوی خوی بوی او د ضعف ټکي معلوم وه، نو یې ورته وویل چې بیاخو به داسې نه وي چې د جنګېدو امر درته وسي او تاسې نټه وکړئ. هغو ورته وویل داسې کله کېدای سي چې موږ له خپلو کورونو څخه ایستل سوي یو او زموږ مېرمنې او ماشومان له موږ څخه بېل

کړی سوي وي او موږ به نه جنګیږو؟ خو کله چي لوی ښتن دوی جګړې تـه وګومارل، له یو لږ شمېر کسانو پرته نورو ټولو نټه وکړه.

سموئیل دوی ته خبر ورکړ چي لـوی ښتـن ستاسـي د غوښـتني لـه مخـي طالوت بن قیش تاسي ته د پاچا په توګه ټـاکلی دی. هغـه د یعقـوبعلیه السلام د ډېـر بې وزلي زوی بنیامین له اولادې څخه یو بې وزلی او عام پـوځي وو، خـو ډېـر غښتلی او هوښیار او عالم ځوان وو، اما څنګه چي مشهور او معروف سړی نـه وو او د دوی د اند سره سم باید واکمنـان د یهـودا لـه توکمـه وای او نبـوت پـه لاوي قبیله اړه درلـوده او لـه بلـي خـوا دوی تـه مـال او شـته د عـزت او شـرف نخښه ایسېده، نو دوی د تکبر او ځان غوښتني له مخـي اعتـراض وکـړ چـي دا خو یو عادي او نشـتمن سـړی دی، دا یـې څنګـه پـر مـوږ بانـدي واکمـن کـړ؟ سموئیل ور ته وویل: دا لوی ښتن ستاسي لپاره غوره کړی دی او د ډېر علـم او ښه روحي او جسـماني ځـواک خاونـد دی او لـوی ښـتـن چـي چـا تـه یـې خوښه سي واکمني ورکوي. لنډه دا چي طالوت (چي په تاریخونو کي «شاول» ور ته وایي) په ۱۰۴۰ قبـل المـیلادکـال د دوی واکمـن وټاکـل سـو. د هغـه د واکمنۍ په زمانه کي د هغه د ښې واکمنۍ او د لوی ښتن له لـوري د پاچـا پـه توګه د هغه د ټاکلو د نخښي په توکه دوی ته لوی ښتن د تورات صندخ چـي د دوی د عزت او شرف پانګه پکښي خونـدي وه او د دوی د زړونـو د ډاډېینـي وسایل او د موسی او هارون علیهمـا السـلام دکورنیـو ځینـي آثـار او د تـورات لوحې پکښې وې، بېرته پـه لاس وروړ. طـالوت د بنـي اسـرائیلو ټـول قبایـل یـو موټی کړل، دوی یې جهاد ته وګومارل او ستر پـوځ یـې پـر فلسـطین بانـدي د مسلطو بت پالو ظالمانو سـره د جګـړې پـه موخـه وخوځـاوه. کلـه چـي دوی د دښمن لښکرو ته نژدې سول او له یوه سیند څخه پوري وتل، طالوت د دوی د اطاعت او جنګي مورال دازمایلو لپاره ورتـه وویـل چـي لـه دغـه سـیند څخـه د تېرېدو پر مهال له یوې، نیمي لپې اوبو چیښلو پرته، د تندي د ماتېدو په انـدازه ډېري اوبه مه چیښي. که چا ډېري وچیښلې زما له پیروانو څخـه نـه دی. امـا لـه دې امر څخه اکثرو سر وغړاوه او ډېر پوځیان ګردسره تر سیند پوري نه وتل او پر شا ولاړل. طالوت هم دغه بې ارادې او سست عنصـره کسـان چـي مـازي د

لښکر شمېر په ډېر سوی وو او نور د هیڅ ورهني نـه وه خوشـي کـړل او د ده د امر منونکي صادق او مومن وګړي يې د دښمن سره مبارزې او د لـوی ښتـن په لار کي جهاد ته چمتو کړل.

## د جالوت وژل:

جـالوت (جُلْيَـات یاجولِیَـت) چـي د فلسـطينيانو د لښـکرو مشـر وو پـه زړه ورتیا او غښتلتیا يې نوم ايستلی وو، خو ډېر ظالم وو او تـول ځنـي بېرېـدل. ده ډېر ستر او په جنګي وسايلو سمبال پوځ راغونډ کـړی وو. کلـه چـي د طـالوت هغولړو لښکرو چي پر سترړیا او تنـده يـې صـبر وکـړ او تـر سـيند پـوري وتـل د دښمن غښتلتيا او ډېرښت او خپل لږوالی وليد، پـه انديښـنه کـي سـول او ويـې ويل:

﴿لَا طَاقَةَ لَنَا ٱلْيَوْمَ بِجَالُوتَ وَجُنُودِهِۦۚ﴾ [البقرة: ۲٤۹].

ژباړه: «نن په موږ کي د جالوت او د هغه د لښکرو سره د مقابلې وس نسته».

خو د دوی عالمانو او یو شمېر زړه ورو جګړنو وويل چي:

﴿كَم مِّن فِئَةٍ قَلِيلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِيرَةًۢ بِإِذْنِ ٱللَّهِۗ﴾ [البقرة: ۲٤۹].

ژباړه: «ډېر داسي سوي دي چي يوه کوچنۍ ډله د لوی ښتن په امر پر يوه لويه ډله لاسبري سوي دي».

نو موږ هم که خـدای کـول بريـالي کيـږو. پـه دې توګـه يـې خپلـو انديښـمنو ملګرو ته دلاوري ورکړه او طالوت ته يې وويل چي خپل کـار تـه ادامـه ورکـړه. په دې توګه ټولو د جالوت د پوځونو جګړې ته په مړانه ورودانګل. وايـي چـي جالوت د خپلو لښکرو له منځه راووت او د طالوت لښکر يانو ته يې ناري کړه چي هر څوک چي ځان ته يو څه وايي زما سره دي تن پـه تـن وجنګيـږي. خـو که څه هم طالوت اعـلان کـړی وو چـي کـه هـر چـا جـالوت وواژه غـټ انعـام ورکوم،خپله لور به هم ور په نکاح کړم او تر ما وروسته بـه پـاچهي هـم د هغـه وي. خو بيا هم د هغه لښکريان له بېري نه ور وړاندي کېدل. وايي چـي د بيـت اللحم د يوه اوسېدونکي د لږ عمر زوی داود نومي چي د يهودا بن يعقـوب؈ له اولادې څخه وو واورېدل چـي جـالوت رقـم رقـم غـټ بـازۍ کـوي او پـوچ

وپاش وايي خو هيڅوک يې مقابلې ته نه وردانګي، نو د دغه کم سنه ځوان غيرت پر ښور راغی، له طالوت څخه تر اجازې وروسته د جالوت مقابلې ته ور وړاندې سو او په داسې حال کې چې د هيڅ زړه ته نه لوېده چې دغه د لږ عمر ځوان به څه وکړي، دغه مغروره ظالم يې وواژه. چې د دې په ليدو سره د هغه په لښکرو هم ماته ګډه سوه او وتښتېدل او په دې حال کې ډېر ووژل سول. لوی څښتن دا پېښه داسې بيانوي:

﴿فَهَزَمُوهُم بِإِذْنِ ٱللَّهِ وَقَتَلَ دَاوُۥدُ جَالُوتَ وَءَاتَىٰهُ ٱللَّهُ ٱلْمُلْكَ وَٱلْحِكْمَةَ وَعَلَّمَهُۥ مِمَّا يَشَآءُ ۗ وَلَوْلَا دَفْعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لَّفَسَدَتِ ٱلْأَرْضُ وَلَٰكِنَّ ٱللَّهَ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْعَٰلَمِينَ ﴿٢٥١﴾﴾ [البقرة: ٢٥١].

ژباړه: «په پای کې د لوی څښتن په امر هغو کافران وځغلول او داود جالوت وواژه او لوی څښتن هغه ته سلطنت او حکمت ورپه برخه کړ او هر هغه څه يې ورزده کړل چې د لوی څښتن خوښه وه. که لوی څښتن په دغه ډول د يوې ډلې مخنيوی په بله ډله نه کولای، نو د مځکې نظام به ګډ وډ سوی وای. خو دا پر نړيوالو باندې د لوی څښتن لوی فضل دی (چې په دې ډول د ورانيو د مخنيوي لارې چارې برابروي)».

## د داود ﷺ واک ته رسېدل:

څنګه چې داود ﷺ جالوت وواژه نو طالوت ته ډېر ورتېر سو او د ټول پوځ د مشر په توګه وټاکل سو او ډېر فتوحات يې وکړل. طالوت خپله لور هم ورکړه. بني اسرائيلو هم د داود ﷺ سره د ده د مړانې او ښو کړنو په سبب مينه لرل او په درنه سترګه يې ورته کتل. کله چې طالوت وفات سو، داود ﷺ د هغه د واک پر ګدۍ کښېنستی. بيا لوی څښتن هغه ته پر پاچهي سربېره د نبوت منصب هم ورکړ. بيا د طالوت د زوی «اشبوشت» او داود ﷺ د پوځيانو ترمنځ جګړې وسوې چې پای «اشبوشت» ووژل سو او داود ﷺ پر ټولو بني اسرائيلو باندې تر څلوېښتو کالو واکمن سو.

## د شنبې د ورځې له حکمونو سر غړوونکي (اصحاب سبت) :

د حضرت موسی علیه السلام دلارښوونو سره سم به بني اسرائیلو د شنبې په ورځو دنیوي کار نه کاوه او د لوی څښتن په عبادت به بوختېدل.لکه چې حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايي لوی څښتن دوی په دغه ورځ له ښکار څخه منع کړي وه، خو د مهالونو په تېرېدو سره، کله چې د داود علیه السلام وخت راورسېد، سره سمندرګي ته نژدې د «ایله» په نامه د یوې سیمې ګټې خوښوونکو او مادي پالو وګړو د دغي ورځې حرمت مات کړ او په دغه ورځ یې د کبانو ښکار کاوه. د شنبې په ورځ او شپه به کبان د سمندر په هغو اوبو کې را غونډېدل چې دغه کلي ته نژدې وې او په یکشنبې به بېرته د سمندر ژورو ته خوځېدل. د بني اسرائیلو له دنیا پالو څخه ځینو له سمندر څخه داسې ولې وکښلې چې د شنبې په ورځ به کبان ورتلل، دوی به د ورځې په وروستیو کې د هغو د بېرته وتلو لار تړل او بیا به یې دغه کبان ښکارول. چې په دې توګه یې په لږ زیار ډېر کبان نیول او ډېره ګټه به یې په لاس راوړل.

د سیمې ښو خلکو دوی ته نصیحتونه وکړل او له دې ناوړه کاره یې منع کړل، خو چې هغو ونه منل پراخ اعتراضونه یې وکړل او بالاخره اړ سول چې دغه مادي پال عناصر په زور له خپله کلي وباسي. خو په پایله کې یې سیمه وویشل او ګټې پالونکو نور هم خپل دې ناسم کار ته دوام ورکړ او په لهو ولعب اخته سول. د سیمې ځینو خلکو بیا ویل چې: تاسې داسې خلکو ته څله نصیحت کوئ چې لوی څښتن یې هلاکوي او یا یې په عذاب اخته کوي؟ څنګه چې ستاسې نصیحت اغېز نه ښندي نو پرې یې ږدئ چې په خپله ګمراهي کې غرق وي.

﴿لِمَ تَعِظُونَ قَوْمًا ٱللَّهُ مُهْلِكُهُمْ أَوْ مُعَذِّبُهُمْ عَذَابًا شَدِيدًاۖ قَالُواْ مَعْذِرَةً إِلَىٰ رَبِّكُمْ وَلَعَلَّهُمْ يَتَّقُونَ ١٦٤﴾ [الأعراف: ١٦٤].

ژباړه: «تاسې داسې خلکو ته څله نصیحت کوئ چې الله د هغو هلاکوونکي یا د سختي سزا ورکوونکی دی. هغو جواب ورکړ چې موږ دا هرڅه ستاسې د رب حضور ته د خپل معذرت وړاندې کولو لپاره کوو او په دې هیله یې کوو چې ښایي دا خلک د هغه له نافرمانۍ څخه راوګرځي».

په دې توګه دغو سرغړوونکو له دغي لاري شتو ټولولو او عيش او نـوش او ورانکاريو او تمرد ته ادامه ورکـړه. بـالاخره خبـره داودﷺ تـه ورسـېده، څنګـه چي د هغه نصيحتونو هم نتيجه ورنه کړه، نو اړ سو چي لـه لـوی څښـتن څخـه هغو ته د عذاب غوښتنه وکړي. هغه وو چي لوی څښتن هغـه خلـک وژغـورل چي دوی يې له بدۍ څخه راګرځول او نور ټول خلک چي ظالمان وه د هغو د نافرمانيو له امله او هغه چي خولې يې پټې نيولي وې او د دغو بدکارانو له بديو څخه د راګرځولو هڅه يې نه کول په سخت عذاب اخته سول. خو چي بيا هم هغو په پوره سرکښۍ سره دغه چاري پر له پسې سرته رسـولې نـو لـوی څښـتن بيزوګان کړل.

﴿فَلَمَّا نَسُواْ مَا ذُكِّرُواْ بِهِۦٓ أَنجَيۡنَا ٱلَّذِينَ يَنۡهَوۡنَ عَنِ ٱلسُّوٓءِ وَأَخَذۡنَا ٱلَّذِينَ ظَلَمُواْ بِعَذَابِۭ بَـِٔيسِۭ بِمَا كَانُواْ يَفۡسُقُونَ ١٦٥ فَلَمَّا عَتَوۡاْ عَن مَّا نُهُواْ عَنۡهُ قُلۡنَا لَهُمۡ كُونُواْ قِرَدَةً خَٰسِـِٔينَ ١٦٦﴾ [الأعراف: ١٦٥-١٦٦].

ژباړه: «په پای کي چي کله هغو هغه ښووني ښځي هيري کړې چي ورزده سوي وې نو موږ هغه خلک وژغورل چي له بدۍ څخه يې منع کول او نور پاته ټول مو چي ظالمان وه د هغو د نافرمانيو له امله په سخت عذاب ونيول. بيا چي هغو په بشپړه سر کښۍ سره همهغه چاري پر له پسې سر ته رسولې چي ځني منع سوي وه نو موږ وويل چي بيزوګاني سئ».

له پورتنيو خبرو څخه څرګنده سوه چي پـه دې سـيمه کـي درې ډولـه خلـک موجود وه. يو هغه چي د لوی څښتن له پولو په تېري او د زور په ښوولو يـې د لوی څښتن له احکامو څخه سر غړاوه. بـل هغـه چي پـه خپلـه خـويې سـر نـه غړاوه، خو د سـر غړونـي پـه ليـدلو يـې پټـه خولـه غـوره کـړې وه او نصـيحت کوونکو ته يې ويل چي دې بدبختانو تـه نصـيحت کـول څـه ګټـه لـري؟ درېيم هغه چي د هغو ايماني غيرت د لوی څښتن د حدودو دغه څرګند سـپکاوی نـه سو زغملای او هغو په دې فکر د نېکۍ په فرمايلو او له بدۍ څخه په منع کولو کي په نه ستړي کېدونکو هلو ځلو لګيا وه چي ښـايي هغـه مجرمـان د دوی پـه نصيحت سره سمي لاري ته راواړوي او که سمه لار هـم غـوره نـه کـړي، مـوږ به تر خپله وسه د لوی څښتن په وړاندي خپله دنده تر سره کړو. نو کله چي پـر

هغه سیمه باندي د لوی څښتن عذاب راغی نو قرآن کریم وایي چي له دې درو ډلو څخه یوازي دربیمه ډله وژغورل سوه او نوري دوې ډلي په ظالمانو کي وشمېرل سوې او د خپل جرم سره سم په عذاب اخته سوې. (تفهیم القرآن ۲/ ۱۳۸مخ) د قرآن کریم نور آیتونه، صحیح احادیث او د مفسرینو او علماوو تحقیق هم د دې ملاتړ کوي چي څوک بدۍ ویني او د بدلون هڅه یې نه کوي د لوی څښتن عذاب به دغه وګړي او مجرمین ټول په عذاب اخته کړي. لوی څښتن دي موږ ته د سمو کارونو او له ناسمو د منع کولو توفیق راکړي.

## د آبیشالوم شورش:

داودﷺ خپل زوی سلیمانﷺ تر خپلي مړیني د مخه خپل ځای ناستی وټاکی. خو د سلیمانﷺ مشر وررور آبیشالوم چي له بلي مور څخه وو د هغه په ولیعهدۍ خوښ نه وو. څنګه چي هغه په راتلونکي کي واک ته د خپل ځان د رسېدو په موخه پر بني اسرائیلو ډېري مهربانۍ کړي وې او د پلار په واکمني کي یې ډېر نفوذ کړی وو، نو هغه وو چي د جدون په نامه یوه ښار ته ولاړ او بني اسرائیل یې اړودوړ ته وهڅول. بالاخره په اورشلیم کي ستره ناکراري رامنځ ته سوه. داودﷺ د خپلو اطرافیانو سره د اردن تر سیند واوښت او د زیتون غره ته یې پناه وروړه. ځینو داودﷺ ته په ښکنځلو او بد ویلو خولې پرانیستلې. آبیشالوم اورشلیم ته ننووت او د چارو واګي یې په لاس کي واخیستلې. داودﷺ خپل قوماندانان ورولېږل چي اړودوړ په عقل او تدبیر لیري کړي، خو هغو د آبیشالوم له وژلو پرته بله لاره ونه موندل. ځکه یې نو هغه وواژه او په دې توګه شخړه پای ته ورسېده او خلکو د آرام سا واخیسته.

## د حضرت سلیمانؑ واکمني

سلیمانؑ واک ته په رسېدو سره د خپل پلار کارونه بشپړ کړل، ډېري سوبې یې وکړې او د داودؑ تر وفات وروسته یې ستره واکمني ټینګه کړه. چې پر کافرو شیطانانو او نورو مسلط سو. هغه د خپل سلطنت په پنځم کال د پلار د وصیت سره سم د بیت المقدس په ودانولو پیل وکړ، پر ټول ښار یې دیوال راوګرځاوه او دا کار یې په اوو کالو کې بشپړ کړ. بیا یې د هیکل یعنې د خپلې پاچایي ماڼۍ په ودانولو پیل وکړ او په دیارلسو کالو کې یې د هغه ودانولو کار سرته ورساوه.

حضرت سلیمانؑ چې د سبا (یمن) د ملکې بلقیسې سره یې واقعه مشهوره ده، په ۹۲۳ ق.م. کال په بیت المقدس کې وفات سو او هلته خاوروته وسپارل سو.

### د اسرائیلو د ورانیو لومړی ستر پېر (دور)

د حضرت سلیمانؑ تر وفات وروسته د هغه زوی رصبعام د واک پر ګدۍ کښېنستی. خو د نه وړتیا له امله یې نه یوازي د سلطنت دیني روح له منځه یووړ، بلکي د هغه سیاسي ټینګښت ته یې هم تاوان واړاوه. دغه مهال د حضرت سلیمانؑ یوه زړه ور او نجیب مریي یوربعام نومي بغاوت وکړ او د اسرائیلو په نامه یې یو بېل سلطنت جوړ کړ. په دې توګه په فلسطین کې دوه یهودي دولتونه رامنځ ته سول چې یو یې په شمالي سیمه کې «د اسرائیلو» په نامه سلطنت وو او«سامره» یې پلازمېنه وه. او بل په سهیلي فلسطین او د ادوم په سیمه کې«د یهودیه» یا «یهودا» په نامه واکمني وه چې پلازمېنه یې یروشلیم (بیت المقدس) وه. په دې ډول د دواړو واکمنیو په منځ کې سختې تربګنۍ او خونړۍ شخړې پیل سوې چې د دې واکمنیو تر را پرځېدلو رواني وې. په دې پېر کې بني اسرائیلو ډول ډول ګمرهیو ته مخه کړه.

لکه چي قرآن کريم، تاريخي کتابونه او د دوی خپل کتابونه شاهد دي پر هغو باندي پيسه پالني شديده غلبه وکړه. بت پالنه هم پکښي دود سوه د ډېرو شتمنيو او سيمو د ترلاسه کولو لپاره يو له بله په جګړو اخته سول. چي د دې انحرافونو او ناوړتياوو د سمون لپاره لوی څښتن په سلګونو پيغمبران ور واستول، خو هغو د دغو پيغمبرانو د لارښوونو د اورېدو پر ځای هغوی وکړول او ويې وژل

پخپله د يهودو تاريخونه وايي چي يهودي دولت د خپلو وروڼو پر ضد د دمشق له آرامي سلطنت څخه مرسته وغوښته. چي د دې کار له امله حضرت حناني پيغمبر د لوی څښتن په امر د يهودو واکمن «آسا» نومي ته سخت اخطار ورکړ. خو«آسا» د دې اخطار منلو پرځای دغه پيغمبر زندان ته واچاوه. (۲.تواريخ، ۱۷ باب له ۷ څخه تر ۱۰ آيتونه)...

د «اسرائيلي» سلطنت واکمن او اوسېدونکي د نورو ولسونو له شرکي عقايدو او اخلاقي ورانيو څخه تر ټولو د مخه او ډېر اغېزمن سول. د دغه دولت يوه واکمن«احاب» (King Ahab) يا «اخي اب» د خپلي مېرمني د دين؛ بت پالني خپرولو ته ملا وتړل. په دې توګه بني اسرائيلو د يوه بت چي«بعل». نومېدی او په قرآن کريم کي يې د الياسؑ (ايلياه؛ Elijah) له خولې يادونه سوې ده لمانځنه کول. الياسؑ د بت پالني، فحاشيو او اخلاقي فسادونو د له منځه وړلو لپاره زښت زيات کوښښونه وکړل، خو دغه قوم چي د کوم تنزل او تيټتيا پر لور روان وو راونه ګرځېدی. بالاخره پاچا «احاب» د خپلي مشرکي مېرمني لپاره په ډېره غوسه د الياس پر خلاف راپاڅېدی او هغه يې د سينا ټاپو وزمي غرو ته په تلو اړ ايست. په دې وخت کي چي الياس کومه دعا کړې ده د هغې الفاظ دادي: «بني اسرائيلو ستا ژمنه پرېښوول.ستا پيغمبران يې په توره ووژل او يوازي زه ورڅخه وژغورل سوم. هغوی زما په مرګ پسي هلي ځلي کوي» (سلاطين ۱۹ باب له ۱ تر ۱۰ آيت پوري).

کله چي الياسؑ وفات سو لوی څښتن اليسع (يسعياه) بني اسرائيلو ته د پيغمبر په توګه واستاوه. د ده پرمهال په بني اسرائيلو کي ډول ډول بدعتونه او

ظالم واکمنان راڅرګند سول. د دغه پیغمبر خبرو ته هیچا غوږ ونه نیو او وفات سو.

په موجود بایبل کې وایي چي تر الیاسؑ وروسته دغه «اخي اب» یو بل پیغمبر حضرت میکایاهؑ د حق ویلو په جرم زندان ته واستاوه او امر یې وکړ چي د غم خواړه په وخورئ او د غم اوبه په وچیښئ. (۱. سلاطین.۲۲ باب ۲٦ ـ ۲۷ آیتونه).

نو هغه وو چي د لوی څښتن عذاب پر «اسرائیلي» سلطنت باندي د آشوریانو د پرله پسې تېریو او ولکې په بڼه نازل سو. د نهمي قبل المسیح پېړۍ څخه فلسطین د آشوري فاتحینو تر پرله پسې بریدونو لاندي راغی، څو چي دغه دولت په ۷۲۲ ق.م. کال د آشوریانو د دوهم سرګان لخوا ړنګ سو.

د «یهودیه» سلطنت واکمنان او اوسېدونکي هم په ډول ډول ګمرهیو کي غرق وه. دوی هم د لوی څښتن پر پیغمبرانو باندي ډول ډول ظلمونه کول.

. د اشعیا په نامه پیغمبر د «یهودیه» سلطنت د یوه واکمن حزقیا نومي سره مرستي وکړې او حزقیا یې خبري منلې، له دې امله بني اسرائیل د دښمنانو له تېري وژغورل سول. خو کله چي دغه واکمن مړ سو په بني اسرائیلو کي زښتي زیاتي ورانۍ رامنځ ته سوې. اشعیا دوی منع کول، خو بني اسرائیلو وپتېیل چي هغه ووژني. اشعیا ځني وتښتېدی، خو ویې نیوی او په اره یې اره کړ. (د ابن کثیر قصص الانبیاء). ځیني وایي چي د منسی په نامه د یهودو یوه پاچا اره کړ. (التحریر والتنویر تفسیر). بیا چي د اسرائیلو د سلطنت په ړنګېدو سره پر یهودیه سلطنت باندي د پوپنا کېدو سیلۍ را والوتې، نو د حضرت ارمیا پیغمبر سره د خپل قوم د ورکېدو اندېښنه پیدا سوه، هغه کوڅه په کوڅه ګرځېدی او نارې یې وهلې چي ځانونه وساتئ، که نه نو ستاسي انجام به تر سامریه وو لا ډېر خراب وي. خو هغو زنځیر او زولانه کړ او بندیخانې ته یې واچاوه،او دا تور یې پر ولګاوه چي هغه د قوم سره خیانت کړی دی او د بهرنیو دښمنانو سره ملګری سوی دی. (۱. یرمیاه،۱۵ باب، ۱۰ آیت. ۱۸ باب ۲۰ ـ ۲۳ آیتونه)..

بياچي دوی په ډاګه بت پالنه او بد کارونه پيل کړل، نو حضرت زکريا د هغو پر ضد آواز پورته کړ، چي بيا هغه د «يهوداه يوآس» پاچا په امر په سليماني هيکل کي د «مَقْدِس» او «قربان ځي» په منځ کي سنګسار سو. (۲. تواريخ، ۲٤ باب، ۲۱ آيت).

له دې امله د لوی څښتن عذاب پر دوی باندي د آشوريانو لخوا د پرله پسې حملو په بڼه نازل سو، ډېر ښارونه يې وران سول او باج ورکولو ته اړ سول. پای د لوی څښتن په ببڅي ستر عذاب اخته سول او د دوی دولت په ۵۸٦ ق.م. کال کلدانيانو د بابل (عراق) د پاچا بخت نصر په مشري راوپرځاوه. د دغه هيواد ډېر ښارونه يې د هغه د پلازمېني بيت المقدس او هيکل سليماني په شمول وران ويجاړ کړل او لس لکه يهود يې عراق ته د مريانو په توګه بوتله او نور يې له فلسطين څخه وشړل.

خو لکه چي تاريخونه شاهد دي دغه مهال د فلسطين اصلي اوسېدونکو دغه ځای پرې نه ښود، دغه خبره د تورات له عبارت څخه هم په واضح توګه جوتيږي. بلکي د فلسطين دغو اصلي اوسېدونکو د يهودو پر ژبه، عادتونو او دودونو باندي ژوري اغېزي وښندلې. په دې توګه په کنعان يعني فلسطين کي د يهودو حکومت د دې عربي مځکي په تاريخ کي يو لنډ مهالی او جزوي حکومت وو. د يادولو وړده چي فلسطين (کنعان) له آره د عربو ملک دی او کنعاني عرب له ۲۵۰۰ قبل الميلاد څخه دلته اوسيږي. د دې خبري ښکاره ثبوت موجود دی چي د حضرت ابراهيم عليه السلام د زېږېدو ځای د حرّان عرفه ده. کله چي حضرت ابراهيم عليه السلام د اور له ښار څخه په هجرت ووتی همدغه حرّان ته ولاړی او بيا له دغه ځايه د ۱۸۰۰ ق.م. په شاو خوا کي فلسطين ته کډه سو او د بيت المقدس په غره کي يې استوګنه غوره کړه. بيا يې مصر ته تشريف يو وړ او څه مهال وروسته بېرته فلسطين ته ستون سو او په بئر سبع کي يې واړول. بيا هغه د فلسطين په الخليل (حبرون) کي وفات سو او هلته خاورو ته وسپارل سو. د ابراهيم عليه السلام زوی حضرت اسحاق او د هغه لمسی حضرت يعقوب (اسرائيل) او بنو اسرائيل هم ټول په حرّان کي پيدا سوي دي او دغه ځای د دوی ټاټوبی بلل کيږي. فلسطين يا کنعان د دوی اصلي ټاټوبی نه دی.

بلکې دوی دلته اوپره او پردي وه. تورات هم دغه خبره په صراحت سره بیانوي. بیا د حضرت یعقوبؑ کورنۍ مصر ته هجرت وکړ او د حضرت یوسفؑ سره یې استوګنه غوره کړه. بیا موسیؑ او د هغه قوم د ۱۲۲۵ قبل المیلاد په شاوخوا کې دغه ځای ته هجرت وکړ. دا چې یهود خپل اصلي وطن فلسطین ګڼي دا درسته نه ده.

## د لوی څښتن له لوري وروستۍ موقع:

که څه هم د یهودو دغه دواړې واکمنۍ راوپرځول سوې او د هغو رامنځ ته کوونکې د دوی د ناوړو عملونو له امله پوپنا سول، خو د یهودیې له عامو اوسېدونکو څخه په ژغورل سوو او مهاجر سوو کسانو کې پر ښو چارو ټینګ وګړي او د خیر او ښېګڼې بلونکي کسان موجود وه. هغو په وګړو کې د اصلاح کار روان وساتی او دوی یې له بدو کارونو پښېمانۍ او توبې ته هڅول. پای الهي رحمت د دغو وګړو مرسته وکړه د بابل (کلدانیانو) سلطنت له منځه ولاړ په ۵۳۹ ق.م. ایراني فاتح سیروس (کوروش) بابل فتح کړ او په دوهم کال یې فرمان صادر کړ چې اسرائیل کولای سي فلسطین ته راسي او هیکل سلیماني له سره ودان کړي.

که څه هم یهود بیرته فلسطین ته ستانه سول، خو تر ډېره مهاله د دې ځای اوسېدونکو د دوی پر ضد مقاومتونه پیل کړل. پای داریوش په ۵۲۲ قبل مسیح کال د یهودیې د وروستي واکمن لمسی «زروبابل» د «یهودیه» د والي په توګه وټاکی. چې هغه د حجي پیغمبر، زکریا پیغمبر او یوه کاهن تر څارنې لاندې سپېڅلی هیکل له نوي سره ودان کړ.

دغه مهال حضرت عزیر (عزرا)ؑ د موسیؑ د دین د بیانوي کولو لپاره ډېر سترکارونه سرته ورسول. هغه د یهودو اصلاح غوښتونکي کسان له هره لوري راغونډ کړل او د بایبل سپېڅلي کتابونه یې چې تورات هم پکښې وو له سره واوډل او خپاره یې کړل. د یهودو دیني ښووني یې منظمې کړې. شرعي قوانین یې نافذ کړل او د هغو اعتقادي او اخلاقي ناوړتیاوې یې ځني لیري

کړې. په دې توګه بیت المقدس یو سل او پنځوس کاله وروسته له سره ودان سو او د یهودو د مذهب او فرهنګ مرکز وګرځېد.

## یوناني ولکه او مکابي غورځنګ:

د شام د سلوقي (Seleucid) سلطنت واکمن درېیم اینټیوکس (Antiochus III) په ۹۸ قبل مسیح کال پر فلسطین برید وکړ او تر خونړیو جګړو وروسته یې هغه ونیو. د دغه یوناني فاتح چي مشرک او بې لاری وګړی وو، له یهودي مذهب او تهذیب څخه ډېر بد راتله. هغه د سیاسي او ټولنیزو فشارونو په مټ په یهودو کي یوناني تهذیب او تمدن دود ولو ته ملاوتړل. په دې چاره کي د یهودو یوه ستره ډله د هغه د لاس آله وګرځېده. په دې توګه د دې بهرنی مداخلې له امله په یهودو کي تفرقه رامنځ ته سوه. یوې ډلي یوناني ژبه، یوناني ژوند دود، یوناني لوبي او نور خپل کړل. خو نور پر خپلو دودونو او فرهنګ ټینګ ولاړ وه. بیا چي څلورم اینټیوکس چي ایپي فینیز (Epiphanies) یعني د خدای د نور مظهر یې باله د واک پر ګدۍ کښېنتی، نو هغه په ظلم او جبر د یهودي مذهب بېخ ایستلو ته ملاوتړل، خو د دې پر ځای چي یهود یې اېل سي د هغه په وړاندي یې تند عکس العمل وښود. په پایله کي یو ستر غورځنګ رامنځ ته سو چي په تاریخ کي یې د مکابي بغاوت (Maccabean Revolt: 164-175 B.C.) په نامه شهرت وموند. که څه هم په دې شخړو کي یونان ځپلي یهود د بهرنیانو (یونانیانو) ملګري وه او هغو عملاً د مکابي غورځنګ د مخنیوي لپاره د انطاکیې د خلکو بشپړ ملاتړ کاوه، خو په عامو یهودو کي د حضرت عزیرؑ ښوونو دونه ستر اغېز ښندلی وو چي ټول د مکابیونو ملګري سول او پای یې یونانیان وایستل او خپله آزاده دیني واکمني یې رامنځ ته کړه چي تر ٦٧ قبل مسیح کال پوري ټینګه وه. د دغي واکمنۍ پولي یو په بلي پسې دوني پراخي سوې چي پر پخواني «یهودیه» او «اسرائیل» سربېره د فلستیې یوه ستره برخه هم په ګډه سوه کومه چي د حضرت داود او حضرت سلیمانؑ په وختو کي هم نه وه مسخره سوې.

**وروستۍ موقع هم له لاسه ووتل:**

دغه حالت تر ډېره پاته نه سو. مکابي غورځنګ چې په کومه اخلاقي او ديني روحيه رامنځ ته سوی وو ورو ورو له منځه ولاړ او ځای يې دنيا پالني او نفساني خواهشونو ونيو. پای د دوی په منځ کي بېلتون رامنځ ته سو او پخپله دوی رومي فاتح جنرال پومپي (Pompey) ته پر فلسطين باندي د بريد کولو لپاره بلنه ورکړه. په۶۳ ق.م. کال فلسطين د رومي پوځيانو لاس ته ورغی او د يهودو آزادي له منځه ولاړه. خو د رومي فاتحانو دا پاليسي وه چې پر نيول سوو سيمو به يې په مستقيمه توګه واک نه چلاوه، بلکي خپل واک به يې د سيمه ييزو ګوډاګيو واکمنو په ذريعه پر پلی کاوه. بالاخره واک د ستر هيرود (Herod,TheGreat) په نامه يوه هوښيار يهودي ته ورسېدی. ده له يوه لوري د مذهبي لارښوونکو سره مالي مرستي کولې او په دې توګه يې يهود خوښ ساتل او له بله پلوه به يې رومي تهذيب او فرهنګ ته په وده او پرمختيا ورکولو سره خپلو بهرنيو بادارانو ته وفاداري څرګندول او د قيصر خوښي به يې ترلاسه کول. دغه مهال د يهودو ديني او اخلاقي حالت دونه ټيټ سو چې د زوال تر پولي ورسېد. تر هيرود وروسته د هغه حکومت پر درو برخو ووېشل سو. د هغه يو زوی ارخلاوس د سامريې، يهوديې او ادوميې واکمن سو، خو په شپږم ميلادي کال قيصر اګوسټ هغه ايسته کړ. او د هغه ټول حکومت يې د خپل والي تر لاس لاندي راووست، چي تر ۴۱ م، کال پوري دې انتظام دوام وکړ. دغه مهال حضرت عيسی عليه السلام مبعوث سو.

د هيرود دوهم زوی هيرود انټي پاس (Herod Antipas) د شمالي فلسطين، د ګليلې د سيمي او ختيز اردن واکمن سو. وايي چي دا هغه سړی دی چي د حضرت يحيی (يوحينا) عليه السلام سر يې د خپلي معشوقې په غوښتنه غوڅ کړ.

د هغه درېيم زوی فلپ د حرمون له غره څخه د يرموک تر سيند پوري سيمو واکمن وو. په ۴۱ م.کال روميانو د ستر هيرود لمسی هيرود اګرپا (Herod AgrippaI) پر ټولو هغو سيمو واکمن وټاکی چي ستر هيروډ پر

واکمن وو.. د دې سړي په واکمن کېدو سره د حضرت عیسیﷺ پـر پلویـانو سـتر ظلمونـه پیـل سـول. دغـه مهـال د عـامو یهـودو او د دوی د مـذهبي لارښوونکو بد حالت له هغو نیوکو څخه څرګنـدیږي چـي حضـرت عیسـیﷺ په خپلو ویناوو کي کولې. د دې قوم په وړانـدي د حضـرت یحیـیﷺ غونـدي سپېڅلي پیغمبر سر د پاچا د معشـوقې پـه غوښـتنه غـوڅ کـړی سـو، خـو د دې ستر ظلم په وړاندي هیڅ آواز پورته نه سو او د قوم ټولو مذهبي لارښـوونکو د حضرت عیسـیﷺ لپـاره د مـرګ سـزا وغوښـتل. تـر دې چـي کلـه پـیلاطس ) پونس پیلاټ؛ Ponce Pilate ( له دغو وګړو څخه پوښتنه وکړه چـي ووایاسـت یسوع خوشي کړم که برابا غل؟ نو ټولو په یوه آواز وویل چي نه برابا پرېږده. دا له آره پر دې سرکښه او نامرده ولس باندي وروستی حجت وو چي قایم سو.

څه مهال وروسته د یهودو او رومیانو ترمنځ سخت کشمکش رامنځ ته سـو. د ٦٤ او ٦٦ تر منځ کلونو کي یهودو د رومیانو پر ضد علني بغاوت اعلان کړ. رومي سلطنت یې پر ضد سـخت غبرګـون وښـود. بغـاوت یـې غلـی کـړ او پـه ۷۰م، کال د رومي واکمن زوی ټیټوس د برچې په زور بیت المقدس فـتح کـړ. په دې ترځ کي په تـر سـره سـوې عـام وژنـه کـي یـو لـک ۳۳ زره وګـړي ووژل سول. ٦٧ زره تنه ونیول سول او مریان سول. په زرګونو یهود د مصر پـه کـانونو کي کارونو ته ولېږل سول. زرګونه نور په ایمفي تیاترونو Amphi Theatte) ؛ د تیاتر هغه ګردي لوبغالي چي پخوا رومیانو د روم په ښار کي جوړول او په هغو کي به یې د وحشي حیوانـانو د جګـړو ننـدارې کـولې (. او داسـي نـورو کـي د ځنګلي ځناورو سره د جګړو لپاره وټاکل سول. ټـولي د دنګـو ونـو لرونکـي او ښایستې یهودۍ پېغلي د فاتح پـوځ افسـرانو ځـانو تـه کښـېنولې او یروشـلیم او سلیماني هیکل یې د خاورو سره برابر کړل. تر دې وروسته لـه فلسـطین څخـه یهود داسي ورک سـول چـي تـر دوو زرو کـالو یـې هـیڅ سـر پـور تـه نـه کـړای سوای. تاریخونه وایي دوی پـه ګاونـډیو هیوادونـو، اروپـا او افریقـا کـي خپـاره سول او د مهالونو په تېرېدو سره یو شمېر پـه مدینـه منـوه (یثـرب) کـي مېشـت سول..

په ۱۵هـ /٦٣٤ع. کال د حضرت عمرﷺ د خلافت په دور کي مسلمانانو د حضرت ابوعبيده بن جراحﷺ په قيادت فلسطين په مذاکره فتح کړ. د طبري د ليکني سره سم مسلمانانو د بيت المقدس د تسليمولو پر مهال د مسيحيانو په وړاندي په تړون کي ژمنه وکړه چي په دغه ښار کي به هيڅکله يهودو ته د اوسېدو اجازه نه ورکوي.

بيا له ۱۰۹۸ع.کال څخه د يروشليم پر سر د مسلمانانو او لوېديزو مسيحيانو تر منځ سل کلني جګړې رواني وې. پای په ۱۱۹۷ع.کال د مصر اتل واکمن سلطان صلاح الدين ايوبي‌ﷺ مسيحيان له دې سپېڅلي خاوري څخه وشړل. بيا له ۱۵۱٦ څخه تر ۱۹۱۸ع.کال پوري فلسطين د ترکانو په واکمني کي شامل وو. بيا د لومړۍ نړيوالي جګړې په دوران کي انګرېزانو پر فلسطين واك ټينګ کړ او بيا د يوې کرغېړني توطئې په لار اچولو سره دلته د نړۍ له ګوټ ګوټ څخه يهود په غاصبانه توګه مېشت سول او بالاخره يې د انګرېزانو او امريکايانو په کالخوايي د ۱۹٤۸ع.کال په مي کي په فلسطين کي د اسرائيلو په نامه هيواد او حکومت جوړ کړ. په مليونونو فلسطينيان يې له خپلي خاوري وايستل او تر اوسه دغه صهيونيستي غاصبان د امريکايانو او نورو اروپايي کفارو په مرسته په پرله پسې توګه د مسلمانو فلسطينيانو د وژلو او پر هغو باندي د ډول ډول مظالمو اور بل ساتلی دی.

# حضرت زکریا او حضرت یحیی (علیهما السلام) اود اسلام سره د یهودو دښمني

حضرت زکریاؑ چې د سلیمانؑ له اولادې څخه وو د بني اسرائیلو له ربانیونو (روحانیونو او عارفانو) څخه وو. وروسته لوی څښتن هغه د حضرت عیسیؑ تر زیږېدو لږ د مخه د خپل پیغمبر په توګه غوره کړ. دغه پیغمبر په داسې حال کې د بني اسرائیلو سمې لارې ته د را اړولو لپاره وګومارل سو چې په دوی کې فسق او فساد اوج ته رسېدلی وو. د هوا او هوس تائع سوي وه. د بې اتفاقۍ څپې پر را ماتې سوې وې، په مادیاتو او سرکښیو کې ډوب سوي وه او ظالم او د رومیانو ګوډاګي واکمنان پر واکمن وه چې د دوی په منځ کې یې ډول ډول ناوړتیاوې خپرولې او د صالحانو او ان د انبیاوو خبرې یې نه منلې، بلکې د هغو په وژلو یې ګوتې پورې کولې.
حضرت زکریاؑ چې د بني اسرائیلو او دغو ګوډاګیو واکمنو لخوا زښت زیات کړاوونه ولیدل، په سپین ږیرتوب کې له لوی څښتن څخه د صالح زوی غوښتنه وکړه، څو د هغه د احکامو په تبلیغولو کې د ده سره مرسته وکړي او تر ده وروسته د دې چارو د پرمخ بېولو لپاره د ده ځای ناستی سي. لکه چې قرآن کریم وایي لوی څښتن د حضرت زکریاؑ دعا قبوله کړه او هغه ته یې د یحیی په نامه زوی ورکړ.

## د یحییؑ زیږېدل:

یحییؑ چې عیسویان یې یوحینا بولي د حضرت عیسیؑ تر زیږېدو درې یا شپږ میاشتې د مخه وزیږېد. وروسته لوی عالم ځني جوړ سو او د حق په ویلو او د باطلو سره په سر سختانه مخالفت مشهور سو، چې د لوی څښتن په لار کې یې د ملامتوونکو او بد ویونکو باک نه درلود او له ظالمو واکمنو څخه نه بېرېدی. بیا په دېرش کلنۍ کې د لوی څښتن لخوا د پیغمبر په توګه غوره سو. کتابونه وایي چې زکریا او یحیی (علیهما السلام) عیسیؑ له

زېږېدني څخه تر ځواني پوري وروزی. دغه راز يحيی عليه السلام عيسی عليه السلام ته د تعميد غسل هم ورکړ[1].

## د خدای د دښمنانو لخوا د زکريا او يحيی (عليهما السلام) وژل:

په کتابونو کي يې د زکريا او يحيی (عليهما السلام) د وژلو ډول ډول لاملونه بيان کړي دي. خو ډېر مشهور يې دادی چي د هيرود انتهي پاس (Herod Antipas) په نامه د روميانو يوه لاسپوځي چي پر شمالي فلسطين او ختيز اردن واکمن وو او ډېر ظالم او فاسد انسان وو د «هيروديا» په نامه يوه ډېره ښايسته ورېره درلوده. دوی دواړه يو پر بل سره مين سوي وه او غوښتل يې چي واده سره وکړي. خو څنګه چي دا واده ناروا وو يحيی عليه السلام يې مخالفت وکړ. هيرود سخت په غضب سو او د يحيی عليه السلام سره يې دښمني راواخيسته. بيا هيروديا وپتېيل چي له خپلي ښکلا څخه د يحيی عليه السلام د له منځه وړلو لپاره کارواخلي او په دې توګه وکړای سي خپل شهوت تسکين کړي. نو هغه وو چي ځان يې يو غوړپ جوړ کړ، ښايسته کالي يې واغوستل او ګران بيي ګېڼي او جواهرات يې په ځان وځړول او خپل مين ته ورغله. څنګه چي يې هغه تر خپلي اغېزې لاندي راوست پوښتنه يې ځني وکړه چي څه هيله لرې چي زه يې درپوره کړم؟ هغې وويل: ته پوهېږې چي يحيی زما او ستا د وصلت خنډ سوی دی. هغه پر ما او تا بد وايي او په ولس کي يې رسوا کړو. نو که زما منې د هغه سر غوڅ کړه. هيرود هم سمدستي د يحيی عليه السلام د سر د راوړلو حکم وکړ. هغه پر لمانځه ولاړ وو چي جلادان ورورسېدل او سر يې ورغوڅ کړ او په يوه تش کي يې هيرود ته ورووړ.

---

۱- (Baptism) يا تعميد د عېسوي مذهب يودود دی. د عېسويانو په اند کله چي کوچنی وزېږي پر سر يې سپېڅلي اوبه ورپاشي په دې ډول هغه عېسوی باله سي. يا يو څوک د توبې کښلو له امله په سپېڅلو اوبو کي په لمبولو سره برکتناکه او عېسوی کړي او يحيی عليه السلام د دې کار متولي او رامنځ ته کوونکی وو.

تر دې پېښې وروسته زيات عالمان د هيرود د دې ظلم پر ضد را پاڅېدل، چې د دغه ظالم لخوا ووژل سول. د دوی په ډله کې زکرياﷺ هم وو چې ځيني وايي په اره يې اره کړ. او ځيني وايي سنګسار يې کړ.

# د تورات په تحریفولو سره د اسلام سره د یهودو دښمني

قال الله تعالی:

﴿۞أَفَتَطۡمَعُونَ أَن يُؤۡمِنُواْ لَكُمۡ وَقَدۡ كَانَ فَرِيقٞ مِّنۡهُمۡ يَسۡمَعُونَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُۥ مِنۢ بَعۡدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمۡ يَعۡلَمُونَ ٧٥﴾ [البقرة: ٧٥].

ژباړه: «ای مسلمانانو! آیا تاسي اوس له دې خلکو (یهودو) دا تمه لرئ چي دوی به ستاسي بلنه او خبري ومني او ایمان به راوړي؟ په داسي حال کي چي په دوی کي داسي وګړي هم وه چي د لوی څښتن کلام به يې واورېدی او بیا به يې په هغه کي پر هغه د پوهېدو او ادراک سره سره، په آګاهانه توګه تحریف کاوه».

درې آیته وروسته فرمايي:

﴿فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ يَكۡتُبُونَ ٱلۡكِتَٰبَ بِأَيۡدِيهِمۡ ثُمَّ يَقُولُونَ هَٰذَا مِنۡ عِندِ ٱللَّهِ لِيَشۡتَرُواْ بِهِۦ ثَمَنٗا قَلِيلٗاۖ فَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا كَتَبَتۡ أَيۡدِيهِمۡ وَوَيۡلٞ لَّهُم مِّمَّا يَكۡسِبُونَ ٧٩﴾ [البقرة:٧٩].

ژباړه: «نو هغو کسانو لره هلاکت دی چي په خپلو لاسونو کتاب لیکي او بیا وايي چي دا د لوی څښتن له لوري دی. څو د هغه په بدل کي لږ څه ګټه ترلاسه کړي. د هغو د لاسونو دا لیکنه هم د هغو د تباهۍ وسیله ده او د هغو دا ګټه هم د هغو د هلاکت لامل ده».

مولانا صلاح الدین یوسف په خپل تفسیر کي لیکي چي د یهودو په لومړنیو وګړو کي داسي یوه ډله وه چي د لوی څښتن په کلام به ښه پوهېدل، خو هغو به د دنیوي ګټو او ګوندي تعصباتو لپاره په هغه کي لفظي او معنوي تحریفونه کول.

په التحریر والتنویر تفسیر کي وايي چي پورتنی آیت د بُخت نصر او رومي ځواکونو د برېدونو او نیونو پر مهال د بیت المقدس تر ورانولو وروسته په بني اسرائیلو کي د تورات ګډوډېدو او په هغه کي بدلونونو راوستو ته اشاره ده.

د تورات احکام چي په څلوېښتو کلونو کي پر حضرت موسیعليه السلام باندي نازل سول له هغو څخه لس (Ten Commandments) هغه وه چي لوی

ځښتن د ډبرو پر لوحو باندي لیکلي ورکړي وه. نور احکام موسی‌﵇ د خپل ژوند په وروستیو کي د یوشع﵇ په مرسته ولیکل او ویې اوډل، د هغو دوولس نقله یې د بني اسرائیلو دوولسو قبیلو ته ور کړل او یو نقل یې د اسرائیلو بني لاوي قبیلې ته وسپاری، څو هغه وساتي. وایي چي د تورات دغه نقل چي لاویانو ته یې ورکړی وو د ډبرو د لوحو سره یو ځای په یوه صندخ (تابوت العهد) کي واچول سو او په خیمة الاجتماع [1] کي یې کښېښاوه.چي بیا سلیمان﵇ په سلیماني هیکل کي کښېښاوه. (ودي کتل سي استثناء۲۱: ۲۴ ـ ۲۷ آیتونه).

د حضرت موسی﵇ په وروستۍ وینا کي چي د استثنا په کتاب کي نقل سوې ده، هغه له خپله قومه په پلاوو پلاوو وعده اخیستې وه چي: «ماچي کوم احکام تر تاسي پوري رسولي دي، هغه پر خپلو زړونو نقش کړئ؛ خپل راتلونکي توکم ته یې ور زده کړئ؛ په کور کي او سئ، که پر لاري؛ کښېنئ اوکه ولاړېږئ؛ هر وخت یې ذکر کوئ؛ د خپلو کورونو د دروازو له پاسه یې هم ولیکئ، څو د هر چا په سترګو ورسي». بیایي په خپل وروستي وصیت کي ټینګار وکړ چي: «د عیبال پر غره غټې غټې ډبري ودروئ او د تورات احکام پر وکیښئ. پر هر اووم کال د غونډېدو د اختر پر مهال د قوم نر، ښځي او کوچنیان په بېلو بېلو ځایونو کي راغونډوئ او دغه بشپړ کتاب توري په توري ورته اوروئ».

خو د حضرت موسی﵇ د دغسي زیات ټینګار سره سره بني اسرائیل د لوی ځښتن له کتاب څخه تر دې اندازې غافله سول چي تر حضرت موسی﵇ اووه سوه کاله وروسته چي یې د یروشلیم د یهود واکمن «یوسیاه» (یوشیا) په وختو کي سلیماني هیکل ترمیماوه، نو د سلیماني هیکل متولي او د قوم تر ټولو ستر پېشوا (حلقیا کاهن) په ناڅاپي توګه په یوه ځای کي تورات پروت وموند او هغه یې د یوه نادرشي په څېر د پاچایي دربار د دارالانشا مشر

---

۱ـ د عبادت هغه ځانګړې خېمه چي موسی﵇ به په هغې نوتی او د یهوه (خدای) کلام به یې پکښې اورېدی. بیا به یهودو دغه خېمه په ځانګړو مراسمو د پوځ په مخ کي درول او هغې ته یې د اجتماع یا عهد خېمه ویل.

ته ورکړ او هغه سمدستي د يوې نوي موندني په توګه د پاچا حضور ته وړاندي کړ. له دې څخه معلوميږي چي دغه مهال بني اسرائيلو ګردسره تورات له ياده ايستلی وو او د هغه په شتون او هيڅ حکم هم نه وه خبر.

دا له دې امله وو چي يهودي عالمانو د دې پر ځای چي دغه کتاب په نړيوالو او خپلو خلکو کي خپور او تبليغ کړي، هغه يې د مذهبي عالمانو په يوه محدوده ډله کي مقيد کړی وو. نور خلک خو پرېږده، پخپله د يهودو عوام هيڅ نه وه په خبر. مازي په خلکو کي د تورات نوم پاته وو. بيا چي له دې امله په عوامو کي عام جهالت رامنځ ته سو او ډول ډول ګمرهۍ پکښې خپرې سوې. نو علماوو نه داچي د دې ناوړتياوو د سمون کوښښ ونه کړ، بلکي په هغو کي يې د خپل محبوبيت او مقبوليت د ساتلو لپاره په خپلو ويناوو او کړنو سره د هري هغي ګمرهۍ او بدعت جواز او روايښت ورکاوه چي په عوامو کي به دودېدل او خپرېدل. د قرآن کريم په وينا د يهودو د عالمانو حال په دې ډول وو:

﴿۞يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡأَحۡبَارِ وَٱلرُّهۡبَانِ لَيَأۡكُلُونَ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِ وَيَصُدُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۗ﴾ [التوبة: ٣٤].

ژباړه: «ای مومنانو! د دغو اهل کتابو زيات عالمان او روحانيون د خلکو مالونه په ناروا لارو خوري او هغوی د لوی څښتن له لاري اړوي».

دې عالمانو يوازي په دې بسنه ونه کړه چي د لوی څښتن کلام ته د خپلو ګټو په پام کي نيولو او خواهشونو سره سم بدلون ورکړي، بلکي خپل تفسيرونه، خپل ولسي تاريخ، خپل اوهام او اټکلونه، خپلي خيالي فلسفې او له ځانه را ايستلي قوانين يې هم د لوی څښتن د کلام سره ګډوډ کړل. او دا ټول يې خلکو ته د لوی څښتن د کلام په توګه وړاندي کړل. په دې توګه هري تاريخي فلسفې، د هر مفسر تاويل، د کلامپوهني د هر عالم عقيدې او د هر فقيه قانوني اجتهاد د سپېڅلو کتابونو په ټولګه (بايبل) کي د لوی څښتن د احکامو او فرمانونو په توګه ځای وموند. او وويل سول چي پر دې وو باندي ايمان راوړل فرض باله سي او له هغو څخه انحراف له دين څخه اوښتل ګڼل کيږي.

څېړنو جوته کړې ده چي د «لرغوني عهد نامې» (Old Testament) پنځه کتابه له اصلي تورات څخه نه دي. ځکه اصلي تورات له نړۍ څخه ورک سوی دی. دغه خبره په خپله له «لرغوني عهد نامې» څخه جوتیږي. دغه راز د ادیانو یو اروپایي ماهر لنګرك وایي چي د استثنا کتاب د یهودو د واکمن یوشیا په وختو کي، په مصر کي یوه اوسېدونکي یهودي لیکلی دی.

تاریخونه وایي چي د حضرت موسیٰ ﷺ تر وفات وروسته په شپږمه قبل مسیح پېړۍ کي بُخت نصر بیت المقدس ته اور واچاوه، او هغه سپېڅلی صندخ چي تورات پکښي خوندي وو، د هغو ټولو کتابونو سره وسوځېد چي تر موسیٰ ﷺ وروسته د موسوي شریعت مجددینو راغونډ کړي وه.

تر دې تباهۍ دوه، دوه نیم سوه کاله وروسته حضرت عزیر (عزرا) ﷺ د بایبل د روایت سره سم د بني اسرائیلو د کاهنانو او روحانیونو په همکاري، د آسماني الهام له مخي دغه کتاب له سره ترتیب کړ. خو د مهالونو پېښو دغه نوې نسخه هم پر خپله اصلي بڼه پرې نه ښوول. د سکندر د فتوحاتو په پایله کي چي د یونانیانو په واکمن کېدو سره یوناني علوم په منځني ختیځ کي خپاره سول نو په ۲۸۰ قبل مسیح کال د تورات ټول کتابونه په یوناني ژبه وژباړل سول. په دې توکه د مهالونو په تېرېدو سره د تورات اصلي عبراني نسخه شا ته وغورځول سول او پر ځای یې یوناني ژباړه دود سوه. نو اوس چي کوم تورات موجود دی د هغه سند تر موسیٰ ﷺ پوري په هیڅ ډول نه رسیږي. خو د دې خبري دا مطلب نه دی چي په موجود تورات کي د اصلي تورات هیڅ یوه برخه نسته یا دا ټول جعلي دی. اصله خبره داده چي په دې تورات کي د اصلي تورات سره یوځای ډېر نور شیان ګډ سوي دي. او دا هم کېدای سي چي ځیني شیان دي ځني ایستل سوي وي.اوس چي څوک په دقیقه توګه دغه کتاب لولي هرو مرو احساسوي چي په دې تورات کي د لوی څښتن د کلام ترڅنګ د یهودي عالمانو تفسیرونه، د بني اسرائیلو ولسي تاریخ، د اسرائیلي فقهاوو قانوني اجتهادات او نور ډېر شیان ګډ سوي دي. چي اوس دغه الهي کلام او د هغو سره ښلول ستونزمن کار ګرځېدلی دی.

په دې توګه څرګندیږي چي دغو یهودو د تورات د دغه الهي کلام په نه خپرولو او د علماوو د یوې محدودي ډلي په لاسونو کي د هغه په اېسارولو او هېرولو او ډول ډول تحریفولو سره د موسیﷺ د دین سره کوم چي هغه مهال د اسلام سپېڅلي دین باله سو، او بیا په دې هکله د لوی څښتن د ستر پیغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ د خبرو په نه منلو سره څوني جفاوي او ستري دښمنۍ کړي دي؟

## حضرت عیسیٰ﵇ او د اسلام سره د یهودو او رومیانو دښمني

### د عیسی﵇ لومړني پیروان مسلمانان وه:

قال الله تعالی:

﴿۞فَلَمَّآ أَحَسَّ عِيسَىٰ مِنۡهُمُ ٱلۡكُفۡرَ قَالَ مَنۡ أَنصَارِيٓ إِلَى ٱللَّهِۖ قَالَ ٱلۡحَوَارِيُّونَ نَحۡنُ أَنصَارُ ٱللَّهِ ءَامَنَّا بِٱللَّهِ وَٱشۡهَدۡ بِأَنَّا مُسۡلِمُونَ ۝٥٢ رَبَّنَآ ءَامَنَّا بِمَآ أَنزَلۡتَ وَٱتَّبَعۡنَا ٱلرَّسُولَ فَٱكۡتُبۡنَا مَعَ ٱلشَّٰهِدِينَ ۝٥٣﴾ [آل عمران: ٥٢-٥٣].

ژباړه: «کله چې عیسی درک کړه چې بني اسرائیل کفر ته چمتو دي، نو هغه وویل: څوک د لوی څښتن په لار کې زما ملاتړ کیږي؟ حواریونو په جواب کې وویل: موږ د لوی څښتن ملاتړ یو، موږ پر الله ایمان راوړی دی، شاهد اوسه چې موږ مسلمانان یو. زموږ څښتنه! کوم فرمان چې تا رالیږلی دی موږ هغه منلی او د پیغمبر پیروي مو قبوله کړې ده. زموږ نوم په شاهدي ویونکو کې ولیکه».

پر دې بنسټ تر ټولو دمخه باید څرګنده سي چې لکه نور ټول پیغمبران او د هغو پیروان چې مسلمانان وه، همدغسي د عیسی﵇ دین هم اسلام وو او د ده لومړني پیراون هم مسلمانان وه، نه بل څوک. دا چې وروسته په دې دین کې تحریف راغی او پیروان یې له اسلام څخه منحرف سول او په نورو نومونو عېسویانو یا مسیحیانو یاد سول دا بېله خبره ده او دا نومونې د دوی لخوا دي. دوی اصلاً نه عېسویان دي نه مسیحیان، بلکې دوی مشرکین یا کفار باله سي. ځکه دوی چې د عیسی﵇ په لارښوونو کې تحریفونه وکړل او بیا یې د حضرت محمد لارښووني ونه منلې خدای﷿، عیسی﵇ او حضرت محمد ﷺ ټول ځني بېزاره دي..

### د عیسی﵇ د مبعوثېدو پر مهال دیهودو ګمراهي:

قال الله تعالی:

﴿فَبِظُلۡمٖ مِّنَ ٱلَّذِينَ هَادُواْ حَرَّمۡنَا عَلَيۡهِمۡ طَيِّبَٰتٍ أُحِلَّتۡ لَهُمۡ وَبِصَدِّهِمۡ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ كَثِيرٗا ١٦٠ وَأَخۡذِهِمُ ٱلرِّبَوٰاْ وَقَدۡ نُهُواْ عَنۡهُ وَأَكۡلِهِمۡ أَمۡوَٰلَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡبَٰطِلِۚ وَأَعۡتَدۡنَا لِلۡكَٰفِرِينَ مِنۡهُمۡ عَذَابًا أَلِيمٗا ١٦١﴾ [النساء: ۱٦۰-۱٦۱].

ژباړه: «د دغو يهودو د ظلم په سبب او له دې امله چې دوی د لوی څښتن له لاري منع راوړي او سود اخلي په داسي حال کي چې دوی ځني منع سوي وه او په ناروا توګه د خلکو مالونه خوري، نو موږ پر دوی هغه ډېر پاک شيان حرام کړل چې د مخه ورته حلال وه او له دوی څخه چې کوم خلک کافران دي، د هغو لپاره موږ درد ناک عذاب چمتو کړی دی».

د حضرت عيسیؑ د مبعوثېدو پر مهال بني اسرائيل تر پخوا لا زيات له سمي لاري اوښتي وه. د لوی څښتن له پولو څخه يې تېری کاوه، له هغه الهي شريعت څخه يې چي پر موسیؑ نازل سوی وو ډول ډول انحرافونه کول. حلال او حرام شته به يې تېرلول. خلک يې د خدایﷻ له ښوولي لاري اړول. ډول ډول کفريات او شرکيات يې تر سره کول. له معنوياتو ليري سوي وه. ځينو هلني، يوناني فرهنګ خپل کړی وو او هغه ته يې په يهودو کي رواج ورکاوه، عبري ژبه يې هېره کړې وه او تورات يې په يوناني وژباړی. ان له دوی څخه ځيني د قيامت او حشر له ورځي منکر سوي وه او د هوی او هوس او شهوتونو په ناولتياوو کي ډوب سوي وه او په افراطي بڼه د خوندونو په اخيستلو اخته سوي وه. له دې امله وو چي د خپلو ځانو او هيواد له آزادۍ او خپلواکۍ څخه بې برخي سوي وه، روميانو په ټول ځواک سره په خورا ظالمانه توګه حکومت پر کاوه او د دوی ظالمان يې پر دوی باندي د خپلو ګوډاګيو او لاسپوڅو په توګه پر مسلط کړي وه.

## د حضرت عيسیؑ د مبعوثېدو پر مهال د روم حالت:

د روم تاريخ د جګړو او د روميانو لخوا پر نورو هيوادونو د تېريو له پېښو ډک دی. دوی چي د يونان او نورو ختيزو هيوادونو په لوټلو سره ښه ماړه سول، ځکه نو د تجملي ژوندانه سره بلد سوي وه. روم د امپراتورانو پرمهال د هغه وخت د متمدني نړۍ مرکز ګرځېدلی وو. ډېر او ډول ډول وګړي يو د بل

سره اوسېدل. لړ يې ښاغلي او روزلي وه. څه نور هم نوي واک ته رسېدلي شهوت پال وه. خو ډېری په وچه ډوډۍ پسې لالهانده وه. له کورنيو جګړو څخه د وزګارتيا او د نورو ولسونو د مادي نعمتونو د لوټولو، امنيت او هوسايي له امله د هيواد پلازمېنه په ډول ډول ماڼيو او ښکلاوو سمبال سوې او دغه د اشرافو ټاټوبۍ د عيش، خوندونو او شهوتونو ښار ګرځېدلی وو. د ډول ډول ساتېريو لپاره ډول ډول لوبغالي او نندارتونونه پکښي جوړ سوي وه. شته پکښي ډېر وه خو د يو څو تنو په لاسونو کي وه..قانون ښاريان پر دوو ډلو وېشلي وه: شتمن چي «هنستيوران» (Honestiores) يعني مهم وګړی يې بلل او نشتمن چي د سپکاوي له مخي به يې «هوميليوران» (Homiliores) ټيټ وګړي ګڼل. لومړۍ ډله له دولتي چوکيو او هر امتياز څخه برخمن وه، خو وهل ټکول، په دارځړول، ژوندي سوځول او نور کړاوونه د خوارانو په برخه وه. اخلاقي مفاسد او قبايح په شتمنو او اشرافو کي په فوق العاده توګه دود سوي وه.

## مريان:

په روم کي مريان خورا ډېر وه. له ايټاليا څخه د باندي جګړو نور هم ډېر کړل. د مريانو د خرڅلاو په بازارونو کي به په زرګونو مريان خرڅېدل. په دولتي دفترونو او د شتمنو په کورونو کي به مريان هغو کارونو ته ګومارل کېدل چي د چارواکو او شتمنو له شان سره به يې لايق نه بلل. له ښار دباندي يې د کرني کارونه هم په دوی کول. د روم قانون مريی انسان نه باله او هيڅ حق يې نه درلود. ان بادار کولای سول چي د آزاد سوي مريي غاړي ته لا بېرته د مرييتوب رسۍ واچوي. آزادو سوو مريانو په ټاکنو کي رايه ورکولای سوای، خو دوی او اولادونو يې دولتي کار نه سوای کولای. پر دې بېچاره ګانو ډېر ستر ظلمونه کېدل. د اختر په ورځو کي به څاروي له کاره معاف وه، خو دوی به لا په تکليف وه. که به يې په کار کي څه لټي وکړه په لښتو به يې وهل. په زنځيرونو به يې تړل، ژرندي به يې په چلولې او يا به يې په کانونو کي سختو کارونو ته ګومارل او يا به يې د ګوانتانامو غوندي په ليرو او کرکجنو زندانونو

کې بندي کول. البته که به یې څه لویه ګناه کول غرغړه کول یې. د «نرون» په پېر کې چې به بادار په خپل کور کې ووژل سو د هغه د کور ټول مریان به یې وژل. یوه پلا یې څلور سوه مریان په دې توګه ووژل. یوه بادار خپل مریی د نهنګ خولې ته واچاوه او د هغه له ټوټه ټوټه کېدو څخه یې خوند اخیست. د دوی دغه حال او د مریي لرونکو بې رحمۍ لاتینو ادیبانو په خپلو لیکنو کې ډېرې ښې شرح کړي دي. د بېلګې په توګه دي د اُمبري داوسېدونکي «پلوټ»، «پزډیولوس» (Pseudolus) رساله وکتل سي...

په دې هکله ښځې په بې رحمي کې تر نارینه وو کمې نه وې. د ژوونال په نامه د هغه مهال یو شاعر د یوې ښځې څېره چې د خپل مریي د کړولو امر یې کړی وو داسې راته انځوروي:

«مېړه پوښتنه کوي: آیا د سزا لایق وو؟ کله چې د یوه انسان د کړولو خبره رامنځ ته کیږي باید لږ څه فکر پر وسي. ښځه جواب ورکوي: چټیات مه وایه، مریی هم چا انسان بللی دی؟ بې ګناه وي که ګناهګاره باید ومري. دا زما خوښه ده».

بله ښځه په داسې حال کې چې مریی یې په لښتو وهل کیږي، د ځان په سینګار او د کور په کار اخته ده:

«څو لښتې د هغه بدبخته پر پښو ماتې سوې. د کور غولی په وینو لژند سو. خو بیا یې لاهم وهي. مېرمن په باړخوګانو سرخي وهي او د دوستانو د راتلو انتظار باسي. د خپلو کالو ښکلا ته په ځیر ځیر ګوري او مریی لا تر وهلو لاندې دی. بیا د ورځنیو پېښو ترتیب سوي او ورته رسېدلې پاڼې لولي او مریی لا وهي. په پای کې د بروې غوندې پر ناري کړي: ووزه بدبخته! مخ دې پرته کړه!» (د البِرمالِه تاریخ رم، د ژوونال د هجویاتو د شپږم ټوک په حواله).

## د مریانو پاڅونونه:

طبیعي ده چې د دې ناوړو حالاتو پر ضد مریانو وخت په وخت پاڅونونه کول. په ١٣٤ قبل میلاد کال د مریانو لخوا خونړی پاڅون وسو چې د مریانو په جګړه مشهور سو. د ډاموفیل په نامه د سیسیل د یوه شتمن د ډېرو بې

رحمیو له امله څلورو سوو تنو مریانو پاڅون وکړ او خپل نور بدمرغه ملګري یې د عبودیت د زنځیرونو ماتولو ته وهڅول. دوو لکو یاغیانو سیسیل ونیو او اړتیا پیدا سوه چې د دوی د ماتولو په موخه پنځه ځله پوځي بریدونه پر وکړي. دېرش کاله وروسته له ۱۰٤ تر ۱۰۰ قبل میلاد پوري د مریانو بل بغاوت د دې هیواد د ورانۍ لامل سو.

## د حضرت عیسیعليه السلام د مبعوثېدو پر مهال دیني چارې:

له دیني پلوه د رومیانو حال داوو چې د ډول ډول باطلو ادیانو پیروي یې کول. «اګوستې» (زیږېدل تر میلاد ٦۲ کاله دمخه او مړینه په ۱٤ میلادي کال).چې د روم ستر امپراتور وو لومړی د خپل ولس زاړه دیني دودونه بېرته ژوندي کړل، د پخوانیو خدایانو لمانځه یې رامنځ ته کړه، لرغوني عبادت ځایونه یې بیا ورغول او ورپسې یې د خپلو سیاسي ګټو او واک د خوندي کولو لپاره خپل ځان خدای وباله او خلک یې د ځان لمانځلو ته وبلل. دغه راز هغه اجازه ورکړه چې د ده په ویاړ هرکال د ورزش جشن ولمانځي او د کال یوه میاشت د ده په نامه «اګوستې» وبولي..

نامتو شاعر ورجل اګوستې ته په خدای ویل. بس په دې سبب چې د ده کوچنۍ کرونده سرتېرو غصب کړې وه، اګوستې بېرته ځنې واخیسته او ده ته یې وسپارل. ورجل ویل: «هغه چا چې زما د هوسایی وسایل برابر کړي دي، زه یې خپل خدای ګڼم» (د البِرمالِه تاریخ رم، د ورجل، د بوکولیک د لومړۍ برخي په حواله).

هوریس (٦٥ـ ۸ ق.م.) هم چې د روم یو نامتو عالم او شاعر وو او د یوه آزاد سوي مریي زوی وو، دغه واکمن ته د خدای مرتبه ورکول.

په همدې وختونو کي د یهودو دین نه یوازي په «یهودیه» کي، بلکي د روم د امپراتورۍ په ټولو ختیځو برخو کي خپور سوی وو. په انطاکیه، دمشق، اسکندریه او ان په خپله روم کي هم د یهودو د کوچیانو ستري ډلي لیدل کېدې. د دوی هغو کسانو ته یې چې دیني قوانین یې زیات مراعاتول«فریسیون» (Pharisees) ویل.

## د مسیح انتظار:

ماشح (مسح سوی) د بني اسرائیلو د واکمنو لقب وو. ځکه د یوه دود پر بنسټ به پیغمبرانو علیهم السلام د خلکو په مخ کې لږ څه غوړي د هغو پر سر موښل چې دا به یې یو ډول برکتناک کار باله. خو څنګه چې دوی د نورو د تېریو له امله له واک څخه بې برخې سول، په تېره د دوی د دښمنانو لخوا د بیت المقدس د ښار تر وروستۍ ورانۍ وروسته دغه لقب د یهودو ارماني پاچا ته ځانګړی سو. د «مسیحا» کومه کلمه چې په پښتو او دري ژبو کې استعمالیږي د ماشح له عبري کلمې څخه د هغې د لاتیني تلفظ پر بنسټ (Messiah) جوړه سوې ده.

یهودو ویل چې د یهودو د پیغمبرانو د وړاند وینو پر بنسټ باید یو مسیح راسي، هغه به له یهودو څخه د رومیانو د ظلم او ولکې لاس لنډ کړي او د محکومیت له ذلت او د سلطنت د زوال له عذاب څخه به یې وژغوري. شیطانان او د دین دښمنان به له منځه یوسي، بیت المقدس به له نوي سره ودان کړي او په نړۍ کې به د بني اسرائیلو واکمني ټینګه کړي. په دې توګه دوی تل د یوه بریمن الهی لارښود انتظار ایستی څو د دوی واک او پرتم د داود او سلیمان (علیهما السلام) ځلانده پېر ته ور وګرځوي.

له دې امله به دوی خلک د روح پاکۍ او له ګنهونو څخه توبې ته بلل. څو د مسیح د څرګندېدو پرمهال ټول خلک صالح او پاک اوسي. د حضرت یحیی علیه السلام لخوا د تعمید غسل ورکول هم په دې موخه وو.

## د حضرت عیسی علیه السلام څرګندېدل:

رومیانو فلسطین اشغال کړی وو. یهودو د هغو تر ظلمونو لاندې بدې شپې تېرولې. د روم د ظالمو واکمنو فشارونه نه زغمونکي سوي وه. د فلسطین په ګوټ ګوټ کې ناکام پاڅونونه وسول او په بې رحمۍ سره وځپل سول.

په دغسې اوضاعو او د مسیح د انتظار او هیلو په شېبو کې حضرت عیسی علیه السلام په بیت اللحم کې، د سې شنبې په ورځ د دسمبر پر ۲٤ مه، د روم د واکمن اګوسټ تر مړیني ۱٤ کاله دمخه، د لوی څښتن په مشیت او حکمت

له بي بي مریمیل څخه ښځه پلاره نړۍ ته راغی. د عیسیؑ د ژوندانه او د عېسویت د لومړنیو حالاتو په هکله مستند اسناد نسته. صرف څلور ګوني انجیلونه دي چي د عیسیؑ د ژوند په هکله څه نیمګړي معلومات ځني ترلاسه کیږي. خو زموږ په نزد هغه هم د باور وړ نه دي. د دغو انجیلونو او نورو تاریخي معلوماتو پر بنسټ هغه خپله ځواني د فلسطین د پخواني ولایت جلیلي په کوچني ښار ناصره کي تېره کړه. هغه داسي یو ښکلی ځوان وو چي شني، ځلېدونکي سترګي یې وې، خرمایي وربښتان یې وه، زلفي یې پر دواړو اوږو خپرې وې منځنۍ ونه یې درلوده. نرمي او خوږې خبري یې کولې، له څېرې یې ویر محسوسېدی. ژړا یې لیدل کېدل، خو خندا یې چا نه وه لیدلې.

### د عیسیؑ مبارزه او نبوت:

د موجودو انجیلونو له مطالعې څخه څرګندیږي چي دغه ځوان (عیسیؑ) یو انقلابي وګړی وو. هغه د مظلومانو د ژغورني او د عدل او انصاف رږغ پورته کړ. که څه هم هغه یوازي د بني اسرائیلو لپاره را پاڅېدلی وو، خو دعوت یې د فلسطین او د روم په ټولو سیمو او مستعمرو کي د رحمت د زېری په توګه خپور سو. هغه پر ظالمانو باندي د مظلومانو د بریالیتوب په لټه کي وو او خپل حواریون او خلک یې د ظالمانو سره مبارزې، وسله والي دفاع او شهادت ته هڅول. هغه د جلیلې په کلو او بانډو کي کرځېدی او د وعظ او نصیحت لپاره د یهودو معبدونو ته تی. زیاتره یې بې وزلو او ناپوهو خلکوته خبري کولې. بیا یهودیې ته ولاړ او یوه ورځ سلیماني هیکل ته ننووت. هلته یې د یهودو د علماوو او فریسیانو سره مناظرې وکړې او د هغو د ریاکاریو او چلبازیو او مکرونو او حیلو پر ضد یې له ولولو ډکي ویناوي وکړې. نور ځایونه یې هم دغسي ویناوي کولې او خلک یې د یهودو د عالمانو په ریاکاریو او فرېبکاریو پوهول. هغه پرله پسې د یهودو پر بدې اخیستلو، عیاشیو او ناروا کارونو هم اعتراضونه کول او د دوی ټیټ ژوند، ټیټ اندونه او ټیټتیا ته تن ورکول او په ټیټتیا کي خوند او شخوند یې سخت غندل

کلـه چـي عيسـیؑ دېـرش کلنـۍ تـه ورسـېد، د روم د واکمـن «تېبـر» (Tibere) په پېر کي، د هغه د سلطنت په ۱٤ کال يحيیؑ ته ورغی او هغـه د تعميد غسل ورکړ. بيا جبرايلؑ ورته ورغی او عيسیؑ څلوېښت ورځـي صحرا ته ووت او روژه يې ونيول. په دې ډول د هغه رسالت د نورو پيغمبرانـو په خلاف په دېرش کلنۍ کي پيل سو. لوی څښتن فرمايي:

﴿وَإِذْ قَالَ عِيسَى ٱبْنُ مَرْيَمَ يَٰبَنِىٓ إِسْرَٰٓءِيلَ إِنِّى رَسُولُ ٱللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَىَّ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ وَمُبَشِّرًۢا بِرَسُولٍ يَأْتِى مِنۢ بَعْدِى ٱسْمُهُۥٓ أَحْمَدُ﴾ [الصف: ٦].

ژباړه: «او د مريمي د زوی عيسی هغه خبره ياده کړه چي ويلي يې وه: ای بني اسرائيلو! زه تاسي ته د لوی څښتن لېږل سوی رسول يم، د هغه تورات تصديقوونکی يم چي تر مادمخه راغلی موجود دی او د يوه پيغمبر زېری ورکوونکی يم چي تر ما وروسته به راسي او نوم به يې احمد وي».

وايي کله چي يو مهال عيسیؑ سليماني هيکل ته ننووت ويـې ليـدل چـي د لوی څښتن د دربار په سپېڅلي فضا او نوراني چاپېريـال کي يهـود پـه مـادي چارو خورا سخت بوخت دي او «د حرم په غولي» کي يې بـازار جـوړ کـړی او د عبادت پر ځای د پيسو په حسابونو او د پېر او پلور پـه کـار وبـار تـر حـد تېـر اخته دي او سخت شورماشور يې جـوړ کـړی دی. د دې انځـور پـه ليـدو سـره عيسیؑ په غوسه سو او په ډېر لـوړ او هيبتنـاک آواز يـې د دغـو مـادي پـالو يهـودو د انحرافـاتو او د دوی د ورک لارو او رياکـارو احبـارو او فريسـيانو پـه خلاف له ولولو ډکه وينا وکړه. بيا يې لکـه چـي پـه کوچنيـوالي ځيـني معجـزې ښکاره کړي وې او په زانګو کي يې د ډېرو يهودو په مـخ کـي شـاهدي ورکـړې وه چي:

﴿إِنِّى عَبْدُ ٱللَّهِ ءَاتَىٰنِىَ ٱلْكِتَٰبَ وَجَعَلَنِى نَبِيًّا ۝٣٠﴾ [مريم: ٣٠].

«زه د لوی څښتن بنده يم، هغه ماته کتاب راکړ او پيغمبر يې کړم».

دغه مهال يې هم ځيني معجزې څرګندي کړې. چي سمدستي د هغه نبـوت ځينو کسانو ومانه.او بالاخره پر ده باندي له ايمان راوړونکـو او مسـلمان سـوو څخه يو شمېر کسان د ده د اصحابو او شاګردانو په توګـه وپېژنـدل سـول چـي (حواريون) يې بلل.

په دې توګه ډېر خلک وپوهېدل چي دا د لوی څښتن هماغه پیغمبر دی چي د موسوي شریعت د نوي کولو او بشپړولو او له هغه څخه د تحریفونو د لیري کولو او ملاتړ او د لوی څښتن وحدانیت ته د بللو او د ښېګڼو، فضایلو، زغم، تسامح او رواداری د دودولو لپاره ګومارل سوی دی.له دې امله هره ورځ د ده پیروان چي زیاتره د ټولني له منځنیو او کښتو طبقو څخه وه زیاتېدل.

## د حاکمو ډلو غبرګون:

څنګه چي د عیسیٰ علیه السلام مبارز شخصیت او دعوت د اشرافو، منحرفو عالمانو او واکمنو او د هغو د ګوډاګیو د ګټو سره په ټکر کي وو د ده موعظو دغه ډلي او په دې ډلو پسي په ناپوهی او پټو سترګو تلونکي خلک د ده سره سختي دښمنی ته وپارول. په تېره «فریسیانو» د ده پیغمبري خطرناکه تشخیص کړه او څنګه چي یې خپلي ګټي په هغې کي له منځه تلو نکي ولیدې نو یې د هغه پیغمبري هیڅ ونه منل، بلکي دی یې د یهودو د دین په نسبت په بد ویلو تورن کړ او ویې ویل عیسی ناصري د جلیلي (ګلیلي) اوسېدونکی دی او له جلیلي څخه نبي نه پیدا کیږي.

دغه راز حضرت عیسیٰ علیه السلام د بېوزلو او نورو مسکینانو سره زیاته ناسته پاسته درلوده او د هغو له ګټو څخه یې ننګه کول،له شتمنو څخه یې کرکه کول او ویل یې: د لوی څښتن روح زما سره ده څو فقیرانو ته زېری ورکړم. هغه زه را استولی یم چي د ماتو زړونو خاوندانو ته شفا ورکړم او اسیران آزادېدو او ړانده لیدو ته وبولم. دغه راز هغه ویل: خوشالي دي وي د مسکینانو پرحال! ځکه چي آسماني دولت د دوی دی. خوشالي دي وي د ویرژلو پر حال! ځکه چي د زړه ډاډ به وویني. خوشالي دي وي د وږو او تږو پرحال! خوشالي دي وي د پاکو زړونو د خاوندانو پرحال! خوشالي دي وي د سوله کوونکو پرحال! او خوشالي دي وي د هغو کسانو پر حال چي د عدالت په لار کي جفا ویني، ځکه چي آسماني دولت د دوی دی. (متی ٥ باب،۳ آیت).

ای زیارکښانو او ستړو ستومانو خلکو! ټول ماته راسئ، زه به تاسي ته هوسایي در په برخه کړم. (متی ۱۱ باب، ۲۸آیت).

رشتیا هم داده چې د لوی څښتنﷻ دغه اولوالعزمه پیغمبر د سولې او آزادۍ استازی وو.له دې امله شتمن او مخور هم ورسره دښمنان سول او واکمنو هم درک کړه چې د ده رسالت او کړنلار د دوی د واک او ګټو سره په ضدیت کې دي. په دې ډول هغه د یهودو د تشدد او شتمنو او واکمنو د استکبار سره مخامخ سو. خو هغه خپل دعوت ته ادامه ورکړه او د فریسیانو او نورو کاهنانو سره به یې مجادلې کولې او د لوی څښتن لارې ته یې بلل.

څلور سره موجود انجیلونه او نور دا شاهدي ورکوي چې عیسیٰ عليه السلام یوازې د نېکو چارو د تر سره کولو لپاره نه وو پاڅول سوی، بلکې د یهودو د خپلواکۍ او پر دوی باندې د مسلط تمدن او سیاست د درست نظام پرځول د هغه موخه وه. او د دې موخې د ترسره کولو لپاره یې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کولې. چې له دې څخه رومي طاغوتي سلطنت، یهودي ګوډاګۍ واکمنۍ، ورک لارو عالمانو او فریسیانو او په مجموع کې د نفس او هوا ټولو بنده ګانو ته خطره متوجه وه. ده به په څرګندو الفاظو خلکو ته ویل: زه چې څه کار کول په پام کې لرم هغه ډېر خطرناک دی او زما سره باید هغه کسان ملګري سي چې د دغو ټولو خطراتو مقابلې ته چمتو وي. «او چې څوک خپل صلیب نه اخلي او په ماپسې نه ځي هغه زما لایق نه دی. څوک چې خپل ځان ژغوري هغه ورکیږي او څوک چې زما په سبب ځان پوپنا کوي هغه، ژغورل کیږي» (متي ۱۰ ـ ١٤ ـ ۳۹).

«څوک چې غواړي په ما پسې سي، هغه دې خپل شخصي غرضونه او ځان پالنه پرېږدي، خپل صلیب دې واخلي او په ما پسې دې راځي» (متي ۱۰: ٢٤).

## توطئه او عیسیٰ عليه السلام دار ته پورته کول:

عیسیٰ عليه السلام د یهودو عالمانو او فریسیانو ته یو ستر خطر وګرځېد. هغو د خپلو ځانو په هکله د عیسیٰ عليه السلام رشتیا او سپیني خبري کله زغملای سوې. هغو لیدل چې عیسیٰ عليه السلام د دوی شهوت پالني او لذت خوښوني غندي او پر پیسو ټولولو او دنیا خوښولو یې بد وایي، اسرار یې لوڅوي او د ریاکاریو او

مفاسدو په هکله یې خلک پوهوي.ځکه نو هغو د عیسیٰ‌علیه‌السلام سره دښمني را واخیستل او د هغه سره جګړې ته یې ملاوتړل. بالاخره یې په خپلو کي مشوره سره وکړه او ویې ویل چي دا آواز به څنګه چوپوو؟ نو هغه وو چي دوی د هغه پر ضد د پټو دُسو او توطئو په جوړولو لاس پوري کړ. د هغه زورول یې پیل کړل او رومي واکمنو او د هغو ګوډاګیانو ته یې د ټولني د نظم د اخلالوونکي او شخړو را منځ ته کوونکي او سرشاره شخص په توګه معرفي کړ او هغو ته یې داسي وښوول چي عیسیٰ‌علیه‌السلام غواړي چي د رومي سلطنت ماتۍ رانسکوره کړي او د قیصر واک پای ته ورسوي. نو هغه وو چي یومهال یې خپل شاګردان د هغه مهال د پټو پولیسو (د استخباراتو د جاسوسانو) په ملګرتیا عیسیٰ‌علیه‌السلام ته ولېږل. هغو له عیسیٰ‌علیه‌السلام څخه پوښتنه وکړه چي: «ای استاده! موږ پوهیږو چي ته رشتینی یې او په رشتیا سره د لوی څښتن د لاري ښوونه کوې او د چا پروا نه کوې. نو ته موږ ته ووایه چي قیصر ته جزیه (مالیات) ورکول روایښت لري؟ (دغه مهال«تیبر» (Tibere) (۱٤ ـ ۳۷م.) د روم امپراتور وو چي «قیصر» یې باله. حضرت یسوع‌علیه‌السلام د دوی په چل سمدستي پوه سو او ویې ویل: ای چلګرو! ما څله ازمایاست؟ د جزیې سکه ماته راوښیاست. هغو د سپینو زرو دینار وروړ. هغه ورته وویل: پر دې باندي دا تصویر او نوم د چا دی؟ هغو جواب ورکړ د قیصر دی. هغه وویل: څه چي د قیصر دي هغه قیصر ته او څه چي د لوی څښتن دي هغه لوی څښتن ته ورکړئ» (متی۲۲: ۱۵ ـ ۲۱).

عیسیٰ‌علیه‌السلام ته د حکومت د جاسوسانو له ور لېږلو څخه د یهودي علماوو موخه داوه چي مخکي تر مخکي لا د عیسیٰ‌علیه‌السلام او د واکمنو تر منځ ټکر رامنځ ته کړي.او د مخه تر دې چي د هغه تحریک جرړې ونیسي د حکومت په زور یې له منځه یوسي. د دغو خلکو په جواب کي چي عیسیٰ‌علیه‌السلام له معنا ډکي خبري وکړې له دوو زرو کالو راهیسي مسیحیان او غیر مسیحیان ګرده دا معنا ځني اخلي چي عبادت خدای ته کوه او اطاعت د وخت د حکومت کوه. خو آره او اصله خبره داده چي حضرت عیسیٰ‌علیه‌السلام نه دا ویلي دي چي قیصر ته مالیه ورکول جواز لري (ځکه چي دا د هغه د دعوت خلاف خبره وه). او نه

يې د ماليې ورکول ناروا وبلل. ځکه تر دغه مهاله لا د هغه تحريک دې پړاو ته نه وو رسېدلی چې د ماليې د نه ورکولو حکم ورکړي. له دې امله هغه دا له لطافت او حکمته ډکه خبره وکړه چې د قيصر نوم او تصوير قيصر ته مسترد کړئ او زر چې لوی څښتن پيدا کړي دي، د خدای په لار کي ولګوئ.

د دې دُسي تر ناکامۍ وروسته فريسيانو د حضرت مسيح عليه السلام يوه حواري يهوداه اسخريوطي (Judas Iscariot اسکريوتي) نومي ته بډي ورکړې، هغه يې دې ته چمتو کړ چې عيسی عليه السلام په يوه داسي وخت او ځای کي ونيسي چې د خلکو د بلوا او شورش خطره نه وي.

عيسی عليه السلام هم په دې دسيسه خبر سو او کله چې د ده نيول قطعي او نژدې سول او پوه سو چې د يوه مجرم غوندي کړنه ورسره کېدونکې ده خپلو ملګرو ته يې د وسله والي دفاع لارښوونه وکړه، خو له هغو څخه يې موافق جواب وانه ورېد.

نو کله چې د اختر لپاره تياري نيول کېدل او عيسی عليه السلام د خپلو حواريونو (يارانو) سره د زيتون غره ته ولاړی. دغه مهال د خاين يهوداه په مرسته يوې ډلي عيسی عليه السلام ونيو، د هغه بې عزتي يې وکړه، ويې ډباوه، سترګي يې وروتړلې او د يروشليم د يهودو ستري محکمې (Sanhedrin) ته يې وروست، د دغي محکمې قاضيانو د ستر کشيش «کايافاس» په مشرۍ هغه په دې ګناه چي ځان يې «د خدای زوی» بللی دی په مرګ محکوم کړ. څنګه چې دا حکم د رومي واکمن بې اجازې نه سو پلی کېدلای، نو خبره رومي واکمن «پيلاطس» (پونس پيلاټ) ته ورسېده. هغه د قوم مذهبي لارښوونکو او د بې عقلو خلکو هغي ورغونډې سوي ډلي ته چې د يهودي علماوو لخوا تحريک سوي وه او حضرت مسيح عليه السلام ته يې بر ناحقه ښکنځل کول، وويل: نن د اختر ورځ ده او د برابا په نامه يو غل هم اعداميږي، نو دا په ښه نه وي چې د دې ورځي په مناسبت يسوع خوشي کړم او برابا غل اعدام کړم؟ مګر ټولو په يوه آواز وويل چې نه برابا پرېږده او يسوع پانسي کړه. هغه ورته وويل: ولي ده خو داسي کوم جرم نه دی کړي چې اعدام سي؟ دوی بيا ورته وويل: بس يسوع پانسي کړه!

هغه هم چي په باطن کي د عیسیٰ﵇ په وړکېدو او له منځه تلوخوشاله وو، د دې تحریک سوو وګړو په غوښتنه امر وکړ چي عیسیٰ﵇ پر صلیب وځړوي او په دې توګه یې ووژني.

وګورئ! د دې وګړو په زړونو کي د یوه بدنام او خطرناک غله لپاره نرم ځای وو، خو د لوی څښتن د استازي د پیغامونو د اورېدو لپاره د هغو زړونه تر کاڼو هم سخت سوي وه! تر اوسه هم خبره همداسي ده! دغسي وګړي تل د خدای او وطن د لاري د دغسي رشتینو لارویانو د هیلو او اندونو د پلي کېدو په لار کي خنډ سوي دي. دغسي بې فکره او بې شخصیته، انسان مخي ساکښان تل د نورو ډول ته نځېدلي دي او د نورو د ناروا موخو او هیلو د تر سره کېدو لپاره یې کار کړی او خپله هیڅ غوښتنه نه لري او یا نه پوهیږي چي څه غواړي.

هو! عیسیٰ﵇ یې د هغه د اندونو او دعوت له بیري او په څرګنده د دغسي ساکښانو په غوښتنه دار ته پورته کړ، خو لکه چي څرګنده ده هغه یې نه دار ته پورته کړ او نه یې وواژه، بلکي په دې هکله معامله د لوی څښتن په حکم پر هغو باندي مشتبه سوه، لکه چي لوی څښتن فرمایي:

﴿وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَٰكِن شُبِّهَ لَهُمْۚ وَإِنَّ ٱلَّذِينَ ٱخْتَلَفُواْ فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِّنْهُۚ مَا لَهُم بِهِۦ مِنْ عِلْمٍ إِلَّا ٱتِّبَاعَ ٱلظَّنِّۚ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينَۢا ﴿١٥٧﴾ بَل رَّفَعَهُ ٱللَّهُ إِلَيْهِۚ وَكَانَ ٱللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا ﴿١٥٨﴾﴾ [النساء: ١٥٧-١٥٨].

ژباړه: «هغو نه هغه وژلی او نه یې په دار ځړولی دی، بلکي موضوع د هغو لپاره مشتبه وګرځول سوه، او کومو خلکو چي د هغه په باب اختلاف کړی دی هغه هم په اصل کي په شک کي لوېدلي دي، د هغو سره په دې باب هیڅ علم نسته.صرف د ګومان پیروي ده، هغو په یقیني توګه مسیح نه دی وژلی. بلکي لوی څښتن هغه خپل لوري ته پورته کړی وو. لوی څښتن زیات ځواکمن او د ښه حکمت څښتن دی».

باید ووایو چي د موجودو انجیلونو او نوروکتابونو د روایتونو سره سم د عیسیٰ﵇ د دعوت او تبلیغ موده ډېره لنده او صرف درې کاله وه

## دا وو له ظلم څخه د بې وزلو د ژغورونکي بر خلیک:

حضرت عیسی‌علیه‌السلام د تاریخ په یوه ډېره تیاره او د ظلمونو او تېریو له بخولو څخه په ډکه دوره کې د لوی څښتن‌جل‌جلاله په امر د هغه د وحدانیت د رڼا د خپرولو او د مظلومو، سپکو سوو، خوارو سوو او په ناپوهیو او جهالت کې د ساتلو سوو انسانانو د ننګې او د هغو د انساني کرامت د درناوي د اعادې لپاره راپاڅېد. هغه د روم د جبارو او قهاورو امپراتورانو، چې هر څه یې په واک کې درلوده، پر ضد ودرېد او د هغو د راپرځولو او د هغو د پلویو او غولوونکو یهودو او غیر یهودو عالمانو او روحانیونو د واک او چړچو د کاسې د نسکورولو او د دغو کړېدلو او له خپلو انساني حقونو څخه د بې برخې کړی سوو انسانانو د ژغورلو لپاره د ډېرو سترو اقدامونو په تکل کې سو. هغه غوښتل په خپل پیاوړي منطق د مړو زړونو خاوندان راژوندي کړي او نوې سا پکښې پو کړي. خو هغه وکولای سول چې رشتیاني مړه راژوندي کړي، اما د مړو ساوو ساکښان یې را ژوندي نه کړای سول. هغه دغو مړو ته رشتیانی ژوند باخښه، خو دغه د قربانۍ پسونه په غیر شعوري توګه په قصائانو پسې تلل او د خپل ژغورونکي د درکولو او پېژندلو حس یې نه درلود. هغه غوښتل چې دوی ته رشتیانی او د پت او عزت او د دې او هغې دنیا د نېکمرغیو ژوند وګټي. هغه پتېیلې وه چې دوی د بنده له بنده‌ګۍ څخه د لوی څښتن بنده‌ګۍ ته او د اسارت له زنځیرونو او د لوږې او بې وسۍ له ګوتهونو او کړلېچونو څخه د مړتیا او وس رسېدو ډګر ته را وباسي هغه دوی ته د ځانونو د ژغورلو لپاره د جنګ جګړو او شخړو او اړودوړ پر ځای د مسامحې، عدم تشدد او منطق لار ښوول. هغه د روم د امپراتورانو تېري د حق او حقیقت په توره طردول. خو افسوس چې هغو ده ته د دښمن په سترګه وکتل، دی یې زوراوه، ناروا تورونه یې پر تړل او ان ښکنځل یې ورته کول. پر ده یې چیغې وهلې او د برابا غله پر ځای یې د دغسې مله پانسي وغوښته.

له بده مرغه دغسې ناکسان چې په دغسې ناپوهې کې ځان ته لقمان وایي تر اوسه خورا ډېر دي او زیاتره دغو نرښځیانو د مړونو کارونه ویجاړ کړي دي. دغسې عناصرو ډېر ځلې خپل رشتیاني ژغورونکي تر داره رسولي او برعکس یې خپل خواروونکي او بدمرغه کوونکي په خپلو کړنو او غوښتنو پر

خپلو ځانونو د واک او اختیار پر ګدۍ کښېنولي دي. بیا هم باید په ډېره خواشیني سره ووایم چي دغسي کسان د نورو ولسونو په پرتله زموږ په ټولنه کي بېخي ډېر دي.. تاسي وګورئ زموږ په ټولنه کي د دغسي کسانو د غیر شعوري کړنو او بې عقلانه حرکتونو له امله چي په خپل خیر او صلاح هیڅ نه پوهېږي، د کفر او استبداد څخه د دوی د ژغورني او د دوی د دې او هغي دنیا د سموني د لاري لارویان او د حق او حقیقت د بریالي کولو او زموږ د سپېڅلي دین د حاکمولو لپاره سرښندونکي حق پلوي، په علم او پوهه پسوللي مسلمانان څونه ترټلي او ځپلي دي او برعکس برابا غوندي غله، بې سواده لنډغر، بډي خواره او خاینان او فاجران او فاسقان د دوی د تائیدونو او رایو ورکولو له امله پر همدې دوی باندي واکمنان او حاکمان سوي دي. البته دا هغه خبري دي چي د علم او پوهي خاوندان په پوهېږي، خو ﴿يَـٰلَيْتَ قَوْمِى يَعْلَمُونَ ﴿٢٦﴾﴾.

## د اسلام د دښمنانو لخوا د انجیل تحریفول

حضرت عیسیعليه السلام د لوی څښتن لخوا د پورتنیو چارو د تر سره کولو لپاره د هغه د احکامو (انجیل) سره د یوه هوډمن او اولوالعزمه پیغمبر په توګه را پاڅېد. هغه ته یې عیسی ناصري ویل. عادي، دروند، جدي او هڅاند انسان وو. ساده ژوند یې وو او ساده او عام فهمه، خو د طاغوت او مادي پالو او باطل پالو پر ضد یې نوي، د پامو او درنې خبري کولې. په دې توګه هغه یو ستر او پیاوړی شخصیت وو او خپلو ملګرو ته یې هم مړانه او د باطلو سره د مبارزې او جګړې سمي لاري چاري ښوولې.

خو لکه چي تاریخونه وایي کله چي یې ونیو ټول ځني وتښتېدل. بیا تر ده وروسته د یهودو د سرکښانو او نورو باطل پالو عالمانو او واکمنو او د هغو د لاسپوڅو د ورانیو، تېریو او ترهګریو او د عیسیعليه السلام پر حواریونو او پیروانو باندي د ظلمونو له امله د هغه ټول پلانونه او تکلونه ګډ وډ سول. په دې ترڅ کي د حضرت عیسیعليه السلام الهامي ویناوي او لارښووني چي هغه د خپل ژوند په وروستیو درو کلونو کي د پیغمبر په توګه بیان کړي وې او اصلي انجیل بلل

کېدی، خو د عیسیٰ﷤ یا بل چا لخوا په لیکلې بڼه موجود نه وو هم په خپله اصلي بڼه پاته نه سو، بلکي وروسته په مختلفو وختونو کي د مختلفو اشخاصو لخوا د انجیل په نومونو ژوندلیک او پېښلیک ډوله کتابونه سم او ناسم ولیکل سول او د عیسی﷤ هغه خطبې او لارښوونې یې هم د هغو په بېلو بېلو ځایونو کي سمي یا نیمګړي درج کړې. په دې توګه له اوسنیو انجیلونو څخه یو هم هغه د حضرت عیسی﷤ انجیل نه دی. بیا په دغو انجیلونو کي د عیسی﷤ د دین او بې وزلو خلکو دښمنانو هغه انجیلونه چي حقایق پکښې وه، لکه د برناباس او داسي نور انجیلونه رد کړل او زیاتره یې له منځه یوړل، چا د دغو انجیلونو اصلي نسخې پټې او ورکي کړې او د هغو پر ځای یې جعلي نسخې او ډول ډول ناسمي ترجمې اصل وبللې. چا په دې سپېڅلي دین کي ډول ډول ناسم او ګمراه کوونکي حکمونه او تعبیرونه ورانـدي کړل او په دې ډول یې دغه دین او د هغه احکام د خپلو او خپلو ولي نعمتانو د ګټو او باطلو خواهشونو سره سم تحریف کړل.

دا چي مسیحیان وایي چي پر حضرت عیسی﷤ هیڅکله کوم کتاب نه دی نازل سوی، نو د عیسی﷤ تر نبوت وروسته د هغه ویناوي او لارښووني څه شي وې؟ دغه خپله «انجیل» یا «نوی مهال» وو.

او دا چي دوی دغه انجیلونه چي د عیسی﷤ د ژوند، خبرو او پر هغه باندي د راغلو پېښو په هکله لیکل سوي دي انجیل بولي، نو دا خبري ولي یوه سړي نه لیکلې؟ او که دوی ته دغه خبري د خدای لخوا الهام سوي دي، نو دې الهام ته څه ضرورت وو او خدای ولي د دې خبرو د لیکلو کار په خپل معتبر پیغمبر عیسی﷤ نه کاوه؟ او یا یې ولي هغه نه ګوماری چي دغه څه د هغه په ژوندوني په یو بل چا ولیکي؟ او بیا ولي خدای دغه الهام یوه سړي ته نه کاوه؟ او ولي دا دونه ډېر انجیلونه ګډ وډ او یو له بل سره په مخالفت، تضاد او تناقض کي لیکل سوي دي؟ ښکاره خبره ده چي دا د ساده انسانانو کار دی او د انسانانو کار له سهوي او هیري څخه خوندي نه وي. کلونه کلونه وروسته بېله سند او تمسکه، له حافظې څخه د یوه ستر او اولوالعزمه پیغبر د متلاطم ژوند او په ډېرو او بېلو بېلو ځایونو او په بېلو بېلو مناسبتونو ډول ډول الهامي

ویناوو او هغه ته د لوی څښتن د لارښوونو او خبرو په هکله کتابونه لیکل هیڅکله هم کره نه خیژي. او هغه هم چي منقطع السنده وي او د لیکونکو او ژباړونکو په هکله یې بشپړ معلومات نه وي..

دا چي دوی په دغو انجیلونو کي تحریفونه او بدلونونه نه مني دا داسي خبري دي چي د سلیم عقل او رشتیاني علم خاوندان کوم چي دغه انجیلونه یې په لېږ غور مطالعه کړي وي او د عیسوي دین په هکله یې تاریخ لوستی وي، هیڅ نه سي منلای..ځکه د یوه دین پر راوړونکي او د هغه پر پیروانو چي دغسي بد حالت او د کړونو او ظلمونو ناتار راسي، لکه پر عیسیﷺ او د هغه پر پیروانو چي راغی او د یوه دین دښمنان چي دونه قوي وي، لکه د هغه مهال یهود او رومي امپراتوري، او د دې دین سخت سری دښمن او د واکمنو جوت سوی ګومارلی پولس غوندي چموک او چالاک انسان یې هم په پېڅه سي او د دښمنانو ډول ډول ډلي ټپلي یې په خرابه او ورکه پسې وي، او په وروستو مهالونو کي هم سرابن او مادي پال عناصر پر دغسي دین بشپړ واک پیدا کړي او د خپلو ګټو لپاره یې وسیله وګرځوي او هر څه د هغو په خوښه بدلیږیي، رامنځ ته کیږي او په حتمي توګه پلي کیږي او په دې دین کي په لسګونو ډلي هم رامنځ ته سي، نو څنګه به دا دین او د هغه لارښووني له تحریف او بدلون څخه په امان کي پاته وي؟ د دغو انجیلونو یوله بله زیات توپیرونه او اختلاف پخپله او د هغو یو له بلي سره توپیر لرونکي ژباړي په ډاګه کوي چي هرو مرو دا د هغه اصلي انجیل سره توپیر لري چي لوی څښتن پر عیسیﷺ نازل کړی وو.

پر دې سربېره د دې انجیلونو د تحریف په هکله د ډېرو عیسوي مورخینو، د انجیلونو د مفسرینو او بې طرفو پوهانو په دلایلو، څرګندونو او شهادتونو کتابونه ډک دي.

د انجیل معنا ده نوی زیری. «نوی عهد »یا «نوی مهال».انجیل د هغه سپېڅلي کتاب دوهمه برخه ده چي«لرغونی مهال» (تورات) ورته وایي. څنګه چي انجیل نوی شریعت بیانوي، ځکه یې نو «نوی مهال».بولي. سپېڅلی

کتاب پر دوو برخو مشتمل دی: «لرغونی مهال» (تورات) چې (۳۹) کتابه دي او «نوی مهال». (انجیل) چي (۲۷) کتابه دي.

موجود «نوی مهال». هغه څلور انجیله دي چي متی (Matthew)، لوقا (Luke)، مرقس (Mark) او یوحنا (John) لیکلي دي. پر دې څلورو کتابونو د عیسیٰ ﷺ د حواریونو او نورو څه نوري لیکني او رسالې هم ورزیاتي سوي دي. پر دغو څلورو انجیلونو سربېره نورهم لیکل سوي دي. چي شمېره یې تر سلو اوړي. د «پیټر» نومي لخوا لیکل سوی انجیل او نور ډېر انجیلونه هم سته. د «کِلِمینټ». (Clement) په نامه یوه رومي (۹۷م.) او «پولي کارپ». ( Poly carp) نومي هم د عیسیٰ ﷺ ځیني خبري راټولي کړي دي چي د نورو په لیکنو کي نه لیدل کیږي.

د یادولو وړ ده چي د انجیل په نومونو دا ټول کتابونه د عیسیٰ ﷺ ځینو شاګردانو او د هغه د شاګردانو شاګردانو، پاچهانو، وزیرانو، طبیبانو، واعظانو، کب نیوونکو او پوونده وو لیکلي دي. چي د واکمنو ګټې، رایې او سپارښتني خامخا پکښي ځای سوي او په پام کي پکښي نیول سوي دي.

دغه راز وایي چي تر اوسه دغه څلورګوني انجیلونه په (۸۰۰) لهجو او ژبو ژباړل سوي دي.

مورخین لیکي: یوحنا خپل انجیل د ۹٤م،کال په شاوخوا کي، په یوناني ژبه د «اِفِسُس» Ephesus) ) په ښار کي (چي هغه مهال د روم له لویو ښارونو څخه وو او اوس یې کنډوالې د ترکیې اوسني «ازمیر» ته نژدې د سهیل خوا ته موندل کیږي)، لیکلی دی. د عېسویانو محققین دا انجیل عیسیٰ ﷺ ته منسوب نه ګڼي او وایي چي دا په دوهمه میلادي پېړۍ کي د اسکندریې د مدرسې یوه شاګرد لیکلی دی. په انسایکلو پیډیا بریټانیکا کي لیکي: د یوحنا انجیل بېله کوم شک او تردیده یو جعلي کتاب دی، چي لیکونکي یې د دوو تنو حواریونو (یوحنا او متی) سره په رقابت کي لیکلی دی. او دغه جعلي لیکوال د دې کتاب په متن کي ادعا کړې ده چي حواري دی او د مسیح ﷺ سره یې لیدلي دي.په دې انجیل کي داسي جملې راغلي دي چي د مسیح ﷺ پر الوهیت باندي دلالت کوي.

متی خپل انجیل آسمان ته د عیسیٰ علیه السلام تر پورته کېدو څلور کاله وروسته په عبري ژبه په فلسطین کې لیکلی دی. خو د دې انجیل د ژباړې اصل او ژباړن هیڅ نه دي معلوم.

مرقس خپل انجیل د ۱۳٤م. په شاوخوا کې، په یوناني ژبه په روم کې لیکلی دی. دغه انجیل د مسیح له الوهیت څخه انکار کوي.

لوقا خپل انجیل د ۱۵۰م. په شاوخوا کې په یوناني ژبه په اسکندریه کې لیکلی دی. مسیحیان د دې انجیل لیکوال د عیسیٰ علیه السلام له شاګردانو څخه نه ګڼي، بلکې د «پولس» نومي ملګری وو (د پولس په هکله وروسته خبرې کیږي).

عجبه ده د خدای دښمنانو د انجیل په نومونو جعلي کتابونه لیکلی او په هغه کې یې د خدای پیغمبر د خدای سره شریک کړی او نعوذ بالله خدای او د خدای زوی یې بللی دی. او د خدای پر مځکه داسي ناپوهان او بې عقلان هم سته چې تر اوسه دغه کتابونه مني او ان د قرآن کریم غوندي له هر ډول تحریفه پاک کتاب منونکي مسلمانان د هغه منلو ته وربولي.

عزیزالله کاسب لیکي: دغه انجیلونه چې په سریاني، قبطي او نورو ژبو وژباړل سول ډېري اشتباوي پکښې وسوې. که څه هم د هغو اصلي لیکونکو هم د دې کار لپاره دونه پوهه نه درلوده او له ادبي او املایي پلوه ډېري تېر وتني پکښې لیدل کیږي. د دې انجیلونو لیکني د یو بل سره په بشپړه توګه نه تطبیقیږي اولیکوالو یې هر یوه خپلي لیدني کتني او رایي پکښې لیکلي دي. له دې امله دی چې په یوه کې یو مطلب سته او په بل کې نسته. دا سي هم سوي دي چې په دې انجیلونو کې د عیسیٰ علیه السلام ځیني کارونه او خبري نه دي راغلي. (تاریخ انبیاء ۲۹۲ مخ).

لکه چې یوحینا د خپل انجیل په پای کې وایي: «عیسیٰ علیه السلام نور ډېر کارونه هم تر سره کړي دي چې که د ټولو جزئیات په تفصیل سره راوړل سي ګومان کوم چې ټول جهان به هم د هغو کتابونو ګنجایش ونه لري چې ولیکل سي». (وګورئ د مژده برای عصر جدید د یوحنا د انجیل خاتمه، ۳۱۸ مخ).

د ازهرپوهنتون مشر ډاکټر محمد طيب نجار ليکي: څنګه چې د انجيلونو هر ليکونکي ادعاکول چې د ده انجيل اصلي دی، نو له دې امله ډېرې فتنې رامنځ ته سوې او هر يوه خپل خپل پيروان پيدا کړل او په دې سبب ډېرې ويني توی سوې او ډېر وګړي ووژل سول. (تاريخ پيامبران ۳۵۳ مخ).

له دې ټولو خبرو او له اوسنيو څلورو انجيلونو څخه له ورايه څرګنديږي چې د هغو ګردې خبري د عيسیعليه السلام ويناوي اولاربنووني نه دي، بلکې د هغو زياتره مواد د خدای د دروغجنو د ښمنانو، د کليساوالو او رنګين طبيعتو پادريانو د اندونو او عيش پالنو ثمره ده. چې د ښکلو پېغلو سره د مستيو او شراب خوريو ولولې پکښې ځای سوي دي. د لوی څښتن په پيغمبرانو او د هغو په نېکو اولادونو پوري يې بې سروبوله خبري جوړې کړي او د خپلو شهوتونو او چټلو خواهشونو د تر سره کېدو لپاره يې لاري او ورونه پرانيستي دي.

## د برناباس انجيل:

«برناباس» (St.Barnabas). له ډېرو عالمو او پرهېزګارو حواريونو څخه وو، چې عيسیعليه السلام ډېر اعتماد پر درلود. د برناباس اصلي نوم «يوسف».يا «يوسي».وو. خو د عيسیعليه السلام شاګردانو دی برناباس باله، يعني د نصيحت او تبشير زوی. دی د قبرس او د يهودو د لاوي قبيلې څخه وو. په خپله مځکه کي يې کار کاوه، خو بيا يې هغه خرڅه کړه او د هغې پيسې يې د دين د تبليغ په کار کي ولګولې..

د برناباس انجيل د غدار پولس ماهيت رسوا کړ (د دغه خبيث په هکله وروسته خبري کيږي). له بله پلوه د دغه انجيل موجود متنونه د قرآن کريم او نورو اسلامي رواياتو سره زيات يوشانته والی لري. په دې انجيل کي د عيسیعليه السلام دين د حضرت محمد مصطفیﷺ د دين پيلامه بلل سوې ده او په هغه کي په څرګنده توګه زموږ د سپېڅلي پيغمبر «محمد»ﷺ نوم راغلی دی. دغه خبره لامل سوې ده چې کليسا هغه تحريم او لوستل يې منع کړي.

د دغه انجیل د نسخې د پټولو او له منځه وړلو کوښښونه کېدل. بیا د رسول الله ﷺ تر راتلو څه له پاسه سل کاله دمخه پاپ لومړي جیلاشیوس چي په ۴۹۲م. کال د کلیسا مشر سو حکم وکړ چي د دغه کتاب لوستونکی دي مجرم وګڼل سي.

بیا دا کتاب ورک وګڼل سو. د شپاړسمي پېړۍ په وروستیو کي یوه لاتیني راهب فرامرنیو د آرنیوس بشب څه لیکونه وموندل چي په یوه کي پر پولس باندي سختي نیوکي سوي وې، او داهم پکښې ویل سوي وه چي د برناباس په انجیل کي د پولس حقیقت ښه په ډاګه سوی دی. یو مهال دغه راهب د روم د پاپ پنځم سکټس سره د هغه کتابتون ته ورغی. څه ګړی وروسته پاپ بیده سو او فرامرنیو د وخت تېرولو لپاره د کتابتون د کتابونو په کتلو اخته سو. په دې ترڅ کي یې د برناباس د انجیل لومړۍ ایټالوۍ نسخه په لاس ورغله. او هغه یې په لستوڼي کي پټه کړه. کله چي یې دغه انجیل ولوست د اسلام په سپېڅلي دي مشرف سو

بیا دغه انجیل تر ۱۷۰۹م. کاله د امسټردام په یوه کتابتون کي پروت وو. او تر دې وروسته په ۱۷۳۸م. کال د اتریش د پلازمېني ویانا پاچایي کتابتون ته ولېږدول سو او تر اوسه هلته خوندي دی.

بیا د دغه انجیل اسپانوي ژباړه وموندل سوه. دغه نسخه په ۱۷۷٤م. کال د ډاکټر هیوټ نومي لاس ته ورغله او هغه په خپلو لکچرونو کي وویل چي په دوو ځایونو کي د لږ څه اختلاف پرته په ایټالوي او اسپانوي نسخو کي څه د یادوني وړ توپیر نسته. خو بیا دغه اسپانوۍ نسخه هم ورکه سوه. لنډه داچي اوس د برناباس د انجیل یوازي ایټالوۍ نسخه پاته ده. دغه نسخه په انګرېزي ژباړل سوې او له انګرېزي څخه ډاکټر منکهوس نومي په عربي ژباړلې ده. چي بیا نامتو پوه سید رشید رضا مصري په ۱۹۰۸م. کال د خپلي یوې سریزي سره خپره کړه. پر دغه انجیل باندي ډاکټر خلیل سعادت مسیحي یوه اوږده سریزه ولیکل او په هغې کي یې ادعا وکړه چي دا انجیل یوه داسي یهودي لیکلی دی چي لومړی نصراني وو او بیا مسلمان سوی دی. دغه عربي ژباړه چي هند ته ورسېده مولوي محمد حلیم انصاري رودلوي په اردو وژباړل او په ۱۰۱۶م.

کال له لاهور څخه خپره سوه. دغه انجیل په فارسي ژبه هم ژباړل سوی دی. (عیسائیت کیاهے، د انسایکلو پیډیا امریکانا د ۳/ ۲۶۲ مخ او نورو په حواله او تاریخ ادیان ومذاهب جهان دوهم ټوک).

## د عیسی‌ﷺ د دین په تحریفولو سره د اسلام سرهد پولس دښمني

د عیسی‌ﷺ تر عروج وروسته د هغه پر پیروانو باندي د ظلمونو او مخالفتونو یو توپان راغی. د یوحینا ورور یعقوب ووژل سو، پطرس جېل ته واچول سو او داسي ستره فتنه او بد حالت را منځ ته سو چي د عیسی‌ﷺ د لارښوونو مازي نوم پاته وو.

د عیسی‌ﷺ پیروانو لومړی د یهودو سره د اړیکو د شلولو فکر نه درلود، بلکي لکه څنګه چي یې د تورات د احکامو سره علاقه درلوده کوښښ یې کاوه چي د نورو پرځای یهود دعوت کړي. خو څنګه چي یهودو روحانیونو او رومي حکومت او د هغه ګوډاګیو د دوی پر ضد لاسونه سره ورکړه او دوی یې ډېر په تنګ کړل، نو دوی په ګاونډیو هیوادونو، په ځانګړې توګه په انطاکیه کي خپاره سول او انجیل یې د خلکو په منځ کي خپراوه.

په دې ترینګلي حالت کي یوه ډېره مهمه پېښه وسوه او هغه داوه چي د ساول یا شائول په نامه یو نامتو عبري ژبی یهودي عالم را څرګند سو. هغه د روم د طرسوس (Tarsus) په ښار کي (چي اوس د ترکیې په سهیل کي له مدیتراني سمندرګي څخه شل کېلومتره لیري واقع دی) د ۱۰ م، کال په شاوخوا کي زېږېدلی وو او عیسی‌ﷺ یې هیڅ نه وو لیدلی. ده یوناني او رومي ژبي زده کړي وې، د لرغونو یوناني ادبیاتو سره هم بلد وو او د خپل مهال په فلسفو او فرهنګي مسایلو ډېر پوهېدی. رومي تابعیت یې درلود او د روم د واکمنۍ په دستګاه کي د اثر او رسوخ څښتن وو.

هغه لومړی د عیسی‌ﷺ د حواریونو او پیروانو سره سخته دښمني را اخیستې وه او ډېر یې ووژل. خو څنګه چي یې د خپلو رومي ولي نعمتانو په سلامشوره تر دې چاري د غولوني او له سمي لاري څخه په چل ول د دې دین د پیروانو د اړوني او د دې دین د تحریفولو او بدلولو چاره غوره وګڼل په ناڅاپي توګه یې ادعا وکړه چي د دمشق پر لار حضرت عیسی‌ﷺ پر را

څرګند سو او د ده د پیروانو د نه زوررولو او د نصرانیت د تبلیغ سپارښتنه یې راته وکړه. ځکه نو ما نصرانیت ومانه. خو د ساول دغه خبري حواریونو نه منلي، اما برناباس چي د عیسیﷺ ډېر نژدې او متقي حواري وو له هغه څخه دفاع وکړه او حواریون یې قانع کړل چي د ده عېسوي کېدل ومني. نو هغه وو چي ساول د ځان د عېسوي ظاهرولو سره سم خپل نوم «پولس» (Paul) کښېښود. چي په یوناني ژبه د کوچني معنا ورکوي. هغه د برناباس له ملګرتیا او خوش باورۍ څخه په ناوړه ګټه اخیستنه عېسوي سپېڅلی او د لوی څښتن د یووالي ښکلی دین د رومي طواغیتو د ګټو تابع کړ او هغو ته یې داسي اېل کړ چي هغوی د شرک او بت پالني د چټلو کوښو سره په ننوتل او بالاخره یې قبضه کړ. د توحید له دې دین څخه یې توحید او موحدین بېرته کړل او د دې دین هرڅه یې رومي کړل. د ځینو مورخینو په وینا «په اصل کي رومیان نه دي عېسویان سوي، بلکي عېسویت یې رومي کړ». پولس د خپلو رومي ولي نعمتانو په هڅونه عېسویت ته د یوه داسي ځانګړي دین چي د روم او لوېدیزي نړۍ د بت پالو عقایدو سره سم وو،د بڼې ورکولو او د هغه د پراخ خپرولو لپاره ډېري هلي ځلي وکړې. ده به خلکو ته زده کول چي عېسویان پر مسیحﷺ باندي په ایمان راوړلو سره ژغورل سوي دي، نو نور اړ نه دي چي د موسیﷺ د احکامو او قوانینو اطاعت وکړي. د دې تر څنګ پولس د عیسیﷺ د دین په نامه ډېر نوي شیان رامنځ ته کړل او هغه یې د عیاشیو او فحشاوو د پلوۍ، ترسره کولو او خپرولواو د ظلم او تېریو او تېتو چارو او تیټو عناصرو دین کړ. چي په دې توګه د نصاراوو دین په بشپړه توګه د اسرائیلو له دین څخه بېل سو، خو هماغه د عیسیﷺ دین هم ګردسره له منځه ولاړ او پر ځای یې صرف د عېسویت په نامه د رومیانو او لوېدیزیانو د منلو وړ او د هغو د وثني او بت پالو عقایدو او د رومي طواغیتو د ګټو سره په توافق کي یو ډول نوی او عمومي مذهب رامنځ ته سو او په دې توګه اوسني مروج څلور انجیلونه هم د پولس د دغو وضع کړو اعتقاداتو سره سم واوډل سول.

د «تاریخ ادیان و مذاهب جهان» په دوهم توک کي وایي: پوهان باور لري چي پولس د خدای د زوی لرلو په هکله د رومیانو عقاید په نصرانیت ګډ کړل

او دې د وحدانیت مذهب ته یې له خپل لومړني حالت څخه بدلون ورکړ او د شرک او تثلیث عقاید یې پکښې ځای کړل.

دغه راز نور ډېر تاریخونه وایي: څنګه چې پولس زیات رسوخ وموند په عیسوي دین کي یې منحرف عقاید، لکه د تثلیث فکر، د مسیح﵇ د الوهیت خبره او داسي ډېر نور مزخرفات د یوناني وثنیت او نورو فلسفو څخه په استفاده پر ورګډ کړل.

تاسي فکر وکړئ خپله مسیح﵇ ځان یو انسان باله نه خدای یا د خدای زوی. هغه په خپلو تعلیماتو کي د یهودو د روایاتو او اخبارو څخه هیڅ انکار ونه کړ، بلکي د یهودو د د ین سره سم د لوی څښتن وحدانیت د ده د ایمان بنسټ وو او د دې تعلیم یې ورکاوه او د تورات د هر لفظ تصدیق یې کاوه. له دې څخه نه هغه انحراف وکړ او نه یې خپلو پیروانو ته د انحراف اجازه ورکول، بلکي ځان یې د پیغمبرانو او آسماني احکامو پلوی باله او ویل یې: «داسي فکر ونه کړئ چي زه راغلی یم چي تورات او د پیغمبرانو لیکني منسوخي او باطلي کړم. زه د احکامو د بشپړولو لپاره راغلی یم نه د هغو د منسوخولو لپاره» (متی ٥: ١٧).

د غه موضوع لوی څښتن په قرآن کریم کي په داسي ښکلو الفاظو بیان کړې ده:

﴿وَقَفَّيْنَا عَلَىٰٓ ءَاثَٰرِهِم بِعِيسَى ٱبْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ ۖ وَءَاتَيْنَٰهُ ٱلْإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ ٱلتَّوْرَىٰةِ﴾ [المائدة: ٤٦].

ژباړه: «بیاموږ تر هغو پیغمبرانو وروسته د مریم زوی عیسی ولېږی. له تورات څخه چي کوم څه د هغه په وړاندي موجود وه د هغه تصدیقوونکی وو او موږ هغه ته انجیل ورکړ چي په هغه کي لارښوونه او روښنایي وه او هغه هم د تورات د هغه څه چي په هغه وخت کي موجود وه تصدیقوونکی وو».

د دغه مسیحا د راتلو موخه داوه چي بني اسرائیل د ذلت او خوارۍ له عذابه وژغوري او سترتوب او لوړتیا ورپه برخه کړي او هغه قوت (رومة الکبری) پاش پاش کړي چي بني اسرائیل یې مغلوب کړي او تر خپله ښکېلاکي ولکه لاندي راوستلي وه. د بایبل عالمان مني چي د مرقس د انجیل

د اووم بـاب لـه ۲۵ تـر ۲۷ آیتونـو څخـه څرګنـدیږي چـي مسـيح روميـان او یونانیان د سپو سره ورته بلل او له هغو څخه یې کرکـه څرګنـدول. نـو روميـانو څنګه داسي مسیح د خپـل خـدای پـه توګـه منلـی وای چـي د روم دښـمن وي، ځان خدای نه، بلکي صرف انسان بولي او بني اسرائیل د لوی څښـتن منتخـب قوم او رومیان سپي ګڼي؟ له دې امله باید په دې شخصیت کي رومي ځانګړني پیدا سوي وای. د یونان او روم نامتو کسان مافوق الفطرت وه؛ دوی تـه بـه پـه خدایي صفاتو قایل وه؛ د دوی په مذهب کي آلهې ضـروري وې او دا آلهـې بـه تل د انسان په بڼه رامنځ ته کېدې، ځکه نـو پـولس پـه حضـرت عیسـی عليه السلام کـي دغه ټول صفتونه پیدا کړل. او په دې توګه یې مسیحیت مسخ کړ او هغه یـې د رومیانو د فطرت او د هغو د طواغیتو د ګټو سره برابر جوړ کړ.

مهمه خبره لا داده چي پولس د روم د حاکمي طاغوتي دسـتګاه ګومـارلی او ملاتړی وو. خو په درواغـو یـې داسـي څرګنـدول چـي زه د واکمنـو لخـوا ډېـر کړول سوی یم. د ده دغه ګومـارل تـوب او ملاتـړ، د واکمنـو پـه اړه د هغـه لـه هغو څرګندونو څخه معلـومیږي چـي ګردسـره د عیسـی عليه السلام د انـدونو، کړنـو او څرګندونو او دعوت په خلاف وې. عیسی عليه السلام د واکمنو ظلمونه او ورانۍ او پر فلسطین باندي د هغو غاصبانه ولکـه پـه کلکـه غنـدل او د مظلومـانو لـه ګرالبـو څخه یې د هغو د لاسونو د لنډولو او پر فلسـطین بانـدي د رومـي سـلطې د لـه منځه وړلو پلان درلود. د جلیلي رومي واکمن یې ګیډۍ باله او سـره د دې چـي دغه واکمن یحیی عليه السلام وژلـی وو او خلکـو عیسـی عليه السلام هـم وبېـراوه چـي تـا هـم وژنـي خـو ده یـې هـيڅ پـروا نـه کـول. خـو پـولس د دې بـرعکس د واکمنـو د اطاعت په هکله خلکو ته توصیې او سپارښتني کولې. لکه چي پـه «مـژده بـرای عصر جدید» (انجیل) کي، رومیانو ته د پولس د رسالې په (۱۳) فصل کـي «د قدرت د خاوندانو په نسبت زموږ وظیفه» تر سرلیک لاندي داسي لیکل سـوي دي:

«ټول باید د امورو له اولیاوو څخه اطاعت وکړئ، ځکه د خدای لـه اجـازې پرته هیڅ قدرت وجود نه لري.او د قدرت اوسني خاونـدان خـدای مقـرر کـړي دي. له دې امله هرڅوک چي د هغو سره مخالفت وکړي د هغو سره مخالفت

کوي چي لوی څښتن مقرر کړي دي. او په دې عمل به خپل ځان ملامت کړي. ځکه فرمانروایان د نېک چارو د وحشت لامل نه دي، بلکي بدکاران باید له هغو څخه وبېرېږي. آیا غواړې چي له واکمنو څخه بېره ونه لرې؟ په دې صورت کي نېکي وکړه او هغه تا تعریفوي. ځکه چي هغه د خدای خادم دی او ستا د ښېګڼي لپاره کار کوي. اما که ناسم کار وکړې له هغو څخه وبېرېږه ځکه هغه بې سببه د توري خاوندان نه دي. بلکي د خدای خادمان دي څو د خدای غضب د خطاکارانو په هکله پلی کړي. ځکه نو باید د قدرت د څښتنانو څخه اطاعت وکړئ. نه یوازي د خدای د غضب په سبب، بلکي د خپل وجدان د هوسایی لپاره هم. او په همدې سبب دی چي تاسي مالیې ورکوئ. ځکه د امورو اولیا د خدای خادمان دي او په دې دلیل په خپلو دندو اخته دي.نو خپله دنده د ټولو په نسبت تر سره کړئ. مالیات د هغو مستحقو ته ورکړئ. او محصولونه د محصول ټولولو مامور ته ورکړئ. او هغه څوک چي د درناوي وړ دی درناوی یې وکړئ. او د عزت د څښتنانو عزت وکړئ».

د پولس له دغو څرګندونو څخه په زغرده جوتیږي چي هغه اصلاً د روم یو ګومارلی وو چي د مسیح ﷺ په پیروانو یې ننایستلی وو او دغه مبارک دین یې داسي تحریف کړ چي د هغو ګټو ته تاوان.ونه رسولای سي.

په دغو لاملونو وو چي بالاخره حواریونو د پولس سره مخالفتونه پیل کړل او له هغه څخه په بېلېدو سره یې د هغه ګمراهي او د عېسویت سره ستره دښمني او چلبازي څرګنده کړه. خو ده تر دې مهاله خپلو شومو موخو ته د رسېدو لپاره ډېر کار کړی وو او ډېر وګړي یې د ځان کړي وه.

برناباس حواري چي لومړی په خوش بینۍ او حسن نیت د ساول ننګه کړې وه د خپل انجیل په پیل کي ولیکل:

«عزیزانو! لوی څښتن چي عظیم او عجیب دی په دې آخره زمانه کي موږ د خپل نبي یسوع مسیح په ذریعه په یوه ستر رحمت سره وازمایلو. شیطان د دغه تعلیم او آیتونو په ذریعه ډېر هغه وګړي ګمراه کړي دي چي د تقوا دعوې کوي او د سخت کفر تبلیغ ته یې ملاتړلې ده. مسیح د لوی څښتن زوی بولي. سنتي چي لوی څښتن یې د تل لپاره حکم کړی دی، نه مني. او ټولي مرداري

غوښي حلالي بولي. د دوی په ډله کي پولس هم ګمراه سو. خو په خواشینۍ سره باید ووایم چي زه یې په هکله څه نه سم ویلای. دغه لامل دی چي زه دغه حق خبري لیکم، کومي چي ما د یسوع مسیح سره د ملګرتیا پرمهال اورېدلي او لیدلي دي. څو تاسي نجات ومومئ او شیطان مو له لاري وانه ړوي او د لوی څښتن په دیانت کي هلاک نه سئ. له دې امله له هر هغه چا څخه ګوښه ګرځئ چي تاسي ته د کوم داسي نوي تعلیم تبلیغ کوي چي زما له لیکني خلاف وي، څو تاسي تل تر تله نجات ومومئ» (د برناباس د انجیل سریزه له ۲ تر ۹ آیتونو)..

په بریټانیکا انسایکلو پیډیا کي د پولس په هکله لیکي: «پولس عېسویت دونه بدل کړ چي هغه د دې دین دوهم بنسټ ایښوونکی سو. بلکي په حقیقت کي د هغه کلیسایي عېسویت بنسټ ایښوونکی دی چي د یسوع مسیح د دین سره ګردسره توپیر لري. لکه چي تاریخونه وایي درې پېړۍ د پولس د تحریفاتو او افکارو پر ضد شدید مقاومت وسو».

د ادیانو یو څېړونکي جان ناس د ادیانو په تاریخ کي وایي: مسیحیان کوښښ کوي چي د پولس ستر خیانت چي د عیسی علیه السلام په توحیدي دین کي تحریف دی توجیه او اصلاح کړي. په داسي حال کي چي هغه یو یهودي او د عیسی او د هغه د دین له سرسختو دښمنانو څخه وو. رشتیاني مسیحیان دی یو چلباز او درواغجن بولي.

وایي چي یوځل پولس د بیت المقدس په ښار کي ونیول سو، خو څنګه چي یې د روم تابعیت درلود بندي روم ته ولېږل سو، اما هلته قیصر بېرته خوشي کړ. بیا د اسپانیې، مقدونیې او کرټ د ټاپو د سفر پر مهال ونیول سو او روم ته بندي واستول سو، خو داځل د روم د واکمن نرون په وختو کي په ٦۱م.کال ووژل سو. (تاریخ ادیان ومذاهب جهان دوهم توک).

له پورتنیو خبرو څخه څرګندیږي چي اوسنی مسیحي دین د حضرت عیسی علیه السلام د سپېڅلولارښوونو سره هیڅ سر نه خوري او دا ټول د پولس لخوا رامنځ ته سوي عقاید دي.پر دې سر بېره دغه تحریف سوی نصرانیت چي څنګه په اروپا کي خپور سو او د یوناني بت پالني سره په شخړو اخته سو ویې

نه سوای کولای چي پر خپلو اصولو او بنسټونو پاته سي او پای د بت پالني او مادي پالو عناصرو تر اغېزي لاندي راغی او د شرابو، کبابو او عياشۍ او فحاشۍ او مادياتو او لذتونو او خوندو نو دين ځني جوړ سو. له دې امله دی چي ځيني عيش خوښوونکي مادي پال وګړي د اسلام له پاکي لمني څخه دغه د خوند او عيش او پيسو او لوېديزو نڅاځايونو او فحشاوو ځالي ته ور اوړي.

## د عېسويانو کړوني:

پولس خو د روميانو د خوښي او د رومي امپراتورۍ د ګټو سره سم د عيسی‌ﷺ دغه د هغه مهال د اسلام دين ته انحراف ورکړ، خو څنګه چي د ده په چلونو او ګمرهيو برنابا او نور حواريون پوه سول د ده سره يې مخالفت پيل کړ. وروسته بيا لکه چي د واکمنو عادت دی چي له خپل ګوډاګي څخه تر کار اخيستلو وروسته يې ژوندی نه پرېږدي. په پولس هم دغه کانه وسوه. څنګه چي دغه مذهب زياتره زيارکښو پرګنو او مريانو مانه او له فلسطين څخه د باندي او روم او د هغه اړوندو ملکونو ته ورسېد، او زيات خپور سو، او له بلي خوا څنګه چي دغه دين له آره د روميانو د مظالمو سره نه وو جوړ او فطرتاً د رومي واکمنو ضد وو او د دې دين په اند روم د تيارو بچی باله سو. په تېره چي په ۱۳۲ م.کال يهودو د رومي ښکېلاک سره وسله والي ډغري ووهلې، نو عېسويان هم په دې پاڅون ورګډ سول، ځکه نو واکمنو او امپراتورانو خطر ځني احساس کړ او وپوهېدل چي دا مذهب د دوی بېخ باسي. په دې سببونو د دې دين مشران او پيروان د رومي واکمنو او د هغو د ګوډاګيانو.د زورونو او کړونو سره مخامخ سول. يهودو هم دښمني ورسره پالل او نورو عامو خلکو هم له دې مذهب څخه کرکه کول. هغوی بيا د پولس بدعت ته متوجه وه او ويل يې: څنګه کېدای سي چي عيسی‌ﷺ چي د مريي غوندي په دار وځړول سو، خدای وي. داسي خدای هم وي چي زيږي، مري او بيا ژوندی کيږي؟ او څنګه کېدای سي چي خدای هم پلار وي او هم زوی او څنګه کېدای سي له مريمي څخه چي بشر ده خدای وزيږي؟ له دې امله ډېر حواريون او عام عېسويان ووژل سول او اعدام سول. عامو خلکو هم پلمې

لټولې چې د دغو دښمنانو مرګ ته لاره جوړه کړي. او نارې به يې وهلې: «عېسويان د زمريو خولې ته واچوئ!». په مرګ محکومين به يې په ډول ډول کړونو وژل. د روم له مدني حقوقو څخه د برخمنو عېسويانو سرونه به يې پرې کول او د هغو ښځې به يې تبعيدولې. خو کوم کسان چې به د روم له مدني حقوقو څخه برخمن نه وه هغه به يې ژوندي سوځول.يا به يې په دار ځړول او يا به يې د امفي تياتر ښاروېو ته اچول. (د البرماله تاريخ رم۲۹۰ مخ).

په «الموسوعة الميسرة في الأديان والمذاهب والأحزاب المعاصرة» کې ليکي: «نصرانيان د يهودو لخوا چې ديني واک يې درلود او د روميانو لخوا چې سياسي واک يې درلود ډېر زورول کېدل. دوی به يې په ډول ډول عذابونو، لکه اره کولو، په سرو سيخانو پېيلو او ژوندي سوځلو له منځه وړل. ځينو امپراتورانو يې کتابونه وسوځل. د ديوکلسين په نامه يوه امپراتور په ۲۸٤ م.کال وپتېيل چې تر څو د نصاراوو ويني زما د آس تر زنګنو پورې ونه رسيږي زه به د دوی له وژلو لاس وانه خلم. او دغسې يې هم وکړل. دغه امپراتور يې کليساوي او کتابونه وروسوځل او ډول ډول عذابونه يې پر تېر کړل».

البرماله ليکي: «ديوکلسين فرمان صادر کړ چې د عېسويانو ټولې کليساوي وراني کړي او ټول سپېڅلي کتابونه يې له منځه يو سي. د دغه امپراتور په پېر کي نه د عېسويانو پر کوچنيانو رحم کېدی، نه يې پر ښځو. څو تنه به يې يو ځای کړل او وبه يې وژل. کله به يې هم ډېر عېسويان يوځای ودرول او ژر اور اخيستونکي مواد به يې ورته کښېښوول. د ځينو په غاړو به يې ډبرې وځړولې، سيند ته به يې واچول. محبسونه له بنديانو ډک وه. بې رحمه مامورين د عېسويانو د نوو کړونو په فکر کې وه» (تاريخ رم ۲۹۱ مخ).

## د قسطنطين لخوا د عېسويت منل:

د عېسويت لپاره ۳۱۲م.کال ډېر نېکمرغه کال وو. ځکه په دغه کال د روم واکمن قسطنطين (کنستانتين؛ (Constantine (۳۰٦ ـ ۳۳۷م.) که څه هم بت پال وو د عېسويانو سره سمه وضع راواخيسته. وروسته يې په ۳۱۳م.کال

عېسویانو ته د مذهبي مراسمو د آزادۍ په هکله په میلان کي د اوسېدو پرمهال د میلان فرمان صادر کړ. د عېسویانو نړول سوي کلیساوي یې له سره ورغولې. د هغو ضبط سوي شته او مځکي یې بېرته ورکړې، روحانیون یې له شاقه کارونو معاف کړل او ستري دندي یې وروسپارلې. خو کله چي یې د ده په واک کي شریک رقیب لیسینیوس له واکه لیري کړ او خپل سری امپراتور سو په ښرګنده یې د بت پالو پر ضد د عېسویت ملاتړ وکړ. او دغه دین یې ومانه. له دې امله د کلیسا مورخین دغه پېر ته د نصرانیت طلایي عصر وایي. اوس نو د بت پالو واری وو چي د زوررونو او یا لږ تر لږه د سپکاویو سره مخامخ سي. د بت پالو څو لمونځتونونه وران یا وتړل سول او د پخوانیو خدایانو بتان مات سول. خپله قسطنطین د یوه یوناني فیلسوف د وژلو امر ورکړ او د بل فیلسوف تالیفات یې له منځه یووړل. بالاخره خبره تر دې ورسېدل چي کوم ظلمونه چي پر مسیحیانو کېدل پای دوی پر نورو کول.

## تر قسطنطین وروسته:

که څه هم له ۳۱۳ تر ۵۳۹م.کال پوري د عېسویت حریف بت پال مذهبونه پالل کېدل، خو عېسویت په ټولو هغو اورشوګانو کي چي د روم تر ولکې لاندي وې خپور سو. ان د روم مقننه قوه یې هم تر اغېزي لاندي راوسته. په دغه پېر کي عېسویت پر دوو واکمنیو ووېشل سو. یوه واکمني په ختیځ کي وه چي پلازمېنه یې قسطنطنیه وه چي قسطنطین په ۳۲٤م.کال د بوسفورس پر غاړه د بېزانس د زاړه ښار پر ځای ودانه کړه [1]. دغه راز یې په دغه ښار کي یوه ستره کلیسا هم د «آیا صوفیا» په نامه ودانه کړه. په دې واکمني کي د بالکان، یونان، کوچنۍ آسیا، مصر او حبشې سیمي شاملي وې. د دغه ځای تر ټولو ستر مذهبي لارښود ته یې بطریرک (Patriarch) ویل. بله واکمني په لوېدیځ کي وه چي مرکز یې هماغه روم وو او د اروپا ډېري سیمي د دې واکمنۍ تر ولکې لاندي وې. د دغې واکمنۍ مذهبي لارښود یې «پاپ»

۱- د بېزانس زوړ ښار څه له پاسه زر کاله دمخه د یونانیانو لخوا ودان سوی وو، خو قسطنطین بدلون ورته ورکړ او لوی ښار یې ځني جوړ کړ.

باله. د غه دواړي واکمنۍ له هماغه پیله یو د بلي سره په رقابت کي وې او هري یوې پر بلي باندي خپل لوړوالی غوښت.

په دې توګه عېسویت د ډول ډول بدلونونو ښکار سو. تیاره مهالونه پر راغله، په نوره اروپا کي خپور سو. نفاق، اختلافونه او بېلي بېلي ډلي پکښیي پیدا سوې. کلیسا د واک په تر لاسه کولو سره پر خپلو او پردو ډول ډول ستر ظلمونه وکړل. د خلکو، په تېره د پوهانو بد ځني راغله او د دوی او کلیساوو تر منځ کرکي، شخړي او جګړې رامنځ ته سوي.

د نصرانیت په انحراف کي نور زیاتوب هم راغی او دا هغه مهال وو چي د اروپا د یوناني بت پالني سره په داسي حال کي مخامخ سو چي چمتو والی یې نه ورته درلود او نژدې درې پېړۍ د دغي بت پالني سره په خورا سختي سره لاس او ګرېوان وو. بیا د قسطنطین لخوا د دغه دین منلو د هغه په انحراف کي لا زیاته اغېزه وښندل. ځکه د دغه دین مبلغین د کلیسا په سیاسي واکمنو واوښتل بیا چي نصرانیت د روم رسمي دین سو له رومي بت پالني او هیلیني ټولني څخه نور زیات لرغوني دودونه هم خپل کړل. سره د دې چي نصرانیت دنیوي ولکه په لاس راوړې وه، په یوناني او رومي بت پالنه کي کومه چي په اروپا کي خپره سوې وه، له رشتیاني تاثیر ښندلو څخه عاجز پاته سو او ویې نه کړای سوای د هغه خالص توحید سره یې غاړه غړۍ کړي چي عیسی عليه السلام په هغه سره رالېږل سوی وو. خو د دې برعکس نصرانیت په خپله د هغو تر اغېزي لاندي راغی او لا زیات منحرف سو. په دې ډول د عیسی عليه السلام تر زېږېدو شپږ پېړۍ وروسته نور نصرانیت هغه ساده، سپېڅلی او کلیوال دین نه وو، بلکي یو ډول مسخ سوی، په کلسیاوو کي را اېسار او له فساده ډک او د ریا، درواغو دین وو. چي بالاخره د کلیسا په ظالمه، بېروونکې او مادي پاله دیکتاتوره امپراتوري واوښت او د مادي پالو امپراتورانو د واک د ټینګښت آله وګرځېد. بیا دغي بت پالني او نصرانیت دې ته ملاوتړل چي اروپا ته د اسلام د رسېدلو مخه ونیسي. په دې لړ کي اروپایي پوځونو د پاپ او مسیحي واکمنو په لارښوونه د اسلام سره اوږدې جګړې وکړې او اروپا یې له دې ستري ښېګڼي او هغي رڼا څخه چي ډېره اړتیا یې ورته درلوده بې برخي

پرېښوول. که نه اسلام به ډېر ژر د اروپا د ژوندانه په ټولو شئونو کې ښه اغېز ښندلی وای. د ظلم او بې عدالتۍ د تورو تیارو توري لوخړې به یې د حق او حقیقت په رڼا وربدلې کړي وای او د هغې په فلسفه او ادب او د هغو به رسالت کې به یې مثبت بدلونونه راوستلي وای.

## په نړۍ کې د مسیحیت خپرېده:

د عیسی علیه السلام د دین د خپرېدو لپاره له هماغه پیله د حواریونو لخوا هلې ځلې پیل سوې. دا فعالیت لومړی په فلسطین کې کېدی. بیا د فلسطین د باندې سوریې، روم، یونان، مصر او کوچنۍ آسیا ته وغځېد. د دې خپرېدو او پرمختلو عاملین پطرس، پولس، یوحنا، برناباس، مرقس او نور وه. او لکه چې په مخکنیو پاڼو کې خبرې پر وسوې پولس د ځانګړو موخو لپاره په دې هکله زیاته ونډه اخیستل. لوقا او مرقس هم په مصر کې د دې دین د خپرېدو لپاره زیات فعال وه. د دوهمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې په سوریه کې د انطاکیې، په یونان کې د کرېټ، په فرانسه کې د لیون، په افریقا کې د کارتاژ (قرطاجنه)، په مصر کې د اسکندریې مسیحي ټولني د پام وړ وې. خو د دې دین ډېر مهم مرکز په روم کې وو.

د عیسی علیه السلام دین تر لومړۍ میلادي پېړۍ وروسته په بت پالو کې ډېر خپور سو.په اتمه میلادي پېړۍ کې د جرمني خلکو د عیسی علیه السلام دین ومانه. بیا په ډنمارک، ناروې او سویډن کې دود سو. د لسمې میلادي پېړۍ په وروستیو کې سلاویان د روم د کلیسا تر چتر لاندې راغله. د ختیځ ارتودوکس کلیسا په ۱۰۵٤ م.کال په رسمیت وپېژندل سوه. د روم د امپراتورۍ تر را پرځېدو وروسته ارتودوکس کلیسا ماسکو ته ولېږدول سوه. په افریقا کې عېسویت د ښکېلاک سره یوځای نفوذ وکړ. په اروپا کې د مسیحیت سره د اسلام جګړه له افریقا څخه پیل سوه. کله چې امریکا وموندل سوه مسیحي دین مهاجرو هلته وروړ او کاتولیکي او ارتودوکس کلیساوې پکښې تاسیس سوې.

## د کلیساوالو د ظلمونو یو څو بېلګې:

دروغجن او مکار یهودي پولس د دې لپاره د عیسیٰ﵇ دین ومانه چې د ظلم او نارواوو سره د دغه په مینه او مسامحه او سوله ییزو لارو چارو سره د مبارز دین پر ځای د ظلم او استبداد او خونړیو تېریو پلوی او ترسره کوونکی دین ځني جوړ کړي. او رشتیا چې په دې کار کي ډېر بریالی سو. پولس په دې دین کي د «پاپ» مقام وتراشی او د روم په رسمي کلیسا کي یې د پاپ چپنه واغوسته. چې تر ده وروسته تر نن پوري د کلیساګانو د مشر دغه مقام د ستر پاپ په نامه یاته دی او د روم د ښار په واتیکان کي په ستر شان او شوکت مقدسه امپراتوري او واکمني چلوي.

لومړی کلیسا د مذهب د ساده او ابتدایي چارو اداره پر غاړه درلوده. خو د کاتولیکي کلیسا تر پیدا کېدو وروسته ستر پاپ د هغې په سر کي ودرېد. په ۱۸۷۰ م.کال کاتولیکو روحانیونو اعلان وکړ چې پاپ له هر ډول اشتباه او تېروتني څخه پاک دی. په دې پسي د کاردینالانو، اسقفانو او کشیشانو سلسلهٔ مراتب را منځ ته سوه.

دمخه یې هر اسقف ته د پاپ لقب ورکاوه. خو د اووم ګریګوري په وختو کي دغه لقب د روم د اسقفانو مشر ته ځانګړی سو. په دې توګه پاپ د نړۍ د کاتولیکو کلیساګانو ستر واکمن، د الهي واک څښتن او د عیسیٰ﵇ نایب سو. تاریخونه وایي چې دغه ستر واک پاپ ته د روم امپراتورۍ ورکړ. چې په پایله کي یې پر اروپا او مسیحي نړۍ باندي د کلیسا روحاني استبداد، د عقایدو پلټني، صلیبي جګړو او نورو مذهبي ظلمونو تر زرو کالو زیات سیورۍ غوړولی وو. چې که د اسلام رڼا او اغېز نه وای او د دې اغېز په پایله کي رنسانس نه وای، دې ستري بلا به بشریت ګرد سره د پوپنا کېدو کندي ته ورټېل وهلی وای.

څنګه چې منحرف نصرانیت واک خپل کړ کلیساګانو ډول ډول ظلمونو ته ملا وتړل. په منځنیو پېړیو کي کلیساوالو د بدعتونو سره د مبارزې په پلمه «بدعتیان» سوځول او یا به یې ژبې ورپرې کولې. کوم کسان چې به د دې منحرف دین پر لار نه تله له کلیسا به شړل کېدل، شته به یې مصادره کېدل او تبعیدېدل به. که به بدعت کوونکي توبه ایستل او په محکمه کي به یې هم څه

سوابق نه درلودل په بند یا تبعید او یا یې د کور په ورانولو محکومېدی. که به چا توبه ماته کړې وه په تل تر تله بند محکومېدی.

د پاپ قدرت تر دې پولي ورسېد چې پاچهان یې تکفیرول. په ۱۲۰۵م.کال د درېیم پاپ او د انګلستان د وخت د پاچا تر منځ اختلاف رامنځ ته سو. پاپ هغه تکفیر کړ. پاچا چې سخت بېرېدلی وو، ویې لیکل: «ما ته له غیبو څخه خبر راکړه سو چې د انګلستان او ایرلینډ هیواد مو عیسی، حواریونو، پاپ او د هغه کاتولیکو ځای ناستو ته سپارلی دی. ملت دې پوه سي چې تر دې وروسته به زه پر دې هیواد د پاپ او د روحانیت د مقام لخوا د نایب السلطنه په توګه حکومت کوم، موږ وپتېیل چې روحانیت هرکال دوه واره، هره پلا زر انګرېزي لیرې زموږ څخه ترلاسه کړي او که موږ یا ترموږ وروسته کسان د دې تړون له حکم څخه مخالفت وکړو پر دې هیواد به د سلطنت له حق څخه د تل لپاره بې برخي اوسو».

په ۱۷۰۵م.کال د جرمني امپراتور څلورم هانري د پاپ د فرمان په نسبت د بې پروایی له امله تکفیر سو او له خپله مقامه ګوښه سو. د ده په هکله د پاپ اعلامیه دا زیل وه: «زه د لوی څښتن په نامه: پلار + زوی + روح القدس هغه پاچا چې د کلیسا درناوی ونه ساتي د ایټالیې پر آسمان باندي له حکومت کولو څخه منع کوم».

بیا خبره تر دې ورسېده چې څلورم هانري د توبې کالي واغوستل او د پاپ حضور ته ورغی، خو پاپ درې ورځې د ورتلو اجازه ورنه کړه او تر درو ورځو وروسته یې د هغه توبه قبوله کړه.

لومړی فلیپ په ۱۰۹٤م.کال د پاپ «دوهم اوربانوس، Urban II» لخوا تکفیر سو. په ۱۱٤۰م.کال اووم لویي د پاپ اینو سینټ لخوا تکفیر سو.

په منځنیو پېړیو کي کلیسا په ملیونو آزادي غوښتونکي او حق پالونکي پوهان اعدام کړل. پاپ او منحرف عېسوي روحانیت د واک د ترلاسه کولو وروسته ملتونه تر پزي راوستل. د عقایدو او اندونو د پلټني پراخه دستګاه یې دایره کړه او خپل ټول فکري او عقیدتي مخالفان یې د دین په فتوا او د خدای او مذهب په نامه اعدام کړل. د «علم او دین» په نامه د کتاب لیکوال وایي: په

دې توره دوره کې پنځه مليونه وګړي د پاپ لـه فرمـان څخـه د سـر غړونـې پـه جـرم غرغـړه سـول. او نـور ډېـر يـې د روم او نـورو ځـايونو پـه تـورو او تيـارو زندانونو کې بنديان کړل. له ۱٤۸۱م.کال څخه تـر ۱٤۹۹م.کـال پـورې، يعنـې پـه اتلسـو کـالو کـې د عقايـدو د تفتـيش د محکمې پـه حکـم (10220) تنـه ژوندي وسوځول سول. (6860) تنه يې شغه شغه کړل. او (97023) تنه يـې تر کړولو لاندې ووژل.

د کليسا د داسې ډېرو نورو ظلمونو او پر پوهانو او د علم پـر خاونـدانو، پـه تېره پر مسلمانانو باندې، د نصراني ملايانو په زړه بوږنوونکوکيسو کتابونه ډک دي.

په وروستيو پېړيو کې ډېرې بدې پېښې دا وې چې کله بـه لوېـديزو پوهـانو د بشر د پرمختګ پر لور ګام واخيست د کليساوالو د اعتراضونو ږغونه بـه پورتـه سـول. پـه دې توګـه دوی د ديـن ځلانـده او پرمختـګ غوښـتونکې څېـره تـوره وايسول او خلک يې اړ ايستل چې د کليسـا پـر ضـد را پـاڅېږي. د سياسـې او دنيوي ګټو او موخو لپاره د خلکو په سياسي او اجتماعي چارو کې د کليساوو د ناسمو دخالتونو له کبله د لوېديځ پوهان دې پايلې ته ورسېدل چې پـه سياسـت کې د دين دخالت يـوازې د روحـاني پادريـانو پـه ګټـه دی او عـام خلـک ځنـې متضرر کېږي. خلکو هم چې د کليساوو له فشارونو څخه تنـګ سـوي وه د دې خبرو ملاتړ وکړ. او تر ډېرو فکري او وسله والـو مبـارزو وروسـته يـې وکـولای سول چې خپل ځانونه د کليسا له اغېز او اسارته وژغوري.

د پاپ سياسي واک د اتلسمي ميلادي پېړۍ په وروستيو کې مخ پر کمېـدو سو. د فرانسې او ايټاليې مشرانو د وسلې په زور او د خلکو رايو ته پـه مراجعـه سره د پاپ ماڼۍ او ملکيتونه ځني واخيستل.او د هغه سياسي واکمنـۍ تـه يـې خاتمه ورکړه. خو د پاپانو تسليمېدل څـه آسـانه کـار نـه وو. ځکـه نـو د ايټـاليې دولت اړ سو چې په ۱۸۷۰م.کال بېرته ځيني ماڼۍ پاپ تـه وسـپاري او د هغـو څه سياسي حقوق يې هم ومنل. خو پاپ دا ونه منل او د واټيکان اړيکي يې د ايټاليې د دولت سره وشلولې، چې شـپېته کالـه يـې دوام وکـړ. خـو بيـا تـر درو

کالو خبرو اترو وروسته د ۱۹۲۹م.کال د فرورۍ پر ۱۱مه د واتیکان او ایټالیې تر منځ د لاټران تړون لاسلیک سو.

همدا اوس دادی وینو چې دغه کلیسا تر پخوا لا په زیاته زموخته توګه ستر جرمونه تر سره کوي. پخپله یې هم جیبونه په ډالرو او یورو ډک کړي او انسانان په تیره مسلمانان بد مرغه کوي او د ډالرو او یورو لرونکو طاغوتانو لپاره چوپړ وهي او هغو ته یې لاره اواره کړې چې د مسیحیت، دموکراسۍ، بشرپالني او داسي نورو تر دروغجنو نومونو او شعارونو لاندي په پرله پسې توګه د بې وزلو هیوادونو بې وزلي وګړي په بمونو او بمباریو په بې رحمانه توګه وکړوي، ویې وژني او مادي او معنوي شته یې ځني لوټ کړي. هره خوا د دې منحرف مسیحیت او د هغه د حرامي بچیانو سیکولریزم، کمونیزم او صهیونیزم او د هغو د چوپړیانو له لاسه د مظلومانو بوغي چیغاري دي. هره خوا د جنګ جګړو، بمباریو، تلاښیو، وهلو کشولو، زورولو او کړولو سره اورونه بل دي. هره خوا د مرګ، ژوبلي، نیولو او بندي کولو بازار تود دی او په دې محشرکي یو څو بې ضمیره قاتلان او د دوی بې وجدانه او بې سواده ګوډاګیان او پوځي، امنیتي، فرهنګي او اداري سرتېري، پیاده ګان او چوبکیان په غم کي مسانه ګرځي او لګیادي د ملیونونو اسکېرلو وګړو په لوږه او بدمرغي کي مزې او چړچې وهي.

## ستر بېلتون او پر ډلو ټپلو باندي د عېسویت وېشنه:

قال الله تعالی:

﴿إِنَّ ٱلدِّينَ عِندَ ٱللَّهِ ٱلۡإِسۡلَٰمُۗ وَمَا ٱخۡتَلَفَ ٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلۡكِتَٰبَ إِلَّا مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡعِلۡمُ بَغۡيَۢا بَيۡنَهُمۡۗ﴾ [آل عمران: ۱۹].

ژباړه: «د لوی څښتن په وړاندي دین همدا اسلام دی له دې دین څخه پرته چي د کتاب خاوندانو کومي مختلفي لاري غوره کړي دي، د هغو د دې چلند له دې پرته بل هیڅ دلیل نه وو چي هغو د علم تر ورکول کېدو وروسته په خپلو منځو کي یو پر بل باندي د تېري کولو په موخه داسي وکړل».

هسې خو له ډېره مهاله د عېسوي کلیساوو تر منځ اختلافونه روان وه. خو د عېسویت په تاریخ کې د سترې تفرقې یا بېلوالی (Great Schism) اصطلاح له هغه مهاله پیدا سوه چې د ختیځ او لوېدیځ د کلیساوو تر منځ هغه ستر اختلاف پیدا سو چې له مخې یې ختیځه کلیسا د تل لپاره له رومن کاتولیکې کلیسا[۱] څخه بېله سوه. او خیل نوم یې هم په «سپېڅلې راسخ العقیده کلیسا» (The Holy Orthodox Chuch)[۲] واړاوه.

تاریخونو د دې سترې بې اتفاقۍ ډېر لاملونه لیکلي دي. چې ډېر مهم یې سیاسي، توکمیز او عقیدتي دي. کله چې په پنځلسمه میلادي پېړۍ کې د روم امپراتوري پر ختیځ او لوېدیځ روم ووېشل سوه او د روم او قسطنطنیې په نومونو د هغو دوې پلازمېنې رامنځ ته سوې. د کلیسا په تشکیلاتو کې هم تجزیه راغله او د ختیځ کلیسا د روم له کلیسا څخه بېله سوه او ارتودوکس ونومول سوه. د دې فرقې پیروان کوښښ کوي چې د لومړنیو مسیحیانو غوندي له زیاتونو پرته مراسم تر سره کړي.

په دې پسې د نژدې دوو سوو کالو بې پایلو صلیبي جګړو د په لاره اچولو، د پاپانو د ناوړو کړنو او په عېسویت کې د بدعتونو، بدو استفادو، غلطو عقایدو او ډول ډول ظلمونو پر ضد د سمونونو د کوښښونو له امله داسې افکار او اشخاص رامنځ ته سوه چې د کلیسا د منحرفو عقایدو او مادي پالنو سره یې څرګندي دښمنۍ راواخیستې. چې په کلیساوالو کې یې سترې بې اتفاقۍ، ګډوډۍ او شخړې وزېږولې.

بالاخره په ۱٦ مه پېړۍ کې د روم د کاتولیکي کلیسا پر ضد د پروټیسټانو ډله رامنځ ته سوه[۳]. دا د روڼ اندو داسې ډله وه چې د کاتولیکانو دارتجاع، زیاتو فشارونو، سختو مذهبي ښوونو، له عامو خلکو څخه د مځکو د مالیو او په

۱- The Roman Catholic Church؛ د کاتولیک معنا په یوناني ژبه جامع ته وایي.

۲- ارتودوکس په یوناني ژبه ټینګې او سمې عقیدې ته وایي.

۳- Protestant؛ پروټیسټانټ فرانسوي کلمه ده چې له لاتیني څخه راوتلې او معنایې اعتراض کوونکی ده.

نورو ډول ډول نومونو د پيسو د شکونو او د بخښنليکونو د ديني سوداګرۍ پر خلاف يې آواز پور ته کړی وو او ښېله لار يې غوره کړه.

يو مهال داسي راغی چي څو تنه مسيحي واعظان د اروپا په بېلو بېلو سيمو کي ګرځېدل او اعلانول يې چي هر مومن کولای سي کليسا ته د يوې اندازې پيسو ورکولو په بدل کي ځان له اخروي سزا څخه وژغوري. دغه مهال د (Protestant) نهضت لارښود او بنسټ ايښوونکی جرمنی مارټين لوتر (Martin Luther) (۱۴۸۳ ـ ۱۵۴٦م.) د کليسا د دغي دکانداری او داسي ډېر نورو ناوړتياوو پر ضد راپاڅېد او په ۱۵۱۷م.کال يې د يوې ۹۵ ماده يي اعلاميې په خپرولو سره د کاتوليکانو سره مخالفت وښود.

ور پسي نورو په عېسويت کي د ډول ډول منحرفو دودونو او عقايدو پر ضد تحريکونه په لار واچول چي پای دغسي غورځنګونه په جرمني، فرانسه، ايټاليه او د اروپا په ډېرو نورو سيمو کي هم مونده سول. د انګلستان پاچا اتم هنري او څلورم ايډورډ هم د دې تحريک تر اغېزي لاندي راغله او په دې توګه پروټيسټينټ فرقه د کاتوليکي کليسا په مقابل کي ودرېده.

لوتر د لومړني مسيحيت سره د پاپ او کليسا د تشکيلاتو تر منځ زيات ليري والي ته متوجه سو او د عيسیٰ علیه السلام په دين کي يې د پاپ او روحانيونو اضافي خبري او بدعتونه درک کړل. پر عوامو باندي د جنت خرڅول او د هغو د ګنهونو رانيول يې يو شيطاني کار وباله. د روحانيونو اشرافيت او د واکمنو سره د هغو توافق او همکاري يې وغندل او په دې توګه په سخت مخالفت کي ورسره ولوېد. چي د ډېرو مسيحيانو د ويښتابه او پاڅونونو او د روم د کليسا پر ضد د ستر اوښتون لامل سو. پاپ چي سخت اندېښمن سو لوتر يې وروغوښت، خو هغه له ورتلو څخه ډډه وکړه. بيا پاپ د ارتداد او کفر وسله پر وکارول. د لوتر پيروانو له هغه څخه ښه د زړه له اخلاصه ملاتړ وکړ. بيا لوتر د پاپ ليک وسوځاوه، پاپ هغه مباح الدم اعلان کړ او د هغه کتابونه يې تحريم کړل. خو دې کارونو خلک نور هم د پاپ پر ضد ودرول پای لوتر په ۱۵۴٦م.کال د ٦۲ کالو په عمر ومړ.

د يادولو وړ ده چي د پروټيستانو د نهضت دغه ټولي څپې امريکا ته هم ورسېدې او اوس په دغه هيواد کي د پروټيستانو پيروان خورا ډېر سوي دي. دغه راز دغه مذهب استراليا، نوي زيلانډ او سهيلي افريقا ته هم رسېدلی دی.

د عېسويت د زياتو انحرافونو او د هغه د ملايانو د زياتو اوښتنو له کبله په دې دين کي زيات مخالفتونه او زياتي پخوانۍ او اوسمهالي فرعي ډلي رامنځ ته سوي دي چي دلته پر هغو باندي بحث مورږ له خپلي اصلي موضوع څخه ليري کوي.

## د کليسا د واک زوال:

د کليساوالو د کرغېړنو اعمالو پر ضد مبارزې د کليساوالو پر شخړو محدودي پاته نه سوې، بلکي لوېديزو بې وزلو پرګنو او روڼ اندو هم د دوی پر ضد پراخي مبارزې پيل کړې.

ډاکتر عبدالقادر جيلاني د cf. Gibbon E; The Decline and Fall of Roman Empire,Bury J.B. edition, Vol.V, App. Iiby Bury, p.526 او نورو په حواله ليکي:

«کليسا نه يوازي دا چي په ټولنه کي يې طبقاتي توپير پر خپل حال پرېښود، بلکي خپله يې هم د يوې زبېښاکګري طبقې حيثيت غوره کړ. مظلومو وګړو د کليسا د ډنډرو له امله هيله درلوده چي واک ته د کليسا په رسېدو سره به پر دوی باندي جبر، استبداد او زبېښاک پای ته ورسيږي.خو کله چي پر مريانو، بزګرانو او مزدورانو باندي واک د کليسا لاس ته ورغی نو کليساوالو وويل چي د دوی د آزادۍ مهال لا تر اوسه نه دی رسېدلی.ښايي دغه مهال پېړۍ وروسته راسي. دغه وخت کليساوالو په دې هکله د بايبل او ديني اولنو د ويناوو پر ځای د ارسطو، سسرو، او نورو فېلسوفانو په حواله ويل چي فطرت ځيني کسان د واکمنۍ لپاره او نور د فرمان وړلو لپاره پيدا کړي دي. څوک چي واک نه سي تر لاسه کولای بايد اطاعت وکړي» (اسلام، پيغمبر اسلام۶۹ مخ)..

په دې توګه کرار کرار د لوېديځ بې وزلي انسانان د منحرف عېسويت او مادي پالو کليساوالو په ماهيت وپوهېدل، کليساوالو ته يې د خپلو دښمنانو په

سترګه وکتل او د هغو تعلیمات یې چل ول وباله. بیا په لویدیځ کې د Renaissance (بیا رغښت) د نهضت په رامنځ ته کېدو سره په ټولنو کې بدلونونه راغله، د فکر د آزادۍ پلویانو پر کلیسا نیوکې وکړې. د روڼ اندو او کلیساوالو تر منځ سخته مبارزه پیل سوه چې په پایله کې یې کلیسا له سیاسي ډګره وایستل. ورپسې د ساینس پر مختګ کلیسا د علم او پوهې له اورشو څخه هم پر شا کړه او اوس د کلیسا علم او پوهه یوازي د بایبل تر پولي رامحدوده سوې ده. خو سیکولرو ښکېلاکګرانو ته د لاري د اوارولو او د ولسونو د ښکېلولو لپاره چوپړ او هلي ځلي هم پر غاړه لري.

## حضرت محمد ﷺ او د اسلام سره د کفارو دښمني

### د حضرت محمد ﷺ لنډ ژوند لیک:

څنګه چي د حضرت محمد خاتم النبیین، رحمة للعالمین ﷺ د سیرت په هکله په سلګونو کتابونه لیکل سوي دي او هر مسلمان د هغه له کارونو او سیرت څخه څه ناڅه خبرتیا لري موږ به دلته پر دې موضوع ډېر څه نه وایو ځکه چي د دې کتاب موضوع دا خبري نه، بلکي د اسلام سره د باطلو د دښمنیو څېړل دي، نو موږ به لومړی د هغه د مبارک ژوند په هکله څه لنډې څرګندوني وکړو او بیا به د دغه ستر پیغمبر او د اسلام د سپېڅلي دین سره د کفري ځواکونو شخړي او دښمنۍ تر نن مهاله وڅېړو.

جناب رسول الله محمد مصطفی ﷺ د ۵۷۱م.کال د لومړۍ خور پر دوولسمه د دوشنبې په سهار د مکې مکرمې په شعب بني هاشم کي زېږېدلی دی. خو د علامه محمد سلیمان منصورپوري او محمود پاشا فلکي د څېړنو له مخي هغه د ۵۷۱م.کال د لومړۍ خور پر نهمه چي د اپریل د ۲۲ مي سره سمون خوري نړۍ ته سترګي روښي کړي دي. د ده مور بي بي آمنه وه، پیلار یې عبدالله نومېدی او نیکه یې د قریشو سردار عبدالمطلب وو. پلار یې د ده تر زېږېدو دوې میاشتي وروسته د تجارت په سفر کي په مدینه منوره کي مړ سو. د شپږو کالو وو چي موریې مدینې منورې ته د ده د پلار د زیات لپاره ولاړه او دی یې هم ورسره بوتی خو له هغې خوا یې مور د مدینې او مکې په لار کي مړه سوه. د لوی څښتن دغه غوره پیغمبر په یتیم والي او بې وزلۍ کي ځوان سو، په امین نامتو سو او په څلوېښت کلنۍ کي د لوی څښتن لخوا د پیغمبرۍ سپېڅلې دنده وروسپارل سوه.

### د حضرت محمد ﷺ د مبعوثېدو د اړتیا مهال:

لکه څنګه چي تاریخونه شاهد دي د حضرت رحمة للعالمین ﷺ د مبعوث کېدو تر زمانې پوري انسان په واقعي معنا د روغي ورځي مخ نه وو لیدلی. د

حضرت آدمعليه السلام له وختو څخه تر دغه دمه هر ځونه مهالونه چي تېر سوي دي او هر ځونه مدنيتونه او فرهنګونه چي زېږېدلي دي، هر ځونه پر مختګونه چي رامنځ ته سوي دي او هر ځونه توکمونه چي تللي او راغلي دي، انسان بيا هم په پرله پسې توګه په جنګونو، دښمنيو او له دې امله په خواريو او زهره ترکيو او نورو ډول ډول بدمرغيو اخته وو.

په دې اوږدو پېړونو کي که کله د خير ځواکونو تر څه مهاله د بري خوند څکلی دی او انسانيت د څه وخت لپاره د هوسايی سا اخيستې ده، په مقابل کي يې د شر او باطل ځواکونه د اوږدو مهالونو لپاره غالب پاته سوی دی او د دغو شريرو توکو له لاسه بشريت تل په اضطراب، لالهاندی، بدمرغۍ او خوارۍ کي د وير او د دې او هغي دنيا د تاوان شپې سبا کړي دي.

که څه هم انسانانو په دغواوږدو مهالونو کي زياتي تجربې ترلاسه کړي وې او د خير او شر خوند او بې خوندۍ يې څکلي وې، خو بيا هم د مادي پالني، باطل پالني، تېري او واک خوښوني، ډول ډول نورو غرايزو او شهوتونو په لومو کي ښکېل پاته سوي وه او له دې ستري بشري کورنۍ څخه ډېر لږ وګړي د حق پالني او د هغه د خوښوني او پلوۍ څخه او له رشتيانۍ پوهي او معرفت څخه برخمن سوي او نېکمرغه سوي وه. په دې دونو اوږدو زمانو کي که انسان هر ځوني د پوهي او معارفو، آدابو او فنونو، اندونو او فلسفو د زده کړي او رامنځ ته کېدو دعوې کړي دي، خو بيا هم نه وو توانېدلی چي د طاغوتانو، سرکښانو، جګړه مارانو، باطل پالانو او ظالمانو له شره د بشريت اکثريت وژغوري.

د تاريخ د پاڼو په را اړولو سره موږ ته په څرګنده جوتيږي چي په دغو تيارو مهالونو کي د حق او باطلو د شخړو او مبارزو په دوام ډول ډول ناوړي چاري د خدای د مځکي پر مخ هره خوا خپرې سوي وې. د نړۍ په ګوټ ګوټ کي باطل او تحريف سوي اديان او باطل پال ظالم واکمن او شتمن حاکم وه. هره خوا د ظلمونو، دښمنيو، وژنو او جنګ جګړو اورونه بل وه، امنيت د انسانانو له منځه ګده کړې وه. حق او انصاف هيڅ نه وو، د خدای او د خدای د بنده ګانو حقوق تر پښو لاندي وه. توکميز اوطبقاتي امتيازات په شدت سره حاکم

وه. پر کمزورو د زورورو ظلمونه او تېري اوج ته رسېدلي وه. هره خوا لوږه او افلاس وو. فواحش او اخلاقي ټيټتياوي هره خوا دود سوي او خپرې سوي وې. په تېره په دې منځ کي عرب که څه هم يو ډېر غيرتمن قوم وو، خو د ډېرو بدو عادتونو د خپلولو له امله يې غيرت او همت زنګو خوړلی وو او يو داسې بې حکومته، د روم او ايران د زبر ځواکو واکمنيو تر ولکه لاندې، بې تنظيمه، وحشي، لوټمار، جاهل، بې فرهنګه او جګړه مار قوم ځني جوړ سوی وو چي د ټولو بد ځني راتله. د عربستان په نامه جغرافيوي اصطلاح وه، د عربو قوم موجود وو، خو عربي هيواد او حکومت نه وو. مطلب قبايلي شخړو او خپل منځي جنګ جګړو او ډول ډول نورو بدمرغيو ټول عرب بېخي د ورکېدو کندې ته ورنژدې کړي وه.

پر روم باندې (د رسول اللهﷺ په احاديثو، د صحابه ووﷺ په رواياتو او د عربو د مخکنيو عالمانو په ليکنو کي ختيز روم [بېزنتين] او لوېديز روم [ايټاليې] او اروپا ته روم وايي) له يوې خوا ښکېلاکګرۍ او ولکۍ خوښوني سيوری غوړولی وو، د نورو ولسونو سره د ډول ډول اختلافاتو او جګړو توپانونو پر سر اخيستی وو او له بلي خوا يوناني فلسفې او وثنيت (بت پالنې)، د نس، نفس او واک او فسادونو شهوت او مسخ سوی پولسي عېسويت او صليبيت او دهريت او الحاد په ډول ډول بڼو او څېرو غلبه پر کړې وه، چي له امله يې د ظلمونو او انساني خدايی ډول ډول بڼې رامنځ ته سوي وې او د نړۍ پر زياته برخه يې شومه ولکه ټينګه سوې وه.

ايرانيان تر نورو لا بتر سوي وه. د يزدان او اهرمن په نومونو دوه خدايان يې منل. ظلمونه، شر، شراب، فساد،، قمار، زنا او نور بد کارونه معمولي کار پکښې ګرځېدلی وو. د زردشت د دين سره سم به نارينه وو د خپلو مندو، خوندو او لوڼو سره ودونه کول. لکه چي دوهم يزدګرد چي د پنځمې ميلادي پېړۍ په منځ کي يې پر فارس حکومت کاوه د خپلې لور سره واده وکړ. تردې نور ډېر د شرم وړ کارونه هم پکښې تر سره کېدل. (د محمد الغزالي مصري فقه السيره د ۲۰ مخ لمن ليک)

د یونان حال هم تر نورو په کمه نه وو. د دې ځای اوسېدونکو پر نورو نادودو سر بېره د خرافاتو، افسانو او اساطیرو په ناولو ډنډونو کې لاس او پښې وهلې، یو له بله په چټي لفظي شخړو او مناقشو اخته وه او د پوپنا کېدو کندي ته د ورلوېدو په حال کې وه.

په هند کې هم پر نورو ډول ډول نادودو سر بېره دغسې ناوړې چارې دود سوې وې. هلته به یوې ښځې پنځه مړونه درلوده. نارینه وو به د خپلې سکنۍ خور سره واده کاوه. لکه چې د سیند راجا «داهر» نومي د خپلې خور سره واده کړی وو. باطل پالنه دونه پکښې عامه سوې وه چې پر بت پالنه او ډبرو، ونو، غرونو، ښاروېو، مارانو، ستورو، او سیندونو پاللو سر بېره به یې د انسانانو شرمځایونو ته عبادت کاوه او دا کار ان تر اسلام څو پېړۍ وروسته لا هلته او په ځینو نور ځایونو کې دود وو. (اردو فتوح الشام ۸مخ).

په چین کې هم د لوټ او تالان بازار ګرم وو. خدای یې هیڅ نه پېژندی او بتانو ته یې سجدې کولې. غلاوې او لارې شکول پکښې عام سوي وه. بې حیایي یې هیڅ بد کار نه باله.

په دغسې ناوړو احوالو کې لوی څښتن د جهل،کفر، ظلم، تېرېو او انحراف د دې تورو تررمیو د لیرې کولو او د ډول ډول بدمرغیو څخه د انسانانو د ژغورلو او د حق د غلبې او د باطل د له منځه وړلو او د یوه رشتیاني او سپېڅلي دیني او دنیوي اوښتون د رامنځ ته کولو په موخه حضرت محمدﷺ د خپل وروستي او خاتم النبیین پیغمبر په توګه ټولي نړۍ ته را واستاوه.

## پیغمبري او د ډول ډول طاغوتي ځواکونو مقابلې ته دانګل:

ومو ویل چې رسولﷺ ته په څلوېښت کلنۍ کې د لوی څښتن لخوا د پیغمبرۍ سپېڅلې دنده وروسپارل سوه. اوس نو هغه د جاهلو او شدلو عربو، سرکښو او لجوجو یهودو، منحرفو عېسویانو، د روم او ایران د زبرځواکو واکمنیو او نورو کفارو په وړاندي پاڅون ته او د دې ټولو سره پرله پسې او نه پرېښوونکو مبارزو او جګړو ته وګومارل سو او ور ته وویل سوه:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلۡمُدَّثِّرُ ۝١ قُمۡ فَأَنذِرۡ ۝٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرۡ ۝٣﴾ [المدثر: ۱-۳].

ژباړه: «ای په کالو کي نغښتې! پاڅه او خبرداری ورکړه او د خپل رب لویي اعلان کړه».

البته د ډېرو لارښوونو په ترڅ کي دا هم ورته وويل سوه:

﴿۞يَـٰٓأَيُّهَا ٱلرَّسُولُ بَلِّغۡ مَآ أُنزِلَ إِلَيۡكَ مِن رَّبِّكَۖ وَإِن لَّمۡ تَفۡعَلۡ فَمَا بَلَّغۡتَ رِسَالَتَهُۥۚ وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يَهۡدِي ٱلۡقَوۡمَ ٱلۡكَٰفِرِينَ ٦٧﴾ [المائدة: ٦٧].

ژباړه: «ای پيغمبره! څه چي ستا د رب له لوري پر تا نازل سوي دي هغه خلکو ته ورسوه. (په دې کار کي له هيڅا مه بېرېږه او مه شرمېږه) که دي داسي ونه کړل، نو د هغه د پيغمبرۍ حق دي ادا نه کړ. (د اسلام د دښمنانو په مقابله کي هر وخت ملاتړلی اوسه) لوی څښتن د خلکو له شر څخه ستا ژغورونکی دی. باور ولره چي هغه به هيڅکله (ستا په مقابله کي) کافرانو ته د بري لار ونه ښيي».

نو هغه وو چي رسول الله ﷺ د شرک، کفر، ظلم، جهل، فساد، فحشاوو، مزخرفاتو، ماديات پالني او نورو ناروااوو د تيارو د له منځه وړلو په موخه تر وسله والي جګړې د مخه د دعوت او تبليغ د پړاوونو په هکله ډېر هوښيارانه تدبيرونه او پلانونه طرح کړل. تر درو کالو يې په پټه خلک اسلام ته بلل. بيا د دې دعوت په علني کولو او د مشرکينو د پروانه کولو او له هغوڅخه په مخ اړولو مامور سو، لکه چي په قرآن کريم کي دي:

﴿فَٱصۡدَعۡ بِمَا تُؤۡمَرُ وَأَعۡرِضۡ عَنِ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٩٤﴾ [الحجر: ٩٤].

ژباړه: «په کوم څه چي ته مامور سوی يې هغه په ښکاره ووايه او له مشرکانو څخه مخ واړوه».

يعني په جار او ښکاره تبليغ سره حق او باطل سره بېل کړه او د مشرکانو هيڅ پروامه کوه.

په دې توګه د مکې له غرونو څخه د (لا اله الا الله محمد رسول الله)، (الله اکبر) او د اسلام، حق او عدالت او د ربړېدلو او کړېدلو ولسونو د ژغورني لمر څرک وهل. خو بت پالو، کفارو او مادي پالو شتمنو او واکمنو ته ستر جنجال او ناورين پېښ سو. ځکه رسول ﷺ خلکو ته د يوه داسي دين د منلو لارښوونه کول چي د هغه په منلو او خپرېدو سره د مکې د سردارانو نفوذ او طبقاتي موقف د ګواښ سره مخامخ کدېدی. دغه راز د کعبې د بتانو د لمانځني لپاره

له ډېرو ځایونو څخه زیارت کوونکي ور تلل او له دې امله مکه د سوداګرۍ ستر منځی ګرځېدلی وو، چې له دې لاري د مکې مشرکو لویانو د کعبې د کالخوایانو او مجاورینو په حیث عواید او ګټې ترلاسه کولې. خو رسولﷺ د دغو بتانو لمانځنه په کلکه غندل او خلک یې د هغو له عبادت څخه منع کول. نو څنګه چې د رسولﷺ د دعوت له امله د دوی دغو ګټو ته تاوان رسېدی، ځکه نو هغوی د خپلو دغو ګټو د ساتني لپاره د ده پر ضد ودرېدل. پردې سربېره د رسولﷺ د دعوت له امله د ډېرو نورو سوداګرو شتمنو، واکمنو او قومي مخورو ډول ډول ګټو، لوړتیا، سیادت او حاکمیت ته لوی خطر متوجه سو، ځکه نو د حق او باطلو ستره جګړه په لاره واچول سوه.

د حق او باطل تر منځ دا مبارزه په مکه مکرمه کي تر دیارلسو کالو بېله تودي او وسله والي جګړې روانه وه. رسولﷺ او پر هغه باندي ایمان راوړونکي مسلمانان د کفارو او مشرکینو لخوا د سختو ربړو او ستونزو سره مخامخ سول. هر څونه چې پر رسولﷺ او مسلمانانو باندي د کفارو ظلمونه زیاتېدل، هغونه د مسلمانانو شمېر زیاتېدی او هر څونه چې د مسلمانانو شمېر زیاتېدی هغونه کفار هم زلنده کېدل. پای پر مسلمانانو باندي د مشرکانو ظلمونه تر دې کچي ډېر سول چي یو به رسولﷺ ته وهل سوی راغی، بل به یې ترلی وو او بل به تپي وو او له رسولﷺ څخه به یې په ژړاوو د دغو ظالمانو پر ضد د جهاد اجازه غوښتل. خو رسولﷺ به ورته ویل چي تر اوسه لا ماته د جهاد اجازه نه ده سوې او هغوی ته یې د صبر او زغم سپارښتنه کول.

## اقتصادي کلابندي او بندیزونه:

قریشو د مسلمانانو او د هغو په هکله له بې پلوی څخه د کار اخیستونکو بني هاشمو او بني مطلبو پر ضد د ظلم او بشپړي اقتصادي کلابندۍ لیکلی تړون لاسلیک کړ او ژمنه یې وکړه چي د دوی سره به تولي اړیکي شلوي، هیڅ شی به نه پر خرڅوي او نه به یې ځني رانیسي، نه به ښځي ځني غواړي او نه به یې ورکوي. بیا یې دغه لیک په کعبه شریفه کي وځړاوه. په دې توګه

حضـرت محمـدﷺ او ملګـري يـې د شـعب بني هاشـمو پـه دروکـي را ايسـار سول. د خلکو مرستي او غذايي مواد پر بند سـول او دا فشـارونه تـر دې کچـي ورسېدل کوچنيانو به له لوږي چيغي وهلې. کله چي به مکې ته کاروان ورغـی د رسولﷺ اکا او ستر دښمن ابولهب به کاروانيانو ته ويـل چي د محمـد ملګـرو ته د خوراکي موادو بيي دوني لوړې واياست چي هيڅ يې را نه نيولای سي. په دې توګه به هغو هيڅ شی نه سوای رانيولای. يوازي به ځينو د انسـاني عـاطفې څښتنو وګړو څه خواړه په پټه ور وړل اوبس.

سعد بن ابي وقاصؓ وايي يوه شپه د حاجت د رفعي لپاره ولاړم. کله چي مي متيازي شړلې پوه سوم چي د اوبښ د وچ سوي پوست پـر يـوه ټوټـه نښـلي. هغه مي راواخيست، پري مي ولی او پر اور مي برشته کړ، بيا مي خيشت کړ او درې ورځي مي د هغه په خوړلو ګوزاره وکړه.

وګورئ چي بې رحمو کفارو پر مسـلمانانو څـه خـوارۍ تېـري کـړي دي. دا محاصره تر دروکالو روانه وه. بيا د ځينو ناراضو قريشو د مداخلې په پايلـه کـي د دغه ظالمانه تړون ليک په څيرلو سره ماته سوه. وايي کله چي يې دغه تـړون ليک له کعبې څخه را وايست ويې ليد چي د «بسمك اللهم» پرته نور ټـول وينـو سوري سوري کړی وو.

## د زورونو او ګواښونو سره سره د رسول اللهﷺ ټينګ هوډ:

يو وخت قريشو د حضرت محمدﷺ له اکـا ابوطالـب څخـه وغوښـتل چـي محمد د دوی په وړاندي له مبارزې او د دوی د خدايانو له بد ويلـو څخـه منـع کړي. هغه حضرت محمدﷺ ته وويـل: پـر مـا او خپـل ځـان رحـم وکـړه او د قريشو له مزاحمت څخه لاس واخله. خو حضـرت محمـدﷺ داسـي برخليـک جوړوونکې، مشهوره او تاريخي خبره ورته وکړه: «ای اکا! په لوی څښتن لوړم چي که مي لمر پر ښی اوږه او سپوږمۍ پر کيڼه اوږه کښېږدي، لـه خپـل کـار او خپلي لاري به راونه ګرځم». د دې سره سم ابوطالب هم هغه ته د خپـل ملاتـړ ډاډ ورکړ.

## اسلام او مسکينان:

د اسلام د بلني په پيل کي زياتره بې وزلو او مسکينانو اسلام راوړی که څه هم ځيني اشراف هم مسلمانېدل. پر رسولﷺ به هر مهال بې وزلي خلک، لکه صهيب رومي، عمار بن ياسر، بلال حبشی، سلمان فارسي، خباب بن ارت او داسي نور راغونډېدل. اشرافو او شتمنو به پيغمبر ته ويل چي د قوم پر ځای دي په دې بې وزلو خوښ سوې؟ موږ خو د دغسي کسانو په ناسته شرمېږو. که ته دوی له ځانه ليري کړې، ښايي موږ دي ومنو. څنګه چي رسولﷺ د خپل قوم د لاري راتلو سره ډېره مينه درلوده، دې وړانديز ته يې څه تمايل غوندي وښود، سمدستي لوی څښتن دغه آيت پر نازل کړ:

﴿وَلَا تَطْرُدِ ٱلَّذِينَ يَدْعُونَ رَبَّهُم بِٱلْغَدَوٰةِ وَٱلْعَشِيِّ يُرِيدُونَ وَجْهَهُۥ مَا عَلَيْكَ مِنْ حِسَابِهِم مِّن شَىْءٍ وَمَا مِنْ حِسَابِكَ عَلَيْهِم مِّن شَىْءٍ فَتَطْرُدَهُمْ فَتَكُونَ مِنَ ٱلظَّٰلِمِينَ ﴿٥٢﴾ وَكَذَٰلِكَ فَتَنَّا بَعْضَهُم بِبَعْضٍ لِّيَقُولُوٓا۟ أَهَٰٓؤُلَآءِ مَنَّ ٱللَّهُ عَلَيْهِم مِّنۢ بَيْنِنَآ ۗ أَلَيْسَ ٱللَّهُ بِأَعْلَمَ بِٱلشَّٰكِرِينَ ﴿٥٣﴾﴾ [الأنعام: ۵۲-۵۳].

ژباړه: «کوم خلک چي شپه او ورځ خپل رب ته لاس په دعا دي او د هغه خوښي غواړی له ځانه مه شړه. نه د هغو کوم حساب په تا اړه لري اونه ستا کوم حساب په هغو اړه لري.که ته (د دې ډول مومنانو په هکله د مشرکانو پر خبرو غوږ ونيسې او) هغوی وشړې نو په ظالمانو کي به وشمېرل سې.په اصل کي موږ په دې توګه له دې خلکو څخه ځيني (چي متکبر شتمن دي) پر ځينو نورو (چي تنګ لاسي فقيران دي) په ازميښت کي اچولي دي. چي هغوی دوی وګوري (او په ملنډو) ووايي: آيا دغه دي هغه خلک چي پر دوی زموږ په منځ کي د لوی څښتن لورېينه او مهرباني سوې ده؟ هو! آيا لوی څښتن خپل شکر ايستونکي بنده ګان تر دوی ډېر ښه نه پېژني؟».

عفيف عبدالفتاح طباره په مع الانبياء في القرآن کي فرمايي: په دې توګه اسلام طبقاتي نظام لغو کړ، ټول طبقات يې په يوه ليکه کي درولي دي او ټول هغه امتيازات يې چي د مخه اشراف له هغو څخه برخمن وه باطل کړي دي. د اسلام له نظره د شتمن او نشتمن تر منځ څه توپير نسته او ټول يوشان دي.د دوی تر منځ فضيلت او لوړوالی يوازي په ايمان، تقوا او ښو چارو تر سره کولو دی.

په یوه بله پېښه کې د فقیرانو او مسکینانو په هکله د اسلام مینه او پاملرنه موږ ته له ورایه ښکاري. وایي چې یو مهال رسول ﷺ د قریشو د لویانو او اشرافو سره اسلام ته د بلنې په هکله په خبرو بوخت وو او د هغو اسلام راوړلو ته هیله من سوی وو. دغه مهال عبدالله بن ام مکتوم چې په سترګو ړوند وو او ډېر دمخه یې اسلام راوړی وو، ورغی او په دغو حساسو شېبو کې یې ورته وویل: «ای د خدای رسوله! ما ته هغه څه راوښیه چې لوی څښتن تا ته ښوولي دي». وایي چې دغه خبرې یې د رسول ﷺ سره ډېرې اوږدې کړې. رسول ﷺ له دې امله چې د قریشو د مشرانو سره یې د خبرو لړۍ ونه شلېږي او د دې فقیر سره د هغه د زیاتې بوختیا له امله خوابدي نه سي، له هغه څخه مخ واړاوه دغه مهال سمدستي لوی څښتن خپل پیغمبر سرزنش کړ او دغه آیت یې پر نازل کړ:

﴿عَبَسَ وَتَوَلَّىٰٓ ۞ أَن جَآءَهُ ٱلۡأَعۡمَىٰ ۞ وَمَا يُدۡرِيكَ لَعَلَّهُۥ يَزَّكَّىٰٓ ۞ أَوۡ يَذَّكَّرُ فَتَنفَعَهُ ٱلذِّكۡرَىٰٓ ۞ أَمَّا مَنِ ٱسۡتَغۡنَىٰ ۞ فَأَنتَ لَهُۥ تَصَدَّىٰ ۞ وَمَا عَلَيۡكَ أَلَّا يَزَّكَّىٰ ۞ وَأَمَّا مَن جَآءَكَ يَسۡعَىٰ ۞ وَهُوَ يَخۡشَىٰ ۞ فَأَنتَ عَنۡهُ تَلَهَّىٰ ۞﴾ [عبس: ۱-۱۰].

ژباړه: «هغه (محمد) تندی تریو کړ او مخ یې واړاوه. په دې چې هغه ړوند ورته ورغی. ته څه خبر یې؟ کېدای سي چې هغه خپل پاکوالي ته زیات پام واړوي یا نصیحت ته ځیر سي او ستا له نصیحت څخه ګټه واخلي؟ خوکوم څوک چې (د خپلو شتو او قدرت په سبب له الهي لارښوونې خپل ځان) بې پروا ښیي ته د هغه لور ته بشپړ پام اړوې. په داسي حال کې چې که هغه پاک نه سي، نو پر تاېې څه ملامتیا نسته. او څوک چې تا ته (د پوهې او لارښوونې د تر لاسه کولو لپاره) په منډه (او شوق) درغی او هغه (له لویه څښتنه) ببرېدی (هم) تا د هغه سره بې پروایي وکړه (او مخ دې ځنې واړاوه)».

په دې توګه لوی څښتن وښوول چې پاک زړونه د ظالمانو او منحرفو پر زړونو غوره دي.

## حبشې ته هجرت:

رسولﷺ د مشرکینو د هر ډول زورونو او شدیدو اقتصادي بندیزونو طاقت راوړی، خو هغه کوښښ کاوه چي د مسلمانانو کړاوونه لږ سي. پر دې بنسټ هغه دوه واره یوشمېر مسلمانانو ته امر وکړ چي حبشې ته ولاړ سي او بیا یې یو شمېر مسلمانان یثرب (مدینې منورې) ته ولېږل.

د حبشې پاچا ته یې نجاشي ویل. د دغه ځای یو یعقوبي مذهبه عېسوی عادل نجاشي اصحمه نومېدی. دغه پاچا یو د پاک زړه او رانه اند څښتن واکمن وو. د حضرت عیسیؑ په هکله یې سم او سالم اعتقاد درلود. د هغه په وختو کي د رسول اللهﷺ د بعثت په پنځم کال یو لږ شمېر مسلمانانو، یعني لسو تنو نارینه وو او پنځو ښځو، چي حضرت عثمانؓ او مېرمن یې بي بي رقیه د ر سولﷺ لور هم پکښیکي وه، د حضرت جعفر بن ابي طالبؓ په مشرۍ له مکې څخه حبشې ته هجرت وکړ. خو دغه ډله درې میاشتي وروسته بېرته مکې ته راغله. دوی ته د مشرکانو او مسلمانانو د روغي جوړي ناسم خبر رسېدلی وو. بیا چي دوه کاله وروسته د مسلمانانو شمېر زیات سو، بیا رسولﷺ مسلمانانو ته د حبشې پر لور د هجرت حکم وکړ. دا ځل د (۸۳) تنو نارینه وو او (۱۹) تنو ښځو او د یمن د څو تنو مسلمانانو یوه نسبتاًستره ډله حبشې ته ولاړه.

## د مشرکینو بل چال:

مشرکینو دغه مسلمانان د خپلو کورونو او خپلوانو عزیزانو پر پرېښوولو او په پردېسۍ کي هم پر کراره پرې نه ښوول. هغو عمرو بن العاص او عماره بن الولید د زیاتو سوغاتونو سره نجاشي ته ولېږل. هغو نجاشي ته د سوغاتونو تر ورکولو وروسته وویل: «زموږ د قوم ځیني ناپوهان ستاسي په هیواد کي مېشت سوي دي. دا خطرناک وګړي دي. دوی د خپلو پلرونو او نیکونو دین پرې ایښی دی او یو نوی دین یې غوره کړی دی. دوی لګیادي ستاسي د وطن خلک خپل دین ته اړوي. ځکه موږ هیله کوو چي تاسي په خپل ملک کي پناه ورنه کړئ او موږ ته یې وسپارئ، څو دلته کومه فتنه پېښه نه کړي».

نجاشي دغه مهاجر وروغوښتل او د دغو تورونو په هکله يې جواب ځني وغوښت. د مسلمانانو په استازيتوب حضرت جعفرﷺ د نجاشي په مخ کي د قريشو د پلاوي سره مناظره وکړه. هغه نجاشي ته وويل ته له دوی څخه پوښتنه وکړه چي موږ مريان يو که آزاد وګړي؟ که مريان يو خپلو خاوندانو ته مو په لاس ورکړه. د قريشو د پلاوي غړي عمرو وويل نه دوی ازاد وګړي دي. بيا حضرت جعفر ورته وويل: آياموږ کوم څوک په ناحقه وژلی دی، چي پر قصاص سو؟ عمرو وويل: نه. حضرت جعفر ورته وويل: آيا موږ د خلکو شته چور کړي دي؟ عمرو وويل: نه، يوه ولس کيزه مو نه ده اخيستې. نو نجاشي ور ته وويل: بيا نو له دوی څخه څه غواړئ؟ دوی ورته وويل: موږ او دوی د خپلو پلرونو په يوه دين وو خو دوی هغه پرې ايښی دی او بل نوی دين يې غوره کړی دی. بيا جعفر له خپل سپېڅلي دين څخه دفاع وکړه او نجاشي ته يې وويل: «ای پاچا! موږ دمخه په جهالت کي غرق وو. د بتانو لمانځنه مو کول. د مردارو ښارويو غوښې مو خوړلې. ډول ډول بې حيايي مو تر سره کولې. يو له بله په مرګ ژوبله بوخت وو. ګاونديانو ته به مو تکليفونه ورکول او پر کمزورو مو ظلمونه کول. بيا لوی څښتن زموږ پر حال ورحمېد او موږ ته يې يو پيغمبر ولېږی.

موږ د لوی څښتن د دغه سپېڅلي پيغمبر په شرافت، رشتينولۍ او نېکچارۍ ډېر ښه خبر يو. هغه موږ ته تعليم راکړی دی چي د لوی څښتن سره بل څوک مه شريکوئ. د بتانو عبادت مه کوئ. رشتيا واياست، په سوله او ورورې کي ژوند کوئ. د ګاونډيانو سره ښه کوئ. د خدای په مځکه کي وراني مه کوئ. له بې حياييو ګوښه ګرځئ. چټي خبري مه کوئ. د يتيمانو مالونه مه خورئ. لمونځ کوئ، روژه نيسئ، خيرات ورکوئ او حج وکړئ.

ای پاچا! موږ د الله تعالی د دغه پيغمبر دغه تعليم منلی دی او پر هغه مو ايمان راوړی دی. بس دغه زموږ ګناه ده!».

پر نجاشي باندي د حضرت جعفرﷺ دغو خبرو ستر اغېز وښندی او ويې ويل: ستاسي پر نبي باندي چي د لوی څښتن کوم پيغام نازل سوی دی، له هغه څخه څه راته واوروه.

حضـرت جعفـرﷺ د موقـع پـه مناسـبت د مـريم د سـورې څـه برخـه ورتـه واورول. کله چې نجاشي د قرآن دغه سوره واورېده ويـې ويـل: «دا کـلام او د حضرت عيسیعليه السلام کلام خو د يوې ډېوې دوې رڼـاوي ښـکاري». پـه دې توګـه هغه مسلمان سو او د قريشو ټول سوغاتونه يـې بېرتـه ورکـړل او مسـلمانان د دوی له شره په امان سول.

شيخ عبد الحق محدث دهلـوي او نـور ليکـي: «وروسـته رسـول اللهﷺ لـه مدينې څخه د هجرت په شپږم يا اووم کـال دغـه نجاشـي تـه ليـك ور ولېږی. هغه نجاشي تـه ليکلـي وه چـي د عبيداللـه بـن جحـش کونـډې ام حبيبـې تـه د رسولﷺ سره د نکاح کولو پيغام ولېږي. کله چې دغـه پيغـام نجاشـي هغـې تـه ورساوه هغې په ډېـره خوشـالۍ ومانـه. بيـا هغـه د همدغـه نجاشـي پـه واسـطه درسول اللهﷺ په تکاح کي راغلـه او نجاشـي د رسـول اللـهﷺ لخواڅلـور سـوه ديناره ولور ورکړ. بيـا د نجاشـي د کـورنۍ ښـځو ام حبيبـې تـه ډېـر عطرونـه او نوري تحفې ورکړې او نجاشي هغـه د نـورو صـحابه وو او د خپـل يـوه پـلاوي سره رسولﷺ ته ولېږل. بيا د هجرت په نهم کال نجاشي وفـات سـو او رسـول اللهﷺ په مدينه کي د جنازې لمونځ ورکـړ. تـر دغـه نجاشـي وروسـته بـل يـو د حبشې نجاشي (پاچا) سو. هغه ته هم رسول اللهﷺ ليك لېږلی دی. خو د دغه نجاشي د نامه او اسلام په هکله معلومات نسته». (مدارج النبوت ۲/ ۲۲۰ مخ او نور تاريخونه). داچي د صحيح مسلم په (۱۷۷۴حديث کي يادونه سوې ده چي رسول اللهﷺ نجاشي ته ليك ورولېږی دا هغه نجاشي نه دی چي هغـه پـه غايبانه توګه د جنازې لمونځ پسي وکړ.

# مدینې منورې ته د رسول ﷺ هجرت او نوی ژوند

د مکې قریشو د مکې په پارلمان «دار الندوه» کې د رسول مقبول ﷺ د وژلو خطرناکه پریکړه وکړه. چې د دې سره سم لوی څښتن هغه ته د یثرب پر لور د هجرت اجازه وکړه. کفارو د رسول ﷺ کور پر هغه باندې د قاتلانه برید کولو په موخه کلابند کړ، خو لوی څښتن هغه ځنې وژغوری او هغه د حضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه په ملګرتیا مدینې منورې ته وخوځېدی.

مدینې منورې ته په هجرت سره رسول ﷺ یوازې د قریشو له زورونو څخه ځان او مسلمانان نه ژغورل، بلکې د هغه موخه دا هم وه چې هلته یوه نوې او له امنیت او هوسایۍ او سوکالۍ څخه برخمنه ټولنه جوړه کړي. هغه پتېیلې وه چې هلته د مسلمانانو لپاره د مدنیت، ودانیزو، ټولنیزو، اقتصادي، سیاسي، حکومتي او سولې او جګړې په چارو کې یو داسې نوی، عادلانه نظام ټینګ کړي چې د عربو پر جاهلي عصبیت، مفاسدو او ناولتیاوو ولاړې ټولنې سره بشپړ توپیر ولري. پر دې بنسټ رسول ﷺ په تاریخ کې بل نوی فصل پرانیست. هغه د لوی څښتن په امر د لومړني اسلامي دولت بنسټ کښېښود او دغه کوچنی ښار یې چې پخوا یثرب نومېدی په «مدینة النبي» ونوماوه او د خپل دولت د پلازمېنې په توګه یې وټاکی. کوم چې بیا له دې ځایه ختیځ او لوېدیځ د اسلام تر ولکې لاندې راغی، د نړۍ په ګوټ ګوټ کې د دې مبارک دین رڼا خپره سوه او کلمة الله تعالی هي العلیا سوه.

خو لکه چې پوهیږو د مکې مشرکینو په مدینه کې د اسلام پرمختګ او د مسلمانانو ډېرښت او اتفاق له دوی سره دښمنۍ ته نور هم پاځول او پر دوی باندې د تعرضونو او وسله والو بریدونو په تکل کې سول. له دې امله رسول الله ﷺ او مسلمانان د مدني ژوندانه په لومړي پېر کې د سترو فتنو او ستونزو سره مخامخ سول. د اسلام دښمنانو مسلمانانو ته له دننه څخه خنډونه ایجاد کړل. له دباندې څخه یې د مدینې او مسلمانانو د پوپناکولو په موخه سترې جګړې پر وتپلې. چې دا له کړاوونو، بخولو او ستونزو ډکه مرحله د ٦ هـ. کال

تر میانی (ذوالقعدې) پورې د حدیبیې د سولې تر مهاله یا تر څه وروسته مهاله روانه وه.

## په مدینه کې د مهاجرو او انصارو تر منځ مواخات:

رسول اللهﷺ د انصارو او مهاجرینو تر منځ مواخات (وروروګلوي) رامنځته کړه. دوی د دې وروروګلوۍ له مخې یو د بل وارثان کېدلای هم سول. د دې وروروګلوۍ حکمت او موخه دا وه چې د مهاجرینو له زړونو څخه د جلاوطنۍ دېغت او زړه تنګي لیرې سي. د هغو د خپل کور کهول او قوم قبیلې د بېلتون اغېزې له منځه ولاړې سي او مسلمانان سره یوموټې او مل او ملګري سي او یو د بل کمزورۍ او نورې اړتیاوې په ګډه سره لیرې کړي. خو بیا چې اسلام غلبې او پیاوړی سو او د مسلمانانو بې وزلي او دېغت لیرې سو، نو د دوی تر منځ وراثت هم بېرته لغو سو. ټول مومنان د یوه او بل ایماني ورونه وګڼل سول او دا آیت نازل سو:

﴿إِنَّمَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ إِخۡوَةٞ﴾ [الحجرات: ۱۰].

ژباړه: «بې‌شکه چې مومنان یو د بل ورونه دي».

په دې توګه دا آیت د دوی په منځ کې د ایماني ورور ګلوۍ ثابتوونکی او برقراروونکی وو.

حضرت زبیرؓ فرمايي: لوی څښتن په ځانګړې توګه زموږ مهاجرو او انصارو په هکله دغه آیت را نازل کړی دی:

﴿وَأُوْلُواْ ٱلۡأَرۡحَامِ بَعۡضُهُمۡ أَوۡلَىٰ بِبَعۡضٖ﴾ [الأحزاب: ٦].

ژباړه: «د لوی څښتن د کتاب له مخې (د نورو) مومنانو او مهاجرینو په پرتله (په وراثت کې) خپلوان یوله بله زیات حق لري».

مطلب داوو چې موږ مهاجر چې مدینې منورې ته راغلو نو زموږ سره څه شته نه وه. موږ انصار خپل ډېر ښه ورونه وموندل. موږ چې د دوی ورونه سولو نو دوی موږ د خپلو ځانو وارثان وګڼلو او موږ دوی د خپلو ځانو وارثان وبلل.

حضرت ابوبکرﷺ د خارجه بن زيدﷺ ورور سو، حضرت عمرﷺ د يوه بل انصاري او حضرت عثمان د بنو زريقو څخه د يوه انصاري او زه د حضرت کعب بن مالكﷺ ورور سولم. زه چي کعب ته ورغلم نو د هغه سره ډېره وسله وه. په لوى ځښتن لوړم چي که هغه مهال هغه مړ سوى واى نو له ما پرته به يې بل وارث نه درلوداى. خو کله چي خداى تعالى دغه آيت نازل کړ نو موږ بيرته خپلو اصلي وراثتونو ته وروګرځېدلو» (تفسير ابن کثير د سورت الاحزاب شپږم آيت).

کله چي رسول اللهﷺ او د هغه اصحاب مدينې ته ورغله، رسول اللهﷺ د عبدالرحمن بن عوفﷺ او سعد بن ربيع انصاري خزرجيﷺ تر منځ ورور ګلوي راوستل. هغه ور ته وويل چي: «زه په انصاروکي تر ټولو ډېر شته لرم. نو زه خپل شته ستا سره سم نيمى وېشم، او زه دوې مېرمني لرم له هغو څخه چي کومه ستا خوښه وي ته يې نوم واخله زه يې در ته طلاقوم، کله چي يې عده تېره سوه هغه په نکاح کړه».

عبدالرحمن بن عوف ورته وويل: «خداى دي ستا په کورنۍ او شتو کي برکت واچوي، زه يې نه کوم. ته يوازي ماته د بازار لا ر را وښيه زه هلته تجارت کوم». نو يې د بني قينقاعو بازار ور وښود. هغه چي سوداګري پيل کړه يو څه پوڅه او غوړي يې وګټل. څو ورځي وروسته نبيﷺ هغه وليد چي د ژړو عطرو يا ژړ رنګ آثار پر ښکارېدل نو يې پوښتنه ځني وکړه: «اى عبد الرحمانه دا څه خبره ده؟» هغه ورته عرض کړه: «اى د لوى ځښتن استازې! ما د يوې انصارۍ ښځي سره واده کړى دى». هغه ورته وفرمايل: «څونه ولور دي ورکړ؟» هغه ورته وويل: «د سرو زرو يوه سکه مي ورکړه».

نبي کريم وفرمايل: «ډېرښه! وليمه (د ښادۍ ډوډۍ به هرو مرو کوې، که څه هم يو وزګړى وي. (بخاري، ۳۷۸۰ او۳۷۸۱حديثونه).

له دې پېښي څخه د مهاجرو سره د انصارو سپېڅلى روحاني تړون، اخلاص او رشتينى محبت څرګندېږي کوم چي تر نسبي وروګلوۍ هم ور تېر وو.

د فتح الباري په ۷/ ۳۳۸ مخ کي وايي: «د دغه مواخات پيل مدينې ته د رسول اللهﷺ د ورتلو په لومړيو وختونو کي وو. چي بيا يې دوام موند يعني څوك چي به نوی مسلمان سو يا به مدينې ته ورغی هغه به يې د يوه انصار ورور کړ».

په دې ډول دا ښار د مسلمانانو (مهاجرو او انصارو) د ورورګلوی، مينې محبت، تړون او يوله بله مرستو، او د شرك، کفر او د خدای د نافرمانۍ له ناولتيا څخه د کرکي او کلهي ښار وګرځېد چي دا د مدينې او د هغو د اوسېدونکو يوه ستره ښېګڼه باله سي

## د مسلمانانو او يهودو تر منځ تړون:

څنګه چي اسلام د مدنيت، ودانۍ، امن او سلامتيا پلوی دی او انسانانو ته بلنه او تلقين ورکوي چي خپلي وړتياوي پر مثبتو او ودانيزو چارو ولګوي نو رسول اللهﷺ مدينې ته په رسېدو سره وغوښتل چي پر دې بنسټ د يوې نوي اسلامي ټولني بنسټ کښېږدي او د نامسلمانو وګړو سره خپلي اړيکي منظمي کړي څو هم يهود د امن او سمون لا ري ته برابر کړي او هم نور، او په دې ډول ټول انسانيت د امن او سم سمکي له ښېګڼو او برکتونو څخه برخمن سي. لکه چي هغه مباركﷺ د دې چاري لپاره د روادارۍ او پراخه زړه داسي قوانين رامنځته کړل چي د هغه مهال له تعصب او کرکو په ډکه نړۍ کي يې چا تصور هم نه سو کولا ی.

حضرت محمدﷺ د مسلمانانو او يهودو د اړيکو د څرګندولو لپاره د حضرت انس د پلار مالك په کور کي د هغو ګڼه غونډه جوړه کړه. رسول اللهﷺ په دې غونډه کي تجويز وړاندي کړ چي د بهرنيو بريدونو څخه د ننګې او په مدينه کي د جګړو د مخنيوي لپاره دي يو نظام رامنځته سي، يو تن دي مشر او واکمن وټاکل سي او د هر چا حقوق او دندي دی وليکل سي. په پايله کي دواړو ډلو يو داسي تړون لا سليك کړ چي وروسته د مدينې په تړون ونومول سو. دا تړون د پوهانو په وينا د «مدينې د ښاري او مدني هيواد» دستور او اساسي قانون (Constitution) وو چي د نړۍ تر ټولو لومړنی ليکلی

اساسي قانون بلل سوی دی. د دې دستور بشپړ متن د ابن هشام د کتاب د دوهم ټوك په ۱۳۰ تر ۱۳۴ مخونو کې خوندي دی.

د دغه دستور او تړون له مخې یهودو ته د دین او ځان او مال مطلقه آزادي ورکړه سوه او د جلاوطنۍ، د شتو د ضبطولو او د جګړې سیاست هیڅ ځای نه پکښې درلود. دا تړون په لومړي هجري کال تر سره سو چې لنډیز او مفاد یې په لاندې ډول دی:

1- د خون بها او فدیې کومه طریقه چې له پخوا څخه روانه ده اوس دې هم روانه وساتل سي.

2- یهودو ته بشپړه مذهبي آزادي ورکول سوې ده او د هغو په مذهبي چارو کې به کومه مداخله نه کیږي.

3- دیهودو او مسلمانانو یو له بله اړیکې به دوستانه، د خیر غوښتني او ګټې رسوني پر بنسټ وي، نه د ګناه پر بنسټ. په مدینه کې مرګ ژوبله پر ټولو قومونو حرامه ده.

4- که له دواړو فریقو څخه پر یوې باندې کوم بهرنی ځواك برید وکړي، نو دواړه فریقه به یوځای د هغه مقابله کوي.

5- د مظلوم سره به مرسته او ملا تړ کیږي.

6- که د دښمن سره جګړه ونښلي نو یهود به هم د مسلمانانو سره د جنګي لګښتونو په ورکولو کې برخه اخلي.

7- د یهودو د دوستو قومونو به هم هغه حقوق وي چې د یهودو دي.

8- که د دواړو فریقو تر منځ کومه جګړه را منځته سي نو د الله ﷻ او رسول الله ﷺ پرېکړه به دواړه مني.

9- قریشو او د هغو مرستندویانو ته به پناه نه ورکول کیږي.

۱۰-دا تړون د کوم ظالم یا مجرم د ژغورني لامل نه ګرځي.

پر دې تړون باندې یو په بل پسې نورو یهودو، لکه بنو نضیرو، بنوقریظه وو او بنو قینقاعو هم لا سلیکونه وکړل. ځکه چې ټولو په هغه کې خپله سلامتي، ښېګڼه او ګټه لیدل. په دې توګه په مدینه منوره کې یوه ګډه او یو له بله سره پخلا او دوسته ټولنه جوړه سوه. خو له بده مرغه یهودو دغه تړون تر څه

مـودې تېرېـدو وروسـته مـات كـړ او د تـړون د شـرايطو خـلاف كارونـه يـې پـه شعوري او سنجول سوې توګه پيل كړل. چې په دې هكلـه بـه «د اسـلام سـره د مدينې د يهودو دښمنۍ او د هغو برخليک» تر سر ليك لاندي په راتلونكو پـاڼو كي خبري وسي.

# د اسلام سره د منافقانو دښمني

په مدينه منوره کي د مسلمانانو تر راټولېدو وروسته نفاق د لومړي ځل لپاره پيل سو. لکه چي پوهيږو رسول اللهﷺ په مدينه منوره کي د اسلامي اوښتون په پلي کېدو سره د ژوند په بېلو بېلو برخو کي د زړو دودونو او توپيرونو په خلاف نوي سمونونه په لار واچول. د اسلام مقدس دين لوڼو ته په ميراث کي برخه ورکړه. کونډې يې د خسر ګنی له بنديزونو وژغورلې او اجازه يې ورکړه چي د عدې تر تېرېدو وروسته په خپله خوښه د يوچا سره نکاح وکړي. د ميرې سره يې نکاح حرامه کړه. په يوه وخت کي يې د دوو خوندو سره نکاح ناروا وګڼل او داسي ډېر نور سمونو نه يې وړاندي او پلي کړل. څنګه چي دا سمونونه ځينو يهودو د خپل تحريف سوي دين خلاف بلل او ځينو نورو زوړ پالو کفارو د خپلو دودونو او ځينو نورو د خپلو ګټو سره په ټکر کي ليدل نو يې د دغو اصلاحاتو په خلاف د سيسې کولې.

څنګه چي مسلمانان دوني غښتلي سوي او ځواکمن سوي وه چي ځيني مخالفين ځني بېرېدل او د هغو په وړاندي يې ښکاره مخالفت او دښمني نه سوای کولای نو ځينو به په ځرګنده د اسلام او اسلامي اصلاحاتو پر ضد څه نه ويل، بلکي په زړه او په پټه او د مسلمانانو په غياب کي به يې چيري چي به يې وس ورسېدی مخالفت کاوه او د کفارو او د اسلام د دښمنانو ملاتړي او ملګري به وه. کله ناکله به يې د مسلمانانو په زړونو کي شکونه او د هغو په ليکو کي درزونه اچول او د اسلام د څپڅپاند سمندر په مخ کي به يې بې سېکه خنډونه ايجادول. له نفاق څخه مطلب هم همدغه دی: «په زړه کي کست، رخه او دښمني پټ ساتل، خو په ژبه د دوستۍ او خيرخواهۍ خبري کول». د مدينې منافقين هم دغسي وه، يعني په زړه کافران وه خو په خوله به يې اسلام ځرګنداوه. د منافقانو په باره کي ډېر آيتونه نازل سوي دي، چي ټول مدني دي. ځکه په مکه کي د نفاق امکان نه وو.

په مدينه منوره کي د نفاق تاريخ د بدر تر جګړې وروسته کله چي د اسلام دبدبه لوړه سوه، پيل سو. دغه مهال ځيني داسي خلك هم اسلام ته داخل سول چي زړونه يې د کفر په خيره خيرن وه. له دې امله نفاق ياد مدينې په ځينو وګړو کي يا د هغې د شاوخوا کلو په وګړو کي وو.

پاته سول مهاجرين په هغو کي نفاق نه وو، ځکه چا د مسلمانانو له بېرى هجرت نه کاوه، بلکي په خپله خوښه به يې د خداى لپاره کور کلى پرېښاوه او هجرت به يې کاوه. منافقين په اوس او خزرج قبايلو کي هم وه او په يهودو کي هم. عبد الله بن ابى ابن سلول د دغو منافقانو سردار او مشر وو او دوى پر هغه راټول وه. د عبد الله بن ابى د اسلام او رسول اللهﷺ سره د دښمنى لامل دا وو چي کله رسولﷺ مدينې منورې ته ورغى د هغه ځاى د خلکو مشري د دغه ابن ابى سره وه او هغه يوازنى سړى وو چي اوس او خزرج پر را ټول سوي وه، تر ده دمخه دوى پر بل چا نه وه په اتفاق سوي. په تېره د بُعاث تر مشهوري جګړې وروسته چي مدينې ته د رسولﷺ تر هجرت څه وختونه دمخه د اوس او خزرج د قبيلو تر منځ سوې وه ده ته ټينګ اميد پيدا سوى وو او هغوى هم پر دې سلا سوي وه چي دى د خپل پاچا په توګه غوره کړي. خو مدينې منورې ته د رسول اللهﷺ په ورتلو سره د عبد الله بن ابى دغه هيلي د خاورو سره خاوري سوې، عزت، دبدبه او واك يې له منځه ولاړى او د پاچهى کار يې ونه سو. نو ځکه يې د رسول اللهﷺ سره په زړه کي کينه پيدا سوه، هغه مبارك ته به يې ډول ډول دسيسې جوړولې او خپل ځيني پلويان به يې تېر ايستل او د رسولﷺ په وړاندي به يې درول. په دې هکله د هغه کيسې خورا ډېري دي. له هغو څخه يوه داده چي دى د درو سوو تنو سره د احد له غزا څخه له نيمي لاري راوګرځېدى. بله يې داده چي هغه پر ام المؤمنين حضرت بي بي عايشهل باندي د «افك» د ناروا تومت د درواغو کيسه او ډنډوره جوړه کړه، چي ان د ځينو مخلصو وګړو ذهنونه يې هم ور خراب کړي وه. په دې هکله د لوى څښتن دا آيت نازل سو:

﴿وَٱلَّذِى تَوَلَّىٰ كِبۡرَهُۥ مِنۡهُمۡ لَهُۥ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١١﴾ [النور: ۱۱].

ژباړه: «چا چې د دې تور لګولو د مسؤولیت ستره برخه پر غاړه اخیستې ده هغه ته به ستر عذاب وي».

دغسې نوري کیسې ډېرې دي چې که ټولي را غونډې سي کتاب به ځني جوړ سي.

## د منافقانو سره د مسلمانانو چلند:

په لومړیو وختونو کي مسلمانانو د منافقانو سره زیاتره د زغم او تېرېدني چلند کاوه. ځکه یو خو مسلمانان د نورو دښمنانو (مشرکینو، یهودو او نورو) سره په جګړو بوخت وه او بل یې دوی ته وخت ورکړی وو چې د خپلو ناوړو کړنو په بدي او د سم او بشپړ ایمان او باور په خوند او ښېګڼو پوه سي. خو کله چې ټول عرب د اسلام تر سیوري لاندي راغله او له عربو څخه د باندي ځواکونو سره د ډغري وهلو لړۍ په پیل کېدو وه او دغو عناصرو ته له نفاق څخه د لاس اخیستني لپاره پوره نهه کاله وخت ورکړه سوی وو، نو اوس د لستوڼي د دغو مارانو سر ټکول کېدای هم سو او په کار هم وه چې ټکول سوی وای. ځکه نو حکم نازل سو:

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ جَـٰهِدِ ٱلْكُفَّارَ وَٱلْمُنَـٰفِقِينَ وَٱغْلُظْ عَلَيْهِمْ ۚ وَمَأْوَىٰهُمْ جَهَنَّمُ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿٧٣﴾﴾ [التوبة: ٧٣].

ژباړه: «ای پیغمبره! د کافرانو او منافقانو دواړو سره په بشپړ قوت مقابله وکړه او د هغو سره ډېر سخت برخورد وکړه. په پای کي د هغو استوګنځی دوږخ دی او هغه د اوسېدو ډېر ناکاره ځای دی».

البته د منافقانو پر خلاف له جهاد او سخت برخورد څخه موخه دا نه ده چې هرومرو دي د هغو سره جګړه په لار واچول سي، بلکي د حالاتو او ظروفو مطابق دي د هغو سره کړنه وسي. که یې مسلمانان په دلایلو، وعظ او تبلیغ له شره ژغورل کېدل له دغه جهاده دي د هغو پر ضد کار واخیستل سي. رسوا دي سي، په ټولنه کي دي هغو ته د عزت او اعتبار ځای نه پرېښوول کیږي. د ژوند په چارو کي دي اړیکي ورسره وشلیږي. په اسلامي او ټولنیزو چارو کي دي مشورې نه ورسره کیږي. شاهدۍ دې نه منل کیږي د ماموریتونو

او دندو دروازې دي پر وتړلي سي. په غونډو کي دي هغو ته مخ نه ورکول کېږي. هر مسلمان دي داسي برخورد ورسره وکړي چي هغه ته پخپله معلومه سي چي په مسلمانانو کي د هغه عزت نه کېږي. که د کوم جرم مرتکب سي محاکمه دي سي. البته که يې نفاق او توطئې په ډاګه سي او جګړې ته يې ضرورت سي، د نورو کفارو غوندي دي جګړه ورسره وسي. (له ابن کثير تفسير، تفهيم القرآن او نورو ځخه لنډون).

خو له بده مرغه نن مهال په زياترو اسلامي ټولنو کي هغه کسان چي په واقعي معنا منافقين، بلکي تر هغو لا هم بد تر دي ډېر منلي او ښاغلي دي او برعکس د اسلام د رشتيانيو مخلصينو سره هغه چلندونه کېږي چي بايد د منافقينو سره وسي.لوی څښتن دي خير پېښ کړي.

البته لکه چي په ابن کثير تفسير کي وايي زموږ د مهال د منافقينو او داسي نورو سره جهاد د کفارو سره تر جهاد ستونزمن دی او دا جهاد د اسلامي امت د خواصو او د پيغمبرانو د ورثه وو او د هغو د ملګرو کار دی چي که يې څه هم شمېره لږ ده، خو د لوی څښتن په نزد يې قدر خورا ستر دی. او د ظالمانو او جابرو واکمنانو په وړاندي د حق ويل خو بېخي د پيغمبرانو او په ځانګړې توګه زموږ د ستر پيغمبر حضرت محمد مصطفیﷺ کار وو او نن مهال چي څوک د دغو د نن مهال د فرعونانو په وړاندي په سپينو خبرو جهاد کوي هغه خو هرومرو بايد د پيغمبرانو وارث وګڼل سي. خو له بده مرغه نن په ځينو مسلمانانو کي بې همتي او بزدلي تر دې کچي زياته سوې ده چي دغسي مبارز او مجاهد ته ناپوه وايي او کله کله خو لا دغسي مخلص وګړي په ډول ډول تورونو هم تورنوي.

## د کفارو سره د جګړې او ژوبلي اجازه

قال الله تعالى:

﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُدَٰفِعُ عَنِ ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْۗ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ كُلَّ خَوَّانٖ كَفُورٍ ٣٨﴾ [الحج:۳۸].

ژباړه: «بېشکه چې لوی څښتن له هغو کسانو څخه چې ایمان یې راوړی دی (د کفارو مکر) دفع کوي. دا یقیني خبره ده چې لوی څښتن (د خالق او مخلوق سره) هیڅ یو خاین او د نعمت ناشکره نه خوښوي».

د پورتني آیت په نزول سره لوی څښتنﷻ مسلمانان ډاډه کړل چې هغه به دوی ډېر ژر له دښمنانو څخه وژغوري. خدای تعالی خاینو او ناشکرو ټګانو ته تر یوه وخته پورې د ځینو مصلحتونو او حکمتونو له مخې مهلت ورکوي، خو انجام به یې داسې وي چې د حق خاوندان به غالب او د باطل خاوندان به مغلوب او باطل پالونکي به خوار او ذلیل کړي.

څنګه چې د مکې مشرکانو په ډېر ظلم او تېري لاس پورې کړ، نو مومنان سخت په عذاب سول؛ یو به رسول اللهﷺ ته راغی سر به یې مات وو ؛ بل به ټپي وو؛ بل به وهل سوی، ټکول سوی وو؛ ډول ډول اقتصادي او ټولنیز بندیزونه یې پر لګول. ټولو به رسولﷺ ته شکایت کاوه چې زموږ سره داسې ناوړې کړنې کیږي. رسولﷺ به ډاډ او تسلی ورکول چې صبر وکړئ تر اوسه لا ما ته د جګړې حکم نه دی راکړه سوی او له او یا آیتونو څخه زیات د جګړې د نه کولو په هکله راغلي دي.

هسې خو لوی څښتن رسولﷺ ته د هغه د بعثت له وخته د جهاد امر کړی وو، لکه چې په قرآن کریم کې دي:

﴿فَلَا تُطِعِ ٱلۡكَٰفِرِينَ وَجَٰهِدۡهُم بِهِۦ جِهَادٗا كَبِيرٗا ۝٥٢﴾ [الفرقان: ٥٢].

ژباړه: «ای پیغمبره! د کافرانو خبره هیڅکله مه منه او دا قرآن درسره واخله د هغو سره ستر جهاد وکړه».

څنګه چې دغه آیت مکي دی نو رسولﷺ د کفارو سره په جهاد مامور سوی وو، خو د دلایلو او د قرآن د تبلیغ په جهاد.

دغه راز دغه مهال رسول اللهﷺ په ښو وسایلو سره په مجادله مامور سوی وو، لکه چې په قرآن کریم کې دي:

﴿ٱدۡعُ إِلَىٰ سَبِيلِ رَبِّكَ بِٱلۡحِكۡمَةِ وَٱلۡمَوۡعِظَةِ ٱلۡحَسَنَةِۖ وَجَٰدِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ﴾ [النحل: ١٢٥].

ژباړه: «ای پیغمبره! د خپل رب لاري ته په حکمت او غوره نصیحت سره بلنه ورکړه. او د خلکو سره په داسي ډول مباحثه وکړه چي ډېره غوره وي».

خو کله چي مسلمانانو مدینې منورې ته پناه وروړه د مکې مشرکان پر مسلمانانو باندي د نورو ظلمونو، ورانیو او ګواښونو په لټه کي سول او په دې هکله یې یو پراخ پلان سنجولی وو. هغو په دې لړ کي د منافقانو د لارښود عبد الله بن ابی سره چي لا په څرګنده مشرك وو پټ او ښکاره تماسونه ونیول. عبدالله بن ابی او د هغه ملګري د رسول اللهﷺ سره د جګړې لپاره راغونډ سول. رسول اللهﷺ د هغه سره خبري وکړې خو بیا هم ابن ابی د قریشو سره پټي اړیکي ساتلې. وروسته یې یهود هم د ځان ملګري کړل. بیا قریشو مسلمانانو ته احوال ولیږی چي موږ تاسي پر کراره نه پرېږدو. موږ په تاسي پسي یثرب (مدینې) ته درځو او له منځه مو وړو. پر دې سربېره رسول اللهﷺ ته د قریشو د نورو ناوړو موخو او ارادو پته هم ولګېده. اصحابو د رسول اللهﷺ ځان په خطره کي ولید ځکه یې نو پر هغه باندي د شپې پیره کول. بیا چي دا آیت نازل سو:

﴿وَٱللَّهُ يَعۡصِمُكَ مِنَ ٱلنَّاسِۗ﴾ [المائدة: ٦٧].

ژباړه: «الله د خلکو (د کفارو له شر څخه) ستا ژغورونکی دی».

نو هغه وو چي بیا رسول اللهﷺ دغه پیرې لیري کړې. بیا خبره تر دې پولي ورسېده چي ټول عرب د مسلمانانو پر خلاف یو لاس سول چي له دې امله په مدینه کي مسلمانانو نه شپه بې وسلې تېرولای سوه نه ورځ. په دغسي خطرناکو حالاتو کي چي بله چاره هیڅ نه سوه پاته، د لوی څښتنﷻ رحمت پر جوش راغی او د یوې ډېري ستري واقعې په توګه مدینې منورې ته د رسول اللهﷺ او د هغه د اصحابو تر هجرت وروسته د جګړې د اجازې آیت د لومړي ځل لپاره په دې توګه نازل سو:

﴿أُذِنَ لِلَّذِينَ يُقَٰتَلُونَ بِأَنَّهُمۡ ظُلِمُواْۚ وَإِنَّ ٱللَّهَ عَلَىٰ نَصۡرِهِمۡ لَقَدِيرٌ ٣٩ ٱلَّذِينَ أُخۡرِجُواْ مِن دِيَٰرِهِم بِغَيۡرِ حَقٍّ إِلَّآ أَن يَقُولُواْ رَبُّنَا ٱللَّهُۗ وَلَوۡلَا دَفۡعُ ٱللَّهِ ٱلنَّاسَ بَعۡضَهُم بِبَعۡضٖ لَّهُدِّمَتۡ

صَوَٰمِعُ وَبِيَعٌ وَصَلَوَٰتٌ وَمَسَٰجِدُ يُذۡكَرُ فِيهَا ٱسۡمُ ٱللَّهِ كَثِيرٗاۗ وَلَيَنصُرَنَّ ٱللَّهُ مَن يَنصُرُهُۥٓۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَقَوِيٌّ عَزِيزٌ ۝٤٠﴾ [الحج: ۳۹-٤۰].

ژباړه: «هغو کسانو ته اجازه ورکړه سوه چي پر خلاف يې په جګړه لاس پوري کيږي، ځکه چي هغوی مظلومان دي او لوی څښتن په يقيني ډول د هغو د ملاتړ وس لري. دا هغه کسان دي چي له خپلو کورونو څخه په ناحقه وايستل سول. يوازي په دې جرم چي وايي: «زموږ پروردګار لوی څښتن دی». که لوی څښتن خلک يو د بل په وسيله دفع نه کړي نو خانقا وي، کليساوي، عبادتځايونه او جوماتونه چي په هغو کي د لوی څښتن نوم ډېر ياديږي، ټول به ونړول سي. او لوی څښتن به هرومرو د هغو کسانو سره مرسته وکړي چي د هغه مرسته وکړي. لوی څښتن ډېر زورور او لاس بری دی».

په دې آيت کي د لومړی ځل لپاره د وسله وال جهاد حکم ورکړه سو. او دوه مقصده پکښي بيان سوي دي. يو مظلوميت ته خاتمه ورکول او بل اعلای کلمة الله. ځکه که د مظلومانو مرسته او غور ونه سي نو په نړۍ کي به زورور کمزورو او د وسايلو خاوندان بې وسايلو وګړو ته د ژوند کولو حق ورنه کړي، او له دې امله به مځکه له فساد او ورانۍ څخه ډکه سي. دغه راز که د اعلای کلمة الله لپاره کوښښ ونه سي او د باطلو مخه ونه نيول سي، نو د باطلو د غلبې له امله به هم په نړۍ کي امن او امان پاته نه سي او د لوی څښتن عبادت کوونکو ته به د عبادت کوم ځای پاته نه سي.

نو څنګه چي جوته سوه چي د کفارو د ظلمونو او تېريو د مخنيوي او د باطلو د له منځه وړلو او د لوی څښتن د شعايرو د قيام لپاره جګړه اړينه ده او په نورو وسايلو د کفارو او د هغو د دښمنۍ مخه نه نيول کيږي نو د بقرې د سورې هغه آيتونه نازل سول چي په هغو کي د جګړې امر سوی دی.

البته لومړی رسول الله ﷺ ته په هغه صورت کي د جګړې امر سوی دی چي کفار جګړه کوي، لکه چي په قرآن کريم کي دي:

﴿وَٱقۡتُلُوهُمۡ حَيۡثُ ثَقِفۡتُمُوهُمۡ وَأَخۡرِجُوهُم مِّنۡ حَيۡثُ أَخۡرَجُوكُمۡۚ وَٱلۡفِتۡنَةُ أَشَدُّ مِنَ ٱلۡقَتۡلِۚ وَلَا تُقَٰتِلُوهُمۡ عِندَ ٱلۡمَسۡجِدِ ٱلۡحَرَامِ حَتَّىٰ يُقَٰتِلُوكُمۡ فِيهِۖ فَإِن قَٰتَلُوكُمۡ فَٱقۡتُلُوهُمۡۗ كَذَٰلِكَ جَزَآءُ ٱلۡكَٰفِرِينَ ۝١٩١﴾ [البقرة: ۱۹۱].

ژباړه: «د هغو سره وجنګېږئ هر چیري چي ورسره مخامخ سئ. هغو چي تاسي له کومه ځایه ایستلي یاست تاسي یې هم له هغه ځایه وباسئ. ځکه که وژل هر څونه بد کار دی، خو فتنه تر هغه هم ډېره بده ده. او تر څو پوري چي هغو د مسجدالحرام سره جګړه نه وي درسره پیل کړې تاسي هم هلته جګړه مه ورسره کوئ. خو تر څو پوري چي هغو هلته له جنګېدو څخه لاس نه وي اخیستی نو تاسي هم بې له کومي اندېښني هغوی ووژنئ. د دغسي کافرانو دغسي سزا ده».

بیا مسلمانانو ته د حرامو میاشتو د وتلو په شرط د جهاد امر وسو، لکه چي په قرآن کریم کي دي:

﴿فَإِذَا ٱنسَلَخَ ٱلۡأَشۡهُرُ ٱلۡحُرُمُ فَٱقۡتُلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ حَيۡثُ وَجَدتُّمُوهُمۡ﴾ [التوبة: ٥].

ژباړه: «کله چي حرامي میاشتي تېري سي، نو هر ځای چي مشرکان په لاس درځي وژنئ یې».

یادونه: له حرامو میاشتو څخه مطلب هغه څلور میاشتي دي چي مشرکانو ته یې مهلت ورکړه سوی وو.

بیا په مطلقه توګه مسلمانانو ته د جګړې امر ورکړه سو، لکه چي په قرآن کریم کي دي:

﴿وَقَٰتِلُواْ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ ٱلَّذِينَ يُقَٰتِلُونَكُمۡ وَلَا تَعۡتَدُوٓاْۚ إِنَّ ٱللَّهَ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ ١٩٠﴾ [البقرة: ١٩٠].

ژباړه: «او تاسي د لوی څښتن په لار کي د هغو کسانو سره وجنګېږئ چي ستاسي سره جنګیږي او تېری مه کوئ ځکه چي لوی څښتن تېری کوونکي نه خوښوي».

دغه راز د آیت السیف په نامه مشهور سوی آیت دی:

﴿وَقَٰتِلُواْ ٱلۡمُشۡرِكِينَ كَآفَّةٗ كَمَا يُقَٰتِلُونَكُمۡ كَآفَّةٗۚ وَٱعۡلَمُوٓاْ أَنَّ ٱللَّهَ مَعَ ٱلۡمُتَّقِينَ ٣٦﴾ [التوبة: ٣٦].

ژباړه: «او د مشرکانو سره ټول یوموټی وجنګېږئ، لکه څنګه چي دوی ټول یوځای ستاسي سره جنګیږي او وپوهېږئ چي لوی څښتن د پرهېزګارانو ملګری دی».

کله چې مسلمانانو ته د جګړې امر ورکړه سو نو بیا په دې هکله ډېر آیتونه نازل سول. (وګورئ ردالمحتار۳/ ۳۳۹ مخ او زاد المعاد۳/ ٦۲ مخ او نور)

## رسول اللهﷺ د وینو توېېدو پلوی نه وو:

په اطلس القرآن کي لیکي:

«رسول اللهﷺ پخپله کومه جګړه نه ده پیل کړې. د هغه تل دا هیله وه چې د انسان یوڅاڅکی وینه هم توی نه سي. خو څنګه چې اړ ایستل سو نو جګړې ته هم چمتو وو، ځکه چې هغه د «نبي الرحمة» تر څنګ «نبي الملحمه» (جګړې ته چمتو نبي) هم وو. هغه داسي یو ستر شخصیت وو چې پر خلکو یې ډېر شفقت درلود، خو د جګړه ییز چمتو والي، جنګ او نښتو، بریو او سوبو له پلوه هم یو ډېر ستر او پیاوړی شخصیت وو.

داچي پر تجارتي قافلو یې بریدونه کول دا کار هغه له قریشو پرته د نورو قبیلو سره نه دی کړی. په داسي حال کي چې نوري قبیلې هم ډېري وې او د هغو قافلو به شپه او ورځ آزادانه تګ او راتګ کاوه. څنګه چې قریشو د مسلمانانو سره اقتصادي جګړه هم پیل کړې وه او د هجرت کوونکو مسلمانانو شته،مالونه او کورونه یې په ناحقه لوټ کړي او ضبط کړي وه (او د دوی له لاسه د خپل کور، کلي او ټاټوبي او بلد الحرام غوندي ځای څخه شړل سوي وه).نو مسلمانانو جوابي کړني کولې چي دا د هغو مسلم حق بلل کېدی» (۳۵۱ مخ).

دا خبره هم وه چې د مدینې پر شاوخوا د سرایاوو په نامه ګښتي ګزمې او واړه پوځي تحرکات د مدینې او د هغې د اوسېدونکو د امنیت ساتلو، د هغو سره د اړیکو ټینګولو او د کفارو د شومو موخو او حرکاتو د څارلو په موخه وه. بیا چې څرګنده سوه چې د مکې مشرکین مالي وسایل یو ځای کوي او په دې موخه یې سوداګریز فعالیتونه ګړندي کړي، خو د هغو له ګټو څخه د مسلمانانو د له منځه وړلو لپاره وسلې په برابري کړي، نو د هغو پر سوداګریزو کاروانونو باندي له بریدونو په لاره اچولو څخه بله چاره نه وه. د مسلمانانو لخوا د دفاع لپاره د دغه حق د استعمالولو کوښښ، چې بریالی کېدی به هم

نه، د مکې د کفارو لخوا پر مسلمانانو باندي د سترو تېريو او بريدونو د په لاراچولو لپاره يوه پلمه سوه.

په دغسي شرايطو کي مسلمانان اړ وه چي د هر تېري کوونکي ځواک سره، په تېره د مکې د کفارو سره ډغري وهلو ته ځانونه چمتو کړي. په دې توګه د محمد غزالي مصري په وينا: «کومي جګړې چي اسلام پيل کړې او پيغمبرﷺ او ملګرو يې په هغو کي برخه واخيسته د جهاد ډېر شريف او غوره ډول وو. د رسولﷺ او د هغه د خلفاوو جګړې د حق د ملاتړ او ظلم او عدوان او دښمنيو د له منځه وړلو او جبارانو د واک او ځواک د ماتولو لپاره لازمي او فرض وې» (فقه السيرة ۲۷۱ مخ).

څرګنده ده چي دا جګړې د ظلم او تېريو او ښکېلاک د له منځه وړلو او مخنيوي او د حق او حقيقت د دفاع لپاره وې نه د کوم بل مادي مقصد او ښکېلاک او ظلم و زياتي لپاره.

دا چي اسلام دښمنه ختيځ پېژندونکي تور لګوي او د نورو اديانو پيروان ادعا کوي چي مسلمانانو هغه مهال وسلې ته لاس واچاوه چي اړتيا يې نه ورته در لوده دا ګردسره ناسمي خبري دي او د لوی څښتن په مځکه کي د اسلام د له منځه وړلو لپاره د نخشې او حملې يوه برخه ده. څو مسلمانان د تل لپاره د صليبيانو او صهيونيستانو تر لاس لاندي مريان سي.

په داسي وختونو کي چي اسلام او مسلمانان د پوپنا کېدو د ستر خطر سره مخامخ کيږي. ډول ډول ځواکونه يې پر ضد متحد کيږي او د اسلام په مقابل رنګارنګ دسايس په کار اچول کيږي پر مسلمانانو جګړه په لا زيات شدت او قوت سره واجبيږي.

دغسي شرايط د اسلام په لومړيو کي، تر هجرت دمخه او وروسته رامنځ ته سوي وه چي هغه مهال يې مسلمانانو پر ضد ډېر ښه تدابير سنجولي وه. رسولﷺ خپلو پيروانو ته ښه پوځي تمرينونه ورکړل.د جګړې فنون يې هغو ته ور زده کړل او خپله به يې د خپلو ملګرو سره يو ځای په پوځي تمرينونو، مانورونو او نښتو کي ګډون کاوه او په دې چاره کي به يې د کفر د ظلم او زور

او شوکت د ماتولو په موخه کوښښ او فعالیت لـه سترو او سپېڅلو عبـادتونو څخه باله.

قال الله تعالی:

﴿فَقَٰتِلۡ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ لَا تُكَلَّفُ إِلَّا نَفۡسَكَۚ وَحَرِّضِ ٱلۡمُؤۡمِنِينَۖ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَكُفَّ بَأۡسَ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ وَٱللَّهُ أَشَدُّ بَأۡسٗا وَأَشَدُّ تَنكِيلٗا ٨٤﴾ [النساء: ۸٤].

ژباړه: «نو ای پیغمبره! د الله په لار کي جګړې ته پاڅه. ته له خپله ځانه پرته د بل هیچا مسؤول نه یې. البته مومنان د جنګېدو لپاره وهڅوه. لیري نه ده چي الله د کافرانو زور مات کړي. د الله زور تر ټولو ډېر زیات او د هغه سزا تر ټولو ډېره سخته ده».

## مسلمانان باید پیاوړي پوځونه ولري

نـن مهـال هـم دا دی وینـو چـي د نـړۍ ټولـو کفـري ځواکونـو او د هغـو ګوډاګیـانو پـه ډېـره سـپین سـترګي او پـه خـورا زور اوزوړ او پراخـه کچـه پـه افغانستان، عراق او د پاکستان تر ولکه لاندي د پښتنو په سیمه کي د جګـړو، بمباریو، مرګ، ژوبلو او مصایبو داسي ناتار جوړ کړی دی چي پخـوا یـې هـیڅ سابقه نه درلوده.

په دې صورت کي مسلمانان اړ دي چي د خپلو ځانونو او اسلامي هیوادونو او خپل اسلامي هویت او عزت د ساتلو لپاره خپل پوځونه پـه ښـو او موډرنـو، درنو وسلو ښه سمبال کړي او د دښمن جګړې ته ښه چمتو والی ولري، که څـه هم داکار اوسنیو مسلمانانو. نه دی کړی او د کفارو په وړاندي یې له غفلت او ځینو ډېرو له خیانت څخه کـار اخیسـتی دی. خـو بیـا دي هـم د نـړۍ کفـار پـه خپلـو وسـلو، شـتو او توطئـو او پـه مسـلمانانو کـي پـه خپلـو ګماشـته ګـانو نـه خطاوزي اوس هم په مسلمانانو کي داسي ځواکونه او اتل جګړنان سته چـي د دوی ورېوزونه په خاورو ور ولړي. اوس هم دوی مـات دي او پـه دې دي پـوه سي چي دا د لوی څښتن دین، اسلامي خاوري او رشتیاني مسـلمانان پـه هـیڅ ګون نه سي ورانولای او ایلولای. خو رشتیاني مسلمانان دي هم پـوه سـي چـي دا چاري له دوی څخه هوښیاري، یووالی، سرښندنه، علـم او پوهـه او سیاسـي

او پوځي زده کړي او وسلې ترلاسه کول او د وسلو صنعت زده کول او په اسلامي هیوادونو کې پرمختګ ور کول غواړي. لوی څښتن فرمايي:

﴿وَلَا يَحْسَبَنَّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ سَبَقُوٓاْۚ إِنَّهُمۡ لَا يُعۡجِزُونَ ۝٥٩ وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ وَمِن رِّبَاطِ ٱلۡخَيۡلِ تُرۡهِبُونَ بِهِۦ عَدُوَّ ٱللَّهِ وَعَدُوَّكُمۡ وَءَاخَرِينَ مِن دُونِهِمۡ لَا تَعۡلَمُونَهُمُ ٱللَّهُ يَعۡلَمُهُمۡۚ وَمَا تُنفِقُواْ مِن شَيۡءٖ فِي سَبِيلِ ٱللَّهِ يُوَفَّ إِلَيۡكُمۡ وَأَنتُمۡ لَا تُظۡلَمُونَ ۝٦٠ ۞وَإِن جَنَحُواْ لِلسَّلۡمِ فَٱجۡنَحۡ لَهَا وَتَوَكَّلۡ عَلَى ٱللَّهِۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلۡعَلِيمُ ۝٦١ وَإِن يُرِيدُوٓاْ أَن يَخۡدَعُوكَ فَإِنَّ حَسۡبَكَ ٱللَّهُۚ هُوَ ٱلَّذِيٓ أَيَّدَكَ بِنَصۡرِهِۦ وَبِٱلۡمُؤۡمِنِينَ ۝٦٢﴾ [الأنفال: ٥٩-٦٢].

ژباړه: «کافران دې په دې نه تېروزي چې هغو (لوبه) وګټله. دا يقيني ده چې هغوی موږ نه سي بې وسي کولای او تاسي چې تر څو مو وس وي د جګړې ځواکونه د هغو د مقابلې لپاره چمتو کړئ. څو په دې وسيله د لوی څښتن او پر خپلو دښمنانو او پر هغو نورو دښمنانو چې تاسي يې نه پېژنئ، خو الله يې پېژني تره راولئ. د لوی څښتن په لار کې چې هر څه ولګوئ بشپړ مکافات به يې تاسي ته دروګرځول سي. او ستاسي سره به هيڅکله ظلم ونه سي. او ای پيغمبره! که دښمن روغې جوړې ته غاړه کښېږدي ته هم ورته چمتو سه او پر الله توکل وکړه. په يقين سره هغه د هر څه اورېدونکی او په هر څه پوهېدونکی دی. او که هغوی د غولوني نيت ولري نو ستا لپاره الله کافي دی. الله هغه ذات دی چې په خپله مرسته او د مومنانو په وسيله يې ستا ملاتړ وکړ».

په دې اړه د حضرت رسول اللهﷺ څو احاديث:

عَنْ أَبِي عَلِيٍّ ثُمَامَةَ بْنِ شُفَيٍّ أَنَّهُ سَمِعَ عُقْبَةَ بْنَ عَامِرٍ يَقُولُ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهَّ صَلَّى اللهُّ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ،وَهُوَ عَلَى الْمِنْبَرِ، يَقُولُ: ﴿وَأَعِدُّواْ لَهُم مَّا ٱسۡتَطَعۡتُم مِّن قُوَّةٖ﴾ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ أَلَا إِنَّ الْقُوَّةَ الرَّمْيُ. (مسلم، کتاب الامارة، باب فضل الرمي والحث عليه، ١٩١٦/٤٨٣٧ حديث).

ژباړه: عقبه بن عامرؓ ويلي دي چې ما له رسولﷺ څخه پر منبر باندي واورېدل: تاسي چې تر څو مو وس وي د جګړې ځواک د هغو د مقابلې لپاره چمتو کړئ. پوه سئ چې ځواک، غشي ويشتل دي او په ټينګار سره وايم چې

پوه سئ چي ځواک غشي ويشتل دي او بيا هم ښه پوه سئ چي ځواک غشي ويشتل دي.

البته غشي ويشتل عام دي چي غشي او لينده، توپک، بم او نوري ټولي وسلې پکښي راځي.

عن الحارث، عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِمَاسَةَ أَنَّ فُقَيْمًا اللَّخْمِيَّ قَالَ لِعُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ: تَخْتَلِفُ بَيْنَ هَذَيْنِ الْغَرَضَيْنِ، وَأَنْتَ كَبِيرٌ يَشُقُّ عَلَيْكَ. قَالَ عُقْبَةُ: لَوْلَا كَلَامٌ سَمِعْتُهُ مِنْ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَمْ أُعَانِيهِ. قَالَ الْحَارِثُ: فَقُلْتُ لِابْنِ شَمَاسَةَ: وَمَا ذَاكَ؟ قَالَ: إِنَّهُ قَال: «مَنْ عَلِمَ الرَّمْيَ ثُمَّ تَرَكَهُ فَلَيْسَ مِنَّا أَوْ قَدْ عَصَى» (مسلم، كتاب الامارة، باب فضل الرمي والحث عليه، ۱۹۱۹/٤٨٤٢ حديث).

ژباړه: له حارث څخه روايت دی چي عبدالرحمن بن شماسة وايي چي فقيم لخمي عقبه بن عامر ته وويل: څه خبره ده چي د دې دوو هدفونو تر منځ تګ او راتګ کوې؟ په داسي حال کي چي بو ډا، سپين ږيری يې؟ عقبه وويل: که هغه خبره نه وای چي له رسولﷺ څخه مي اورېدلې ده، کومک مي نه کاوه. حارث وايي چي ما له ابن شماسة څخه وپوښتل: هغه خبره څه وه؟ هغه وويل: رسولﷺ فرمايلي دي: څوک چي غشي ويشتل زده کړي او بيا يې هېر کړي له موږ څخه نه دی. او يا يې ګناه کړې ده.

وګورئ دې بوډا سړي د غشو ويشتل او مشق او تمرين په څونه پام او مينه تر سره کول. دا ځکه چي د اسلام مبارک دين د جنګي مهارتونو تر لاسه کول فرض ګڼي او هغه پر زاړه او ځوان واجب بولي.

عَنْ أَبِي نَجِيحٍ السَّلَمِيِّ قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ بَلَغَ بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ لَهُ دَرَجَةٌ فِي الْجَنَّةِ». فَبَلَّغْتُ يَوْمَئِذٍ سِتَّةَ عَشَرَ سَهْمًا قَالَ: وَسَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: «مَنْ رَمَى بِسَهْمٍ فِي سَبِيلِ اللَّهِ فَهُوَ عِدْلُ مُحَرَّرٍ» (سنن النسائي، المعجم الجهاد، ثواب من رمى بسهم في سبيل الله، ۳۱٤٥حديث. دغه حديث ابوداود، احمد، حاکم او نورو هم روايت کړی دی او الباني او نورو صحيح بللی دی).

ژباړه: له ابي نجيح سلمي څخه روايت دی چي له رسولﷺ څخه مي واورېدل چي ويل يې: هر څوک چي د لوی څښتن په لار کي په غشي هدف وولي په جنت کي يوه درجه ورکول کيږي. او ما هغه ورځ شپاړس هدفه په غشو وويشتل. دغه راز مي له رسولﷺ څخه واورېدل چي ويل يې: هرڅوک چي د لوی څښتن په لار کي يو غشی وولي د يوه مريي د آزادېدو سره برابر باله سي.

دا څو حديثه موږ د بېلګې په توګه ذکر کړل. په دې هکله د قرآن کريم او د رسولﷺ ډېري لارښووني مسلمانان د کفارو سره د خدای په لار کي جګړه ييز چمتو والي او د غښتلي پوځ جوړېدو ته بولي.

# په عربي ټاپو وزمه کې د مشرکينو سره جګړې

ومو ويل چې د عربو مشرکينو د رسول اللهﷺ، مسلمانانو او اسلام سره ډېره سخته دښمني را اخيستې وه. هغو لومړی د مسلمانانو سره په انفرادي توګه ظلم کاوه او يوازې عقيدوي مسايل د دې دښمنيو لامل سوي وه، خو د هغو په وړاندې يې وسله وال تېري ته اړتيا نه درلوده. اما اوس چې په مدينه منوره کې اسلامي حکومت او ګڼ شمېره ټولنه رامنځ ته سوه او مسلمانانو د ظلمونو په وړاندې د مقاومت او وسله والې جګړې وس درلود او بيا يې د مکې د مشرکينو تجارتي کاروانونو ته له مدينې څخه پر تېرېدونکو لارو مزاحمتونه ايجاد کړل او د دوی مادي ګټو ته ستر خطر متوجه سو، نو مشرکين اړ سول او ويې پتېيل چې د دوی سره وسله والې، جبهه يې جګړې په لاره واچوي. له بله پلوه په دغو وختونو کې د مدينې خلکو پتېيلې وه چې عبدالله بن ابی د پاچا په توګه وټاکي، خو د رسول اللهﷺ ورتلو دا اړتيا له منځه يو وړه. نو د هغه او د هغه د ډلې حسد او دښمني هم د رسول اللهﷺ او مسلمانانو په وړاندې راوپارېدل او د منافقينو د ډلې په جوړولو او د مشرکينو او يهودو سره په لاس يو کولو سره يې د مسلمانانو پر ضد ډول ډول دښمنۍ په لاره واچولې. يهودو چې د اوس او خزرج قبيلو په دښمنيو او بدمرغيو کې له مودو مودو خپله نېکمرغي او ډول ډول ګټې تر لاسه کولې او اوس د اسلام په منلو سره د هغو دا دښمنۍ په وروروليۍ اوښتي وې، د هغو هم له دې امله د رسول اللهﷺ او مسلمانانو څخه بد راغله او دښمني يې ور سره را واخيسته..له دې امله مسلمانان اړ وه چې د مدينې له اسلامي واکمنۍ، تر لاسه کړو ګټو او نېکمرغيو او خپلو ځانونو او عزت او آبرو څخه دفاع وکړي. پر دې بنسټ لوی څښتن ﷻ مومنانو ته امر وکړ چې لومړی د همدغو نژدې کفارو له شره ځانونه وژغوري او د جګړې او جهاد اجازه ورکړه سوه. په دې توګه د اسلام سره د مکې او نورو عربو مشرکينو، يهودو او منافقينو پرله پسې جګړې او نښتې پيل سوې. چې ډېر صحابه کرامؓ پکښې د لوی څښتن د دين

د ننګي او بري په لار کي قرباني سول. خو په هره جګړه کي به د خدایﷻ په فضل او پېرزوينه فتح او کاميابي د مسلمانانو په برخه وه. صرف د احد او حنين په غزاوو کي مسلمانانو ته څه زيانونه ورسېدل (چي هغه هم ځانته بېل لاملونه لري). له دې امله د قريشو د ستر طاغوت ابوجهل په ګډون د مشرکينو لوی لوی سرداران او جګړنان په دې جګړو کي ووژل سول، نهايي بری د مسلمانانو په برخه سو او اسلام په ټوله عربي ټاپووزمه کي د عربو د يوازني دين په توګه خپور سو.

لکه چي څرګنديږي سره د دې چي کفار متجاوز وه او د حق او حقيقت په وړاندي يې د دښمنۍ کلک دريځ نيولی وو او د اسلام د رڼا د خپرېدو مخه يې په سرکښيو او لجاجتونو نيول، خو بيا هم څنګه چي مسلمانان پر حق وه، پر دوی بريالي کېدل. بيا به سره د دې چي مسلمانان به پر تېري کوونکو او ظالمو کفارو بريالي سول، د هغو سره به يې د دوی په نيت کړنه نه کول، بلکي د کفارو په پرتله به ډېر زړه سواندي وه او د هغو سره به يې ډېره ښه رويه کول. دوی به پر خپلو ژمنو ولاړ وه، بد وضعيت او ظلم به يې نه کاوه او په دې ټولو جګړو او بريو کي يې هيڅ داسي نه دي کړي، لکه صليبيانو چي په ۱۰۹۹ع.کال د بيت المقدس د نيولو پر مهال وکړل او يا يې اوس امريکايي او نور لوېديز کفار د مسلمانانو په وړاندي کوي. د کفارو قانون د زور، ظلم او تېري قانون وو او دی، خو اسلام د پرمختګ، تمدن او حق او عدالت د تامين لپاره د فقهي په نامه داسي مترقي قوانين رامنځ ته کړل او په دې هکله يې نړيوالو ته داسي عدالت او مدنيت وښود چي د مخه يې چا ساری نه وو ليدلی.

د دې ټولو جګړو تفصيل په بېلو بېلو کتابونو کي راغلی دی. له دې امله موږ دلته د مشرکينو سره پر دې ټولو جګړو باندي له تفصيلي څرګندونو څخه ډډه کوو. صرف د څو خاصو او سترو جګړو په هکله لنډي يادوني کوو. او نوري سريې او جګړې به په دوو جدولونو کي په لنډو ټکو کي بيان کړو. بايد ووايو چي د دې ټولو جګړو او په ځينو مواردو کي د خبرو اترو او سوله ييزو هلو ځلو په پايله کي مسلمانانو بشپړه مدينه منوره، مکه مکرمه، طايف، يمن،

یمامه، هجر، خیبر، حضرموت او د عربو د ټاپو وزمې نور ټول ملکونه فتح کړل او د عربو ټول قبایل په ډلو ډلو د اسلام په سپېڅلي دین مشرف سول.

## د طبقات ابن سعد د کتاب سره سم د سرایاوو تفصیل

| ګڼه | د لښکر قوماندان | نېټه | ځای | مسلمانان | مشرکین |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | حمزه بن عبدالمطلب | ۱هـ. روژه | د سره سمندر غاړه | ۳۰مهاجر | ۳۰ تنه |
| ۲ | عُبیده بن حارث | ۱هـ.شوال | بطن رابغ | ۶۰مهاجر | ۲۰۰تنه |
| ۳ | سعد بن ابي وقاص | ۱هـ.میاني | غدیر خم ته نژدې خرار | ۲۰مهاجر | د قریشو قافله |
| ۴ | عبدالله بن جحش اسدي | ۲هـ.رجب | وادي نخله | ۱۲مهاجر | دقریشو قافله |
| ۵ | عمیربن عدی بن خرشه ختمي | ۲هـ.روژه | مدینه منوره | یوازي عمیر | دمروان لورعصماء |
| ۶ | سالم بن عمیر عَمري | ۲هـ.شوال | | یوازي سالم | ابو عکف یهودي |
| ۷ | محمدبن مسلمه او ابو نائله | ۳هـ.لومړۍخور | د مدینې شا وخوا | پنځه مسلمانان | کعب بن اشرف |
| ۸ | زید بن حارثه | ۳هـځلورمه خور | قردهٔ نجد | سل سپاره | د صفوان قافله |
| ۹ | ابوسلمه مخزومي | ۳هـ.محرم | قطن | ۱۵۰تنه | بنو اسد |
| ۱۰ | عبدالله بن اُنیس | ۳هـ.محرم | عُرَنَه | یوازي عبد الله | سفیان بن خالدهذلي |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۱ | منـــذربن عمـــرو ساعدي | ۳هـ.صفره | بئر معونه | ۷۰انصار | بنو سليم |
| ۱۲ | مرثـدبن ابـي مرثـد غنوي | ۳هـ.صفره | رجيع | ۱۰ تنه | قاره اوعضل |
| ۱۳ | محمد بن مسلمه | ۳هـ.محرم | قُرَطاء | ۳۰سپاره | بنو بکر |
| ۱۴ | عکاشه بن محسن اسدي | ۶هـ.لومړۍ خور | غمر (بنو اسد) | ۴۰ تنه | |
| ۱۵ | محمد بن مسلمه | ۶هـ.دوهمه خور | بنو ثعلبه | ۱۰ تنه | بنو ثعلبه |
| ۱۶ | ابوعبيده بن جراح | ۶هـ.دوهمه خور | ذوالقَصه | ۴۰تنه | بنو محارب |
| ۱۷ | زيد بن حارثه | ۶هـ.دوهمه خور | جموم | څو صحابه | بنو سليم |
| ۱۸ | زيد بن حارثه | ۶هـ.دريمه خور | عيص | ۱۷۰سپاره | دسمنور غاړه |
| ۱۹ | زيد بن حارثه | ۶هـ.څلورمه خور | طَرَف | ۱۵ تنه | بنوثعلبه |
| ۲۰ | زيد بن حارثه | ۶هـ.څلورمه خور | حِسمَى | ۵۰۰ تنه | بنوجذام |
| ۲۱ | زيد بن حارثه | ۶هـ.رجب | وادئ قرٰى | څو صحابه | دوادئ قـــرٰى يهود |
| ۲۲ | عبــدالرحمان بــن عوف | ۶هـ.شعبان | دومۀالجندل | څو صحابه | بنوکلب |
| ۲۳ | علي بن طالب | ۶هـ.شعبان | فدك | ۱۰۰ تنه | بنوسعد |
| ۲۴ | زيد بن حارثه | ۶هـ.روژه | وادئ قرٰى | څوصحابه | فزاره |
| ۲۵ | عبدالله بن عتيك | ۶هـ.روژه | خيبر | پنځه تنه | ابورافع |
| ۲۶ | عبدالله بن رواحه | ۶هـ.شوال | خيبر | دېرش تنه | اُسَير بن زارم |
| ۲۷ | کرز بن جابر فهري | ۶هـ.شوال | عرينه | شل سپاره | عرينه |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۸ | عمرو بن امیه ضمري | ۶هـ. | مکه | دوه تنه | ابوسفیان |
| ۲۹ | عمر بن خطاب | ۷هـ.شعبان | تُرَبَه | دېرش تنه | هوازن |
| ۳۰ | ابوبکر الصدیق | ۷هـ.شعبان | نجد (ضرية) | | بنو کلاب |
| ۳۱ | بشیر بن سعد انصاري | ۷هـ.شعبان | فدك | دېرش تنه | بنو مُرّه |
| ۳۲ | غالب بن عبدالله لیثي | ۷هـ.روژه | مَیْفعه (بطن نخل) | ۱۳۰ تنه | بنوعوال او بنوعبد |
| ۳۳ | بشیر بن سعد انصاري | ۷هـ.شوال | یمن وجبار | ۳۰۰ تنه | بنوغطفان |
| ۳۴ | ابن ابي العوجاء سُلمی | ۷هـ.لوی اختر | بنو سلیم | دېرش تنه | بنو سلیم |
| ۳۵ | غالب بن عبدالله لیثي | ۸ هـ.صفره | کُدید | ۲۰۰تنه | بنو ملوح |
| ۳۶ | غالب بن عبدالله لیثي | ۸ هـ.صفره | فدك | ۲۰۰تنه | بنو مُرّه |
| ۳۷ | شجاع بن وهب اسدي | ۸هـ.لومړۍخور | سِيَ | ۲۴تنه | هوازن |
| ۳۸ | کعب بن عمیر غفاري | ۸هـ.لومړۍ خور | ذات اطلاح | ۱۵ تنه | د شام مشرکین |
| ۳۹ | زید بن حارثه،جعفربن ابي طالب او عبدالله بن رواحه | ۸هـ.دریمه خور | بلفاء | ۳۰۰۰تنه | یولك رومیان |
| ۴۰ | عمرو بن عاص | ۸هـ.ثلورمه خور | ذات السلاسل | ۳۰۰تنهاو۳۰ سپاره | قضاعه |
| ۴۱ | ابوعبیده پن جراح | ۸هـ.رجب | قَبَلِیّه | ۳۰۰تنه | جهینه |
| ۴۲ | ابوقتاده بن ربعي | ۸هـ.شعبان | خضِره | ۱۵تنه | غطفان |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| | انصاري | | | | |
| ۴۳ | ابوقتاده بن ربعي انصاري | ۸هـ.روژه | بطن اضم | اته تنه | د مکې تر فتح دمخه |
| ۴۴ | خالد بن وليد | ۸هـ.روژه | نخله | ۳۰سپاره | د عزّی بت ماتو ل |
| ۴۵ | عمروبن العاص | ۸هـ.روژه | د سواع بت لوري ته | څو صحابه | بنوهذيل |
| ۴۶ | سعد بن زيد اشهلي | ۸هـ.روژه | مُشَلَّل | شل سپاره | منات ماتول |
| ۴۷ | خالد بن وليد | ۸هـ.شوال | د مکې سهيل ته | ۳۵۰تنه | بنو جذيمه |
| ۴۸ | طفيل بن عمرو دوسي | ۸هـ. شوال | ذوالکفين بت | | |
| ۴۹ | عُيَيْنَه بن حِص فزاري | ۹هـ.محرم | بنو تميم | ۵۰ تنه | بنو تميم |
| ۵۰ | قطبه بن عامر بن حديده | ۹هـ. صفره | تباله | شل تنه | بنو خثعم |
| ۵۱ | ضحاك کلابي | ۹هـ.لومړۍ خور | زج لا وه | څو صحابه | بنو کلاب |
| ۵۲ | علقمه بن مجزز مدلجي | ۹هـ.دوهمه خور | جده | ۳۰۰تنه | حبشي ډله |
| ۵۳ | علي بن ابي طالب | ۹هـ.دوهمه خور | د فُلس د طی د قبيلې د بت پر لور | ۱۰۰ تنه او۵۰ سپاره | بنو طی |
| ۵۴ | عکاشه بن محسن اسدي | ۹هـ.دوهمه خور | د عذره او بَليِّ سيمي ته | څو صحابه | جناب |
| ۵۵ | خالد بن وليد | ۱۰لومړۍ خور | نجران | څو صحابه | بنو عبدالمدا ن |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۵۶ | علي بن ابي طالب | ۱۰هـ.روژه | یمن | ۳۰۰سپاره | مذحج |

## د رسول الله ﷺ د غزاوو تفصیل

| ګڼه | غزا | نېټه | اهم لاملونه یې |
|---|---|---|---|
| ۱ | ودّان (ابواء) | ۲هـ. صفره | د رسول الله ﷺ لومړۍ غزا چي پخپله یې برخه پکښي درلوده. موخه یې د قریشو د تجارتي قافلې راګرځول |
| ۲ | بُواط (رضوٰی) | ۲هـ.لومړۍ خور | موخه یې د قریشو د تجارتي قافلې را ګرځول وه. |
| ۳ | عُشَیره | ۲هـ.څلورمه خور | موخه یې د قریشو د تجارتي قافلې را ګرځول وه. |
| ۴ | بدرالاولی (صفوان) | ۲هـ. څلورمه خور | د کرز بن جابر فهري تعقیبول، څکه هغه د مدینې منورې څاروي لوټ کړي وه. |
| ۵ | بدرالکبرٰی | ۲هـ.روژه | موخه یې د قریشو د تجارتي قافلې را ګرځول وه. |
| ۶ | بنو قینقاع | ۲هـ. شوال | د یهودو ژمني ماتول او کینه |
| ۷ | بنو سُلیم | ۲هـ. شوال | رسول الله ﷺ د بنوسُلیمو او غطفان د زور ماتولو لپاره ترقَرقَرَة الکندرپوري تشریف یووړ |
| ۸ | سَوِیق | ۲هـ.ذوالحجه | ابوسفیان د بدر د غچ اخیستلو لپاره پر مدینه یرغل وکړ. د هغه د پر شا تمبوني لپاره دا کار وسو. |
| ۹ | ذوامَر | ۳هـ.لومړۍ خور | د بنو ثعلبه او محاربو د زور ماتول وه، څو پر مدینه منوره برید ونه کړلای سي. |
| ۱۰ | بُحران | ۳هـ.دریمه خور | د بنو سُلیمو د زور ماتول وه. |
| ۱۱ | اُحُد | ۳هـ. شوال | پر مدینه منوره باندي د قریشو د برید د دفعي لپاره. |
| ۱۲ | حمراء الاسد | ۳هـ. شوال | پر مدینه منوره باندي د ابوسفیان د نابره برید مخه نیول. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۳ | بنو نضير | ۴هـ.لومړۍ خور | بنونضيرو د رسول اللهﷺ د شهيدولو پلان جوړ کړی وو. له دې امله هغوی جلاوطنه کړی سول. |
| ۱۴ | ذات الرقاع | ۴هـ.محرم | د انمار او ثعلبه وو د يوځای کېدومخه نيول. |
| ۱۵ | بدرالاخرة | ۴هـ.شعبان | د ابوسفيان د دعوت جواب |
| ۱۶ | دُومة الجندل | ۵هـ.لومړۍ خور | څه خلك سره راغونډ سوي وه لوټ يې کاوه او پر مدينه يې د بريد خيال درلود. |
| ۱۷ | مريسيع | ۵هـ.شعبان | د بنو مصتلقو (د خزاعه وو د يوې قبيلې) تيت او پرك کول. |
| ۱۸ | خندق (احزاب) | ۵ هـ.شوال | د قريشو په مشري د راتلونکو پوځونو مخه نيول. |
| ۱۹ | بنو قريظه | ۵ هـ. ذوالقعده | د بنو قريظه وو ژمني ماتول او د خندق په غزا کي د کلابندۍ پر مهال د دښمنانو سره مرسته. |
| ۲۰ | بنو لحيان | ۶هـ. لومړۍ خور | په رجيع کي د صحابه وو وژونکو بنو لحيانو ټکول. |
| ۲۱ | ذي قَرَد (غابه) | ۶هـ. لومړۍ خور | د عيينه بن حصن فرازي ټکول چي د مدينې منورې څاروي يې لوټ کړي وه. |
| ۲۲ | حديبيه | ۶هـ. ذوالقعده | موخه يې د بيت الله شريفي عمره وه خو قريشو پرې نه ښوول. |
| ۲۳ | خيبر | ۷ هـ. محرم | موخه يې پر مدينه منوره باندي د يهودو د بريد مخنيوی وو |
| ۲۴ | موته (۲۱. انځور) | ۸ هـ.دريمه خور | په دې غزا کي هغهﷺ ګډون نه درلود، خو د هغې په هکله يې داسي تفصيلات ورکړل لکه په هغې کي چي شريك وو. |
| ۲۵ | د مکې فتح | ۸ هـ.روژه | د قريشو لخوا د حديبيې د سولي له تړون څخه سرغړول. |
| ۲۶ | حنين او طايف | ۸ هـ.شوال | د بنو ثقيفو جګړې ته د تيارۍ نيولو د مخنيوي لپاره. |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۲۷ | تبوك (عسره) | ۹هـ.رجب | پر مدينه منوره باندې د روميانو د بريد د مخنيوي لپاره. |

## سريې او غزاوې:

بايد څرګنده کړو چې حديث پوهان هغه جګړه ييز فعاليت ته (جګړه پکښې سوې وي که نه وي پکښې سوې) چې رسول اللهﷺ په خپله برخه پکښې اخيستې وي «غزا» وايي، او په کومو کې چې هغه مبارك برخه نه وي اخيستې، بلکې هغو ته يې خپل اصحاب داميرانو په توګه لېږلې وي، هغو ته «بعث» او «سَرِيَّه» وايي.

«بعث» د پوځ او هرې هغې ډلې په معنا استعمالېږي چې چيرې ولېږل سي. «سَرِيَّه» چې جمع يې «سرايا» ده له «سرىٰ» څخه اخيستل سوې ده، چې د شپې ګښت او ګزمې کولو ته وايي

## سريې (اکتشافي او ګښتي ګزمې) :

کله چې په مدينه منوره کې اسلامي واکمني پر پښو ودرېده، رامنځ ته سوو شرايطو تقاضا کول چې په لازمو وختونو کې د مدينې شاوخوا سيمو ته اکتشافي وسله والې ډلې او ګزمې ولېږل سي. څو دښمن ته د اقتصادي ضربې ورکولو په موخه د مکې او شام تر منځ د دښمن، نه د نورو د سوداګريزو کاروانونو مخه ډب کړي او هغو ته وښيي چې که نور په مکه او نورو ځايونو کې د مسلمانانو له زورونې لاس وانه خلي له سختو ستونزو او بدلې اخيستلو سره به مخامخ سي.

دغه راز له دغو ګزمو څخه نورې موخې دا وې چې نور لازم معلومات هم تر لاسه کړای سي. د بدو او اطرافي غلو د ډاکو مخه ونيولای سي او د مدينې منورې مشرکينو، يهودو او د شاوخوا صحراوو عربو ته وښيي چې مسلمانان اوس دولت او واک او ځواک لري او له مخکنۍ بې وسۍ څخه راوتلي دي.او اوس حق لري چې د دوی د هغو حقوقو او شتو د بېرته اخيستو لپاره چې د مکې کفارو ځني غصب کړي دي لازم اقدامات وکړي.

# د بدر کبرى غزا

قال الله تعالى:

﴿وَلَقَدۡ نَصَرَكُمُ ٱللَّهُ بِبَدۡرٖ وَأَنتُمۡ أَذِلَّةٞۖ فَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ لَعَلَّكُمۡ تَشۡكُرُونَ ١٢٣﴾ [آل‌عمران:١٢٣].

ژباړه: «د بدر په جګړه کې لوی څښتن ستاسي سره مرسته کړې وه. په داسي حال کي چي هغه مهال تاسي زيات کمزوري واست، نو اوس پر تاسي دا لازمه ده چي د لوی څښتن له ناشکرۍ څخه ځان وژغورئ. هيله ده چي اوس تاسي شکر وباسئ».

د بدر ستره جګړه د دوهم هجري کال د روژې د مياشتي پر ١٧ مه نېټه د جمعې په ورځ د مکې د کفارو او مسلمانانو تر منځ وسوه. خبره دا وه چي د مکې کفارو هر کال د تجارت سامان شام ته وړی، چي په دې تجارت د دوی جګړه ييز ځواك پياوړی کېدی. په دغه کال هم د دوی تجارتي قافله شام ته تللې وه. کله چي قافله راوګرځېده او مدينې منورې ته نژدې ورسېده، نو مسلمانانو وپتېيل چي پر هغې بريد وکړي څو د کفارو د ځواك بنسټ وران سي او پر مسلمانانو باندي د بريدونو واك له لاسه ورکړي.

رسول اللهﷺ په دې موخه د (٣١٤) تنو سرتېرو مهاجرو او انصارو سره له مدينې څخه ووتی. ابوسفيان چي د دغي قافلې سردار وو د مسلمانانو له دې تکل څخه په يو ډول خبرسو. هغه سمدستي يو سپور چي ضمضم بن عمرو الغفاري نومېدی مزدور کړ او مکې ته يې واستاوه څو د مکې کفارو ته خبر ورکړي چي مسلمانان پرقافله باندي د بريد په نيت ور روان دي نو هر څه ژر د قافلې مرستي ته ور ودانګئ. د دې سره سم هغه خپله لار بدله کړه او قافله يې د سمندر د غاړې له لاري وايستل او په دې توګه يې وکولای سول چي هغه له خطره وژغوري.

د مکې کفار د مخکي څخه لا د مسلمانانو سره د جنګ لپاره چمتو سوي وه، يوازي يې د خپلي قافلې د ور رسېدو انتظار ايستی. هغو د دې خبر په ور

رسېدو سره د زرو تنو پیاوړی لښکر جوړ کړ، په بشپړو وسلو او مهماتو یې سمبال کړ او مخ د بدر پر لور ور روان سول. وایي چې د دې لښکر سره سندرغاړي او نغمې ږغوونکي هم وه چې په بدلو کي یې د مسلمانانو بد ویل.

## د صحابه وو ایماني ولولې:

کله چې رسول اللهﷺ ته معلومات و سو چې د قریشو قافله وتلې ده او د هغو یو پیاوړی پوځ د دوی سره د مقابلې لپاره ور روان دی نو یې د اصحابو سره مشوره وکړه چې ورړاندي وخوځو که بېر ته مدینې ته ستانه سو. د ځینو صحابه وو رایه دا وه چې څنګه چې د جنګ په موخه نه یو راوتلي نو باید بېرته وګرځو. خو رسول اللهﷺ وفرمایل: «ای خلکو! خدای زموږ سره ژمنه کړې ده چې یا به قافله زموږ په لاس راځي او یا به فتح زموږ په برخه کیږي. نو څنګه چې قافله تللې ده فتح یقیني ده».

دغه خبري چې حضرت ابوبکر، عمر او مقدادﷺ واورېدې، ودرېدل او ویې ویل: ای د خدای استازې! څه چې د خدای حکم دی عملي یې کړه. په خدای لوړو چې موږ د بني اسرائیلو غوندي نه یو چې حضرت موسیٰ‌علیه السلام ته یې ویل چې ته او ستا خدای ولاړ سئ وجنګېږئ، موږ دلته درته ناست یو.

دا جواب چې رسول اللهﷺ واورېدی هغو ته یې دعا وکړه او له انصارو څخه یې پوښتنه وکړه: «تاسي په دې هکله څه وایاست؟». خبره دا وه چې د انصارو سره چې کوم تړون سوی وو په هغه کي دا خبره سوې وه چې انصار به په خپله اورشو کي د هغه ننګه او ساتنه کوي، نه داچې له مدینې ووزي او پر نورو باندي په برید کي مرسته ورسره وکړي. له دې امله له انصارو څخه د هغو اراده معلومول ضروري وه. نو هغه وو چې د اوس د قبیلې سردار راوړاندي سو او ویې ویل: «ای د خدای رسوله! څنګه چې موږ پرتا ایمان راوړی دی او ته مو د خدای رشتینی نبي بللی یې نو څه چې خدای تاته حکم کړی دی هغه عملي کړه. موږ ستا ملګري یو. په لوی څښتن لوړم چې که ته سمندر ته ځان غورځوې نو موږ هم ځانونه سمندر ته درسره غورځوو». د رسول اللهﷺ څېره د انصارو له دې وینا څخه وغوړېده او ډېر خوشاله سو.

له مدينې منورې څخه تقريباً (۱۵۰) کيلو متره ليري يو ځای بدر نوميږي. هلته د قريشو پوځ ځای پر ځای سوی وو. رسول الله ﷺ هغه لور ته د تللو حکم ورکړ او هلته په رسېدو سره يې يوې چينې ته نژدې واړول.

## يو له بله سره مخامخ کېدل:

د روژې پر اوولسمه سهار دواړه پوځونه سره مخامخ سول. يوې خوا ته په جنګي وسلو او مهماتو سمبال زر تنه کفار وه او بلي خواته ۳۱٤ تنه بي وزلي او د ناسمو وسلو درلودونکي مسلمانان وه. رسول الله ﷺ د مسلمانانو صفونه برابر کړل او بيا يې لوی څښتن ته داسي دعا وکړه:

«ای لويه څښتنه! دا د قريشو کفار غرور او مستۍ اخيستي دي او راغلي دي، ستا نافرماني کوي او ستا رسول دروغجن بولي. نو تاچي د مرستي کومه ژمنه کړې ده هغه ترسره کړه».

تر دې وروسته لومړی له دواړو خواوو څخه يو يو سړی د جګړې لپاره را ميدان ته سول او بيا د دوارو لښکرو ترمنځ زورور جنګ وسو او د خدای د ژمني سره سم مسلمانانو ته ستره فتح په برخه سوه.

## د ابو جهل وژل:

په دې جګړه کي ستر طاغوت او د مسلمانانو تر ټولو لوی دښمن ابوجهل ووژل سو او سر يې رسول الله ﷺ ته ور وړه سو. چي په دې سره رسول الله ﷺ او مسلمانان ډېر خوشاله سول.

تاريخونه وايي چي د دې جګړې په پايله کي د قريشو اوياتنه ووژل سول او اويا يې ژوندي ونيول سول. د مسلمانانو له اړخه يوازي څوارلس تنه شهيدان سول.

## د قيديانو په هکله د اصحابو بېلي بېلي نظريې:

کافر قیدیان چې یې کله مدینې ته ورسول، نو رسول اللهﷺ د هغو په هکله د صحابه وو سره مشوره وکړه. حضرت عمرؓ وویل: «ای د خدای رسوله! دغو خلکو تل تاته تکلیف درکړی دی. دوی باید هر یو د هغو د مسلمانو خپلوانو په لاس ووژل سي، څو له یوه پلوه دوی په خپلو سزاوو ورسیږي او له بله پلوه نړیوالو ته څرګنده سي چې زموږ په زړونو کې مشرکانو ته هیڅ ځای نسته».

خو حضرت ابوبکر صدیقؓ وفرمایل: «ای د لوی څښتن رسوله! اوس چې خدای پر دوی باندې تاته بری درپه برخه کړی دی، نو پر دوی رحم وکړه او فدیه ځنې واخله پرې یې بږده، څو زموږ اړتیاوې په پوره سي او دوی ته د هدایت موقع پاته سي».

رسول اللهﷺ وفرمایل: «ای ابوبکره! ستامثال د ابراهیمؑ غوندې دی چې ویې فرمایل: [ای خدایه! چا چې زما پیروي وکړه هغه زما له ډلې څخه دی او چا چې زما نافرماني وکړه نو ته د هغه بخښونکی او پر هغه رحم کوونکی یې]. او ای عمره! ستا مثال د نوحؑ غوندې دی چې دعا یې کول: [ای الله! پر مځکه باندې هیڅ کافر مه پرېږده]». او بیا یې د حضرت ابوبکر رایه خوښه کړه. لکه چې شتمن بندیان یې په فدیه خوشې کړل او نشتمنو ته یې وویل چې تاسې هر یو د مسلمانانو لسو لسو تنو کوچنیانو ته لیکل ور زده کړئ او بیا ځئ.

## د دې ستري غزا پایلې:

په دې جګړه کې چې دې لږ شمېر مسلمانانو پر دغونو ډېرو او په وسلو سمبالو کفارو باندې کوم ستر بری وموند ټولو عربو ته یې تکان ورکړ. د مکې خلکو خو بېخي په دې جګړه کې د مشرکینو د دې ستر لښکر ماته زړه ته نه لوېدل. او هغه څوک یې لېونی په پام ورتې چې د دې ناوړې ماتې خبر یې مکې ته وروړی وو. بیا چې په حقیقت پوه سول د ویرونو داسې غرونه پر رامات سول چې څو تنو له ډېره غمه سا ورکړه او نور نه پوهېدل چې څه وکړي.

دغه راز کله چې د مسلمانانو د سوبې خبر مدينې ته ورسېدی مشرکينو او يهودو هيڅ نه مانه او د مسلمانانو د بري زېری يې ټوکې وبللې. خو کله چې يې د دې جګړې اسيران وروسته هيښ پاته سول.

په دې توګه دې بري ډېر وګړي د اسلام په حقانيت قانع کړل. د مدينې ډېر خلک په اسلام مشرف سول. د خلکو په زړونو کې يې د مسلمانانو دين ته ستر توب وباخښه. د هغو د قدرت هيبت پر پرېووت او نور يې د هغو له واک او ځواک څخه انکار نه سو کولای، بلکې په هره چاره کې به يې د هغو شتون په پام کې نيوی او تجارتي کاروانونه يې د هغو بېله خبر تيا او اجازې له مدينې منورې څخه نه تېرول.

# د احد غزا

قال الله تعالی:

﴿وَلَقَدْ صَدَقَكُمُ ٱللَّهُ وَعْدَهُۥٓ إِذْ تَحُسُّونَهُم بِإِذْنِهِۦ ۖ حَتَّىٰٓ إِذَا فَشِلْتُمْ وَتَنَٰزَعْتُمْ فِى ٱلْأَمْرِ وَعَصَيْتُم مِّنۢ بَعْدِ مَآ أَرَىٰكُم مَّا تُحِبُّونَ ۚ مِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلدُّنْيَا وَمِنكُم مَّن يُرِيدُ ٱلْءَاخِرَةَ ۚ ثُمَّ صَرَفَكُمْ عَنْهُمْ لِيَبْتَلِيَكُمْ ۖ وَلَقَدْ عَفَا عَنكُمْ ۗ وَٱللَّهُ ذُو فَضْلٍ عَلَى ٱلْمُؤْمِنِينَ ﴿١٥٢﴾﴾ [آل عمران: ۱۵۲].

ژباړه: «څښتن تعالی چي د مرستي کومه ژمنه ستاسي سره کړې وه هغه يې رشتيا کړه. لومړی خو د هغه په حکم همدا تاسي هغوی وژل. خو کله چي تاسي همت له لاسه ورکړ او په خپل کار کي مو اختلاف سره وکړ او تر هغه وروسته چي لوی څښتن تاسي ته هغه شی دروښود چي تاسي يې په مينه کي راګير واست (يعني د ولجې مالونه) تاسي د خپل مشر له امر څخه غاړه وغړول. د دې لپاره چي له تاسي څخه ځيني خلك د دنيا غوښتونکي وه او ځينو د آخرت هيله لرل. نو لوی څښتن تاسي د کافرانو په مقابله کي پر شا وتمبولاست. څو چي په تاسي ازميښت وکړي. په هرصورت لوی څښتن بيا هم ستاسي دغه تېر وتنه در وبخښل. ځکه چي لوی څښتن پر مومنانو د پېرزويني ډېر لوی نظر لري».

د بدر سختي ماتي د مکې د کفارو په کورونو سخت وير ګډ کړاو د هغو په زړونو کي د غچ اخيستني لمبې بلي سوې. لکه چي هغو يو کال د جګړې لپاره تياري ونيول او بيا يې د خپلو وژلو سوو خپلوانو د وينو د بدل اخيستلو لپاره درو زرو تنو په وسلو او نورو اړتياوو سمبال لښکر پر مدينه منوره ور وخوځاوه.

دا ځل د هغو سره د دوی ښځي هم وې څو دوی د جنګ په ډګر کي پر غيرت راولي. دغه راز يې څو تنه شاعران هم ورسره بېولي وه څو په شعرونو او د هغو د وژلو سوو خپلوانو د مرثيو په ويلو سره د هغو ويني پرجوش راولي

او جګړې ته يې ښه وهڅوي. دغه لښکر په ډېر زور او زوږ مـدينې منورې تـه نژدې د احد غره په ناوه کي د يوې چينې سره واړول.

رسـول اللـهﷺ د دريـم هجـري کـال د کـوچني اختـر (شـوال) پـر ۱۴مـه د مازديګر تر لمانځه وروسته د زرو تنو سره له مـدينې څخـه ووتـی. خـو لـږ څـه چي وړاندي ولاړ د منافقانو سردار عبدالله بن ابی خپل درې سوه ملګري ځني بېل کړل او بېرته ولاړل.

## د کوچنيانو سره د جهاد مينه:

کله چي د اسلام لښکر له مدينې ووتی رسول اللهﷺ هغه معاينه کړ، نو ويې ليدل چي په هغه کي څو تنه کوچنيان هم سته. حضـرت محمـدﷺ جنـګ تـه د هغو ببول ښه ونه ګڼل، لاس يې پر تېر کړ او په يو ترتيب يې د هغو کورونو ته د هغو د بېرته تللو کوښښ وکړ. خو د کوچنيانو د جهاد سره دونه مينه وه چي په هيڅ توګه بېرته تللو ته چمتو نه وه. په دوی کـي رافـع بـن خـديج د پښـو پـر ګوتو ودرېدی څو لوی ښکاره سي او رسـول اللـهﷺ تـه يـې وويـل چـي: ای د خدای رسوله زه ډېر غښ او ښه غشي ويشـتونکی يـم. نـو هغـه وو چـي رسـول اللهﷺ رافع ته په جنګ کي د ګډون اجازه ورکړه. له دغو کوچنيانو څخـه سـمره بن جندب د رافع همزولی وو. خو هغه په جنګ کي له ګډونـه راګرځېـدلی وو. هغه چي واورېدل چي رافع ته يې د جنګ اجازه ورکـړه دسـتي ورغـی او ورتـه ويې ويل: ای د خدای رسوله! رافع ته چي دي اجازه ورکړه نو ماته بـه يـې هـم راکوې. زه د هغه سره غېږ باسم. کـه يـې راغوځـار کـړم نـو بيـا مـا مـه بيـا يـه. رسول اللهﷺ وفرمايل: ښه دی ونيسه غېږ ورسره وباسه. کله چي پـه غېـږ سـره ورغلل رافع يې راغوځار کړ. نو بيا يې سمره ته هم اجازه ورکړه.

## جګړه:

رسول اللهﷺ د کوچني اختر د مياشتي د ۱۵ مي په سهار د احد د غره شاته خپل پوځ ځای پر ځای کړ او څنګه چي د غره د شا لخوا لـه يـوې درې «جبـل عينين» (جبل رماة؛ د غشي ويشتونکو غره) څخه د دښـمن د بريـد بېـره وه نـو يې د عبد الله بن جبيرؓ تر قومانده لاندي د پنځوسو تنو غشي ويشتونکو يـوه

ډله د درې د ساتنې او د اړتیا پرمهال د قریشو د اسپکیانو د مخنیوي لپاره وټاکل او لارښوونه یې ورته وکړه چې که موږ بریالي سو که مات سو تاسي به خپل ځای نه پرېږدئ.

وروسته دواړه پوځونه رامخ ته سول. د قریشو بیرغ وړونکي طلحه بن ابي طلحه عبدري ناري کړه او جګړه کوونکی یې وغوښت. زبیر بن عوام په میدان ورګډ سو او د هغه پر اوښ وروغورځېد، پر سپور سو او هغه یې لاندي راغوځار کړ او سر یې له تنې څخه ور جلاکړ. اوبودجانه چې توره یې رسول الله ﷺ ورکړې وه را میدان ته سو او هرکافر چې به په مخه ورتلی واژه یې. هغه پر مخ نقاب غوړولی وو او د کعب په نامه د یوه کافر سره مخامخ سو. کله چې یې کافر پر غاړه په توره وواهه او پر منځ یې دوې شغې کړ مخ یې لڅ کړ او ویې ویل: کعبه څنګه ابودجانه دي ولیدي؟ بیا سخت جنګ ونښتی. که څه هم کفار تر مسلمانانو څو واره زیات وه خو د مسلمانانو پرله پسې بریدونو ته ټینګ نه سول، خپل د جنګ سامان یې پرېښود او له میدانه وتښتېدل. دغه مهال په داسي حال کي چې مسلمانان د ولجه سوو مالونو په ټولولو اخته وه، هغو د درې خلکو د رسول الله ﷺ د لارښوني په خلاف دره پرېښوول او د ولجه سوو مالونو پر لور یې ور ودانګل. عبد الله بن جبیر د هغو د راګرځولو ډېر کوښښ وکړ او هغو ته یې د رسول الله ﷺ خبره وریاده کړه خو هغو وویل چې د رسول الله ﷺ دا حکم د جنګ په وخت کي وو. اوس چې جنګ پای ته رسېدلی دی نو موږ دلته څه کوو؟ خپله عبدالله بن جبیر له ځایه ونه خوځېد او د خپلو څو ملګرو سره هلته پاته سو.

## تر بري وروسته ماته:

کله کله یوه شیبه هم د ټولي جګړې پایله بدلوي. دلته هم داسي وسوه. خالد بن ولید دغه مهال لانه وو مسلمان سوی او د کفارو د یوې ډلګۍ مشر وو. هغه چې ولیدل چې مسلمانان د ولجو په ټولولو اخته دي او د درې لار هم خالي ده نو هغه خپل ملګري راټول کړل، له درې څخه راووت او پر مسلمانانو یې د شا لخوا برید وکړ. د درې ساتونکو عبد الله بن جبیر او د هغه

څو ملګرو د هغو مقابله وکړه خو ټول شهیدان سول. مسلمانانو په دې نابرې حملې سره حواس بایلل او د زیاتې ګډوډۍ له امله یې خپل ځیني کسان ټپیان کړل او ځیني یې ووژل. دغه مهال چك چکه سوه چي حضرت محمدﷺ شهید سوی دی. د دې خبر په اورېدو سره د مسلمانانو وضع نوره هم خرابه سوه.

مسلمانان یوې او بلې خواته سره تیت سول. خو رسول اللهﷺ یو ګام هم له خپله ځایه بې ځایه نه سو، په دې باریك حالت کي هم د غره غوندي پر خپل ځای ټینګ ولاړ وو او تښتېدونکو ته یې ناري وهلې «الیَّ عِبَادَ الله، الیَّ عِبَادَ الله» (زما خواته راسئ د لوی څښتن بنده ګانو، زما خواته راسئ د لوی څښتن بنده ګانو). دغه مهال د رسول اللهﷺ سره د څو تنو فداکارانو یوه ډله پاته سوه. کافرانو چي دا ولیدل د رسول اللهﷺ پر خوا یې ور ودانګل او پرله پسې بریدونه یې پیل کړل. خو د رسول اللهﷺ ملګري د هغه پرشاوخوا راوګرځېدل او خپل ځانونه یې هغه ته سپر کړل.

حضرت ابو طلحه انصاريرضي الله عنه یو تکړه غشی ویشتونکی وو. هغه پر کفارو دونه غشي و اورول چي تېر کښ یې بېخي خالي سو. هغه غشي اورول او ویل یې ای د خدای رسوله! زما مور او پلار دي لا ترتا صدقه سي. تر څو زما سینه وي تاته به د کوم کافر غشی ونه رسیږي.

حضرت ابودجانهرضي الله عنه خپله شا د کفارو خواته وروګرځول، کوږ ودرېدی څو غشي د ده پر شاونښلي او رسول اللهﷺ ته ونه رسیږي.

حضرت زیاد بن حارثرضي الله عنه هم د رسول اللهﷺ په ننګه کي تر هغو په جګړه لګیاوو چي د ډېرو ټپونو د لاسه بې سده سو. رسول اللهﷺ وفرمایل هغه ماته راوړئ. د هغه سر یې د رسول اللهﷺ پر زنګانه ورکښېښود او سا یې ورکړه.

حضرت طلحه هم له رسول اللهﷺ څخه دفاع کول. کله چي جګړه پای ته ورسېده او د هغه زخمونه یې وشمېرل پر بدن یې د زخمونو تر اویا زیاتي نخښې ښکارېدې.

د ابوعامر راهب په نامه یوه کافر یو څا کیندلی او سرېې ور پوښلي وو. رسول اللهﷺ پر دغه ځای په برابرېدو سره ور ولوېدی، بې سده سو او زنګنونه

يې وګرزول سول. بيا حضرت علي، حضرت ابوبکر او حضرت طلحه له څا څخه را وايستی. خو څنګه چي هغه د څا څخه دباندي راووتی يوه کافر پر مخ په ډبره وويشتی او يو مبارك غاښ يې ور مات کړ. بل کافر پر هغه د توري څو واري وکړه چي له امله يې د رسول اللهﷺ د خول دوې کړۍ د هغه په مبارك مخ ننوتې. دغه مهال چي کعب بن مالك انصاري رسول الله وليدی په زوره يې ناري کړه: ای مسلمانانو تاسي ته زېری درکوم چي د دواړو کونينو سردار ژوندی دی. دا خبر چي مسلمانانو واورېد روح په ننوتل او له هره لوري يې د رسول اللهﷺ لوري ته ور وځغستل. ځينو صحابه وو رسول اللهﷺ غره ته پورته کړ، څو ټول مسلمانان هغه ووينې چي ژوندی دی. کله چي دښمن وليدل چي رسول اللهﷺ غره ته خيژي هغوی هم غره ته په ور ختلو پيل وکړ، خو حضرت عمر هغوی پر شاوتمبول. يوه سړي چي ابی بن خلف نومېدی چيغه کړه او ويې ويل نن زه محمد ژوندی نه پرېږدم. رسول اللهﷺ صحابه وو ته وويل چي دغه سړی راپرېږدئ. کله چي ورنژدې سو، نو رسول اللهﷺ يوه نېزه ور سره کش کړه او سخت يې ټپي کړ. چي بيا د مکې پر لار مړ سو. دا هغه يوازنی بد بخته وو چي رسول اللهﷺ په خپلو لاسونو وواهه. له ده پرته رسول اللهﷺ په خپلو لاسونو بل هيڅ کافر نه دی وهلی.

په دې توګه د څو تنو د بې پروايۍ او د خپل قوماندان د قوماندې د نه منلو له امله د مسلمانانو څرګند بری په ماته واوښتی.

## په دې جګړه کي د ښځو ونډه:

وړاندي مو وويل چي دې جګړې ته کفارو خپلي ښځي هم ور وستلي وې. د شيخ عبدالحق محدث دهلوي؆ د مدارج النبوت د ۲/ ۱۲۶ مخ څخه څرګنديږي چي د مسلمانانو ځينو ښځو هم په دې جګړه کي برخه اخيستې وه. خو په دې جګړه کي د دوی په ګډون کي توپير داوو چي د کفارو ښځو په دَريو او طبلو وهلو او رجز او شعرونو ويلو سره د باطلو پلويان د حق د پلويانو په وړاندي پرغيرت راوستل. خو کله چي د هغو په لښکر ماته ګډه سوه دغو سندرغاړو ښځو سندري پرېښوولې او پر ساندو او بوغارو يې راواچول؛ دريې

او طبلې يې وغورځولې لمنې يې راټولې کړې؛ په تراټو سوې او په دغه حالت کې يې پنډۍ او پای زېبونه ښکارېدل. بيا چې د هغو وس ورسېدی د ابوسفيان مېرمنې هند د حضرت حمزه ﷺ پزه او غوږونه ور پرې کړل او بيايې د هغه ګېډه ورڅيري کړه او د هغه زړه يې په خوله ور وزبېښی. خو د دې برعکس مسلمانانو په ښځو کار نه درلود. لکه چې ابودجانه د غره په لمن کې د ابوسفيان پر مېرمن هند پېښ سو چې د نورو ښځو سره يوځای يې رجزيه سندرې ويلې، پر هغې يې توره پورته کړه خو په ويې نه وهله. دغه رازمسلمانو ښځو د غازيانو خدمت کاوه او هغو ته يې اوبه ور وړلې. نسيبې بنت کعب ﷺ په دغه جګړه کې مشك اخيستی وو او مسلمانانو ته يې اوبه ورکولې. خو کله چې يې وليدل چې کفار پر مسلمانانو زور سول، په ځغاستو نه سوه، بلکې مشك يې وغورځاوه او د کفارو جنګ ته يې ور ودانګل او ديارلس زخمه يې وخوړل. وايي چې په يوه ټپ يې تريوه کاله دوا کول. دا وايي:

«دغه زخم د ابن قميه لعين وو او ما هم پر هغه واري وکړه، خو هغه دوې زغرې اغوستې وې او زما وارو تاثير پرونه کړ. کله چې رسول الله ﷺ وليدلم چې زه ټپي سوې يم زما زوی عماره ته يې ورناري کړه چې [مور ته دې ورسه او ټپونه يې ور وتړه]».

دا زياتوي چې: «ما او زما زامنو عماره او عبدالله د رسول الله ﷺ په مخکې جنګ کاوه ما سپر نه درلود. رسول الله ﷺ يوه صحابي ته وويل چې سپر دې هغه چا ته ورکړه چې جنګ په کوي. د هغه سپر ما واخيست او د رسول الله ﷺ څخه مې د مشرکانو بريدونه دفع کول. په دغه حال کې يوه سپاره پر ما د توري وار وکړ خو څه يې را ونه کړه. ما د هغه آس په غشي وويشت، آس غوځار سو او دغه کافر ځنې ولوېدی او ما او زما زوی وواژه».

د نسيبې زوی عبد الله وايي: «په دغه ورځ زه داسې ټپي سولم چې وينې يې نه درېدې. مور مې ټپ را وتړی او راته ويې ويل [ورځه او جنګ ته دوام ورکړه] دغه مهال رسول الله ﷺ وفرمايل [ای د عماره مورکوم همت چې ته لرې بل څوك يې نه لري]. په دې وخت کې هغه کافر چې زه يې ټپي کړی وم،

موږ ته نژدې تېر سو. رسول اللهﷺ وفرمايل: «اى د عماره مور! دغه هغه سړى دى چي ستا زوى يې ټپي کړ». نسيبې دستي په دستي هغه پر پښه په توره ووهه او ويې واژه. رسول اللهﷺ وخندل او ويې ويل [د عماره موري د خپل زوى کسات دي واخيست. د لوى څښتن شکر دى چي پر دښمن يې بريالۍ کړې او ستا سترګي يې ستا د دښمن په وژنه رڼې کړې] نسيبې ورته وويل [دعا وکړه چي موږ په جنت کي ستا ملګري سو] رسول اللهﷺ د هغې، د هغې د زامنو او مېړه په حق کي دعا وکړه چي [اللهم اجعلهم رفقائي في الجنة] مور مي ورته وويل [اوس چي هرڅه راوسي پروانه لري]».

وايي چي دغه اتله ښځه د مسيلمه کذاب په جګړه کي هم حاضره وه. دا وايي چي: «په دغه جګړه کي زه په هغه پسي ګرځېدم چي نابېره يوه کافر په توره ووهلم او لاس يې را غوڅ کړ. خو ما بيا هم له جګړې لاس وانه خيست. څو شيبې وروسته مي هغه لعين مړ وليد او زما زوى مي وليد چي د هغه سر ته ولاړ دى او خپله توره د هغه له ناپاکو وينو پاکوي. دغه مهال مي د شکر سجده وکړه او د خپل زوى ټپ مي ور درمل کړ».

د رسول اللهﷺ د شهادت خبر مديني منورې ته هم رسېدلى وو. چي له دې امله ډېري ښځي د زيات خفګان په سبب له کورونو راوتلي وې. لکه چي بي بي فاطمه زهرا رضي الله عنها هم د جګړې ډګر ته ورسېده. حضرت علي رضي الله عنه اوبه وراچولې او بي بي فاطمې د رسول اللهﷺ له مخ څخهويني پرېولې او د خرما د پاڼو ايرې يې پر ټپونو ور واچولې.

په دې جګړه کي چي د ر سولﷺ له هجرت څخه دوه کاله، نهه مياشتي، اووه ورځي وروسته په دريم هجري کال وسوه، د دېرشو په شا وخوا کي کافران مړه سول او (۷۰) تنه مسلمانان شهيدان سول. چي په هغو کي د رسول اللهﷺ ګران اکا حضرت حمزه رضي الله عنه هم وو چي د هغه په شهادت رسول اللهﷺ ډېر وزورېدى. دا ځکه چي له يوه پلوه دا د هغه مهربانه اکا وو او له بله پلوه کفارو د هغه جسد په ډېره بده توګه ټوټه ټوټه کړى وو او لکه چي ومو ويل د ابوسفيان مېرمني هند لومړى د هغه ينه او غوږونه ور پرې کړي وه او بيا يې د هغه ګېډه ور څيرلې وه او د هغه زړه يې په خوله ژبېښلى وو.

د جګړې په پای ته رسېدو سره رسول الله ﷺ لارښوونه وکړه چې د احد شهیدان دې هرځای چې شهیدان سوي هلته دې ښخ سي او دوه تنه یې په یوه قبر کي ښخول. په ځینو کي یې درې تنه هم ښخ کړي دي. وایي چې حضرت حمزه او د هغه خوریی عبد الله بن جحش او مصعب بن عمیر یې هم په یوه قبر کي ښخ کړل.

# د احزابو یا خندق غزا

قال الله تعالی:

﴿وَلَمَّا رَءَا ٱلۡمُؤۡمِنُونَ ٱلۡأَحۡزَابَ قَالُواْ هَٰذَا مَا وَعَدَنَا ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥ وَصَدَقَ ٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥۚ وَمَا زَادَهُمۡ إِلَّآ إِيمَٰنٗا وَتَسۡلِيمٗا ٢٢﴾ [الأحزاب: ۲۲].

ژباړه: «او د رشتینو مومنانو حال دا وو چې کله هغو د یرغلګرو کفارو لښکري ولیدلې نو ویې ویل چې دا هماغه څه دي چې الله او د هغه رسول زموږ سره د هغو (د نصرت) ژمنه کړې وه. د الله او د هغه د رسول خبره بېخي رشتیا وه. دغي پېښي د هغو ایمان او غاړه ایښوول لا زیات کړل».

لکه چې د مخه مو و ویل د مدینې یهود د مسلمانانو سره پر لاسلیک سوي تړون ونه درېدل، ځکه چې د مسلمانانو په اتحاد او اتفاق کي یې خپلې ګټې په خطر کي ولیدلې. له دې امله د اسلام په وړاندي په پټو او ښکاره سازشونو او دښمنیو لګیا سول. چې د دوی دا تحرکات د دوی او مسلمانانو د نښتو او جنګ جګړو او د دوی د ماتو او خواریو لامل سول. چې پر دې مسایلو به وروسته مفصلې څرګندوني ولرو. په دې توګه د کفارو ډلو او یهودو ته جوته سوه چې په بېل بېل جنګېدو سره اسلامي دولت نه سو را پرځولای. نو هغه وو چې د یهودو څو تنه لویان مکې ته ولاړل او د هغه ځای کفار یې د مسلمانانو سره یوې ستري جګړې ته چمتو کړل. بیا غطفان قبیلې ته ورغله او په دې جګړه کي یې د خیبر د یو کلنو حاصلاتو د ورکولو په مقابل کي د ځان ملګري کړل. د بني قریظه قبیلې یهود هم ورسره یوځای سول. په دې توګه د پنځم هجري کال د کوچني اختر (شوال) په میاشت کي یهودو او د عربو ټولو قبایلو د اسلام پر ضد لس زریز ستر پوځ د اسلام پر پلازمېنه مدینه منوره باندي برید ته چمتو کړ. رسول اللهﷺ د صحابه وو سره له مدینې څخه د دفاع لپاره مشوره وکړه. حضرت سلمان فارسيرضي الله عنه مشوره ورکړه چې د مدینې پر هغه خوادي چې د دښمن د حملې اندېښنه ده خندق وکیندل سي او

مسلمانان دي د خندق له هاخوا پر دښمن واري کوي. څنګه چې دغه رایه د ټولو خوښه سوه، نو رسولﷺ خپلو درو زرو تنو یارانو سره د دفاع لپاره د مدینې په شمال کي په شل ورځي کي د درو میلو په اوږدو خندق وکیندی. (له نورو درو خواوو د خرماوو د بڼونو لړی په طبیعي توګه د ښار د کلاکار ورکاوه، صرف د ښار د شمال خوا خالي وه). دغه مهال ځیني منافقین او سست عنصره وګړي په دې پلمه چي کورونه یې د دښمن د خطر سره مخامخ دي د جګړې له ډګره وتښتېدل.

## د احزابو (د کفارو د ډلو) سره د سولي خبري:

د مشرکینو لښکرو څه له پاسه شل ورځي د خندق له هغي خوا مدینه کلابند کړه. دغه مهال د مسلمانانو ستونزي او بېره زښته زیاته سوه د ځینو روایتونو له مخي د دې حال په لیدو سره رسول اللهﷺ د غطفان یهودو دوو مشرانو ته سړی واستاوه چي ور ته ووایي: که تاسي د خپلو لښکرو سره له جګړې څخه پر شا سئ، موږ د مدینې د خرماوو له یو کلنو حاصلاتو څخه دریمه برخه درکوو.دغو مادي پالو هم دغه خبره سمدستي ومنل. خو سعد بن معاذ او عبادهرضي الله عنهما وویل: موږ د دوی سره دغسي سوله نه کوو. بلکي موږ په توره د دوی سره خبره سپینوو. هر څه چي لوی څښتن مقدر کړي وي هغه منو. په دې توګه دا سوله ونه سوه او رسولﷺ هم ډېر خوشاله سو. (غزوات پیامبر اکرم۸٤ مخ).

د یادولو وړ ده چي نن مهال د امریکا او لوېدیزو کفارو ځیني معاش خواره او پلویان د حضرت رسول اللهﷺ د سولي د دغو تشو خبرو په تمسک کومي چي یوازي خبري وې نه تر سره سوې سوله، وایي چي د مجبوریت په حال کي پر مسلمانانو واجب ده چي د کفارو سره سوله وکړي او جزیه ورته ورکړي؟! دغه بې همته وګړي دونه نه پوهیږي چي دا سوله نه وه، بلکي صرف خبري او مشوره وه. او قطعي تصمیم پر دې سو چي خبره به په توره فیصله کیږي. نه په بل څه.

ښه، د دې کلابندۍ په ترځ کې به کله کله خبره تن په تن جنګ تـه ورسـېده. په همدغو تن په تن جګړو کې حضرت علي رضي الله عنه د کفارو د لښکرو نـامي پهلـوان عمرو بن عبدود وواژه.

کافرانو کوښښ وکړ چې پـه یـو ډول تـر خنـدق پوریـوزي او پـر مسـلمانانو بریدونه وکړي، خو دا ممکنه نه وه. یوه ورځ د قریشو ځینـي ځوانـان پـر اسـانو سپاره سول او له خندق څخه یې د تېرېدلو هڅه وکړه. خو یـو چـې تـر خنـدق پوري وتۍ ووژل سو. بل په خدق کې ولوېدی مړ سو او نور وتښتېدل.

په دې توګه د ورځو په تېرېدو سره د کافرانو ستونزي زیاتېـدلې. د لښـکرو د خوړو، اوبو او نورو اړتیاوو د ور رسولو په کار کې ستونزي را ولاړې سوې. له یوه لوري د خوړو نېستي سوه او له بله لوري د هغو په اسانو او بوده ګانو مرګـو ګڼه سوه. دغه مهال لوی څښتن د کفارو پـه مـنځ کـي بـې اتفـاقي واچـول او د هغو یووالی یـې ورګـډوډ کـړ. بیـا خـدای تعـالی یـو داسـي توپـان د سـړو سـره یوځای پر نازل کړ چې خېمې، وسلې او سړي یې ور تیـت او پـرك کـړل او سـر اسیمه د شپې په تیـاره کـې وتښـتېدل. دغـه مهـال د غطفـان د قبیلـې یـو معـزز سردار نعیم بن مسعود اسـلام راوړ. پـه دې توګـه لـوی څښـتن د کـافرانو هغـه غښتلی پوځ د خوارۍ او ذلت سره مخـامخ کـړ او د مسـلمانانو فـتح پـه برخـه سوه.

## د حديبيې سوله، نوي شرايط او نوي بدلونونه

قال الله تعالى:

﴿إِنَّا فَتَحۡنَا لَكَ فَتۡحٗا مُّبِينٗا ١ لِّيَغۡفِرَ لَكَ ٱللَّهُ مَا تَقَدَّمَ مِن ذَنۢبِكَ وَمَا تَأَخَّرَ وَيُتِمَّ نِعۡمَتَهُۥ عَلَيۡكَ وَيَهۡدِيَكَ صِرَٰطٗا مُّسۡتَقِيمٗا ٢ وَيَنصُرَكَ ٱللَّهُ نَصۡرًا عَزِيزًا ٣﴾ [الفتح: ١-٣].

ژباړه: «اى پيغمبره! موږ تا ته ښكاره فتح دركړه، څو لوى څښتن ستا له مخكنۍ او وروستنۍ كوتاهۍ در تېر سي او پر تاباندي خپل نعمت بشپړ كړي او تا ته سمه لار وښيي او قوي مرسته درسره وكړي».

څنګه چي د حديبيي سوله د مكيګ شريفي د فتحي او د اسلام د نورو زياتو بريااليتوبونو بنسټګ او پيلامه وه، نو شګايي چي لومړۍ د حديبييګ د سولي په هكله معلومات وځاندي كړو او د دغو معلوماتو په رنګاكي د مكيګ د فتحي په هكله رنګا واچوو:

رسول اللهﷺ د هجرت په شپږم كال درك كړه چي د اسلام د بريااليتوبونو په لړ كي بېل او متمايز شرايط رامنځ ته سوي دي، نو بايد د دغو شرايطو سره سم د لازياتو بريااليتوبونو لپاره نوي هڅي په لار واچول سي. پر دې بنسټ هغه د دغه كال د ذوالقعديګ (ميانة) په مياشت كي د (1400يا1500) تنو اصحابو په ملګرتيا د عمريګ په نيت د مكيګ پر لور وخوځيګد. هغو په «ذو الحليفه» كي احرامونه وتړل او د هديي (قرباني) اوشګان ييګ هم ورسره رهي كړل.

كله چي قريشو ته د حضرت محمدﷺ د ديګ سفر په هكله معلومات ورسيګدل په أيګر زور او زوإ سره ييګ د مقابليګ لپاره تياره پيګل كړيګ، او د خپلو متحدو قبايلو ستري ألي ييګ را وغوشګتليګ چي په ديګ أول د مشركينو پوحګونه د مكيګ د باندي په «بلدح» نومي حګاى كي سره راغونأ سول.

په همدیګ أول کله چې محمدي قافله مکیګ ته نژدیګ (حدیبییګ) ته ورسیګده نو د ده مبارکﷺ اوشګه هلته چوك سوه او سره له أیګرو وهلو او کشولو هیځګ له خپله ځګایه ونه خوځګیګده، ځګکه نو هلته تم سوه.

د خُزاعه د قبیلیګ وګړي تردیګ دمه لا په اسلام نه وه مشرف سوي. خو د مسلمانانو ملګري او د هغو په راز شریك وه. د هغو مشر بُدیل بن ورقاء حضرت محمدﷺ ته ورغی او ورته وییګ ویل چې د قریشو د پوځګونو سیګلاب را روان سوی، په بلدح نومي ځګای کي ییګ پر اوبو قبضه کړیګ، پرتاسو د برید لپاره تیاري کوي او تاسي ته دکعبیګ شریفي د زیارت کولو اجازه نه درکوي. رسول اللهﷺ وفرمایل: هغو تهووایه چې موږ د عمریګ لپاره راغلي یو او جنګ نه کوو. شګه داده چې قریش تر یویګ ټاکلي مودیګ پوري زموږ سره د سولي تړون لاسلیك کړي.

بُدیل محمدي پیغام قریشوته واوراوه، خو هغو باور په ونه کړ، یو وار یې مکرز بن حفص او بیا یې د حبشیانو مشر حلیس بن علقمه ور ولېږی. هغه چي د مسلمانانو احرامونه او هدیي ولیدلې، نو یې قریشو ته وویل چې دا ښه کار نه دی چي دوی له عمرې څخه منع سي. خو قریشو د حلیس خبري هم ونه منلې. بیا یې د طایف سردار عروه بن مسعود ور ولېږی. هغه رسول اللهﷺ ته وویل: تا دغه لوچکان راوستي دي او خپل قوم په خرابوې؟ قریشو پتېیلې ده چي تا به په وچ زور له مکې څخه منع کوي. زه پوهېږم چي ستا ملګري د جګړې تاب نه لري، تا به پرېږدي او وبه تښتي. حضرت ابوبکرؓ چي دې خبرو ته غوږ نیولی وو عروه ته په غوسه سو او سختي خبري یې ورته وکړې. بیا عروه ولاړ او قریشو ته یې وویل چي ما دکسرا او قیصر دربارونه هم لیدلي دي او د نجاشي دربار ته هم ورغلی یم، خو ما چي د محمد کوم شان او شوکت ولید په بل پاچا کي مي نه دی لیدلی. د هغه ملګري د هغه د اوداسه اوبه له ډېره ادبه او له ډېري میني مځکي ته نه پرېږدي. او د هغه په وړاندي سپوڼ هم نه وهي. نو تاسي ته ښه داده چي ځانونه په جنجال کي ورسره وانه چوئ او عمرې کولو ته یې پرېږدئ.

بيا حضرت محمدﷺ د سولي د خبرو لپاره خراش بن اميه ته خپله ځانګړې اوښګه ورکؤه او قريشو ته ييګ وليګإی، خو قريشو اوښګه ووژل او نژديګ وو چي خراش هم ووژني خو هغه ييګ ونه وژلای سو. هغه دا تګوله ماجرا د رسول اللهﷺ په حضورکي وؤاندي کؤه. په ديګ منځ کي قريشو پرمسلمانانو باندي د بريد لپاره يوه أله وليګإل، چي د مسلمانانو لخوا ونيول سوه. خو حضرت رسالت پناهﷺ د خپلو لوؤو اخلاقي صفاتو په مقتضا هغه تګوله وبخشګل.

نبي الرحمآﷺ د قريشو د ديګ مخالفانه او معاندانه روييګ سره سره يو حګل بيا د سولي کوشګشګ وکؤ او خپل زوم حضرت عثمانؓ ييګ هغو ته د خپل سفير په توګه ور وليګإی. د هغه ترليګإلو وروسته اصحابو وويل: عثمان خګونه بختور سؤی دی، هغه به د بيت الله په زيارت او طواف مشرف سي او موإ دلته بيګ برخي ناست يو. خوکله چي دا خبره حضرت محمدﷺ واوريګدل، نو وييګ ويل: «زما د عثمان پر وفادارۍ باندي بشپؤ باوردی چي هغه بيګله موإ د کعبيګ شريفي طواف نه کوي».

همدغسي کله چي حضرت عثمان د حضرت محمدﷺ پيغام قريشو ته ورساوه. هغو جواب ورکؤ چي تاته د طواف کولو اجازه ده. خو محمدﷺ ته موإ هيڅګکله اجازه نه ورکوو. مګر حضرت عثمان ورته وويل: زه هم د حضرت محمدﷺ پرته طواف ته اؤتيا نه لرم. هغه وو چي قريشو هغه بندي کؤ او آوازه ييګ واچول چي قريشو هغه وواژه. کله چي دا خبر نبي کريمﷺ ته ورسيګد، نو سخت ناکراره سو. او د مسلمانانو وينه پرجوش راغله. بيا هغه مبارکﷺ تريويګ وني لاندي کشګيګنستی او وييګ فرمايل چي د عثمان د ويني بدله اخيستل فرض باله سي. نو خګوک چي غواؤي په ديګ چاره کي شريک سي زما پرلاس دي بيعت راسره وکؤي. چي تګولو اصحابو په خورا أيګر جوش او خروشګ د حګانو د قرباني کولو بيعت ورسره وکؤ. رسول اللهﷺ خپل کينګ لاس د حضرت عثمانؓ لاس وباله او پرخپل بل لاس ييګ کشګيګشګود، د عثمان له لوري ييګ هم بيعت وکؤ، خګو هغه له ديګ ثوابه خګخه بيګ برخي پاته نه سي.

که څګه هم وروسته خګرګنده سوه چي دا خبر غلط دی، سره د دیګ هم دغو سر شګندونکو اصحابو د خپل شمیګرد لإوالي او ظاهري اسبابو د نشتوالي سره سره د رسول اللهﷺ پرلاس د سرشګندنیګ او فدا کاری بیعت وکؤ. نو خدایﷻ د دوی د دیګ غوره عمل اجر عظیم دا ورکؤ چي په قرآن عظیم کي ییګ په أیګر صراحت سره د خپلي خوشګي سند دوی ته ورکؤ او د دیګ مبارك سند له مخي دغه بیعت د «بیعت رضوان» په نامه ونومول سو.

حضرت مسور بن مخرمه خګرګندوي چي په دیګ ترحګ کي قریشو هم خپله غلطي احساس کؤه او سولي ته چمتو سول، هغو حضرت عثمانؓ خوشي کړ او خپل یو د اعتماد وؤ، ژب غؤاندی ویندوی سهیل بن عمرو یې مسلمانانو ته د سفیر په توګه ولیګإی. تر أیګرو خبرو اترو وروسته، په څګو شرایطو باندي جوؤه وسوه. د سولي د تؤون لیکل د حضرت علي کرم الله وجهه پر غاؤه وه. رسول اللهﷺ حضرت علي ته وفرمایل چي د تؤون لیك په سرکي بسم الله الرحمن الرحیم ولیکي. څنګه چي عربو د لیکونو په پیل کي د «باسمك اللهم» الفاظ لیکل او د «بسم الله» شریفي سره نا بلده وه، حګکه نو سهیل بن عمرو وویل چي د بسم الله پرحګای دي همهغه پخواني الفاظ ولیکل سي، او رسول اللهﷺ هم ومنل. بیا رسول اللهﷺ حضرت علیؓ ته د دیګ جملیګ د لیکلو په هکله وفرمایل: «هذا ماقاضیٰ علیه محمد رسول الله». یعني: دا هغه تؤون دی چي پر هغه باندي محمد د خدایﷻ رسول سوله کړې ده. سهیل وویل که موإ تا د خدایﷻ د رسول په توګه وپیګژنو، بیا خو جګړه پای ته ورسیګده. نو ته د دیګ پر حګای خپل او د خپل پلار نوم ولیکه. رسول اللهﷺ ورته وویل: که څګه هم تاسي زما رسالت درواغ بولی، خو زه په خدایﷻ لوؤم چي زه د خدایﷻ استازی یم. په هرحال رسول اللهﷺ لیکونکي ته وفرمایل چي یوازي زما نوم ولیکئ. خو حضرت عليؓ د أیګري میني او عقید تمندئ له امله د هغه مبارك پرنامه د خط کشولو څګخه أآه وکؤه. چي بیا خپله پیغمبرﷺ پر «رسول الله» باندي کرشګه راوکشګه او پدیګ توګه د تؤون د شرایطو د لیکلو کار پیګل سو.

تؤون پرلاندي شرایطو لاسلیك سو:

1- سږکال دې مسلمانان بېله عمرې له ادا کولو بېرته ولاړ شي.
2- په راتلونکي کال کې دې عمرې ته راشي، او درې ورځې تېرولو وروسته دې بېرته ولاړ شي.
3- د وسلو سره دې نه راځي، هر يو صرف يوه توره د ځان سره راوړلای شي. چې هغه به هم په تيکي کې وي او تيکی به هم په کڅوړه کې وي.
4- په مکه کې چې کوم مسلمانان له پخوا څخه اوسيږي هغه له مکې څخه نه شي تللای، او که له مسلمانانو څخه څوك په مکه کې اوسېدل غواړي، نو هغه به نه منع کيږي.
5- د مکې له قريشو، يا مسلمانانو څخه که څوك مدينې ته ولاړ شي، هغه به بېرته موږ ته سپارئ. خو که کوم مسلمان مکې ته راشي هغه به بېرته مدينې ته نه ليږل کيږي.
6- د قريشو او مسلمانانو ترمنځ به ترلسو کالو جنګ نه کيږي.
7- د عربو قبايل به اختيار ولري چې د فريقينو څخه د هر لوري سره چې وغواړي په تړون کې شريکيدلای شي.

(د دې تړون له مخې بني خُزاعه وو د نبيﷺ ملګرتيا غوره کړه او بني بکرد قريشو ملګري شول).

له دغو شرطونو څخه درې شرطه د مسلمانانو نه وه خوښ. خو رسولﷺ وويل: څوک چې له موږ څخه ځي او د کافرانو سره اوسي هغه زموږ څخه ليرې ښه دی او څوک چې کافران پرېږدي او موږ ته راځي او موږ هغه کافرانو ته وسپارو، نو هغه ته به لوی څښتن يوه لار لا نه يوه لار پيدا کړي.

تراوسه لا پر تړون لاسليکونه نه وه شوي چې د دغه سهيل نومي زوی ابوجندل نومی، کوم چې اسلام يې منلی وو او په مکه کې د کفارو په بند کې وو او په ښکلو يې بېګړه لاويې چې په يو أول تشګتيګدلی او هلته ورسيد. د هغه پر بدن باندې د ظلم او تشدد او د کفارو د بربريت نخښګې له ورايه ښکاريدې. خو حضرت محمدﷺ د تړون د موادو د مراعتولو له امله هغه بېرته قريشو ته وسپاره او هغه ته يې داسې تسلا ورکول چې: «ابو

جندله د صبر او زغم خګخه کار واخله، خدایﷻ به تاته هرو مروکومه لار پرانیزي».

څنګه چي دغه روغه په شګکاره د ذلت او مغلو بیت روغه وه، نو حضرت عمرﷺ او نوراصحاب سخت په خپه سول. دوی ویل چي د مسلمانانو د دیګ یو نیم زر سرشګندونکو په مخکي قریش خګه اهمیت نه لري. خو د رسول اللهﷺ پام هغو احوالو او نتیجو ته ووګ چي د نورو له سترګو خګخه پټګي ویګ. هغه په بیګ مثاله استغنا، توکل او تحمل دغه سوله ومنل او خپلو اصحابو ته ییګ په دیګ لنأو الفاظو چي «الله ورسوله أعلم» أاأ اوتسلا ورکول. یعني الله او د هغه رسول په داسي خبرو باندي أیګر شګه پوهیږي.

تردیګ وروسته پیګغمبرﷺ اصحابو ته وفرمایل چي: اوس دلته اوشګان حلال کؤئ، سرونه وخریاست، یا ییګ وریګشګتان لنأ کؤئ او احرامونه خلاص کؤئ. خو په دیګ خبره هیخګوك له خپله حګایه ونه شګوریګګدل. پیګغمبرﷺ دریګ حګله امر وکؤ، خو پرصحابه وو باندي په هغه وخت کي د غم او خفګان او زؤه ماتوالي داسي سخته غلبه وه چي له خپله حګایه ییګ هیخګ حرکت ونه کؤ. د پیغمبرﷺ د رسالت په تګول دورکي تردغه یوه پلا پرته نور داسي ونه سوه. په دیګ باندي پیګغمبرﷺ سخت خفه سو. خپلي خیګمیګ ته ولاؤ او د ام المؤمنین حضرت ام سلمهﷺ سره ییګ د زؤه خواله وکؤه. هغیګ ورته وویل چي ته په پټګه خوله تشریف یوسه او خپل اوشګ ذبح کؤه او سرخریونکی پیداکؤه خپل سر وخریه. تر هغه وروسته به خلك خپل پخپله ستا پیروي وکؤي. همداسي وسول. د پیګغمبرﷺ د دیګ کار په لیدو سره خلکو هم قربانۍ وکؤیګ، سرونه ییګ وخریل، یا ییګ وریګشګتان لنأکؤل او له احرامه را ووتل. او په داسي حال کي چي زؤونه ییګ له غمه أك وه مدینیګ منورې ته رهي سول. په لاره کي د«الفتح» سوره نازله سوه او لوی څښتن د دغي روغي نوم «فتح مبین» کشګیګشګود. (د بخاري له ۲۷۳۲حدیث، د ابن هشام د سیرت له ۳/ ۴۰۱ او څو ورپسې مخونو او د تاریخ المکة المکرمه له ۲۳۷ مخ څخه لنډون).

## د حدیبیې د سولې سیاسي ګټې

که سم وجداني قضاوت وي او تعصب نه وي، نو اسلام داسي یو دین دی چي خپل پخپله انساني کائنات حګانته را جذبوي. لکه چي د حدیبییګ د سولي له امله ـ چي د «فتح مبین» اعزاز ورکړه سوـ د مسلمانانو اوکفارو ترمنحګ سوله منحګ ته راغله او جنګ و حګنأول سو، نو مشرکینو ته د امن او سکون په فضا کي د مسلمانانو سره د تلو راتلو موقع په لاس ورغله؛ یو له بله په خبرو اترو او پوشګتنو ګرویګإنو سره مشغول سول او د اسلام مقناطیسي کشش او د مسلمانانو سولي خوشګوني، کریمانه اخلاقو، غورو اعمالو، صداقت، عدالت، حق خوشګوني او حق پوهني او داسي أیګرو نورو شیګنو کفار د هغو ګرویده کؤل. چي په نتیجه کي دا سوله د مسلمانانو لپاره د لوی خیر، رسمیت پیګژندلو او سترو بریو لامل سوه. لکه چي د دیګ سولي په پایله کي د قریشو د جګړو او مزاحمتونو مخه ونیول سوه او د خیبر د فتحي کار آسانه او فتح سو. مسلمانانو ته أیګري ولجیګ په لاس ورغلیګ، خالد بن ولید او عمرو بن العاص، دوه نامتو شخصیتونه مسلمانان سول، اسلام زیات خپور سو، او په دوه کاله کي د مسلمانانو لشګکر له یونیم زر تنو خګخه لسو زرو تنو ته ورسیګد، او په دیګ أول د مکیګ شریفي د فتح کیګدو شرایط راغونأ سول.

هلته ابوجندل رضي الله عنه د مکیګ په بندیخانه کي د اسلام د حق دین تبلیغ پیګل کؤ چي د دغه تبلیغ په نتیجه کي په یوه کال کي درو سوو تنو اسلام راوؤ. په دیګ ترحګ کي عتبة ابن اسید رضي الله عنه کوم چي لقب ییګ«ابو بصیر» وو د مکیګ د کفارو له ظلمونو په عذاب سو او مدینیګ منوریګ ته وتشګتیګدی. قریشو په هغه پسي د رسول الله ﷺ خدمت ته دوه تنه ولیګإل اوغوشګتنه ییګ حګني وکؤه چي د تؤون سره سم زموإ سؤی بیرته راوسپاره. رسول الله ﷺ عتبه ته وفرمایل چي: ای ابو بصیره، ته پوهیږې چي موږ د قریشو سره تړون لاسلیک کړی دی او زموږ په دین کي غدر او ژمنه ماتول نسته. نو راسه بیرته ولاړ سه. هغه عرض کړه: ته مابیرته د کفارو منګولو ته سپارې؟ څو ما بیرته کفر ته

مجبوره کړي؟ هغه ورته وفرمايل: خداى تعالى به ستا او نورو ټولو مستضعفانو د ژغورني کوم تدبير وکړي.

ابو بصير مجبور سو د دوو تنو په محافظت بيرته د مکيګ پر لور رهي سو. خوکله چي ذو الحليفيګ ته ورسيګدى، يو کافر ييګ د هغه په توره وواژه او بل وبيګريګدى، بيګرته رسولﷺ ته ورغى او شکايت ييګ وکړ. په ديګ وخت کي ابو بصير هم بيګرته د کافر توره په لاس کي مدينيګ ته ورسيګدى او رسول اللهﷺ ته ييګ وويل: تا خو زه د تؤون سره سم بيګرته ور وليګإلم. اوس نو پرتاسوکومه ذمه واري نسته او وروسته بيا له مدينيګ خګخه «العيص» نومي حګاى ته، چي د سمندر پرغاؤه «ذو مرويګ» ته نژديګ وو، ولاؤ او هلته ييګ استوګنه غوره کړه. وروسته د مکيګ مظلوم مسلمانان په پټګه تشګتيګدل او د ابوبصير سره به هلته يوحګاى کيګدل. چي په ديګ أول د ابو بصير سره د اويا تنو مسلمانانو يوه غشګتليګ أله را غونأه سوه. ابوجندل هم په دغو وګړو کي وو. ترديګ وروسته به چي د قريشو د سوداګرة قافله له ديګ لاري شام ته تله، نو هغو به د قافليګ سؤي وژل او مال به ييګ حګني لوتګاوه. چي په ديګ أول دغه د غنيمت مال د هغو د خرخګ، خوراك ذريعه وګرحګيګدل.

بالاخره قريش دغو حالاتو په تنګ کړل او د رسول اللهﷺ په حضور کي ييګ عرض وکړ چي موإ د تؤون تر هغه شرط تيګر يو چي که مسلمانان له مکيګ خګخه مدينيګ ته تشګتي موإ ته ييګ بيګرته په لاس راکړئ. نو که مسلمانان وغواؤي چي مدينيګ ته ولاؤسي هلته اوسيګدلاى سي او موإ ييګ بيګرته نه غواؤو. نو هغه وو چي رسولﷺ ابوبصير ته ليک واستاوه چي له دغه ځايه ولاړسي او بل هرځاى چي يې خوښه وي واوسي. خو دغه ليک ابوبصير ته د هغه د زکندن پر مهال وررسيدى. وروسته د قريشو د کاروانو لار پرانيستل سوه.

## ټولواکانو او واکمنانو ته ليکونه (په نړيواله کچه اسلام ته بلنه)

رسول اللهﷺ تر هجرت وروسته تر شپاږو کالو پوري خپل تګول پام د عربو دننه د دعوت او تبليغ کار ته اؤولی وو. د حديبيګ په تؤون سره چي د مکې د مشرکينو مزاحمتونه بند سول نو د بعثت تر نولسم کال وروسته، په اووم هجري قمري کال د حق د پيغام خپراوی او تبليغ په نؤيواله کچه پيل سو. د دغه مهال د زبر حګواکونو روم او ايران ټولواکمنو او د هغو ګوډاګيو ته ليکونه او سفيران واستول سول.

دګ ليکونو محتوا يوه وه، خو د هر يوه د ليکلو أول بيل بيل دی. د هر چا دمرتبيګ، ذهنيت او چاپيګريال سره برابر په بشپؤه او اغيګزمنه توګه بلنه ورکؤه سويګ ده. کومو واکمنو ته چي ليکونه ليګاږل سوي دي خګوك ييګ تګولواکمنان (شهنشاهان)، خګوك ييګ پاچهان، خګوك ييګ اميران دي، چي ځيني د پراخو او سترو هيوادونو خپل سري واکمنان او ځيني يې بلواکي لاسپوځي وه. دوی ته په دې ليکونو کي مستقيم خطاب سوی دی، چي داسي غير معمولي جراءت بيګله نبيانو بل خګوك نه سي کولای.

### د روم د ټولواکمن پر نامه ليک:

رسول اللهﷺ د حضرت دحيه بن خليفه کلبيؓ په لاس د روم شهنشاه ته په دې مضمون ليك ولېږی:

بسم الله الرحمن الرحيم

د خدای د رسول لخوا د روم واکمن هرقل ته!

پر هغه چا دي سلامتيا وي چي سمه لار يې غوره کړي ده. زه تاته د اسلام بلنه درکوم. که سلامتي غواړې نو اسلام ومنه. که دي اسلام ومنئ نو لوی ځښتن به تاته دوه اجره درکړي، او که دي انکار وکړ نو به ستا د ټول ولس د ورکلارۍ ذمه هم پر تاوي. ای اهل کتابو! د اختلاف او نزاع ټولي خبري يوې خواته کړئ او پر يوه داسي خبره سره يو سئ چي زموږ او ستاسي ترمنځ په يوه

ډول منلې ده او هغه داده چي موږ به له خدايه پرته د بل هيچا عبادت نه کوو او نه به څوك ورسره شريکوو او نه به له الله پرته بل څوك د خپلو ځانو رب بولو. که تاسي له دې خبري څخه انکار وکړئ نو تاسي ته دي څرګنده وي چي موږ هرو مرو د الله پر يو والي عقيده لرو.

څنګه چي شهنشاه دغه مهال د بيت المقدس زيارت ته تللی وو، نو حضرت دحيه دغه ليك هلته ور ورساوه.

دغه مهال د قريشو يوه قافله د ابو سفيان په مشرۍ شام ته د سوداګرۍ لپاره تللې وه. ټولواکمن هغوی دربار ته ور وبلل او د رسول الله ﷺ په هکله يې له هغو څخه څه پوښتني وکړې. ابوسفيان که څه هم هغه مهال لا نه وو مسلمان سوی، خو د هغه له جوابونو څخه قيصر پوه سو چي دا رشتينی پېغمبر دی. نو هغه په دربار کي چي ډېر درباريان پکښي ناست وه، وويل چي: «زما يقين دی چي محمد د خدای رشتينی پېغمبر دی. ماته معلومه وه چي د لوی څښتن وروستی استازی پيدا کېدونکی دی. خو ما ګومان نه کاوه چي هغه دي په عربو کي پيدا سي. ای عربو! که ستاسي دغه جوابونه درست وي نو زه ويلای سم چي د هغه دين پرمخ ځي او هغه به زما تر قدمونو لاندي مځکه هم ونيسي. که زه د هغه خدمت ته حاضرېدلای سوای، نو هرو مرو ورتلم».

درباريانو چي د قيصر دا خبري واورېدې د مخالفت چيغي يې پورته کړې. ځکه نو قيصر چپ سو. بيا چي هغه حمص ته ورسېدی، نو هغه د ولس مشران راغونډ کړل. کله چي ټول راغونډ سول وروونه يې وتړل او ويې ويل: «ای د روم سردارانو! که تاسي هدايت او کاميابي غواړئ او د خپل واك او هيواد ساتنه غواړئ نو زه تاسي ته مشوره درکوم چي په عربو کي د راپاڅېدلي نبي دين ومنئ». کله چي سردارانو د قيصر دا خبري واورېدې د ځنګلي خرو غوندي يې د دروازو پر خوا ور الا کړه. خو څنګه چي يې دروازې دمخه لا تړلي وې د باندي ونه وتلای سول.

قيصر چي د خپلو درباريانو د کرکي دا حال وليدی نو پرخپل سلطنت وبېرېدی، ځکه يې نو خبره بلي خواته واړول او ويې ويل: «ستاسي لکه چي

زما خبره زړه ته ولوېده؟ ما په دې توګه غوښتل چې ستاسي د خپل مذهب په هکله ستاسي عقیده او ټینګار معلوم کړم».

وګورئ د رسول اللهﷺ پر رشتینولۍ باندي د یقین سره سره تر ایمان تېر سو خو تر واك تېر نه سو. دغه ډله وګړي تقریباً ټول دغسي دي. له بده مرغه هغو ته تر هر څه خپل واك ارزښت لري او نور هیڅ! هغه لکه څنګه چې د خپل قوم څخه ببرېدی، دغسي یې له رسول اللهﷺ او اسلام څخه هم خطر احساس کړی وو. ځکه یې نو خپل خلك په دغه ډول له ځانه خوښ وساتل او حضرت دحیه ته یې هم وښوول چې ګواکي مسلمان سوی دی. چې بیایې یو څه مال او پیسې هم ورکړې او رخصت یې کړ. د راستنېدو پر مهال پر لاري په جذام نومي ځای کي دغه مال غلو ځني لوټ کړ. وایي چې دا کار د بېزنتین واکمن (هرقل) په اشاره تر سره سو. داسي ښکاري چې هرقل ډېر هوښیار سړی وو. هغه په خپله پوهه درك کړې وه چې د اسلام په وړاندي د سرټمبه ګۍ پرځای نرمښت غوره دی. ځکه یې نو د دغسي کسانو د ډېر پخواني عادت ــ چل او سیاسي منافقت څخه کار واخیست. خو هغه به نور ډېر خلك غولولي وي اما حضرت محمدﷺ غوندي د خدای استازی یې کله غولولای سوای. کله چې حضرت دحیه دا خبر هغه ته وروړ، هغه سمدستي وویل: «دې د خدای دښمن درواغ وویل؛ مسلمان نه دی». د د حیه سره د پاته پیسو په هکله یې هم لارښوونه وکړه چې پر بې وزلو دي وو بشل سي.

## د ایران د ټولواکمن پر نامه لیک:

د فارس (ایران) د ټولواکمن خسرو پرویز پر نامه لیك حضرت عبد الله بن حذافه واخیست. په دغه لیك کي لیکلي وه:

بسم الله الرحمن الرحیم

د خدای د پیغمبر محمد لخوا د فارس پاچا خسروپرویز ته.

سلامتیا دي وي پر هغه چا چې د هدایت د لاري پیروي کوي او پر لوی څښتن او د هغه پر رسول ایمان راوړي. زه شاهدي ورکوم چي له لوی څښتنه پرته، چي یو دی او شریك نه لري، بل معبود نسته او محمد د هغه بنده او د

هغه رسول دی. لوی څښتن زه د ټولي نړۍ لپاره د پیغمبر په توګه را لېږلی یم څو هر ژوندی انسان له لوی څښتن څخه وبېروم. اسلام ومنه څو خوندي پاتـه سې. که ته انکار وکړې نو د ټولو مجوسیانو (زردشتیانو) ګناه بـه هـم سـتا پـه غاړه وي.

خو دغه مغرور او سرټمبه واکمن د رسول الله ﷺ لیـك څیـري او ټـوك ټـوك کړ. کله چې رسول الله ﷺ ته دغـه خبـر ورسـېد، هغـه وویـل چـې خـدای دي د هغه سلطنت ټوك ټوك کړي. د رسول الله ﷺ دغه ښرا ډېر ژر قبوله سوه او دغـه ستر سلطنت په ډېره لږ موده کي وران ویجاړ سو. دغه واکمن په یمن کي خپل والي بازان ته ولیکل چې په عربو کـي چـې کـوم سـړي د نبوت دعـوه کـړې ده هرڅه ژر یې ونیسئ او ماته یې راولېږئ. بـازان پـه دې موخـه دوه تنـه افسـران چې خرخسره او بابویه نومېدل مدینې منورې ته ولېږل. کله چې دغـه دوه تنـه د رسول الله ﷺ حضور ته ورسېدل نـو هغـه ورتـه وفرمایـل: لـه کـومي لاري چـې راغلي یاست پر هغه ځئ او بازان تهووایاست چې ستاسـي پاچـا مـړ سـو. کلـه چې دغه دوه تنه بازان ته ورغله او دغه حال یې ورته ووایـه، همدغـه مهـال لـه فارس څخه د هغه ځای د نوي پاچا «شېرویه» ایلیچـي ور ورسـېد او بـازان تـه یې د هغه لیك وسپاره. د لیك مضمون داسي وو: «ما خپل پلار پرویز د هغه د ظلمونو په سبب وواژه. اوس ته په خپل ملك کـي زمـا لپـاره بیعـت واخلـه او د حجاز په هغه چا چې زما پلار ستاسي څخه غوښتی وو، کار مه لره».

بازان چې د رسول اللـه ﷺ دا څرګنـده معجـزه ولیـدل سمدسـتي یـې اسـلام ومانه او نور قوم یې هم مسلمان سو.

## د حبشې د پاچا پر نامه لیک:

د حبشې پاچا ته یې نجاشي ویل. د دغه ځای یو نجاشي اصحمه نومېدی. د هغه په وختو کي د رسول الله ﷺ د بعثت پـه پـنځم کـال مسـلمانانو لـه مکې څخه حبشې ته هجرت وکړ. بیا چـې د هجـرت پـه نهـم کـال هغـه وفـات سـو رسول الله ﷺ په مدینه کي د جنازې لمونځ ورکړ. تر دغـه نجاشـي وروسـته بـل یو د حبشې نجاشي (پاچا) سو. رسول الله ﷺ همدغه نجاشـي تـه د عمـرو بـن

اميه الضمري په لاس ليك ولېږی. خو د دغه نجاشي د نامه او اسلام په هکله معلومات نسته. د ليک مضمون په دې ډول وو:

بسم الله الرحمن الرحيم

سلامتيا دي وي پر هغه چي سمه لار غوره کړي. زه د هغه لوی څښتن ستاينه کوم چي په معبوديت کي يو دی او د ټولو کايناتو مالك دی. د امن او سلامتۍ پناځای يوازي د هغه ذات دی او د دې خبري شاهدي ورکوم چي عيسی بن مريم د لوی څښتن روح دی. چي د مريمي پر پاکه لمن يې القا کړ کومه چي د الله د نبي عيسی مور سوه. الله هغه له خپلي روح څخه پيدا کړ او هغه يې په حضرت مريمه کي پو کړ. لکه چي هغه حضرت آدمعليه السلام د خپل قدرت په لاس خلق کړ. اوس زه تاته د يوه لاشريکه خدای اطاعت او محبت ته بلنه در کوم. تاته ښايي چي زما پيروي وکړې او د الله کوم پيغام چي ما راوړی دی ښايي پر هغه ايمان راوړې. زه تا او ستا لښکر د اللهجل جلاله لوري ته رابولم. دادی ما د تبليغ او نصيحت فريضه تر سره کړه. تاته ښايي چي ويې منې. د هدايت پر منونکو دي سلامتيا وي.

## د مصر د واکمن پر نامه ليک:

رسول اللهﷺ د مصر واکمن مقوقس ته د حاطب بن ابي بلتعه په لاس هغسي ليک واستاوه چي د روم ټولواکمن ته يې لېږلی وو.

مقوقس اسلام ونه مانه خو د رسول اللهﷺ ليك ته يې په ډېره درنه سترگه وکتل. هغه يې په خپل ټټر پوري ومښی او د پيل د غاښ په دبلي کي يې وساتی. بيا يې رسول اللهﷺ ته ډېر سوغاتونه چي په هغو کي څو تنې مينځې، مريان، څاروي او نور گران بيه شيان هم وه د يوه طبيب سره ولېږل. هغه ټول سوغاتونه ومنل خو طبيب يې بيرته ورولېږی او ورته ويې ويل چي موږ څو ښه وږي نه سو څه نه خورو او چي لا څه وږي يو له خوړلو لاس نيسو، له دې امله موږ طبيب ته اړتيا نه لرو.

مقوقس چي کومي مينځي رسول اللهﷺ ته ور لېږلي وې په هغو کي يوه ماريه قبطيه وه. هغه رسول اللهﷺ خپل ځان ته خوښه کړه چي د هغې له نسه

د اتم هجري کال د لوی اختر په میاشت کې د رسول اللهﷺ زوی ابراهیم پیدا سو. بله مینځه یې چې سیرین یا شیرین نومېده، حسان بن ثابت ته وبخښله.

د مقوقس پر نامه د رسول اللهﷺ لیك یوه فرانسوي عالم ته د مصر له یوې کلیسا څخه په لاس ورغلی او اوس د قسطنطنیې په موزیم کې خوندي دی.

وایي چې دغه مهال پر مصر باندې رومي واکمن «کیرس» نومېدی کوم چې عربو مقوقس باله. کله چې هغه د رسول اللهﷺ له استازي څخه لیك واخیست ورته ویې ویل: که محمد پیغمبر وي نو ولې یې ښرا ونه کړه، څو د ده مخالفین او هغه چې دی یې له خپله ښاره ایستلی دی له منځه ولاړ سي؟ استازي یې په جواب کې وویل: کله چې یوې ډلې عیسی واژه نو ولې هغه له خدایه ونه غوښتل چې هلاك یې کړي؟ مقوقس ورته وویل: ډېر ښه دې وویل. ته ډېر پوه سړی یې او د ډېر پوه سړي لخوا را لیږل سوی یې.

د یادولو وړ ده چې رسول اللهﷺ پر دغو لیکونو سربېره د بحرین، بصریٰ، دمشق، عمان، یمامه، او نورو پاچهانو ته هم لیکونه ور واستول او اسلام ته یې وبلل. چې ځینو اسلام ومانه او ځینو ونه مانه. کومو پاچهانو چې اسلام قبول کړ د هغو په ملکونو کې اسلام خپور سو. لکه چې د بحرین مجوسي پاچا منذر بن ساوي د اسلام د پیغمبر بلنه ومنل او خپل قوم یې هم اسلام ته وباله چې ځینو ومانه او ځینو ونه مانه. خو کومو پاچهانو چې اسلام ونه مانه د هغو په ملکونو کې هم د اسلام آوازې خپرې سوې او د رسول اللهﷺ موخه هم له دغو لیکونو لیږلو څخه دغه وه. (تاریخ ملت،٦٥ـ ٦٨ مخونه، نشانات ارض قرآن٥٢١ مخ او نور).

# د مکې مکرمې پر تمینه فتح

قال الله تعالی:

﴿جَآءَ ٱلۡحَقُّ وَزَهَقَ ٱلۡبَٰطِلُۚ إِنَّ ٱلۡبَٰطِلَ كَانَ زَهُوقًا ٨١﴾ [الإسراء: ۸۱].

ژباړه: «حق راغی او باطل له منځه ولاړ بېشکه چې باطل له منځه تلونکی دی».

د حدیبیې په معاهده کې چې د فریقینو ترمنځګ وسوه، یو شرط دا وو چې تر لسو کالو به د دوی ترمنځګ جګړه نه کیږي. همدغسې د عربو قبایل اختیار لري چې د کوم فریق سره وغواړي، د هغو سره ملګري او یو ځګای سي، او له دواړو جانبو خګخه یو، دا حق او اجازه نه لري چې د بل جانب پر حلیف او اتحادي باندي لاس پورته کړي.

د تړون د دغې مادیګ له مخې د بني خزاعه قبیله د مسلمانانو ملګرې وه او د هغو حریفه قبیله بني بکر د قریشو سره یوځګای سویګ وه. د تړون د دغې تصریح سره سره قریشو د حرم دننه د بني بکرو په ملاتړ پر بني خزاعه وو برید وکړ، ځګیني وګړي ییګ په بیګ رحمې سره ور ووژل او ځګیني نور ییګ آ خوا دیګ خوا تیت او پرك کړل.

تردیګ پیګشګې وروسته د بني خزاعه وو ځګیني خلك مدینیګ منوریګ ته ورغله او حضرت محمدﷺ ته ییګ شکایت وکړ. رسول اللهﷺ قریشو ته قاصد ولیګاږی، چې یا د مقتولینو خون بها (دیت) ادا کړئ، یا د بني بکرو ملاتړ پریګاږدئ، او که داسې نه کوئ، نو بیا اعلان وکړئ چې د حدیبیګ تړون مات او له منځګه تللی دی.

قریشو چې دا شرایط واوریګدل د هغو په نماینده ګي قرظه بن عمر وویل: موږ ته دریګیم شرط د منلو وړدی. بیا قریش پشګیګمانه سول او ابو سفیان ییګ د تړون د بیا نوي کولو لپاره مدینیګ ته ولیګاږی او د رسول اللهﷺ حضور ته حاضر سو. خو د رسولﷺ د صبر پیمانه ډکه سویګ وه او د حق د استقرار، د مظلومانو د پلوی، د ظلم د له منځه وړلو او د بتانو له ناولتیا

خګخه ییګ د کعبیګ شریفي د پاکولو پریګکؤه کؤیګ وه. حګکه ییګ نو د تؤون د بیانوي کولو خګخه أأه وکؤه او د کعبیګ د تطهیر لپاره ییګ تیارة پیګل کؤیګ. لنأه دا چي د هجرت په اتم کال د روژیګ مبا رکي پر لسمه نیګتګه له مدینې منورې څخه د اسلام لس زره کسیز پوحګ په خورا أیګر حشمت، عظمت او دبدبه د مکیګ په لور وخوحګیګد. محمدي لشګکرو مکیګ مکرمیګ ته د یوه مزل یا تقریباً لسوکیګلو مترو په وا تګن په «مر الظهران» نومي حګای (وادي فاطمه) کي واؤول، او د رسول اللهﷺ د امرسره سم تګول پوحګ بیګل بیګل حګایونه اورونه بل کؤل. چي په دیګ أول تګوله بیګدیا د امن اورشو وګرحګیګده. دا داسي کار وو چي د مکې اوسېدونکي یې په سخته بېره او اریانتیا کي واچول.

## د ابوسفیان اسلام راوړل:

په دغسي بېروونکو شېبو کي ابوسفیان له دې پېښي څخه د خبر اخیستلو لپاره له مکې ووتی، په لار کي د رسول اللهﷺ اکا حضرت عباسؓ پر پېښ سو او هغه یې رسولﷺ ته ر وستی. څنګه چي ابو سفیان له موضوع خبر سو د حضرت عباسؓ په مشوره یې تر خګه زؤه نا زؤه توب وروسته ایمان راوؤ، او بیاییګ د رسول اللهﷺ سره بیګله مقاومته د مکیګ په سپارلو کي د مرستي ژمنه وکړه. البته د رسول اللهﷺ لخوا هم تضمین او أأأ ورکؤه سو چي دوی به د مکیګ د خلکو د مالونو او حګانونو ساتنه کوي. حضرت عباسؓ حضرت محمدﷺ ته عرض وکؤ چي ابو سفیان عزت خوشګوونکی سؤی دی، نو ده ته خګه عزت او ویاؤ هم ور په برخه کؤه. هغه وفرمایل: «شګه دی، خګوك چي د ابو سفیان په کور کي یا په مسجد الحرام کي پناه واخلي. یا د خپلو کورونو دروازیګ په حګانو پسي وتؤي یا وسله پر محګکه کشګیګإدي، هغه ته دي امان ورکول کیإي». واییګ چي دغه مهال حکیم بن حزام هم مسلمان سو او ده او ابو سفیان دواؤو رسول اللهﷺ ته سلاورکؤه چي ترمکیګ د مخه هوازن ته د جګړي لپاره ولاؤسي خو رسول اللهﷺ ونه منل.

بیا رسول الله ﷺ وفرمایل دوی د غرونو په یوه لوړه او تنګه ناوه کې ودرویږ، څو د خدای ﷻ د پوځونو د سترتوب ننداره وکړي او د هغو غښتلتیا، ښه نظم، ښکیلا وسلې او د شمیر ډیرښت په درسته توګه ووینی. ترڅو وروسته ابو سفیان مکې ته ولاړ او خپل قوم قریشو ته یې وویل: د محمدي پوځونو په وړاندې وسلې پر ځمکه کښیږدئ او جګړه مه ورسره کوئ او هغوی یې د اسلام منلو ته هم وبلل. خو په دې وخت کې ځینې احساسات چې وکړي د قریشو د لښکرو د راغونډولو او د نبوي پوځ په وړاندې د ټینګار په تکل کې سول او ځینو د ابو سفیان له خبرو څخه سرغړاوه. ان چې د هغه میرمنې «هند» قریش د هغه وژلوته وهڅول. خو د دوی ډیرو هڅو څه ځای ونه نیو او خلک ترڅو خبرو اوریدلو وروسته سره تیت سول. په پایله کې د ټولو زړه ته تیره سوه چې د اسلام د پوځ سره مقابله یې ځایه کار دی. نو ځکه د ابو سفیان خبرې ومنلې او د اسلام د پوځ په وړاندې یې د نه مقاومت پریکړه وکړه. کوڅې یې خالي کړې؛ وسلې یې وغورځولې او په خپلو کورونو، مسجد الحرام او د ابو سفیان په کور کې کښیناستل.

رسول الله ﷺ د خپل پوځ قوماندانانو ته په مکه کې د وسلې نه کارولو او د پیښیدونکي (احتمالي) جګړه کوونکو پرته د نورو وګړو نه وژلو په هکله ډیر سخت احکام صادرکړل. بالاخره د هجرت په اتم کال د روژې پرشلمه (د ورځو په نیټوکې اختلاف دی او ښکاره دقیقي نه دي) نبوي پوځ بیګله کوم مقاومته مکې ته ننووت. خو یوازې د خالد بن ولید لښکر د یوځه سپک او بابیزګ مقاومت سره مخامخ سو. مورخین په دې هکله وایي چې په لار کې د خالد بن ولید رضي الله عنه له ملګرو څخه کُرز بن جابر فهري او حُبَیشُ یا خُنَیس بن الاشعر له دې امله چې د لښکرو څخه بیل سوي وه، او پر بله لار روان وه، په شهادت ورسیدل، او په «خندمه» نومي ځای کې د خالد لښکر د قریشو د پای لوچانو د مقاومت سره مخامخ سو، چې په یوه سپک برید کې دوولس یا اته ویشت، او په بل روایت اویا تنه مشرکان ووژل سول او نور وتښتیدل.

په دې توګه په مکه مکرمه کې د لوی څښتن د وحدانیت، حق او عدالت رڼا خپره سوه، ټول بتان مات سول او د مکې اوسېدونکي لـه څـو تنـو پرتـه ټـول د اسلام په سپېڅلي دین مشرف سول.

## د مکې مکرمې د فتحې پایلي

له مخکنیو څرګندونو څرګند جوته سوه چي د رسولﷺ لخوا پر مکه بانـدي د یوه لوی برید د تیاری په پایله کې هغه بیګله کوم د یادوني وړ مقاومت څرګند فتح سوه. رسولﷺ تردیګ پریګکوونې فتحې وروسته د مکیګ د خلکو سره ښه او کریمانه وضع وکړه، هغو ته ییګ عمومي عفو اعلان کـړه، د هغو له زړونو څرګند ییګ نا آاأمنتوب او اندیګښګنیګ لیرې کړیګ او ژر او په خوشګي سره ییګ اسلام منلو تـه رامات کـړل. چي لـه هغـو څرګنـد ییګ حګیني وکړي په بیګلو بیګلو دندوکي استخدام هم کړل.

په دیګ أول د مکیګ خلکو ته څرګنده سوه چي د اسلام په نسبت د دوی پخوانیو شکونو کوم بنسټګ نه درلود. د مکیګ ترفتحې وروسته هلته د اسلام حاکمیت د دوی د فکر او نظر افق پراخه کړ، د دوی د جاهلي تګـولني عیبونـه او مفاسد ییګ له منحګه یووړه او د مکیګ دیني مرکزیـت او صـلاحیت ییګ نه دا چي یوازي ښګه وساتی، بلکي تر پخواییګ لا أیګر پراخه کړ.

پـه مکـه کـي د اسـلامي دولـت ټینګښـتاو پـر مختګـاو د امـن او سـلامتیا خپریګدو دوی ته د دولت په اداره کي د برخې اخیستلو او د دوی د اقتصادي چارو د ودې او پراختیا لپاره ښګه فرصتونه پـه لاس ورکـړه. دوی د دولـت پـه اداره کي پربرخي اخیستلو سربیګره د جهاد په لویو جګړو کي هم شامل سـول. چي په أیګرو بریالیو معرکوکي د اسلامي پوحګونو ستر سـالاران جـوړ سـول او أیګر ییګ د اسلامي دولت ستر چارواکي سول، او حګیني ییګ داسي عالمـان جوت سول چي د اسلام د فکري خوځښت په پرمختیا او د اسلامي علومو پـه غوړیګدو او پراختیاکي ییګ ستره برخه واخیسته.

له بله پلوه د دغي بریالـة سـوبي لـه املـه پـه عمـومي توګـه پـه ټګولـه جزیـرة العرب کي د بت پالني حګواك په داسي بشپړه توګه مات سو چي بیا ییګ هلته

د نور دوام او پاته کیگدو خگه گنجایش او د جواز وجه پاته نه سوه. دا حگکه چي عام قبایل تگول دیگ ته منتظر وه چي د مسلمانانو او بت پالانو ترمنحگ د دیگ جگړې انجام خگه کیإي؟ دوی ته څرگنده وه چي پر حرم باندي هغه خگوك مسلط کیگدای سي چي پر حقه وي، او دا عقیده په دوی کي نیمه پیگؤة د مخه د اصحاب فیلو پیگشگي را منحگته کؤیگ وه. نو چي د دیگ پریگکگؤوني غزا په پایله کي مسلمانان پرمکه واکمن سول، تگول د اسلام پر حقانیت قانع او اأأمن سول. په دیگ أول د تگولي عربي تگاپووزمي پرسیاسي او دیني افقو د اسلام لمر وحگلیگد او له دیگ مهاله د دغي سیمي د دیني لارشگووني او دنیوي قیادت واکي د مسلمانانو په لاس ورغلې، چي د دې سره سم په نوره نړۍ کي د اسلام خپرېدو او سترو لاسته راوړنو او فتوحاتو ته لاره اواره سوه.

## د اسلام سره د مدينې د يهودو دښمني او د هغو برخليک

### په مدينه منوره کي د يهودو د مېشتېدو تاريخ:

کله چي مسلمانانو يثرب ته هجرت وکړ نو هلته يو شمېر يهود اوسېدل. دغه يهود د پنځه ويشتو په شاوخوا کي ښېل ښېل قبايل وه. په مدينه منوره کي د دوی د مېشتېدو لامل داوو چي: کله د روم پاچا پر بني اسرائيلو را پاڅېدی او شام يې تر خپل واك لا ندي راوستی نو يې د هارونعليه السلام له توکمه څخه د يوه يهود لور وغوښتل. دغه پېغله په ښايست او نسب ډېره مشهوره وه. خو د يهودو په دين کي تاکلې سوې وه چي د نصاراوو سره به ګردسره واده نه کوي. اما دوی د روم د پاچا له ببري دا ازدواج نه سوای منع کولای. نو د روم د دغه نصراني پاچا سره د دغه ازدواج د نه کولو په هکله د خپل شريعت د تنفيذ او تطبيق په تکل کي سول او ويې پتېيل چي د دغه پاچا څخه غچ واخلي. نو يې د يوه چل لا ر ولټول. هغه وو چي هغه ته يې وليکل چي د دغي نجلۍ سره د نکاح په مراسمو کي پخپله برخه واخلي. څنګه چي هغه پر دغي يهودي ښايستې پېغلي مين سوی وو، نو د هغو منځته ورغی او ډېري مېوې، خواږه، جامې او نغدي پيسې يې هم ورسره ورووړې. کله چي دغه پاچا د هغو تاکلي ځای ته وررورسېدی، ښه هرکلی يې ورته ووايه او دی او د ده ورسره وګړي يې په يوه ډېره ښکلې ماڼۍ کي کښېنول، او بيا يې بريد پر وکی، پاچا او د هغه ټول ملګري يې ووژل او په دې ډول يې د هغه له شره ځانونه وژغورل. له دې امله دغه يهود بيا حجاز ته وتښتېدل او له هغو څخه يوه ستره ډله په مدينه منوره کي مېشت سول.

دغه کيسه تاريخ معالم المدينة المنورة کتاب د (۱۹) مخ په لمن ليك کي د شيخ احمد عباسي له عمدة الا خبار څخه نقل کړې ده او وايي چي عباسي پر هغه اعتماد کړی دی. خو د تاريخ کتابونه مدينې منورې ته د يهودو د هجرت په هکله نور سببونه هم ذکر کوي چي يو يې د بخت نصر له ظلمونو څخه د

هغو تېښته ده. د تاريخ مدينه منوره په (۱۶) مخ كي ليكي چي: مورخين پر دې خبره متفق دی چي د يثرب اكثره يهوديان له فلسطين څخه د ورغلو له توكمه څخه دي. له دوی څخه ځيني د بخت نصر تر حملې وروسته مدينې ته تښتېدلي دي. بخت نصرچي د بابل (عراق) پاچا وو په ۵۸۶ ق.م. كي د يهودو پر حكومت بريد وكړ، بيت المقدس او مسجد اقصیٰ (هيكل سليماني) يې وران كړل، بې شمېره يهود يې ووژل، لس لكه تنه يې عراق ته د مريانو په توګه بوتله او ډېر يې بنديان كړل. بيا په ۷۰ ع.او ۱۳۲ع. كلونو كي روميانو پر يهودو ظلمونه وكړل چي له دې امله نور يهود هم له فلسطين څخه يثرب ته مهاجر سول.

دغه راز وايي چي دوی د هغو زيارت كوونكو پاتي شوني دي چي مدينې ته ورسېدل او هغه يې د هغو صفتونو سره سمه وموندل كوم چي په تورات كي ذكر سوي وه. په تورات كي ويل سوي وه چي مدينه منوره د رسول اللهﷺ د هجرت ځای دی. په هر صورت دغه ټول سببونه په مجموع كي په مدينه منوره كي د هغو د استوګني لا مل سوي دي. چي كېدای سي يوه ډله د روم د پاچا د يادي سوي پېښي له امله مدينې ته مهاجر سوي وي، بله ډله د بخت نصر د مظالمو له امله هغې ته تللې وي او نور هم په نورو لاملونو هلته ورغلې وي.

د مدينې د يهودو مورنۍ ژبه عبراني وه، خو كله چي دوی حجاز ته ورغله د هغو ژبه كرار كرار عربي سوه او نور يې په عربي ژبه خبري كولې. خو عبراني د دوی مذهبي او تعليمي ژبه وه. د دوی عالمانو ته له تورات څخه د رسول اللهﷺ اوصاف معلوم وه. په تورات كي داسي يو آيت وو چي رسول اللهﷺ به ژر په مكه مكرمه كي څرګند سي. بيا به هغه ځای ته مهاجر سي چي په هغه كي د خرماوو وني وي. نو دوی له شام څخه را رهي سول، څو دغه ځای ومومي او د رسول اللهﷺ متابعت وكړي. كله چي يې دغه ستر او څرګند صفت په مدينه منوره كي وليد او دغه مهال هغه «يثرب» بلل كېده، ځينو وويل چي دغه هغه ځای دی چي موږ غوښتی. نو يې هلته واړول او د هغه ځای استوګن

سول، خو چې «تبع» پاچا هلته ورغی، مدینه منوره یهودو په خپلو منځو کې پر لا ندې نظام ووېشله:

1- د بني قُرَيظه وو قبیلې او د هغو ورونو بني النضیرو په «عالیه» نومي ځای کې واړول. کوم چې اوس یې «العوالي» بولي او هغه یو ښکلی او نامتو کلی دی. په دې ډول دوی په دوو ناوو کې بڼونه جوړ کړل. د دغو دوو ناوو یوې ته «مذینیب» او بلې ته «مهروز» وایي. چې مهروز د بني قریظه وو برخه سوه او مذینیب د بني النضیرو برخه سوه. دوی هلته ډېر لوی او پراخه څهان وکیندل، ونې یې کښېنولې او بیا د عربو ځینې قبایل هلته د دوی سره یوځای مېشت سول، چې د هغو سره یې ډېر بد ژوند وو او دا هغه څه دي چې له یهودو څخه په هرځای کې بېله دې د بل څه تمه نه کیږي.

2- د بني قَيْنقَاعو د قبیلې کار زرګري وو، ځکه دوی ډېر شتمن وه. د دوی بازار ته یې «سوق الصیاغة» (د زرګری بازار) وایه او کورونه یې د «المدشونیې»په شمال لوېدیځ کې، په «العالیه» کې وه. دغه مدشونیه تر اوسه هم په دغه نامه یادیږي. دلته دوی نور کلي او بازارونه هم درلوده. د یهودو د ځینو قبایلو نومونه دادي:

بني قریظه، بني النضیر، بني قحم، بني زعوراء، بني ماسکه، بني لقمقه، بني زید اللات کوم چې د عبد الله بن سلام ډله وه، بني قینقاع، بني حجر، بني ثعلبه، د زهرې اوسېدونکي، د زیالې اوسېدونکي، د یثرب اوسېدونکي کوم چې العیص ورته وایي، بني عکوا او بني مزایه.

د عربو قبایل دا وه: «بني انیف» چې د «بلی» د قبیلې یو ټبر دی او وایي چې دوی د عمالقه وو پاتي شوني دي، بني معاویه بن الحارث، بني الجذماء کوم چې د یمن د ټبرو نو یو لوی ټبر دی.

## د محمد ﷺ او محمدي امت سره د یهودو دښمنی:

لوی څښتن جل جلاله د یهودو د قوم سره پر نورو اقوامو باندې د فضیلت ژمنه په دې شرط کړې وه چې دوی د هغه سره د خپلو ځانونو سودا وکړي، یعني د

هغه د اطاعت او خوښۍ په تر لا سه کولو کي د خپلو سرونو او شتو ښندلو لپاره چمتو سي. خو هغو د «خپلو ځانونو د سودا» خبر هېره کړه او يوازي يې د فضيلت ورکولو ژمنه په ياد وه. چي په دې ذهنيت هغو د ټولي نړۍ پر خلکو ځانونه لوړ وګڼل او تر ځانو پرته نورو ټولو ته يې د کرکي او سپکاوي په سترګه کتل پيل کړل او دا عقيده يې وتراشل چي يوازي يهود د خدای غوره بنده ګان دي. نور ټول انسانان هيڅ دي. هغو پر دې سربېره د خپلي خوښي سره سم خدای هم د «يهوا» په نامه وتراشه. دغه راز هغو له لرغوني عهد Old Testament (تورات) څخه د سودا شرط وايست او يو نوی تورات يې ترتيب کړ. له خدايه يې د خپلي خوښي د مسيح د ورلېږلو هيله وکړه خو چي ورته ولېږل سو، ويې نه مانه. بيا يې له ډول ډول چلونو څخه په کار اخيستلو هغه ته داسي تعليمات منسوب کړل چي د حق او صداقت له اساسي تصوره خلاف وه. په دې ډول د عيسیٰ عليه السلام دين د هغه د تعليماتو پرځای د دوی او رومي او نورو پټ پالو له خبرو څخه ډك سو.

د اسلام د لمر ختو تر مهاله يهودو چي په ګرده نړۍ کي تيت او پرك وه، په سود، سوداګرۍ، د مريانو په خرڅلاو او خپلو ډول ډول چلونو د نړۍ په ګوټ ګوټ کي خپلي سيمي وداني کړي وې او هر ځای يې پر سيمه ييز ژوندانه او تجارت منګولي ښخي کړي وې.

مدينې ته د يهودو د ورتلو په هکله مو د دې کتاب په مخکنيو مخونو کي مفصلي خبري وکړې. دوی دلته هم د خلکو ژوند او تجارت په خپلو لاسونو کي نيولی وو. دوی د خپلو ګټو د خوندي ساتلو لپاره نور په تيارو او جهالت کي ساتل او د هغو له بې وزلۍ او بې وسۍ څخه يې ناوړه ګټه اخيستل او ريشخندونه او پوسخندونه يې پوري وهل.

د يهودو عالمانو او احبارو د رسول الله ﷺ د زيږېدو پر مهال د هغه د دعوت په هکله تائيدي نظر درلود او د هغه د بعثت په انتظار وه. ځکه په دې هکله په تورات او انجيل کي واضح څر ګندوني سوي وې، بلکي د هغه تر راتلو دمخه يې دعاوي کولې چي هرڅه ژر را ولېږل سي او د کفارو غلبه پای ته ورسوي او د اسلام لاري ته يې بيرته راواړوي.

خو کله چې نبيﷺ مدينې منورې ته ورغی او د لوی څښتن د توحيد بلنه يې ور کړه نو يهودو او نصاراوو دواړو د هغه بلني ته پام وانه ړاوه او د خپلي خوښې «مسيح» يې غوښت. هغو د رسول اللهﷺ او قرآن کريم په وړاندې هغه رويه غوره کړه چې د خپلو پخوانيو انبياوو او مقدسو کتابونو سره يې اختيار کړې وه. څنګه چې دغه مهال د ډول ډول تحريفونو او پېړيو پېړيو مهالونو تېرېدو له امله دوی له خپل اصلي دين اسلام څخه بېخي زيات اوښتي وه او په عقيدو کې يې ډېر غير اسلامي شيان ګډ سوي وه، د هغو په عملي ژوند کې ډېر داسې ناوړه، ناروا دودونه وه چې په تورات کې هيڅ نه وه. د هغو د عالمانو او روحانيونو، د قوم د مشرانو او عامو وګړو اعتقادي، اخلاقي او عملي حالت خورا ډېر وران سوی وو. خو د هغو د خپل دغه وران حالت سره داسې مينه وه چې هيڅ ډول اصلاح منلو ته تيار نه وه. د پېړيو په اوږدو کې چې به کوم د خدای بنده هغو ته د سمې لا رې ښوولو لپاره ورتی هغو به خپل غټ دښمن باله او په هره ممکنه وسيله به يې هڅه کول چې هغه په خپل کار کې بريالی نه سي. دا خلك په حقيقت کې تر دې کچې رسېدلي وه چې بدعتونو، تحريفونو، بې ځايه بحثونو، ډله بازيو، څه منلو څه پرېښوولو، دنيا ته مخ او خدای ته شا کرځولو د انحطاط کندې ته داسې غورځولي وه چې يوازې يې يهوديت د لوی څښتن دين او د اسرائيلي توکم ميراث باله. نو کله چې حضرت محمدﷺ مدينې منورې ته ورسېد، لوی څښتن هغه ته لا رښوونه وکړه چې دوی د اصلي دين لوري ته وبولي.

حضرت محمدﷺ مدينې ته تر هجرت وروسته د لومړي ځل لپاره د يهودو سره مخامخ سو. لکه چې دمخه مو وويل په مدينه کې د هغو څو سيمې وې چې د کلاوو په بڼه وداني سوې وې. د دوی شمېر تر پنځو زرو تنو زيات وو. تجارت، سود او طبابت دوی په خپله ولکه کې راوستی وو. دوی به ډېرو درنو سودونو خلکو ته پيسې په قرض ورکولې. د خپلو فطري شر اچونو او چغليو له مخې يې د نورو وګړو په منځ کې د جګړو، شرونو او ورانيو اورونه بل کړي وه. وايي چې د اوس او خزرج قبيلو ترمنځ به يهودو چغلي کول او هغوی به يې يو پر بل تحريکول څو دوی په خپلو منځو کې سره اخته او يهود ځني بې

غمه وي او خپلې وسلې به يې هم پر خرڅولې. له دې امله د اوس او خزرج د قبيلو مناسبات داسې خړپړ سول چې تا به ويل چې د دوی د ژوند موخه د يو بل پوپنا کول دي او داسې ښکارېدل چې د دوی تر منځ سوله او له جګړو څخه لاس اخيستل امکان نه لري. خو کله چې اسلام د يثرب د خلکو زړونه روښانه کړل او د هغو پخوانۍ دښمنۍ يې له منځه يوړې، نو له دې اړخه هم يهودو د خپلو شراچونو چالونه بې اغېزې وليدل او خپلې مادي ګټې يې هم په خطر کې احساس کړې.

لکه چې په مخکنيو پاڼو کې مو ولوستل حضرت محمدﷺ د مسلمانانو او يهودو د اړيکو د څرګندولو لپاره يو تړون لاسليك کړ چې د هغه له مخې يهودو ته د دين او ځان او مال مطلقه آزادي ورکړه سوه. خو له بده مرغه يهودو دغه تړون تر څه مودې تېرېدو وروسته مات کړ او د هغه د شرايطو خلاف کارونه يې په شعوري او سنجول سوې توګه پيل کړل.

يهودو له يوه پلوه د اسلام د دين په هکله شکونه او شبهات خپرول پيل کړل، حق او باطل به يې سره ګډول او د حق د پټولو کوښښونه يې کول، له خپله ځانه جوړ کړی دين يې د اسلام تر مبارك دين غوره ګاڼه، د اسلام په شعايرو يې ريشخند واهه، د الله ﷻ او رسول اللهﷺ په هکله يې له سپکاوي ډکې خبرې کولې. له بله لوري يې د منافقانو او مشرکانو سره دوستانه اړيکې ټينګې کړې، د هغو سره د اسلام پر خلاف په دسيسو جوړولو او مرستو ورکولو لګيا سول. لکه چې د بنو نضيرو مشر سلام بن مِشکم د مکې د کفارو مشر ابوسفيان ته د دوو سوو جګړنو سره مدينې ته په ننوتلو کې مرسته ورکړه، هغه يې مېلمه کړ او شراب يې هم ورکړه او هغه ته د مسلمانانو د جاسوسۍ لپاره يې خپل سړي هم موظف کړل. ابوسفيان د هغه په کور کې يوه شپه تېره کړه. بيا هغه د خپلو ملګرو په مرسته د مسلمانانو پر يوه بڼ بريد وکړ، هلته يې دوه انصار شهيدان کړل او څو کورونو ته يې اور واچاوه او بېرته وتښتېدل. رسول اللهﷺ د سلو تنو اصحابو په ملګرتيا دوی تعقيب کړل خو په لاس ورنه غله.

په دې ډول يهود د مسلمانانو ډېر بد دښمنان جوړ سول. لکه چې په دې هکله لاندې قرآني آيتونه څرګندوني کوي:

﴿۞لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشْرَكُواْۖ﴾ [المائدة: ٨٢].

ژباړه: «ته به د مومنانو په دښمني کي تر ټولو زيات سخت يهوديان او مشرکان ومومې».

﴿لَا يَرْقُبُونَ فِي مُؤْمِنٍ إِلًّا وَلَا ذِمَّةًۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ هُمُ ٱلْمُعْتَدُونَ ١٠﴾ [التوبة: ١٠].

ژباړه: «دوى نه د خپلوى لحاظ ساتي او نه د کومي ژمني د مسؤوليت ـ او زياتى تل د دوى لخوا سوى دى».

﴿۞يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ ٱلْيَهُودَ وَٱلنَّصَٰرَىٰٓ أَوْلِيَآءَۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَآءُ بَعْضٍۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُۥ مِنْهُمْۗ﴾ [المائدة: ٥١].

ژباړه: «اى مومنانو! يهوديان او عېسويان خپل ملګري مه نيسئ. دوى په خپلو منځو کي سره ملګري دي، او که له تاسي څخه څوك دوى خپل ملګري نيسي، نو بيا هغه هم په هغو کي شمېرل کېږي».

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ بِطَانَةً مِّن دُونِكُمْ لَا يَأْلُونَكُمْ خَبَالًا وَدُّواْ مَا عَنِتُّمْ قَدْ بَدَتِ ٱلْبَغْضَآءُ مِنْ أَفْوَٰهِهِمْ وَمَا تُخْفِي صُدُورُهُمْ أَكْبَرُۚ قَدْ بَيَّنَّا لَكُمُ ٱلْأٓيَٰتِۖ إِن كُنتُمْ تَعْقِلُونَ ١١٨ هَٰٓأَنتُمْ أُوْلَآءِ تُحِبُّونَهُمْ وَلَا يُحِبُّونَكُمْ وَتُؤْمِنُونَ بِٱلْكِتَٰبِ كُلِّهِۦ وَإِذَا لَقُوكُمْ قَالُوٓاْ ءَامَنَّا وَإِذَا خَلَوْاْ عَضُّواْ عَلَيْكُمُ ٱلْأَنَامِلَ مِنَ ٱلْغَيْظِۚ قُلْ مُوتُواْ بِغَيْظِكُمْۗ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمُۢ بِذَاتِ ٱلصُّدُورِ ١١٩﴾ [آل عمران: ١١٨-١١٩].

ژباړه: «اى مومنانو! د خپلي ټولني له وګړو پرته د نورو سره خپل رازونه مه واياست هغوى (يهوديان) ستاسي د ورکېدو له هيڅ فرصت څخه ګټه اخيستل له لا سه نه ورکوي. تاسي ته چي په هرڅه زيان اوړي د هغو خوښېږي. د هغو د زړه دښمني د هغو له خُولې څخه راوزي او څه چي هغو په خپلو ټټرونو کي پټ ساتلي دي هغه تر دې زيات دي. موږ تاسي ته د دوى د دوه مخى نخښې په ډاګه کړي دي که تاسي وپوهېږئ. تاسي د هغو سره دوستي کوئ، خو هغوى ستاسي سره مينه نه لري سره له دې چي تاسي ټول آسماني کتابونه منئ. کله چي دوى ستاسي سره يوځاى کېږي نو وايي چي موږ هم (ستاسي پېغمبر او ستاسي کتاب) منلى دى. خو

چي در څخه بېل سي نو ستاسي پرخلاف له ډېري غوسې خپلي ګوتي چيچي. (ای محمده!) هغو ته ووايه چي د خپلي غوسې په تاو کي ومرئ. لوی څښتن د زړونو په پټو رازونو ډېر ښه پوه دی».

﴿وَلَن تَرْضَىٰ عَنكَ ٱلْيَهُودُ وَلَا ٱلنَّصَٰرَىٰ حَتَّىٰ تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ ۗ قُلْ إِنَّ هُدَى ٱللَّهِ هُوَ ٱلْهُدَىٰ ۗ وَلَئِنِ ٱتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُم بَعْدَ ٱلَّذِى جَآءَكَ مِنَ ٱلْعِلْمِ مَا لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن وَلِىٍّ وَلَا نَصِيرٍ ١٢٠﴾ [البقرة: ١٢٠].

ژباړه: «يهود او نصارا به هيڅکله له تا څخه خوشاله نه سي، تر څو چي ته د هغو پر لاره ولاړ نه سې. دوی ته په کلکه ووايه چي سمه لاره يوازي هغه ده چي لوی څښتن ښوولې ده، او که ته تر هغه علم وروسته چي تاته درکړه سوی دی د هغو په غوښتنو پسي ولاړ سې، نو ستا هيڅ دوست او مرستندوی نسته چي د لوی څښتن له نيوني دي وژغوري».

بالاخره د يهودو د تړون ماتوني او د مسلمانانو سره د عملي دښمنۍ له امله رسول اللهﷺ په بېلو بېلو مهالو نو کي اړ سو چي هغو ته له عبرته ډکي سزاوي ورکړي، چي تفصيل يې په دې ډول دی:

## د ابوعفک وژل:

دا يو يهود شاعر وو او په خپلو شعرونو يې خلك د مسلمانانو پر ضد را پارول. نو هغه وو چي حضرت سالم بن عميرؓ چي د بدر په غزا کي برخه اخيستونکی صحابي وو، د هغه وژل پر غاړه واخيستل. هغه څو موده د دې کار لپاره د مناسبي موقع په لټه کي وو، پای يې يوه شپه ابوعفك د هغه د کور په غولي کي بيده وموند، حضرت سالمؓ نابېره پر ور ودانګل، خپله توره يې د هغه پر ټټر ورکښېښوول او ويې واژه. چي په دې توګه مسلمانان د هغه له شره په امان سول. (طبقات ابن سعد: ۳/ ٦٧).

## د بنو قينقاعو شړل:

دا پېښه د بدر تر جګړې یوه میاشت وروسته پېښه سوه، په کومه کې چې مسلمانانو د مکې پر کفارو باندې خورا زوروړ برى ومونـد. یهـود د مسلمانانو په دې بري نه وه خوشاله، بلکې هغو له دې امله خپل شدید غیظ او غضب ښکاره کړ، او مسلمانانو ته به یې ویل چې: که موږ او تاسي سره مخامخ سو نو موږ به تاسي ته وښیو چې جګړه څنګه کیږي! رسول اللهﷺ د هغو په بدو موخو پوه سو، ځکه یې نو هغوی یو ځای غونډ کړل، د دغو ناوړو ارادو څخه یې د ډډې کولو او اسلام منلو تلقین ورته وکړ. خو هغو له بې ادبۍ او ګواښ څخه کار واخیست، ویې ویل: «تاسي مه تېروزئ. ځکه تاسي پر یوه داسي قوم بریالي سولاست چې په جنګي چلونو نه پوهېدل. که ستاسي زموږ سره جنګ سو نو تاسي به وپوهېږئ چې څوك مړونـه دي». رسـول اللهﷺ د هغـو پـه دې خبرو خورا خوابدی سو او ځني را رهي سو. لـه دې املـه د قـرآن کـریم دا آیـت نازل سو:

﴿ٱلَّذِينَ عَٰهَدتَّ مِنۡهُمۡ ثُمَّ يَنقُضُونَ عَهۡدَهُمۡ فِي كُلِّ مَرَّةٖ وَهُمۡ لَا يَتَّقُونَ ۝٥٦ فَإِمَّا تَثۡقَفَنَّهُمۡ فِي ٱلۡحَرۡبِ فَشَرِّدۡ بِهِم مَّنۡ خَلۡفَهُمۡ لَعَلَّهُمۡ يَذَّكَّرُونَ ۝٥٧﴾ [الأنفال: ٥٦-٥٧].

ژباړه: «هغه خلك چې تا ژمنه ور سره کړې ده، بیا هغوی په هر وخت کې هغه ماتوي او له لوی څښتنه هم لږ نه بېرېږي. نو که دا خلك تا ته په جګړه کې په لاس درسي داسي کار ورسره وکړه چې تر هغو وروسته نورڅوك د دغسي کارونو کوونکي وي هغه لا حواس بایلي. هیله ده چې د ژمني ماتوونکي له دې عاقبت څخه درس واخلي».

روایتونه د بنو قینقاعو د جلاوطنۍ لامل دا یادوي چې دا یهودي قبیله په مدینه طیبه کې اوسېدل. د دوی خلك پـه یهـودو کـي تـر ټولـو زړه ور او زوروړ وه. د جګړې سامانونه یې پخپله جوړول او د جګړنو شمېره یې تقریباً اووسوو تنو ته رسېدل. دوی یو ځانګړی بازار درلود چې پـه هغـه کـې پـه راکـړه ورکـړه بوخت وه.

یوه ورځ یوه مسلمانه ښځه دغه بازار ته د څه سامان خرڅولو لپاره ورغلې وه. د یوه یهودي ځان د غاړې وو او د شـرارت لـه مخـي یـې د دغـي ښـځي د کالو یوه څوکه په یوه شي پوري بنده کړه، څنګه چې هغه ولاړه سوه بې ستره

سوه. له دې امله هغې مسلمانان خپلې ننګې ته ور وبلل. يوه مسلمان چې دا حال وليد هغه شرير يهودي يې وواژه. وروسته يهود راغونډ سول او دغه مسلمان يې وواژه. چې په دې ډول د مسلمانانو او يهوديانو تر منځ سخته شخړه پيښه سوه. څنګه چې دا شخړه يهودو رامنځته کړې وه ځکه نو رسول اللهﷺ د مسلمان پوځ په مرسته هغوی کلابند کړل. څنګه چې دا کلابندي پنځلس ورځې وغځېده بالاخره يهود مات سول او د خپلو وسلو، شتو او سامانو سره يې ځانونه مسلمانانو ته وسپارل. د رسول اللهﷺ په نيت کې وه چې د هغو اووه سوه تنه جنګيالي ووژني خو دغه مهال د منافقانو مشر او د بنو قينقاعو حليف (ملګري) عبد الله بن ابی ابن سلول د هغو په هکله سپارښتنه وکړه او د هغو د بخښلو لپاره يې ټينګار او اصرار وکړ. رسول اللهﷺ د هغه خبره په دې شرط ومنل چې هغوی مدينه منوره پرېږدي او کوم ليري ځای ته ولاړ سي. په دې ډول د يهودو دغه قبيله په دوهم هجري کال له مدينې منورې څخه شام ته وشړل سوه.

## د کعب بن اشرف وژل:

دا سړی هم شاعر او د يهودو مشر وو. هغه په خپلو شعرونو رسول اللهﷺ او اصحاب په بدو نومونو يادول. دغه راز يې کفار د رسولﷺ سره يوه پرېکړوني جنګ ته هڅول. لکه چې څرګنده ده د بدر په ميدان کې مسلمانانو ته ډېره لويه سوبه په برخه سوه. څنګه چې دغه سړی له دې فتحې خبر سو چيغه يې کړه: «لَبَطْنُ الاَرْضِ الْيَوْمَ خَيْرٌ مِنْ ظَهْرِهَا» (نن موږ ته د مځکې نس د هغې تر شا ډېر ښه دی). بيا هغه څو تنه نور مکې ته بوتله. په مدينه کې چې د قريشو کوم لويان وژل سوي وه د هغو په هکله يې پاروونکي قصيدې وويلې او قريش يې له مسلمانانو څخه د هغو غچ اخيستلو ته وهڅول او بيا بيرته مدينې ته راستون سو. بيا يې د مسلمانو ښځو په هکله عشقيه اشعار ويل پيل کړل. چې په دې توګه دغه سړی مسلمانانو ته د شديد اذيت لامل وګرځېد. څنګه چې رسول اللهﷺ له هغه څخه ډېر په تکليف سو يوه ورځ يې وويل: «مَنْ لِكَعْبِ بْنِ الاَشْرَفِ فَاِنَّه قَدْ آذَى اللّٰهَ وَ رَسُـلَهُ؟» (څوك به وي چې کعب بن

اشرف ووژني؟ ځکه هغه لوی ځښتن او د هغه رسول ته اذیت رسولی دی). محمد بن مسلمهﷺ وویل: «زه یم ای د لوی ځښتن رسوله!». هغه مبارك د دغه سړي د وژلو اجازه ورته ورکړه. محمد بن مسلمهﷺ له رسول اللهﷺ څخه د هغه د وژلو په هکله د حیلې غوره کولو اجازه وغوښته، هغه دغه اجازه هم ورکړه. په دې توګه محمد بن مسلمه د خپلو څو ملګرو سره هغه یهودي له منځه یووړ. (د زیات تفصیل لپاره وګورئ د بخاري،۲۵۱۰او ۳۰۳۱ حدیثونه او ابن هشام،۲/ ۵۰۲او ورپسې مخونه).

## د بنو نضیرو شړل:

د بنونضیرو د استوګني ځایونه د مسجد قبا شاته د العالیه لوري ته له مدینې څخه شپږ میله لیري وه. د بنو قینقاعو تر شړلو او کعب بن اشرف تر وژلو وروسته د مدینې یهود څه په احتیاط ښوربدل او له مسلمانانو څخه وبېربدل. خو کله چي د احد او بئر معونه د جګړو پېښې رامنځته سوې، کوم چي ډېر مسلمانان پکښې شهیدان سول. نو یهود څه زړه ور سول او بیا د اسلام او مسلمانانو پر ضد لا س په کار سول. ان چي د دوی د اسلام دښمنۍ جذبات یې دونه وړاندي بوتله چي پخپله د رسول اللهﷺ د وژلولپاره یې یوه خطرناکه دسیسه جوړه کړه. دا ناولې دسیسه په دې ډول وه:

یو صحابي چي عمرو بن امیة الضمري نومېدی په سهو کي د بنو کلابو دوه تنه ووژل. له دې امله پر رسول اللهﷺ باندي لازم وه چي د دغو دوو تنو دیت ورکړي. هغه د دې دیت د راټولولو په لړ کي د خپلو څو تنو صحابه وو سره بنو نضیرو ته هم ورغی او له هغو څخه یې د دیت د ادا کولو په هکله مرسته وغوښته.

د مسلمانانو او یهودو ترمنځ د لاسلیك سوي تړون سره سم پر یهودو لازمه وه چي د دغه دیت په اداینه کي ونډه واخلي. له دې امله هغو رسول اللهﷺ ته وویل: سمه ده موږ مرستي ته چمتو یو، تاسي دلته کښېنئ موږ به ستاسي د اړتیاوړ پیسې درته راوړو. رسول اللهﷺ د دوی په انتظار یوه سیوري ته کښېنستی. خو یهودو په خپلو کي سره وویل: د محمدﷺ د وژلو لپاره تر دې

بله ښه موقع په لا س نه راځي، يو څوك دي له بام څخه يوه لويه ډبره پر راوغورځوي، څو ځای پرځای ومري. دغه مهال جبرائيلعليه السلام ورغی او د دوی له دې چله يې خبر کړ. له دې امله هغه له دې ځايه ولاړ سو او ولاړی. هغه د محمد بن مسلمه په لاس احوال ور ولېږئ چي په لس ورځي کي له مدينې منورې څخه ووزئ. که نه تر دغي مودې وروسته چي ستاسي هرڅوك په مدينه کي وليدل سي و به وژل سي. هغه وو چي هغو د مدينې د پرېښوولو تياري نيول. خو د منافقانو لارښود عبد الله بن ابی هغو ته وويل چي تاسي له خپلو ځايو مه ښورئ. هيڅوك تاسي له دې ځايه نه سي ايستلای. زما دوه زره تنه ستاسي ننګي ته چمتو دي او بنو قريظه او نور به هم ستاسي ملاتړ وکړي.

له دې امله هغو له مدينې څخه وتل پرېښوول او د هغو مشر حُيَيّ بن اخطب رسول اللهﷺ ته پيغام ولېږی چي موږ له مدينې څخه نه وزو ته چي څه کوي ويې کړه.

له دې امله رسول اللهﷺ د هجرت د څلورم کال په لومړۍ خورکي د خپل پوځ سره د بنو نضيرو پر لور ور رهي سو او د هغو کلاوي يې محاصره کړې. د محاصرې پر مهال يې د هغو بڼونه هم ور وسوځول. منافقينو او بنو قريظه وو هغو ته څه مرسته ور نه کړه. بالاخره هغوی شپږ ورځي وروسته د مدينې پرېښوولو ته چمتو سول. رسول اللهﷺ د هغو وسلې ځني را وګرځولې او د نورو ټولو شيانو د وړلو اجازه يې ورکړه. په دې ډول د هغو مځکي، کورونه او د وسلو زېرمي د مسلمانانو لاس ته ورغلې. او دوی ځيني خيبر او ځيني شام ته ولاړل. (د دې پېښي نور تفصيل د الحشر د سورې په تفسيرونو،ابن هشام٣/ ٢١٩مخ او بذل القوة ٥٣ مخ کي وګورئ).

## د بنو قُرَيظه وو له عبرته ډک برخليک:

بني نضير چي د رسول اللهﷺ د وژلو د توطئې له امله له مدينې څخه وشړل سول آرام کښېنه نستل، بلکي د مسلمانانو په وړاندي په نورو ناوړو دسايسو لګيا سول. هغو په دې لړ کي يو پلاوی مکې مکرمې ته ولېږی، کفار يې د مسلمانانو سره يوې پرېکړوني جګړې ته وروبلل او د يهودو د هراړخيزو

مرستو وعده يې ورکړه. له دې امله د مکې کفارو يو غښتلی پوځ مدينې ته واستاوه. بيا دې پلاوي وکولای سول چي د غطفان قبايل هم پر مدينه منوره باندي بريد ته چمتو کړي. په دې ډول د يهودو د دې توطئې له امله د احزابو جګړه پېښه سوه.

په دغسي ستونزمنو شېبو کي د بنو قريظه وو پر قبيله لازمه وه چي هغو د لا سليك سوي تړون سره سم د دوی مرسته کړې وای. خو څنګه چي يهود د غدارۍ، خيانت او ژمني ماتولو سره عادت وه ځکه يې نو د مسلمانانو ملګرتيا پرېښوول او د مکې د کفارو ملګری يې وکړ. کفارو مدينه منوره محاصره کړه. مسلمانان د هغو سره په جګړه اخته وه په دې ترڅ کي بني قريظه وو له موقع څخه په ګټه اخيستلو پر هغه کلا بريد وکړ چي د مسلمانانو ښځي پکښي راټولي سوي وې. خو مسلمانو ښځو له زړه ورتيا کار واخيست او هغوی يې وتښتول. نو کله چي کفار مات سول او د مسلمانانو فتح په برخه سوه. رسول ﷺ جګړه پای ته رسېدلې وبلل. خو دغه مهال هغه ته جبرائيل؈ د يوه سړي په بڼه چي دحية الكلبي نومېدی ورغی او ورته ويې ويل: «ای د لوی څښتن استازې! تا وسله کښېښوول، خو ملايکو لا وسله نه ده ايښې، لوی څښتن امر درته کوي چي پر بني قريظه وو ور ودانګه او د دې غدارۍ له امله سبق ورته ورکړه. زه هم په هغو پسي ځم او کار يې ورخرابوم». نو رسول اللهﷺ هم د خپل پوځ سره ورغی او بني قريظه يې کلابند کړل. د ځينو رواياتو له مخي دغه کلابندي يو ويشت ورځي روانه وه. پای بنوقريظه وو وسله پر مځکه کښېښوول او تسليم سول. رسول اللهﷺ د هغو ښځي ځني بېلي کړې او د نارينه وو پښو ته يې زنځيرونه ورواچول. تر اوسه لا هغه د دوی په هکله وروستۍ پرېکړه نه وه کړې چي د اوس د قبيلې ځيني وګړي، چي د بنو قريظه وو حليفان (ملګري) وه، ورغله او د هغو په هکله يې د سپارښتني په ترڅ کي وويل څنګه چي تاسو د خزرج د قبيلې په سپارښتنه بنوقينقاع يا بنو نضير پرېښوول دغسي دوی هم وبخښه. نو رسول اللهﷺ د اوس قبيلې ته وويل: آيا تاسي د خپل مشر سعد بن معاذ؄ پرېکړه منئ؟ هغو وويل هو! نو هغه وو چي حضرت رسول اللهﷺ سعد بن معاذ ته د دوی په هکله د پرېکړي اختيار

ورکړ. سعد چې د بنو قريظه وو سره يې تجارتي اړيکي درلودې او د اوس د قبيلې د مشرۍ له امله هغو ته ډېر نژدې وو، له هغو څخه وپوښتل چې پرېکړه ستاسي د کتاب سره سمه وکړم که زموږ د کتاب (قرآن) سره سمه؟ هغو ټينګار وکړ چې زموږ د کتاب سره سمه پرېکړه وکړه. څنګه چې د تورات د «استثناء» په برخه کي د نيول سوي دښمن د وژلو حکم سوی وو له دې امله حضرت سعد پرېکړه وکړه چې د يهودو هغه کسان دي ټول ووژل سي چې جنګ کولای سي، ښځې او ماشومان دي د مسلمانانو په منځ کي وويشل سي او زامن دې بنديان سي. تاريخونه وايي: څنګه چې حضرت سعد د خندق په جګړه کي ټپي سوی وو، د هغو له کبله دوې ورځي وروسته شهيد سو خو د ده د پرېکړي سره سم شپږ يا اووه سوه يهود د هغو د مشر حيي بن اخطب سره ووژل سول. (د زياتو تفصيلاتو لپاره وګورئ ابن هشام،۳/ ۲۸۲ مخ، بخاري، کتاب المغازي، باب مرجع النبي من الاحزاب ومخرجه الى بني قريظة، بذل القوة، ۵۵ مخ، يهودوي پرو ټوکولز، ۵۳ مخ او نور).

په دې ډول مدينه منوره د يهودو د دغسي عبرتناك انجام سره په بشپړه توګه پاکه سوه. خو د دې سره سره دغو بد طينتو انسانانو بيا هم د مسلمانانو پر ضد ډول ډول دسيسې جوړولې.

## د ابو رافع وژل:

داسړی يو نامتو جنايتکار يهود وو او د يهودو په هغه پلاوي کي هم وو چې د مکې قريش او غَطفان قبايل يې د احزابو جګړې ته هڅولي وه. د بنو قريظه وو تر عبرتناك برخليك وروسته هم دغه سړي د مسلمانانو پر ضد فعاليت کاوه. څنګه چې د ده له دې حرکاتو څخه رسول الله ﷺ تنګ سو نو يې د بنو خزرجو پنځو تنو ته چې مشر يې عبد الله بن عتيك رضي الله عنه وو د هغه د وژلو دنده وسپارل. ابورافع د خيبر په يوه کلا کي اوسېدی. يوه ورځ عبد الله بن عتيك د خپلو ملګرو سره دغي کلا ته ورسېدی. لمر لوېدلی وو او خلك خپلو کورونو ته رهي وه. حضرت عبد الله خپل ملګري يوځای کښېنول او خپله د کلا دروازې ته نژدې ورغی او د هغې تر بندېدو دمخه په يو ډول د ننه ور ننوتی. په

یوه کنج کې پټ سو او کلا ته دننه ورتلونکي یې څارل. ابو رافع د کلا په بالاخانه کې وو، کله چې ګرده خلك د ابو رافع له مجلسه دباندې ووتل نو عبد اللهﷺ ورغی. دا چې هغه څه وکړل د هغه د خپلې خولې بیان به ولولو:

«د کلا پیره کوونکي د کلا کیلۍ پر یوه دېوال وځړولې. ما هغه را واخیستې او د ابورافع پرلور ور رهي سوم، په لار کې چې څونه دروازې وې هغه مې پرانیستې او د شا لخوا مې ټولې قلف کړې څو د ابورافع په مرسته څوك ونه رسېدلای سي. په دې ترتیب مې د هغه کوټې ته ځان ور ورساوه. هغه د خپلو کور والاوو سره بیده وو. څنګه چې تیاره وه، هغه نه را معلومېدی چې چیرې بیده دی! ځکه مې نو بږغ پر وکی، هغه وویل: څوك یې؟ ما د هغه د بږغ پر لور ور ودانګل او د توري واری مې پر وکړ. هغه په زوره چیغه کړه او زه له کوټې دباندې ووتلم. څه مهال وروسته بیا ورغلم. ماور ته وویله ابورافعه دا بږغ د چا وو؟ هغه راته وویل ستا څه وشه وشګنځم، بې له تا نو بل څوك وو. ما پر هغه بل واری وکی، د هغه په نس مې توره داسې ور ښخه کړه چې تر شا یې ووتل. دغه مهال زه وپوهېدم چې هغه مړ سو. د بېرته راوتلو پرمهال کله چې له زینې څخه را کښته کېدلم غوځار سولم او پښه مې ماته سوه. هغه مې په خپله لنګوټه وتړل او د کلا د دروازې دباندې یو ځای ودرېدلم څو په یقیني توګه راته معلومه سي چې هغه مې وژلی دی. سهار د چرګانو د اذانو پر مهال یو سړی د کلا دېوال ته پورته سو او په زوره یې ناري کړه: نن د حجاز سوداګر ابورافع وژل سوی دی! بیا زه خپلو ملګروته ورغلم او د خدای د دې دښمن د وژلو زېری مې پر وکړ. بیامو ږ ټول رسول اللهﷺ ته ورغلو او دا ټوله کیسه مو ورته وکړه. هغه خوشاله سو او زما پر پښه یې لاس تېر کړ. ما داسې احساس کړه چې هیڅ هم نه دي په سوي. (بخاري ۴۰۳۹او۴۰۴۰حدیثونه).

## خیبر د دسیسو منځی (مرکز):

اوس نو د مدینې په شاوخوا کې د یهودو کومه سیمه نه وه پاته او مسلمانان د خپلو دښمنانو څخه تر ډېره حده بې غمه سوي وه. خو اوس یهودو ته یوه بله لا ر ور پاته وه. هغه داوه چې دوی قریش د شتو او قوت په تمه کول او د

رسول اللهﷺ پر ضد يې بيا را پارول. نو د هجرت په شپږم كال د ميانۍ په مياشت كي رسولﷺ د څوارلسو يا پنځلسو سوو اصحابو سره د عمرې په نيت د مكې پر لور وخوځېد. خو د مكې مشركينو هغوى مكې ته پرې نه ښوول. پاى د مسلمانانو او قريشو تر منځ د حديبيې تړون لاسليك سو. د دې تړون له شرايطو څخه يو شرط داوو چي دواړه فريقه به تر راتلونكو لسو كالو پوري يو د بل سره جګړه نه كوي. په دې توګه مسلمانان د دغه دښمن له لوري هم بې غمه سول. لوى څښتن دغه تړون فتح مبين وباله. په دې كي يو پټ حكمت دا هم وو چي قريشو د لومړي ځل لپاره مسلمانان د يوه بېل ملت په توګه په رسميت وپېژندل او په ليكلې توګه د يهودو د دسيسو له ښكېلېدو څخه راوګرځېدل. خو څنګه چي تاريخونه وايي يهودو خپل تيت او پرك ځواكونه په خيبر كي يوځاى كړي وه او د مسلمانانو سره د يوه پرېكړوني جنګ لپاره چمتو كېدل. له دې امله رسول اللهﷺ د حديبيې څخه تر ستنېدو شل ورځي وروسته د هغو صحابه وو سره چي د حديبيې په سفر كي يې برخه ورسره اخيستې وه د خيبر پر لور وخوځېد. هلته يهودو ډېري ټينګي كلاوي جوړي كړي وې، چي فتح كول يې څه آسانه كار نه وو. يهود د خپلو كلاوو دننه اوسېدل او د كلاوو له دننه به يې پر مسلمانانو غشي اورول. د دواړو خواوو ترمنځ سخته جګړه ونښته. يو شمېر مسلمانان شهيدان سول. كله چي د يهودو د «فاعم» په نامه يوه كلكه كلا فتح سوه نو هغوى د «قموص» په نامه په يوه بله مضبوطه كلا كي راغونډ سول. دغه مهال رسول اللهﷺ حضرت علي ته د مخكنۍ ډلګۍ بيرغ وركړ او دعا يې ورته وكړه. حضرت علي چي د قموص كلا يو يهود اتل«مرحب»» نومى وواژه نو د هغو غړي وتښتېده او يو په بل پسې د هغو ټوله سيمه د مسلمانانو لاس ته ورغله. رسول اللهﷺ غوښتل هغوى له خيبره هم پسي واخلي خو هغو رسول اللهﷺ ته وويل چي موږ دلته پرېږده موږ د دې ځاى د مځكو په كار ښه پوهيږو، موږ به هغه كرو او حاصلات به يې نيمى تاسي ته دركوو. نو رسول اللهﷺ ورته وويل: «دلته مو تر هغو پرېږدو چي زموږ خوښه وي». چي په دې توګه د يهودو پوځي، سياسي او اقتصادي ځواك مات سو او هغوى د مسلمانانو كښېنګر سول. (پورتني

معلومات د ابن هشام له۳/ ۴۳۴مخ، د بخاري، كتاب الحرث والمزارعة له ۲۳۳۸ حديث، د مسلم د كتاب المساقات له٤ حديث څخه په لنډه توګه راغونډ سوي دي).

## زهر جني غوښې:

دغه مهال يوې يهودۍ ښځې زينب بنت الحرث چې د سلام بن مِشكم مېرمن وه رسول اللهﷺ ته مېلمستيا ورکړه او د پسه د غوښو په هغه برخه (ورانه) يې ډېر زهر ووهل چې د رسول اللهﷺ خوښې وې او خوړلې يې. کله چې رسول اللهﷺ پر سترخان کښېنستی او يوه ګوله يې په خوله کړه، خو تېره کړې يې لانه وه چې ويې ويل: «دغه هډوکی ماته وايي چې زه يې په زهرو لړلی يم». د دې سره يې سمدستي هغه ګوله توکړه. پر دغه سترخان يوبل صحابي حضرت بشر بن البراءرضي الله عنه ناست وو هغه ګوله تېره کړې وه او شهيد سو. وروسته دغې ښځې پر خپل جرم اعتراف هم وکړ. په صحيحو رواياتو کې راغلي دي چې هغه مبارك د دغو زهرو اغېز ترمړينې احساساوه. له دې کبله ځينو صحابه وو ويلي دي چې د رسول اللهﷺ د شهادت مړينه په برخه سوې ده.

په صحيح البخاري کې له بي بي عايشېرضي الله عنها څخه روايت سوی دی چې هغې وويل: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ فِي مَرَضِهِ الَّذِي مَاتَ فِيهِ: «يَا عَائِشَةُ مَا أَزَالُ أَجِدُ أَلَمَ الطَّعَامِ الَّذِي أَكَلْتُ بِخَيْبَرَ فَهَذَا أَوَانُ وَجَدْتُ انْقِطَاعَ أَبْهَرِي مِنْ ذَلِكَ السُّمِّ». يعني نبيﷺ د هغې ناروغۍ پر مهال چې ځني وفات سو ويل: ای عايشې! تل د هغه خوراك درد چې په خيبر کې مې خوړلی دی احساسوم. دغه مهال پوه سوم چې زما د زړه رګ له دغو زهرو څخه پرې سو. (ابن هشام ۳/ ٤٥٠مخ او بخاري ٤٤٢٨ حديث).

## د فدك، وادی القری او تيماء يهود:

په فدك كي هم د يهودو څو قبيلې اوسېدلې. دوی چي د خيبر د يهودو په برخليك خبر سول نو هغو هم د رسول اللهﷺ سره پر هغه شرط سوله وكړه چي د خيبر يهودو كړې وه. خو د وادي القرٰی د يهودو سره رسول اللهﷺ وجنګېد. كله چي مات سول او شته يې د مسلمانانو په لاس ورغله، بيا د دوی سره هم د خيبر غوندي سوله وسوه. د تيماء يهودو هم د جزيې په وركولو سوله وكړه. (ابن هشام، ۳/ ۴۵۲،۴۷۳او۴۷۴ مخونه او بذال القوة، ۵۹ مخ).

## د عربو له ټاپو وزمي څخه د مشرکینو، یهودو او نصاراوو د ایستلو په هکله

د لوی څښتن په کلام قرآن کریم کي داسي وایي:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِنَّمَا ٱلۡمُشۡرِكُونَ نَجَسٞ فَلَا يَقۡرَبُواْ ٱلۡمَسۡجِدَ ٱلۡحَرَامَ بَعۡدَ عَامِهِمۡ هَٰذَاۚ وَإِنۡ خِفۡتُمۡ عَيۡلَةٗ فَسَوۡفَ يُغۡنِيكُمُ ٱللَّهُ مِن فَضۡلِهِۦٓ إِن شَآءَۚ إِنَّ ٱللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ٢٨﴾ [التوبة: ٢٨].

ژباړه: «ای مومنانو مشرکان ناولي دي نو تر سږکال وروسته باید مسجد حرام ته ور نژدې نسي، اوکه تاسي له تنګلاسۍ څخه بېرېږئ. نولري نه ده چي که الله وغواړي تاسي په خپل فضل سره شتمن کړي. الله په هر څه پوه، ځیرك دی».

دغه راز د عربو له ټاپو وزمي څخه د مشرکینو د ایستلو په باب د رسول اللهﷺ د وفات پر مهال د هغه وروستی وصیت داسي وو: «أَخْرِجُوا الْمُشْرِكِينَ مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَب» (بخاري ٣١٦٨حدیث). یعني: د عربو له ټاپو څخه مشرکین وباسئ.

همدا راز د عربو له ټاپووزمي څخه د یهودو او نصاراوو د ایستلو په هکله د رسول اللهﷺ حدیث دی:

عَنْ جَابِرَ بْنَ عَبْدِ اللهِ رضي الله عنهما يَقُولُ: أَخْبَرَنِي عُمَرُ بْنُ الْخَطَّابِ رضي الله عنه أَنَّهُ سَمِعَ رَسُولَ اللهِﷺ يَقُولُ: «لَأُخْرِجَنَّ الْيَهُودَ وَالنَّصَارَى مِنْ جَزِيرَةِ الْعَرَبِ حَتَّى لَا أَدَعَ إِلَّا مُسْلِمًا» (مسلم، کتاب الجهاد،٦٣حدیث). یعني: له جابر بن عبد الله څخه روایت دی چي هغه ته حضرت عمر وویل چي ما له رسول اللهﷺ څخه اورېدلي دي چي: زه یهود او نصارا د عربو له ټاپو څخه هرومرو باسم، په هغې کي بېله مسلمانه بل څوك نه پرېږدم.

په دې هکله نورصحیح احادیث هم سته چي له ټولو څخه جو تیرې چي رسول اللهﷺ د حجاز او ټولي عربي ټاپووزمي څخه د ټولو مشرکینو، یهودو او

نصارا وو د ايستلو حکم ورکړی وو. چي دا حکم د حضرت عمر فاروقؓ په خلافت کي په عملي توګه پلی سو. دا له دې امله هم وو چي يهودو روميان د اسلام پر خلاف حملې ته هڅول او د نجران نصاراوو رومي سلطنت ته د مسلمانانو په باب جاسوسي کولې او د هرقل سره يې همدردي درلوده. (د مولانا اکبرشاه نجيب آبادي د اسلام تاريخ ۱/ ۲۹۷مخ). خو لکه چي تاريخ شاهد دی يهودو بيا هم تر ډېره د اسلام د انحراف او مسلمانانو د اختلاف په موخه د خپلو توطئو پټ جال غوړولی وو چي په راوروسته مهالونو کي يې دې توطئو ته په بېلو بېلو بڼو دوام ورکړ او تر ننه رواني دي.

## د عربو په ټاپو وزمه کي اسلام دښمنيو او د رسول ﷺ غزاوو ته کتنه

موږ د لنډون په پام کي نيولو سره په مخکنيو پاڼو کي د مادي پالني او حسد، ضديت، تعصب او ناپوهۍ او د بدعتونو، بت پالنو او ګمرهيو سره د عادت کېدو او خوی نيولو پر بنسټ د اسلام سره د عربو د ټاپووزمي د مشرکينو، هغو صحرايي وګړو چي د ښارويو غوندي په څه خوړو پسي تله خو په بل څه نه پوهېده او يهودو او منافقينو له دښمنيو، سرکښيو او دسايسو څخه يادوني وکړې. او د هغو په مقابل مو د حضرت محمد ﷺ او د هغه د اصحابو د مدني ژوندانه د لومړيو پنځو کلونو دفاعي مقابلو او مقاومتونو او وروستيو پنځو کلونو غلبې، لوړتيا، دبدبې، غزاوو او جګړه ييزو فعاليتونو، تدبيرونو او اتلوالو هلو ځلو په هکله لنډ معلومات وړاندي کړل.

دغه لنډ معلومات په ډاګه کوي چي اصلي خبره پر ماديالتو او جاهلانه تعصباتو وه. د هغو پر بنسټ د حق او حقيقت څخه انکار وو. د لوی ښښتن د دين ـ اسلام او د اسلام د پيغمبر ﷺ سره دښمني وه او مرګ ژوبلي، ورانی او بدمرغۍ او پای پر باطلو او د باطلو پر ډېرو پراخو ډلو باندي د حق او د حق د پيغام راوړونکي پيعمبر او د هغه د لږو ملګرو بری او بالاخره د ټولي عربي ټاپووزمي په اسلام رڼا کېده وه چي شغلې يې هري خواته خپرې سوې.

﴿يُرِيدُونَ لِيُطۡفِـُٔواْ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفۡوَٰهِهِمۡ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوۡ كَرِهَ ٱلۡكَٰفِرُونَ ٨﴾ [الصف: ۸].

ژباړه: «دوی د خولو په پوکلو سره غواړي چې د لوی څښتن رڼا مړه کړي، خو د لوی څښتن پرېکړه داده چې هغه خپله رڼا په بشپړه توګه خپره کړي که څه هم د کافرانو بد راځي».

د دې جګړو لومړیو او وروستیو حالاتو او اغېزو او پایلو ته چې په دقت سره وګورو خامخا به اړ سو چې اعتراف وکړو چې حضرت محمدﷺ واقعاً په نړۍ کې ستر او مدبر پوځي شخصیت وو. د بریالیتوبونو لپاره تر ټولو ښه پلان سنجوونکی وو. هغه لکه څنګه چې په نبوت او رسالت کې سید الرسُل وو همدغسې په پوځي چارو کې هم د بریو او حماسو زېږوونکی وو.

په دې غزاوو او جنګي کارنامو سره هغه وکولای سول په ډېره لږه موده کې په ټوله عربي ټاپو وزمه کې د لوی څښتن وحدانیت، الهي عدالت او امن او امان ټینګ کړي. فتنې له منځه یوسي او د دښمنانو قوت او شوکت په ټولیزه توګه مات کړي. هغه د دې کشمکشونو په بهیر کې د مسلمانو پوځیانو یوه داسې ډله وروزل چې تر ده وروسته یې د فارس، روم او نورو طاغوتانو د پېړیو پېړیو له ظلمونو څخه مظلومي او اسکېرلي پرګنې د تل لپاره وژغورلې.

رسول اللهﷺ د جاهلیت د پېر د جګړو تعصبي او کفري اغراض، لکه لوټ، وژني، ظلم وزور، غچ اخیستني، پر بې وزلو او د هغو پر ناموسونو تېري، د ودانیو ورانۍ، د بوډاګانو، کوچنیانو او ښځو سره بې رحمانه کړني، د کروندو او څارویو له منځه وړل او داسې ډېري نوري ورانۍ او فسادونه هم په سپېڅلي جهاد بدل کړل. په کوم سره چې لوړ او پتمن اهداف تر سره کېږي. او هغو کمزورو وګړو ته نجات ورکول کېږي چې دعاوي کوي: ای زموږ لویه څښتنه! موږ له دې سیمي څخه چې اوسېدونکي یې پر موږ ظلم کوي وباسې او موږ ته د دوی له شره ژغورونکي پیداکړې.

هغه دې جګړو ته داسې لوری ورکړ چې د خدای مځکه له ظلمونو، خیانتونو، ګنهونو او فسادونو پاکه کړي او پر ځای یې د امن و امان، انسانیت، هوسایۍ او سوکالۍ او د حق خاوند ته د حق رسولو او د مدنیت او پرمختګ نظام ټینګ کړي.

دغه راز رسول اللهﷺ د جګړو لپاره يو لړ اصول او مقررات هم وټاکل او خپل پوځيان او قوماندانان يې په سختۍ سره د هغو پلي کولو ته وګومارل. چي په هيڅ حال کي يې له هغو څخه د سر غړوني اجازه نه ورکول.

الرحيق المختوم په ٥٢٤ مخ کي د حضرت سليمان بن بريدهرضي الله عنه بيان داسي نقلوي: رسول اللهﷺ چي به کوم څوک د کوم لښکر يا کومي سريې د امير په توګه ټاکی، نو هغه ته به يې د ځان په هکله د تقوا او د ملګرو په هکله د خير وصيت کاوه. بيا به يې ويل: د لوی څښتن په نامه او د هغه په لار کي غزا وکړئ. چا چي له خدايه انکار کړی دی د هغه سره وجنګېږئ، غزا وکړئ،خيانت مه کوئ، ژمنه مه ماتوئ، پزه، غوږونه او نور مه پرې کوئ، کوچنيان مه وژنئ او... آساني راولئ، سختي مه کوئ، خلک هوسا کوئ او متنفر کوئ يې مه. (مسلم،کتاب الجهاد، باب تامير الامام، ٤٤١٣ او ٤٤١٦ حديثونه).

همداشان هغه د انسان له سوځلو، د ښځو له وهلو او وژلو څخه په کلکه منع کول او د لوټ مال به يې مردار او حرام باله. هغه له شديدي اړتيا پرته د کښتونو له خرابولو، د څارويو له وژلو او ونو له پرې کولو څخه منع کول.

د مکې د فتحي پر مهال يې وفرمايل: هوښ کوئ چي پر ټپي بريد ونه کړئ. څوک چي تېښتي مه پسي ځغلئ، بندي مه وژنئ همداراز يې دا سنت هم پرې ايښی دی چي د سولي ايليچي مه وژنئ.

* * *

په دې توګه تر ډېرو سختيو او ستونزو او اوږدو کړاوونو او ډول ډول قربانيو او د جهل او کفر د تيارو سره د ډېرو زياتو ډغري وهلو په پايله کي د لوی څښتن لارښوونه د عربو او د نړۍ د خلکو په نصيب سوه.

﴿فَهَدَى ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لِمَا ٱخۡتَلَفُواْ فِيهِ مِنَ ٱلۡحَقِّ بِإِذۡنِهِۦ﴾ [البقرة: ٢١٣].

ژباړه: «لوی څښتن هغو کسانو ته چي پر پيغمبرانو يې ايمان راوړ په خپل اذن د حق هغه لار وښوول چي خلکو پکښي اختلاف کړی وو».

د اسلام مقدس دين پر کفر او د ظلم او بې عدالتيو پر تيارو د تل لپاره بريالی سو. مدينې منورې د اسلام د ټاټوبی او اسلامي حکومت د ستري

پلازمېني حیثیت غوره کړ. د ټولو عربو پخوانۍ دښمنۍ په ورورۍ او مواخات واوښتې. خراب دیني، مدني، سیاسي، اقتصادي، اجتماعي او اخلاقي حالت یې په رشتیاني اسلامیت، مدنیت، عزت، شتمن توب او سیادت بدل سو، او په ډېره لږه موده کي مسلمانان د قرآني او نبوي لارښوونو په رڼا کي د ستر برم او نامه او د نړۍ په تاریخ کي د لومړي ځل لپاره د یوه داسي ستر مرکزي حکومت خاوندان سول چي د فارس او روم د زبرځواکو دولتونو د نادودو او تېريو د طردولو او ور سره د ډغري وهلو جوګه سول او بالاخره یې د بریو، ستر توب او وقار نغارې د نړۍ په ډېرو لیرو لیرو ځایونو کي ووهل سوې.

دغه راز د اسلام په خپرېدو سره د نړۍ په ګوټ ګوټ کي هغه وګړي چي په ډول ډول دیني او دنیوي بدمرغیو او خواریو کي یې شپې سبا کولې او د جابرو او ظالمو واکمنو، شتمنو او غولوونکو مذهبي لارښوونکو لخوا پرله پسې ځپل کېدل د اسلام په منلو سره له دې ټولو ناخوالو څخه وژغورل سول. د هغو تر منځ سر ترسري اسلامي یو والی رامنځته سو او ټول سره ورونه او یو ملت وګڼل سول. لوی څښتن دې حالت ته داسي اشاره کوي:

﴿وَٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتَ ٱللَّهِ عَلَيۡكُمۡ إِذۡ كُنتُمۡ أَعۡدَآءٗ فَأَلَّفَ بَيۡنَ قُلُوبِكُمۡ فَأَصۡبَحۡتُم بِنِعۡمَتِهِۦٓ إِخۡوَٰنٗا وَكُنتُمۡ عَلَىٰ شَفَا حُفۡرَةٖ مِّنَ ٱلنَّارِ فَأَنقَذَكُم مِّنۡهَاۗ كَذَٰلِكَ يُبَيِّنُ ٱللَّهُ لَكُمۡ ءَايَٰتِهِۦ لَعَلَّكُمۡ تَهۡتَدُونَ ١٠٣﴾ [آل عمران: ۱۰۳].

ژباړه: «د لوی څښتن هغه پېرزوینه دریاده کړئ چي پرتاسي یې کړې ده. تاسي یو د بل دښمنان واست. هغه ستاسي په زړونو کي مینه واچول او د هغه په مهربانۍ او لورېینه تاسي یو د بل ورونه سولاست. تاسي د یوې له اوره ډکي کندي پرغاړه ولاړ واست، خو لوی څښتن تاسي ورڅخه وژغورلاست. په دې ډول لوی څښتن تاسي ته خپلې نښانې څرګندوي، په کار ده چي په دغو نښانو سره تاسي ته د خپلې ژغورني سمه لار در په سترګو سي».

بیا لوی څښتن ژمنه وکړه چي دا اسلام به زه د خپل کتاب قرآن کریم په ساتلو سره د قیامت تر ورځي ساتم.، ویې فرمایل:

﴿إِنَّا نَحۡنُ نَزَّلۡنَا ٱلذِّكۡرَ وَإِنَّا لَهُۥ لَحَٰفِظُونَ ٩﴾ [الحجر: ۹].

ژباړه: «دا ذکر (قرآن) موږ نازل کړی دی او موږ په خپله د دې ساتونکي یو».

بيا د رسولﷺ د ژوندانه په وروستيو وختونو کي چي خپل امت يې پر قرآن او سمه لار را غونډ او روان کړ دا آيت نازل سو:

﴿ٱلۡيَوۡمَ أَكۡمَلۡتُ لَكُمۡ دِينَكُمۡ وَأَتۡمَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ نِعۡمَتِي وَرَضِيتُ لَكُمُ ٱلۡإِسۡلَٰمَ دِينٗاۚ﴾ [المائدة: ٣].

ژباړه: «نن ما ستاسي دين ستاسي لپاره بشپړ کړی دی او خپل نعمت مي پر تاسي پوره کړی دی او ستاسي لپاره مي اسلام ستاسي د دين په توګه غوره کړی دی».

همدا راز رسولﷺ وفرمايل: «تَرَكْتُ فِيكُمْ أَمْرَيْنِ لَنْ تَضِلُّوا مَا تَمَسَّكْتُمْ بِهِمَا: كِتَابَ اللَّهِ وَسُنَّةَ نَبِيِّهِ» (د امام مالک موطاء، کتاب القدر،۳ حديث. دغه حديث د مشکاة په کتاب الايمان کي راغلی دی اوشمېره يې ١٨٦ ده او د هغه په تعليقاتو کي علامه الباني حسن بللی دی).

ژباړه: ما په تاسي کي دوه ستر شيان پرېښي دي، که تمسک په وکړئ ګمراه او بې لاري به نه سئ: يو د لوی څښتن کتاب (قرآن) او بل د هغه د پيغمبر سنت (حديث).

لوی څښتنﷻ مسلمانان پر قرآن کريم باندي اتفاق او يوالي ته بللي دي او له بې اتفاقۍ او اختلاف او يو پر بل له ناروا تورونو، تخريبونو او بې مسؤوليته خبرو او عملونو او شخړو څخه يې په ټينګه منع کړي دي، لکه چي فرمايي:

﴿وَٱعۡتَصِمُواْ بِحَبۡلِ ٱللَّهِ جَمِيعٗا وَلَا تَفَرَّقُواْۚ﴾ [آل عمران: ١٠٣].

ژباړه: «ټول يو سئ او د لوی څښتن رسۍ کلکه ونيسئ او مه سره بېلېږئ».

﴿وَلَا تَكُونُواْ كَٱلَّذِينَ تَفَرَّقُواْ وَٱخۡتَلَفُواْ مِنۢ بَعۡدِ مَا جَآءَهُمُ ٱلۡبَيِّنَٰتُۚ وَأُوْلَٰٓئِكَ لَهُمۡ عَذَابٌ عَظِيمٞ ١٠٥﴾ [آل عمران: ١٠٥].

ژباړه: «پام کوئ چي د هغو کسانو غوندي نه سئ چي پر ډلو سره ووېشل سول او تر روښانو او څرګندو لارښوونو ترلاسه کولو وروسته بيرته په شخړو اخته سول. چا چي دا چلند غوره کړی دی په دوږخ کي به سخته سزا ويني».

﴿إِنَّ ٱلَّذِينَ فَرَّقُواْ دِينَهُمۡ وَكَانُواْ شِيَعٗا لَّسۡتَ مِنۡهُمۡ فِي شَيۡءٍۚ إِنَّمَآ أَمۡرُهُمۡ إِلَى ٱللَّهِ ثُمَّ يُنَبِّئُهُم بِمَا كَانُواْ يَفۡعَلُونَ ١٥٩﴾ [الأنعام: ۱۵۹].

ژباړه: «کومو خلکو چې خپل دین ټوټه ټوټه کړ او ډلې ډلې سول په یقیني توکه د هغو سره ستا هیڅ اړیکه نسته. د هغو معامله لوی څښتن ته سپارلې ده. هغه به ور وښیي چې څه یې کړي دي».

خوله بده مرغه مسلمانان هم د رسولﷺ تر وفات وروسته د پخوانیو ولسونو په شان د لوی څښتن د دغو څرګندو لارښوونو او احکامو سره سره په ډېره بده توګه سره بېل او بې اتفاقه سول. خو بیا هم دونه نه وه سره بې اتفاقه سوي لکه اوس چې دي.

# د يهودو د ورانيو او اخلالګريو دوام

د خيبر يهودو د رسول اللهﷺ او تر هغه په راوروسته زمانه کې ځانونه په څرګنده امنيت خوښوونکي خلك اېسول، خو په پټه د خپلو ناولو چلونو د تر سره کولو لپاره بوخت وه. دوی په داسې ډول ډول چلونو، سبوتاژونو او ورانيو لګيا وه چې په مسلمانانو کې به يې انتشار او پرېشاني رامنځته کول.

د حضرت عمر فاروق د خلافت پر مهال چې مسلمان مجاهدين له مدينې منورې څخه شام ته تلل، نو د دوی په لار کې خيبر يو پړاو وو. يهودو به په دغسې مواقعو کې پر دوی اوبه بندولې او خېمې به يې ورسوځولې. بالاخره حضرت عمرؓ اړ سو چې دوی له خيبر څخه وباسي. چې له دې امله د شام لار په امن سوه.

اما لکه چې تېر اوږده مهالونه ښيي يهود د مسلمانانو په وړاندې بيا هم کرار نه دي کښېنستلي. که څه هم دوی د فلسطين تر اشغال دمخه د مسلمانانو په وړاندې د وسله والې جګړې جوګه سوي نه دي، خو د هغو پر ضد يې د پټو توطئو، سبوتاژونو او ورانيو په طرح کولو او پلي کولو سره زښت زيات نه جبيره کېدونکي تاوانونه ور اړولي دي.

تاريخونه وايي کله چې يهودو، ايراني مجوسو او منافقينو وليدل چې مسلمانانو د ايرانيانو واک پای ته ورساوه او رومي زبر ځواك يې هم د پوپنا کېدو سره مخامخ کړی او ورځ تر بلې مخ په وړاندې ځي، نو يې يوه پراخه او هراړخيزه توطئه په لار واچول کوم چې ځيني مسلمانان هم د ډول ډول دلايلو له مخې پکښې راښکېل سوي وه. د دغې توطئې له مخيد حضرت عثمانؓ د خلافت په وروستيو کلونو کې په مسلمانانو کې د کورني اختلاف اور بلولو ته لمن وهل پيل سول، چې د مروان بن حکم غوندې کسانو د ځاني غرضونو له امله يې پراختيا وموندل.

د حضرت عثمان د نرم خوی، شتمن توب، سخاوت او د هغه د دوستانو سره د صله رحمۍ څخه په بده استفاده يې د هغه په وړاندې يو لړ ناسم او بې

ځایه تورو نه وتراشل او د هغو پر بنسټ مخالفتونه او شکایتونه رامنځته سول.

د تاریخ ډېر کتابونه لیکي چي دغه توطئه د مسلمان په جامه کي د ابن سبا په نامه د یوه یهودي چي ابن سوداء، ابن حرب، او ابن وهب یې هم ورته ویل او د یمن د صنعاء د ښار اوسېدونکی وو، په لارښوونه په لار واچول سول. چي د هغې په نتیجه کي له مصر او عراق څخه مدینې ته یو زیات شمېر یاغیان چي ځیني یې ان شمېرتر شلو زرو زیات ښیي ننوتل. په دغو کي ډېر ناپوه، ناخبره، پایلوچان او د ډول ډول اغراضو خاوندان او په ښکاره مسلمانان، خو په باطن یهودان او داسي نور هم وه. هغو حضرت عثمان د څلوېښتو ورځو لپاره په خپل کور کي کلابند کړ او بالاخره یې د۳۵ هـ.کال د لوی اختر (ذي الحجې) د میاشتي پر ۱۸مه د جمعې د ورځي په مازدیګر د هغه په کور کي د قرآن کریم د تلاوت په حال کي شهید کړ. دغه مهال د مدینې منورې او د هغې د شاوخوا اوسېدونکي بیت الله شریفي ته تللي وه او په ټول ښار کي تر درو سوو زیات نارینه نه وه موجود.

ورپسې د دغو یهودو او نورو د دسیسو او د ځینو مسلمانانو د ناپامیو، خود غرضیو او لنډ پاریو له امله د مسلمانانو تر منځ ستر بېلتون او جنګ جګړې رامنځته سوې. حضرت علي او حضرت معاویه رضي الله عنهما په ستر نفاق او ورانوونکو شخړو اخته سول، چي دا لړۍ ډېره وغځېده او له امله یې د مسلمانانو ډېري ویني توی سوې. په مسلمانانو کي ډول ډول پرې او جنبې، ډلي او مخالفتونه را وټوکېدل، چي دې چارو د اسلام پر ټولو شؤونو اغېز وښندی، ډېري ناوړي تاریخي پېښې یې وزېږولې، چي تر اوسه لاهم دغه اثرات د مسلمانانو د نفاق او خوارۍ لامل سوي دي.

د ابن سبا په هکله باید وویل سي چي ډېر لیکوال هغه په تاریخ کي یو تېرسوی سړی او د شیعي مسلك بنسټ ایښودونکی بولي، خو شیعه لیکوال دا نه مني. د یهودي پروټوکولز په سریزه کي د طبري، نوبختي، بغدادي، شهرستاني او نورو په حواله لیکي چي ابن سبا او د هغه ډلي په ځینو نورو تخریبي کارونو کي هم لاس درلود. حضرت علي رضي الله عنه هغه جلاوطنه کړ، ساباط

(مداین) ته یې وشاړه. خو هلته هغه حضرت علي‌رضي‌الله‌عنه نعوذ بالله خدای وباله. له دې امله حضرت علي‌رضي‌الله‌عنه ونیو او په اور یې وسوځاوه.

## په مسلمانانو کې د یهودو لخوا ناسم روایتونه څنګه خپاره سول؟

لکه چې څرګنده ده د قرآن کریم په ځینو تفاسیرو او د احادیثو په ځینو کتابونو کې اسرائیلي روایات او موضوع احادیث موجود دي. په دې هکله کتابونه وایي چې د حضرت عمررضي‌الله‌عنه د پېر په وروستیو کې او د حضرت عثمان‌رضي‌الله‌عنه د خلافت په پیل کې د اسلام ځینو دښمنانو (یهودو او نورو) په ظاهره اسلام ومانه. چې له دې څخه یې اصلي موخه په مسلمانانو کې په ننوتلو سره د اسلام د ختمولو لپاره هلي ځلي وې. څنګه چې دوی په ظاهره مسلمانان بلل کېدل، نو مسلمانانو باور پر کاوه. خو دوی له دې باور څخه بده ګټه واخیسته او ډول ډول ناسم روایتونه او د درواغو احادیث یې په مسلمانانو کې خپاره کړل..

## اسلامي حکومتونه او د اسلام سره د یهودو دښمني:

لومړی خو مسلمامانانو یهود له عربي ټاپووزمي څخه وایستل. خو کله چې د اسلام لمن نورو ملکونو ته خپره سوه. اسلامي واکمنو د خپلو اسلامي اصولو له مخې له دې امله چې یهود اهل کتاب او ذمیان بلل کېدل د دوی سره د رواداری او حسن سلوک پر بنسټ کړنه کول. عربو په دوی په مصر، فلسطین، شام، ایران او نورو ځایونو کې څه غرض نه درلود. دوی په دغو هیوادونو کې ببله څه ډار او مزاحمته د کښت او کروندې او سوداګری چاري پر مخ بېولې. د دوی سترو اسقفانو په بابل، آرمینیا، ترکستان، ایران او یمن کې دوی ته د شهزاده ګانو حیثیت درلود.

کله چې طارق بن زیاد په ۷۱۰م.کال اندلس فتح کړ، هلته یهودو د مسلمانانو تر سیوري لاندي ژوري ریښې وځغلولې. په اسپانیه کې د مسلمانانو زرین پېر دوی ته هم زرین پېر وو. د دوی پر مذهبي، ټولنیزو او اقتصادي کړنو باندي هیڅ ډول بندیز نه وو. په اسپانیه کې تر اسلام دمخه اسپانوي واکمنو د دوی د شر اچونو او ورانکاریو له امله پر دوی باندي دوني بندیزونه لګولي وه

چي تر يوې پېړۍ پوري يې د سر اوچتولو جراءت نه سواى كولاى. خو مسلمانانو دوى ته د باعزته ژوند كولو موكه وركړه. دوى ته يې په دولت كي ستري دندي وركړې، په پوهنتونو كي يې منصبونه وركړل او ان ځيني كسان يې د اسلامي حكومتونو لومړي وزيران او سفيران سول. دوى هم په سوداګري بوخت وه، هم په كرنه او هم په صنعت. په هر ښار او سيمه كي به دوى بېل كلي درلودل او په خپلو معاملاتو كي به آزاد او خپلواك وه. دوى به سود خوړى خو مسلمانو واكمنو به كار نه په درلود. ان چي په خپلو كلو كي به يې خپلي شخړي په خپله فيصله كولې، تر دې چي خپل مجرمين يې په خپله غرغړه كول.

دوى د مسلمانانو له دې رواداري څخه په ګټه اخيستنه شته،، علم او نور ډېر څه تر لاسه كړل، خو د مسلمانانو د دې ټولو احسانونو او رعايتونو سره سره د يهودو بد عادتونه بدل نه سول او د اسلام پر ضد يې ډول ډول دسايس په لار اچول. لكه چي د اسپانيې د اسلامي واكمنۍ لومړي وزير يوسف نومي چي پلار يې سموئيل نومى هم لومړى وزير وو تر دې كچي سركښه سوى وو چي قرآن كريم يې په سپكاوي سره پر مځكه وغورځاوه. چي له امله يې د مسلمانانو غوسه را وپارېدل د دغه لومړي وزير پر ضد را پاڅېدل او بالاخره دغه خبيث پانسي سو، د غرناطې څلور زره تنه يهود تر تېغ تېر سول او كار وبار او هر څه يې له منځه ولاړل.

د مسلمانانو د احسانونو په وړاندي د يهودو د نامرديو او ډول ډول توطئو او دښمنيو كيسې بېخي ډېري دي. په تېره خو په دې وروستيو مهالونو كي د فلسطين د سپېڅلي مځكي په اشغالولو او هلته د اسرائيلي ناقانونه دولت په جوړولو سره د مسلمانانو په وړاندي د دوى درنده ګۍ له هيچا څخه پټې نه دي. اوس خو په نړۍ كي داسي ځاى او داسي چاره نسته چي د دوى چټل او پټ لاسونه دي نه وي ورغځېدلي. اوس خو د نړۍ په هره خوا كي د مسلمان په خواري كي ستره ونډه د دوى ده. دوى اوس په پلان كي لري چي كه يې وس ورسيږي مدينه منوره او خيبر بيرته ونيسي او د څو نورو عربي اورشوګانو په نيولو سره «ستر اسرائيلي دولت» تاسيس كړي.لكه چي اوس هم د اسرائيلو

په پارلمان کي هغه نخشه په ښکاره ځړ ول سوې ده چي مدینه او خیبر په سره کرښه پکښي په نخښه سوي دي.

په دې هکله ډېر کتابونه لیکل سوي دي او د اسلام رشتیانیو خواخوږو علماوو اسلامي هیوادونو ته خبرداري ورکړي دي، خو له بده مرغه چي د اسلام دغه اوسني ډارن او د کفارو ګوډاګي مشران سر نه خلاصوي. چي که خبره همداسي وي کېدای سي ځو وختونه وروسته د اسلام نوري سپېڅلي اورشوګاني د اسرائیلو تر نجسو پښو لاندي سي. ﴿إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّآ إِلَيۡهِ رَٰجِعُونَ ١٥٦﴾.

﴿حَسۡبُنَا ٱللَّهُ وَنِعۡمَ ٱلۡوَكِيلُ ١٧٣﴾.

# د اسلام سره د لوېديزيانو پر له پسې جګړې او دښمنۍ

## څه اړيني څرګندوني:

له لويه سره خو حضرت محمدﷺ د لوی څښتن د لارښوونې سره سم ټول مشرکين، يهود، نصارا او ډول ډول کفار اسلام ته بلل او ټينګار يې کاوه چې دوی بايد ټول يو دين، يعني اسلام او د لوی څښتن وحدانيت ومني او له خپلو ناوړو او ناسمو باطلو عقايدو او منحرفو اديانو تېر سي. نوکله چې په دې هکله د اسلام د لومړيو مهالونو تاريخونه څه دقيق مطالعه سي، د اسلام سره د عربو د ټاپو وزمي او شاوخوا سيمو د عېسويانو تضاد او دښمني د شرک او يهوديت په پرتله نرمه ښکاري. بلکې د حضرت محمدﷺ او مسلمانانو سره د ځينو عېسويانو خواخوږي څرګندېږي. لکه چې په ځينو روايتونو کي که يې اسناد د باور وړ وي، راغلي دي چې يو مهال حضرت محمدﷺ په ديارلس کلنۍ کي د خپل اکا ابوطالب سره د شام په سفر تللی وو. په دغه سفر کي د عربو د ټاپووزمي د حوران په بصری ښار کي چې د روميانو تر ولکه لاندې وو يوه عېسوي راهب جرجيس نومي چې لقب يې بحيرا وو په حضرت محمدﷺ کي د پيغمبرۍ نخښې وليدلې او ويې ويل چې لوی څښتن هغه د رحمة للعالمين پيغمبر په توګه غوره کړی دی. دغه راز ورقه بن نوفل چې د جاهليت په دوره کي عېسوی سوی وو او په عبراني ژبه پوهېدی او انجيل او تورات يې مطالعه کاوه پر حضرت محمدﷺ د نازلي سوي ملايکي جبرائيلؑ په هکله وويل: «دا هغه ناموس دی چي لوی څښتن پر موسیؑ نازل کړی وو او په نبوت باندي د حضرت محمدﷺ مبعوثېدل يې تاييد کړل».

دغه راز د حبشې عېسوي پاچا نجاشي مسلمانانو ته په ډېرو بدو شرايطو کي پناه ورکړه او حمايه يې کړل، اسلام يې راوړ او د مسلمانانو سره يې ډېري ښې او دوستانه اړيکي درلودې. بيايي يوه ډله عېسوي پوهان او مخور مدينې منورې ته د رسولﷺ حضور ته ولېږل. کله چې هغه مبارک د «يس» سوره

ورته تلاوت کړه د هغو سترګي له اوښکو ډکي سوې او پر هغه مبارک یې ایمان راوړ.

بیا چي د نجران د عېسویانو شپېته کسیز پلاوی چي ستر مذهبي شخصیتونه او سرداران پکښې وه مدینې ته ولاړی،رسول اللهﷺ ته یې د اونو پټوان او فرشونه په سوغات کي ور وړه. هغو تر مذاکرو وروسته جزیه ورکول ومنل او د اسلام په پناه کي راغله. خو لکه چي تاریخونه څرګندوي نجران ته په رسېدو سره د دغه پلاوي ځیني غړي مسلمانان سول او وروسته په دغه سیمه کي اسلام په پراخه توګه خپور سو. او لږ شمېر عېسویان وه چي په اسلام مشرف نه سول.

دغه شان کله چي رسول اللهﷺ د هغه مهال د مصر عېسوي واکمن مقوقس ته لیک واستاوه. که څه هم هغه اسلام ونه مانه خو د رسول اللهﷺ لیك ته یې په ډېره درنه سترګه وکتل. هغه یې په خپل تهر پوري ومښی او د پیل د غاښ په دبلي کي یې وساتی. بیا یې رسول اللهﷺ ته ډېر سوغاتونه د یوه طبیب سره ولېږل.

د لوی څښتن دې وینا ته پام وکړئ:

﴿لَتَجِدَنَّ أَشَدَّ ٱلنَّاسِ عَدَٰوَةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلۡيَهُودَ وَٱلَّذِينَ أَشۡرَكُواْۖ وَلَتَجِدَنَّ أَقۡرَبَهُم مَّوَدَّةً لِّلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱلَّذِينَ قَالُوٓاْ إِنَّا نَصَٰرَىٰۚ ذَٰلِكَ بِأَنَّ مِنۡهُمۡ قِسِّيسِينَ وَرُهۡبَانًا وَأَنَّهُمۡ لَا يَسۡتَكۡبِرُونَ ٨٢﴾ [المائدة: ۸۲].

ژباړه: «ته به د مومنانو په دښمني کي تر ټولو زیات سخت یهودیان او مشرکان ومومې. او د مومنانو لپاره به په دوستي کي ډېر نژدې هغه خلک ومومې چي ویلي یې وه چي موږ نصارا یو. دا له دې امله ده چي په هغو کي عبادت کوونکي عالمان او تارک الدنیا فقیران پیدا کیږي او په هغو کي نفسي غرور نسته».

نو د پورتني آیت مطلب خو ټول نصارا نه دي، بلکي لکه چي په تفسیر قرطبي او نورو تفاسیرو کي وایي له دې څخه مراد نجاشي، د ده ملګري او پلاوی او نور پورتني غوندي واقعیت خوښوونکي نصارا مراد دي.

دلته دا خبره د سړي په زړه کي ورګرځي چي اصلاً خبره د ختیځ او لوېدیځ تر منځ په اوږدمهالې جګړه او نه پخلاتوب کي ده. دغه عېسویان څنګه چي

ختیزیان وه د خپلو ختیځوالو مسلمانانو سره جوړ راغله او د دوی په وړاندې یې له سرکښۍ څخه کار نه اخیست، خو لوېدیځوال له یوې خوا پر ختیځوالو او د دوی پر مادي او معنوي شتمنیو باندې تل تېری کوونکي او د هغو دښمنان پاته سوي دي او له بلې خوا د دوی په ختهٔ کې عیاشي، فحاشي، مادي پالنه، بت پالنه بې بنسټه فلسفي اندونه، تېري او واک او زبېښاک خوښونه او داسې نور اخښلي دي او د رشتیاني دین پیروي، رشتینولي، تقوا او د لوی ښتن پر سمه لار تلل او حق ته غاړه ایښوول یې هیڅ نه خوښیږي. له دې امله دوی د اسلام سره چې د دې ټولو ناوړتیاوو سره په ټکر کې دی نه دي جوړ او د عیسی علیه السلام دین یې هم د تاریخ د جبر له مخې هله ومانه، چې پولس غوندي د دغه دین دښمنو کسانو د دوی د خوښو او شهوتونو تابع کړ، د دوی ګټې یې خوندي کړې او د دوی سره د ناوړو چارو په تر سره کولو کې مل او ملګری سو.

په دې توګه څرګندیږي چې د اسلام سره د پورتنیو لاملونو له مخې له هماغه پیله د لوېدیځ او د لوېدیزیانو د تابع او منحرف عېسویت دښمني پرته ده او تر اوسه پالل کیږي.

## څه تاریخي څرګندوني:

د عربو له ټاپو وزمې څخه د باندې د مسلمانانو د فتوحاتو په اړه په لومړنیو عربي ماخذونو کې لوېدیځ یا اروپا ته «روم» یا «بني الاصفر» ویل کیږي. له آره د روم ښار د لرغوني اروپایي نړۍ پلازمېنه د ایټالیې په زړه کې پروت دی. او ایټالیا د لرغوني روم د قدرت او عظمت زانګو وه.

تر میلاد دیارلس پېړۍ دمخه د پخوانۍ منځنۍ اروپا ځینې اوسېدونکي د اوسنۍ ایټالیې په شمالي سیمو کې مېشت سول. بیا د مهالونو په تېرېدو سره په ایټالیا پوري نوري ډېري مځکي هم ونښلول سوې او په پای کې د روم لویه ستراواکي جوړه سوه. دغې ستراواکۍ پر ټوله لوېدیزه اروپا، سهیلي اروپا، شمالي افریقا او لوېدیزي آسیا باندې واکمني چلوله. چې د نړۍ په تاریخ کې تر ټولو لویه واکمني بلل کیږي. په ۳۹۵م.کال «ټئوډز» نومې ټولواکمن تر

مړیني دمخه هیواد د خپلو دوو زامنو«آرکاډیوس» او «هنریوس» تر منځ ووېشی. په دې توګه دوې ستړواکۍ رامنځ ته سوې: یوه د لوېدیز روم ستر واکي چي د اوسنۍ ایټالیې په خاوره کي یې مرکزیت درلود. او بله د ختیز روم ستړواکي چي د اروپا پر ختیزو او سهیل ختیزو او د آسیا پر لوېدیزو برخو یې حکومت کاوه او مرکز یې د قسطنطنیې ښار (د اوسنۍ ترکیې استانبول) وو.

په ٤٧٦م.کال د جرمنیانو د مزدورو سرتېرو یوه مشر «اُډآکر» نومي د لوېدیز روم ټولواکمن له واکه راوپرځاوه او ایټالیا یې د ختیځ روم د ټولواکمن په نامه اداره کول. چي په دې توګه د لوېدیز روم ستړواکي د جرمنیانو د وحشي طوایفو لخوا دړې وړې سوه او پر څو هیوادونو ووېشل سوه. خو د ختیز روم ستړواکی د «بېزنتین» په نامه تر پنځلسمي عېسوي پېړۍپوري دوام وکړ. په ١٤٥٣م.کال ترک فاتحینو را وپرځول.

په لوېدیز روم کي څو رامنځ ته سوو هیوادونو چي جرمن سلطنتونه یې ورته ویل د بېزنتین ټولواکمن د واک سره څه غرض نه درلود. د روم پاپ اوس هم بېزنتین ټولواکمن د لوېدیز روم قانوني ټولواکمن باله. د کلیسا پر اسنادو به د بېزنتین ټولواکمن د تخت کښېنستو نېټه لیکل کېدل. خو عملا لوېدیځ کوم ټولواکمن نه درلود.

د بېزنتین ټولواکمن جستینین (**Justinian**) (٥٢٧ ـ ٥٦٥م.) په خپل پېر کي د لوېدیز سلطنت د سیمو د بېرته اخیستلو پرېکړه وکړه. له ٥٣٠م. کال څخه تر ٥٥٣م.کال پوري بېزنتیني پوځونو هغه ټولي سیمي فتح کړې چي په روم سمندرګي پوري نښتي وې. خو د فرینک او اینګلو سیکسن واکمنیو د فتح کولو موکه یې ونه موندل. د دغه جستینین له پېر څخه د ختیز روم سلطنت بېزنتین سلطنت وګڼل سو. په دې توګه تر دې پېر وروسته د روم (لوېدیز لاتین) سلطنت د بېزنتین ټولواکمنۍ یوه مفتوحه سیمه وګڼل سوه. تر دې دمخه «روم» پر ختیزو سیمو حکومت کاوه، خو اوس پر روم باندي د بېزنتین واکمنۍ حکومت ټینګ سو.

دغه الحاق هم لنډ مهالی وو. د جستینین تر مړیني وروسته پر بېزنتین ستړواکۍ باندي د روسي سیمو وحشي قومونو،«آوار» (Aver) او «سلاو»

(Slav) يرغلونه وکړل. له بله پلوه بېزنتين په آسيا کې د ايراني سلطنت سره هم په جګړو اخته سو. چې په پايله کې د اقتصادي وضعې د خرابۍ له امله دفاعي جګړو ته اړ سو او لوېديځ ته يې پام نه سوای اړولای. د بېزنتين له کمزورئ څخه د «لومبارډ» (Lombard) په نامه يوې جرمنۍ قبيلې ګټه واخيسته او پر شمالي ايټاليا يې ولکه ټينګه کړه او د لومبارډ سلطنت بنسټ يې کښېښود. د دې سلطنت د ټينګښت له امله فرينک سلطنت د بېزنتين له لاسه ووت. کېدای سوه چې په راتلونکې کې يو مهال بېزنتين د لوېديزو سيمو په ترلاسه کولو کې بريالی سوی وای، خو په دې منځ کې د اسلام سپېڅلی دين را منځ ته سو او د بېزنتين ټول پام يې خپل ځان ته واړاوه. په دې ترځ کې لوېديځ خپل ځان د تل لپاره له بېزنتين څخه آزاد کړ.

د لومبارډ او فرينګ په پيروۍ د لوېديځ نورو سيمو هم د بېزنتين جغ له اوږو وغورځاوه. په دې توګه د اوومې عېسوي پېړۍ په منځ کې هغه سياسي وحدت پای ته ورسېد چې تاريخ يې د روم د ستړواکۍ په نامه يادوي. (پورتنۍ څرګندوني د اسلام پيغمبر اسلام اور مستشرقين مغرب کا انداز فکر د ۲٤ او ورپسې مخونو او د البرماله د تاريخ رم څخه په استفاده وليکل سوې).

## د روم د ستړواکۍ د بېلو بېلو ښاخونوپه هکله:

لکه چې دمخه مو وويل د عربو په لومړنيو ماخذونو کې لوېديځ يا اروپا ته «روم» يا «بني الاصفر» ويل کيږي. دا له دې امله دی چې د اسلام د څرګندېدو پر مهال په نړۍ کې دوې زبرځواکي واکمنۍ وي، يوه د فارس (ايران) او بله د روم واکمني.

د احاديثو په کتابونو کې د روم او بني الاصفرو سره د مسلمانانو د جګړو او د هغو د فضيلت په باب څرګندوني او د رسولﷺ او صحابۀ کرامو ويناوي او يادوني راوړل سوي دي. په دې هکله يو روايت دی:

قال رسول الله ﷺ: «فارس نطحة أو نطحتان، ثم يفتحها الله، و لكن الروم ذات القرون، كلما هلك قرن قام قرن آخر».

ژباړه: د فارس سره به (ستاسي) یو ځل یا (زیات تر زیاته) دوه ځله نښتي وسي. بیا به یې لوی څښتن فتح کړي. خو روم به څو ښکره ولري (یعني روم به ستاسي په مقابل څو ښاخه یاڅو بېل بېل ځواکونه سي او ستاسي سره به جنګیږي). کله چي یې یو ښاخ مات او له منځه ولاړ سي، نو یو نوی ښاخ په یې رامنځ ته سي.

د پورتني حدیث په هکله باید یادونه وسي چي د حامد کمال الدین په نامه یوه عالم په خپل «روبه زوال امریکن امپائر» نومي کتاب کي دغه حدیث را اخیستی دی او خپل کتاب یې د همدې حدیث پر بنسټ داسي لیکلی دی چي هغه روم او بني الاصفر د عربو د اصطلاح سره سم لوېدیځ یا اروپا ګڼي. او لیکي چي روم یعني لوېدیځ د اسلام سره په داسي جګړه اخته دی چي تر اوسه روانه ده.

واقعیت هم همدا دی چي تر ډېره مهاله د روم بېزنتین ځواک د خپلو عیاشیو، فجایعو، ظالمانه واک، اقتدار او ښکېلاک د ساتني او دفاع په خاطر او د رشتیني اسلام او مسلمانانو له خطر څخه د ژغورني په موخه او د هغو د ختمولو په نیت د اسلام سره په جګړو بوخت پاته سوی دی. بیا د لوېدیځ صلیبي ځواکونه اروپا ته د اسلام د نفوذ د مخنیوي او د مسلمانانو د مادي او معنوي شتمنیو د لوټولو لپاره د مسلمانانو سره په اوږدو جګړو اخته پاته سوي دي. بیا د اسپانیې کفري ځواکونه د مسلمانانو سره په سختو جګړو او د هغو په ختمولو او بې رحمانه کړولو بوخت پاته سوي دي. بیا انګرېزان او دلوېدیځ نور ډول ډول ځواکونه د اسلام د ختمولو او د مسلمانانو د ښکېلولو او د هغو د ډول ډول شتمنیو د لوټولو او د هغو له هیوادونو څخه د ډول ډول ګټو اخیستنو په موخه د مسلمانانو سره په ورانوونکو او پرله پسې جګړو اخته پاته سوي دي، بیا امریکایان چي د خپلو رومي اسلافو غوندي د نړیوال سلطنت په لېونتوب اخته سوي دي د نورو لوېدیزو ځواکونو په مشري د اسلام سره له ډېره وخته په جګړو لګیا پاته سوي دي،چي د همدې جګړو په دوام په دې وروستیو کي امریکا او نور لوېدیځ ځواکونه د ترهګرۍ سره د مبارزې په پلمه د اسلام د ختمولو او د مسلمانانو د هیوادونو د لاندي کولو په موخه د

مسلمانانو سره په خورا زور او زوږ او هر اړخیزه توګه په سختو او بې رحمانه جګړو اخته دي.

د يادوني وړ ده چي د «روبه زوال امريكن امپائر» نومي كتاب ليكوال تر څېړنو او تحليلونو وروسته د رسول الله ﷺ د ځينو احاديثو په استناد او د امريكا او مسلمانانو د جګړو او شخړو اوسنۍ وضعي ته په كتلو سره دې پايلي ته رسېدلی دی چي اوس د روم د اوسني ښاخ، يعني امريكا او لوېديځ او د دوی د ګوډاګيانو د نهايي او وروستۍ ماتي او زوال وخت را رسېدلی دی.

په دې هكله زموږ د څېړنو پايلي هم دادي چي امريكا نوره دغسي مغروره نه سي پاته كېدلای. د زوال نخښي يې په رشتيا سره هم څرګندي سوي دي او داسي ښكاري چي لوی څښتن جَلَّاللّٰهُ پټېلې ده چي امريكا به هم د انګرېزانو او شورويانو غوندي په افغانانو له پاركاله اچوي. په دې هكله «زموږ د دښمنانو تور تاريخ او شومي موخي» كتاب په تېره په دې موضوع پوري د هغه اړوند مطالب مطالعه كړئ.

البته پورتنی حديث د احاديثو له كتابونو څخه مصنف ابن ابي شيبة، بغية الحارث، المطالب العالية للحافظ ابن حجر العسقلاني، مسند الحارث، فيض القديراو زوائد الهيثمي را اخيستی دی. خو د احاديثو نامتو كره كوونكي علامه محمد ناصر الالباني په السلسلة الضعيفة او صحيح وضعيف الجامع الصغير كتابونو كي ضعيف بللی دی. اما د «روبه زوال امريكن امپائر» ليكوال د خپل كتاب د (١٤) مخ په لمن ليک كي وايي چي د حديث په سند كي څه ضعف سته، مګر څنګه چي د ملاحمو (سترو جګړو) له نورو احاديثو څخه د دغه حديث تاييد كيږي، نو ځينو علماوو، لكه شيخ سفر الحوالي، حامد العلي او نورو هغه ته اعتبار ور كړی دی.

**د عربو په ټاپو وزمه كي عېسويت:**

كله چي رسول الله ﷺ په نبوت مبعوث سو د عربستان په ځينو سيمو كي عېسوي دين ځيني پيروان درلودل. په شمال كي د سورېې او د سينا ټاپو وزمې له لاري د تغلب، غسان او قضاعه قبايلو په منځ كي دغه دين دود سوی وو او

په سهيل کې يې د حبشې له لارې د يمن او نجران په خلکو کې څه رواج موندلی وو. عېسويت په څلورمه ميلادي پېړۍ کې د مسيحي راهبانو لخوا په عربستان کې نفوذ وکړ، خو په دغه ځای کې يې دونه پرمختګ ونه کړای سو.

## د اسلام سره د روميانو د دښمنيو لاملونه:

عربو او ختيز روم يو له بله ډېري اړيکي درلودې. د اسلام د لمر راختو پرمهال د عربو پولو ته څېرمه د شام او مصر پر پراخو سيمو باندي روميانو په پياوړتيا سره واک چلاوه. هرقل اعظم (**Heracles**) د روميانو ټولواکمن وو. د هغه حکومت د عربو تر پولو غځېدلی وو. يو والي يې په بصرىٰ کې اوسېدی چې د عربو د سرحدي پولو واکمن ګڼل کېدی. له يوې خوا دغو حکومتونو رومي سلطنت ته باج ورکاوه او په سياسي او مذهبي چارو کې يې د قسطنطنيې د قيصر سترواکي منلې وه. له بله لوري د عربو په ټاپو وزمه کې د هغو د سرحدي سيمو حالت ډېر خراب وو او د زوال او انحطاط تر پولي رسېدلی وو. انسانان د مالک او مريي يا حاکم او محکوم پر دوو طبقو باندي وېشل سوي وه. ټول امتيازونه او ګټې د غټانو، په تېره د پردو د ګوډاګيو وې او ستونزي، خوارى، زهره ترکى او کړاوونه ټول د بې وزلو برخه ګرځېدلې وه. تر دې په څرګندو الفاظو بايد داسي وويل سي چې رعيت په حقيقت کې يو ډول کښت او کرونده ګرځېدلې وه چې واکمنو، شتمنو او د باطلو مذهبونو اجاره دارانو حاصل ځني تر لاسه کاوه او په هغه يې د خوندونو، شهوتونو، عياشى او فحاشى او ظلم او تېريو اسباب برابرول. پر بې وزلو هر ډول ظلمونه کېدل، خو هغو هيڅا ته شکايت نه سوای کولای. بلکې ضروري وه چې ډول ډول ټيټتياوي، ذلتونه او بې غورى او نادودي وزغمي.

عرب لکه زموږ د افغانستان د اوسمهال خلک يا د نړۍ د اوسمهال د مسلمانانو غوندي د ډول ډول اغراضو، تعصبونو، سرټمبه ګيو، ناپوهيو او بې پروايو په دامونو کې ښکېل وه او يو له بله په سختو دښمنيو، شخړو، جګړو او مخالفتونو اخته وه چې د حق او باطل توپير ځني ورک او هېر سوی وو.

رومي طواغيت وه که ايراني دواړو خپلې ګټې د عربو په دغسې بدمرغيو کې ليدلې. خو کله چې رسول اللهﷺ د مکې له غرونو څخه د حق او «لا إله إلا الله محمد رسول الله» او د ربړېدلو او کړېدلو ولسونو د ژغورنې زړه وړونکی او کفر ماتوونکی آواز پورته کړ او بلنه يې ورکړه چې نړۍ دې «يوه خدايي کورنۍ» سي او د دې کورنۍ غړي دې يو له بله په مينه او مساوات کې واوسي. نو د روم او فارس د دواړو زبرځواکو ستړواکيو له دې نوي تحريک څخه ستر خطر احساس کړ. دوی درک کړه چې که دغه غورځنګ بريالی سي، نو عرب زموږ له ولکې څخه وزي او نور محکوم ولسونه او زموږ د خپل ملک عوام چې موږ يې د زيار او زحمت پر محصولونو د ټولواکمنيو دنګې ماڼۍ جوړې کړې دي، هرومرو پر موږ را پاڅيږي او واک او ګټې مو را پوپنا کوي. پر دې بنسټ دوی لومړی انتظار درلود چې دغه سپېڅلی غورځنګ په خپله د عربو او يهودو لخوا له منځه يووړل سي. خو چې داسې ونه سول دوی د دې نوي او سپېڅلي اسلامي غورځنګ د له منځه وړلو لپاره مناسبې موکې او پلمې ته کتل، څو هغه په غوڅه توګه له مخې ايسته کړي..

﴿يُرِيدُونَ لِيُطْفِـُٔوا۟ نُورَ ٱللَّهِ بِأَفْوَٰهِهِمْ وَٱللَّهُ مُتِمُّ نُورِهِۦ وَلَوْ كَرِهَ ٱلْكَـٰفِرُونَ ﴿٨﴾﴾ [الصف: ۸].

ژباړه: «دوی د خولو په پوکلو سره غواړي چې د لوی څښتن رڼا مړه کړي، خو د لوی څښتن پرېکړه داده چې هغه خپله رڼا په بشپړه توګه خپره کړي که څه هم د کافرانو خوښه نه وي».

څنګه چې په مدينه منوره کې د رسولﷺ اسلامي حکومت ټينګ سو او مشرکين او يهود د هغه په را پرځولو کې پاته راغله، نو د روميانو د دغسې موکې او پلمې لټولو او سنجولو پر مهال ځيني مشرکين او يهود ملګري سول، د شام د بصریٰ غساني والي ته چې د روم ګوډاګی وو، ورغله، څو هغه له اسلامي سلطنت څخه وبيروي او پر مسلمانانو باندې يې لښکر کښۍ ته وهڅوي. روميانو او ګوډاګيانو يې په دې هکله تدابير سنجول چې رسولﷺ له دې خبرې خبر سو او سمدستي يې يو ليک اسلام ته د بصریٰ د والي د بلنې لپاره د حارث بن عُمَير اَزديرضي الله عنه په لاس ور واستاوه. کله چې حارث مُوْته

نومي ځای (په اردن کي بلقاء ته نژدې سيمي ته) ورسېدی په بلقـاء کـي د روم د قيصر عېسوي والي شُرحبِيل بن عمرو غساني ونيو او په ډېره بـده وضـع يـې شهيد کړ. لکه چي مونږ پوهيږو د سفير يا استازي نيول يا وژل ډېر بد جرم دی چي د جګړې د اعلان سره برابر يا تر دې لا بتر باله سي. خـو طاغوتيـانو دغـه ځناورتوب تر سره کړ او له دغه مهاله د روميانو او مسلمانانو تر مـنځ د جګـړو او دښمنيو دروازه پرانيستل سوه. (د واقدي مغازي ۱/ ۷۵٦ مخ، فتـوح الشـام اردو ۱۱مخ او تاريخ ملت د ۱٤۲ او ۱٤٤ مخونوڅخه په استفاده).

## د موته جګړه، پر عېسوي روم باندي د بريو پيلامه

(۳ زره مسلمانان د ۲ لکو روميانو په مقابل کي)

بايد ووايو چي د اسلام غوښتنه دا نه ده چي پر نورو باندي جګړې وتبي يا خپل قوانين په ځواک او جبر په ومني، بلکي د مسلمانانو دنده داده چي دوی دغه دين وګړو ته د حکمت او ښه وعظ او نصيحت له لاري ورسوي. خو د پورتنيو لاملونو پر بنسټ مسلمانان جګړو ته اړ سول او د قصاص او د خپل دين او خپلي اورشو د دفاع شرعي جواز ورکړه سو.

تاريخونه وايي چي د موته جګړه تر ټولو خونړۍ معرکه وه چي مسلمانانو ته د رسولﷺ په ژوند کي پېښه سوه او دغه جګړه د روم تر ولکې لاندي هيوادونو د فتوحاتو پيلامه جوته سوه.

کله چي رسولﷺ ته د حضرت حارثؓ له شهادته خبر ورکړه سو، نو يې د هجرت د اتم کال په دريمه خور د هغه د قصاص اخيستلو په موخه د شُرحبيل غساني پر ولايت بلقاء باندي د لښکر کښنې لپاره د درو زرو تنو جګړنو پوځ د حضرت زيد بن حارثهؓ په مشرۍ چمتو کړ او امر يې وکړ چي که زيد شهيد سو د پوځ مشري دي د جعفر بن ابوطالبؓ پر غاړه وي او که هغه هم شهيد سو عبدالله بن رواحهؓ دي د پوځ قوماندان وي. بيا يې لارښوونه وکړه چي کله دغه ځای ته ورسېدلاست، د هغه ځای خلک اسلام ته وبولئ. که يې اسلام ومانه ښه، که نه له خدايه مرسته وغواړئ جنګ ور سره وکړئ. پر دې سربېره هغهﷺ دا لارښووني هم ورته وکړې:

- د الله پر نامه، د الله په لار کي او د الله په وړاندي د کفر غوره کوونکو سره غزا وکړئ.
- ژمني مه ماتوئ او خيانت مه کوئ.
- ښځي، کوچنيان او بوډاګان مه وژنئ.
- وني مه پرې کوئ او ودانۍ مه نړوئ.
- په کليساوو کي د ګوښه ناستو وګړو سره کار مه لرئ.

هلته هرقل له انطاکيې څخه يولک پوځ وخوځاوه، بلقاء ته ولاړ او په مآب نومي ځای کي يې موضع ونيول. له بله پلوه د بصرىٰ والي هم يولک پوځ جګړې ته چمتو کړ. کله چي اسلامي پوځيان د شام معان نومي ښار ته ورسېدل، خبر سول چي د دوی په وړاندي دغسي ستر پوځ چمتو سوی دی. څنګه چي د دوی پوځ د دغسي غښتلي پوځ د مقابلې لپاره کافي نه ګڼل کېدی نويې مشوره سره وکړه. خو دې پايلي ته ورسېدل چي په دې جنګ کي يا فتح ده يا شهادت چي دواړي ښې لاري دي، نويې وپتېيل چي په مړانه به ورسره جنګيږو.

دواړه پوځونه د بلقاء په پولو کي سره مخامخ سول. د هرقل لښکري په «مشارف» نومې سيمه کي ځای پرځای سوې او اسلامي لښکرو په «موته» نومي کلي کي موضع ونيول. بالاخره د درو زرو تنو مسلمانانو او د روم د ستر واکۍ د دوو لکو منظمو پوځيانو تر منځ ډېره سخته جګړه ونښته. د انسانيت په تاريخ کي تر ټولو اريانوونکې جګړه. دا دونه ستر پوځ د دروزرو مسلمانانو په ماتولو کي پاته راغی. زيدﷺ شهيد سو او د پوځ قومانده حضرت جعفرﷺ پر غاړه واخيسته. له آسه راکښته سو او پر دښمن يې واري کول. ښی لاس يې غوڅ سو، خو بيرغ يې مځکي ته پرې نه ښود، په کيڼ لاس يې ونيو او جنګېدی. بيا يې کيڼ لاس غوڅ سو، بيرغ يې په اوږو کي ونيو او د شهادت لوړ مقام ته تر رسېدو پوري يې اوچت وساتی. ځکه نو لوی څښتن داسي دوه وزرونه ورکړه چي په جنت کي هري خواته وغواړي په الوتلای سي او پر دې دنيا يې د جعفر طيار او جعفر ذوالجناحين لقبونه وګټل. بيا حضرت عبدالله بن رواحهﷺ د جګړې مشري پر غاړه واخيسته. واردواره څه متردد غوندي سو، خو د مړاني مرګ يې غوره وباله، ښه توره يې وچلول او شهيد سو. بيا حضرت خالد بن وليدﷺ د اسلامي لښکر مشر وټاکل سو، ښه وجنګېدی او په ښه تدبير سره يې مسلمانان له ډېرو تلفاتو وژغورل. پای دغو لږو مسلمانانو د دوولسو تنو په شهادت سره د روميانو د زبر ځواک قدرت د پوځيانو په مړو خړې وايستلې او صحيح سلامت مدينې منورې ته ځني را ستون سول.

په دې توګه د عېسويانو د ستري ټولواکمنۍ د کافرو او ظالمو قصر نشينانو پر ورنو لړزه پرېوته. ټول خلک اريان پاته سوه چي څنګه درو زرو مسلمانانو د رومي واکمنۍ سره چي د هغه مهال د مځکي پر مخ تر ټولو ستر ځواک بلل کېدی ډغري ووهلې. هغه مهال داسي ګڼل کېدل چي د روم د زبر ځواک قدرت سره جګړې ته وردانګل د ځان وژني معنا لري. له دې امله د دوو لکو شاهي عېسوي پوځيانو سره د دغونو لږو سرتېرو جنګېدل او بېله تاوانه څني را ستنېدل يوه عجبه او نادره خبره وبلل سوه. په دې ترتيب ټولو ومنل چي د دغه درې زريز پوځ سره هرو مرو د لوی څښتن ﷻ نصرت او تاييد ملګری وو او د هغو لارښود په رشتيا سره د لوی څښتن پيغمبر دی. له دې امله تر دې جګړې وروسته خلک اسلام ته ډېر مايل سول او جوپې جوپې په اسلام مشرف سول.

# د تبوک غزا

د مکې مکرمې په فتح کولو سره د عربو داخلي ستونزي تقريباً اواري سوې او د اسلام سپېڅلی دين د ټولو عربو لخوا ومنل سو. خو اوس داسي ځواک د مسلمانانو سره جګړې ته چمتو کېدی چي د جګړې د جواز وجه يې هيڅ نه لرل. دغه ځواک په ټوله نړۍ کي ستر پوځي قوت؛د روم ظالم او متکبر حکومت وو.

که څه هم د موته په جګړه کي اسلامي جنګياليو د هغو د شمېر د لږوالي له کبله له رومي طاغوتيانو څخه د حضرت حارث بن عُمَير اَزديؓ د شهادت د غچ اخيستلو په باب بشپړ بری تر لاسه نه کړای سو. خو پر ليرو او نژدې عربو او نورو يې ستري اغېزي واچولې. د روم د امپراتورۍ کفارو احساس کړه چي د دې جګړې پايلي به داوي چي زموږ تر لاس لاندي عرب به له موږ څخه آزادي اخلي او د مسلمانانو سره به يوځای کيږي او په نهايت کي به زموږ طاغوتي واکمنۍ ته ستره خطره سي. ځکه نو قيصر وپتېيل چي دمخه تر دې چي مسلمانان يو نه ماتېدونکی ځواک او ستر خطر جوړ سي، بايد په کلکه وځپل سي. له دې امله په داسي حال کي چي د موته د جګړې يو کال لا نه وو تېر سوی، قيصر د رومي اوسېدونکو او د خپلو ترلاس لاندي عربو؛ غسانيانو او نورو څخه د يوه ستر پوځ د جوړولو او د يوې خونړۍ او پرېکړوني جګړې د په لاره اچولو لپاره په تياريو پيل وکړ. پر دې بنسټ مدينې منورې ته آوازې ورسېدې چي روميان د مسلمانانو سره يوې ستري او پرېکړوني جګړې ته چمتو کيږي. چي له دې امله مسلمانان زيات انديښمن سول. هرقل ستر پوځ چمتو کړ، د بلقاء پر لور يې وخوځاوه او خپله هم ورسره روان سو. څنګه چي رسولﷺ دغه معلومات تر لاسه کړل سمدستي يې د جګړنو او آذوغې او پيسو په راټولو پيل وکړ. مسلمانانو زښت زيات مالونه او د جګړې وسايل ورکړل او ډېرش زره مجاهدين د رسولﷺ پر شاوخوا د جګړې لپاره راغونډ سول.

رسولﷺ دغه پوځ د ۹هـ کال د خدای تعالی په میاشت (رجب) کې د تبوک پر لور وخوځاوه.

د رومي کفارو لښکري هم په تبوک کې ځای پر ځای سوي وې. خو کله چې يې واورېدل چې اسلامي پوځ دغه ځای ته نژدې سوی دی سخته بېره په ګډه سوه، ټول په خورا سر اسیمه ګۍ بېلو بېلو ښارونو ته وتښتېدل او هرقل اعظم هم له میدانه په تراټو ځان وکیښ. څنګه چې شاوخوا عرب او په دغو سیموکې د روم د ټولواکمنۍ ګماشته ګان د رومیانو په دې تېښته خبر سول، پر هغو يې اعتماد له لاسه ورکړ، یو په بل پسې د رسولﷺ خدمت ته حاضر سول او د جزیې او ډول ډول جنګي سامان آلاتو او نورو په ورکولو يې د سولې تړونونه ورسره لاسلیک کړل او د مسلمانانو ملاتړي سول. دا د رسولﷺ د ژوند وروستۍ جګړه وه.

## د معان د رومي والي مسلمانېدل

حضرت فروه بن عمرو الجذاميرضي الله عنه د رومیانو لخوا د عربو په هغو سیمو کې چې شام ته نژدې او د رومي واکمنۍ تر ولکه لاندې وې والي وو او په معان نومي ځای کې يې مرکز وو. کله چې د موته په جګړه کې د مسلمانانو مړانه او د اسلام حقیقت ورمعلوم سو، په دې مبارک دین مشرف سو نو يې رسولﷺ ته استازی واستاوه، له خپل اسلام راوړلو څخه يې خبر ورکړ او یوه سپینه غاتره يې په سوغات کې ورولېږل. څنګه چې رومي طاغیان د فروه له اسلام راوړلو خبر سول راويې غوښت، په بند کې يې ډېر وکړاوه او پای يې په ډېره بې رحمانه توګه وواژه.

رسول اللهﷺ د رومي واکمنو د دې غرور او تکبر ماتولو لپاره او د دې لپاره چې وښيي چې د کلیسا او ظالمانو تشدد بېله غچ اخیستلو نه پاتېږي د ۱۱هـ کال د صفري په میاشت کې یو ستر لښکر چمتو کړ او د حضرت اسامه بن زیدرضي الله عنه په قوماندانۍ يې د بلقاء سیمي ته ولېږی. (دمخه مو وویل چې د موته په جګړه کې د اسامه پلار زید شهید سو). دغه لښکر له مدینې څخه د یوه میل په واټن جرف نومي ځای ته ورسېد چې د رسولﷺ د ناروغۍ حال ورغی.

ځنګه چي حضرت اسامهﷺ د رسولﷺ د پوښتني لپاره بېرته مديني ته راغـی د دغه لښکر سفر وځنډېدی. حضرت رسول مقبولﷺ د دغه کال د لومړۍ خـور پر دوولسمه وفات سو او مسلمانان د هغه مبـارک د وفـات پـه ويـر، تجهيـز او تکفين او د خليفه په ټاکلو اخته سول.

## د حضرت ابو بکر صدیقؓ له وختو څخه د سترو فتوحاتو پیلېده

کله چي حضرت ابوبکر صدیقؓ د مسلمانانو د خلیفه په توګه وټاکل سو مسلمانانو ته ډېري ستونزي او خطرات متوجه وه. تر ټولو ستر ویر د رسول اللهﷺ د وفات وو. پر دې سربېره په مدینه منوره کي د منافقانو ډله هم فعاله وه. د دغي ډلي چي وس رسېدی مسلمانانو ته یې تاوان رساوه. له بله پلوه په عربو کي د زکات نه ورکولو،ارتداد او دروغجنو پیغمبرانو وبا خپره سوه. په دغسي نامساعدو حالاتو کي حضرت ابوبکر صدیقؓ تر ټولو ضرور او مناسبه وګڼل چي تر ټولو لومړی د رسول اللهﷺ د امر د ترسره کولو او د معان د مسلمان سوي والي د وژلو د غچ اخیستلو لپاره د رومیانو مقابلې ته ورودانګي. هغه اسامهؓ د ۱۱هـ.کال په لومړی خور (ربیع الاول) د رومیانو مقابلې ته واستاوه. دغه لښکر د روم د پوځیانو سره په مخامخ کېدو سره ډېر پوځیان ووژل او تر شدیدي جګړې وروسته دښمن تېښته وکړه. په دې توګه اسلامي پوځ د رومیانو تر سخت ترټلو او ېرولو وروسته بېله څه تلفاتو بېرته مدینې ته راستون سو. ورپسې لوی څښتن مسلمانان د مرتدینو، دروغجنو پیغمبرانو او مخالفینو پر ځپلو او اېلولو او اسلام ته پر بېرته را اړولو هم بریالي کړل.

بیا چي ابوبکر صدیقؓ ته اطلاعات ورسېدل چي رومیان او ایرانیان د مسلمانانو سره جګړو ته چمتو کیږي، نو دې نتیجې ته ورسېدی چي د دې دواړو کفري زبرځواکونو سره اساسي ډغري وهل لازمي باله سي. هغه له ستر همت او مړاني کاراخیست او په یوه وخت کي یې د هغه مهال د دې دواړو زبرځواکونو پر خلاف جهاد پیل کړ، چي بالاخره لوی څښتن مسلمانانو ته د ایراني او رومي کفارو په وړاندي ستر او تاریخي بري په برخه کړل.

د حضرت ابوبکر صدیقؓ د حکومت په زمانه کي (له ٦٣٢ ع. څخه تر ٦٣٤ ع.کال پوري) په اساسي توګه د عربو تر اورشو د باندي فتوحات پیل سول او بیا دغه فتوحات حضرت عمرؓ تعقیب کړل، چي په دې توګه

اسلامي ځواکونو په ۲٤ کالو کې د فارس ټول هیواد (اوسنی ایران، عراق، افغانستان او بلوچستان) د اسلام د واکمنۍ برخه کړ. په بل محاذ کې یې په اووه کاله کي شام او فلسطین له عېسوي نړۍ څخه بېل کړل. په ٦٤١ ع.کال یې ټول مصر د روم د ټولواکمنۍ له لاسه وایست.

بیا د حضرت عثمانؓ د حکومت په وروستیو ورځو کي په فتوحاتو کې د څه مهال لپاره ځنډ راغی ځکه چې د هغه تر شهادت وروسته اسلامي نړۍ په خپل منځي شخړو اخته سوه. بیا چې اموي دور پېل سو اسلامي فتوحات له سره پیل سول. د حضرت معاویهؓ د حکومت په زمانه کې (له ٦٦١ ع. څخه تر ٦٨٠ ع.کال پوري) د شمالي افریقې بر بر حکومتونه فتح او په اسلامي واکمنۍ پوري وتړل سول. چې په پایله کي عېسوي روم په افریقا کي له خپلو ټولو مستعمرو څخه بې برخي سو.

له یوه پلوه د روم د ستراوکۍ مقبوضات یو په بل پسې د روم له لاسه وتل او له بله پلوه اسلامي پوځونه د روم د امپراتورۍ پلازمېني قسطنطنیې ته خزه سول. یوځل په ٥٠ ع.کال او بل ځل په ۹٥ ع.کال.

دلته د ویلو وړده چې د دې سترو فتوحاتو او بریو لاملونه د لوی څښتن اراده او نصرت او د لوی څښتن د دین سپېڅلی مقصد ووکوم چې تر ظلم لاندي او زورېدلو او ځپلو او د شرک، کفر او فحشاوو په تورتمونو کي د لاهو سوو او سره پاشلو او بې اتفاقو ولسونو ته یې د آزادۍ، له ظلمونو د ژغورني، د باطلو او د واکمنو او غولوونکو روحانیونو او مذهبي ټېکه دارانو لخوا د جوړو سوو او رامنځ ته سوو ډول ډول خدایانو له تعبد څخه د یوه خدای اطاعت او د دواړو جهانو د نېکمرغی او هوسایۍ زېری راوړ. دا د اسلام دحقانیت، داسلامي ورورولۍ، له زور زیاتي، جګړو، او کفر او شرک او بې عدالتیو څخه د ژغورني د دین برکت او خصوصیت وو چې کوم ځای ته به دا دین ورسېدی د جبارانو تر جبر او تعدی لاندي پرګنو به بېله مقاومته، بلکي د هغه په هرکلي او استقبال سره مننه او ملاتړ وکړ. ځوک چې به د اسلام په دین مشرف سو د ټولو انساني حقونو خاوند به سو او د مسلمانانو له واکمن او شتمن څخه نیولې تر یوه عادي انسانه به د ټولو سره برابر سو او د لوی او

متعال خدای په منلو او عبادت به یې زړه او سترګې روښانې سوې او ډاډه او مطمئن به سو او د مادي، چټې او بې خونده، بې هدفه او نتلې او ذلیل ژوند پر ځای به یې د خدای پر مځکه معنوي او د پت او عزت او د لوی څښتن د بنده او خلیفه په توګه انساني ارزښت لرونکی ژوند پیل کړ. د دغو لاملونو پر بنسټ وو چې اسلام به هر ځای ورسېدی پر طواغیتو او جبارانو او د کفر، شرک، باطلو او فساد او فحشا پر سردمدارانو به غالب او بریمن سو. که نه که عربو دا سپېڅلی دین نه وای منلی او هماغسې د جاهلیت د زمانې په شرک، کفر، شر، ورانیو، تربګنیو او جنګ جګړو اخته وای هیڅکله به دا د پردو تر ولکې لاندې، له علم او فرهنګ څخه بې برخې، د صحراوو شپانه او نیمه کډوال وګړي ان د خپلو ځانونو د ژغورلو او سمبالولو جوګه سوي نه وای.

## د اسپانیې فتح

د فتوحاتو کومه لړۍ چې د حضرت معاویهؓ په وختو کې د مسلمانانو لخوا پیل سوې وه، د عبدالملک بن مروان او ولید بن عبدالملک د حکومتونو په پېر کې (له ٧٠٥ م. څخه تر ٧١٥ م.کال پورې) د خورا زیات سترتوب پولې ته ورسېده.

د ولید بن عبدالملك په وختوکې د اسلام نامتو اتل موسی بن نصیر د افریقې د والي په توګه په قیروان کې اوسېدی. د الکامل في التاریخ په ٢/ ٣٣٤ مخ کې وایي چې د ده پلار نصیر د معاویه د ساتونکو مشر وو. کله چې معاویه صفین ته د حضرت عليؓ سره د جګړې لپاره وخوځېد نصیر له تلو څخه ډډه وکړه. معاویه ورته وویل ولې د علي د وژلو لپاره نه راسره ځې؟ هغه ورته وویل: زه د هغه چا په کفران کې ګډون نه درسره کوم چې تر تا په شکر ان غوره دی، کوم چې لوی څښتنﷻ دی. وایي چې معاویه هیڅ ورته ونه ویل.

د افریقې د لویې وچې مخامخ د اروپا په جنوب لوېدیزه برخه کې یوه ټاپووزمه ده چې اسپانیه (Spain) یا اندلس ورته وایي او د سمندر د لسو یا دوولسو میلو په اندازه اورشو یې (چې ډېر لږ واټن دی) له افریقې څخه بېلوي. د اوومې عیسوي پېړۍ په وروستیو کې د دې هیواد خلکو خورا تریخ

ژوند درلود. د هیواد نیم وګړي مریان وه او ژوند یې د څارویو تر ژوند ډېر بتر وو. د دوی په کار به د دوی بادارانو عیاشۍ کولې. مریي د خپل بادار له اجازې پرته واده نه سوای کولای او په ډېره وړه ګناه به د وژلو فیصله پر کېده. د ملك له منځنۍ تپۍ (طبقې) څخه درنې مالیې اخیستل کېدې. مځکې او جایدادونه د واکمنو او پادریانو وه. د واکمنو او پادریانو محلونه او خانقاوې په ښکلو نجونو پرې خانې ګرځېدلې وې. اخلاقې ورانې خپل اوج ته رسېدلې وه. د مذهبي لړکیو سره ډول ډول ظلمونه کېدل. لنډه داچې ناخوالې دونه ډېرې سوې وې چې مظلوم او مقهور رعایا د «تنګ آمد بجنګ آمد» حالت ته رسېدلي وه. چې کله کله به د ولس د بې وزلې تپۍ د سړو ساوو لوګي ان د فتنې او ورانیو لمبې سوې.

دغه مهال د اندلس واکمنو داسې یو دود درلود چې خپل نارینه او ښځینه اولادونه به یې د طلیطلې (Toledo) پاچایي محل ته لېږل. هلته به د لوی طاغوت په دربار کې لویېدل او چې لویېښت ته به ورسېدل یو بل ته به یې سره واده کول.

د مراکش په شمالي ساحل کې د سبته (Ceuta) [۱] نومي ملك یو والي یولیان (کاؤنټ جولین) نومېدی. ده هم خپله یوه ډېره ښکلې او د نازك اندام درلودونکې لور چې فلورنډا نومېده د دغه هیواد د ټولواك رذریق (راډرك؛ Roderick) په دربار کې د هغه هیواد د درباري او مذهبي زده کړې لپاره ورلېږلې وه. خو د دې هیواد دغه وروستی ټولواك تردې کچې بدکاره او عیاش سوی وو چې د دغې نجلۍ سره یې په زوره بد لمنې وکړه. د دې خبرې څخه لور پلار ته خبر ورکړ. څنګه چې یولیان یو معتبره واکمن سردار وو بد یې یووړه او د غچ اخیستلو په لټه کې سو. خپله لور یې په یوچل (د هغې د مور د

---

۱- سبته د مراکش پر شمالي ساحل باندې یوه اسپانوي مستعمره ده. اسپانیې هغه په ۱۵۸۰م.کال له پرتګالیانو څخه ونیول.دغه ځای چې یو آزاد بندر او پوځي چونۍ لري له هره پلوه د مراکش یوه برخه ده. خو اسپانیې د لوېدیزو هیوادونو په ملاتړ خپټه پر اچولې ده.

سختي ناروغۍ له امله کورته د څو ورځو تلو په پلمه) خپل کورته راوسته. وايي چي رذريق د خدای په امانۍ پر مهال هغو ته ډېر شته ور کړه او هيله يې ځني وکړه چي زه د ښکار لپاره څو ښو بازانو ته ضرورت لرم، ماته يې له هغه ځايه راواستوه. يوليان ورته وويل: «زه به داسي بازان در وليږم چي په خپل ژوند دي نه وي ليدلي».

هغه وو چي د ۹۰هـ کال په وروستيو کي د افريقې والي موسی بن نصير ته ورغی او هغه يې د اندلس نيولو ته وهڅاوه او د کومکونو ژمنه يې ورسره وکړه. هغه پخوا لا په دې فکر کي وو او له خدايه يې دغه ګړی غوښت. څو هلته اسلام خپور او حاکم سي. هغه وو چي د اسلام د خليفه وليد بن عبدالملك تر اجازې اخيستلو وروسته يې خپل يو جنرال چي طريف نومېدی د څلورو سوو تنو سرتېرو او سلو اسانو سره په څلورو بېړيو کي اندلس ته واستاوه. کله چي هغه په ۹۱هـ کال د بريو او غنايمو سره سالم راستون سو، بيا يې داسلام اتل جنرال طارق بن زياد په ۹۱هـ / ۷۱۰ م. کال په يوه روايت د اوو زرو او په بل روايت د شلو زرو لښکرو سره چي زيات يې بربر او نوي مسلمانان او لږ يې عرب وه، د اندلس د نيولو چاري ته وګوماری. (الکامل في التاريخ او تاريخ اندلس ۷۵ مخ) [1]. طارق چي کله د اندلس څنډې ته ورسېدی تر ټولو دمخه يې ټولي هغه بېړۍ چي خپل پوځونه يې پکښي ور رسولي وه وسوځلې او په دې توګه يې اسلامي پوځيانو ته له بري يا شهادت پرته بله لار پرې نه ښوول.

د جګړې په پايله کي رذريق د سمندر اوبو يووړ او د هغه زيات شمېر پوځيان يا د مسلمانانو تر تېغ تېر سول او يا په سمندر کي ډوب سول، او پای اندلس د اسلام لښکرو فتح کړ. دا د ۹۱هـ /۷۱۱ع. کال پېښه وه.

---

۱- د اندلس د سمندر د ختيزي غاړې هغه غرګوټی چي ترټولو د مخه د اسلام د سپېڅلو او اتلو مجاهدينو د پښو مچولو وياړ ور په برخه سو د (جبل الطارق) په نامه ونومول سو. دغه غرګوټی اوس هم په لږ بدلون (جبرالټر Gibraltar) بولي.

تاریخونه وایي چې د موسی پر طارق باندې د دې سترو سوبو له امله نیت بد سو او هغه ته یې ولیکل چې نور وړاندې تګ بس کړه. زه خپله درځم او د اندلس پاته ځایونه نیسم. خو طارق خپلو فتحو ته دوام ورکړ. چې له دې امله موسی پر وخښمېد او د هغه د سیاسي ژوند د پای ته رسولو په لټه کې سو. بیا دی هم په طارق پسې د اتلسو زرو تنو پوځیانو سره اندلس ته ورغی. موسی تر ډېرو سوبو وروسته د طارق سره مخامخ سو. طارق یې تهدید کړ، په درو یې وواهه، ان ځیني تاریخونه وایي چې بندي یې کړ او بیا یې بېرته خپلې دندې ته وګوماری. (د سیدیو تاریخ عرب،الکامل او نور)

بیا اسلامي پوځونه د موسی په مشرې په ډېرو جګړوکې تر برخې اخیستنې او د اندلس د زیاتو برخو تر مطیع کولو وروسته فرانسې ته ننوتل. ناغبون (Narbonne)، ماونټ ایوینون (Avignon) او د رون (Rhone) د کلا لوړون او قرقشونه یې فتح کړل.

اسلامي لښکرو د ټولې اروپا د نیولو او د اسلام په نور د هغې د روښانولو او د کفارو له کلیساوو څخه د باطل د آواز پر ځای د توحید دکلمې د اذان د پورته کولو لپاره داسي نخشه جوړه کړه چې: داروپا ډېره ښایسته مځکه به د مسلمانانو تر پښو لاندې کړي. د ستر پاپ د ناستون له کلیساوو څخه به د حق او «الله أکبر» آوازونه اوچت کړي. له هغه ځایه به ختیځ ته مخه کړي او د بېزنتین د سلطنت په پلازمېنه قسطنطنیه کې به د شام د پوځونو سره یوځای سي او د دغسې سترو فتوحاتو مبارکي به یوبل ته د باسفورس (Bosporus) پر غاړو ورکړي.

مسلمانانو په خپلو باطل راپرځوونکو تورو د دې نخشې رنګول پیل کړل او د فرانسې څو سرحدي ښارونه یې ونیول. خو له بده مرغه ناپوه او ظالم واکمن ولید بن عبدالملک موسی له نور وړاندې تګ څخه منع کړ. او دمشق ته د سمدستي ستنېدو فرمان یې ورواستاوه. (تاریخ اندلس ۹۱، ۱۱۲ او ۱۲۲ مخونه).له دې امله په ۷۱٤ م. کال په اروپا کې د مسلمانانو د وړاندې تګ سیلاب ودرېد. په اندلس کې عیسویانو خپل ځواکونه راغونډ کړل او د

اسلام په وړاندې یې مزاحمتونه روان وساتل چې پای د څو پېړیو په تېرېدو سره عېسوي ځواکونو اسلامي حکومت را وپرځاوه.

د اټلس فتوحات اسلامیه په ۲٦۹ مخ او د تاریخ اندلس په ۱۲۲ مخ کې وایي: «موسی او طارق د اندلس پر شمال لوېدیز کونج باندې ولکه نه کړه ټینګه. اسپانوي عېسویانو د پیلایو (Pelayo) په نامه یو سړی خپل لارښود وټاکی (۱۰۹هـ / ۷۲۷م.) هغه د اونیجا (Onega) پر غرنیو سیمو باندې ولکه ټینګه کړه بیا دغو خلکو د کواډونګا (Cava donga) غرونو ته پناه یو وړه. مسلمانانو له دوی څخه صرف نظر وکړ. پای دغه وګړي په اسپانیه کې د مسلمانانو پر ضد د مزاحمت د تحریک مخکښې سول. له مسلمانانو څخه د اسپانیې د بېرته اخیستلو دغه تحریک کرار کرار زور واخیست، لکه چې لومړی په شمال کې عېسویانو «لیون» بیرته ونیو. بیا د کلاګانو په سیمه کې د قشتالې مسیحي حکومت رامنځ ته سو، کوم چې بالاخره یې له اندلس څخه اسلام او مسلمانان وایستل».

که دغه مهال اسلامي پوځونو ته د اسلام د ناپامو او بد نیتو واکمنو ولید او د هغه ځای ناستي سلیمان لخوا مزاحمتونه نه وای ایجاد سوي او موقع ورکړه سوې وای چې خپل کفر ماتوونکي عملیات یې روان ساتلي وای او بشپړ کړي یې وای، نو نن به د اندلس تاریخ بل ډول وای او د دې ځای مسلمانان به د عېسوي کفارو د سختو ظلمونو او قساوتونو سره نه مخامخ کېدلای، بلکې د اروپا د هیوادونو نخشه به بل ډول لیدل کېدای.

تاریخونه لیکي: موسی په اندلس کې خپل زوی عبدالعزیز، په سبته، طنجه او د هغو په شاوخوا سیمو کې یې خپل بل زوی عبدالملک او په افریقا کې یې خپل مشر زوی عبدالله خپل ځای ناستي وټاکل او د طارق سره دمشق ته رهي سو. دوی لا دمشق ته نه وه رسېدلي چې ولید ناروغه سو. هغه موسی ته لیک واستاوه چې ژر راسه څو د امیرالمؤمنین له وروستي دیدن څخه بې برخي پاته نه سې. خو د هغه ورور سلیمان چې د تاج او تخت سمبالولو ته یې ځان چمتو کاوه موسی ته ولیکل چې سفر دي وځنډوه، څو ولید مړ سي او زه پر تخت کښېنم بیا راسه. موسی اریان پاته سو چې په کوم پیغام عمل وکړي. بیا

یې پرېکړه وکړه چې خپل عادي سفر ته ادامه ورکړي. کله چې دمشق ته ورسېدی ولید لا ژوندی وو او موسی ته یې تود هرکلی ووایه. څو ځلوېښت ورځې وروسته ولید مړ سو او سلیمان د واک پر ګدۍ کښېنستی. هغه موسی تهدید کړ، لمر ته یې ودراوه او بیا یې د حضرت عمر بن عبدالعزیزؒ په سپارښتنه په ضمانت خوشي کړ، خو له کاره یې ګوښه کړ. بیا یې موسی د خیانت په تور محاکمه کړ او درې لکه دیناره جرمانه یې پر را وایستل. موسی د خپلو ټولو املاکو په پلورلو یو لک دیناره برابر کړل او د نورو د موندلو لپاره اړ سو چې له نورو څخه یې په سوال واخلي، چې بیا د ځینو مخورو په سپارښتنه معاف سو. وروسته د ولید په امر د موسی زامن عبدالعزیز او عبدالله ووژل سول. وایي چې تر دې وروسته موسی د یوه مظلوم او بې وزلي کس په څېر ژوند کاوه، څو په ۹۷هـ کال د حج په لار کې وفات سو.

د طارق ژوند هم تر دې کچې په ورک نومۍ کې تېر سو چې تاریخ لیکونکو ته یې د مړینې کال هم نه دی معلوم. (د تاریخ اندلس له ۱۲۲، ۱۲۸ـ ۱۳٤ مخونو او النجوم الزاهرة او نورو څخه لنډون)

په هر صورت بیا هم مسلمانان ترنژدې اتو پېړیو پر اندلس په سترتوب او برم واکمن پاته سول. هغو پردې سربېره چې د هغه ځای خلك یې داسلامي عدل په پلې کولو له ټولو ناخوالو وژغورل او هوسا او آرام ژوند یې ورپه برخه کړ، دغه هیواد یې د هنرونو، پوهنو، فرهنګ او تمدن، سوداګرۍ، جنګي فنونو او وسلې جوړولو، ډول ډول ایجاداتو او ډېرو نورو پرمختیاوو او د نوم او شهرت لوړې پوړۍ ته ورساوه.

دا خبري د ټولو تاریخونو په اتفاق؛ په تواتر جوتې سوې دي. خو موږ د یوه فرانسوي تاریخ لیکونکي موسیو سیدیو خبري دلته یوازې د بېلګې په توګه رانقلوو، هغه وایي: «موسیٰ بن نصیر په هره چاره کې ډېر عدل کاوه چې له امله یې د اندلس داسې سمسورتیا او د خلکو یې داسې هوسایي په برخه سوه چې د هغه ځای د مخکنیو واکمنو [ګاتانو] په پېر کې یې هیڅ نه وه په برخه سوې» (تاریخ عرب ۲۱٤ مخ). بل ځای لیکي: «د اندلس عرب په علومو، فنونو، صنعت، حرفت او اخلاقو کې تر پرنګیانو ډېر ښه او لایق وه. هغوی

داسي کريم اوسخيان وګرځي وه چي د ځوانمردۍ په لار کي ترخپلوځانولا تېرېدل. داسي نه وه چي هغوی وحشيان وه او د خپلو ځانو په ارزښت نه پوهېدل، بلکي هغو د خپلو ځانو قدر هم ډېر ښه پېژندی» (تاريخ عرب ۳۲۰ مخ).

## پر فرانسه باندي وردانګل

کله چي عبدالرحمن بن عبدالله غافقي د اسپانيې امير وټاکل سو مسلمانانو د اسپانيې د دغه امير په مشرۍ د فرانسې د فتح کولو اراده وکړه. خو په ۷۳۱م.کال د اسپانيې د يوې سرحدي سيمي والي عثمان بن ابي نسعة الخثعمي د ډيوک آف ايکوټين لور په نکاح کړه. د هغه سره يې لاس يو کړ، د بغاوت رپې يې پورته کړ او خپلواک حکومت يې اعلان کړ. نو هغه وو چي د اسپانيې اموي واکمن امير عبدالرحمن الغافقي هغه په جګړه کي وواژه او وروسته يې د فرانسې د نيولو چاري ته پام واړاوه. د نژدې يو لک پوځيانو سره اکويتانيې ته ننوت. د ډوردون. (The Dordogne) سيند پر غاړه يې کاونټ آف ايکوټين (counts of Ecotine) ته سخته ماته ورکړه، بيا يې د فرانسې نامتو بندر بورډو (Bordeaux) فتح کړ. د ډيوک پاته لښکر يې پوپنا کړ. تر سيند ورتېر سول، پويټيرس (Poetries) ته ورسېدل. د شمال ختيزي او سهيلي فرانسې زياته برخه يې تر پښو لاندي کړه او بېرته اندلس ته ستانه سول.

څه مهال وروسته اسلامي پوځونه د غافقي په مشرۍ بيا د فرانسې پر لور وخوځېدل. د پايرينيز (Pyrenees) تر غره تېر سول، په فرانسه ننوتل، د ناغبون (Narbonne) تر نيولو وروسته يې باغدو (Bordeaux) فتح کړ. څنګه چي کاونټ آف ايکوټين د مسلمانانو مقابله نه سوای کولای، خپل پخواني حريف چارلس ته يې سر ټيټ کړ او د مرستي غوښتنه يې ځني وکړه. په داسي حال کي چي څه مهال دمخه د دوی ترمنځ سخته جګړه سوې وه، خو د مسلمانانو په وړاندي سره يو سول. که څه هم د فرانسې د پاچهۍ پر تخت څلورم تهيري ناست وو، خو د سلطنت واک اختيار د دغه نامتو اتل درباري چارلس سره وو. د ده سره د مسلمانانو د جګړې لپاره د نورو عېسوي

هیوادونو سرتېري هم یو ځای سول. کله چي اسلامي پوځونه طلوشه (Tours) ؛ د اوسني پاریس شاوخوا (ته ورسېدل. دواړه لښکر سره مخامخ سول. (۱۱٤هـ/ ۷۳۲م.کال) یوه اوونۍ یو د بل برید ته انتظار وه. پای غافقي برید پر وکړ، څو ورځي سختي جګړې رواني وې، لومړی مسلمانان غالب وه، خو په اوومه ورځ د جګړې په جریان کي پر غافقي د شالخوا برید وسو او د تېـي کېدو له امله په شهادت ورسېد. له دې امله اسلامي پوځونه د شپې د جګړې له ډګر څخه پر شا سول.

بله ورځ چارلس خپل پوځونه میدان ته کړه، خو څنګه چي اسلامي پوځ ونه لیدل سو، پوه سو چي اسلامي پوځونه له پرېکړوني جګړې پرته پر شا سوي دي.

لوېدیز تاریخ لیکونکي دغه جنګ ته تاریخي ارزښت ورکوي. دوی ګومان کوي چي د دې جګړې سره د اروپا د برخلیک پرېکړه وسوه او په فرانسه کي د مسلمانانو د حقیقي وړاندي تګ لـړی ودرول سوه. چارلس تر دې جګړې وروسته اتل وبلل سو او د Mortal (مارتول یا سخت انسان) خطاب ورکړه سو. خو عربو تاریخ لیکونکو دې جګړې ته ډېر ارزښت نه دی ورکړی. البته څنګه چي په دې جګړه کي ډېر مسلمانان شهیدان سول دغه ځای په «بلاط الشهداء» ونومول سو. (تاریخ اندلس۱/ ۱٦٤ـ ۱٦۸ مخونه).

په هرحال په ۸۳۲ ع.کال د رسولﷺ د وفات سل کاله پوره سول. په دې سلو کالو کي مسلمانانو یو داسي ستر هیواد رامنځ ته کړ چي له اسپانیې څخه تر چین پوري غځېدلی وو. د تاریخ پاڼي تر دغه مهاله پوري له دغسي پراخ هیواد څخه نه وې خبري.

## سمندري فتوحات

څنګه چي مسلمانانو شام او مصر تر خپلي ولکې لاندي راوستل او د لوېدیځ پر لور یې د افریقې په ټول ساحل کي د فتوحاتو لړۍ روانه کړې وه، نو په دې توګه ټول روم سمندرګی د دوی تر اغېز لاندي راغی. د روم سمندرګي پر اوبو باندي لومړی رومیانو واک درلود، خو اوس مسلمانان هم په دې اوبو

شریک وه او غالب ځواک باله سو. په پیل کې مسلمانانو د روم سمندرګي په څنډو کې د وچو سیمو دفاع کول، خو اوس هغو د دې سمندرګي د اوږده ساحل د دفاع لپاره د سمندري بېړيو جوړولو په تکل کې سول. تر دې وروسته چې مسلمانانو پر رومیانو باندې هرڅونه بریدونه کړي دي، په هغو کې یې سمندري بېړۍ استعمال کړي دي.

د حضرت عثمانﷺ د حکومت په وختو کې حضرت امیر معاویهﷺ د اسلامي سمندري ځواک بنسټ کښېښود. د بېړیو بېل بېل جوړښتونونه په اسکندریه او عکا کې رامنځ ته سوه او په اریانوونکې چټکتیا سره د مسلمانانو سمندري ځواک د دې وړتیا وموندل چې په۳۲هـ./ ٦٥۲م. کال یې پر اسکندریه باندې د رومي سمندري بېړۍ برید ناکامه کړ.

د مسلمانانو سمندري ځواک صرف په دوو کالو کې دونه ځواکمن سوی وو چې په ۳٤هـ./ ٦٥٤م. کال د فونیکس یا فنیقې (Phoenix / Finke) پر څنډه لیقیه (Lycian Coast) کې د بصر بن ارطات، په بل روایت د عبدالله بن سعد بن ابي سرح په مشرۍ د «ذات الصواري» په نامه سمندري جګړه د روم (د مدیترانې) په سمندرګي کې د روم د سمندري پوځیانو سره وسوه. مسلمانان په دوو سوو بېړیو کې سپاره وه، خو.د رومیانو د بېړیو شمېر د هغو د ستري سمندري بېړۍ په شمول له ۵۰۰ څخه تر ۷۰۰ پوري اټکل سوی دی.

په دې جګړه کې د رومیانو ټولواکمن کنسټنټاین (د هرقل زوی) په خپله د رومي بېړیو قوماندانۍ پر غاړه اخیستې وه. د عربو سمندري بېړیو د رومیانو د سمندري بېړۍ پنځه سوه وړې بېړۍ له منځه یووړې، رومیانو ته د جنګ هیڅ فرصت په لاس ورنه غی. ټولواکمن په ډېر تکلیف په تېښته بریالی سو او ځان یې وژغوری. په دې توګه دغه لومړۍ سمندري جګړه د یرموک دوهم جنګ جوت سو، د بېزنټین سمندري ځواک یې پاش پاش کړ او پر روم سمندر باندې یې د رومیانو اته سوه کلن تسلط ته خاتمه ورکړه. (اسلام، پیغمبر اسلام ۸۹مخ اواټلس فتوحات اسلامیه ۲۷۵ مخ).

## د روم د سمندر ټاپوګان:

د دې جګړې په پایله کې د روم سمندرګي په ختیځ او لوېدیځ کې ټول واړه او لوی ټاپوګان یو په بل پسې د مسلمانانو تر ولکې لاندي راغله. د قبرص ټاپو د حضرت امیر معاویهؓ د حکومت په پېر کې په ۳۳هـ./ ۶۵۳م.کال فتح سو. روډس په ۵۲هـ./ ۶۷۲م.کال فتح سو. په عباسي پېر کې پر اقریطش) کریټ؛ (Crete باندي له ۲۱۲هـ./۸۲۷ ع.کال څخه تر۳۵۰هـ./ ۹۶۱ع.کال پوري عربي امارت ټینګ سو. پر صقلیه (سیسلي) باندي بنو اغلبو له ۲۱۲هـ / ۸۲۷ع. کال څخه بریدونه پیل کړل او تر۲۱۳هـ / ۸۲۸ع.کال پوري ټول ټاپو د اسلام تر ولکه لاندي راغی. د دې ځای د نیولو کار نامتو عالم قاضي اسد بن فراتؒ ته وسپارل سو. هغه د لسو زرو سرتېرو سره چې زیات یې خراسانیان او لږ یې بربر او اندلسیان وه د یونیم لکو رومي منظمو پوځیانو سره وجنګېد او صقلیه یې فتح کړه. دغه اتل قاضي چې خپله هم خراساني وو وروسته هلته په یوه جګړه کي شهید سو. (اسلام، پیغمبر اسلام۸۹مخ، تاریخ ملت ۳/ ۲۰۸مخ، اټلس فتوحات اسلامیه۳۰۰مخ او العرب في صقلية ۱/ ۳۲مخ).

بیا له دغه ټاپو څخه اسلامي پوځونو پر ایټالیه باندي بریدونه پیل کړل. په یوولسمه عېسوي پېړۍ کي د ایټالیې په اپولیا کي دوه اسلامي امارتونه د لنډ وخت لپاره جوړ سول. د عربو تر بریدونو لاندي نه یوازي سهیلي ایټالیه او نیپلز (اوس د ایټالیې د کیمپانیا د ایالت مرکز) راغلي وه، بلکي پخپله روم هم په ۸۴۶ع.کال د دوی تر بریدونو لاندي راغی. د روم د سمندرګي دوه نور ټاپوګان سارډینیا او کارسیکا هم دغه مهال فتح سول. په ۲۵۶هـ./ ۸۶۹م.کال مالټا هم فتح سوه.

له اوسنیو څېړنو څخه جوته سوې ده چې په یونان کي هم مسلمانان تر ډېره مهاله واکمن پاته سوي دي. د مایلز د څېړنو سره سم د یونان په بېلو بېلو ښارونو کي، لکه اټیکا (Attica)، کورینت (Corinth) او آتن (Athens) کي د عربو د مستقل اوسېدو نخښې او آثار تر لاسه سوي دي. قسطنطنیې ته نږدې د باسفورس پر څنډه باندي هم د یوه مسجد آثار پیدا سوي دي.

په دې توګه تر لسمې عېسوي پېړۍ پورې نيمه عېسوي نړۍ د مسلمانو فاتحينو تر واک لاندې راغله. پر روم سمندرګي باندې چې تر اوومې عېسوي پېړۍ پورې يوازې رومي رېې رېږدې اوس د مسلمانانو تر ولکه لاندې راغلی وو. پر دې سمندرګي باندې د مسلمانانو ولکې د عېسويانو تسلط ته خاتمه ورکړه. د عېسوي ځواکونو تګ راتګ يوازې په ساحلونو کې محدود پاته سو. (اسلام، پيغمبر اسلام۸۹مخ، د Miles G.C.;The Circulation of Islamic Coinage from 8th Century in Greece, Vol II, pp.485-498 او نورو په حواله).

د يادونې وړ ده چې د لنډون په پام کې نيولو سره د ډېر شمېر هغو کوچنيو ټاپوګانو په هکله چې د مسلمانانو لخوا په بېلو بېلو وختونو کې فتح سوي دي له يادونو څخه تېر سوو.

## د اسلامي فتوحاتو بل پېر

په اوومه او اتمه عېسوي پېړۍ کې چې د اسلامي فتوحاتو څخه عېسويان د کوم کړکېچ سره مخامخ سول، تر لسمې عېسوي پېړۍ وروسته يې له هغه څخه د ژغورنې هڅې پيل کړې او د خپلو له لاسه تللو سيمو د بېرته تر لاسه کولو کوښښ يې وکړ. تر اوسه لا د ځواک په توازن کې څه بدلون نه وو راغلی چې په اسلامي نړۍ کې نوي بدلونونه رامنځ ته سول. د مرکزي آسيا ترک او تاتار قومونه په اسلام مشرف سول. په يوولسمه عېسوي پېړۍ کې (په ۱۰۲۹ع.کال) د تاتاريانو يوې قبيلې (سلجوقيانو) پر خراسان او ايران هجوم وروړ. د غز قبيلې دغه ټولې سيمې يې لاندې کړې. په ۱۰۵۵ع.کال د دغه قوم يوه سردار طغرل بيګ سلجوقي پر بغداد ولکه ټينګه کړه. ورپسې يې په پنځلسو کالو کې اناطوليه تسخير کړه. په دې توګه د اسلام پخوانی قدرت د اتلو جګړنو د دين په توګه د ترک او تاتار قومونو په مټ نوې سا واخيسته. له سلجوقيانو څخه بېزنتين او فاطميان دواړه وبېربدل. ګډې بېرې دواړه دفاعي ټرون ته اړايستل. دغه ټرون په ۱۰۷۱ع.کال لاسليک سو.

بېزنتیني ټولـواکمن د سـلجوقیانو د خطـرې د لیـري کولـو لپـاره، د عباسـي خلافت له بې واکۍ او د سلجوقیانو او فاطمیانو له شخړو څخه ګټه اوچته کړه پر مسلمانه آرمینیا او ډېرو نورو ځایونو باندي يې بریدونـه وکـړه. خـو سـلطان الپ ارسلان په۴۶۳هـ / ۱۰۷۱ع. کال بېزنتیني پوځونو ته په ملاذ ګـرد (منـزي کرت Manzikert) نومي ځای کي له عبرته ډکه او شـرموونکې ماتـه ورکـړه. د بیزنتین امپراتور رومانوس دیوجانس چي د بیزنتین یو پوځي لاربنود وو د الپ ارسلان لخوا ونیول سو او بیا د دغي واکمنۍ ډېرو سترو مسیحي ښارونو، لکه انطـاکیې او نیقیـې (Nicaea) تـه ورسـېدل او تـرك واکمـن قلـج ارسـلان بـن سـلیمان پـه نیقیـه (اوسـني ازنیـق) کـي د روم د سـلطان پـه نامـه پـر تخـت کښېنوست. (بیا نیقیه په ۴۹۰هـ /۱۰۹۷ع. کـال د لـومړۍ صـلیبي جګـړې پـه پیلېدو سـره د قلـیج ارسـلان لـه لاسـه ووتـل، صـلیبیانو نـه، بلکـي د بېـزنتین د امپراتـور پوځیـانو اشـغال کـړه او قلـیج ارسـلان قـونیې تـه چـي پـه ۴۷۷هــ / ۱۰۸۴ع. کال يې فتح کړې وه پر شـا سـو او هغـه یـې خپلـه پلازمېنـه وټاکـل) دغي ماتي عېسوي نړۍ له کوچنۍ آسیا[1] څخه د تل لپـاره بـې برخـي کـړل. د کوچنۍ آسیا تر نیولـو وروسـته د یونـان لـه لـوري پـه اروپـا کـي د مسـلمانانو د وړاندي تګ امکانات پیدا سول. د ملاذګرد په جګړه کي مـاتي ختیـزه عېسـوي نړۍ سخته وبېرول. پر دې سر بېره پـه ۱۰۸۱ع.کـال مسـلمانانو پـر قسـطنطنیه باندي بریـد وکـړ. لـه دې املـه بېـزنتین واکمنـو لـه ډېـري ناچـارۍ څخـه خپـل پخواني رقیب لوېدیځ خپلي مرستي ته ور وباله.

بېزنتینـي ټولـواکمن «الکسـیوس کومـان، Alexis Comnène یـا Alexius Comnenus» د رومن کاتولیك کلیسا پاپ «دوهم اوربـانوس،Urban II» څخـه مرسته وغوښته. څنګه چي د غـه مهـال لوېـدیځ د اوس پـه خـلاف پـه لـوږه او افلاس اخته وو. خو ختیځ په عمومي توګه او اسلامي ټولنـه پـه ځـانګړې توګـه ډېره سوکاله او شتمنه وه، او څنګه چي دکلیسا د ظـاهري مـذهبي بنسـټونو تـر شا مادیات پالني او د نـس او نفـس غوښـتنو او د واکمنیـو ترلاسـه کولـو اغېـز

---

۱- آسیاي صغیر؛ د اوسنۍ ترکیې د آسیایي برخي پخوانی نوم.

درلود، نو دغو نقطو اروپايان، په زياته په کليسا پورې تړلي وګړي وهڅول چې خپلو عېسوي تعليماتو ته شا کړي او دې سياسي او مادي ضرورتونو ته مذهبي عنصر ورکړي. پاپ د دغو موخو د تحقق او د عېسوي نړۍ د پاينښت لپاره د کوچنۍ آسيا بېرته نيونه لازمي وبلل او د صليبي جګړو اعلان يې وکړ. دغو صليبي جګړو په اروپا کې د اسلام وړاندې تګ د څو پېړيو لپاره وځنډاوه. (اسلام، پيغمبر اسلام۸۹ او ورپسې مخونه، د Sir John Glubb;The Lost Centuries,p.27 په حواله او ځيني نور ماخذونه).

# د عثماني ستري واکمنۍ په ټينګېدوسره د اسلامي فتوحاتو بيا پيلېدل

د ديارلسمي عېسوي پېړۍ په پای کي د بېزنتيني پولو سره د اناطوليې په سيمه کي ترکانو د عثمان بن ارطغرل په مشرۍ د سلطان علاوالدين کيقباد سلجوقي په مرسته يو کوچنی حکومت جوړ کړ. بياچي سلطان علاوالدين مړ سو عثمان د پاچهۍ پر تخت کښېنوست او د عثماني پياوړي امپراتورۍ بنسټ يې کښېښود.

## ترکان، بېزنتين او اروپا:

عثماني واکمنو اسلام او مدنيت ته ستر خدمتونه وکړل. د انسانانو د دې او هغې دنيا د نېکمرغۍ او د مسلمانانو د سوکالۍ او د هغو د سرلوړۍ او وياړونو د خوندي کولو او د هغو د دښمنانو د غلي کېدو لپاره يې نه هېرېدونکي هلي ځلي وکړې. هغو خپله اسلامي ستروا کي د نړۍ بېلو بېلو خواوو ته پراخه کړه. دغه سلطنت په لوېديځ کي د ډينيوب (Danube) تر سينده، په ختيځ کي د فارس تر خليجه، په شمال کي د اوکراين د ازوف تر سمندرګي او په سهيل کي تر حبشې پوري وغځېدی.

په اروپا کي د عثمانيانو بري د اسلام د هغولومړنيو فتحو تسلسل بلل کيږي چي د راشده خلفاوو په پېر او تر هغه وروسته پېر کي تر سره سوي وې. عثماني اسلامي پوځونو په سهيل ختيزه او منځنۍ اروپا کي تر ډېرو ليرو ځايونو مسيحي هيوادونه ونيول او په دغو هيوادونو کي يې اسلام په ستر شان او شوکت خپور کړ او وده يې ورکړه.

په څوارلسمه عېسوي پېړۍ کي لومړی پر بېزنتين ستروا کۍ باندي د ترکانو فشار زيات سو. د بېزنتين پر بېلو بېلو سيمو باندي ترکانو ولکه ټينګول پيل کړل. هغو د ډېرو کوچنيو ښارونو پر نيولو سر بېره په۷۲۶هـ /۱۳۲۶م. کال

بروسا (Bursa) او په ۱۳۳۰ع.کال نکوميډيا (Nicomedia) (ازميت) او نيقيه ونيول. سلطان مراد په۷٦۳هـ / ۱۳٦۲م.کال ادرنـه) ادريانوپـل؛ (Adrianople فتح کړ او د غه ښار يې چي تر قسطنطنيې وروسته دوهم مهم ښـار بالـه سـو د خپــل هيــواد پلازمېنــه وګرځــول. پــه ۱۳٦٤م.کــال يــې فلپوپــولس (Philippopolis) اوس د بلغـاريې اړونـد پلوفـديف؛ (Plovdiv) فـتح کـړ. پـه ۱۳۷۱ع.کال يې صرب قـوم تـه ماتـه ورکـړه، مقـدونيې تـه يـې پـه فرارولـو اړ ايسـتل، بيـا يـې مقدونيـه او د ډلماسـيا سـاحل ونيـول. پـه ۱۳۸۱ع.کـال يـې مناسـتر، برلبـه او اسـتيب ونيـول او بيـا يـې تـر دورکـالو کلابنـدۍ وروسـته د بلغـاريې پلازمېنـه صـوفيه را وپرځـول. (دغـه کلابنـدي لـه ۷۸۳ تـر ۷۸۵هـ/ ۱۳۸۱ تر ۱۳۸۳م.روانه وه).

د دغـه سـلطان پـه وختـو کـي د مسـلمانانو فتوحـاتو د هغـو پـه وړانـدي د مسيحي طواغيتو او کليساوالو سـخته دښـمني راوپـارول. هغـو د دې پـر ځـای چي د اسلام رشتياني ديـن تـه غـاړه کښـېږدي، د پرلـه پسـې صـليبي جګړو، د پوځونو د غونډولو او د تاوتريخوالي د لمني پراخولو ته يې لاس واچـاوه. لکـه چي د لومړي ځل لپاره د قسطنطنيې او لوېديزي اروپا د واکمنو او پـاپ پـنځم اوربانوس په ګډو هلو ځلو د اروپايي، بالکاني، صليبي ځواکونـو اتحـاد رامـنځ ته سو او صرب، بلغاريايي، مجاري ځواکونه او د سهيلي رومانيې د افـلاق (د سهيلي رومانيې «ولاچيا» يا «والاکيـا»؛ (Walachia) د سـيمو اوسـېدونکي پـه يوه صليبي اتحاديه کي سره يوځای سول. د دغو دولتونـو دونـه سـتر ځواکونـه غونډ سول چي شـمېره يـې تـر شـپېتو زرو تنـو پوځيـانو ورسـېدل او د عثمـاني واکمنۍ د پلازمېني پر لور وخوځېدل. د دې ستر ځواک سـره د عثمانيـانو ډېـر لږ پوځ تشيرمن نومي ځای ته نژدې د ماريتسـا د سـيند پـر غـاړه مخـامخ سـو. ډېره ستره مرګ ژوبله رامنځ ته سوه. د صليبي اتحاد د ځواکونو نظـامي اړيکـي وراني سوې. دوه صرب قوماندانان د تېښتي په حال کي په سيند لاهو سـول. د مجارستان پاچا په ډېر تکليف وژغورل سو. عثمانيـان د سـترو سـوبو پـه پايلـه کي د بلغاريې تر سهيل او د صربستان تر ختيځه ورسېدل. او اسلامي پوځونـو پرله پسې د بېزنتين، بلغاريې او صربستان پر ښارونو بريدونـه کـول او د منـي د

بلګونو غونډي يې رژول. (دولت عثماني از اقتدار تـا انحـلال۳۸مـخ او اټلس فتوحات اسلاميه ۳۱۹مخ).

لږ مهال وروسته په ۷۹۰هـ/ ۱۳۸۷م.کال عثمانيان د يـوه بـل نـوي بالکـاني صليبي اتحاد د دوو سـوو زرو پوځيـانو د سـختي حملې سـره پـه کوسـوو کـي خامخ سول. په دې جګړه کي هم عثمانيان بريـالي سـول، خـو د سـختو تلفـاتو په زغملو سره.

تاريخونه وايي چي تر بري وروسـته سـلطان مـراد د جګـړې پـه ډګـر کـي د جګړې د پايلو د څېړلو پر مهال د يوه ټپي صـرب پـوځي لخـواچي ځـان يـې د صربسـتان لـه پاچـا څخـه يـاغي ځرګنـداوه او د سـلطان مـراد سـره د ملاقـات غوښتنه يې کول، په خنجر ووهل سو او شهيد سو.

پـه داسـي حـال کـي چـي د عثمـاني دولـت پـر ضـد د عېسـوي واکمنـو او کليساوالو صليبي جګړو او تېريو يو په بل پسې دوام درلود د مـراد زوی غـازي بايزيد يلدرم (له ۱۳۸۹ع.کال څخه تر ۱٤۰۳ع.کال پـوري) بوسـنيا، ولاچيـا، بلغاريه، او سالونيکا (Salonica) فتح کړل. په دې وختو کي د بلغاريې د پاچـا زوی اسلام ومانه او د بايزيد لخـوا د سيمسـن (Samun) والـي وټاکـل سـو. د اسلام د دې سترو بريو او په اروپا کي په ډېره چټکۍ سره د هغـه د خپرېـدو لـه امله اروپايي طواغيتو خپلي ګټي په خطر کي وليدلې. ځکه نو د سـربيا واکمنـو د ډيوک آف برکنډي (ختيز ي فرانسې)، اتـريش او بويريـا (سـهيلي جرمنـي) د پاچهانو او سينټ جان سره صليبي تړون لاسليک کـړ او ګـډو پوځـونـو يـې پـه ۷۹۸هـ/ ۱۳۹٦م.کال د نکوپولس په محاصره کولو سره د عثماني لښکرو سره جګړې ته ورودانګل، خو بيا هم فتح د عثماني لښـکرو وه. ډيـوک آف برکنـډي او د هغه ډېر نور قوماندانان او کاونټ دي نوار د مسلمانانو پـه لاس کښـېوتل. هغو ژمنه وکړه چي بيـا بـه د عثمانيـانو سـره جګـړه نـه کـوي. ځکـه نـو بايزيـد هغوی خوشي کړل او کاونټ دي نوار ته يې وويل: «ګوره کاونتـه! تـه يـوه پـلا بيا زما جنګ ته راسه، ځو په دې جګړه کي د ماتي له شرمه خلاص سې. او پـه ياد ولره چي زه ستا له بېرته راتلو څخه نه بېرېږم. که زه ستا څخه ډارېدلای نـو نه مي خوشي کولې. ته هر وخت چي وغـواړې را تـلای سـې. تـه بـه مـا او زمـا

لښکر ستا په وړاندې ووینې. ځکه زه د دې لپاره پیدا سوی یم چې صلیبي جګړه ماران زما سره وجنګیږي او زه هغوی مات کړم».

په دې توګه د څوارلسمي عېسوي پېړۍ تر پای ته رسېدو پوري ټول بالکان د ترکانو تر ولکه لاندې سو. صرف قسطنطنیه پاته سوه چې د خپلې کلابندۍ په سبب تر نوري نیمي پېړۍ پوري له فتح کېدو څخه وژغورل سوه.

کله چې ترکان د هنګري پر پولو ولاړ وه، لوېدیځ د خپلو صلیبي هلوځلو په دوام د خپلو واکمنیو، ګټو او شومو موخو د ساتلو لپاره خپل ځواکونه راغونډول او نهم پاپ بوني فیس د ترکانو پر ضد د نوو صلیبي جګړو د پیلولو لپاره تبلیغ پیل کړ. مغولو پر اسلامي نړۍ برید وکړ. د ګوډ تیمور پوځونه د سېلاب په څېر پر آسیا او ختیزه اروپا ور پرېوتل. له دې امله په اروپا کې د ترکانو وړاندي تګ ودرېد. بایزید یلدرم د قسطنطنیې کلابندي پرېښوول، کوچنۍ آسیا ته یې ځان ورساوه، څو د تیمور له یرغل څخه عثماني واکمني وژغوري. په ۱٤۰۳ م.کال په انقره کي مغول او ترکان سره مخامخ سول. په دې جګړه کي بایزید او د هغه زوی د تیمور په لاس ورغله او بایزید د هغه په بند کي مړسو.

بیا تیمور په ۱٤۰۵ع.کال ومړ. (اسلام، پیغمبر اسلام ۸۹مخ اواټلس فتوحات اسلامیه ۳۲۵ ـ ۲۲٦ مخونه).

د بایزید تر نیولو او وفات وروسته عثماني واکمني د څه مهال لپاره د کمزورۍ او ستونزو سره مخامخ سوه. بیا د بایزید زوی سلطان محمد چلپي بېرته پر پښو ودرول. هغه د عثماني پولو پر لور د هنګري او بوسنیا د واکمنو د وړاندي تګ پر ضد جهاد پیل کړ او د کروشیا په سیمه کي د خونړۍ جګړې په پایله کي عثمانیانو ډېر بري ترلاسه کړل. لکه چې د هرزګوینا واکمن د عثماني دولت مطیع سو. بیا په ۸۱۸هـ/ ۱٤۱۵م.کال عثمانیانو سرای بوسنه (سرایوو) فتح کړه. دغه راز یې په دغه کال ازمیر ونیو.په ۸۱۹هـ/ ۱٤۱٦م.کال سلطان محمد رومانیې ته مخه کړه او د هغې ډېري برخې یې ونیولې. بیا په ۸۲۰هـ/ ۱٤۱۷م.کال ټوله البانیه فتح سوه.

## د قسطنطنيې تاريخي او پرتمينه فتح او د بېزنتين له منځه تله

دوهم سلطان مراد (۱٤۲۱ـ ۱٤۵۱ ع.) بيا سالونيکا فتح کړه او چي پر بالکان باندي د ولکې د بيا ټينګولو لپاره اروپا ته ننووت، هلته د اروپا راغونډ سوي ځواکونه د مقابلې لپاره چمتو سوي وه. سلطان په ۱٤٤٤ع.کال د ورنه (Verna) په جګړه کي دغو ځواکونو ته پرېکړونې ماته ورکړه او پر بالکان باندي يې له سره ولکه ټينګه کړه. د قسطنطنيې را پرځېدل هم د نن او سبا خبره سوه.

لکه چي پوهېږو د قسطنطنيې ښار ډېر لرغوني، مهم او د بېزنتين د ستر واکۍ او مسيحيت د سترتوب ځرګندوی ښار وو. دغه ښار ستر کنستانتين په ۳۲٤م.کال د باسفورس پر غاړه د بېزانس د زاړه ښار پر ځای ودان کړ. له دې امله يې دغه ښار ته کنستانتينوپل (Constantinople)؛ د کنستانتين ښار ويل. چي عربو قسطنطنيه باله.

د سلطان مراد تر وفات وروسته چي د هغه زوی دوهم سلطان محمد د سلطنت واګي په لاس کي واخيستې د خپلو نيکونو د نيمګړي کار د بشپړولو او د هغو د هيلو د ترسره کولو لپاره يې وپتېيل چي د لوی څښتن ﷻ په مرسته به قسطنطنيه نيسي او د بېزنتين اوږدې (۱۱۰۰) کلني واکمنۍ ته به د پای ټکی ږدي. له بلي خوا يوولسم قسطنطين (Constantine XII Palaeologus)

له عېسوي نړۍ څخه د مرستي د ترلاسه کولو لپاره ومنل چي د يونان کليسا د روم د کليسا سره يوځای کړي. خو د دې سره سره له لوېديځ څخه لکه څنګه چي ښايېدل مرسته ورسره ونه سوه.

سلطان محمد د قسطنطنيې د فتح کولو لپاره ډېر ښه تدابير ونيول. د سلو زرو تنو پياوړی پوځ او سل بېړۍ يې چمتو کړې. قسطنطنيه يې د سمندر او وچي لخوا محاصره کړه. تر يوې مياشتي کلابندۍ او بيا د ښار په دننه کي د تن په تن جګړې وروسته يوولسم کنستانتين چي د دفاع لارښوونه يې پر غاړه لرل ووژل سو او پای مسلمانانو د ۷۵۷هـ د دريمې خور پر شلمه د ۱٤۵۳م.کال د می پر ۲۹مه قسطنطنيه په ستر شان او شوکت سره فتح کړه او په دې توګه د روم د امپراتورۍ ورستۍ نخښه پوپنا سوه. نور نه بېزنتين

ستر واکي وه او نه بېزنتين طواغيت. سلطان محمد عثماني پر آس سپور د آيا سوفيې کليسا ته ننووت او کله چې يې له هغې څخه د باطل مسيحيت ټولي نخښې ليرې کړې د آيا سوفيې د جامع جومات نوم يې پر کښېښود، د برياليتوب لمونځ يې پکښې وکړ او د تکبير آوازونه ځني پورته سول. دغه راز د قسطنطنيې ښار هم اسلامبول (د اسلام ښار) ونومول سو او د عثماني دولت پلازمېنه سوه.

کله چې قسطنطنيه را وپرځېدل اروپايي هيوادونو ستر خطر احساس کړ او پاپ شخصاً د سلطان محمد فاتح پر ضد د اروپايي پوځونو قومانده پر غاړه واخيسته. عثماني واکمني يې هم په وړاندي کلکه ودرېده. لوېديزو کفارو ته يې غاښ ماتوونکي جوابونه او ملا ماتوونکي ګوزارونه ورکړه. نوره هم په برم او سترتوب په اروپا کي پر مخ ولاړه، ستري او تاريخي سوبې يې وکړې. ډېر عېسوي هيوادونه او سيمي يې د اسلام په رڼا روښاني کړې او د اسلام د مقدس دين په خپرولو او دودولو سره يې د خسير الدنيا والآخره انسانانو د دې او هغې دنيا د نېکمرغۍ اسباب برابر کړل. دلته د دې وياړلي اسلامي ستر واکۍ د ټولو برياوو او فتوحاتو او د لوېديزيانو د شيطنتونو، خباثتونو او ډول ډول توطئو په باب خبري د کتاب د ډېر اوږدېدو لامل کيږي ځکه مو په همدغونه څرګندونو بسنه وکړه.

## قبچاق سلطنت او د ماسکو فتح

د چنګيز لمسيانو باتوخان، برکا خان او د دوی اسلافو چي پر لوېديز قبچاق دښت يې واکمني درلوده روسيه، بلغاريه، او ځيني نور ځايونه د روس تر شمال ختيځ پوري فتح کړه او هلته يې يوه پياوړې واکمني ټينګه کړه، چي پلازمېنه يې د ولګا پر غاړه د سَرای په نامه ښار وو. (له ٦٢١ تر ٩٠٧ هـ د ١٣٢٤ تر ١٥٠٢ع.سره سم) دغو واکمنو ته په تاريخونو کي د سير اردو خانان (د زريني اردو درلودونکي واکمن) وايي او روسانو او لوېديزيانو د ګولډن هورډ (Golden Horde) نوم ورکړی دی. د څوارلسمي عېسوي پېړۍ په لومړيو کي دغو مغولو واکمنو اسلام ومانه او په دې توګه پر ټوله ختيزه

عېسوي نړۍ اسلام غالب سو. پر بازنتیني سلطنت باندي د ولکې ټینګولو او پر قبچاق سلطنت باندي د اسلام د غلبې له برکته د روم د ټولواکمنۍ له څلورو برخو څخه درې برخې د عېسویت له ولکې ووتلې او د اسلام په مقدس دین روښاني سولې. (اسلام، پیغمبر اسلام۸۹مخ، د Lewis Bernard; The Legacy of Islam او Henry Pirenne; A History of Europe,p.48 په حواله، طبقات سلاطین اسلام ۱۹۸ مخ او طبقات ناصري۲/ ۲۱۸مخ).

د اټلس فتوحات اسلامیه په ۳۸٦ مخ کي د «د ماسکو د فتحې» تر سرلیک لاندي داسي وایي:

د تاتاري واکمنو ګرائي کورنۍ له پنځلسمي تر اتلسمي میلادي پېړۍ پوري د کریمیا پر ټاپووزمه (او د اوکراین پر ستره برخه) حکومت کاوه. د دې واکمنۍ بنسټ ایښوونکی د آلتون اردو یو شهزاده حاجي ګرائي بن غیاث الدین بن تاش تمور وو. د هغه یوه زوی منګلي نومي د ګرائي لقب غوره کړ. خو په ۸۸۰هـ/ ۱٤۷۵م.کال چي یې ترکانو ته د باج ورکول ومنل ګرائي واکمنو یوازي د «خان» په لقب بسنه وکړه.

د ۹۷۹هـ/ ۱۵۷۱م.کال په پسرلي کي د کریمیا د دغه ګرائي سلطنت واکمن (خان) د یولک شلوزرو پوځیانو سره روس ته مخه کړه. په دې لښکر کي عثماني پوځ او توپخانه هم وه. د دې لښکر کښې موخه داوه چي د ملکونو د لاندي کولو هوس د روسانو له سره وباسي. په دې جګړه کي اته زره روسان ووژل سول او پوځ یې تاش په تاشه سو. روسانو د ماسکو دفاع هم ونه کولای سوه او د ۹۷۹هـ کال د لوی اختر (ذوالحجې) د میاشتي پر ۲۷مه /د ۱۵۷۱م.کال د می پر ۲٤مه عثمانیان ماسکو ته ننوتل. د کریمیا خان له ماسکو څخه د پنځلسو زرو قیدیانو سره را وګرځېد. تر دې فتحې وروسته د هغه لقب «تخت آلان» یعني د تخت په لاس راوړونکی سو.

په ۹۸۰هـ/ ۱۵۷۲م.کال ګرائیانو پر روس باندي بل برید وکړ او د اوکا[1] تر سیند پوري ورسېدل. د دې فتحي پایله دا سوه چي د روسانو لخوا د کاله د شپېتو زرو طلایي لېرو باج ورکولو په منلو سره سوله وسوه. په دې جګړه کي د روس څار (تزار) څلورم ایوان د تاتاریانو د توپکونو د ډزو تاب رانه وړ، دېرش زره سپاره او شپږ زره پلي سرتېري یې ترشا پرېښوول، له ماسکو څخه وتښتېدی. د کریملین په ماڼۍ کي د څار خزانه د مسلمانانو لاس ته ورغله. (د کریملین لفظ ترکي دی) او د څار د مېرمني دوه وروڼه هم په دې جګړه کي ووژل سول. په دې توګه د روس «رُورِک» (Rurik) واکمنه کورنۍ د پوپنا کېدو تر پولي ورسېده. دوهم سلطان سلیم د دې فتحي له امله ګرائي واکمن ته مبارکي واستول او په مرصع توره، سوغاتونو او پاچایي فرمان سره یې وغتاوه.

د یادولو وړ ده چي اسلامي فتوحات ډېر پراخه دي او تفصیلات یې بېخي ډېر دي، خو موږ یې په لنده توګه یادونه وکړه.

## د عېسوي طاغوتیانو متقابل اقدامات

د اسلام له هماغه لمر راختو څخه چي هغو مستضعفو او مظلومو وګړو کوم چي د اسلام په برکت د عېسوي او نورو کفارو د پېړیو پېړیو ظلمونو څخه ژغورل سوي وه د اسلام رڼې او ډېوې را واخیستې او د نړۍ ګوټ ګوټ ته یې د دغو رڼاوو د خپرولو په لړ کي اروپا هم رڼا او روښانه کول او د اسلام مبارك دین یې ور رساوه. نو د دغه بهیر په بېلو بېلو پړاوو نو کي ډېر عېسویان او د نورو ادیانو پیروان، چي واکمنان، مذهبي اشخاص، ولسونه او افراد پکښې راځي د اسلام د حقانیت او د تحریف سوي او منسوخ سوي عېسویت او نورو دینونو د عدم حقانیت په درکولو سره او د ډول ډول ځناورانه ظلمونو او اسارتونو څخه د ځانونو د خلاصون په موخه د اسلام په مقدس دین مشرف سول او اسلام هره خوا خپور او پلی سو او د ډېرو ولسونو له پښو او

1- د روسیې د واګا سیند یو مرستیال دی چي د ماسکو په سهیلي اورشو کي بهېږي. د ماسکو سیند کولومنا ته نژدې په اوکا سیند ګډېږي.

ذهنونو او فکرونو څخه يې د ظلم، اسارت او د بنده د بنده ګۍ د پېړيو پېړيو زنځيرونه او زولنې ليري او ايسته وغورځولې.

څنګه چې د اسلام د دې سوبو له امله پر لوېديځ او نورو ځايونو باندي بېلابېل سياسي، مذهبي، فرهنګي اقتصادي او ټولنيز فشارونه راغله، نو د هغو په وړاندي د مځکي د مخ ټولو مادي او طاغوت پالو ځواکونو، په تېره د لوېديځ د بېلو بېلو برخو واکمنو، شتمنو او د دوی چوپړيانو کليساوالو شديد عکس العمل وښود. دغو ابليسيانو د اسلام پر مبارک دين دونه تورونه او بهتانونه وتپل چې پر بل هيڅ دين يې نه دي لګولي. دا ځکه چې نورو مذاهبو نه د لوېديځ سره ډغري وهلي دي او نه هغه ته د اسلام په شان خطرناک جوت سوي دي. ځکه نو لومړی بېره، بيا دښمني او تعصب هغه عناصر وه چې د اسلام په هکله يې لوېديز تصور او کړنلار وټاکل. اسلامي عقايد د دښمن عقايد وبلل سول، نو که ناسم نه وه، مشکوک خو نو هرومرو وه.

په پيل کي د ميرووونجين[۱] تر پېره دغه عکس العمل دونه تند نه وو. دغه راز د کارولنجين[۲] پېر په ليکنو کي د اسلام په نسبت د لوېديځ دوديز تريخوالی او کرکي نه ليدل کېږي. خو کله چې آل اغلبو سيسلي فتح کړه (۸۲۷ع. تر ۸۳۱ع. پوري) او پر ايټاليه يې بريدونه پيل کړل او هلته يې خپل امارتونه تاسيس کړل، په ۸٤٦ع. کال يې د عېسويانو مقدس ښار روم کلابند کړ او هغه ته نژدې يې يوه غرنۍ کلا ګاري ګليانو (Gary Galliano) خپل مرکز وټاکی، نو عېسوي واکمن اوکليساوال سخت پرېشانه سول. په ۸۷٥ع. کال چې عربو دوهم ځل پر روم بريد وکړ، نو د اسلام سره د لوېديزيانو او د هغو د واکمنو دښمني په حقيقي توګه پيل سوه. واکمنو او کليسا په پوهه او ارادي توګه د اسلام په خلاف تبليغات پيل کړل. لومړی دا کار د دفاع په موخه وو، خو څه مهال وروسته يې د تېري بڼه خپله کړه.

---

۱- Merovingian: هغه پاچايي کورنۍ چې بنسټ ايښوونکی يې کلووس نومی وو او اولادونو يې پر ګال (فرانسې)او جرمني باندي تر ۷٥۱ع. کال پوري حکومت وکړ.

۲- Carolingian: د فرانسوي پاچهانو لړۍ.

## طاغوتي پروپاګنډ:

لکه چې موږ پوهیږو د عیسوي مادي پالو واکمنو او د هغو د همږغو او چوپړوالو کلیساوالو د هغو تحریفونو له امله چې د دوی د ګټو، شهوتونو او زورزیاتیو د تامین او ساتلو په موخه په عیسوي دیانت کي وسول، عیسوي دین په ډېرو مواردو کي له خپلي اصلي بڼي څخه واوښت. په دې دین کي د لوی څښتن له اوامرو او د عیسیعلیه السلام له لارښوونو څخه ډېر لږ څه پاته سول. چې بالاخره یې منښت، اغېز او جذب یوازي د تبلیغاتو له امله سو. په کوم پېر کي چې اسلام مهذبي او متمدني سیمي په خپله رڼا روښانولې، په همدغه دور کي تحریف سوي عیسویت جرمن نیم وحشي او نامتمدن ولسونه د تبلیغ په زور عیسوي کول. دغه ولسونه د علم او فکر څخه پردي وه. په کومه چټکتیا چي دوی خپله پلرنۍ بت پالنه پرېښوول او کاتولیک مذهب یې ومانه له هغې څخه څرګندیږي چي هغوی له تبلیغ څخه په ډېره آسانۍ اغېزمن کېدل.

واکمن او کلیساوال د تبلیغ له ځواک څخه ښه خبر وه. همدا پروپاګند وو چي بابلي او آشوري پوځي تهذیبونه یې پوپنا کړل. پخپله د عیسوي ټولني رامنځ ته کېده او د لوېدیځ موجودیت د همدې پروپاګنډ له برکته دی. پروپاګنډ یوه جنګي وسله ده چي بې واکو او کمزورو ټولنو ته فرهنګي شعور بخښي او ځواک او مقاومت پکښي پیدا کوي.

عیسوي واکمنو او کلیسا د اسلام پر ضد د تبلیغ وسله په ډېره اغېزمنه توګه وکارول او د لوېدیزیانو، په هغو کي د ناپوهو او د مذهبي تعصب او لېونتوب په ناروغي اخته ساکښانو ذهنونه یې تر دې کچي متاثر کړل چي تر اوسه یې د اسلام مخالفت له ذهنونو څخه نه دی وتلی، بلکي په ډېره خشنه توګه ادامه ورکوي. په دې کار کي صحت او صداقت یا د علمي دیانت په نامه هیڅ شي وجود نه درلود. دا په حقیقت کي جنګي پروپاکنډ وو. چي د هغه په ذریعه یې د لوېدیزي ټولني ټیټې حوصلې د کرکو په وسیله را پارولې. دې پروپاګنډ ته یې دفاعي ځواک ورکړ، د هغه په مرسته یې لوېدیځ د تېري او تجاوز پر لار روان کړ او د دې تېري لپاره یې د لوېدیځ په عقایدو کي اوږد مهالي بدلونونه راوستل.

## د منحرف عېسويت په عقايدو کي ترميم او د جګړې عقيده:

د يوناني ثنويت (دوو خدايانو د منني) او وثنيت (بت پالني) تر اغېزي لاندي عېسوي واکمنو او کليسا د عېسويت له څرګندېدو څخه تر اتوسوو کالو پوري د نظرياتي دولت په هکله هيڅ تصور هم نه درلود. خو کله چي يې د اسلام سره اړيکي ټينګي سوې، په نهمه عېسوي پېړۍ کي يې د اسلام د نظرياتي هيواد په پيروي «د لوېديځ مسيحي جمهوريت» بنسټ کښېښود. عېسويت د تشدد نه کولو دين وو. تېري او تجاوز د دې دين د اصولو او تعليماتو سره منافات درلود او جنګ جګړه د دوی په دين کي ستره ګناه بلل کېده.

د عقيدې دغه بدلون او ترميم «د سپېڅلو جګړو» د په لار اچولو لپاره لومړۍ زينه وه. له دې څخه په عېسوي الهياتو کي د په اصطلاح سپېڅلو جګړو ور پرانيستل سو.لنډه دا چي مادي پالو واکمنو او کليسا لوېديځ ته د جګړې يوه اغېزمنه نظريه ورکړه، چي اغېزي يې ډېر ژر څرګندي سوې. په اسپانيه کي د مغلوبو عېسويانو د تعصب او لېونتوب غورځنګ را منځ ته سو. او په يوولسمه پېړۍ کي د پاپ په يوه ناره تر صليبي رپې لاندي پر ختيځ باندي ستر مصيبت راغی. د ختيځ له آسمانه د صليب وريځو په ټولېدو سره د مغولو ناتار اسلامي نړۍ ټوکر ټوکر کړه. د دې ناورين په را پاڅېدو کي هم عېسوي طاغوتيانو لاس درلود او بيا د عثماني اسلامي واکمنۍ پر ضد او ورپسې پر نورو هيوادونو باندي د تېري او ښکېلاک لپاره بېل بېل لوېديز صليبي ځواکونه لاس په کار سول او اوس دادی د دې صليبي وسله والو او فرهنګي تېريو او مظالمو مسؤوليت امريکې او د هغې نورو انډيوالانو پر غاړه اخيستی دی.

## په اسپانيه کي د اسلام پر ضد د کرکو تحريک:

په لوېديځ کي اسپانيه هغه ځای دی چي مسلمانانو اته سوه کاله حکومت پر وکړ. دلته په دې اوږده موده کي اسلامي او عېسوي فرهنګونه دواړه څنګ پر څنګ موجود وه. مسلمانانو دلته د خپل پاينښت لپاره کوښښونه کول، خو

عېسویانو تل دا هڅه کول چې مسلمانان له واکه را وپرځوي. لکه چې د عېسویانو د منځنیو پېړیو ملي اتل هغه څوک بلل کیږي چې په یو ډول نه یو ډول یې د مسلمان پایښت ته تاوان رسولی وي. په دې هکله د عېسویانو ډېر غوره اتلان سډ (Ei Cid)، رولینډ، شارلمین، الفانسو، فرډینینډ او د هغه مېرمن ازابیل دي.

دغه مهال په ځینو عېسوي واکمنیو کي مسلمانان هم اوسېدل، د عېسوي واکمنو لخوا به کوښښ کېدی چې د دوی د فرهنګ مستقل حیثیت ختم کړي. خو د دې په خلاف په اسلامي سلطنت کي عېسویانو بشپړه مذهبي، ټولنیزه او اقتصادي آزادي درلوده. اما څنګه چې د عېسوي واکمنو او کلیساوالو لخوا د اسلام پر ضد ډېر ترخه تبلیغات په لار اچول سوي وه، نو د دغو تبلیغاتو تر اغېز لاندي په ۸۵۰ع.کال د اسلام پر ضد د کرکي یو تند تحریک په لاره واچول سو، چي بنسټ یې ټول پر تعصب، نفرت او کلیسایي پروپاګنډ ولاړ وو.

## د اسلامي نړۍ بې واکي:

په اسپانیه کي د اسلام پر ضد د کرکي تحریک، د مغلوبو عېسویانو د دښمنۍ او شرارت اظهار وو. نور لوېدیځ کمزوری هرومرو وو، خو مغلوب نه وو. هلته هم د اسپانیې غوندي تحریک په لاراچول سوی وو، چي د تېري او یرغل بنه یې خپله کړې وه. تر کومه چي په اسلامي نړۍ کي د کمزورۍ نخښې نه لیدل کېدې دغه کرکي د سرې جګړې په بڼه وې. خو د لسمي عېسوي پېړۍ په پای ته رسېدو سره په اسلامي نړۍ کي کمزوري پیدا سوه.

په دې پېړۍ کي اسلام پر درو حریفو خلافتونو ووېشل سو. په آسیاکي عباسي خلافت وو چي واک یې تش په نامه وو. اصلي واک د سلجوقیانو په لاس کي وو. فلسطین، مصر، افریقا او سیسلي د فاطمي خلافت تر واک لاندي وه. په اسپانیا کي اموي واکمن عبدالرحمان الناصر هم خپل سلطنت بېل خلافت اعلان کړی وو.

د يوولسمي عېسوي پېړۍ په وروستيو کي اسلامي اسپانيې عملاً عېسويانو ته جججه ورکول. دغه مهال نارمنو پر سيسلي باندي بريد وکړ. او په ۱۰۷۱ع.کال يې د دغه ځای پلازمېنه «پلرمو» ونيول. تر ۱۰۸۱ع.کاله يې ټوله سيسلي د فاطميانو له ولکې وايستل. په دوولسمه عېسوي پېړۍ کي پر افريقا باندي هم د نارمنو بريدونه پيل سول. په سيسلي کي د نارمنو سمندري ځواک په روم سمندرګي کي د ځواک توازن وران کړ. په دوولسمه پېړۍ کي پر روم سمندرګي باندي د نارمنو او ايټالويانو ولکه ټينګه سوه. هغو له تونس څخه تر ټريپولي (Tripoli)؛ طرابلس پوري د افريقې پر څنډو ولکه ټينګه کړه او د ختيزو او لوېديزو مسلمانانو سمندري اړيکي يې وشلولې.

ديارلسمي پېړۍ اسلامي نړۍ ته د بخولو پيغام راوړ. په اسپانيه کي کور جنګيو او د دغه ځای او عربو د خلفاوو او امراوو لنډ پاريو دغه ستره اسلامي واکمني کمزورې کړه، سرحدي عېسوي حکومتونو ته د لازياتو مداخلو او تېريو موقع په لاس ورغله او تر ډېرو جګړو او وينو تويولو وروسته يې د اسپانيې اموي خلافت په ۱۰۳۱ع.کال راوپرځاوه. دغه سترخلافت د اوسنيو عربي هيوادونو غوندي پر کوچنيو کوچنيو، يو د بل سره دښمنو عربي او بربر امارتونو ووېشل سو. په دغو حالاتو کي د اسپانيې عېسوي حکومتونو «ليون» (Leon) او «قسطيلې، قشتالې يا کاستيل» (Castile) د الفانسو په مشرۍ د دغو امارتونو له منځه وړلو ته ملا وتړل.

کله چي لا د «غرناطې» (ګريناډا) په نامه سيمه د مسلمانانو په لاس کي وه د «قسطيلې» د سيمي واکمني «ايزابل» (Isabelle) نومي د «آراګون» (ارغون؛ Aragon) د سيمي د واکمن فرډيننډ (Ferdinand) سره په ۱٤٦٩ع.کال واده وکړ او په ۱٤٧٩ع.کال پر قسطيله، ناوار او آراګون باندي واکمن سول. هغو د غرناطې واکمن ابوالحسن ته سفيران ولېږل او د زور په منطق يې ورته وويل چي: «ستا پلار موږ ته خراج راکاوه، ته هم موږ ته د خراج راکول ومنه او د هغه پاته خراج سره يې چي اداينه يې پر تا واجب ده ژر را ولېږه». سلطان ابوالحسن سفيرانو ته وويل چي دواړو واکمنو ته وواياست چي اوس د غرناطې په خزانو کي د سرو او سپينو زرو سکې تمامي سوي دي، خو د هغو

پر ځای یوازې توري پاته دي. په دې جواب پسې سمدلاسه ابوالحسن چې یو ډېر زړه ور او شجاع واکمن وو جنګ پر پیل کړ. خو له بده مرغه د دغه زړه ور ابوالحسن دوو زامنو ابو عبدالله او یوسف د پلار په وړاندې د بغاوت رپی پورته کړ او د غرناطې یوه برخه یې ځنې ونیول. په دې ترځ کې ابو عبدالله د پلار آزار وواهه د عېسایانو په لاس ورغی او د فرډیننډ سره بندي سو. پلار چې یې دا وضع ولیدل تردې سلطنت تېر سو، او ورور یې د چارو واګې په لاس کې واخیستې. فرډیننډ ابو عبدالله پر ور خوشې کړ او غرناطه یې ځنې ونیول. خو څه مهال وروسته فرډیننډ غرناطه داسې محاصره کړه چې ابو عبدالله اړسو چې د فرډیننډ سره د سولې خبرې پیل کړي. فرډیننډ د غرناطې د ترلاسه کولو په بدل کې ومنل چې: د مسلمانانو په آزادي کې به څه توپیر نه راځي. د هغو پر شتو او دارایي به تېری نه کیږي. وسلې به نه ځنې اخیستل کیږي. د هغو دین، جوماتونه، او رسوم به له بلوسی څخه خوندي وي. د هغو د سپه سالارانو عزت او دندې به نه ځنې اخیستل کیږي. قاضیان به چې د اسلامي شریعت سره سمې پرېکړې کوي پر خپل حال پاته کیږي او تر پخوانیو محصولونو زیات محصولونه به له مسلمانانو څخه نه اخیستل کیږي. پر دغو شرطونو باندې سوله وسوه. ابو عبدالله ته یې د هغه مهال دیوه کروړ څلوېښتو لکو پنځه سوو روپو د ورکولو پر وعده سربېره په اندلس کې د پاته کېدو یا په دوو میاشتو کې افریقې ته د تلو اختیار هم ورکړ او د بحري سفر د امکاناتو او اخراجاتو د برابرولو ژمنه یې هم ورسره وکړه.

بالاخره غرناطه تر نهو میاشتو سختې کلابندۍ وروسته عېسویانو فتح کړه او فرډیننډ او ایزابل ته د کاتولیك پاچهانو لقب ورکړل سو. ابو عبدالله د ۱۴۹۲ع. کال د جنورۍ پر دوهمه د سهار تر لمانځه وروسته خپل کور کهول او پنځوس تنه ملګري او خدمه د غرناطې د الحمراء له نامتو او ښکلي ماڼۍ څخه وایستل، د افریقې په نیت یې رهي کړل او خپلو دښمنانو ته یې وویل: «ورځئ هغه کلاوې ونیسئ چې لوی څښتن زموږ د بدو اعمالو (عیاشیو او یو له بله دښمنیو) له امله زموږ څخه واخیستې او تاسې ته یې درکړې».

د يو څو شپېو خوښيو د پېړيو سزا ورکړه
يو له بله د ښمنيو تل تر تلـه درپـه درکړه

کله چي ابو عبدالله تر باب الجدور نومي ځاى ووتـى فرډينند او ايزابـل د خپل حشم او خدم سره ولاړ وه. ابـو عبداللـه وغوښـتل چـي د هغـو د تعظـيم لپاره له آسه ورته راکښته سي، خو فرډيننډ پرې نـه ښـوول يـوازي يـې روغبړ ورسره وکړ او کيلۍ يې ورڅخه واخيستې، خپلي مېرمني ته يې ورکړې، هغې خپل زوى ته ورکړې او هغه خپل سپه سالار تـه وسپارلې. د ابـو عبداللـه زوى يې چي هغو يرغمـل نيـولى وو ور خوشـي کـړ او د انـدلس لـه خـاوري ووتـل. هلال غروب وکړ او صليب پورته سو. د دې سره سم يې ښار په ډېـوو رڼـا کـړ او په ټوله مسيحي نړۍ کي د خوښيو جشنونه جوړ سول. (داوه د بې همتـۍ او نفاق پايله). د دې سره سم د اندلس هغه اسـلامي دولـت چـي پـه ٧١٠ع.کـال هلته ټينګ سوى وو په ١٤٩٣ ع.کال له عربو څخه د تل لپاره واخيستل سو.

المقري په خپل تاريخ کي ليکي: کله چي ماپه «فاس» کي خپل تاريخ ليکـى په ١٠٣٧هـ ١٦٢٧ع.) کال له ابوعبدالله څخه پاتـه کسـانو پـه خيراتونـو ګـزاره کول او ابو عبدالله په٩٤١هـ./١٥٣٤ع.کال په فاس کي مړسوى وو.

دلته بايد ياده کړو چي د فرډيننډ کوم شرطونه چـي د غرنـاطې د ورسـپارلو په بدل کي يې د مسلمانانو په وړاندي منلي وه، لکـه چـي موسيوسـيديو اونـور تـاريخ ليکـونکي وايـي د سياسـي چـل ول او ټګمـارۍ لـه مخـي وه او پـه دې غرض وه چي پر غرناطه قبضه ولګوي. هغه پوهېدى چي د مسـلمانانو شـمېر زيـات دى او شـتمن هـم دي. آزادي او خپلـواکي يـې هـم ډېـره خوښـيږي او ځانونه پر ورکوي، نو يو وخت لانه يو وخت ببرته پـر ور پورتـه کيـږي. لـه دې امله هغه پـه ټينګـه پتېيلې وه چي مسـلمانان د عبـادت لـه اسـلامي طريقـې او اسلامي او عربي اخلاقو او ثقافت څخه پردي کړي. که د هغـه وس رسـېدلاى دغه بدلون يې سمدستي عملي کاوه. خـو هغـه بېرېـدى چـي پکښـي ناکامـه بـه سي. له دې امله هغه ترټولو لومړى ډېـر داسـي جاسوسـان وټاکـل او وګومـارل چي په ښکاره ډېر وګړپـال عېسـويان ايسـېدل. دوى د مسـلمانانو پـه وړانـدي د ښې رويې په تر سره کولو سره هغو ته دا يقيني کړه چـي عېسـويان د دوى سـره

بد نه کوي او په دې ډول يې تېر ايستل. کله چې د عېسويانو پښې ښه ټينګې سوې پر اندلسي يهودو يې ډول ډول وحشيانه ظلمونه پيل کړل او له دې امله مسلمانان هم په انديښنه کې سوه. دغه مهال دغو شيطان صفتو جاسوسانو انديښمنو مسلمانانو ته سلا ورکړه چې تاسو ته ښايي چې عېسوي سئ، که نه ښايي پر تاسي هم هغه عذاب چې پر يهودو راغلی دی، نازل سي. د دې سره سم نصراني حکومت عام اعلان وکړ چې: «ديني آزادي نسته او اوس څوك د اسلام ارکان او فرايض په ښکاره نه سي ترسره کولای، او که څوك د اسلام دين پرېږدي او نصراني سي شته او زر به ورکړه سي».

بيا فرډيننډ په ١٤٩٩ع. کال پاچايي فرمان صادر کی چې: «په اسپانيه کې هغه څوك چې عېسوی نه وي نه سي اوسېدلای، ټول هغه مسلمانان دي چې نه عېسوي کيږي له دې هيواده ووزي». د دې فرمان تر صادرېدو وروسته د کمزوري طبيعت ښځنو مسلمانانو کليساوو ته تله راتله پيل کړل او د مسلمانانو ماشومانو ته يې «بپتسمه»[1] غسل ورکاوه. خو کوم مسلمانان چې پر خپل دين ټينګ وه او خپل ګران او سپېڅلی اسلام يې نه پرېښووی، پر هغو يې ډول ظلمونه وکړل. د هغو کښتونه يې ور وسوځل، شته او جايدادونه يې ور ضبط کړل او هغوی يې له ملکه بهر وشړل.

په ١٥٢٤ع. کال د والنسه نومي سيمي نصراني واکمنو هم مسلمانانو ته حکم وکړ چې نصراني سي. هغو د والنسه پاچا پنځم شرلکان کرلوس ته له دې امله شکايت وکړ، خو د ګټې پرځای يې تاوان وکړ او په دې هکله سختي لازياته سوه. پاچا دا خبره د ديني پلټنو محکمې ته راجع کړه. دغي محکمې پرېکړه وکړه چې مسلمانان دي عېسوي سي خو چې نه عېسوي کېدل د محکمې په پرېکړه په زرګونو مسلمانان په اور وسوځل سول. (د اسپانيې د پلټنو د ښکاره او پټو بدنامو محکمو د ظلمونو په هکله ډول ډول زړه

١- (Baptism) يا تعميد د عېسوي مذهب يودود دی. د عېسويانو په اند کله چې کوچنی وزېږي پر سر يې سپېڅلي اوبه ورپاشي په دې ډول هغه عېسوی باله سي. يا يو څوک د توبې کښلو له امله په سپېڅلو اوبو کي په لمبولو سره برکتناکه او عېسوی کړي.

بوږنوونکي کيسې کيږي او په دې هکله ځانګړي کتابونه ليکل سوي دي).
موظفو وګړو به په ښي لاس کي توره او په کيڼ لاس کي صليب نيولی وو په مسلمانانو پسي به ګرځېدل، د اسلامي شعايرو له ترسره کېدو به يې راګرځول او عېسوي کول به يې. تردې چي د غرنيو سيمو مسلمانانو به هم د دغو متعصبو عېسويانو له لاسه سمه ورځ نه ليدل. پای د غرناطې د محکمې رئيس لارډ بشپ له پاچا څخه فرمان تر لاسه کړ چي مسلمانان نه مذهبي مراسم تر سره کولای سي، نه خپل لباس اغوستلای سي، نه عربي ويلای يا ليکلای سي، نه عربي نوم اېښوولای سي، نه غسل کولای سي. البته په لوېديزه نڅا کي د دوی ګډون لازمي دی او مسلماني ښځي به له کوره دباندي ببله بوغرې وزي. ټول مسلمانان دي عربي نومونه په مسيحي نومونو واړوي او خپل پخواني اسلامي کالي دي وسوځوي. که داسي ونه کړي نو د سختو سزاوو انتظار دي وباسي. د دې فرمان په رااېستلو سره مسلمانان اړ سول چي وسلې ته لاس وا چوي، خو عېسويانو مات کړل او اړسول چي غرونو ته پناه يوسي. په غرونو کي سره راغونډ سول او د عېسويانوسره يې تر ډېرو کلونو سختي جګړې په لار واچولې. خو عېسويانو په هغو کي ريښې وځغلولې چي په دې ډول ډېر د دښمن د چلونو په لومو کښېوتل، سره وپاشل سول، ځيني نصراني سول او نور افريقې ته وتښتېدل. بيا په ۱٦۰۹ع. کال بل پاچايي فرمان راووتی چي د والنسه او مرسيه د ولايتونو مسلمانان دي ګردسره له ملکه ووزي. له دې امله ځيني مسلمانان افريقې ته کډه سول او ځيني فرانسې ته ولاړل، خو هغوی هم څنګه چي هلته هم د نصرانيت منلو ته اړ سول افريقې ته مهاجر سول.

په اندلس کي د مسلمانانو د ډول ډول تعذيبونو او پر هغو باندي د ظلمونو کيسې خورا ډېري او زړه زوروونکي دي. موږ دلته له هغو څخه څو بېلګي په لنډو ټکو کي بيان کړې. پای په اتدلس کي داسي څوک پاته نه سو چي د اسلام د دين څرګندونه وکړای سي.

# صلیبي جګړې

د یوولسمي عیسوي پیړۍ په وروستیو کلونو کې حالات داسې راغله چې نور نو لویدیځ د مسلمانانو په وړاندې دفاعي حیثیت غوره کولو ته اړتیا نه درلوده. دغه مهال لویدیځ اسلام ته د کلکو ګوزارونو ورکولو او د هغه د له منځه وړلو پریکړه وکړه.

## صلیبي نظریه:

صلیبي نظرپه یا په بله معنا د اسلام پر ضد د عیسوي کفارو او لویدیزیانو جګړه او دښمني تصادفي خبره نه ده. پیړۍ پیړۍ کار پر سوی دی او عیسویانو او د هغو سیکولر سوو عناصرو ته له څو پلوو، په ډول ډول لارو چارو او دلایلو غوره، ګټوره او په زړه پوري ګرځېدلې ده. د عیسویت پیروانو او لویدیزیانو ته عقیده ورکړل سوې ده چې اسلام د عیسویت او لویدیځ دښمن دی او شتون یې ستر خطر باله سي. د دوی د اند او پروپاګندونو له مخې د اسلام له منځه وړل یا که ونه سي تل د بلوسۍ او جګړې په حال کې ور سره اوسېدل د طاغوتیانو د ګټو د خوندي کېدو لپاره اړینه چاره ده. له دې امله عیسوي طاغیانو او باطل پالوکلیساوالو د اسلام پر ضد صلیبي جګړې په ډېر وحشت او بربریت سره په لاره واچولې.

د مسلمانانو او عیسویانو د جګړو په تاریخ کې لومړۍصلیبي جګړه لویه سوبه وه چې د عیسوي صلیبي طاغوتانو په برخه سوه. د دې جګړو په لار اچولو سره لویدیزو داړه مارو ځواکونو او کلیسا ستر تاریخي جنایتونه تر سره کړل، د مسلمانانو او ان عیسویانو او یهودانو بې خرته شته یې لوټ کړل. د مسلمانانو په سیمو؛ بیت المقدس، تریپولي، انطاکیې او ادیسیه «په اوسني عراق کې واقع ایډیسا، Edessیا الرها» کې یې کفري طاغوتي ظالم سلطنتونه ټینګ کړل. ټول تجارتي بازارونه یې د ځان کړل. د شام او فلسطین د غلو دانو ګودامونه یې خپل کړل. پر روم سمندرګي باندې یې ولکه ټینګه سوه. لنډه

داچي دې بريو د لوېديزيانو ډېر محروميتونه ليري کړل، پر دوی باندي د هغه مهال له مسلط فقر او بې وزلۍ څخه يې تر ډېره حده وژغورل، په تېره يې د هغو حاکم طبقات په شتو داسي مالامال کړل چي زړونو يې غوښتل هغونه ظلمونه، فحاشۍ او عياشۍ يې په وکړې.

## د صليبي جګړو د لاملونو په هکله:

زياتره ويل کيږي چي صليبي جګړې د عيسويت د ننګې لپاره او د بيت المقدس پر مسيحي زيارت کوونکو باندي د سلجوقي واکمنو د زور زياتي پر ضد په لار اچول سوي وې. خو دا خبري بېخي ناسمي دي. د عېسويت د ننګې شعار د لوېديزو عېسوي واکمنو، شتمنو او روحانيونو لخوا چي ګټې يې يو د بل سره مشترکي وې، صرف د عامو عېسويانو د غولولو او جګړې ته د پارولو او چمتو کولو لپاره وو. که نه په ټولو اديانو په تېره په عېسوي دين کي وژل او لوټماري په کلکه منع ده.

د لوقا د انجيل د شپږم فصل له اوولسم آيت څخه تر نه څلوېښتم آيت پوري، يعني د دغه فصل تر پايه د عيسیٰ عليه السلام هغه وروستي وصيتونه راغلي دي چي د غره په يوه اوار ځای کي يې د يهوديې، بيت المقدس او د صور او صيدا له سمندري غاړو څخه ورټولو سوو خلکو ته کړي وه. دغه وصيتونه ټول د ميني، ترحم او تسامح، د نورو تېرې نه ګڼلو، او بخښني په باره کي دي. په دې لړ کي عيسیٰ عليه السلام فرمايلي دي:

«د خپلو دښمنانو سره مينه او محبت کوئ. څوک چي له تاسي څخه کرکه کوي، نېکي ور سره کوئ. هغو ته چي ښکنځل درته کوي، د خير دعا کوئ. څوک چي بده وضع درسره کوي هم دعا ورته کوئ. که څوك تا د مخ پر يوه خوا په چپلاخه ووهي ته د مخ بله خوا ور واړوه. څوک چي چپنه يا شړۍ در څخه اخلي، پرې يې بږده چي کميس دي هم واخلي. هرڅوک چي څه درڅخه غواړي ورېې کړه او چي څه درڅخه واخلي بيا يې مه ځني غواړه. د نورو سره داسي کړنه وکړئ چي له نورو څخه يې تقاضا لرئ» (لوقا ٦: ٢٧-٣١)

د غه راز د لوقا د انجیل د شپږم فصل په ۳۵ آیت کې د دښمنانو سره د مینې خبر بیا راغلې ده. په ۳۷ آیت کې د نورو د تېټ ګڼلو څخه منع سوې ده او د نورو سره د مهربانۍ او بخښني توصیه سوې ده.

کله چې یې عیسیٰ علیه السلام صلیب ته پورته کړ، ویې ویل: «ای ربه! دوی وبخښه، ځکه دوی نه پوهیږي چې څه کوي» (د لوقا د انجیل د درویشتم فصل ۳٤ آیت).

همداراز په انجیل کې د فلیپي د ښار اوسېدونکو ته په لیک کې د عیسیٰ علیه السلام له آدرسه لیکل سوي دي: «هیڅ کار د ځان غوښتني او ځان لیدني له مخې مه کوئ، بلکې نرمي او تواضع وکړئ او نور تر خپلو ځانو ډېرښه وګڼئ. د نورو د ګټې لپاره فکر وکړئ او یوازې د ځان په فکر کې مه اوسئ». (فلیپیان ۲ : ۳ او ٤ آیت).»

دغه راز د متی د انجیل د پنځم فصل له ۳۸ آیت څخه تر ٤٤ آیت پورې د عسیی علیه السلام له خولې ویل سوي دي: «څوک چې بدي درسره وکړي، بدي مه ورسره کوه. که دې د مخ پر ښي خوا په څپېړه ووهي، د مخ بله خوا هم ور وګرځوه. که دې د کمیس اخیستلو لپاره محکمې ته بیایي، خپله کرتۍ هم ور وبخښه. د دښمن سره دوستي وکړئ. څوک چې جفا درسره کوي دعا ورته وکړئ».

پر دې سربېره د عېسوي دین له اصلي لارښوونو څخه له ورایه څرګندیږي چې دا ګردسره د تسامح او سولې دین دی، نه د جګړو، لوټ او عام وژني مذهب.

مګر دلته خبره سر چپه وه. اصلي خبره دا ده چې دغه د عېسویت د لارښوونو خلاف ځناورانه جنګونه اروپا ته د اسلام د نفوذ د مخنیوي، د واکمنو او حاکمو ډلو د واك او ګټو د ساتلو او د مسلمانانو د بېخرتو شتو د لاسته راوړلو په موخه په لار اچول کېدل. (دغه مهال مسلمانان دونه شتمن وه چې په نړۍ کې یې نوم ایستلی وو او د اروپایانو نیتونه پر بد وه). اروپایي واکمن او شتمن په دې پوهېدل چې اسلام د ټولي نړۍ د وګړو دلارښووني او نېکمرغۍ لپاره دی او دې شریعت خپل پیروان ګومارلي دي چې د دې دین رڼا

د نړۍ په ګوټ ګوټ کي خپره کړي. خو دغه واکمن د اسلام د ځواکمنۍ په مهالونو کي پېړۍ پېړۍ غلي او چپ ناست وه. اما کله چي هغو له يوې خوا د واك او ملكونو د نيولو او نورو چارو پر سر د مسلمانانو بې اتفاقي او بې واکي درك كړه او له بلي خوا يې د سلجوقي نسبتاً ځواكمنو واكمنو لخوا مسيحي اورشو په خطر كي وليده او پر يوناني (بېزنتين) امپراتورۍ باندي د سلجوقيانو په پرله پسې بريدونو سره قسطنطنيه (اوسنى استنبول) او اروپا تر ګواښ لاندي راغله، نو دغه مهال چي كليسا هم څه اخلاقي ځواك مونډلى وو، دغو ځواكونو د بيت المقدس او د حضرت عيسىٰ عليه السلام د زيارت د آزادولو شعار وركړ او د صليبي جګړو لړۍ يې پيل كړه.

د مسلمانانو لخوا د قسطنطنيې او اروپا په تهديدولو سره لومړى د بېزنتين (Byzantine) امپراتور «الكسيوس كومان، Alexis Comnène يا Alexius Comnenus» د رومن كاتوليك كليسا پاپ «دوهم اوربانوس، Urban II» ته استازي ولېږل او ورته ويې ويل چي تركان (سلجوقيان) يا عرب تر هغه ډېر ځواكمن دي چي بېزنتيوم وكولاى سي چي په يوازي سر د هغو سره وجنګيږي او له مسيحي نړۍ څخه يې وغوښتل چي له مسيحي مځكو څخه د مسلمانانو د ايستلو په چاره كي د هغه سره مرسته وكړي (جنگهاى صليبى: ۷مخ).

دغه راز دغه مهال په ختيځ كي په عامه توګه او په مسلمانو ټولنو كي په ځانګړې توګه د شتمنۍ او سوكالۍ دور وو. خو د دې په خلاف په اروپا كي عام وګړي د واكمنو او شتمنو د زور او ظلم له امله ډېر بې وزلي سوي وه او لكه نن مهال چي ډېر وګړي امريكا او اروپايي هيوادونو ته د څه هوسا ژوند او شتو تر لاسه كولو په تمه ځي، يا ځيني كسان د بې كارۍ او مجبورۍ له امله د امريكايانو او د هغو د ګوډاګيو حكومتونو عسكرۍ او نور چوپړ ته شامليږي هغوى هم د بيت المقدس او د هغه شاوخوا سيمو تلو ته له خوارۍ او بې وزلۍ څخه د تېښتي او د دغه اسكېرلي ژوند له سختيو څخه د ژغورني د حاصلولو او د شتو د ترلاسه كولو په موخه چمتو سوي وه. مګر واكمنو، مځكوالو او شتمنو په دې هيله دغو جګړو ته وردانګل چي په نيول سوو

ځایونوکي مځکي تر لاسه کړي او واك او امارت ته ورسيږي او د سوداګرو تجارت د منځني ختيځ تر بندرونو پوري وغځيږي. د روم کليسا بيا په دې هيله د دې جګړو شعار ورکړ چي له يوې خوا پر قسطنطنيه او ختيزه، يعني لاتيني کليسا باندي خپل نفوذ او مشرتوب له نوي سره تثبيت کړي، کوم چي په ځينو لاملونو يې پر هغو باندي له لاسه ورکړی وو او له بله پلوه له نيول سوو اسلامي ملکونو څخه د ججو او عشريو په تر لاسه کولو سره خپل قدرت او ثروت زيات کړي. پخپله کليسا هم هغه مهال د مځکوالو سره ټينګي اړيکي لرلې او ډېر اسقفان د ډېرو مځکو خاوندان وه.

په دې هکله ستاسي پام د ايلينويز د پوهنتون د يوه استاد «ډونالډ کوئلر» ليکلي وينا ته را اړوم: «په هر حال د اروپا د ډېرو اشرافو، او واکمنو لخوا د اربن د غوښتني په منلو کي د دوی ځيني مادي او سياسي ګټي پرتې وې. هغه مهال فرانسوي شواليه ګان زياتره په مځکه پسي ګرځېدل. ايټالوي سوداګر د منځني ختيځ په بندرونو کي د خپل تجارت د پراختيا په لټه کي وه او ډېر عادي وګړي يوازي د خپل ورځني ژوندانه له ستونزو څخه د تېښتي لپاره په دې جګړه ورګډ سوي وه».

البته په دغو جګړه مارو کي داسي وګړي ډېر وه چي د دغو جګړو په سياسي او اقتصادي دلايلو نه پوهېدل او يوازي د مذهبي جنون پر بنسټ صليبي سفر او جنګ ته چمتو کېدل. خو د دې تر څنګ د دغسي ډېری کسانو موخه د مسلمانانو د شتو لوټول او چورول وو.

دا چي پاپ دوهم اوربانوس يا پطرس (I'Ermite Pierre) نومي راهب پر مسلمانانو تور لګاوه چي هغوی په بيت المقدس کي د عېسويانو متبرکو اماکنو ته پر تلونکو زيارت کوونکو بريدونه کوي او د دغو ځايو نو سپکاوی کوي دا ټول درواغ وه. مورخينو په تېره ډېرو اروپايي او عېسوي تاريخ پوهانو منلې او څرګنده کړې ده چي: کله مسلمانانو فلسطين فتح کړ د بيت المقدس اوسېدونکو وغوښتل چي حضرت عمر رضي الله عنه دي پخپله راسي او د دې متبرك ځای کيلۍ دي تسليم کړي. بيا چي هغه ورغی او رومي اسقف اعظم سوفروينس ښار ور وسپاری حضرت عمر رضي الله عنه د دغه ځای خلکو ته د سند په

توګه يو فرمان ورکړ چې پکښې ليکلي وه: «پر مسلمانانو لازمه ده چې د دغه ښار د اوسېدونکو د ژوند، عزت، شتو او جايدادونو ساتنه وکړي. دغه راز به د دغه ځای اوسېدونکي آزاد وي، که وغواړي اسلام دي راوړي که نه پر خپل دين دي واوسي، د هغو د کليساوو، بازارونو او مذهبي آزاديو خونديتوب په بشپړه توګه تضمين دی». (فضيلت بيت المقدس ٦٩ مخ او قبلهٔ اول کفار کی حصار ميں ٥٣ مخ). پر دې بنسټ او څنګه چې مسلمانان موسیٰ او عيسیٰ (عليهما السلام) ته د لوی څښتن د رشتيانيو پيغمبرانو په توګه درناوی کوي، هغو عېسويانو او يهوديانو ته اجازه ورکړې وه چې په بيت المقدس کې خپل عبادت ځايونه ولري. هغو د خپلو عباداتو په تر سره کولو کې بشپړه آزادي درلوده، هيڅا د هغو په کار کې هيڅ مداخله نه کول. بلکې په دغه سپېڅلې مځکه کې پر لړکيو باندې دې وېشلې ټولني د اسلام د اخلاقي زرينو اصولو په سيوري کې د امن او سولې په فضا کې ژوند کاوه. هر کال به په زرګونو تنه وګړي له مسيحي اروپا څخه بيت المقدس ته د زيارت لپاره تلل او په دې لار کې هيڅ خنډ او ځنډ نه وو.

په دې توګه د دې اوږدو جګړو اصلي لاملونه او محرکات د ارروپايي سرانښو طاغوتيانو، بد طينت او جګړه مار خصلت، د مادي ګټو خوندي کول او د لا زياتو ګټو ترلاسه کول، د اسلام د سپېڅلي دين او مسلمانانو سره تعصب او دښمني پالل، اروپاته د اسلام د رسېدلو څخه مخنيوی او د عامو عېسويانو ناپوهي او مذهبي جنون ګڼل کيږي.

## پاپ دوهم اوربانوس او پطرس:

کله چې سلجوقيانو د بيزنتين منظمو پوځونو ته سخته ماته ورکړه لوېديزه نړۍ اريانه ورته پاته سوه. نو هغه وو چې په ۱۰۷٤ع.کال د بيزنتين امپراتور (قيصر) اووم ميخايل په غوښتنه اووم ګريګوري د مسلمانانو پر ضد د مذهبي جګړې پيلولو پرېکړه وکړه. خو هغه د روم د امپراتور سره په اختلاف او ستونزو اخته سو او پای ومړ. تر هغه وروسته دريم وکټور او بيا په

۱۰۸۸ع.کال دوهم اوربانوس پاپ سو. دغه پاپ صلیبي جګړه په لاره واچول.

د دغه جنګ په تبلیغولو کې پطرس ډېره ستره ونډه واخیسته. د دغه فرانسوي کشیش شخصیت دونه مهم نه وو. د هغه مخ تر اړتیا زیات اوږد وواو هغې غاترې ته ورته وو چې دی پر سپرېدی. ږېره یې تر نامه رسېدلې وه او د سر وربښتان یې پر اوږو پراته وه. ده غسل نه کاوه، ډوډۍ او غوښې یې نه خوړلې. شراب به یې د څه اوبو او د کبانو د څه غوښو سره خوړل. دی په لڅو پښو او خیرنو کالو پر غاتره سپور سو او په ایټالیا او فرانسه کې یې په تبلیغ کولو سره عېسویان جګړې ته وهڅول.

ځیني تاریخونه وایي چې هغه په دېرش کلنۍ کې بیت المقدس ته د عسیی علیه السلام د سپېڅلي زیارت په نیت وخوځېد. پر لاري هغه ډېر شمېر عېسویان ولیدل چې له زیارته منع سوي او بېرته ګرځول سوي دي. همداراز هغه په مسیحي ښارونو کې ډېر مسیحي کډوال ولیدل چې له بیت المقدس څخه شړل سوي وه. ده ته وویل سول چې پخوا عربو د عېسویانو سره ښه وضع کول، خو اوس چې ترکان پر عربو غالب سوي دي د مسیحیانو سره بد چلند کوي. بیا هغه د بیت المقدس پرلار ونیول سو او د ترکانو لخوا ترلوټېدو وروسته خوشي سو. چې په ډېر تکلیف یې ځان روم ته ورساوه او هوډ یې وکړ چې له پاپ څخه به غوښتنه وکړي چې ټول مسیحیان د بیت المقدس د آزادۍ لپاره چمتو کړي. خو دغه خبري ځینو غیر مستندو تاریخونو کړي دي او واقعیت نه لري. معتبر تاریخونه ټول وایي چې د پطرس دغه ټولي خبري له واقعیته لیري او د مسلمانانو د ډېرو شتمنیو په لیدو سره د حسد له مخي وې.

## په لومړۍ جګړه کې ګډون کوونکي نامتو جګړه ماران:

په دې جګړه کې دغو نامتو او ځواکمنو واکمنانو، شهزاده ګانو، اشرافو او سردارانو د خپلو پوځیانو او اړوندو کسانو سره ګډون وکړ:

د سـهيلي فرانسـې د سـينټ ګليـز (Saint Gilles) حـاکم ريمونـډ (Raymond). چې ابن اثير يې په الکامل کې ريمند بن صنجيل او يـا صـنجيل بولي. دا د مخه هم په اندلس کې د مسلمانانو سره جنګېدلی وو.

د شمالي فرانسې د بولون (Bouillon) حـاکم ګـوډ فـروی (Godfrey) چې ابـن اثيـر يـې کنـدفري بـولي،او د هغـه دوه ورونـه يوسـټيس او د فلينـدر (Flanders؛ اټلي حاکم) بالډوين (Baldwin) وو. چې ابـن اثيـر يـې بغـدوين بولي.

د ایټالیې د نارمن قوم مشر رابرټ ټينکرډ (Tankard) او د هغه اکـا رابـرټ ګسکارډ او د ګسکارډ زوی بوهيمنډ (Bohemond) چې ابـن اثيـر يـې بيمنـت بولي.

د فرانسـې د پاچـا لـومړي فليـپ ورور هـاګ (Hugh). او اِټـين ډوبلـوا (Etienne de Blois)

د انګلستان د پاچا ورور ګيوم.

د سهيلي ایټالیې او سيسلي سردار وليم.

پر دغو کسانو سربېره د اروپا نورو کوچنيو سردارانو هم په دې لښکر کښـې کې برخه درلوده. البته په نورو جګړو کې د دغـو کسـانو زامنـو او لمسـيانو او د اروپا پاچهانو برخه درلوده.

## د صليبي جګړو په لار اچولو سره د اروپايانو جنايتونه

د صليبي جګړو په هکله پر پورتنيو ويلو سوو ټکو سربېره د تاريخ د کتابونو له مطالعې څخه دغه لاندي واقيتونه په ګوته کيږي:

۱- په منځنيو پېړيو کې اروپا يو وروسته پاته، سپېره ملك وو؛ عېسويت يـو وړوکی دين وو، چې په لوېديزه او سهيلي اروپـا کـې د خپلـو دښـمنانو د ګواښ سره مخامخ وو؛ عام اروپايان په ډېره ناوړه بې وزلي اختـه وه او له دې امله لوټمـاري او يـو پـر بـل تېـری د هغـو طبيعـت ګرځېـدلی وو. بالمقابل مسلمانان د اقتصادي او فرهنګي پلوه تر اروپايانو ډېر وړانـدي

وه. دا هسي بې بنسټه خبره نه ده، بلکي په دې هکله د دغه مهال ټول تاريخونه شاهدي ورکوي.

لوېديزيانو په ډېرو برخو کي ځانونه د اسلام د علومو او فنونو تر پور لاندي ليدل او خپل فقر او د مسلمانانو ډېرو شتو يې د سرابنې حس را پارولی وو. ځکه نو هر اروپايي د دغو علمي او مادي شتمنيو د غصبولو او ترلاسه کولو او د اسلام له برلاسې څخه د ځان ژغورلو لپاره د اسلام او کفر د دښمنۍ يا د ختيځ او لوېديځ د اوږدو تاريخي جګړو په ادامه ختيځ ته د جګړې تللو لپاره مازي پلمه لټول.

2- د اروپا د مځکوالو د خپلو مځکو په حاصلاتو او خپلو بزګرو په زبېښاك ګزاره نه کېده او د هغه مهال شرايطو او د دوی خصلت دې ته اړايستلي وه چي نوري ډېري مځکي لاسته راوړي او نور بزګران يې هم په خدمت کي وي. دوی له اروپايي سوداګرو څخه د ختيځ د زښتو زياتو شتو په هکله ډېر څه اورېدلي وه، نو په دې هيله وه چي په ختيځ کي هم مځکي او بزګر ولري.

3- بله خبره داده چي عېسويان له لويه سره د اسلام سره دښمني لري. دوی تل د اسلام له پرمختګ څخه په بېره کي وي او کله چي موقع په لاس ورغلې ده د مسلمانانو د سياسي قوت د ماتولو څخه يې ډډه نه ده کړې. لکه چي د اسلام او کفر د دښمنيو په تاريخونو کي يې يادوني سوي دي دوی ترصليبي جګړو دمخه هم پر مسلمانانو په وارو وارو ځناورانه بريدونه کړي چي هر ځل د مسلمانانو لخوا په بري سره پر شا تمبول سوي دي.

دغو ټولولاملونو لاسونه سره ورکړل څو اروپايان په ټېره د هغو واکمني ډلي د اسلام پر ضد صليبي جګړو ته وهڅوي او سر له ١٠٩٦ع. کاله له اروپا څخه بهر د صليبي جګړو تر عنوان لاندي لومړۍ ښکېلاکي تجربه تر سره کړي.

پاپ دوهم اوربانوس چي فرانسوی وو، په ١٠٩٥ع.کال د فرانسې د يوه سهيلي ښار اُوِرْني د کليرمون (Clermont) په نامه کليسا کي يوې ستري

غونډې (Council of Clermont) ته د يوې تاريخي وينا په ترڅ کې وويل: «په دې جګړه کې به ډېري ولجې لاس ته راوړئ. پرېږدئ هغوی چې د مخه لوټمار وه اوس جګړه مار سي. هغه چې دلته لالهانده او لاس تنګي دي، هلته سوکاله او شتمن سي. دغه جهاد چې نن پسي روانېږئ يوازې د بيت المقدس د فتح کولو لپاره نه دی، بلکې بايد د آسيا له شتمنيو ډکه سيمه او د هغې ټولې پرېمانه او بې حسابه خزانې تر لاسه کړئ... که په دې جګړه کې بری ترلاسه کړئ د ختيځ ټول هيوادونه به ستاسي سي».

د اوربانوس د وينا دغه ټکي د پورتنيو خبرو روڼ ثبوت دی.

4- دغو دوه سوه کلنو تېل سوو صليبي جګړو اوبيا هم تر اوسه پوري په بېلو بېلو بڼو د هغو دوام او پر اسلامي هيوادونو باندي د مغولو تاړاکونو، مسلمانان په اقتصادي ـ اجتماعي او نورو ډېرو برخو کې پېړۍ پېړۍ وروسته وغورځول.

اوس راځئ د دغو لوټمارو او ښکېلاکګرو اروپايانو تاريخي جنايتونه او توري څېرې د عېسويت د ننګې په پلمه د دغو جګړو د لومړي پړاو (لومړۍ صليبي جګړې) په بهير کې د بېلګې په توګه وګورو:

## لومړۍ صليبي جګړه (له ١٠٩٥ع. تر ١٠٩٩ع. کال پوري)

د کليرمون په غونډه کې د پاپ دوهم اوربانوس د وينا سره سم په حاضرينو کې د مذهبي لېونتوب يو ډول ځانګړی حالت رامنځته سو، د مسلمانانو سره د جګړې په تکل کې سول او نارې يې کړې چې «دا د لوی څښتن خوښه ده». بيا هر يوه چې به په جګړه کې برخه اخيسته د سره ټوکره صليب به يې پر ټټر يا پر ښی اوږه ګنډی. ورپسې د جګړنو د راغونډولو لپاره پاپ او د پاپ دوه ګومارلي کسان پطرس او آډمار ډومونټي ( Adhemar de Monteil) په ټوله اروپا وګرځېدل، خلک يې جګړې ته وهڅول او ضمناً پاپ ټولو اسقفانو ته ليکونه ولېږل او ويې هڅول چې د صليب د جګړې لپاره وعظونه وکړي او نور هم وعظ ته وهڅوي او پر نورو خبرو سربېره يې وعده ورکړه چې هر څوک په دې لښکرکښۍ کې برخه واخلي ټول ګنهونه به يې

وبخښل سي او تر څو چي جنګ پای ته نه وي رسېدلی ښځه اولادونه او ټوله شته به يې د کليسا لخوا خوندي کيږي. نو هغه وو چي دوی د خپلو واکمنو په ملاتړ تکړه جنګي وګړي را ټول کړل... چي د ناروي او سويډن د سمندري غلو لمسيان هم پکښېکي وه. (جنګهای صليبي ۹مخ).

د پطرس ډېر ملګري بزګران وه. يو شمېر هم بېړۍ نيوونکي، غله او لاروهونکي وه چي په آسانه د ولجو د ترلاسه کولو په موخه په هغه پسې سوي وه. (جنگهای صليبي ۱۱مخ).

د طاغوتانو او پاپ د تکل سره سم جګړې ته د روانېدو ورځ د ۱۰۹۵ع.کال د اګست ۱۵مه اعلان سوه، او وپتېيل سوه چي صليبي لښکري پر څلورو برخو ووېشل سي، هر لښکر دي بېله لار واخلي او بالاخره دي ټول قسطنطنيې ته نژدې سره يو ځای سي. د تاريخونو د اټکل سره سم د دغو لښکرو شمېره چي پر پوځيانو او ايله جاری لښکرو (عامو وګړو) مشتمل وه او د ځينو اروپايي هيوادونو حاکمانو او شهزاده ګانو يې مشري کول درو سوو زرو تنو ته رسېده.

د ايله جاري لښکرو مشري پطرس کول. دغه صليبيان چي به هر ځای ته رسېدل لوټ به يې کاوه او ډول ډول ظلمونه يې کول. (د البرماله تاريخ قرون وسطی ۲۲۱ مخ).

کله چي د صليبيانو له ډلي څخه د پطرس د ملګري والټر ( Walter Sans Savoir) افراد د هنګري د سملين ښار ته ورسېدل، ځينو د کښتونو چورولو ته ملا وتړل. ځينو غلاوي وکړې. نورو کوښښ وکړ چي د بازار مغازې لوټ کړي. پر مغازو باندي بريد د بازار د جګړې بڼه خپله کړه او څو تنه پکښې ووژل سول. هنګريان بېرېدل چي که د پطرس ډېره غټه ډله وررورسيږي تر دې به لا بدي پېښي وسي. کله چي د پطرس پيروان سملين ته ورسېدل وضع کړکېچنه سوه. د ښار د امنيې قوماندان صليبيان ښار ته له ننوتلو څخه منع کړل او د دوی او ښاريانو تر منځ د ناوړو پېښو د مخنيوي لپاره يې ځانګړي مقررات وضع کړل. تر دوو ورځو وروسته د يوه صليبي او يوه ښاري تر منځ د يوې جوړې څپليو د بيې پر سر شخړه رامنځته سوه. څو شېبې وروسته ستره

بلوا وسوه. بیا تر سختي جګړې وروسته صلیبیانو د قوماندان ماتې ونیول. څلور زره هنګریان یې ووژل او ډېر شته او خواړه یې چور کړه.

بیا صلیبیان بلګراد ته چې هغه مهال د بیزنتین د امپراتورۍ مربوط وو ورسېدل. د بلګراد خلك له ښاره وتښتېدل او په غرونو کې پټ سول. صلیبیانو له سیند څخه د پوري وتو پر مهال پر بېزنتیني سرتېرو حمله وکړه، د هغو بېړۍ یې ډوبې کړې، خپله دوی یې اسیر کړل او ویې وژل، د بلګراد خالي ښار یې په بشپړه توګه لوټ کړ او بیا یې اور ورواچاوه. (جنګهای صلیبي ۱۳مخ، صلیبی جنګین ۲۵مخ او تاریخ جنګهای صلیبي۱/ ۱۶۶او ۱۷۷مخونه).

صلیبیانو ګڼل چې که د نورو مذهبونو پیروان ووژنو او شته یې لوټ کړو خدای ته به نژدې سو او ثواب به وګټو، په اصطلاح هم به خدای هم به خرما وي. خو پېښه داوه چې دوی پر خپلو ځانونو شیطان مسلط کړی وو او د ابلیس لښکري سوي وه. دوی تر ټولو دمخه په جرمني کې زښت زیات یهود قتل عام کړل او شته یې ځني لوټ کړل. دوی د دې صلیبي سفر په نورو بېلو بېلو پړاوونو کې هم په ډېرو ځایونو کې زښت زیات یهود د دوی د شتو د لوټولو لپاره ووژل. د دوی یوې ډلې په هنګري کې هم دغسې وکړه. د هنګري د Bavaria په سیمه کې یې زښت زیات یهود ووژل. چې بیا د هنګري پوځ دغه ویني چیښونکي بې وسلې کړل او بیایې ټول له منځه یووړل. بالاخره څنګه چې د هنګري پاچا له صلیبیانو څخه په عذاب سو، د خپل هیواد پولې یې د هغو پر مخ وتړلې. (صلیبی جنګین ۲۲ـ ۲۴مخونه).

کله چې د پطرس پیروان «نیش» ته ورسېدل، هلته یوه بېزنتیني چارواکي د هغو د لوټ څخه د مخنیوي لپاره کلك امنیتي تدابیر ونیول، د دې سره سره څو تنو المانیانو د ښار د باندي څو کورونو ته اور واچاوه او جګړه ونښته. بېزنتینیانوچې سخت خښمېدلي وه ډېر صلیبیان قتل عام کړل. ډېر نارینه، ښځې او کوچنیان ونیول سول چې پاته عمر یې د نیش په شاوخوا کې په اسارت کې تېر کړ. په دې اخ و ډب کې د پطرس د پیسو صندخ ورك سو. د پطرس د اوباشانو ډله تیت او پرك سوه او وتښتېده. پطرس او ۵۰۰ تنو پیروانو

يې په يوه ځنګله کې خورا ستومانه شپه تېره کړه. څو ورځې وروسته د پطرس اووه زره ورك کسان بيا سره راټول سول. د پطرس لپاره د نيش جګړه يو ناورين وو. د ده د سړيو يوه څلورمه ووژل سول يا ورك سول. ټول هغه وسايل او پيسې يې چې په فرانسه او المان کې يې په لاس ورغلي وې له لاسه ورکړې. صليبيان په خوارې او سپکاوي له نيش څخه ووتل. بېزنتيني سپرو هغوی په مخه کړي او د رمې غوندي يې شړل. تر درو ورځو پورې د تم کېدو او هوسايي لپاره هيڅ اجازه ورنه کړه سوه. (جنگهای صليبي ۱۶-۱۷ مخونه او تاريخ جنگهای صليبي ۱۶۹ مخ).

کله چې قسطنطنيې ته ورسېدل د بيزانس امپراتور الکسيوس سره د دې چې د هغو له لوټ او وژنو څخه خبر وو د هغو مؤدبانه او په هوښياري سره هرکلی وکړ، خو د پطرس د لوغړنو او نيم وسله والو اوباشانو څخه يې بد راغله. هغه وپوهېدی چې مسلمانان به هرومرو هغوی په ډېره آسانۍ سره ځيري کړي. ځکه نو هغه پطرس ته وويل چې څه مهال د نورو سرتېرو تر رارسېدو پورې په قسطنطنيه کې پاته سي او آرام وکړي. خو څه موده وروسته يې خپلې خبرې بدلې کړې. د پطرس ملګرو خپل هماغه پخواني کارونه پسې راواخيستل. د دوی لوټمارۍ پای نه درلود. هره ورځ به دوی وه او شر، شخړې او لوټ. د ښځو د تېښتولو هڅې به يې کولې. د ښار د شاوخوا ماڼۍ به يې پرله پسې لوټولې. ان د کليساګانو د بامونو د سرپو له غلاکولو څخه يې هم مخ نه اړاوه. پای امپراتور ځني په عذاب سو او يوه اوونۍ وروسته يې آسيا ته ولېږل. (جنگهای صليبی ۱۷ـ ۱۸ مخ، صليبی جنګيں ۲۵ـ ۲۶ مخونه اوتاريخ جنگهای صليبی ۱۷۰ مخ).

کله چې د پطرس صليبيان آسيا (اناطوليې) ته ورسېدل، په هر ځای کې به يې هر څه له کورونو څخه نيولې تر کليساوو لوټول. دغه سيمه له ساحلي تراړې پرته د ترکانو تر ولکه لاندې وه او خلك يې زياتره مسيحيان وه. دوی په بشپړه آزادۍ کې ډېر آرام ژوند درلود او د خپل دود سره سم يې عبادت کاوه او هيڅکله يې هم له اروپايانو څخه څه کومك نه وو غوښتی. کله چې هغو وليدل چې د دوی خپل مسيحيان داسې بده وضع ورسره کوي اريان پاته

سول. صليبيان ګردسره د داړه مارانو په ډلو اوښتي وه او د پطرس له واکه ووتل. (جنگهای صليبي ١٨ مخ او صليبی جنگيں ٢٦ مخ).

کله چې تر «مرمره» سيند واوښتل په خپلو کې ډېر سخت سره ونښتل او المانيانو او ايټالويانو نور د پطرس له فرمان څخه سر وغړاوه، د رينالډ (Rainald) په نامه يو ايټالوی يې خپل مشر کړ او په سيوټوټ (Civtot) نومي ځای کې يې بېل کمپ جوړ کړ، چې له دغه ځايه يې پر شاوخوا سيمو يرغلونه او ظلمونه پيل کړل. د مسلمانانو او يوناني عېسويانو کلي او بانډې يې لوټ کړې. (جنگهای صليبی ١٨ مخ، صليبی جنگيں ٢٧ مخ اوتاريخ جنگهای صليبی ١٧١ مخ).

کله چې «نيقيه، Niceae» نومي ځای ته کوم چې د سلطان قلج ارسلان بن سليمان سلجوقي پلازمېنه وه، ورسېدل يو د بل په سيالي يې په ډېره نامردي په لوټ او تالان او ورانيو لاس پوري کړ. خلك يې په اور کې وسوځول او نور هر ډول ظلمونه يې وکړل. ستيفن رانسيمان چې يو متعصب عېسوی دی او صليبي جنګونه ستايي او مسلمانان کافران بولي لا اړ سوی دی چې له واقعيتونو سترګې پټې نه کړي او په خپل تاريخ کې ووايي چې: «صليبيانو په نيقيه کې عېسويان په ډېره بده بې رحمۍ ووژل او ډېر يې شکنجه کړل. ان چې پر تي رودونکو ماشومانو يې رحم ونه کړ. هغوی به يې په سيخونو پېيل او پراور به يې کبابول». (تاريخ جنگهای صليبی ١/ ١٧٢ مخ).

بيا لوټمارانو چې کشيشان او اسقفان هم پکې ليدل کېدل د «خريګوردن، ځيني يې زريګوردن ليکلي، Xerigordon» کلا ونيول. دا د سلجوقيانو د سلطان د زښتو زياتو وسلو او نورو وسايلو د ساتلو ځای وو. خو کله چې سلجوقيانو کلابند کړل او اوبه يې پر بندي کړې اتمه ورځ اړ سول چې تسليم سي. ترکانو هغه مسيحيان چې مسلمانېدل ژوندي پرېښوول او نور يې وژل. رينالډ او د هغه ډېر وګړي مسلمان سول. ترکانو دوی د حلب او انطاکيې او ان د خراسان بازارونو ته بوتله او د مريانو په بازارونوکي يې خرڅ کړل. (جنگهای صليبي٢٠ مخ، صليبی جنگيں٢٨ مخ، تاريخ جنگهای صليبي١٧٣ مخ).

وروسته قلج ارسلان د خپلو خلکو پر لاس آوازې واچولې چې صليبيانو نيقيه نيولې ده او ډېرې ولجې په لاس ورغلي دي. کله چې نورو فرانسوي صليبيانو دغه آوازې واورېدې، د لوټ په تمه د نيقيې پر لور و خوځېدل. تقريباً يوويشتو زرو تنو په لوی لاس د قلج ارسلان د چلول جال ته ځانونه واچول، د «دراکون» په سيمه کي د هغه د پوځيانو سره مخامخ سول او يو هم ژوندی پاته نه سو. د ژئوفري بورل په نامه يو لوی قوماندان يې په نامردي سره وتښتېد. په ده پسي ټول صليبيان په تېښته سول. مسلمانان پسي ځغاستل او د مني د پاڼو غوندي يې رژول او ښځي او کوچنيان يې مينځي او مريان کړل. (جنگهای صليبي ۲۱ مخ او صليبی جنگيں ۲۸ مخ).

بيا بله ډله صليبيان د ګوډ فری په مشري قسطنطنيې ته ورسېده. د هغه افرادو هم د ښار شاوخوا لوټ کړه. بيا يې د مسيحيانو د اختر په ورځو کي پر دغه ښار بريد وکړ، خو د بېزنتين ځواکونه ورسره وجنګېدل، بيا الکسيوس تر خپل ځان تېر کړه او د هغو له شره يې ځان وژغورى.

دا لړۍ همدغسي روانه وه. قسطنطنيې ته د صليبيانو هري نوي رسېدلي ډلي به نوي ستونزي رامنځته کولې.

د فرانسې د سهيل صليبيانو د ريمونډ په مشري د «روسا» بېزنتيني ښار لوټ کړ او بيا يې اور ورواچاوه. الکسيوس سم نه پوهېدی چې صليبيان د ده دوستان دي که دښمنان؟

کله چې دغو صليبيانو د نيقيې ښار کلابند کړ او ډېر مسلمانان يې شهيدان کړل، نو هغوی تسليمېدو ته چمتو سول. خو دغه مهال صليبيانو د شهيدو سوو مسلمانانو سرونه پرې کړل او د کلا دننه يې ور وغورځول. څنګه چې مسلمانان پوه سول چې دوی ډېرو حشيان خلك دي نو د دې پر ځای چې دوی ته تسليم سي د بېزنتينيانو سره يې اړيکي ټينګي کړې او هغو ته تسليم سول.يوه ورځ وروسته سهار چې صليبيان له خوبه راپاځېدل په اريانتيا سره يې وليدل چې د نيقيې د کلا له پاسه د بېزنتينيانو بيرغونه رپيږي. د امپراتور سرتيري د شپې په ښار ننوتلي وه. څنګه چې صليبيانو وليدل چې دغه ستره ولجه يې له لاسه وتلې ده سخت په قهر سول او د امپراتور پر خيانت تر پخوا

لا زيات بد ګومانه سول. امپراتور کوښښ وکړ چي دوی د مسلمانانو لـه لـوټ سوو شتو څخه په زياته برخه ورکولو سره خوشاله کړي، خو چي ډېر ګران بيـه توکي يې ورکـړل دوی لا پـه غوسـه سـول. ځکـه دوی د مسـلمانانو څخـه ټـول ولجه سوي شته د ځان ګڼل. (جنگهای صليبي ۲۵- ۲۸ مخ او صـليبی جنگـين ۳۴مخ).

## د صليبيانو لومړی واکمني:

د بيت المقدس په لار کي په ۱۰۹۸ع.کـال د يـوې ډلـي صـليبيانو پـر مشـر بالډوين نومي باندي د «ايډيسا يا الرها» د کوچنی، خو مهمي پاچهۍ مسـيحي ارمنيان پيښ سول او د کومك غوښتنه يې ځني وکړه. د دوی هيـواد څـه مـوده د مخه له مسلمانانو څخه د روم واکمن نيولی وو او دغه مهال يې د هغه لخـوا توروس (Thoros) نومي عېسوی واکمن وو. بالاخره ارمنيانو هغه لیـري کـړ او د پاچهۍ تاج يې د بالډوين پر سر کښېښود. بيا يوه مياشت وروسته توروس د يوې الي ګولي په ترڅ کي په داسي حـال کـي چـي تښـتېدی ونيـول سـو او ټوټـه ټوټه سو. په دې توګه بالـډوين لـومړی صـليبي وو چـي تـاج يـې تـر لاسـه کـړ. (جنگهای صليبي ۳۰مخ او صليبی جنگين ۴۰ -۴۱مخونه).

دغه مهال صليبيان انطاکيې ته هم رسېدلي وه. هغو د انطاکيې پر محاصره زښت زيات کړاوونه وګالـل او ډېـر سـرتېري يـې پـر ووژل سـول. ابـن اثيـر پـه الکامل کي او ابو الفداء په المختصـر فـي اخبـار البشـر کـي ليکـي چـي تـر نهـو مياشتو وروسته صليبيانو د کلا يوه ارمني ساتونکي زراد نومي ته چي په روزبـه مشـهور وو بـډې ورکـړې او هغـه د شـپې لخـوا کـلا تـه پرېښـوول. کلـه چـي د انطاکيې حاکم باغي سـيان بـن محمـد بـن الـب ارسـلان ترکمـاني[1] لـه خوبـه راويښ سو. وهم واخيستی او د ډېرشو تنو مريانو سره پـه هماغـه شـپه لـه کـلا څخه ووتی او مخامخ ځغاسـتی. بيـا چـي د هغـه نايـب خبـر سـو چـي واکمـن تښتېدلی دی، هغه هم پسي وغورځېدی او په دې ډول بې همتـۍ يـې انطاکيـه

---

۱- سلطان ملک شاه سلجوقي په ٤٧٩هـ کال د انطاکيې حاکم وټاکی.

صلیبیانو ته پرېښوول. که یې داسې نه وای کړي او یو څه غیرت یې کړی وای ممکن صلیبیان نه وای پر بریالي سوي.

په دغو تاریخونو کې زیاتوي: کله چې پر باغي سیان سهار سو عقل یې سرته ورغی او خپلو ملګرو ته یې وویل چې زه چیرې یم؟ هغو ورته وویل ته له انطاکیې څخه څلور فرسخه لیرې تللی یې. نو بیا پر خپلو دغو کړو پښېمانه سو او افسوس یې کاوه چې کاشکې مې خپله مېرمن، اولادونه او مسلمانان نه وای پرې ایښې او د دې کفارو سره مې جنګ کړی وای، په هغه صورت کې به مې یا دوی له ملکه شړلي وای او یا به مې ځان په شهید کړی وای. دغه مهال له ډېرې خواشینۍ له آسه ولوېدی او هیڅ خوږ نه وو، خو تر مرګه ورسېدی. نو هغه وو چې ملګرو یې هلته پرېښاوه او ځنې ولاړل. بیا یو ارمنی سړی پر پېښ سو او په داسې حال کې چې وروستۍ سلګۍ یې وې ویې واژه او سر یې پر انطاکیه باندې مسلطو سوو پرنګیانو ته ولېږی.

موږ د مسلمانانو د ځینو مشرانو له ناپامیو څخه ګیله کوو، خو دې ته نه یو متوجه چې د مسلمانانو مشران زیاتره دغسې بېعقله ډارنان دي چې د خپلې ناپوهۍ او بزدلۍ له امله نه په خپل خیر وشر پوهېږي نه د مسلمانانو په خیر او شر. او د دوی له لاسه اتل او غیرتمن مسلمانان د کفارو تر ډول ډول مظالمو لاندې د ویر او بخولو ډکې شپې تېروي.

## د صلیبیانو دوهمه واکمني:

کله چې صلیبیان د انطاکیې ښار ته ننوتل د دغه ښار ښکلا ته اریان پاته سول. د دې ښار دېوالونه څو میله اوږده وه او څلور سوه برجه یې درلوده. د شتمنیو، کانونو او اوږده تاریخ درلودونکې دې ښار ته پاریس او د صلیبیانو نور ښارونه د کلو غوندې ایسېدل. په دې ښار کې مسلمانان او مسیحیان یو د بل تر څنګ اوسېدل او بېله دې چې یو د بل په چارو کې مداخله وکړي هر چا د خپل دود سره سم عبادت کاوه. خو د صلیبیانو په نظر داسې ورتله چې د انطاکیې عېسویان د شیطان سره جوړ راغلي وي.

صلیبیانو د دې ښار په محاصره کولو سره هم پر خپلو ځانو او هم د دې ځای پر مسلمانانو او عیسویانو ستر کړاوونه وتپل. ډېر صلیبیان تېښتي ته اړ سول. پطرس هم د تېښتي په حال کي ونیول سو. بیا یې د دې ښار په نیولو سره ستر ناورین رامنځته کړ. یو مسلمان یې ژوندی پرې نه ښود ان چي ځیني عیسویان یې لا ووژل. ډېر مهال د مسلمانانو سره په شخړو او جګړو بوخت سول او ډېر مسلمانان یې شهیدان کړل. بیا د دې ښار د واك پر سر په خپلو کي په شخړو اخته سول. ورپسې په مسیحیانو ډېره ناوړه وباکډه سوه او په زرګونو صلیبیان مړه سول.

کله چي نور صلیبیان له دې ښاره د بیت المقدس په لور ووتل بوهیمونډ د ښار ورونه وتړل او خپل ځان یې د انطاکیې امیر وباله. په دې توګه د صلیبیانو لخوا دوهمه مسیحي پاچهي ټینګه سوه. (جنگهای صلیبي ۳۱ـ ۳۵مخ او صلیبی جنگین ٤٣ ـ٤٥ مخونه).

## د معرۀ النعمان نیول او د زرګونو مسلمامانو عام وژنه:

بیا دغو صلیبیانو په همدغه ۱۰۹۸ع.کال پر معرة النعمان باندي کوم چي د نامتو شاعر او د «رسالة الغفران» او یو شمېر نورو ادبي آثارو د لیکوال ابو العلا المعري ټاټوبی وو او ځلوېښت کاله دمخه په ۱۰۵۸ع.کال پکښي وفات سوی وو، برید وکړ. ابن اثیر چي د صلیبي جګړو د مهال نامتو مورخ دی د الکامل په ٤/ ۳٦۲ مخ کي لیکي: «صلیبیانو د دغه ښار تر نیولو وروسته تر درو ورځو پوري، تر یو لك زیات مسلمانان شهیدان کړل او زیات شمېر نارینه او ښځي یې په اسارت ونیولې». دغه خبره د الاعلام والتبیین لیکوال ابن حریري هم کوي. (علل وآثار جنگهای صلیبي۲۱٤مخ).

بیا د دې ښار د خپلولو پر سر د جګړه مارو د دوو مشرانو د رقابت له امله ډېر وګړي ووژل سول. په ښار کي د خوړو د ورکېدو له امله لوږمارو د مسلمانانو ځوانان وژل او بیا به یې په اوبو کي ایشول او خوړل به یې. دغه راز هغو د مسلمانانو ماشومان په سیخونو پېیل او تر کبابېدو وروسته یې خوړل. کرار کرار څرګندېده چي له دې سپېڅلي جګړې څخه موخه د بیت المقدس

آزادول نه، بلکې مقصد صرف د مسلمانانو عامه وژنه وه. (صلیبی جنگیں ٤٧ مخ، مسلم حکومتوں کے عبرت انگیز حالات ٦٩ مخ او مغربي یلغار ٥٨ مخ د فرانسوي پېښې لیکونکي Rudolph of Kain په حواله).

## د پطرس مرګ:

بیت المقدس ته د وړاندې تګ په لار کې د ټریپولي امیر د صلیبیانو مشر ریمونډ ته څه تحفې ولېږلې او هغوی یې ور وبلل څو یو له بله د مرستو ژمنه سره وکړي. پخپله یې هم پټېلې وه چې عېسوي دین ومني. خو کله چې صلیبیانو هلته په ننوتلو سره د هغه ځای ډول ډول شته ولیدل د دوستۍ پر ژمنلیك باندې د لاسلیك پر ځای یې پر هغو شیانو باندې لاس تېرولو او حملې ته ترجیح ورکړه. صلیبیان پر دغو مالونو د پطرس په ټونګ یو له بله لاس او ګرېوان سول. له دې امله ځینو صلیبیانو اعلان وکړ چې پطرس لومړۍ درجه درواغجن او بې ایمانه سړی دی. پطرس په غوسه سو او اعلان یې وکړ چې دی د خپلې رشتینولۍ د جوتولو لپاره د اور تر لمبه ځان تېروي. ناراضو صلیبیانو سمدستي اور ورته بل کړ. پطرس اور ته ور ودانګل او ها خواته ځني وغورځېد. د دغې صحنې لیدونکي وایي چې څو تنو نامعلومو کسانو هغه بیرته اور ته ور تېل واهه. په دې توګه دغه شیطان صفته موجود تر دوولس ورځنۍ سختې ناروغۍ وروسته ومړ. (صلیبی جنگیں ۴۸ او ۴۹ مخونه).

پای دغه ځناور صفته صلیبیان تر درې کاله پرله پسې مرګ ژوبلو، لوټماریو، تلفاتو، اسارتونو او لالهاندیو وروسته، چې ډېری یې په لار کې ووژل سوي وه او د تاریخونو په وینا یوازې څلوېښت زره تنه پاته وه، د ۱۰۹۹ع.کال د جون پر ٦مه بیت المقدس ته ورسېدل.

## د لومړۍ صلیبي جګړې بریالیتوب او تاریخي جنایتونه:

د بیت المقدس ښار صلیبیانو څه له پاسه څلوېښت ورځې کلابند کړ او د ٤٩۲هـ د برات (شعبان) پر دیارلسمه چې د۱۰۹۹ ع.کال د جولای د (۱٥) مې سره سمون خوري د جمعې له لمانځه څخه څه مهال تېرسوی وو چې د

هغـه پـر نيولـو بريـالي سـول او پـه دې ډول يـې د نـړۍ پـه تـاريخ کـې د زړه بوږنووونکو جنايتونو په ترسره کولو سره د انسانانو ترمنځ د اوږدو او تل تر تلـه خونړيو دښمنيو بنسټ کښېښود.

صليبيان په ښار کې د لېونـو لېوانـو غونـدې ځغاسـتل؛ نارينـه يـې ليـدی کـه ښځه وژل يې؛ هر څه چې يې په مخـه ورتلـه غلاکـول يـې. عزتونـه يـې لـوټ کړل، امن او آرام يې له منځه يووړ. د مسلمانانو او يهودو عبادت ځايونوته يې اورونه واچول. په کورونو به ننوتـل او د هغـو اوسـېدونکي يـې وژل. هـر څـوك چې به دمخه کور ته ننوتی او خوښ به يې سو کور به د هغه وو. که نـه شـته او سامانو نه به يې ځيني ايستل او کور ته به يې اور اچاوه. دا عـام وژنـه تـر هغـو روانـه وه چـې ژونـدی انسـان پـه مخـه ورتـې. ټـول ښـار د اور لمبـو پـر سـر واخيست. وروسته ډېر شمېر پاته مسلمانانو ته د صـليبيانو مشـر ټينکـړډ نـومي اجازه ورکړه چې په مسجد اقصٰی او قبة الصخره کې پناه واخلي. خـو بلـه ورځ صليبيان مسجد اقصٰی ته ننوتل او ټـول نارينـه، ښـځې او کوچنيـان يـې حـلال کړل. په هغو کې داسې ستر ستر عالمان او فاضـلان هـم وه چـې ان د جګـړې سره يې له ليرې هم اړيکه نه درلوده. نـور يـې ټـول فقـرا، زاهـدان او د متبرکـو ځايو مجاوران او عابدان وه چې د ژوند څه پاته شپې يې په دغـو ځـايونو کـې تر مرګه رسولې. تاريخونه ليکي چې دغه مسجد د مسلمانانو پـه وينـو غـرق او لژند سو.

دغه راز يهودو هم په خپل عبادتځي کـې پنـاه اخيسـتې وه. صـليبيانو د دغـه عبـادتځي ودانـۍ تـه اور ورتـه کـړ او ټـول پنـاه اخيسـتونکي يهـود يـې پکښـې وسوځل.

بيا لويه ستونزه د مړو د لښونو وه چې په کوڅو او نورو کې يو پر بل سرېبره پراتـه وه. لـه بـد بـوی څخـه سـا ايسـتل مشـکل سـوي وه. حکـم وسـو چـې د مسلمانانو لښونه دې له ښـار د بانـدې وغورځـول سـې. مسـلمانو هلکـانو دغـه لښـونه پـه کشـولو سـره د ښـار د بانـدې وړل. پـه دې توګـه د ښـار د بانـدې د مسلمانانو له مړو څخه غونډۍ جوړې سوې.

تر اوسه دغسې عام وژنه هیچا نه لیدلې اونه یې اورېدلې وه. دې کشتار داسې تاریخي تاو تریخوالی او کرکه رامنځته کړه چې پېړۍ پېړۍ به په یاد وي.

په الاعلام والتبیین في خروج الفرنج الملاعین علی دیار المسلمین کې، لیکي: صلیبیانو په حرم کې د یولکو په شاوخوا کې مسلمانان ووژل. (علل وآثار جنګهای صلیبي۲۱٦ مخ). ابن اثیر چې د صلیبي جګړو د مهال تاریخ لیکونکی دی، په دغه عام وژنه کې د مسلمانو شهیدانو شمېر تر اویا زرو زیات نقلوي. (الکامل: ٤/ ۳٦۰مخ).

د لوټ او غلاوو په هکله ابن اثیر لیکي: پرنګیانو له قبة الصخره څخه د سپینو زرو څه له پاسه څلوېښت قندیله، چې د هر یوه وزن درې زره او شپږ سوه مصري درهمه وو، یوه د سپینو زرو ډېوه، چې وزن یې څلوېښت شامي رطله وو، ۱۲۵ د سپینو زرو کوچني قندیلونه او د سرو زرو څه له پاسه شل کوچني قندیلونه واخیستل. پردې سربېره یې نور تر حساب تېر شته هم یووړل. (الکامل: ٤/ ۳٦۰مخ او صلیبي جنګیں ۱۰ مخ).

خپله مسیحي سر چینې او اسناد د دې لوټ او جنایتونو ښه ښکارندویي کوي. د صلیبیانو یوه ستر قوماندان ګوډ فروی (Godfrey) پاپ ته ولیکل: «که غواړئ چې وپوهېږئ چې د هغو دښمنانو سره چې په بیت المقدس کې زموږ په لاس راغله څه وسوه، دغونه پوه سئ چې زموږ کسان د سلیمانعليه السلام په مانۍ او معبد کې په داسې حال کې د هغو په ژوبله بوخت وه چې وینې یې د اسونو تر ځنګنونو پورې رسېدلې». ټول روایتونه پر ستره عام وژنه شهادت ورکوي: «تقریبا لس زره مسلمانان په معبد کې په عامه توګه ووژل سول او هر څوك چې هلته ګرځېدی وینې یې تر بجلکو رسېدلې...». تر کشتار وروسته د لوټ وار وو: «زموږ کسان چې له وینو تویولو څخه ماړه سول کورونو ته ولوېدل او هر څه چې یې په لاس ورتله لوټ یې کړل. هر څوك (موړ وو که مسکین) هر ځای چې په لاس ورتی هغه یې خپل ملکیت باله... او دا دود داسې عملي کېدی چې تابه ویل دا داسې قانون دی چې باید ټکي په ټکي پلی سي...». (تاریخ قرون وسطی ۲۲٦مخ).

یو بل صلیبي قوماندان ریمونډ دغه ظالمانه پېښي داسي بیانوي: «انځورونه د لیدني وړ وه. زموږ ځینو افرادو د خپلو دښمنانو سرونه د هغو له تنو څخه جلا کول. دا لا زړه سوی وو. ځینو به په غشو هغوی غلبېل غلبېل کړل او بیا به یې له یوه لوړه مناره څخه لاندي وغورځول. ځینو به دښمنان د اور په لمبو کي سوځول. د ښار په کوڅو کي د انسانانو د سرونو، لاسونو او پښو خرې تر سترګو کېدې. په کوڅو کي د لاري مونډلو لپاره د انسانانو او اسانو د لښونو ایسته کولو ته اړتیا وه. خو دغه پېښي د حضرت سلیمان‌ﷺ د معبد د پېښنو په پرتله معمولي وې. د دغه معبد په دهلېز کي دوني ویني بهېدې چي د انسانانو او اسانو تر ځنګنو پوري رسېدلې». (صلیبی جنگجو ۱۳ مخ).

د ژوندو سره چي څه وسول هغه خو وسول، د مړو سره داسي کانې وسوې چي ان د هغو تصور هم د شرم وړ دی. دغو عېسوي ارذالو د مړو لښونه څیرل چي ګونډي د سرو زرو سکې ځني راووزي. دغه راز فلچر نومی تاریخ لیکونکی لیکي: «ښځو به سکې په خپلو شرمځایونو کي پټولې او دغو ارذالو به د هغو شرمځایونه پلټل».. (اسلام، پیغمبر اسلام ۱۳۳ مخ). یو بل عیني شاهد لیکي: «دغو ځناورو مور روي ماشومان د مندو له غېږو کشول یا به یې له دېوالونو هاخوا ته غورځول او یا به یې سرونه ورپرېکول». (شعر الجهاد في الحروب الصلیبیة ٤٠ مخ).

لنډه دا چي د دې کشتار په هکله چي یوه اووني یې دوام درلود ډېرو مسلمانو او غیر مسلمانو تاریخ لیکونکو ډېري زړه بوږنوونکي کیسې لیکلي دي. وروسته عېسویانو مسجد اقصیٰ په کلیسا بدل کړ. پر قبة الصخره باندي یې صلیب نصب کړ او د مسجد اقصیٰ په برنډو کي یې د اسانو اصطبیلونه جوړ کړل. (فضیلت بیت المقدس ۵۰ مخ).

## د دې جګړې پایلي:

د دې جګړو او جنایتونو پایلي دا سوې چي په ختیځ کي لاتینه امپراتوري ټینګه سوه. له ډېرو لیرو سیمو څخه راغلي قاتل، غاصب او د خدای او انسانیت دښمن عېسویان حاکم سول او د اسلامي اورشوګانو اصلي څښتنان

مګر د پیل په غوړ کي بیده، لټ، سرناخلاصه او یو بل نه منونکي او بې اتفاقه مسلمانان محکوم سول او په بیت المقدس، انطاکیه، طرابلس، الرها او د لبنان او فلسطین په مهمو بندرونو، یعني عراق، لبنان، فلسطین او د شام په یوڅه برخه (د شام په لوېدیځ) کي له حلب او دمشق پرته د عېسوي واکمنو حکومتونه جوړ سول.

د دې سره سم د بیت المقدس پر شاوخوا ملکونو د کفر، نا امنیو، لوټ، جنګ جګړو، وژنو، زور زیاتیو، فحشاوو او ډېرو نورو ناوړو چارو توري لوخړي راخپرې سوې. صلیبیانو د مسلمانانو نور ډېر ښارونه، مسجدونه او متبرکه اماکن هم ونړول او د دغو ښارونو ډېر مسلمان اوسېدونکي یې قتل عام کړل. بزګران په نیمه مریانو واوښتل او ډول ډول مالیې پر حواله سوې.

تاریخ لیکونکو او سیاست پوهانو ویلي دي چي پر مسلمانانو باندي د عېسویانو د دې بریو او د مسلمانانو د دې خواریو او بدي ورځي علتونه او عوامل د دوی سستي او تنبلي، یو له بله مخالفتونه او د صلیبیانو سره په بېله بېله توګه د مسلمانو واکمنانو جنګېده ګڼلي دي. دغه مهال په مسلمانو واکمنو کي داسي کسان هم وه چي پر نورو مسلمانو واکمنو باندي د صلیبیانو له بریدونو څخه خوشاله کېدل او یا به پټه خوله نندارچیان جوړ سوي وه. چي د دوی دغو رویو صلیبیان زړه ور او زورور کړل او بالاخره یې دوی ته هم سختي ستونزي جوړې کړې. خو کله چي مسلمانانو پر سر وخوړل، نو یې قهر او غوسه راوپارېده، بې اتفاقه واکمنان په اتفاق سول او هره خوا یې د جهاد او غزاوو رپې اوچت کړل.

## دوهمه صلیبي جګړه

زیات تاریخ لیکونکي صلیبي جګړې اته ګڼي. خو حقیقت دادی چي دغه جګړې تر اتو زیاتي دي او داسي هم نه ده چي همدغه به یې مهمي وي، بلکي صلیبي طواغیتوله دغو اتو جګړو پرته نوري ورانوونکي جګړې هم پر مسلمانانو تپلي دي. په هر صورت د مورخینو د لیکنو سره سم د دوهمي صلیبي جګړې پېښي په دې ډول دي:

په شام او فلسطین کي د لاتیني صلیبي حکومتونو د ټینګښت او د هغو د ظلمونو په زغملو سره د مسلمانانو لخوا د هغو په وړاندي شدید غبرګون وښوول سو. ترډېرو خواریو، جنګ جګړو او هلو ځلو وروسته په ۱۱۲۷ع.کال په موصل کي سلطان عماد الدین اتابک زنګي وځلېدی. هغه د بیت المقدس تر سقوط پنځه څلوېښت کاله وروسته په ۱۱۴۴ع.کال د ادیسې (الرها) یعني هغه ځای کوم چي تر ټولو دمخه صلیبیانو واکمني پر ټینګه کړې وه، په فتح کولو او بېرته ګټلو سره د صلیبیانو د ماتو بنسټ کښېښود. دې خبر د مسلمانانو حوصلې لوړي کړې او پر لوېدیځو طاغوتیانو یې اوربل کړ او د دوهمي صلیبي جګړې لامل سو.

زنګي د جعبر د کلا د کلابندۍ پر مهال د ۵۴۱هـ کال د لومړۍ خور پر پنځمه چي د ۱۱۴۶ع،کال د جون سره سمون خوري په داسي حال کي چي د شپې بیده وو د ده د مریانو د یوې ډلي لخوا شهید سو. بیا د ده پر ځای د هغه زوی نورالدین محمود زنګي (۵۱۱ ـ ۵۶۹هـ) واکمن سو. هغه تر عمادالدین لا ښه سړی وختی. ابن اثیر لیکي: «ما چي اسلامي تاریخ لوستی دی. تر راشده خلیفه ګانوﷺ او عمر بن عبدالعزیزؒ وروسته مي په عدل او مړانه کي تر ده بل ښه لارښود نه دی لیدلی» (الکامل ۵ / ۱۲۴ مخ). د ده د دې ښېګڼو ستر لامل داوو چي هغه له اسلام څخه ښه خبر وو، بلکي ستر اسلامي عالم او فقیه وو. د ده شعار وو «جهاد او اتحاد».

د عمادالدین تر وفات وروسته الرها بېرته صلیبیانو ونیول. خو نورالدین بېرته ځني وژغورل.

هلته پاپ اوجیون (Eugenius) سمدستي د دوهمي صلیبي جګړې اعلان وکړ، خو چاپې هر کلی ونه کړ. د فرانسې پاچا اووم لویي د کرسمس د لمانځلو پر مهال د خپلو چارواکو او مذهبي شخصیتونو سره په دې هکله خبري وکړې، خو چا غوږ پر ونه نیوی. یوازي د فرانسې د سیسټرسیان (Cistercian) د رهبانانو د ډلي مشر سینټ برنارډ (Bernard de Clairvaux) په فرانسه کي د وزیلې (Vezelay) په غونډه کي د ۱۱۴۶ع.کال د مارچ پر ۳۱مه دې جګړې ته خلک وهڅول. هغه خلک پر اخروي ثواب سربېره د

دنيوي ګټو په تمه هم کړل او ورته ويې ويل: «که تاسي ښه سوداګر ياست او د پيسو ټولولو هنر مو زده وي، نو په ما پسي راسئ، زه به تاسي داسي کاروباري مرکزونو ته ورسوم چي زښتي زياتي ګټې پکښې وي. دا طلايې موکه له لاسه مه ورکوئ. په ما پسي روان سئ، بېړه وکړئ. دلته ګټې دي، وخت کم دی».

په پايله کي د آلمان امپراتور دريم کنراډ او د فرانسې اووم لويي او د هغه ورور جګړې ته چمتو سول.

## جګړې ته د الماني صليبيانو خوځېدنه:

لومړی د دغه ١١٤٦ع.کال په دسمبر کي د آلمان امپراتور جګړې ته وخوځېد. ورپسې فرانسويان پسي وخوځېدل. کله چي آلماني صليبيان د بېزنتين د واکمنۍ اورشو ته ورسېدل د عېسويانو په يوه ښار کي د يوه جادوګر پر سر د ښاريانو سره په شخړه اخته سول او ښار ته يې تر لوټمار وروسته اور واچاوه. بيا په نورو ځايونو کي هم د جګړو او کرکو سره مخامخ سول. قسطنطنيې ته نژدې يې يوې کليسا ته اور واچاوه او د هغې راهبان يې ووژل. د قسطنطنيې نوي واکمن مينويل هغوی تر خپلي اورشو تېر کړل. نېقيې ته په رسېدو سره کنراډ پوځ پر دوو برخو ووېشی يوه برخه پوځيان يې د ساحل پر غاړو وړاندي ولېږل او خپله د دوهمي برخي سره د انطاکيې پر لور وخوځېد. په لارکي د ترکانو پوځونو پر دوهمه برخه بريد پر وکړ. تر لږ جنګ وروسته په صليبيانو سخته ماته ګډه سوه. د پوځ لسمه برخه پاته سوه او کنراډ تر ډېرو کړاوونو ګاللو وروسته نېقيې ته په رسېدو بريالی سو.

## د فرانسوي صليبيانو پوځونه:

کله چي د فرانسوي صليبيانو پوځونه د اووم لويي په مشرۍ د بېزنتين اورشو ته ورسېدل داسي يې احساس کړه لکه د دښمن سيمي ته چي ننوتلي وي. د دغه ځای د عېسويان د آلمانيانو د بدو عملونو له امله له دغو صليبي ځواکونو څخه تر پېزي راغلي وه. ځکه نو هغو خپل ښارونه او بازارونه د فرانسوي صليبيانو پر مخ وتړل. چي له امله يې دوی د خوړو او نورو اړتياوو د

ترلاسه کولو لپاره د سختو ستونزو سره مخامخ سول او نـژدې وو چـې دغـه پوځونه پر قسطنطنيه ور ودانګي، خو لويي منع کړل.

کله چي فرانسويان نيږدې ته ورسېدل دواړو پاچهانو سلامشوره وکړه او د آلمان د کنراډ پاته پوځيان د فرانسې د پوځ سره يوځای سول. اووم لـويي هـم ساحلي لار واخيسته. دغه مهال کنراډ بېرته ځني بېل سو او قسطنطنيې ته ستون سو. د ده د فرانسويانو متکبرانه رويه خوښه نه سوه. امپراتور مينويل په ١١٤٨ع. کال کنراډ ته پوځيان ور کړل او فلسطين ته يې ولېږی.

فرانسوي پوځونه د انطاکيې په لار کي د سختو ستونزو او د مسلمانانو د بريدونو سره مخامخ سول. يوه پلا مسلمانان د لويي د صليبيانو په خېمو ورننوتل. لويي ونې ته وخوت او خپل ځان يې پټ کړ او په دې چل وژغورل سو. کله چي صليبيان د کوچنۍ آسيا د سهيلي څنډو يوه ښار اطاليې ته ورسېدل د مسلمانانو له زياتو بريدونو څخه زيات په تنګ سول. ځکه نو لويي وپتېيل چي د سمندر له لاري وخوځي. خو د بېړيو کرايې چي په بېزنتينيانو يې اړه درلوده، ډېري جګي وې. پای لويي د خپلو سامانونو او د کورنۍ د غړو سره په بېړيو کي سپور سو او پوځ پلی پسې وخوځېد چي په لار کي ډېري بدي ورځي پر راغلې او تر انطاکيې پوري يې تر نيمي زيات پوځيان له منځه ولاړل.

## انطاکيې ته رسېدل:

د انطاکيې واکمن ريمونډ د لويي هرکلی وکړ، خو وروسته سره مخالف سول. تېري جونز او الين اريرا ليکي: د دغه اختلاف يو ستر لامل داوو چي د لويي د ځواني، ښکلي او زړه وړونکي مېرمني سره ريمونډ اړيکي ټينګي کړي وې. کله چي لويي وغوښتل چي بيت المقدس ته وخوځي مېرمني يې ورته وويل چي بيت المقدس ته مه ځه او په انطاکيه کي د شاوخوا سيمو په نيولو کي د ريمونډ سره مرسته وکړه. خو چي لويي ونه منل هغې د طلاق غوښتنه ځني وکړه. لويي اړ سو چي خپله مېرمن وتښتوي. هغه يې په بېړۍ کي واچول او پوځ يې د عکا پر لور وخوځاوه. (صليبي جنګيں ٨٧ مخ او نور).

## پر دمشق برید:

د ۱۱٤۸ع.کال د می پر ۲۵مه آلماني، فرانسوي او نورو صلیبیانو وپتېیل چې پر دمشق برید وکړي. خو مسلمانان د تېري کوونکو په وړاندې غلبچ سوي وه، دا برید یې په مړانه پر شاوتمباوه. د صلیبیانو د ستنېدو په لار کې مسلمانانو پرله پسې بریدونه پر کول. کنراډ په خښم سو او خپل وطن ته ستون سو. لویې څه نور مهال هم هلته پاته سو او بیا هغه هم ناکامه ستون سو.

د صلیبیانو دې حملې مسلمانان نور هم متحد کړل او د دوی نوي او ستر لارښود نور الدین د بیت المقدس د ژغورلو نخشې طرح کړې.

## د دې جګړې پایلې:

لکه چې ولیدل سول دې جګړې صلیبیانو ته هیڅ ګټه ونه کړه، بلکې د دوی په غوڅه ناکامي تمامه سوه. نورالدین زنګي بریالی سو چې د دمشق د چارو واګې په خپل لاس کې ونیسي او د صلیبیانو د سوریې تر څنګ اسلامي سوریه ایجاد کړي.

## د صلیبي جګړو د ناکامیو پیل

د سلطان اتابک زنګي ځای ناستی نورالدین زنګي د واکمن کېدو له هماغې لومړۍ ورځې څخه د توري په زور له اسلامي اورشوګانو څخه د صلیبیانو د شړلو په تکل کې سو. د ده په زمانه کې د بیت المقدس صلیبي واکمن په ۱۱٦۳ع.کال پر مصر باندې د ولکې ټینګولو لپاره هلې ځلې پیل کړې. سلطان نورالدین پر مصر باندې د صلیبیانو د فشار د کمولو په موخه پر انطاکیه او ټریپولي بریدونه وکړه. خو دغه کال یې لکه څنګه چې ښایېدل هغسې بری تر لاسه نه کړ. په مصر کې د صلیبیانو د کامیابۍ د مخنیوي لپاره هغه خپل سپه سالار اسد الدین شیرکوه د صلاح الدین ایوبي سره هلته ولېږی. په تاریخ کې د صلیبي جګړو د ستر اتل صلاح الدین ایوبي یادونه د لومړي ځل لپاره له همدغه ځایه را پیل سوې ده. شیرکوه په دغه کال په مصر کې څه کامیابي

ترلاسه نه کړه. خو سلطان نورالدين په انطاکيه کي د صليبيانو سلطنت په ١١٦٤ع.کال پوپنا کړ.

کله چي په مصر کي صليبيانو د دوهم ځل لپاره مداخله وکړه نو په ١١٦٧ع.کال يوځل بيا شيرکوه او صلاح الدين مصر ته ورغله. دا ځل يې صليبي پوځونو ته داسي ماته ورکړه چي له قاهرې څخه وتلو ته يې اړ ايستل. د مصر د فاطمي خلافت وزير شاور نومي مصر ته د فاطمي خليفه العاضد سره د مخالفت له امله صليبي پوځونه ورغوښتي وه. له دې امله شاور ووژل سو او شير کوه د العاضد وزير وټاکل سو. خو دوې مياشتي او پنځه ورځي وروسته شيرکوه وفات سو او العاضد د هغه پرځای صلاح الدين ايوبي خپل وزير وټاکی. بيا صلاح الدين ايوبي په ٥٦٧هـ /١١٧١ع.کال د العاضد پر نامه د جمعې خطبه بنده کړه او د عباسي خليفه المستضئي پرنامه په مصر کي خطبه ويل پيل سوه او العاضد هم څو ورځي وروسته ومړ.

بيا چي سلطان نورالدين زنګي په ٥٦٩هـ / ١١٧٤ع.کال وفات سو سلطان صلاح الدين (٥٣٢ ـ ٥٨٩هـ) د هغه پر ځای واکمن سو.

## د صليبي جګړو په بهير کي د بېزنتين بيا سر راپورته کول:

د ملاذګرد د جګړې په ډګر کي د بېزنتين تر ماتي وروسته د صليبيانو حملو بېزنتين واکمنۍ ته يوځل بيا د ځواکونو د سمباليدو موقع ورکړه. د نورالدين زنګي د واکمنۍ په وروستيو وختونو کي بېزنتين ټولواکمني دونه ځواکمنه سوې وه چي پر کوچنۍ آسيا، مصر، شام، سربيا او هنګري يې بريدونه کول. په ١١٧٦ع.کال يې له کوچنۍ آسيا څخه د ترکانو د ايستلو په موخه د سلطان قلج ارسلان پر پلازمېنه قونيه باندي بريد وکړ. سلطان قلج ارسلان د ماير يو سيفالون (Myrio Cipalon) په جګړه کي بېزنتين ټولواکمن مينويل ته داسي ماته ورکړه، لکه الپ ارسلان سلجوقي چي د هغه مشرانو ته يوه پېړۍ دمخه په ملاذګرد کي ورکړې وه. په دې جګړه کي د ټولواکمن ګرد پوځ شو په شو سو او خپله ټولواکمن د امان په اخيستلو سره د خورا سختو کړاوونو او بې وزلۍ او نهيلۍ په زغملو سره قسطنطنيې ته ورسېد.

که څه هم د ملاذګرد د جګړې له امله صلیبي توپان پر څپو راغی، خو د مایر یو سیفالون جګړې د صلیبیانو د ماتي پیغام ورور. د بېزنتین ځواکونو له برکته صلیبي واکمنۍ خوندي وې، خو د دې ځواک په ماته سره د صلیبي واکمنیو عمر پای ته ورسېد.

## د بیت المقدس بیرته ژغورنه

له یوې خوا سلطان صلاح الدین ایوبي تر ۱۱۸۳ع.کال پورې د مسلمانانو د داخلي تربګنیو په له منځه وړلو او د مصر او شام په متحد کولو اخته وو، له بلې خوا اسلام دښمنو صلیبیانو پر مسلمانانو باندې د ظلم او لوټمار بازار تود کړی وو. ان چې د مدینې تر شاوخوا پورې د دوی داړه ماران ورسېدل.او ریناله (Rainald) نومې د کرک عیسوي واکمن پټېلې وه چې (العیاذباللـه) د حضرت رسول مقبولﷺ مبارک جسد له قبره را وکاږي او ویې سوځوي. حالات تر دې پولې ترینګلي او بدخونده سول چې د مسلمانانو ځانونه او مالونه خو پرېږده عزت او آبرو یې په خطر کې سوه. له دې امله صلاح الدین ایوبي د دې ارذالو جګړې ته په مړانه ورودانګل. په ۱۱۸۷ع.کال یې د حطین په مشهوره جګړه کې صلیبي ځواکونه پاش پاش کړل. د بیت المقدس پاچا ګوی دولوزینیان (guy de lusignan) اوپست او کثیف ریناله او ډېر نور جنایتکار صلیبیان یې ونیول او د ریناله سر یې په خپله توره ورپرې کړ. تر دې بریو وروسته سلطان ایوبي طبریه، عکا، یافا، عسقلان، بیروت او نورښارونه هم آزاد کړل. په دې توګه صلیبیانو یو په بل پسې ماتي خوړلې. ټول مهم ښارونه بیرته د مسلمانانو لاس ته ورغله. د فلسطین ټول ملک یې ونیو.

بیا صلاح الدین ایوبي د دغه ۱۱۸۷ع.کال د ستمبر پر شلمه بیت المقدس کلابند کړ. بیت المقدس له صلیبي پوځونو ډک وو. سخت جنګ ونښت. خو پای صلیبیانو خپله خواري د سر په سترګو ولیدل. ځکه یې نو امان وغوښت. د ښار د ساتونکو مشر بالین (Balian) نومي له صلاح الدین څخه د سولې د ترون هیله وکړه. بالاخره موافقه وسوه چې صلیبیان دې د خپلو شتو او اولادو سره، بېله وسلو او جنګي اسانو له ښاره ووزي. په دې شرط چې د هر نارینه پر

سر لس دیناره، د هري ښځي پر سر پنځه دیناره او د هر هلک او نجلۍ پر سر ځلور دیناره او د هرکوچني پر سر یو دینار فدیه ورکړي او څوک چي دغه مبلغ نه سي ورکولای مریی دي سي. البته له عېسویانو څخه چي هر یو وغواړي د جزیې په ورکولو په بیت المقدس کي پاتېدلای سي. بالاخره د ٥٨٣هـ کال د خدای تعالی (رجب) پر ٢٧مه د جمعې په ورځ (د معراج په شپه) چي د ١١٨٧ع.کال د اکتوبر د دوهمي سره سمون خوري سلطان صلاح الدین﷫ دې متبرک ښار ته ننووت او هغه یې د صلیبي داړه مارانو له (٩١) کلن اسارت څخه وژغوره. (الاعلام والتبیین، چي د علل وآثار جنګهای صلیبي کتاب په وروستۍ برخه کي چاپ سوی دی،٢١٤مخ). په داسي حال کي چي هیڅوك ونه وژل سو او یو کور هم لوټ نه سو.

بالین ژمنه کړې وه چي د اوو زروتنو بې وزلو لخوا به دېرش زره دیناره خپله ورکوي، خو هغه یې ټول نه کړای سول. د صلیبیانو ستر پادري مسلمانان هک اریان کړل. هغه د خپل ځان لخوا لس دیناره ورکړل او د پیسو ډکه توبره یې واخیستل، ووت او د خپل هیڅ بې وزلي وطنوال مرسته یې ونه کړه. پای العادل له خپل ورور سلطان صلاح الدین څخه د لسو زرو مریانو آزادول په تحفه کي وغوښتل چي سلطان ومنل او دغه شمېر وګري سمدستي خوشي سوه. ستر پادري هیڅ ونه شرمېدی، بلکي د دوو سوو مریانو د آزادولو غوښتنه یې وکړه چي ومنل سوه. بیا د بالیان د پنځو سوو تنو د آزادولو غوښتنه ومنل سوه. وروسته سلطان ټول زاړه او بوډۍ ښځي وبخښلې او د آزادو ښځو بندي مېړونه یې هم خوشي کړل. بیا یې ډېرو عېسوي کونډو او یتیمانو ته سوغاتونه هم ورکړل. د رمله نومي ځای حاکم هم اسیر سوی وو. هغه هم د اتلسو زرو درهمو په مقابل خوشي سو. (صلیبی جنگیں ١٢٠ مخ، الاعلام والتبیین او نور ګرده تاریخونه).

## درېیمه صلیبي جګړه

د بیت المقدس د ژغورني له امله په لوېدیځ کي سخت شورماشور جوړ سو او دا سقوط د درېیمي صلیبي جګړې لامل سو. د آلمان امپراتور فریدریك چي

په باربـاروزا (سـور ږیری) مشـهور وو، د فرانسـې پاچـا فیلیـپ اګوسـت او د انګلستان پاچا ریچارډ په ٥٨٦هـ/١١٩٠ع. کـال د خپلـو خپلـو لښـکرو سـره د اسلام په جنګ راووتل. په الاعلام والتبیین في خـروج الفـرنج الملاعـین علی دیار المسلمین کې لیکي چې پـه دې لښـکرو کې د قسـطنطنیې د ټاپوګـانو او بندرونو، رومیې، ژنیو، حرنوا، پیزا، موریقـا، روډس، ونیـز، کـرت او قبـرس او سیسیل صلیبیان غونـډ سـوي وه. خـو لکـه چې تاریخونـه وایـي فریـدریک پـه اوبوکې غرق سو، له لسو زرو پوځیانو څخه یې ډېر تیت او پـرک سـول، ډېـری یـې مسـلمانانو ووژل او لـږ یـې د عکـا بنـدر تـه ورسـېدل. فیلیـپ اګوسـت لـه جګړې لاس واخیست او بیرته فرانسې ته ولاړ. اما ریچارډ دوه کاله وجنګېـدی او خپـل ځنـاورتوب یـې وښـود، خـو بیـا یـې هـم ونـه سـوه کـولای چې بیت المقدس ونیسي. پای د ١١٩٢ع.کال د اکتوبر پـر نهمـه د ده او صـلاح الـدین تر منځ سـوله وسـوه او ریچـارډ انګلسـتان تـه سـتون سـو. کلـه چې اتـریش تـه ورسېد د نیوني له ېرې یې جامې بدلې کړې. خو په ویانا کې په یوه سـرای کې د اوسېدو پر مهال وپېژل سو او لیوپولډ ونیو او کوته قلفـه یـې کـی. پـر ده تـور ووچې یو یې د اتریش بیرغ ته سپکاوی کـړی دی او بـل کنـراډ د ده پـه ټـونـګ وژل سوی دی. دی یې شپږم هنري ته وسپاره. هغه بندي کړ، خـو تـر یـوه کـال بند وروسته د ستري جرمانې په ورکولو سره خوشې سو.

په دې توګه د صـلیبي ځنـاورو واک یـوازې پـر پخوانۍفنیقیـه او د هغـې پـر پلازمېنه عکا منحصر سو. دغه ښار تر نورو سلو کالو، یعنـي تـر ١٢٩١ع.کـال پوري د نصاراوو په ولکه کې پاته سو.

## څلورمه صلیبي جګړه

دا جګړه د اسلام سره نه، بلکې د صلیبیانو د رقابتونو او سرانښـیو لـه املـه د مادیـاتو او واک پـر سـر او د شـتو د لوټولـو پـه موخـه د صـلیبیانو تـر منځ وه. (١١٩٩ع.) پـاپ دریـم انوسـینټ او نـورو کلیسـاوالو د دې جګـړې د پـه لاره اچولو لپاره د جهاد فتوا ورکړه او تبلیغات یې ورتـه وکـړل. د فرانسـې او وینـز (Venice) طاغوتـان د دې جګـړې د لګښـتونو او د جګـړې پـه پایلـه کـې د

لوټېدونکو مالونو او غصبېدونکو ملکونو او واکمنیو د وېشلو پر سره تر ناغېړیو او نیم بندو جوړ جاړیو وروسته په ۱۲۰٤ع.کال د بېزنتین پلازمېنې قسطنطنیې ته ورسېدل، هغه یې لوټ او تصرف کړه، هلته یې د بېزنتین د امپراتورۍ پر ځای لاتیني امپراتوري قایمه کړه. د دغې امپراتورۍ سیمې یې په خپلو منځو کې ووېشلې. د فلانډر والي بوډوئن یې امپراتور وټاکی. بونیفاس ډومون فرا یې د سالونیکا او مقدونیې پاچا کړ. سرابڼو صلیبیانو په قسطنطنیه کې داسې ستر ي تاریخي لوټمارۍ، ظلمونه، په زور زناوي او جنایتونه یې وکړل چې په تاریخ کې یې چا ساری نه وو لیدلی. هغو په نړۍ کې د هغه مهال دغه تر ټولو شتمن ښار داسې چور کړ چې لوټمارانو د سرو او سپینو زرو، د جواهرو د لوښو، د اتلس، وربښمینو او نورو ګرانبیو جامو او سامانو او د کلیساګانو د متبرکو توکو حساب ورك کړ.

بېزنتینیانو تر ډول ډول خونړیو کشمکشونو، وژنو، ورانیو او د واک تر ادلون بدلون وروسته په نیقیه کې خپله اپراتوري له سره قایمه کړه، چې په دې توګه د دې مادي پالو کفارو تر منځ سخت اختلافات رامنځ ته سول. دې چاري مسلمانانو ته ګټه ورسول او کفارو ته یې ډېري بدي پایلي لرلې. ځکه د دوی ځواکونه سره وپاشل سول. سلجوقیانو ته فرصت په لاس ورغی چې د خپلو متصرفاتو ترمنځ ارتباطات ټینګ کړي او د دې سره سم سلجوقي دولت ته د مدیتراني د واکمنیو سره د سوداګرۍ امکانات برابر سول او په پایله کې د سلجوقیانو واکمني ودانه او مخ پر ترقي روانه سوه. د بودوئن پر امپراتورۍ بلغاریایانو د شمال له لوري برید وکړ. بودوئن ته یې ماته ورکړه او بیا یې وواژه. د بېزنتین یوناني کورنۍ هم چې خپله پلازمېنه یې نیقیې ته لېږدولې وه په ۱۲٦۱ع.کال بیرته قسطنطنیه ونیول او لاتیني امپراتوري یې را وپرځول. په دې ډول په نهایت کې د دغې پېړۍ تر پایه پوري لوېدیزیان له بیت المقدس او قسطنطنیې څخه وشړل سول. (صلیبي جنګیں ۱٤۹ او ورپسې مخونه او نور)

## پنځمه صليبي جګړه

د قسطنطنيې لـه نيولـو او لوټولـو څخـه پـه ښـه توګـه څرګنـده سـوه چـي د لوېديزو واکمنو او کليساوالو د صليبي جګړو لـه پـه لار اچولـو څخـه موخـه د ماديـاتو پـه لاس راوړل وه، نه بل څه. دوی د هماغه خپـل تحريـف سـوی ديـن تعليمات پـه څـو ډولـه تـر پښـو لانـدي کـړل؛ پـه دې معنـا چـي يـو يـې د هغـه مسالمت او سوله خوښونه له پامه وغورځول، او بـل يـې د خپلـو عېسـويانو او مقدساتو سره هغه څه وکړه چي په يـادولو يـې تاريخونـه شـرميږي. بيـا هـم د دوی سرابښې او سرکښۍ جنګ جګـړو تـه هڅـول او د مـادي ګټـو لپـاره يـې د مسلمانانو ويني تويولو ته ادامه ورکړه، خـو پـه هـره جګـړه کي ماتـه د دوی پـه برخه کېدل.

په پنځمه جګړه کي (1217 - 1221 ع.) چي اتل صلاح الـدين ايـوبي رحمه الله له دې نړۍ څخه سـترګي پټـي کـړي وې کليسـاوالو او د مجارسـتان او اتـريش پاچهانو د بيت المقدس د بيا نيولو په موخه پر مصـر پوځونـه ور مـارش کـړل، خو دا پوځونه په سختو کړاوونو اخته سول. د صلاح الدين ورور ملک العـادل د دې پوځونو سره چي خورا مجهز او د ټولو اروپايي قومونو څخه جـوړ وه، د جګړې او تېښتي او ځنډمن او سترې کوونکي جنګ کړنلار غـوره کـړه. چـي دا چل د اروپايانو په سترې کېدو او نهيلۍ کي تـر ډېـره بريـده بريـالی وو. ځکـه د دوی سره چټکو جګړو مرسته کول. کله چي لوېديزيانو د نيـل پـر څنـده پـروت «دمياط» نومی ښار ونيو العادل له ډېـري خواشـينۍ څخـه وفـات سـو. د ده پـر ځاې د ده زوی ملک الکامـل د ټـول ايـوبي سـلطنت واکمـن سـو. دغـه مهـال صليبيانو ته له فرانسې، انګلستان، اسپانيې او ايټاليې څخه کومـک ورسـېدی. الکامل لوديزيانو ته وړانديز وکړ چي دمياط بيرته مسـلمانانو تـه پرېـږدي، دوی به بيت المقدس او د هغـه ټـول اړونـد ځايونـه، د اردن او عسـقلان پـه شـمول لوېديزيانو ته ورخوشي کـړي، خـو مغـرورو او مـادي پـالو لوېـديزيانو، پـه تېـره کليسا والو دا خبر ونه منل. هغو ته بيت المقدس دونه مهم نـه وو، بلکـي هغـو پر مصر واکمن کېدل او د هغه شتمني لوټول او د هغه د بندرونو تجـارتي ګټـې او امتيازات تر لاسه کول غوښتل.

خو مسلمانان اړ سول چي له مړاني او مقابلې څخه کار واخلي، پای يې کفار کلابند کړل او څنګه چي د نيل د سيند اوبه زياتي سوي وې، هغه يې پر ور خوشي کړې او په دې توګه يې سخته ماته ورواړول. چي په دې چل يې «دمياط» له عيسويانو څخه بيرته ونيو او پايله دا سوه چي لوېديزيان بيله څه لاسته راوړني په شا تلو ته اړ سول.

له دې جګړې څخه د دې مادي پالو موخي ډېري ښې په ډاګه سوې. ځکه هغو خو دا ټول شر او جنجال د بيت المقدس د نيولو لپاره په لاره اچولی وو، نو بيا ولي هغو بيت المقدس نه غوښت او د مصر واک او شتمنيو ته لېواله وه؟

## شپږمه صليبي جګړه

پاپ دوهم هونوريوس په ١٢٢٣ع.کال د طاغوتيانو او کليساوالو غونډه راوغوښته څو بله صليبي جګړه په لار واچوي. تصميم دا سو چي دې جګړې ته دي د جرمني امپراتور دوهم فريدريک ور ودانګي. ځکه چي هغه په ١٢١٥ع.کال کله چي يې د پاچهۍ تاج پر سر ايښوی ژمنه کړې وه چي صليبي جګړې ته به وردانګي. په دې موخه په دې غونډه کي وويل سول چي د بيت المقدس د واکمن جان برين لور دي فريدريک په نکاح کړي. فريدريک په غونډه کي لوړه وکړه او ويې ويل چي په ١٢٢٥ع.کال به د بيت المقدس پر لور پوځونه ور وخوځوي. خو دی اصلاً د جګړې سړی نه وو. له دې امله يې جنګ تر ډېره مهاله وځنډاوه. بالاخره يې د پاپ د فشار له امله ژمنه وکړه چي د ١٢٢٧ع.کال د اګست پر ٢٥مه به هرومرو جګړې ته خوځي. په دې ترڅ کي پاپ هونوريوس ومړ او ځای يې نهم ګريګوري ونيو. په هر صورت په دغه نېټه د فريډريک پوځونه د بيت المقدس پر لور وخوځېدل او څو ورځي وروسته فريډريک هم پسي روان سو. خو په لار کي ناروغه سو او په اټلي کي تم سو.

څنګه چي ده د ملک الکامل سره د دوستۍ تودې اړيکي درلودې او له بلې خوا هغه مهال د پاچهانو لپاره ليک لوست يو ناوړه کار وو، خو فريډريک په

څو ژبو پوهېدی؛ عربي يې ښه زده وه؛ قرآن کريم يې هم مطالعه کاوه؛ د ساينس او فلسفي علومو سره يې هم مينه درلوده؛په خپله مېرمن به يې حجاب کاوه او هم يې د عېسويت د دين ضد دهري ډوله افکار درلودل، او د مسلمانانو سره په جنګ کي يې هم ځنډ راوستی، نو ځکه پاپ ګريګوري هغه له دين څخه وايست (تکفير يې کړ). په مقابل کي فريډريک هغه دروغجن او ډېر خطرناک سړی وباله.

د صليبي جنګين کتاب په (۱۷٤مخ) کي د دغو خبرو په ترځ کي او د شعر الجهاد في الحروب الصليبية په ٥۲ مخ کي ليکي: کله چي العادل مړ سو د واک پر سر د ده د درو زامنو، الکامل، المعظم او الاشرف تر منځ سختي شخړي وپاڅېدلې. الکامل د دوهم فريډريک څخه د خپل ورور معظم پر ضد چي د دمشق واکمن وو مرسته وغوښته او هغه ته يې د مرستي د غوښتلو لپاره ليک واستاوه او د مرستي په بدل کي يې د بيت المقدس، او نورو ټولو ساحلي سيمو کومي چي د ده اکا اتل صلاح الدين ايوبي له صليبيانو ژغورلي وې، د بېرته ورکولو وعده ورکړه. له دې امله فريډريک له دې طلايي چانس څخه د ګټې اوچتولو په موخه پر خوځښت راغی.

## ډرامه يي جګړه او بيت المقدس:

کله چي فريډريک عکا ته ورسېد حالاتو بدلون موندلی وو. المعظم وفات سوی وو. الکامل د فريډريک مرستي ته اړتيا نه درلوده. فريډريک الکامل ته وويل: «زه ستا دوست يم. ستا د خبري له مخي دلته راغلی يم. پاپ او د اروپا خلک زما د دې سفر په موخه خبر دي. که زه خالي لاس ستون سم، ډېر به بې عزته سم. نو خدای ته وګوره بيت المقدس ما ته وسپاره. څو زه له دې امله سر لوړی سم».

د الکامل هم جګړې ته زړه نه کېدی، ځکه دغه مهال د تاتاريانو د تاړاکونو او دغه لور ته د هغو د وړاندي تګ آوازې ور رسېدلي وې او په دوو جبهو کي جنګ ورته ستونزمن وو. ده هغه ته وويل: «ستا غوندي زه هم اړ يم چي د خپلو خلکو خيال وساتم. که زه بيت المقدس تا ته درکړم، زما ژوند ستونزمن

کيږي او د اسلام عالمان ما له واکه را پرځوي». بالاخره يې فريډريک ته مشوره ورکړه چي ته په يو ډول مصنوعي جګړه تظاهر وکړه. زه به خپلو خلکو ته ووايم چي د وينو بهېدو د مخنيوي په خاطر مي له مجبوريته بيت المقدس عېسويانو ته خوشي کړ. هغه وو چي د ۱۲۲۸ع.کال په نومبر کي فريډريک د خپلو درو زرو تنو پوځيانو سره د جګړې ډګر ته ووت. الکامل د خبرو اترو ډرامه په لار واچول او مسلمانانو ته يې امر وکړ چي له بيت المقدس څخه ووزي. د دې خبري په اورېدو سره د مسلمانانو د اعتراضونو ږغونه د ساندو او ژړاوو سره پورته سول. په دغسي ناخوښه او ترينګلي حالت کي د ۱۲۲۹ع.کال د فروري پر ۱۸مه بيت المقدس فرنګيانو ته وسپارل سو. د لسو کالو لپاره ترون لاسليک سو. د دې ترون له مخي بيت اللحم، بيت المقدس او څو ساحلي سيمي عېسويانو ته ورکړل سوې. قبة الصخره او مسجد الاقصی د مسلمانانو سره پاته سوه او د عيسیؑ زيارت هم عېسويانو ته ورکړه سو.

فريډريک د بيت المقدس ښار ته ننووت او پر وګرځېد. د نابلس قاضي شمس الدين هم ورسره ملګری وو. په دې ترڅ کي فريډ ريک يو کشيش وليد چي انجيل يې په لاس کي وو او مسجد الاقصی ته يې د ننوتلو کوښښ کاوه، خو فريډريک خوشکه ورته وکړه او منع يې کړ. په دې بل سهار يې له نوموړي قاضي څخه پوښتنه وکړه چي قاضي صاحب! څه خبره ده چي په ښار کي د اذانونو آواز نه اورېدل کيږي؟ قاضي ورته وويل: «صاحبه! ستاسي مريي ستاسي د تعظيم لپاره مؤذن له اذان کولو څخه منع کړی دی». ټولواکمن ورته وويل: «تاسي تېر وتلي ياست قاضي صاحب! په بيت المقدس کي زما د شپې تېرولو تر ټولو لوی سبب دا وو چي د اذان زړه راکښونکی آواز واورم». (السلوك لمعرفة دول الملوك، ۱ /۷۲ مخ).

بيا فريډريک په بيت المقدس کي د تاج ايښوولو مراسم تر سره کړل او ويې ويل: «وګورئ نن د ژغورني ورځ ده. زه ستاسي او خدای تر منځ اړيکي ټينګوونکی يم». بيا يې وويل: «وړاند وينه سوې وه چي يو «وروستی ټولواک» بيت المقدس ته له مريیتوب څخه نجات ورکوي او ختيځ او لوېديځ به يې تابع کيږي. ما دغه وړاند وينه رشتيا کړه».

خو بله ورځ له عکا څخه د ستر پادري لخوا پیغام ورسېد چې په بیت المقدس کې هر ډول مذهبي مراسم او عبادتونه منع دي او فریډریک «وروستی تړلواک» نه، بلکي «خردجال» دی. ټیمپلرانو او هاسپټلرانو، پاپ او ستر پادري ویل چي دا څنګه صلیبي جګړه وه چې د مسلمانانو یو څاځکی وینه پکښي توی نه سوه؟ له صلیبي جګړې څخه خو موخه د مسلمانانو سره خبري اتري نه دي، بلکي مطلب د دوی وژل دي.

ټیري جونز او الین اریرا وایي چي له دې څخه څرګنده سوه چې د روم د پاپ اصلي موخه ویني تویول او عام وژنه وه، نه د بیت المقدس تر لاسه کول. یوه عېسوی په دې اړه څه ښه لیکي دي چي: «عېسوي مذهبي ټیکه داران خپل واک د درواغو، تېر ایستلو، تشدد، لوټماری‌او نورو هرډول ټګیو څخه په کار اخیستنه ټینګوي».

## د مسلمانانو اعتراضونه:

له بله لوري مسلمانان الکامل ته پورته سول. د آذان وخت نه وو، خو د هغه د حرمسرای مخ ته یې اذانونه وکړل. اما الکامل ډېره بده وضع ورسره وکړه او ورته ویې ویل چي ځئ لاس مو خلاص!! له دې امله په هرځای کي مسلمانانو له الکامل څخه کرکي څرګندي کړې. په دې هکله ابن تغري بردي د النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة په۲/ ۲۰٦ مخ کي لیکي: کله چي فریډریک ته د بیت المقدس د سپارلو خبر خپور سو مسلمانانو د قیامت ورځ جوړه کړه او شورماشور جوړ سو. له دې امله فریډریک له بیت المقدس څخه تر دوو شپو تېرولو وروسته ووت او یافا ته ولاړ.

د دمشق واکمن الملک الناصر داود بن معظم د خپل اکا الملک الکامل پر ضد مسلمانان نور هم تحریک کړل. د دمشق په جامع جومات کي بې شمېره خلک د اعتراض په دود راغونډ سول او د خپل غم او غوسې څرګندونه یې په ژړاوو او د الکامل پر ضد په چیغو او نارو وکړه. حافظ شمس الدین سبط ابن

الجوزي/ (581 ـ 654 هـ)[1] په دې هکله خپله وینا او یوه اوږده قصیده واورول. (السلوك لمعرفة دول الملوك، ۱ /۷۲ مخ).

بیا پاپ او فریډریک سره ښکر په ښکر سول او د دوی د پوځونو تر منځ سخته جګړه ونښته. چې د پاپ د ځواکونو په ماته پای ته ورسېده.

## له اروپا څخه د نورو ځواکونو رسېدل:

په ۱۲۳۹ع.کال چې مغولو مسلمانان تر فشار لاندې راوستي وه، یو ځل بیا له اروپا څخه د لویو لویو ځواکونو پوځونه د بیت المقدس او نورو ځایونو د بشپړ نیولو او د ټول شام تر کنټرول لاندې راوستلو په موخه راوخوځېدل. کله چې دا پوځونه عکا ته ورسېدل او بیا د عسقلان د نیولو په موخه وخوځېدل په لارکې د غزې مسلمانانو هغو ته داسې ماته ورکړه چې ډېر یې ووژل سول او یا بندیان سول او لږ یې اروپاته په تېښته بریالي سول.

## د بیت المقدس لاس پر لاس کېدل:

په ٦٤٢هـ کال د الکرک حاکم الملك الناصر داود ابن الملك المعظم عیسی چې له ایوبي کورنۍ څخه وو پر بیت المقدس برید وکړ او هغه یې له عېسویانو څخه ونیوی. (مغربي یلغار ۱۰۵ مخ) وروسته ناصرداود الکرک ته ولاړ او بیت المقدس د دمشق حاکم الصالح اسماعیل بن نورالدین ته پاته سو. بیا د الصالح اسماعیل او د ده د ورارہ ملک الصالح نجم الدین ایوب چې د مصر واکمن وو تر منځ شخړه او جګړه رامنځ ته سوه. الصالح اسماعیل د صلیبیانو ملګری سو. د نجم الدین صالح پر ضد یې کومک ځني وغوښت. په همدغه ٦٤٢هـ کال یې بیت المقدس، طبریه او عسقلان وروسپارل او پر دې سربېره یې صلیبانو ته اجازه ورکړه چې د دمشق ښار ته ننوزي، سلاوي او نور د اړتیا وړ شیان رانیسي. (د النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة په ۲/ ۲۷۹ مخ کي وایي چې د دغه اسماعیل صالح د مغولو سره هم لاس پټ وو). په دې خیانت مسلمانان او اسلامي عالمان سخت په

---

۱- نامتو عالم ابي الفرج بن الجوزي رحمه الله یې د مور لخوا نیکه کېدی.

غوسه سول. نامتو عالم عز الدين بن عبد السلام﷬ فتوی ورکړه چې پر صليبيانو باندې د وسلو خرڅول حرام دي. هغه د جمعې په ورځ د دمشق په اموي جامع جومات کې منبر ته وخوت او دغه فتوی يې اعلان کړه او د دغه واکمن دغه عمل يې سخت وغندی، په خطبه کې يې هغه ته د دعا پر ځای ښراوي وکړې چې په جامع کې را غونډو سوو خلکو د ژړاوو په حال کې آمين پر وايه. بيا دغه واکمن شيخ عزالدين او په دې کار کې د هغه ملګری ابوعمرو جمال الدين الحاجب﷬ بنديان کړل بيايې څه موده وروسته بېرته خوشې کړل او په کورونو کې تر نظربندۍ او نورو کړاوونو زغملو وروسته يې له دمشق څخه تبعيد کړل. چې له دې امله مهاجرت ته اړ سول. عز بن عبد السلام﷬ مصر ته ولاړ او د هغه ځای د واکمن ملک صالح ايوب لخوايې تود هرکلی وسو او د عمرو د جامع جومات د خطابت دنده يې ورسپارل.

په٦٤١هـ / (۱۲٤۳ ع.کال کله چې خوارزميانو په خوارزم او نورو سيمو کې د مغولو څخه ماته وخوړه نو هري خوا ته تيت او پرک سول. له هغو څخه ځو زره تنه شام ته ورسېدل، د بيت المقدس په ښار ننوتل. ډېر خلک يې ووژل، ښار يې لوټ کړ او بيا ځني ووتل. وروسته د مصر د واکمن ملک الصالح نجم الدين ايوب پوځونو د بيبرس البندقداري الصالحي په مشری په ٦٤٢هـ/ ۱۳٤٤ع. کال د صليبيانو او د هغو د مسلمانو انډيوالانو سره په غزه او نورو ځايونو کې سختې جګړې وکړې، هغو ته يې تاريخي او عبرتناکه ماته ورکړه او بيت المقدس، بيت اللحم، اردن، دمشق او ډېري نوري سيمي يې د تل لپاره ځني آزادي کړې.

په دې ډول بيت المقدس بېرته د مسلمانانو لاس ته ورغی او نږدې اوه سوه کاله (تر ۱۹۱۷ع.کال پوري) د دوی په لاس کې پاته سو.

## اوومه صليبي جګړه

کله چې فرېډريک د بيت المقدس له نيولو څخه خبر سو نو د بلې صليبي جګړې لپاره يې تيارۍ پيل کړې. خو راهبانو يې مخالفت وکړ. په دې توګه دوی په خپلو منځو کې په شخړو اخته سول.

د فرانسې امپراتور نهم لويي يو راهب طبيعته سړی وو او تل به ناروغه وو. په ١٢٤٤ع.کال د ناروغۍ له امله بې سده سو. کله چې پر سد سو. نذر يې کښېښود چې په دې آخر عمر کې د ثواب ګټلو په موخه يوې صليبي جګړې ته وخوځي. (د بې ګناه مسلمانو انسانانو مرګ ژوبلي او د هغو د ملکونو ورانولو او د شتو لوټولو ته ولاړ سي او ثواب وګټي؟!).

درې کاله يې د دې کار لپاره تبليغات وکړل او هر اړخيز ترتيبات يې ورته ونيول. په ١٢٤٧ع.کال پاپ څلورم انوسينټ په دې لټه کې سو چې مغول پر مسلمانانو باندې له شمال څخه بريدونه وکړي او نهم لويي له سهيل څخه. نو هغه وو چې نهم لويي د پاپ په غوښتنه په ١٢٤٨ع.کال په ١٨٠٠ بېړيو کې شل زره سپاره او څلويښت زره پلي پوځيان د ډول ډول سامانونو، آذوغو او اسانو سره د مديترانې پر لور وخوځول. کله چې قبرص ته ورسېدل له موصل څخه د مغولو سفير ور ورسېد. لويي د مغولو دربار ته ډېر سوغاتونه ولېږل. بيا د لويي پوځونه د مصر پر لور وخوځېدل. پر لارې د قبرس او مصر ترمنځ د توپان له امله د لويي بېړۍ غرقې سوې او ډېر لږ نفر يې دمياط ته ورسېدل. (جون ١٢٤٩ع.کال).

د مسلمانانو دولتي چارواکو د سلطان الصالح نجم الدين ايوب د خبرتيا او مشورې پرته دمياط بيله جګړې خوشې کړ. صليبيانو چې بيله کومې جګړې او تلفاتو ښار ونيو نو د لوټمار، عياشۍ او فحاشۍ بازار يې تود کړ. سلطان الصالح نجم الدين ايوب له مصر څخه د درملني لپاره دمشق ته تللی وو. نامتو عالم امام عزالدين بن عبدالسلامؒ سمدستي د جهاد فتوی ورکړه. سلطان د ناروغۍ په حال کې مصر ته راغی او د ناروغۍ په حال کې يې د يرغلګرو پر ضد درنه جګړه په لار واچول. خو په دې منځ کې هغه په٦٤٧هـ / ١٢٤٩ع. کال وفات سو. د هغه ملکې شجرة الدر د هغه مړينه پټه وساتل. اما څه مهال وروسته خلک په پوه سول.

**د منصورې جګړه او د صلیبیانو سخته ماته:**

د سلطان د مړینې په اورېدو سره صلیبیانو د قاهرې پر لور حرکت وکړ او منصورې ته نـژدې یـې واړول. مسـلمانانو ډول ډول بریدونـه پـر پیـل کـړل. پـه ۱۲۵۰ع.کال صلیبیان د منصورې بازار ته ننوتل او هلته توده جګړه ونښته. پـه پایله کې صلیبیانو ته درانه تلفات واوښتل او بالاخره جګړه تـن پـه تـن سـوه او څه مهال وروسته په صلیبیانو ماته ګډه او په تېښتېدو سوه،

په دې وخت کې یوې بلې ډلې صـلیبیانو وکولای سـول چـې نـابره د پاچـا ماڼۍ ته ننوزي. له دې امله په دننه ماڼۍ کې خونړۍ جګړه پیل سوه.

دغه مهال د افغانستان د غزني د یوه تن اتلولۍ د لوی څښتن ﷻ په فضل او مرحمت پاچایي حرم له خطره وژغوری[۱].

هغه د صلیبیانو د دغو پوځیانو مشر وواژه او بیا یـې د بیبـرس او نـورو اتلـو جګړه مارو په ملګرتیا ماڼۍ د صلیبیانو په مړو ډکه کړه[۲].

---

۱- دغه اتل محمود قطز بن ممدود وو چې له پاچایي کورنۍ څخه او د سلطان جلال الدین بن خوارزم شاه خوریی وو. سلطان جلال الدین د چنګېز سره په جګړو کې تر ماتې وروسته د اسلامي هیوادونو له واکمنو څخه د مرستې غوښتنه وکړه ، خو څنګه چې د هغو لخوا څه مرسته ورونه رسېده، بلکې د خلاط د واکمن ملک اشرف لخوا ناوړه جواب ورکړه سوی وو، د هغه پر واکمنۍ یې برید وکړ. تر ډېرو مرګ ژوبلو وروسته یې دغه خوریی او لور جهاد نومې د کردي غلو لخوا وتښتول سول او بیا چې دی د هغو په لټه هلته تر ډېره پاته سو، دی هم د دغو کردي غلو په لاس کښېووت اوویې واژه. غلو د محمود نوم «قطز» کښېښود او د جهاد نوم یې «ګلنار» کښېښود او بیا یې د شام د مریانو پر سوداګر خرڅ کړل. دغه سوداګر بیا دوی د حلب په بازار کې پر یوه دمشقي شیخ غانم مقدسي وپلورل. بیا محمود قطز د دمشق یوه مخور ابن زعیم رانیوی او بیا پر سلطان الصالح نجم الدین ایوب وپلورل سو او د هغه په ځانګړو ساتونکو کې شامل سو. وروسته یې پر مصر او شام باندې د تاتاریانو د یرغلونو په درشل کې د چارو واګې په لاس ګښېوتې او د ملک مظفر په لقب د مصر واکمن سو.

۲- تاریخونه وایي چې دغه مهال ملکه شجرة الدر د ماڼۍ په برنډه کې ولاړه وه. د هغې سره جهاد یا ګلنار نومې چې اوس په دغه ماڼۍ کې د مینځې په توګه اوسېدل هم ولاړه وه کومه چې اصلاً د جلال الدین بن خوارزم شاه لور وه او غلو د محمود قطز سره

بيا هغه وو چې پاته صليبيان خپل مرکز ته ستانه سول. مسلمانانو تعقيب کړل، بېړۍ، وسلې، مالونه او سرتېري يې په اوبو ورلاهو کړل او د رسد لاري يې پر بندي کړې. بيا بيبرس د صليبيانو پر مرکز بريد وکړ، تر ډېرو زيانونو ور اړولو وروسته يې کلابند کړل. دغه مهال په صليبيانو کي ناروغۍ خپرې سوې. خپله نهم لويي او نور غټان يې سخت ناروغه سول. لويي چي د نس په ناسته (اسهال) اخته وو او پتلون يې مردار ګړی وو د تېښتي په حال کي پر مځکه ولوېد. بيا يې يوه کور ته يووړ. بيا مسلمانانو هغه ژوندی ونيو او اسکندريې ته يې بوت هغه يې پر اوښ پړمخي سپور کړ، په ښار يې وګرځاوه او بيايې تر يوې مياشتي د قاضي فخرالدين ابراهيم ابن لقمان په کور کي بندي کړ.

په دې جګړه کي تر دېرش زره زيات عېسويان ووژل سول او نژدې يو لک تنه ژوندي ونيول سول. څوک چي نه مسلمانېدل وژل کېدل او نور يې د قاهرې د مريانو د خرڅولو بازار ته بوتله. بيا شجرة الدر نهم لويي او د هغه بنديان ملګري د څلورو لکو دينارو فديې (چي تقريباً د 500000 بوندو سره برابر وه او د جګړې د تاوان ورکولو په بدل کي خوشي کړل. د لويي ملګري، په داسي حال کي چي هر څه يې له لاسه ورکړي وه، تش لاسونه فرانسې ته ستانه سول. خو لويي له شرمه فرانسې ته نه ولاړی.څلور کاله يې په عکا او يافا کي تېر کړل. پای په ۱۲۵٤ع.کال فرانسې ته ستون سو. (مغربي يلغار ۱۰۵ ـ ۱۰۷مخ او نور).

---

يوځای تښتولې وه او بيا يې د هغه سره د دمشق په بازار کي پلورلې وه او تر دې ځايه رسېدلې وه. کله چي به پر محمود قطز غزنوي دښمن توره پورته کړه نو ګلنار به خپل لاسونه پر سر کښېښوول او سترګې به يې پټې کړې، خو کله چي به هغه حمله کول نو دواړه لاسونه به يې پر ملا کښېښوول. وروسته د مصر ملکې شجرة الدر ګلنار قطز ته وبخښل او هغه واده ورسره وکړ چي بيا د عين جالوت په غزا کي د خپل خاوند تر څنګ د تاتاريانو سره په مخامخ جګړه کي شهيده سوه (وا اسلاماه بېلابېل مخونه).

## اتمه صلیبي جګړه

دا جګړه په ۹ـ ٦٦٨هـ /١٢٦٩ع. کال په افریقا (تونس) کې د حفصي دولت د را پرځولو په موخه پر ختیځ باندې د مغولو د بریدونو سره سم په لاره واچول سوه.

په لوېدیځه افریقا (د مغرب په ولایتونو) او اندلس کې د موحدینو د دولت په له منځه تلو سره هغه پر څلورو دولتونو ووېشل سو. چې مهم یې د شیخ ابو محمد عبدالواحد حفصي د زامنو لخوا رامنځ ته سو. تر شیخ عبدالواحد وروسته د هغه لمسي سلطان ابو عبد الله محمد المستنصر بالله بن الامیر ابي زکریا یحیی بن الشیخ ابي محمد عبد الواحد بن الشیخ ابي حفص عمر د مکې له امیر څخه د المستنصر بالله لقب ترلاسه کړ او د مغرب او اندلس او مصر او شام ټولو واکمنو د هغه سره بیعت وکړ او د ده څلور لسیزي حکومت د اسلامي تمدن له ځلاندو دورو څخه وو.

دې دولت د عېسوي او مسلمانو دولتونو سره ښې اړیکي ټینګي کړې وې او د دې کورنۍ (۲۵) تنو (۳۷۸) کاله په موروثي توګه تر ۹۸۱هـ کال پوري حکومت وکړ. چې پای په دغه کال تونس د عثماني واکمنۍ تر ولکه لاندې راغی.

څنګه چې نهم لویي پر عېسویانو او مغولانو باندې د اتل بیبرس له سترو بریو څخه خبر سو، نو یوځل بیا د جګړې فکر ورسره پیدا سو. نو هغه وو چې د پاپ څلورم اوربان په مرسته د پوځیانو د راغونډېدو په لټه کې سو.

د دې جګړې د لاملونو او پایلو په هکله بېلابېل نظریات وړکړه سوي دي.

## د اتمي صلیبي جګړې لاملونه:

عېسوي مادي پالو طاغوتیانو خو د بیت المقدس د آزادولو شعار ورکړی وو، نولویي خو باید د عېسویانو د دغه شعار سره سم بیا هم د بیت المقدس د ژغورلو په موخه مصر یا فلسطین ته خوځېدلی وای. نو ده تونس ته څه کاوه؟

په دې هکله چې څه دلایل ویل سوي دي په دې ډول دي:

1- د فرانسوي سوداګرو ټوټک:

ځيني تاريخونه وايي چې پر ابو العباس احمد اللياني نومي چې د مستنصر د دربار د مالي چارو مسؤوليت يې پر غاړه درلود او بيا د مستنصر لخوا په ٦٧٤هـ کال ووژل سو، فرانسوي سوداګرو د ۳۰۰ دينارو پور بې سنده دعوه کول، خو مستنصر نه ورکول. ځکه نو هغو لويي ته شکايت وکړ او د تونس جګړې ته يې وهڅاوه. چې دا لويي ته يوه پلمه سوه.

2- په اسلامي نړۍ کې د تونس نوی مقام او په مصر کې د لويي د ماتې غچ اخيستل او د مستنصر لخوا د لويي د سپکاوي جواب:

د لويي بله پلمه دا وه چې يوه ډله ترک سرتېري د مستنصر مخې ته تېرېدل، هغه وويل: دا هغه کسان دي چې د فرانسې طاغوت يې بندي کړی وو. دغه خبره لويي ته رسېدلې وه، ځکه نو ده پر تونس د بريد تصميم ونيو. څو د مصر ماته په تونس کې جبران کړي. ځکه تونس ته د اسلامي نړی پام اوښتی وو او ځان يې د اسلام د خلافت رشتياني وارث جوت کړی وو. بله اصلي خبره دا وه چې صليبيان د مصر او تونس له نژدې کېدو څخه په بېره کې وه او دغه خبر پر تونس باندې د هغو د بريد لامل وو. نه د لويي سپکاوی.

3- د تونس د عېسوي کېدو هيله:

لکه چې پوهېږو صليبي دولتونه پرله پسې کوښښ کوي چې اسلامي دولتونه يا بېخي عېسوي کړي او يا يې په يو ډول نه يو ډول د عېسويت تابع کړي. هغه مهال نهم لويي د دې کار لپاره ډېر تلاښ کاوه. تونس د دې سياست له ډېرو فعالو حوزو څخه باله سو. هغه مهال په تونس کې د راهبانو ډېري ډلې د عېسويت په تبليغ بوختي وې. دغو راهبانولويي ته راپور ورکړی وو چې مستنصر او د تونس نور ډېر عالمان د عېسويت منلو ته چمتو سوي دي. خو ځيني څېړونکي دا خبر دونه د پام او باور وړ نه ګڼي. ځکه د دغو راهبانو فعاليتونه له هماغو لومړيو څخه د تونس د مسلمانانو د کلک مقاومت او دښمنۍ سره مخامخ سوي وه. د عېسويانو يو ډېر سرسخت او نامتو مبلغ ريمون لول نومی څو واره د تونس په څو ښارونو کي وترټل سو او يوځل هم د بجابه د ښار قاضي بندي کړ او بيا له تونس څخه وشړل سو. خو چې نه منع کېدی او بيا په تونس کي وليدل سو، خلکو په بجابه کي وواژه.

په هر حال لویې د مستنصر د عېسویت د منلو له خبرې څخه جګړې ته د عېسوي راهبانو، واکمنانو او عامو خلکو د جذبولو لپاره ګټه تر لاسه کول.

4- اقتصادي ګټې:

ځیني وایي څنګه چې افریقا د سوډان د سرو زرو د بازار پر ډېره مهمه تجارتي لار پرته وه او اروپایانو د دې لارې په خپلولو سره ډېرې ګټې تر لاسه کولای سوې، ځکه نو لویې او نورو اروپایي طاغوتیانو د تونس د نیولو هڅه وکړه

5- د سیسیل د پاچا دُسه:

د تونس جګړې ته د لویي د هڅوني بل لامل د لویي د ورور«شارل ډانجو» پراختیا غوښتنه او ځاني موخي او تجارتي او اقتصادي ګټې وې. هغه له ٦٦٦هـ/ ١٢٦٨ع. کال څخه د سیسیل (صقلیې) واکمن سوی وو او غوښتل یې د مدیترانې په سیمه کې یو پراخ حکومت جوړ کړي. بل هم حفصي دولت د ابو زکریا له وختو څخه سیسیل ته کلنی باج ورکاوه، خو مستنصر د هغه له ورکولو څخه سر وغړاوه. ځکه نو د سیسیل پاچا خپل ورور نهم لویي وهڅاوه چې پر تونس برید وکړي، څو تونس اړ سي چې خپل کلنی باج بیا ور کړي.

بل هم کله چې پر سیسیل د هوهنشټافن کورنۍ واکمنه وه، حفصي دولت ښې اړیکي ورسره درلودې. دغه کورنۍ د نهم لویي، د ده د ورور او پاپ کلک دښمنان وه. صلیبیانو سیسیل د عېسوي نړۍ په سترګو کې یو ډول اغزی باله. هغو د سیسیل د نیولو او د هوهنشټافن د کورنۍ د پرځولو لپاره ډېرې هڅې وکړې. پای هغو په سیسیل کې د لویي ورور واکمن کړ.

له دې سره سم د لویي د ورور مخالفان او د پخوانیو واکمنانو پلوي ډلې تونس ته ولاړې او هلته په راټولېدو سره چمتو کېدلې چې پر سیسیل برید وکړي. ځکه نو صلیبیانو وپتېیل چې ختیځ ته تر تلو دمخه پر تونس باندي چې د دوی مخالفانو ته یې پناه ورکړې وه، ور ودانګي.

بل دا چې صلیبیانو دا نه سوای زغملای چې په اسلامي نړۍ کې داسې یو دولت پیاوړی سي چې نور اسلامي دولتونه سره یو کړي. او که دې دولت

اسلامي هيوادونه سره يو کړي واى په مديترانه او اندلس کي د عېسويانو ګټې په خطر کي لوېدې او د دوى د فعاليتونو د دوام په لار کي ستر خنډ جوړېدى. پر دې بنسټ کېداى سي په تونس کي د يوه پياوړي اسلامي زبرځواک له رامنځ ته کېدو څخه د صليبيانو وهم پر تونس باندي د لويي د بريد له مهمو لاملونو څخه وګڼل سي.

د دې جګړې وروستيو پېښو هم جوته کړه چي په دې جګړه کي د لويي ماته عېسوي نړۍ ته ستره بخوله او د لوېديځ له لوري د مسلمانانو د بې غمۍ او خوښۍ لامل سوه.

رانسيمان ليکي: «کله چي د دې ماتي خبر لوېديځ ته ورسېد مسلمانانو د هوسايۍ سا واخيسته او پر مسيحيانو د غم ورځ سوه».

## د اتمي صليبي جګړې پوځونه:

لويي دغه د فرانسې پر واک او باطلو مين طاغوت پاپ څلورم کليمون ته د خپلو شومو موخو په څرګندولو سره له عېسوي طاغيانو څخه اووه پاچهان د صليبي لښکرو غونډولو ته وبلل. بالاخره د دغو لښکرو په ترکيب کي دغه کسان او ځواکونه شامل سوه:

نهم لويي د خپلو درو زامنو فليپ، پطرس او جان تړيسان سره. د هغه ورور الفونس. د لويي لور ايزابل او زوم تېبو د ناوار کنټ. د شمپانيا کنټ. د پاپ استازى روډولف ډالبانو. د انګلستان پاچا. د ورسلونا پاچا. د اندلس د غټانو يوه ډله او زيات شمېر رهبانان.

ابن خلدون د خپل پلار له خولې چي د دې جګړې عيني شاهد وو، ليکي: شپږ زره سپاره او دېرش زره پلي پوځيان او درې سوه لويي او کوچنۍ بېړيۍ او اووه ستر اوګوټونه تونس ته ننوتل. (تاريخ ابن خلدون ٥/٦٦٨مخ).

## د صليبي پوځونو خوځېدنه او پښېړتيا:

د فرانسې د سهيل په ايق مورټ (Aigue - morte) نومي بندرکي د صليبيانو د راغونډېدو پر چارو ډېر وخت ولګېد. د ٦٦٨هـ کال د ميانۍ په مياشت کي چي د ١٢٧٠ع،کال د جولاى د مياشتي د لومړۍ نېټې سره سمون

خوري صليبي بېړۍ د سردانيې د ټاپو د کاغلياري (Cagliari) د بندر پر لور وخوځېدې. په دغه ځای کې نور صليبي ځواکونه هم ور سره يوځای سول او تر لږ تم کېدو وروسته د تونس پر لور وخوځېدل، چې د دغه کال د جولای پر ۱۸مه تونس ته ورسېدل او د قرطاج (قرطاجنه= کاتاژ) د زاړه ښار په خرابو کې يې واړول. څلور مياشتې په دغه ځای کې د سيسلي د پاچا شارل ډنجو د کومکونو په ور رسېدو سره، پر تونس باندې بريد ته چمتو پراته وه.

## د مستنصر لخوا د جهاد اعلان:

مستنصر د صليبي تېري کوونکو سره د جهاد اعلان وکړ. هغه د هر ډول پوځي تېري په وړاندې د ډغرې وهلو وس درلود. د ګاونډيو سيمو او هيوادونو ملاتړ هم ورسره وو. څنګه چې د مصر مملوک واکمن بيبرس پر تونس د صليبيانو له بريد څخه خبر سو، سمدستي يې مستنصر ته ليک ولېږی او خبر يې ورکړ چې د برقة او نورو ځايونه عرب يې مرستې ته ور استوي. مستنصر د مغرب او اندلس عالمانو او لويانو ته هم ليکونه واستول.

## د صليبيانو کلابندي:

د جهاد د اعلان سره سم بې شمېره عام وګړي، نظامي قوماندانان او لوړپوړي چارواکي له بېلو بېلو ملکونو او هيوادونوڅخه تونس ته ورسېدل. د موحدينو د شيوخو په قوماندانۍ اووه لښکره جوړ سول. دغه مهال عربو څو واره د صليبيانو پر ځواکونو د سمندر له لاري شواخون ور وړ. چې په پايله کې صليبيان کلابند سول. مسلمانانو سخت او پرله پسې بريدونه پر پيل کړل. کله چې د ٦٦٩هـ کال د حسن حسين د مياشتې په نيمايي کې پنځه سوه تنه صليبيان ووژل سول، طاغوتي ځواکونو روحيه له لاسه ورکړه. نور مسلمانان هم پرله پسې تونس ته رسېدل.

مستنصر لويي ته اخطار ورکړ چې د تونس له خاوري ووزي. که نه د يو لک اسلامي پوځ سره به مخامخ سي. خو لويي غوږ پر ونه نيو.

په دې سپېڅلي جهاد کې ډېرو زاهدانو او سترو صوفيانو د مجاهدينو مشري پر غاړه واخيسته. ځيني د مقاومت په ډګر کې تر وروستيو شېبو پوري

وجنګېدل او د شهات لوړ مقام ته ورسېدل. چې قبرونه يې اوس په هماغه ځای کي عام زيارتونه دي. په هغو کي د مجاهدينو د يوه نامتو لارښود «سيدی عمار» زيارت ډېر مشهور دی. د مجاهدينو دې ولولو د جګړې د ادبياتو يوه غوره مجموعه هم رامنځ ته کړه.

د دې جګړې پر مهال مجاهدينو او عامو وګړو د دمشق د واکمن د نايب جمال الدين ابن مطروح ډېر مشهور سوي اشعار چي د اوومي صليبي جګړې پر مهال يې د لويي په هجو او د دمياط د سوبې په هکله ويلي وه او د احمد بن الزيات تونسي اشعار د جګړې په ډګر کي او په لارو کوڅو کي زمزمه کول.

وايي کله چي مستنصر پر تونس باندي د لويي د بريد له تکله خبر سو په ٦٦٧هـ /١٢٦٩ع. کال يې يو پلاوی د يو زيات مقدار سرو زرو سره ور واستاوه، څو د تونس او فرانسې د سوداګرو تر منځ ربړه اواره سي او د خبرو اترو له لاري د هغه د بريد مخه ونيول سي او هم د جګړې په هکله د صليبيانو حال احوال معلوم کړي. لويي سره زر واخيستل او استازو ته يې بيا هم وويل چي پر خپل هيواد باندي زما د بريد انتظار وباسئ. په همدې ناسته کي د مستنصر يوه استازي د لويي په هجو کي د ابن مطروح مشهوره قصيده وويل. د دې قصيدې څو شعرونه په دې ډول دي:

قل للفرنسيس اذا جئتَه — مقال صدق عن قوول فصيح
آجرك الله على ما جرى — من قتل عباد يسوع المسيح
أتيت مصرا تبتغى ملكها — تحسب أن الزمر بالطبل ريح
فساقك الحين إلى ادهم — ضاق بهم في ناظريك الفسيح
وكل أصحابك أودعتهم — بسوء تدبيرك بطن الضريح
سبعون ألفا لا يرى منهم — الا قتيل أو أسير جريح
وفقك الله لامثالها — لعلنا من شركم نستريح
فقل لهم ان اضمروا عودة — لاخذ ثار أو لقصد قبيح
دار ابن لقمان على حالها — و القيد باق والطواشى صبيح

(السلوك لمعرفة دول الملوك، ۱ /۱۱۹ مخ او ابن خلدون ٥/ ۳٦۱).

ژباړه: (۱) كله چې فرنسيس (د فرانسې پاچا نهم لويي) ته ور سې. د هغه خوږ ژبي وينا كوونكي (شاعر) پيغام ور ورسوه. (۲) تا ته دي پر هغه څه چې ستا د تېرې له امله دلته تېر سول او د يسوع مسيح پالونكي پكښې ووژل سول، لوى څښتن مكافات در كړي. (۳) ته د مصر د نيولو په تمه راغلى وې. او داسي دې ګڼل چې مازې د ډولونو په وهلو سره به بې غيرته خلک د څه ورهېږي سي. (٤) ستا د مړيني مهال په داسي تياره بندي خانه كې را ورسېد. چې تا ته دا پراخه نړۍ هم تنګه پكښې ښكاره سوه. (٥) تا په خپله ناپوهي او ناوړه تدبير خپل ټول ملګري په قبرونو كې ښخ كړل. (٦) هغوى اويا زره تنه وه، خو ټول يا ووژل سول يا ټپيان سول او يا ونيول سول. (۷) لوى څښتن دي تا ته نور هم پر داسي چارو توفيق دركړي. څو موږ ستاسي له شره (د ټولو صليبيانو په وژلو سره) وژغورل سو. (۸) دغو پرنګيانو ته ووايه چې كه بيا په زړه كې در وګرځوئ چې مصر ته د غچ اخيستلو يا كومې بلې ناوړې موخې د تر سره كولو لپاره راسئ. (۹) نو پوه سئ چې د ابن لقمان كور (چې نهم لويي پكښې بندي وو) او د صليبيانو ښكار كوونكي او پر نهم لويي باندي پيره كوونكى صبيح نومى خصي مريي اوس هم سته.

وايي چې استازي دغه قصيده لا تر پايه نه وه ويلې چې د لويي قهر يې را وپاڅاوه او ويې ويل چې پر تونس به هرو مرو بريد كوم.

بيا د جګړې پر مهال يوه اديب پر نهم لويي باندي د ټوكو په ډول، هغه ته په خطاب كي وويل:

يا فرنسيس هذه اخت مصر     فتهيأ لما اليه تصير
لك فيها دار ابن لقمان قبراً     وطواشيك منكر ونكير

ژباړه: اې فرنسيسه! دا د تونس مځكه د مصر خور ده. نو هغه څه ته چې ته ور ته راغلى يې او ستا په برخه كېدونكي دي ځان تيټګ كړه. په دې مځكه كې تا ته د ابن لقمان كور قبر تاكل سوى دى چې په هغه كې به د صبيح پر ځاى پر تا ولاړ پيره كوونكي نكير او منكر وي.

## د نهم لويي د ماتي لاملونه:

د جهاد اعلان او هغه ته د ډلو ډلو خلکو حاضرېدلو، د دښمن په کلابندي کي د مديترانې د سمندرګي له مهم موقعيت څخه مناسبي ګټې اخيستني او له ښو وسلو څخه کار اخيستلو د صليبيانو ماته قطعي کړه. يو ډول منجنيقونو چي پر دښمن به يې له اور او ايرو څخه ډکي ګولۍ اورولې په دې جګړه کي مهمه ونډه درلوده. دې ګوليو به د دښمن د پوځيانو پر مخونو او غاړو ډېر دردناک ټپونه را منځ ته کول. باد به دغه دوړي او ايرې د دوی په خولو او سږمو ننه ايستلې چي له امله به يې د نفس تنګۍ او نوري ناروغۍ څني پيدا کېدلې. اوبه به هم په دې دوړو او ايرو ککړېدلې چي د هغو د چيښلو له امله د دښمن په ټول پوځ د تبي او نس ناستي وبا ګډه سوه. چي ډېر دښمنان يې ووژل. د لويي کشر زوی د ۱۲۷۰ع،کال د اګسټ پر ۳مه ومړ. ورپسې د پاپ استازی کارډينال روډلف ډابانو د اګسټ پر اوومه ومړ. پای لويي هم نارغه سو. د ناروغۍ پر بستر يې داسي دعا کول: «لويه څښتنه! پر خپلو دې بنده ګانو دي ورحمېږه او هغوی په سلامتيا خپلو کورونو ته ورسوه». څه مهال پټه خوله سو او بيا يې وويل: «آه اورشليمه! اورشليمه!». او د دې سره يې سا ورکړه. (جنگهای صليبي ۹۵مخ).

ځيني خلک وايي چي لويي هم په همدغه وبا مړسو، خو ځيني وايي د جګړې په ډګر کي د يوه مجاهد غشی پر ولګېد او د هغه له ټپه مړ سو او په همدغه قرطاج کي يې ښخ کړ چي اوس هغه ځای ته «سنت لوئی» وايي. (په ۱۹٦۵ع.کال د دغه لويي د سر د جمجمې پر پاتي شونو باندي څېړنو څرګنده کړه چي هغه د سر پر ښي خوا باندي د غشي د ننښتلو له امله وژل سوی دی).
Claude Cahen, Cahier de l'Occident Musulman, 1965

## د صليبيانو پر شا کېدل:

څنګه چي پر صليبيانو د محاصرې کړۍ ډېره تنګه سوه، نو هغوی له خپلو بريو څخه ګردسره نهيلي سول. ناروغۍ ډېر وځپل. د څلورو مياشتو لوږې او د جګړې ستړياوو او کړاوونوخورا په تنګ کړل، نو هغه وو چي مسلمانانو ته

يې د سولې وړانديز وکړ. مستنصر سوله په دې شرط ومنل چې صليبيان به سمدستي د تونس خاوره خوشې کوي. بيا د سولې تر تړون دوې ورځې وروسته صليبيانو اتيا منجنيقه او نور ډېر شيان پرېښوول او په ډېره بېړه د ١٢٧٠ع.کال د نومبر پر ١٨مه له تونس څخه پر شا سول.

## د سولې په منلو کې اختلاف:

ټول تاريخونه وايي چې په دې جګړه کې د مستنصر ځواکونو د شمېر، وسلو، او ولسي ملاتړ له مخې د دښمن پر پوځونو تفوق درلود او صليبيانو عملاً ماته خوړلې وه. خو د دې سره سره مستنصر د ماتو صليبيانو سره سولې او د درنو جنګي تاوانونو ورکولو ته غاړه کښېښوده.

د ٦٦٩هـ کال په لومړۍ خور کې يوې ډلې فقهاوو په يوه ناسته کې سوله مشروع وګڼل. د بني توجينو امير ابو زيان محمد بن عبدالقوي د مسلمانانو او صليبيانو په منځ کې د سولې منځګړی وو.

د دې سولې پر سر د فقهاوو، لويانو او د حفصي دولت د چارواکو ترمنځ ستر اختلاف رامنځ ته سو. تر دې چې په يوه غونډه کې مستنصر په قهر سو او غونډه يې وځنډول. ځينو سترو عالمانو، لکه قاضي القضات ابن خباز او فقيه ابن عجلان او نورو د سولې د غونډې له ګډون او د سولې د تړون له لاسليکولو څخه ډډه وکړه.

د سولې تړون د ٦٦٩هـ کال د دوهمي خور پر پنځمه د فرانسې د پاچا په نامه لاسليک سو[(١)].

د سولې د تړون عمده ټکی مسيحيانو ته د سوداګرۍ او فرهنګي آزادۍ ورکول او ځيني متقابلي ژمني وې، په دې ډول:

---

١- دغه ژمن ليک د نولسمي پېړۍ په اواسطو کې د فرانسې د بهرنيو چارو په وزارت کې ليدل سوی دی. چې د قاضي ابن زيتون په ليک په عربي ليکل سوی وو. (المكتبة الشاملة، الاصدار الثاني، مجلة التاريخ العربي، د «حملة لويس التاسع على تونس» تر سرليک لاندي، د دکتور محمد الباجي بن مامي ليکنه.

1- پـه جګـړه کـي د ګـډون کوونکـو دولتونـو سـره د سـولي ټینګښـت. د ۱۲۷۰ کال د نومبر له لومړۍ څخه تر پنځلسو کالو پوري.
2- د اسیرانو آزادول.
3- د سوداګرو او مسافرو متقابل امنیت ساتل.
4- مخالفانو ته پناه نه ورکول.
5- په تونس کي د کلیساګانو جوړول او راهبانو ته د تبلیغ آزادي ورکول.
6- د حفصي واکمن لخوا د جګړې د تاوان ورکول.
7- د حفصي دولت لخوا سیسلي ته د کلني باج ورکولو ادامه.
8- د حفصي دولت لخوا په پنځلسو کـالو کـي لـس زره او دوه سـوه اوقیـه سره زر صلیبیانو ته په کښتونو ورکول.

صلیبیانو ته د جګړې د تاوانونو ورکولو د مستنصر د واکمنۍ د ټینګولو، او د عاموخلکو د بې وزلۍ موجبات برابرول. په دې سوله سره یوازي د مستنصـر دولت ثبات او بقا تر لاسه کـړه. څـو میاشـتي وروسـته دولـت د ټولـو مسـیحي دولتونو سره له سره دوستانه روابط ټینـګ کـړل. بیـا لکـه چـي تاریخونـه وایـي حفصـیانو د دې دوسـتانه اړیکـو د دوام لپـاره د دغـي سـولي د تـړون مـوده پـه ۱۲۸۵ع.کال د نورو پنځه ویشتو کالو لپاره وغځول.

کله چي د مصر مملوک واکمن سلطان بیبرس تـه لـه دې سـولي څخـه خبـر ورسېد، د یوه تند لیک په استولو سره یې مستنصـر ملامـت کـړ. او هغـه یـې د بې کفایتۍ له امله د مسـلمانانو د خلافـت وړ ونـه بالـه. لـه بـده مرغـه د عـامو مسلمانانو د زړه ورتیا په خلاف د مسـلمانانو واکمنـان زیـاتره ډېـر ډارن خلـک وي او د مسـلمانانو د خـوارۍ او بـې واکـۍ لامـل هـم همدغـه بـې کفایتـه او بېرندوکي واکمنان جوړ سوي دي. فکر کیږي چي همدغه مستنصر هم دغسي یو واکمن وو.

تاریخونه لیکي چي مستنصر په بغداد کي د تاتاریانو د عام وژني په اورېدو سره له ډېري بېري څو ورځي ناروغه سو؟!

## د دې جګړې پایلې:

لکه چې د دې جګړې هممهالی ستر مؤرخ (ابن خلدون) لیکي: دې جګړې پر صلیبي پوځونو ستره ټکه پرې ایسته. د صلیبیانو دغه ماتـه د عېسـوي تېرې کوونکو دولتونو په وړاندې د نورو مسلمانو دولتونو د مقاومت لپاره یوه غـوره بېلګه سوه. او ویې ښوول چې د مسلمانانو نیم بنده او مـوقتي یـووالي لا څونـه کار ورکړ. د دې مقاومت ریښـې د ډارنـو واکمنـو پـه شـتون کـي نـه، بلکـي پـه خلکو او د هغو د دیني عالمانو، شیوخو او اهل تصوفو پـه مشـري او همـت او مړانه کي وې. کـه د دغـو مسـلمانانو اتلـولي نـه وای، او ټـول مستنصـر غونـدي ساکښان وای د لویي لښکري هـرو مـرو د تـونس پـه لانـدي کولـو کـي بریـالی کېدلې. په هغه صـورت کـي بـه لـویي او د هغـه ورور پـر ټولـه مدیترانـه بانـدي مطلق حاکمیت ټینګ کـړی وای او د نـړۍ پـه ختـیځ او لوېـدیځ کـي بـه یـې د مغولو او عېسویانو د یووالي کړی ټینګه کـړې وای. د دې اتحـاد لـومړنۍ ثمـره به داوای چې بیت المقدس به د تـل لپـاره یـو مسـیحي ښـار ګرځـېدلی وای او اسلام به د تل لپاره د نړۍ له لوېدیځ څخه خپله کمبله ټوله کړې وای.

کله چې صلیبیانو بېرته خپل بـار وبنـه وتـړل او بېرتـه د خپـل وطـن پـر لـور ستانه سول. یوه ورځ وروسته د هغو بېړۍ توپان وځپلې او یوه دریمـه پوځیـان په اوبو کي غرق سول. د پاته بېړیو په سـپرو وبـا ګـډه سـوه او چـي تـر فرانسـې رسېدل ټول مړه سول. کله چي د خپل هیواد په بندر کي پلي سول او خپل مړي یې وشمېرل، په هغو کي د نهم لویي لور ایزابل او د هغې مېړه او د ناوار پاچـا مړه سوي وه. او پاته کسان هم د مرګ په حال کي وه.

تر دې وروسته هیڅ لښکر د بیت المقـدس پـه نیـت ونـه خوځېد. د مغولـو ستر خان په دمشق کي له خپلي اردوګاه څخـه پـاپ تـه لیـک ولېـږی چـي کـه د عېسویانو یو لښکر د مصر د مسلمانانو سره په جګـړه د ده پـه مرسـته ورولېـږل سي دی به په بدل کي د بیت المقدس واکمني وروسپاري. دوه کاله تېـر سـول، خو د دې لیک جواب ور ونه رسېد.خان بیا لیـک ور واسـتاوه او دغـه وړانـدیز یې تکرار کړ، خو بیا هم جواب ور ونه رسېد. له دې سره سم خـان او مغـولان یې خپلو دښتو ته ستانه سول. (جنګهای صلیبي ۹۶مخ).

بیا هم د صلیبیانولوټماریو او جنګ جګړو تر ۱۲۹۱ع.کال پوري دوام وکړ. خو د دغه کال د می په میاشت کي مسلمانانو د مملوک واکمن الملك الاشرف صلاح الدین خلیل بن المنصور قلاوون په مشري د صلیبیانو وروستی غونډ ځي «عکا» هم بېرته ونیول. وروپسې یې صور او صیدا او ډېر نور ځایونه فتح کړل. په دې توګه کله چي د دې ځایونو د فتحي خبر خپور سو په ځینو نورو کلاګانو کي څه پاته عېسویان وتښتېدل. خو ځیني چي ونه تښتېدل د اسلامي حکومت اطاعت یې ومانه. په دې ډول ترکابو دوو سوو کالو وروسته د اروپایانو د ښکېلاک یوه کړۍ د دوی په ناکامۍ اونهیلۍ، بې نتیجې ماته سوه او دې ناورین ته د مسلمانانو په بري سره د پای ټکی کښېښوول سو.

## د صلیبي جګړو په بهیر کي د مرګ ژوبلي بله څپه،لوېدیځ او مغول

په دیارلسمه عېسوي پېړۍ کي چي پر صلیبي واکمنیو باندي د زکندن حالت راغلی وو، پر اسلامي نړۍ د وحشي مغولو تاړاکونه پیل سول. په ۱۲۲۱ع،کال پاپ ته د صلیبیانو د یوه مشر د رپوټ له مخي لوېدیځو طاغوتیانو ته هیله پیدا سوه چي د مغولو د تاړاکونو په پایله کي به اسلامي نړۍ دونه بې واکه سي چي لوېدیځ ته به پر هغو باندي بریدونه آسانه سي چي بالاخره به پوپنا سي. لوېدیځوال پوه سوي وه چي مغول د مسلمانانو سره دښمني لري او د عېسوي نسطوریت سره مرسته کوي. له دې امله عېسویانو وپتېیل چي مغول واکمن عېسویت ته وروبولي او د دوی په عېسوي کولو او ملګري کولو سره خپلي موخي په لاس راوړي. پر دې بنسټ د مسلمانانو وژلو او د هغو د ملکونو ورانولو ته د مغولو د هڅولو په باب هغو ډول ډول لاري چاري وپلټلې او مغولو ته یې لیکونه لېږل، د پلاوو او نازک اندامو ښځو استول، تماسونه ورسره ټینګول او د راهبانو او نورو په جامو کي نظامي جنرالان وراستول پیل سول.

ټیري جونز او الین اریرا لیکي: د قسطنطنیې وروستی پاپ چي په ختیځه کلیسا پوري یې اړه درلوده او نسطوریس (Nestorius) نومېدی د څلورمي

صليبي جګړې په ترڅ کې پر قسطنطنيه باندې د وينزيانو او نورو تر بريد وروسته له هغه ځايه وايستل سو. بيا هغه خپل مرکز عراق ته ولېږداوه او په هند، ترکستان او چين کې يې د عېسويت د تبليغ کار پيل کړ. د هغه په عقيده حضرت عيسیٰ عليه السلام د خدای جل جلاله زوی نه، بلکي يو عام انسان وو، چې د لوی څښتن پيغمبر وو. د مغولو سره د دغه پاپ پيروه نسطوري عېسويان هم ملګري وه. (صليبي جنګيں ۱۷۷ مخ).

په ۱۲۲۱ع.کال پاپ د آرچ بشپ آف ټراير (Trier) په نامه داسې وليکل: «محترم ورور پلچيئس بشپ آف الپانو موږ ته خبر راکړی دی چې کينګ ډېوډ (چنګېزخان) چې ناپوهان يې پرسټرجان بولي، چې يو کاتوليک او له خدايه بېرېدونکی (عېسوی) دی فارس ته د يوه پياوړي پوځ سره ننوتلی دی. هغه د فارس سلطان ته په يوه درنه جګړه کې ماته ورکړې ده. هغه د شلو ورځو د واټن په اندازه د هغه هيواد ته ننوتلی دی او هغه يې تر ولکه لاندې راوستلی دی. اوس ډېر ښارونه او کلاوې د هغه تر ولکه لاندې دي. اوس د هغه پوځ له بغداد څخه صرف د لسو ورځو په واټن ليرې دی. دغه ښار د خليفه پلازمېنه ده چې مسلمانان يې خپل روحاني لارښود بولي. د دې پېښو هيبت د حلب سلطان اړ کړی دی چې د خپل ځواک مخه چې د دمياط پر عېسوي پوځونو يې حمله کول، د کينګ ډېوډ لور ته واړوي. زموږ نايب او سفير د جارجيا اوسېدونکو ته چې پخپله هم کاتوليکان او تورزنان دي، د يوه پيغام په ذريعه بلنه ورکړې ده چې هغوی له خپله لوري د مسلمانانو سره جګړه را پيل کړي. په دې ډول زموږ هيله ده چې که زموږ پوځ ته په دمياط کې کومک ورسيږي، کوم چې د سږ کال په دوبي کې يې هيله کيږي، نو موږ به د لوی څښتن په مرسته په آسانۍ سره پر مصر ولکه ټينګه کړو. ځکه اسلامي پوځونه به چې د مصر د دفاع لپاره له څلورو خواوو پر را ګرځېدلي دي د خپلې سيمې د دفاع په موخه به سرحدونو ته خپاره سي».

دې ته ورته يو ليک يوه صليبي هم د جګړې له ډګر څخه ليکلی دی او په هغه کې دا ټکي زيات سوي دي: «د کينګ ډېوډ پوځونه څلور لکه دی چې له هغو څخه يو لک او دوه ويشت زره يې عېسويان دي». (اسلام، پيغمبر اسلام

۱۳۷مخ د Raymond Lull, Opera Latina, quoted by R.W. Southern; Western Views of Islam in the Middle Ages,p.4-6 په حواله).

د مسلمانانو سره د مغولو د جګړو او د هغو د لوټ او ورانيو په بهير کي په ۱۲٤٥ع.کال پاپ څلورم انوسينټ د جان آف پلينو کارپينو په مشري يو پلاوي مغولو ته ورولېږی چي دوه کاله په هغو کي واوسېدی. د جان تر راستنېدو وروسته بل پلاوی د سايمن آف ټورنای په مشري د مغولو دربار ته واستول سو. په دې دوران کي د مغولو پلاوی نهم لويي ته ورغی. بيا د مغولو د تاړاکونو د تندولو او زياتولو په موخه سينټ لويي خپل استازي په کار واچول. په ۱۲٥۲ع.کال د وليم آف روبرک په مشرۍ يو پلاوی د مغولو خان اعظم ته ولېږل سو چي هغه يې د مسلمانانو ځپلو ته وهڅاوه چي پايله يې په ٦٥٦هـ/ ۱۲٥۸ع. کال د بغداد د تباهۍ په بڼه څرګنده سوه. نور تاريخونه هم وايي چي د هلاکو او نورو سترو مغولي جنايتکارانو په لاس د بغداد ورانـي او د مسلمانانو عام وژنه او د هغو د ملکونو لوټېده او وراني د عېسويانو په ټونګ وه. وګورئ تاريخ مفصل اسلام ۸٦۰ مخ). داخبره جوته سوې ده چي په صليبي جګړو کي ماتو سوو اروپايانو او د روم ستر پاپ هلاکو ته پرله پسې کومکونه برابرول او د بغداد د سقوط پر مهال عېسوي پوځيان د تاتاريانو سره اوږه په اوږه د مسلمانانو په عام وژنه او لوټ او تالان کي شريک وه. (استعماری تاريخ کے سياه اوراق ٥٥ مخ).

بيا په ۱۲٥۳ع.کال د لويي استازی د مغولو دربار ته واستول سو. په ۱۲٦۰ع.کال پاپ هلاکو خان ته ليک واستاوه. په دې ليک کي يې هغه وستايه او کاتوليک مذهب ته يې د هغه له تمايل څخه خوښي څرګنده کړه.

د ۱۲٥٥ع.کال د جنورۍ پر ۲۸مه د هلاکو خان د ليک په جواب کي د انګلستان واکمن لومړي اډورډ هلاکو ته داسي ليک ولېږی: «داود ورور زموږ دربار ته حاضر سو. کوم ليکونه چي تاسي د سياسي استازو په ذريعه روحاني پلار او د لوېديځ نورو واکمنو ته لېږلي وه، هغه يې وړاندي کړل. په دې ليکونو کي موږ دې ټکي ته متوجه سوو چي تاسي دکاتوليک مذهب سره مينه پيدا کړې ده او په پام کي لرئ چي زموږ سپېڅلې مځکه (بيت المقدس) د

مسيح د مذهب د دښمنانو (مسلمانانو) له ولكې وباسئ. موږ دعا كوو چي تاسي توفيق پيدا كړئ چي دغه عالي مقصد او ستره موخه تر سره كړئ. موږ نه سو كولای دا ګړی سپېڅلي مځكي ته زموږ د ورتلو او د مسيحيانو د حركت مهال په قطعي توګه درته ووايو، ځكه تر اوسه د ستر پاپ لخوا په دې هكله نېټه نه ده ټاكل سوې».

بيا په ۱۲۸٦ع.كال مغول واكمن د پاپ خدمت ته حاضر سو.

په ۱۳۰۲ع.كال د بېزنتين اندرو نيكوس غازان خان مغولي ته پلاوی ولېږی او وړانديز يې ورته وكړ چي د يونان له لوبتكو غوندي شهزاده ګيو څخه يوه د خپلي ملكې په توګه ومني. د غازان او عېسويانو دوستانه اړيكي لامل سوې چي د انګلستان واكمن لومړی اډوږډ، خپل سفيران جوفري ډ. لانګ لي او دوه تنه نور د ډول ډول ډېر بيو سوغاتونو او يوه پړانګ سره د غازان دربار ته ولېږي. (تاريخ مفصل اسلام ۸۸۰ مخ).

د پلاوو لېږل د ديارلسمي عېسوي پېړۍ تر پايه دوام درلود. د دې بهير بله كړۍ نامتو سيلاني ماركوپولو وو چي له ۱۲۷۱ څخه تر ۱۲۹۵ع.كال پوري يې سياحت وكړ.كه څه هم د ماركوپولو د سياحت موخه په ظاهره سيل، سوداګري او ځاني ګټه ګڼل سوې ده، خو د ده سياحت نوري موخي هم درلودې. ده د پاپ پيغام مغول واكمن خان كبير قبلای خان ته ورساوه. (اسلام، پيغمبراسلام۱۳٦ــ ۱۳۷ مخونه او تاريخ مفصل اسلام ۸۷۳ او وروستي مخونه).

له دې تلو راتلو او مراودو، په تېره د انګلستان د واكمن له ليك څخه څرګنديږي چي عېسويانو له مغولو څخه غوښتي وه چي پر بغداد چپاو ور وړي، بيت المقدس ونيسي او دوی ته يې وسپاري او مغولو هغو ته وعده وركړې وه چي تاسي بيت المقدس ته راسئ، موږ به د بيت المقدس په نيولو كي كومك درسره وكړو. خو عېسويانو دا جرأت نه سو كولای او جواب يې وركړ چي ته زموږ په دين سه او دغه ځای هم موږ ته ونيسه څو ستر پاپ هغه ځای ته د عېسويانو د حركت هدايت وركړي.

د دې خبرو تایید د تاریخونو دا شاهدي هم کوي چي کله مغولو په عروس البلاد بغداد کي د لوټ، مرګ ژوبلي او وحشت بازار تود کړ، پر پوځیانو سربېره يې اتیا زره نارینه، ښځي او واړه تر تېغ تېر کړل، خو عېسویانو ته یې هیڅ نه ویل. (مغربي یلغار۱۱۳ مخ).

پر دې سربېره د دې خبرو تایید دا خبره هم کوي چي په ۱۲۸۹ع.کال عېسوي پاچهانو د ارغون خان مغولي واکمن سره تماسونه ونیول او ورڅخه ويې غوښتل چي بیت المقدس له مسلمانانو څخه ونیسي او دوی ته یې تسلیم کړي. ارغون د دوی سره جوړ راغی خو په ۱۲۹۱ع.کال د عکا په را پرځېدو سره د عېسویانو ظلمونه او توطئې پای ته ورسېدې او د مغولو سره دوستۍ څه ګټه ور ونه رسول.

د دې چارو تر څنګ لوېدیزو طاغوتانو مغولو واکمنو ته د ګل ورین بدن لرونکي نجوني هم ورلیږلې او په دې وسیله یې هغوی عېسوي مذهب منلو او د مسلمانانو جګړې ته هڅول. د هلاکو مېرمن دوقوزخاتون چي یوه نسطوري عېسوۍ وه پر هلاکو باندي یو ډول عجیب اغېز درلود. د دې د خوشالۍ لپاره به هلاکو د عېسویانو ننګه کول او هغو ته به یې مهمې دندي سپارلې. تاریخونه څرګندوي چي هلاکو د عمر په وروستیو کي د ختیز روم له امپراتور میخایل پائو لوګوس څخه وغوښتل چي له خپلو لوڼو څخه یوه ده ته واده کړي. د روم امپراتور هم د دغه مغول مهاجم په واکمني کي د نفوذ په خاطر په دې ازدواج قانع سو او خپله مریم نومې لور یې د څو تنو او یو مقدار سوغاتونو سره له قسطنطنیې څخه ایران ته ولیږل. کله چي ناوې او سوغاتونه د اناطولیې قلیاریه نومي ځای ته ورسېدل د هلاکو د مړیني خبر یې واورېد. څنګه چي قسطنطنیې ته بېرته ګرځېدل ستونزمن کار وو. نو ایران ته ورغله. کله چي اباقاخان د پلار پر ځای د واک پر ګدۍ کښېنستی دغه ناوې یې خپل ځان ته واده کړه او د هغې نوم یې په مغولي دسپیبا کښېښود. ده د دغې مسیحۍ په غوښتنه چي د هغې حسن او جمال یې زړه وړی وو د تعمید غسل وکړ، د مسیحیت آداب یې تر سره کړل او عېسوي دین یې ومانه. (تاریخ مفصل اسلام ۸٦۰او ۸۷۲ او ۸۷۵ مخونه).

د هلاکو لخوا د بغداد تر خونړي ناورين وروسته په ٦٥٨هـ کال د دغه سفاک ساکښ پوځونه دمشق ته ورسېدل. دغه مهال ملک المظفر سيف الدين محمود قطز غزنوی پر مصر واکمن وو. هغه د الظاهر البيبرس په ملګرتيا د هغه د مخنيوي په موخه پوځونه ور وخوځول. دغو پوځونو په عين الجالوت نومي ځای کي تاتاريانو ته سخته تاريخي ماته ورکړه، بېخي ډېر مغولي پوځيان يې ووژل او د هلاکو زوی کتبغا يې هم وواژه. دا د مغولو داسي ستره ماته وه چي په نړی کي يې د توپ غوندي آواز پورته سو. د دې ماتي سره سم مغول او د هغو مسلمان ګوډاګيان له دمشق او نورو سيمو څخه ووتل او د تل لپاره يې دغه سيمي له شره وژغولي سوې. د صليبيانو هيلي او دُسي يې هم ګډې وډې کړې او مسلمانان ډېر په خوشاله سول. (السلوك لمعرفة دول الملوك).

ابن تغري بردي د النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة په ۲/ ۲۷۱مخ کي وايي چي د دمشق عېسويانو ته هلاکو خان داسي فرمان ورکړی وو چي هغو د مسلمانانو سره د هغه له مخي زور زياتی کاوه، هغوی يې د خپل دين د مناسکو تر سره کولو ته نه پرېښوول، خپل صليبونه به يې لوړ کړي وه او د ښار دکانداران به يې اړ ايستل چي د دوی صليب ته د درناوي په دود ودرېږي. پر دې سربېره به عېسويانو پر مسلمانانو باندي ان د جوماتونو په دروازو کي شراب شيندل. د مغربي يلغار نومي کتاب په ۱۱۳ مخ کي وايي چي عېسويانو د مسلمانانو جوماتونه يا ونړول او يا يې په کليساوو بدل کړل. نو کله چي د تاتاريانو د ماتي خبر هره خوا خپور سو مسلمانانو د عېسويانو کورونه او کليساګاني ور ونړولې او شته يې ور چوړ کړل او يو شمېر يې هم ووژل.

تاريخونه ليکي چي ملک المظفر قطز ډېر ښه،اتل او شجاع واکمن وو، خو له بده مرغه چي د ده او بيبرس او نورو امراوو تر منځ له پخوا څخه هم څه مخالفتونه او نيت بدی وې او دغه مهال هم څه نور زړه بداوی پر ورزيات سو، دا زړه بداوی پر دې وو چي المظفر د بيبرس سره ژمنه کړې وه چي د مغولو په جګړه کي تر برياليتوب وروسته به د حلب ولايت ورکوي، خو هغه يې ورنه کړ. چي له امله يې ملک المظفر د يوې کودتا په ترځ کي وواژه.

بیا ملک الظاهر البیبرس البندقدار الصالحي په همدغه (۶۵۸هـ) کال د مصر واکمن سو. هغه لومړی مریی وو چي بیا د خپلي مړاني له امله واکمنۍ ته ورسېد. دغه اتل واکمن په مصر کي عباسي خلافت له سره ژوندی کړ.

ملک ظاهر بیبرس د مصر د چارو تر سمون وروسته. د صلیبیانو مقابلې ته مخه کړه. له ۶۶۲هـ څخه تر ۶۶۴هـ کال پوري په شام کي وجنګېدی. یو ښار یې له هغو څخه وژغوری. بیا یې ارمینیه فتح کړه، انطولیې ته ورسېدی، د هلاکو زوی ریګا خان ته یې سخته ماته ورکړه. په ۶۶۶هـ کال یې د فلسطین پر صلیبیانو برید وکړ. له هغه ځایه وخوځېد، تر انطاکیه ورتېر سو تر مرقیې پوري سیمي یې فتح کړې. بیا بغداد ته ولاړ. په ۶۷۰هـ کال یې د باطنیانو (حسن صباح) کلاوي فتح کړې او ټول باطنیان یې تر تېغ تېر کړل، چي له دې سره دا ډله ګردسره ختمه سوه.

دلته یوه بله خبره هم د یادولو وړ ده او هغه داده چي د مغولو تاریخ جوتوي چي د دوی د ځینو واکمنو لخوا د عېسویت تر منلو وروسته، کله چي دوی د اسلام او مسلمانانو سره له نژدې په اړیکو کي سول د اسلام حقانیت اغېز پر واچاوه او یو شمېر واکمن، په لکونو تنه پوځیان او ډېر عام مغول په اسلام مشرف سول. د دوی وحشیانه او رذیله خواص یې په نرمښت او فاضله ځانګړنو او ښېګڼو واړول. بیایې اسلام ته ستر خدمتونه وکړل، د شرقي اروپا ډېر ملکونه یې د اسلام تر ولکه لاندي راوستل. د اسلام د ترویج کوښښونه یې وکړل. په بېلو بېلو اسلامي سیمو کي یې مدارس او مساجد ودان کړل. بیا د مغولو یوه مسلمان واکمن برکا خان چي روس او د ختیزي اروپا ډېري برخي یې د اسلام تر ولکه لاندي راوستلي وې د خپل اکا د زوی هلاکو خان سره جګړې ته ملا وتړل، ویې ویل: «هلاکو د مسلمانانو ښارونه وران کړل، د اسلام پاچا یې له واکه راوپرځاوه او د مسلمانانو خلیفه یې بې ګناه وواژه او د دوست او دښمن توپیر یې ونه کړ، نو زه به هم که لوی څښتن کول د دغو ټولو بې ګناه مسلمانانو قصاص ځني واخلم». بیا یې سر له ۶۶۰هـ کاله د هلاکو سره ډېري جګړې وکړې د هلاکوخان ډېر قوماندانان او پوځیان یې ور ووژل او سختي ماتي یې ورواړولې.

په دې حال کې هلاکو په ۶۶۳هـ /۱۲۶۵ع. کال ومړ او وروسته په ۶۶٤هـ /۱۲۶۶ع.کال د هلاکو عیسوی ملکه دوقوزخاتون هم مړه سوه. برکا خان هم په ۶۶۵هـ/۱۲۶۷ع.کال وفات سو. د هلاکو او د هغه د ملکې پر مړینه ټولي عیسوي نړۍ د ویر مراسم تر سره کړل. ستیفن ارفلن لیکي:

«د نړۍ ټولواکمن او د عیسویانو اسره (هلاکو خان) په ۱۲۶۵ع.کال مړ سو او وروسته د هغه مېرمن دوقوزخاتون هم مړه سول. دغو دواړو ته چالاکو مسلمانانو زهر ورکړل. یسوع مسیح ته ښه معلومه ده چې په نېکیو کې د دوی مرتبه تر قسطنطین او د هغه د مور هیلن تر مرتبې کمه نه ده».

دغه راز بارهبریس لیکي: «د عیسوي مذهب د دغو دوو ساتونکو د مړیني له امله ګردي عیسوي نړۍ ته ستره صدمه ورسېده» (مغربي یلغار ۱۱۵مخ).

بیا اباقاخان د هلاکو زوی د واک پر ګدۍ کښېنستی. لکه چې مخکې مو وویل اباقاخان د ده د پلار لپاره ور لېږل سوې ناوې خپل ځان ته واده کړه او عیسوي دین یې ومانه. بیا هغه تر اتمي صلیبي جګړې څو میاشتې دمخه نهم لویي ته د یوه لیک په لېږلو سره د خپلي دوستۍ مراتب څرګند کړل او ور ته ویې ویل که لویي پر فلسطین برید وکړي د مغولو له نظامي او مالي کومکونو څخه به برخمن سي. (تاریخ الحروب الصلیبیه، د ستیفن رانسمیان لیکنه او د السید الباز العرینی، ژباړه ۳/ ۵۶۹ مخ).

دغه راز هغه د انګلستان د پاچا اډورډ سره هم اړیکي ونیولې څو صلیبي جګړې له سره پیل کړي. (مغربي یلغار ۱۱۶ مخ). هغه په ۶۷۵هـ کال په ابلستین کي پوځونه راغونډ کړي وه. په دغو پوځونو کي لکه د النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة په۲/ ۲۹٤مخ کي چې وایي رومي پوځونه هم وه. دغه راز د تاریخ مفصل اسلام په ۸۷۰ مخ کي لیکي چې د اباقاخان سره په جګړه کي د انګلستان د پاچا اډورډ لخوا یو نظامي افسر د راهب په جامو کي ملګری وو. ستر مجاهد الظاهر بیبرس مقابلې ته ور ودانګل. له دواړو خواوو په زرګونو تنه ووژل سول. بری د بیبرس په برخه سو او تاتاریان وتښتېدل. بیا ملک ظاهر بیبرس قیساریه د صلیبیانو له ولکې وژغورل او په ستر پرتم ور ننووت. بیا دمشق ته ورسېد. هغه د ډېرو جګړو له امله دونه ستړی سو چې

ناروغ سو او پای په ٦٧٦هـ کال وفات سو او په دمشق کي خاورو ته وسپارل سو. (تاريخ ملت۲/ ٦٤٢ مخ)

بيا د ملک منصور قلاوون په وختو کي اباقاخان د خپل ورور منجو تيمور په ملګرتيا د شام پر لور پوځونه ور وخوځول. د ملک منصور پوځونو په حمص کي سخته ماته ورکړه. منجو تيمور تر تېغ تېر سو. اباقاخان په تېښته بريالی سو. پای په ٦٨٠هـ کال ومړ. ځيني تاريخونه وايي چي د ده ورور نکودار په زهرو وواژه. تر ده وروسته نکودار پاچهي ته ورسېد. ده دمخه مسيحي دين منلی وو، خوشنګه چي يې له دغه مسخ سوي دين څخه بد راغلي وه د خپلي مسلمانۍ اعلان يې وکړ او خپل نوم يې احمد کښېښود او د مصري پوځونو سره يې مرسته وکړه.

په دې ډول د مغولو او صليبيانو تر دې ګډو يرغلونو وروسته د اسلامي نړۍ پايښت تر يوې معجزې کم نه بلل کيږي.

* * *

تر اتمي عېسوي پېړۍ پوري چي کومي سيمي د اسلام په رڼا روښاني سوې، تر پنځلسمي عېسوي پېړۍ پوري په هغو کي کوم ځانګړی بدلون ونه ليدل سو. څه پولي په موقتي توګه لاندي باندي کېدلې، خو په مجموعي توګه په نخشه کي کوم مستقل بدلون رانه غی. په پنځلسمه عېسوي پېړۍ کي چي عېسويانو اسپانيه بېرته د کفر په تيارو تياره کړه، د هغې پر ځای څو برابره لويه اورشو په ختيزه اروپا کي د اسلام په نور روښانه سوه.

په دې توګه لوېديزه ټولنه تر لېږ وزيات زرو کالو پوري د اسلامي نړی په محاصره کي وه. په دې بهير کي لوېديزه ټولنه نه يوازي په سياسي لحاظ، بلکي په اقتصادي، اجتماعي او مذهبي لحاظ هم تر فشار لاندي وه.

طبيعي ده چي په دغسي حالاتو کي پر غالب او مغلوب دواړو باندي يو د بل اغېزې لويږي. خو دا هم منلې ده چي پر مغلوبو ولسونو باندي د غالب قوم اغېزې نسبتاً ډېري وي. پر دې بنسټ مسلمانانو ډېرڅه له مغلوبو ولسونو څخه خپل کړل، خو متقابلاً په مغلوبو ولسونو کي ډېر تحرکات او تحولات رامنځ ته سول. د اسلام د مقدس دين ډېرو او په هره برخه کي روښانو او معقولو او

منلو حقایقو او د انسان د آزادی، ښېګڼي او ديني او دنيوي غورو ارزښتونو په عېسوي نړۍ کي ستر تحولات رامنځ ته کړل. ډېر عېسويان او د نورو اديانو پيروان د اسلام منونکي او پلويان سول. عېسوي مذهبي ډلو د خپل تحريف سوي دين نيمګړتياوي درک کړې، د هغو د سمون او اصلاح لپاره يې ډول ډول اقدامات وکړل. دغه راز څنګه چي مادي پالو، شهوت پالو او قدرت پالو واکمنو او شتمنو درک کړه چي نور عېسويت په بشپړه توګه د دوی ګټې نه سي خوندي کولای او د اسلام د رشتياني دين په وړاندي د هغو د ګټو د ساتني جوګه نه دی، او د اسلام سره د مقابلې لپاره د نوو لارو چارو لټول ورته لازم دي. نو يې د دې وضعي په ليدو او په پرله پسې څېړنه او ارزونه سره د «رنسانس» (نوي رغښت) نهضت د اسلام له فرهنګي نفوذ څخه د ژغورني لپاره په لار واچاوه او د خپل استکباري او ښکېلاکي واک د برقرارولو لپاره يې کار څني واخيست. بيايې پر اسلام باندي له قهره ډکي نيوکي او بريدونه پيل کړل او په ډېر خښم او قهر به يې لوېديزيان د مسلمانانو او عربو په نسبت له ستاينو او منلو څخه منع کول.

په دغسي احوالو کي چي د اسلامي نړۍ، په ځانګړې توګه د منځني ختيځ اقتصادي وضعيت د اسلام د ځينو لارښوونکو د ناپاميو او نورو ظلمونو، د لوېديزيانو د تېريو او د مغولو د تاړاکونو او نا امنيو له امله ويجاړ سوی وو، لوېديځ وپتېيل چي د اسلام په وړاندي د تودې جګړې تر څنګ په تل ترتله توګه هغه جګړه او تېری په لار واچوي چي وسله يې علم او فرهنګ وي. هغه علم او فرهنګ چي د مسلمانانو د بري ټول وسايل او امکانات يې برابر کړي وه. بيا چي ناپليون د اروپا د ختيز هند په شرکتونو پسي د اسلام دروازو ته ودرېد او ورپسې لوېديز ښکېلاك پسي راورسېد او ورسره ورسره د مسلمانانو د ويښتيا پېر پيل سو، د لوېديزيانو د څرګندو ښکېلاکي هلو ځلو تر څنګ د هغو نامرئي نفوذ ته هم هلي ځلي چټکي سوې چي په دې وروستيو پېړيو کي يوې نوي او نامرئي صليبي پراخي کلتوري جګړې اسلامي پولي د امريکا او لوېديځ د خونړي امپرياليزم تر هر اړخيز يرغل لاندي راوستي دي.

لکه چې دمخه مو وویل پخوا د روم، بېزنتین ځواک،لوېدیځ او د لوېدیځ ځیني نور ځواکونه د اسلام سره مخامخ وه، خو اوس د روم یو بل ښاخ او څانګه چې له لوېدیځوالو څخه په دې وروستیو پېړیو کې جوړه سوې ده او اوس د نړۍ یوازنی زبرځواک باله سي، یعني امریکا د نوري لوېدیزي نړۍ په مشري او کالخوايي د ترهګرۍ سره د مبارزې او هغه او دې په نومونو د اسلام سره دښمنۍ ته درېدلې ده. که څه هم د دې ځواک د تفوق وسله په دې دښمني او پرله پسې تېریو کې بیا هم هماغه علم او فرهنګ دی، خو له نورو چلونو څخه یې کار اخیستنه هم له پامه نه ده غورځولې. لکه چې دا ځل یې پر هماغه بیت المقدس باندې د اسرائیلو په نامه دولت رامنځته کړ کوم چې بیا دا ډېر عمر د فلسطین بې دفاع مسلمانان او نور عرب وژني او خپل تاتوبی یې ورپوري سور اور کړی دی. پر دې سربېره یې دادی پر عراق او افغانستان او په دې وروستیو کې امریکا پخپله او د خپلو مزدورو پاکستاني واکمنو په واسطه پر پښتونخوا باندې په لښ لغړ وسله وال تېري سره د اسلام پر ضد هر اړخیزه او په ډېرو مډرنو وسلو فعاله توده جګړه هم پیل کړې او په لار اچولې ده. سیاست، دپلوماسي، غولوني، معاملې، درواغ، د ملګرو ملتونو په نامه د سترو کفري ځواکونو له ګومارلو عناصرو څخه جوړه موسسه، او نور دېته ورته ډېر سازمانونه، د اسلام ډارن رهبران او مادیات پال پوهان، چل ول، زور، ډالر او یورو، د ډله ییزو رسنیو د تبلیغاتو بهیر، د جاسوسۍ تنستې او خپل ګومارلي او ګوډاګیان او پخواني خلقي دفاعیان او توپکیان او د دوی نوي راپورته سوي اولادونه ټول یې په خورا زور او زوږ په لار او کار اچولي دي.

همدا راز دغوطاغوتیانو د باطلو؛ عېسویت، یهودیت او نورو مفکورو ډول ډول ډلي ان په اسلام کي ځیني باطل پالي ډلي رامنځ ته کړلې، چې پرله پسې وده او پروربښت ورته ورکړه سو. البته دا داسي ډلي دي چې په ماهیت کي د ټولو موخه یوه ده او هغه د دوی د بېلابېلو مادي او تنظیمي ګټو خوندي کول او اساساً د نړیوال استکبار او استعمار په خدمت کولو او حمایه کولو سره د هغه حاکم ساتل او د دغه استکبار د ګټو خوندي کول او د هغه په وړاندي د مزاحمو ځواکونو ځپل دي. د مودو په تېرېدو او د تجربو په لاسته راوړو سره

استکباري او استعماري قوتونو د خپلو ګټو او پلویانو د ساتلو او حمایې په موخه نور ډول ډول نظامي، جاسوسي، تبلیغاتي، د پرګنو د تحمیق او غولوني او ډېر نور قسم قسم سازمانونه هم را منځ ته کړه ان په لطایف الحیل او د ډول ډول د سیسو په لار اچولو او پلي کولو سره په دې وتوانېدل چې په اسلامي هیوادونو کي د مسلمانو پرګنو د غلي کولواو بیده ساتلو او په هغو کي د سر پورته کوونکو د سر ټکولو لپاره خپل ګوډاګي حکومتونه حاکم کړي او خپل جواسیس او ګماشته ګان او مزدوري ډلي ټپلي د واک پر ګدۍ کښېنوي.

# پانګوالي نظامونه

دغه باطل نظامونه د حق سره د باطلو د جګړې په وروستیو کې د امریکا، اروپا او نورو وچو د او سمهالو مادي پالو، طاغوتي، استکباري او ښکېلاکي نړۍ خورو حاکمه ځواکونو لخوا د دوی د ګټو د ساتلو او لازیاتېدو او ملیارډرکېدو او د نړۍ د بې وزلو پرګنو په هغو کې د اسلامي امت د مادي او معنوي شتمنیو د لوټولو او د دوی د ښکېلاکي ولکو د ټینګېدو او د جګړو د په لار اچولو او د ملتونو د ځپلو لپاره د تر ټولو ستري وسیلې په توګه د مادي او کفري سیاسي فلسفې پر بنسټ تشکیل او ټینګ سوي دي. دغه نظامونه د اسلامي عالمانو په اتفاق د اسلام د مبارک دین سره په تضاد کې دي، بلکې د هغه د نفوذ د مخنیوي، د هغه سره دښمنۍ پاللو او د اسلام او اسلامي امت د له منځه وړلو په موخه رامنځ ته سوي او وده ورکړه سوې ده. له دغو پانګه پالو نظامونو څخه نړیوالو ته ډېري نه جبیره کېدونکي بدمرغۍ او ستري بې وزلۍ په برخه سوي دي او همدا اوس هم د دغو نظامونو سردمدارانو پر مسلمانانو او د نړۍ پر نورو بې وزلو ولسونو باندي ډول ډول بدمرغۍ تپلي او رواني ساتلي دي. لنډه دا چي دغه پانګوال نظام په نړۍ کي د ټولو ناخوالو او مصایبو زېږنځی او مورينه باله سي او په اوسمهال کي د اسلام سره د مادي پالو ډېره اغېزمنه وسیله جوته سوې ده.

له تاریخي پلوه دغه نظام د روم له امپراتورۍ څخه ریښه اخیستې ده او د روم پر لرغوني فلسفه اتکا لري. په دې توګه دغه نظامونه خلک د دین او اخلاقي قوانینو سره مقابلې ته بولي او په مستقیمه او غیر مستقیمه توګه د اسرایلو د غاصب رژیم ملاتړ هم کوي.

## سیکولریزم

سیکولریزم یو ستر، اساسي او خطرناك جريان دی چې د امريکا او لوېديځ پانګوال، مادي پال استکبار او نړۍ خور استعمار يې د پوځ او ډالرو په زور پر مخ بيايي او ګټه ځيني او چټوي.

سیکولریزم او د بې دينۍ د دغه مسلك پلي کوونکو او د هغو شعوري او بې شعوره لاسپوڅو اسلامي نړۍ د ستر ګواښ سره مخامخ کړې ده. د دغه شوم مذهب اثرات او اغېزي اوس د اسلامي نړۍ په کابو هر کور، هر ښار او هره سيمه، تعليمي، تحصيلي او فرهنګي موسسو، علمي او مدني اډانو، فکري او اخلاقي ساحو، ادبي او ژبنيو مسايلو، قوانينو او دولتي ادارو، پوځ، پوليسو او محاکمو، جنسي مسايلو، طبي اورشوګانو، اقتصادي او سوداګريزو چارو، خوښيو، مېلو، جشنونو، ودونو، مېلمستياوو لنډه دا چې د ژوندانه او ټولني په ټولو اړخونو کي په ډرګنده او له ورايه ښکاري.

دغه مذهب د پايلو په اعتبار دونه خطرناك دی چې اوس موږ ته پر هغه باندي له سره غور او څېړنه کول، د هغه له ناوړو عواقبو او تاوانونو څخه خبرېدل او د خپل ټول ځواك په را غونډولو سره د دغه شوم بهير په وړاندي درېدل زښته زياته اړينه چاره ګڼل کيږي.

د سيکولريزم (Secularism) تعريف يې په انسايکلوپېډيا بريټانيکا کي داسي کړی دی: Indifference to or rejection or exclusion of religion and religious considerations. يعني: سيکولريزم د دين يا ديني تفکر څخه آزادۍ يا د دين د نه منلو يا د مذهب او مذهبي اندونو له قيده وتلو ته وايي.

په نيو تهرډ ورلډ ډکشينري کي يې د سيکولريزم د تعريفولو په ترڅ کي څرګنده کړې ده چې: د ژوند يا د ژوند د ځانګړو چارو په اړه هغه چلند چې بنسټ يې پر دې خبره ولاړ وي چې په دين يا ديني چارو کي بايد حکومت څه دخل ونه لري. يا د حکومت نظام بايد له ديني چارو څخه قصداً ليري وساتل سي، چې موخه ځني د حکومت خالص لا ديني سياست دی. له آره (په اصل کي) دا د اخلاقو يو ټولنيز نظام دی چې بنسټ يې پر دې نقطهٔ نظر ولاړ دی

چي اوسنی ژوند او ټولنیز یو والی پر داسي کړنه او اخلاقي ارزښتونو ولاړ وي چي دین څه دخل پکښي ونه لري.

په عربي کي سیکولریزم ته «العلمانیة» وایي او د «الموسوعة المیسرة في الادیان و المذاهب المعاصرة» په (٣٦٧) مخ کي وایي: «د سیکولریزم صحیح ژباړه ده: بې دیني یا له دینه پرته دنیوي چارو ته پاملرنه، په دې توګه د سیکولریزم معنا بېله دین څخه د ژوند تر سره کولو ته دعوت او بلنه ده او په سیاست کي بې دینه حکومت ته ویل کیږي».

په دې توګه د سیکولریزم معنا په پښتو بې دیني ده.

دغه راز د «الموسوعة المیسرة في الادیان و المذاهب المعاصرة» په (٣٦٧) مخ کي لیکي: دغه دعوت په اروپا کي رامنځته سو او دپانګوالي ښکېلاك، د عېسوي تبلیغ د تحریك او کمونیزم په مرسته د نړۍ په ګوټ ګوټ کي خپور سو. د ١٧٨٩م. کال د فرانسې تر ستر اوښتون (انقلاب) د مخه او وروسته ډېرو چارو او مسایلو د دې مسلك په ډېر پراخ خپرېدو کي او د هغه د لارو او افکارو په ډېرو غځېدو او غوړېدو کي اغېز درلود»..

## سیکولریزم د پانګوالۍ او ښکېلاک په چوپړ کي:

لارډ کرومر چي د مصر وای سرای (نایب السلطنه) وو، په ١٩٠٨ع.کال یې د خپلې پالیسۍ د بیانولو په ترڅ کي وویل: «انګلستان د خپلو ټولو مستعمرو خپلواکۍ ورکولو ته چمتو دی، خو چي د پوهانو او سیاست والو یو داسي توکم رامنځته سي چي انګرېزي ښووني یې په مغزو کي ځای نیولی وي، د انګرېزي کلتور نمونه وي او د حکومت د ترلاسه کولو لپاره چمتو وي. خو انګرېز حکومت په هیڅ ګون د یوې شېبې لپاره هم آزاد اسلامي حکومت نه سي زغملای».

خو اوس د افغان توکمي امریکایي زلمي خلیل زاد یهودۍ مېرمني چریل بنارډ (Cheryl Benard) چي په کالیفورنیا کي د Rand Corporation په نامه د یوې څېړنیزي موسسې د ملي امنیت د څانګي څېړونکې ده، د دغې ادارې له آدرسه د «متمدن دموکراتیك اسلام: ملګري، سرچینې او جنګي تدابیر» (Civil

(Democratic Islam: Partners, Resources, end Strategies تـر سـرليك لاندي يو څېړنيز سياسي رپوټ ډوله کتاب خپور کړی دی. د دې رپوټ ځيني برخي په لاندي ډول را اخلو:

«پـه قـرآن کـي د يهـودو او عيسـويانو پـه هکلـه لـه مخالفتـه ډك او غوسـه پاروونکي احکام موجود دي. خو د دې تر څنګ د هغـه پـه ځينو برخـو کـي د هغو په هکله نرم احکام هم سته. په تاريخ کي اسلامي ټولنه د دغو قومونو سره د جګړې په حال کي پاته سوې ده.

موږ بايد تر ټولو د مخه نوي خوښوونکي مشـران را منځتـه کـړو، د مشـرانو لپاره رول ماډل جوړولو ته اړتيا ده.

په دوهم پړاو کي بايد موږ پـه اسـلامي نـړۍ کـي د مـدني ټـولني د ودي پـه هکله د اقداماتو لپاره هلي ځلي وکـړو. د دې مقصـد لپـاره بايـد سـيمه ييـز نـا دولتي تنظيمونه (انجوګاني) او نوري مدني ټولني را منځته کـړو. ځکـه چـي پـه بحراني حـالاتو کـي لـه دغسـي تنظيمونـو او ټولنـو څخـه دمـوکرات مشـران را منځته کيدای سي. موږ ته ښايي چي امريکايي، جرمني او لوېديز اسلام ته وده ورکړو. د دې موخي او هدف لپاره افهام او تفهـيم تـه اړتيـا ليـدل کيـږي. مـوږ بايد بنسټ پال تخريـب کـړو او پـه دې توګـه يـې مخـه پـه کلکـه ونيسـو. د دې چاري لپاره موږ بايد عـرب ژورناليسـتان وهڅـوو څـو هغـوی د بنسـټ پـالو د فسادونو اوشخصي ژوندانه او عادتونو په هکله راپورونه برابـر کـړي او هغـوی بربنډ او رسوا کړي. د دغو بنسټ پالو ويني تويوونکي څيري بايد بر بنډي سي. موږ بايد د يوه منځلاري او ښکلي اسلام په هکله تبليغ وکـړو او پـه دې هکلـه بايـد هـر هيـواد، سـيمه او ډلـه چـي د دې مقصـد لپـاره مرسـتي تـه چمتـو وي وهڅوو.

د ښوونځيو په تعليمي نصاب کي بايد د دموکراتيك اسلام پيغام په څرګنـده شامل کړو. بنسټ پالي په اسلامي هيوادونو کي د زده کړي پر موسسو باندي د خپلي ولکي د ټينګولو لپاره زياتي هلي ځلي کوي. موږ ته ښايي په دغو ځايونو کي ريښي وغځوو او ښووني او روزنـي او نـوو ځوانـانو تـه بايـد زياتـه پاملرنـه وکړو. موږ بايد د بنسټ پالو تضادونه را سربېره کړو او نوي خوښي عناصـر را

پورته کړو. موږ باید د ډېرو پیاوړو سیکولر عناصرو بشپړ ملاتړ وکړو او بنسټ پالي باید د یوه دښمن په توګه معرفي کړو.

موږ باید د دې خبري ملاتړ وکړو چي په اسلام کي مذهب او سیاست اړیکي نه سره لري او دا یو له بله بېل دي او د دې خبري په منلو سره په ایمان کي څه خلل نه پېښیږي». ماخذ: www.rand.org[١].

اوس نو آیا له دغو اقتباسونو څخه دا خبره نه څرګندیږي چي د نوي خوښوني، منځلاری‌او نوي موډ او فېشن تر ښکلو سرلیکونو لاندي د فکري، علمي او عملي کارکوونکو ښاغلو، ټولنو، تنظیمونو او خپرونو د کار او کړو وړو فکري سر چینې او اغراض او مقاصد څه دي؟ او دا ټولي منډي تړړي د پانګوالي ښکېلاک د ټینګښت او د سکولریزم د پرمختیا او د هغه د دودېدو او خپرېدو او پر اسلامي اورشوګانو باندي د امریکا او نورو لوېدیزیانو د تل تر تله ولکي ټینګولو لپاره نه دي؟

موږ د نوي توب، پر مختګ اومنځلاری هیڅ مخالف نه یو. دا هم اسلام منلي او غواړي یې او هم یې موږ پلویان او د زړه له کومي غوښتونکي یو، خو له دغو او داسي نورو ښکلو مقولو او عنوانونو څخه بده استفاده او د اسلام او وطن پر ضد او د پردو په ګټه دکانونه پر را ایستل ډېر ټیټ او کرغېړن کار دی.

## لذت، مادیت او عیاشي د سیکولریزم ستر مظاهر دي:

حقیقت دادی چي نفس پالنه د سیکولریزم ډېر مهم مظهر دی. بلکي له سیکولریزم څخه د هر غذا تر لاسه کوونکي ذهن ژوند د دې پر شاوخوا چورلي. دا ټکی د سیکولریزم بنسټ هم دی. په دې معنا چي لوی څښتن پرېږده، مادیات هر څه وبوله. له بده مرغه دغه مادیات دي چي د نفس پالني لامل ګرځېدلي دي. د اوسني نوي پېر د عیش اسباب د دغي نفس پالني لوازم دي. د نوي پېر تهذیب چي هماغه د بې دینی او سیکولر تهذیب دی د

---

١- د یادوني وړ ده چي خلیل زاد له دغي ښځي څخه دوه زامن لري چي یو یې الکزاندر (Alexander) او بل یې مکسیمیلیان (Maximilian) نومیږي.

خوندونو او مادياتو پر شاوخوا راګرځي. پر دې بنسټ ښځه په دې بازار کې تر ټولو ارزانه توکی دی او د عيش سامان ګواکې د ژوند اصلي موخه او مقصد دی العياذ بالله. اوسنی برلاسی کلتور چې له مسلمانانو څخه څه غواړي هغه دا خبره ده چې په لومړي پړاو کې د دوی په عقايدو غرض نه کوي، بلکې په عملي ډګر کې يې په اخلاقي مسايلو کې د ځانو ملګري او همفکره کوي. دا ځکه چې دوی پوهيږي چې بيا دوهم پړاو څه ستونزمن نه دی. خبره داده چې په اسلام کې د درز اچولو لپاره تر دې آسانه لار نسته. د سندرو د توپان، د ډول ډول ټلويزيونونو، کيبلي شبکو، لڅو فلمونو او سريالونو، فحش خپرونو، لوېديز ډوله مېلو، محفلونو او غونډو له لاري د نوو ځوانانو په لوېديزه طريقه روزنه او داسې نورې لارې چارې ټولې د دغه حکمت عملي ښکارندې دي. اوس اسلامي امت په دې برخه کې په بشپړ بحراني کيفيت او د پرله پسې جګړې په حال کې دی. خو افسوس چې دغه جګړه په يو طرفه توګه روانه ده او دې پلو ته دفاع کوونکی لږ تر سترګو کيږي.

موږ دلته خپلو هغو ورونو ته چې په غير شعوري توګه مازې د امريکايي او لوېديزو او د هغو په پيسو چلېدونکو رسنيو او د هغو د ټيټو او سپين سترګو مزدورانو د تبليغاتو تر اغېزې لاندې راغلي دي او د کفري او صليبي يرغل تر اغېزې لاندې يې خپل اخلاقي ارزښتونه پرې ايښې دي، وايو چې د امريکا او لوېديځ د نړۍ خور او وينې بهوونکي امپرياليزم او سيکولريزم منل او د پردو چوپړ او پيروي ستاسې او ستاسې د هيواد، ستاسې د اصالت او ستاسې د وياړلو دودونو او تاريخ ورکېده، ستاسې خوارېده او د پردو مريېتوب دی ﴿وَمَا عَلَيْنَآ إِلَّا ٱلْبَلَٰغُ﴾.

ښه، د حق او باطل يا په بله وينا د اسلام سره د ډول ډول کفارو او مادي پالو دښمنۍ خو موږ تر دې ځايه وڅېړلې او د هغو په ترځ کې مو ډېر څه څرګند کړل. البته موږ په دې څېړنه کې له لنډونه کار واخيست او د اسلام سره په دې دښمنۍ کې مو د اوسنيو کفارو او مادي پالو لکه د يهودو، هنودو او نورو اسلام ضد ځواکونو نور ډېر سياسي او ښکېلاکي اهداف او وسايل بيان نه کړل. دا ځکه چې يو خو د هغو وسايل لکه استشراق (ختيځ پېژندنه)،

تغریب[1]، تنصیر[2] او داسي ډېر نور ځان ته بېل بحث او څېړني غواړي او بـل زموږ موخه داده چي موږ خپل مسلمان ورونه وپوهووو چي اصلاً خبره څه ده او د امریکایـانو او نـورو کفـارو پـه اصـطلاح د تروریـزم سـره مبـارزه واقعـاً د تروریزم سره مبازه ده که د اسلام او حق سـره د کفـارو او مـادي پـالو د اوږدې دښـمنۍ پـه دوام د روم د اوسـني ښـاخ، یعنـي امریکـا لخـوا پـه اوسـمهال کـي دښمني پالل دي؟ موږ خـو چـي وینـو دغـه امریکـا او لوېـدیځ دا سـوونه کلونـه لګیادي د نړۍ په ګوټ ګوټ کي یې پـر مسـلمانانو بـده ورځ راوسـتې ده، لکـه چي په دې لړ کي همدا اوس پـه افغانسـتان، عـراق، فلسـطین، چیچنیـا، هنـد، چین، برما او نورو ځایونو کي مسلمانان قتل عام کیـږي، پـه ډول ډول زورونـو زورول کیـږي او حقـوق یـې ځنـي غصـب کیـږي او دا لـړي د نـورو خطرنـاکو ابعادو په موندلو سره نوره هم پرمختیـا مـومي او پراخـه کیـږي. نـو څنګـه چـي مخکنۍ پاڼي دغه موضوع په ډېره ښه توګه واضح کوي او موږ تـه د دوی سـره په مبارزه کي خپله لار او لیکه ډېره ښه راښیي، ځکه مو نو له نـور بحـث څخـه ډډه وکړه او پر همدومره مو بسنه وکړه.

دلته یوه خبره د یـادولو وړ ده او هغـه داده چـي اوس داسـي ښـکاري چـي د امریکا امپریالیستي زبرځواک د مسلمانانو سره په جګړه کي د هغـو تېروتنـو لـه امله چي ځني تر سره سـوي دي او د نـړۍ د مسـلمانانو د ویښـتیا او د امریکـا، لوېدیځ او نوري کفري نړۍ پر ضد د تېنګـار او پاڅېـدني لـه املـه مـخ پـر ماتـه روان دی. اقتصـاد یـې دړي وړي سـوی دی. پـه نـړۍ کـي یـې څېـره تـوره او کرغېړنه جوته سوې او ډېر بد نوم یې خپل کړی دی. له دې امله له عراق څخه د پوځونو ایستلو ته اړ سوی دی. لکه چي د ۲۰۰۹م.کال د جون پر دېرشمه له بغداد او نورو عراقي ښارونو څخه امریکـایي تېـری کـوونکي پوځیـان ووتـل. د عراق خلکو د خوښۍ جشنونه جوړ کړل او د دغه هیـواد ګـوډاګی حکومـت اړ سو چي دغه ورځ عمومي رخصتي او د هیواد د خپلواکي ورځ اعلان کړي. پـر

---

۱- د ټولو ولسونو، په تېره د مسلمانو ملتونو ژوند او ټول شؤونات لوېدیز کول.

۲- نصرانیت په ټولو ولسونو، په تېره په مسلمانانو کي خپرول او واکمن کول.

دې بنسټ ټينګه هيله پيدا سوې ده چې که په افغانستان او سيمه کې اسلامي ځواکونه او تحريکونه په سمه توګه او په اتحاد او يوموټي توب کې د امريکا او لوېديځ پر ضد هلې ځلې وکړې کېداى سي په ډېر لنډ وخت کې دې زبرځواک ته غوڅه او عبرتناکه ماته ورکړي او ان د شوروي غوندي يې دړې وړې کړي. داسي فکر کيږي چې د لوی څښتن ﷻ لخوا دا کار مقدر سوی دی او که خدای کول د دې نړۍ خور ځواک د دړې وړې کېدو وياړ به هم د افغانانو په برخه وي

إنشاء الله.

﴿رَبَّنَآ ءَاتِنَا مِن لَّدُنكَ رَحْمَةً وَهَيِّئْ لَنَا مِنْ أَمْرِنَا رَشَدًا ﴿١٠﴾﴾.

«ای پروردګاره! موږ په خپل ځانګړي رحمت سره سر لوړي کړه او زموږ چاره سمه کړه».

# اخيستليک


1- قرآن کريم تنزيل من الرَّب العٰلمين.
2- صحيح البخاري، امام ابي عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري، بيروت: دارالمعرفة، ۱۴۲۵ سپوږميز.
3- صحيح مسلم، امام ابي الحسين مسلم بن الحجاج القشيري، بيروت: دارالفکر للطباعة والنشر، ۱۴۲۱ سپوږميز.
4- الموطأ، امام مالک بن انس، بيروت: دار احياء التراث العربي، ١٤٠٦ سپوږميز
5- سنن الترمذي، امام ابي عيسیٰ الترمذي، بيروت: دارالمعرفة، ۱۴۲۳ سپوږميز.
6- سنن ابي داود، حافظ ابي داود سليمان بن الاشعث السجستاني، بيروت: دارالفکر للطباعة والنشر، ۱۴۲۵ سپوږميز.
7- سنن النسائي، امام ابي عبدالرحمٰن النسائي، رياض: دارالسلام للنشر والتوزيع، ۱۴۲۰ سپوږميز.
8- سنن ابن ماجه، حافظ ابي عبدالله القزويني، بيروت: داراحياء التراث العربي، ۱۴۲۱ سپوږميز.
۹- اٹلس فتوحات اسلاميه، احمد عادل کمال، د محسن فاراني ژباړه او زياتوب، لاهور: دارالسلام، ١٤٢٨س.
10- استعماری تاریخ کے سیاه اوراق، شهباز حسين بارا، منصوره: اذان سحر پبلی کیشنز، ۲۰۰۵ع.
11- اسلام، پيغمبر اسلام اور مستشرقين مغرب کا انداز فکر، ډاکټر عبدالقادر جيلاني، لاهور: بيت الحکمت، ۲۰۰۵ع.
12- اشعة اللمعات، شيخ عبدالحق محدث دهلوی، لکهنو: مطبع تيج کمار، ۱۹۶۳غ.

13- اطلس القرآن، دکتورشوقي ابوخليل، د شيخ الحديث حافظ محمد امين ژباړه، لاهور: دارالسلام، ١٤٢٤س.
14- الاعلام والتبيين في خروج الفرنج الملاعين على ديار المسلمين، احمد، بن علي بن مغربي (ابن حريري)، تهران: دفتر نشر فرهنګ اسلامی، ١٣٧٣ل.
15- بذل القوة في حوادث سني النبوة، العلامه مخدوم محمدهاشم تتوي. حيدرآباد: لجنة احياء الادب السندي، ١٣٨٦سپوږميز.
16- پوپنا سوي ولسونه، هارون يحيى، د عبدالمالک همت ژباړه، کوټه: صحاف نشراتي موسسه، ٢٠٠٨ع.
17- تاريخ ابن خلدون، علامه عبدالرحمن ابن خلدون، د علامه حکيم احمد حسين او نورو ژباړه، کراچي: نفيس اکيډمی، ١٩٨١ع.
18- تاريخ اديان ومذاهب جهان، انټرنيټ.
19- تاريخ انبياء (حماسهٔ بت شکنان)، عزيزالله کاسب، تهران: انتشارات ګلی، دوهم چاپ، ١٣٧٨ل.
20- تاريخ اندلس، مولانا سيد رياست علي ندوي، اسلام آباد: نيشنل بک فاونډيشن،١٩٨٩ع.
21- تاريخ پيامبران، دکتورمحمد طيب نجار، د نصير احمد حادث ژباړه، پېښور: مکتبهٔ فاروقيه، ١٣٨٤ل.
22- تاريخ جنګهای صليبی، ستيفن رانسمان، د منوچهر کاشف ژباړه، تهران: بنګاه ترجمه ونشر کتاب، ١٣٦٠ل.
23- تاريخ سياسي اسلام، دکتر حسن ابراهيم حسن، د ابوالقاسم پاينده ژباړه، تهران: انتشارات جاويدان، ١٣٨٥ل.
24- تاريخ الطبري، محمد بن جرير الطبري، قاهره: المکتبة التجارية الکبری، ١٣٥٨س.
25- تاريخ عرب، موسيو سديو، د مولوي عبدالغفور خان او مولوي محمد حليم انصاري ژباړه، کراچي: نفيس اکيډيمي، ١٩٨٦ع.

26- تاریخ قرون جدید، آلبِرمالِه، د سید فخرالدین خان شادمان ژباړه، تهران: دنیای کتاب او نشر علم، دوهم جاپ، ۱۳۶۶ل.
27- تاریخ قرون وسطی، آلبِرمالِه او ژول ایزاك، د میرزا عبدالحسین خان هژبر ژباړه، تهران: دنیای کتاب او نشر علم، دوهم جاپ، ۱۳۶۶ل.
28- تاریخ مدینه منوره، شعبهٔ تحقیق وتالیف دارالسلام، نظرثاني د مولانا صفي الرحمن مبارکپوري لخوا،لاهور: دارالسلام، د چاپ کال يې نه دی پر لیکلی.
29- تاریخ معالم المدینة المنورة، علامه سید احمد یاسین احمد الخیاري، جدة: دار العلم، څلورم چاپ، ١٤١٤س.
30- تاریخ مفصل اسلام، حسین عماد زاده، ایران، انتشارات اسلام، ١٣٦٧ل.
31- تاریخ المکة المکرمه، محمد عبدالمعبود، لاهور: مکتبهٔ رحمانیه، د چاپ کال نه دی پر لیکلی.
32- تاریخ ملت، مفتي زین العابدین سجاد میرټهي او مفتي انتظام الله شهابي اکبر آبادي، کراچي: دارالاشاعت ٢٠٠٢ع.
33- تفسیر اضواء البیان، محمد الامین بن محمد المختار، المکتبة
34- تفسیر اللباب، ابن عادل، المکتبة الشاملة.
35- الجامع لاحکام القرآن (تفسیر القرطبي)، ابي عبد الله محمد بن أحمد الانصاري القرطبي المکتبة الشاملة.
36- تفهیم القرآن، سید ابوالاعلی مودودي، دقیام الدین کشاف ژباړه، پېښور: ادارهٔ احیاء العلوم، ١٤٠٥س.
37- جنگهای صلیبی، ایران.
38- داستانهای پیامبران در قرآن، عفیف عبدالفتاح طباره، ابوبکر حسن زاده ژباړه، کابل: ادارهٔ دار النشر، ۱۳۸۳ل.
39- د اسلام تاریخ، مولانا اکبرشاه نجیب آبادي، د سید فضل مولا لټون ژباړه، پېښور: پیغام خپرندوی مرکز، ١٤٢٥س.

40- دولت عثمانی از اقتدار تا انحلال، اسماعیل احمد یاقی، د رسول جعفریان ژباړه، قم: ١٣٧٩ل.
41- رحلة ابن فضلان، احمد بن فضلان، المكتبة الشاملة.
42- الرحيق المختوم، الشيخ صفي الرحمن المباركفوري، قاهره: دار الريان، ١٤٠٨س.
43- ردالمحتار، علامه، سيد محمد امين ابن عابدين، تركيه: مكتبهٔ عثمانيه، ١٣٢٤س.
44- روبه زوال امريكن امپائر، حامد كمال الدين، لاهور: مطبوعات ايقاظ، ١٤٢٨س. زاد المعاد في هدى خير العباد، محمد بن أبي بكر بن أيوب، المكتبة الشاملة.
45- زموږ د قبلې تاريخ، عبدالمالک همت، کندهار: خپروونکی ليکوال، دوهم چاپ، ١٣٢٧س.
46- سبل الهدى والرشاد في سيرة خير العباد، امام محمد بن يوسف الصالحي الشامي، المكتبة الشاملة.
47- سلسلة الاحاديث الصحيحة، محمد ناصر الدين الباني، بيروت: المكتب الاسلامي، څلورم چاپ، ١٤٠٥س.
48- سلسلة الاحاديث الضعيفة، محمد ناصر الدين الباني، بيروت: المكتب الاسلامي، پنځم چاپ، ١٤٠٥س.
49- السلوك لمعرفة دول الملوك، مقريزي، المكتبة الشاملة
50- سيد جمال الدين افغاني اند او ژوند، شاهد حسين رزاقي، د عبدالمالک همت ژباړه، کوټه: صحاف نشراتي موسسه، ٢٠٠٣ع.
51- سيرة النبيﷺ، ابي محمد عبدالملک بن هشام، مصر: مكتبة الجمهورية، د چاپ کال يې نه دی پر ليکلی.
52- شعر الجهاد في الحروب الصليبية، دكتور محمد على الهرفى، مصر: دارالنصر، ١٩٧٩ع.
53- صحيح الجامع الصغير وزيادته، محمد ناصر الدين الباني، بيروت: المكتب الاسلامي، دريم چاپ، ١٤٠٦س.

٥٤- صلیبی جنگجو، هارون یحییٰ، د منظر غني چوهدري ژباړه، لاهور: خزینهٔ علم وادب، ۲۰۰۳ع.
55- صلیبی جنګیں، ټیدي جونز او الین ایرا، د ډاکټر امان الله قریشي ژباړه، لاهور: ۲۰۰۴ع.
56- ضعیف الجامع الصغیر وزیادته، محمد ناصر الدین الباني، بیروت: المکتب الاسلامي، دریم چاپ، ۱٤۱۰س.
57- طبقات سلاطین اسلام، استانلي لین پول، د عباس اقبال ژباړه، تهران: دنیای کتاب، ۱۳٦۳ل.
58- طبقات ناصري، منهاج الدین جوزجاني، کابل: انجمن تاریخ افغانستان، ۱۳٤۳ل.
59- عالم اسلام کی اخلاقی صورت حال، اسرار عالم، لاهور: دارالنوادر، ۲۰۰۴ع.
60- العرب في صقلية، إحسان عباس، المكتبة الشاملة.
61- علل وآثار جنگهای صلیبی، عبدالله ناصر طاهری، تهران: دفتر نشر فرهنگ اسلامی، ۱۳۷۳ل.
62- عیسائیت کا پس منظر، مولانا محمد سرفرازخان صفدر، گوجرانواله: مکتبهٔ صفدریه، شپږم چاپ، ۲۰۰۷ع.
63- عیسائیت کیاهے، مولانا محمد تقی عثمانی، کراچي: دارالاشاعت، ۱۳۹۲س.
64- غزوات پیامبر اکرمﷺ، عبدالقادر الشیخ ابراهیم، د رقیه نعیمي ژباړه، تربت جام: احمد جام،۱۳۷۹ل.
65- فتح الباري شرح صحیح البخاري، امام احمد بن علي بن حجر العسقلاني، ریاض: دارالسلام، ۱٤۲۱س.
66- فتوح الشام، محمد بن عمر واقدي، د محمد صادق حسین صدیقي ژباړه، لاهور: مکتبة القریش،۱۹۹٤ع.
67- فضیلت بیت المقدس اور فلسطین وشام، حافظ محمد اسحٰق زاهد، لاهور: دارالسلام، ۲۰۰۲ع.

68- فقه السيرة، محمد غزالي المصري، د محمد طاهر حسيني ژباړه، کابل: ادارۀ دار النشر، دوهم چاپ، ١٣٨٣ل.
69- في ظلال القرآن، سيد قطب، المكتبة الشاملة.
70- قبلۀ اول كفار كے حصارمیں، مولانا محمد ارسلان بن اختر، کراچي: مکتبۀ ارسلان، ۲۰۰۴ع.
71- قديم آبائی بزرگ و انبیاء کے سوانح حیات، ایلن.جي.هوائیټ، لاهور، دی اورینټل واچ مین پبلشنګ هاوس،١٩٦٢ع.
72- قصص الانبياء، ابوالفدا عماد الدين ابن كثير، المكتبة الشاملة.
73- قصه های قرآن، محمد جاد المولی او نور، د مصطفی زمانی ژباړه، قم: انتشارات پژواک، دريم چاپ، ١٣٨٢ل.
74- الكامل في التاريخ، ابن اثير، المكتبة الشاملة.
75- کریستف کلمب، آرمسټرانګ اسپری، د مجید روشنګر ژباړه، تهران: مؤسسۀ انتشارات امیر کبیر، دریم چاپ، ١٣٥١ل.
76- لباب التأويل في معاني التنزيل (تفسير خازن)، أبو الحسن علي بن محمد بن إبراهيم بن عمر الشيحي الخازن، المكتبة الشاملة.
77- مختصر تاريخ خلافت اسلاميه، مولانا عبدالقدوس هاشمي، لاهور: دارالتذكير، ١٩٩٧ع.
78- مدارج النبوت، شيخ عبدالحق محدث دهلوي، لاهور: نوريه رضويه پبلشنګ، دوهم چاپو ١٩٩٧ع.
79- مرقاة المفاتيح، ملا علي القاري، کوټه: مکتبۀ رشیدیه.
80- مژده برای عصر جدید (انجیل)، لاهور: پاکستان بایبل سوسایټی، ١٩٨٢ع.
81- المستدرك على الصحيحين،الحاكم أبو عبد الله محمد بن عبد الله بن محمد، المكتبة الشاملة.
82- مسلم حکومتوں کے عبرت انگیز حالات، مولانا سعید احمد، کراچي: مکتبة الاسلام، ١٠٠۴ع.
83- مشكوٰة المصابيح، خطيب عمري تبريزي، مطبع نظامي، ډيلی.

84- معالم التنزيل، إمام أبي محمد الحسين بن مسعود الفراء، البغوي، المكتبة الشاملة.

85- مغازي، محمد بن عمر واقدي،د دکتر محمود مهدوي دامغاني ژباړه، تهران: مرکز نشر دانشګاهي، ١٣٦٢ل.

86- مغربی یلغار، ډاکټر ریاض احمد، لاهور: تخليقات، ٢٠٠٤ع.

87- الموسوعة الميسرة في الاديان و المذاهب المعاصرة، رياض: الندوة العالمية للشباب الاسلامي، ۱۴۰۹ سپوږمیز.

88- النبوة والانبياء، محمدعلي الصابوني، مكة المكرمة: ١٤٠٠س.

89- النجوم الزاهرة في ملوك مصر والقاهرة، ابن تغري بردي، المكتبة الشاملة.

90- نشانات ارض القرآن، شاه مصباح الدين شكيل، كراچي: فضلي سنز،٢٠٠٥ع.

91- واسلاماه، علي احمد باكثير، د عبدالحق عتيد ژباړه، پېښور: اتحاد اسلامي افغانستان، ١٣٧٠ل.

٩٢- یهودی پروتوکولز، وکتړای مارسډن، د محمد یحیی خان ژباړه، لاهور: نګارشات، ٢٠٠٤ع.

٩٣- (**Encyclopadia Britannica 2005 Deluxe Detion CD**).

## «د حق او باطل جګړې» نومي کتاب له وروستۍ برخي څخه

### د دې کتاب د ځينو املايي بڼو په هکله څرګندوني

عربي پوهان د تاليف او تصنيف په اړه وايي: «مَنْ صَنَّفَ فَقَدْ اسْتَهْدَفَ وَمَنْ أَلَّفَ فَقَدْ اسْتَقْذَف». يعني څوک چي کتاب وليکي د خلکو د ډول ډول خبرو او غندنو هدف وګرځي. که يې ښه کتاب ليکلی وو د ځينو نيتونه پر بد سي او غيبت يې کوي او که يې په کتاب کي څه ناسمه خبره راغلې وه، نو د ښکنځلو او بد ويلو د غشو وارونه پر پيل سي. رشتيا هم چا چي د ليکوالۍ ډګر ته نه وي وردانګلي د خلکو له خولو په امان وي، خو چي په دې اورشو کي پل کښېږدي د ډول ډول خبرو سره مخامخ سي، په تېره د جهل او جاهل د پلار او نيکه دښمن وګرځي. له دې امله دی چي ځيني پوهان له کتاب ليکلو څخه ډډه کوي. خو زما په اند که څوک پوهېږي چي ګټور، کره او معياري څه ليکلای سي، نو د کتاب ليکلو له لاري د اسلام، هيواد او خلکو خدمت ډېر غوره کار دی. په دې اړه دي د حاسدانو او جاهلانو د خبرو پروا نه کوي، بلکي د کار ګټو ته دي ګوري.

زما په هکله الحمد لله تر اوسه داسي خبري ډېري نه دي ليدل سوي. خو داسي ښکاري چي ځيني دوستان زما په ليکنو کي دځينو املايي بڼو په هکله څه تأملات لري. نو د دې لپاره چي ځينو دغسي تأملاتو ته مي جواب ويلی وي اړ سوم چي دلته لاندي څه وليکم.

تاسي دروند لوستونکی به پوهېږئ چي زه د لوی کندهار په فرهنګي اورشو کي زېږېدلی يم او دلته اوسېږم. لکه چي څرګنده ده اوس د لوی کندهار (د کندهار او شاوخوا ولايتونو او کوټې او د هغې شاوخوا) لوستې طبقه د هغو ليکنو او کتابونو سره زياته لېوالتيا ښيي چي په کندهارۍ لهجه ليکل سوي وي. له دې امله ځيني کسان هغه پښتو کتابونه چي په پېښورۍ لهجه ليکل سوي وي کندهارۍ لهجې ته را اړوي او له سره يې خپروي. نو څنګه چي زه

هم د کندهار يم او هم مي لهجه کندهارۍ ده، او هم زما کتابونه زياتره د لوی کندهار خلک لولي زه اړ يم او له بله پلوه د دې سره مينه لرم چې خپله لهجه وکاروم. له دې امله اوس زما د ليکنو همدغسي دود چې تاسو يې زما په ليکنو کې لولئ زما ځانګړې ليکلار ګرځېدلې ده. البته دا کار يوازې زه نه کوم، بلکې ډېر پياوړي پښتانه پوهان خپلې ليکنې په همدې کندهارۍ لهجه ليکي. که يې څه هم چا ما مخې ته څه ډېرې مبرې هم ور غورځولې دي خو څنګه چې په تول درنې نه وې څه اغېز يې نه دی کړی.

له بده مرغه زموږ په ګران هيواد کې د بشپړې سر شمېرنې اخيستلو لپاره موکه نه برابرېږي. له دې امله نه د پښتو او نورو ژبو د ويونکو سمه شمېره معلومه ده او نه دا معلومه ده چې د کندهارۍ لهجې ويونکي ډېر دي که د نورو لهجو. له دې امله د هيواد کورنيو او بهرنيو دښمنانو د هيواد د ستر پښتانه ټبر سره ډول ډول جفاوې کړې او اوس يې هم کوي. پر دې بنسټ دی چې پښتو ژبې د غير رسمي او دوهمي ژبې حيثيت غوره کړی دی او هر کس او ناکس په بې شرمۍ سره غورځی پر کوي. هسې خو دا د نخښو نښانو، تاريخي او نورو منلو سووحقايقو او ځينو اخيستلو سوو شمېرو له مخې او د ځينو بهرنيو او کورنيو سرچينو په حواله جوت حقيقت دی چې زموږ په هيواد والو کې پښتانه مطلق اکثريت جوړوي او دا هم ويل کيږي چې د پښتو کندهارۍ لهجه ډېرکۍ (اکثريتي) لهجه ده. نو د دې خبرو پر بنسټ بايد پښتو په ټول افغانستان کې سرترسري رسمي ملي او دفتري ژبه سي او که د پښتو د معياري کېدو خبره وي نو بايد کندهارۍ لهجه معيار وګرځول سي. ځکه چې دا د پښتنو اکثريتي لهجه ده او لکه چې پوهېږو په ويلو کې ډېره نرمه اوخوږه هم ده او د ليکنې بڼه يې د وينګ سره سمه يا ډېره ورنږدې ده، او سمه خبره هم داده چې ډېر پښتانه چې څه کلمې او لغتونه په خوله وايې، له ځينو څرګندو غلطيو پرته هغه پښتو ده او بايد هغسي وهم ليکل سي. ليکنۍ معياري ژبه بايد هغه وي چې د ولس اکثريت خبرې په کوي. نه داسې چې ولس يو ډول پښتو وايي او ليکلنۍ پښتو بل ډول وي.

البته که داسې نه کیږي او د پوهانو بله رایه وي، نو باید د پښتو ژبې معیاري کېدو ته لکه څنګه چې لازم وي او کار پوهان یې وړ ګڼې هغسې کار وسي، خو د کندهارۍ او ننګرهارۍ لهجو ویونکو ته حق ورکړل سي چې هر یو د خپل لیکدود ځیني بڼې د خپلې لهجې سره سمې ولیکي. مثلاً د لوی کندهار اوسېدونکي دې «چې، کې، مې او داسې نور» په معروفه (ي) او د خپلې لهجې سره سم لیکي او نور دې دغسې الفاظ د «چې، کې، مې» په بڼه په مجهوله (ې) لیکي. په دې صورت کې به زموږ ټولو هغه موخه چې د پښتو معیاري کېدل، پرمخ تلل او پراخېدل او د نورو ژبو سره سیالېدل دي د ټولو د خوښې سره سم تر سره سي. (لوی څښتن جل جلاله دې دغسې ورځ زموږ په ژوندوني او د پردو غلیمانو تر هرڅه ژر ماتې وروسته په موږ وویني. آمین). زه فکر نه کوم چې په دې صورت کې به هیڅ پښتانه ته څه ستونزه پېښه سي او نه پښتو ژبې ته څه خطره متوجه کیږي. بلکې په دې توګه به دا واړه واړه اختلافات هم لیرې سي او پښتو به لا نوره هم مخ پر ډېره وده او غوړېدو روانه سي.

اوس ښایي زما په لیکنو کې ځیني کسان د ځینو نومونو یا لغتونو پر بڼو څه نیوکې ولري. نو زه د بېلګې په توګه دلته له دغسې الفاظو څخه د «مځکې» یا «وو» او «وه» الفاظ را اخلم او خبري پر کوم.

لومړی مځکه:

لکه چې څرګنده ده مځکه او ځمکه یا زمکه د «زمین» په معنا دي. خو زما په اند مځکه سوچه پښتو لغت دی، اما ځمکه یا زمکه کېدای سي«زمین» ته د څه نژدې والي له امله د مځکي مقلوب شکل ګرځېدلی وي. البته دا چې ځیني پوهان مځکه د ځمکي مقلوب ګڼي دا بې سنده خبر ده. ځکه څنګه چې مقلوبات په پېښوري لهجه کې زیات لیدل کیږي. نو کېدای سي مځکه له دغي خوا په اوښتي بڼه ځمکه سوې وي. بل دا چې موږ د مځکې بڼه له دې امله هم کاروو چې دا د هیواد د ډېرکۍ کندهارۍ لهجې سره سمون خوري. یعني ویونکي یې زیات دي او تاریخي لرغونتوب یې هم زیات دی. که څوک دا نه مني او د ځمکې دا زیات بولي د منلو وړ سند دې وښیي.

بل هم د «وو» او «وه» په هکله:

د «بود» په معنا د «و» يا «ؤ» او د «بودند» پـه معنـا د «وو»ليکـل ناسـم دي. سم يې د «بود» لپاره «وو» او د «بودند» لپاره «وه» باله سي. په دې هکلـه بايـد ووايم چي له ډېر پخوا څخه زموږ ډېرو ليکوالو،ان ښاغلي ډاکټر مجاور احمـد زيار دغه تـوري ناسـم کـارول او اوس هـم زيـات ليکـوال او ژورناليسـتان هغـه ناسم کاروي. ډېری داسي ليکي: (په خونه کي لس تنه ناست وو). او يـا ليکـي: (پلانی په خونه کي ناست و). مګر زه پوهېدم چي داسي ليکل ناسم دي. زه لـه پخوا څخه تر اوسه دغه جملې داسي ليکم: (په خونه کي لـس تنـه ناسـت وه). او: (پلانی په خونه کي ناست وو). له ښه مرغـه پـه دې وروسـتيو کـي د ډاکټـر مجاور احمد زيار پام د نورو او خپلي دغي تېروتني تـه اوښـتی دی او پـه خپـل کتاب «د نوي ژبپوهني په رڼا کي ليکلارښود» کـي يـې د دې تېروتنـو پـه هکلـه څرګندوني کړي او ويلي يې دي چي ما دمخـه دغـه تېروتنـي د پښـتو ټـولني پـه پيروي کولې او اوس يې په دغه کتاب او ټـول افغـان ويـب پاڼـه کـي پـه ټينګـار سره ويلي دي چي: «[و] (بود) ناسم دی او سم يې [وو] دی او [وو] (بودند) ناسم دی او سم يې [وه] يا [ول] دی».

البته د «ول» په هکله په ټينګار سره وايم چي دا هم تېروتنه ده. دا ځـای يـې نخښه چي زيار صاحب يا بل څوک به يو وخت دغه تېر وتنه هـم ومني. ځکـه «ول» نه په کندهارۍ لهجـه کي او نـه پـه ننګرهـارۍ لهجـه کي مسـتعمل دی، بلکي دا په ځينو هغو لهجو کي کارول کيږي چي ويونکي يې لږکي بالـه سـي او لرغونوالی هم نه لري. له دې امله د معياري کېدو وړتيا نه لري او کارولو ته يې هيڅ اړتيا نسته.

دا چي په ۱۳۳۷ ل.کال د پښتو ټولني د پرېکړي سره سم د مځکي پـر ځـای د ځمکي بڼه منل سوې ده. زه د پښتو او فرهنګ لپاره د خپلو ويـاړلو پوهـانو د خدمتونو قدر کوم او په درنه سترګه ورته ګورم. خو لکه چي څرګنـده ده پـه دې هکلـه پرېکـړي هغـه مهـال د ژبپـوهني د آرونـو سـره سـمي نـه، بلکـي د رايـي اخيستني او داسي نورو پر بنسټ کېدلې، او هغه مهـال پـه دې پرېکـړه کوونکـو کي د کندهارۍ لهجې استازي لږ وه. بل لکه چي پـوهيږو دا پرېکـړي پنځـوس کاله دمخه سوي دي. هغه مهـال دغـه پرېکـړي د زړو ژبنيـو بنسـټونو لـه مخـي

سوي دي چې د نوي ژبپوهنې له مخې د منلو نه دي. له دې امله هغه مهال هم دغو پرېکړو ته ډېرو پوهانو دونه ارزښت نه ورکاوه او اوس هم ډېر پوهان ورسره موافق نه دي. بل هم زموږ په ژبه او هم په ژبپوهنه کې زيات بدلونونه راغلي دي چې په اوسنيو شرايطو کې زموږ د ژبې د ډېرو چارو په هکله د نوو ژبنيو اصولو له مخې له سره غور او نووځېړنو او پرېکړو ته اړتيا ده. البته په اوس مهال کې چې پښتانه د خپلو ځانو او خپل خواږه هيواد هيڅ واک اختيار نه لري او د هيواد د بشپړې خپلواکۍ لپاره او د دغو او ډېرو نورو ناخوالو د له منځه وړلو لپاره د پاڅون کوونکو لخوا پراخه اوهر اړخيزه وطني جګړه روانه ده، دا کار ناشونی برېښي. بل دا چې دا د ژبپوهنې د يو څو اجاره دارانو يا په ژبنيو مسايلو د ناخبرو کسانوکار نه دی. په دې هکله کله چې شرايط مساعد سي بايد يوه مستقله او با صلاحيته ټولنه چې له ځانګوالو او پوهو ژبپوهانو او باتجربه عالمانو څخه جوړه وي تشکيل سي او د پښتو د معياري کېدو په باب د نوي ژبپوهنې د اصولو سره سم تر لازمو بحثونو او څېړنو او ګروېږنو وروسته وړ پرېکړې وکړي. وروسته هم بايد دغه ټولنه د تل لپاره د دولت په مرسته او لګښت ځانته مرکزي اداره ولري او په پرله پسې توګه په دې اړه کار او لارښوونې وکړي. په دې صورت کې به د پښتو معياري کېدل په بشپړه او هر اړخيزه توګه ممکن سي.

له دې پرته چې زموږ پوهان په اوسنيو شرايطو کې د دې کار وس نه لري، نو سمدستي دي د په کار بوختو ليکوالو د کار مخه په وړو، بې ګټو او بې ځايو نيوکو نه نيسي. ليکوالو ته دي موکه ورکړي چې ترخپله وسه خپل کار ته په همدې توګه ادامه ورکړي. د ليکوالو علمي او فرهنګي خدمتونه ډېر اړين دي خو په دې کوچنيو کوچنيو خبرو بوختېده د وخت ضياع باله سي. دا دونه مهمې خبرې نه دي، ځکه هر لوستی پښتون هم په کندهارۍ لهجه پوهيږي هم په پېښورۍ يا بله لهجه او زه ډاډ ورکوم چې په دې کې پښتو ته هيڅ زيان نه رسيږي. ناحقې زړونه مه خورئ. بلکې کوښښ وکړئ چې زموږ خوږه پښتو د کافرانو د ژبو د لغاتو او اصطلاحاتو په ورګډولو بې خونده او د نه جبيره کېدونکې تاوان سره مخامخ نه کړئ.

رابه سو د پښتو د کره کولو او معیاري کولو د ځینو مدعیانو د رایي استبداد ته. زه له مخکي څخه لا پوهېږم چي زما دغه خبري پر هغو او د هغو پر لار روانو کسانو ښې نه لګیږي او ښایي زما پر دې خبرو باندي اوتي بوتي هم وویل سي، خو زه له دې امله تر حق او حقیقت ویلو نه تېرېږم. خبره دا ده چي د پښتو ژبي د معیاري کولو ځیني اورني مدعیان چي له پښتو او پښتونولۍ څخه لیري، زموږ د دښمنانو په ټاټوبو کي؛ په داسي ځایونو کي چي د پښتو او د پښتنو د دې روانو بخولو بوی لا نه ځني نښلي خپل ځانونه په خپله د خوږې پښتو ژبي د معیاري کولو ټېکه داران ګڼي. دوی په خپله ادعا کوي چي د پښتو معیاري کولو ته یې ډېر ستر خدمتونه کړي دي او په دې هکله ډېره اوږده سابقه لري.

داچي د دوی دا ادعاوي تر کومه حقیقت لري او دا چي دوی پښتو ته تاوان رسولی دی که ګټه یا یې ډېره ګټه ور رسولې ده که لږ دا بېلي خبري دي. زه خپله د عالمانو، په تېره د پښتو او هیواد د خدمت کوونکو هیوادوالو ډېر قدر کوم، خو متاسفانه چي له دوی څخه ځیني په خپله له کفارو څخه په تر لاسه کړې پوهه ډېر نازیږي او له دې امله یې هم په رایه کي استبداد زیات لیدل کیږي. دوی د ځان د سم او ناسم په کره او معیاري ګڼلو سره، خپله رایه پر نورو باندي اکونک تپي. خو د نورو هرڅه ناسم بولي او په ملایي یې لیکه کوي. څنګه چي د دوی عربي نه ده زده او عربي اسلامي علوم یې نه دي لوستي، نو د ځان د دې تشي د پټولو لپاره د عربي ژبي په هکله یو ډول له ملنډو ډکي خبري کوي او عربي اصطلاحاتو ته «د ملایي اصطلاحاتو» یا «عربیزم» نوم ورکوي، چي البته د قرآن او د حضرت محمدﷺ د ژبي په هکله دغسي خبري ښې نه دي. که چیري د دوی عربي زده وای تاسي به لیدلي وای چي څونه به په ویاړېدلای.

حقیقت دادی چي عربي ژبي او ډېرو عربي اسلامي علومو (چي دغه جنابان یي په ملنډو او ریشخندونو ملایي ګڼي) زموږ د ژبي سره ډېره ستره مرسته کړې ده. که لوی څښتنﷻ پر موږ باندي عربي ژبه او علوم نه وای پېرزو کړي اوس به زموږ ژبه دونه غني نه وای او تر دې به لا اسکېرلې وای.

دین خو مو تقریباً ټول په عربي دی او د هځوب (فرهنګ) د زېرمې زیات څه مو هم عربي جوړوي. همدا اوس هم تاسې پوهېږئ چې هغه کسان چې د عربي پرضد خبرې کوي، په بې چاره ګۍ سره د خپلو خبرو په ننګه او د عربي په رد کې هم له عربي کلمو او اصطلاحاتو څخه په زیاته کچه ګټه اخلي.

له دغو جنابانو څخه ځینې کسان غواړي چې زموږ په ژبه راګډ سوي اسلامي عربي لغات کوم چې د ژبپوهانو په اصطلاح مستعار لغات ورته وایي، زموږ په ژبه کې د دخیلو مغولي، ترکي، هندي، فارسي او انګریزي لغاتو سره په یوه لیکه کې ودروي او د پښتو ژبې له پانګې څخه یې حذف کړي. چې دا که شعوري وي ستر خیانت او د ښکېلاك په ګټه عمل دی او که غیر شعوري وي اشتباه او تېروتنه ده.

دغه عربي لغات زموږ د خدای او اسلام لخوا زموږ په برخه سوي دي او اوس زموږ مال او ژبني شته ګرځېدلي دي. خو مغولي، هندي او انګریزي زموږ د دین، پښتو او وطن د دښمنانو د ژبې لغات دي چې که یې په پښتو کې معادل نه وي او یا نه ورته پیدا کېږي کارول یې ښایي مجاز وي، اما نور امریکایي او اروپایي لغات چې همدا اوس یې دغه کسان او ځینې نور نوچکیان ځای بې ځایه په خپلو پښتو لیکنوکي کاروي او په دې توګه یې زموږ ژبه د ستر ګواښ سره مخامخ کړې ده باید پښتو په غوڅه توګه د هغو له ناولتیا څخه پاکه سي.

دغه راز دغه ښاغلي څرګندوي چې: «پښتو لیک چې له آره عربي لیک دی او یو څه لاس پکي وهل شوی دی، له نیمګړو لیکونو څخه ګڼل کېږي.... له دې کبله زموږ اوسنی لیک ریفورم لا څه چې بیخي یوه اوښتون ته اړتیا لري. هغه داچې یې بیخي ابیځې (الفبې) واوړي او د عربي تورو پر ځای نړیواله فونیمیکي الفباء رامنځ ته سي». وه! وه! دغه ده پر پښتو باندي لوریینه او پیرزوینه! او د پښتو د معیاري کېدو لپاره هاند او هڅه! نور هرڅه خو مو له هیواده نیولې تر فرهنګه د لوېدیزو کفارو تر یرغلونو لاندي راغلي دي، دغه الفبې مو هم تر دې یرغل لاندي راولو؟

زه دغو ښاغلو ته په درنښت وایم چي دا خبري مه کوئ اوس مو هم ډېري تېر وتني کړي دي چي دغه عربي لوستي اسلامي عالمان او ستاسو په اصطلاح ملایان یې درسموي او یایې تاسي د ملایانو په ملایي او پېښنو سموئ. د دې ملایانو تر سرجارېږئ. که دوی نه وي ډېري خبري به مو ویجاړي وې، نه به مو پښتو وي، نه پښتونولي او نه هیواد. ان قبر ته به مو همدغسي ناولی او بې اودسه ننباسي.

سمه خبره داده چي پوهه او ادب د هیچا په تېکه نه دي. زه زموږ له ځینو پوهانو څخه په ډېر درناوي هیله کوم چي په دې اورشو کي یوازي ځان قراردادي ونه بولي. زموږ پر نورو ادب بوختو پر مازي څه غورځی ونه کړي، بلکي نورو ازموینو او څېړنو ته یې پرېږدي. پر کوچنیو کوچنیو خبرو لفظي او لیکنۍ شخړي ښه نتایج نه ورکوي.موږ چي هر څه کوو مړانه به مو داوي چي تفاهم، یووالی او پرمختګ رامنځ ته کړو، د پردو له ولکې او اړتیا څخه ځانونه وژغورو او زموږ پر ګران هیواد د ناپوهۍ او بدمرغۍ دغه را خپرې لوخړي د پوهي د پراختیا په رڼا لیري کړوو. دا ښه کار نه دی چي زموږ ځیني کسان د ژبنیو او فرهنګي یا مذهبي چارو اجاره داران، ځیني د سیاست تېکه داران او ځیني هم د چوکیو او امتیازونو میراث خوران واوسي او ډېرکی له دې چارو لیري او بې برخي پاته سي.

بله خبره داده چي زموږ ځیني کسان د پخوانیو فارسي ځپلو میرزایانو په پېښنو ځیني سوچه پښتو او یا له نورو ژبو څخه ماخوذ (اخیستل سوي) لغات اوکلمات چي بیا مفغن سوي دي[1] او د پښتو ژبي مال ګرځېدلي دي، په لوی لاس له خپل اصلي یا پښتو سوي حالته اړوي او د فارسي ژبي په پېښنو یې په عربي بڼه لیکي.

د بېلګې په توګه «اریان» چي سوچه او اصلي پښتو لغت دی په لوی لاس یې عربي کوي او (حیران) یې لیکي. یا د پښتو الفبې تلفظ په عربي کوي او

١- یعني پښتو سوي دي. مفغن هغه لغت ته وایي چي پښتنو له بلي ژبي څخه اخیستي وي، په هغه کي یې تصرف کړی وي او د پښتو لغت په بڼه یې اړولی وي.

«الفباء» یې وایي او لیکي یې. یا د مثال په ډول د پښتو «رې» او «زې»،«راء» او «زاء» وایي او لیکي یې. درسته ده چې د پښتو د لیک توري (حروف) له عربي څخه اخیستل سوي دي، خو وینګ او تلفظ یې پښتو دی. تورو ته اعتبار نسته. ځکه توري صرف یو انځور باله سي. یا داسي ډېر مستعار (له نورو ژبو څخه اخیستل سوي یا پور سوي) کلمات او لغتونه دي چې پښتانه یې په خپلو منځو کي سم وایي او یایې له ډېر پخوا څخه د خپلي ژبې د ځانګړنو، تلفظ او صوتي نظام سره سم مات کړي او اړولي او د هغو په تورو کي یې بدلون راوستی دی، خو اوس یې ځیني کسان په لوی لاس په عربي یا فارسي بڼه لیکي. د بېلګې په توګه د کندهار ټول خلک، «ارغنداو» همدغسي تلفظوي، خو زموږ ځیني لیکونکي یې «ارغنداب» لیکي. دغه راز د کندهار ټول خلک د ارغنداو «مزره»، همدغسي «مزره» بولي، خو زموږ ډېر لیکوالان په تېره میرزایان یې «مزرعه» لیکي. دغه راز «مالجات» په «محلهٔ نجات»،«روربات» په «روح آباد»،«سپېروان» په «سفید روان» لیکي. او داسي ډېر نور له خپلي اصلي او صحیح بڼي څخه اړوي او په لوی لاس یې ناسم لیکي.

په دې هکله چې ماته په عربي ژبه کي معلومات سته هغه دادي چې عربي ژبي ته چې د ځینو نورو ولسونو، لکه رومیانو، عبرانیانو، سریانیانو، نبطیانو، قبطیانو، عمالقه وو، فارسیانو، حبشو، بر برو او نورو له ژبو څخه چې هر نوم او لغت ورغلی دی عربو د هغه توري د خپلي ژبي د ځانګړنو، تلفظ او صوتي نظام سره سم مات کړي او په څه ادلون بدلون سره یې داسي اړولی دی چې په آساني یې وویلای سي او تلفظ یې کړای سي. بیا چې عربو د نورو ژبو د نومونو دغه اړولي بڼي په خپلو اشعارو او محاورو کي کارولي دي بالاخره یې که څه هم له اصله عربي نه دي، خو عربي یې ګڼلي دي او څنګه چې یې په خولو تلفظوي هغسي یې لیکي هم. مثلاً عرب زموږ کشک نخود د خپلي ژبي د دود او تلفظ د غوښتنو سره سم «الرخج» بولي، ګرمسیر «جروم» بولي، سیستان«سجستان» بولي، فراه «الفهرج» بولي او د دوی لیکوال یې هم د دوی د وینګ سره سم په همدغو عربي سوو بڼو لیکي، نه د هغو په اصلي بڼو.

په دغه ډول لوی څښتن پخپله ټول هغه نومونه چي عربي ژبي ته ننوتلي دي او دخيل نومونه يا لغات يا په بل عبارت «معربات» (عربي سوي کلمات) باله سي په هغه ډول تلفظ کړي دي چي عربو تلفظول او بيا په قرآن کريم کي هم په هغو بڼو ليکل سوي دي چي لوی څښتن او عربو تلفظ کړي دي. نه په خپلو اصلي بڼو. په دې هکله مثالونه ډېر زيات دي، خو موږ به يې يو څو وليکو، مثلاً:

د موسیٰ عليه السلام نوم په عبري ژبه «موشه» (Mosheh) دی، له اوبو څخه د راکښل سوي په معنا.

د عيسیٰ عليه السلام نوم په عبري «يسوع» يا «ايشع» دی، د ستر او مبارک په معنا. همداراز عيسیٰ عليه السلام ته په عبري ژبه «ماشح» هم وايي، کوم چي د لاتيني تلفظ Messiah څخه رامنځ ته سوی دی.خو دغه لقب لوی څښتن جل جلاله او عربو «مسيح» کړی دی. چي په دواړو ژبو يې معنا ده: مسح سوی، يا هغه څوک چي په سپېڅلو غوړو مسح سوی وي.

د عزير عليه السلام اصلي نوم عزرا دی. د يحيیٰ عليه السلام اصلي نوم يوحينا دی. د الياس عليه السلام اصلي نوم ايلياه (Elijah) دی. د اليسع عليه السلام اصلي نوم يسعياه دی. د جالوت اصلي نوم جُلْيَات ياجولِيَت دی. د قارون اصلي نوم قورح (Korah) دی. د حواري اصل«هواري» دی.

لوی څښتن د فارسي ژبي «کليد» دجمعي په بڼه «مقاليد» بللي دي. (په عربي کي د «مقاليد» مفرد «اقليد» دی). مشکو ته لوی څښتن په قرآن کريم کي «مسک» وايي.

عربو تازه په «طاذج»، ساده په «ساذج»، نمونې په«نماذج» او پالوده په «فالوذج» اړولي او د دوی ليکوالان يې هم په همدغو معربو بڼو ليکي نه په اصلي بڼو.

دغه راز عرب زموږ چندڼ ته «صندل»، ابير (يو ډول خوشبويه درملو) ته «عبير» او اپي يا هپي (لوی مار يا اژدها) ته «افعي» وايي او د دوی ليکوالان يې هم په همدغو معربو بڼو ليکي، نه د هغو په اصلي بڼو.

د يادوني وړده چي دغه درې سره لغتونه سوچه پښتو دي نه بل څه.

دغه او دغسې ډېر نور نومونه لوی ښښتن په قرآن کریم کې او عربو او د هغو پوهانو په معرب شکل ویلي او لیکلي دي. دغه راز تر کومه ځایه چې زه معلومات لرم په انګریزي او نورو ژبو کې هم دغه دود سته. صرف په دري ژبه کې له نورو ژبو څخه اخیستل سوي کلمات زیاتره په هماغه اصلي بڼه لیکي. چې دا یوازې د دې ژبې له ځانګړنو څخه باله سي.

نو چې لوی ښښتن او نور خلک دخیل لغات او کلمات د خپلې ژبې د ځانګړنو سره سم اړوي او وایي یې او لیکي یې نوموړ د خپلې ژبې اصلي لغات او کلمات او هغه مفغن سوي لغات چې ډېر خلک یې ان د اصلیتوب او مفغن توب توپیر نه سي کولای، ولي په لوی لاس په عربي یا فارسي بڼه لیکو؟

دغه راز زموږ په ژبه کې ځیني عربي کلمې باید هغسې ولیکل سي چې له ډېره مهاله پښتنو لیکوالو د پښتو د ځانګړي دود له مخې لیکلي دي، نه هغسې چې عرب یې لیکي. خو له بده مرغه زموږ ځیني لیکوالان ځیني دغسې کلمې د عربو په پېښو لیکي. مثلاً: دعوه «دعویٰ»، معنا «معنیٰ»، معرا «معریٰ»، ادنا «ادنیٰ» اسماعیل «اسمعیل»، مدعا «مدعیٰ»، محتوا «محتویٰ»، منتها «منتهیٰ»، بلوا «بلویٰ» او تقوا «تقویٰ» لیکلي. البته اعلیٰ، عیسیٰ او موسیٰ په همدغو خپلو بڼو لیکل کیږي.

بل هم ادعا «ادعاء»، امضا «امضاء»، علما «علماء»، اجرا «اجراء» او داسې نور د همزه په زیاتوب لیکي. په داسې حال کې چې له عربي څخه پښتو ته په هغو دخیلو کلمو کې چې په همزه ختمیږي، همزه نه لیکل کیږي.

همدا شان په هغو عربي لغاتو کې چې د «فاعل»، «فواعل» او «فعائل» پر وزن وي په پښتو او دري کې د همزه پر ځای «ی» لیکل کیږي. مثلاً قائل «قایل»، سائل «سایل»، جائز «جایز»، جوائز «جوایز» فوائد «فواید»، قبائل«قبایل»، دلائل«دلایل»، مسائل«مسایل» فضائل «فضایل» لیکل کیږي. خو لکه چې لیدل کیږي ډېر لیکوالان دغه خبري په پام کې نه نیسي ان د ځینو رسنیو کارکوونکي زما لخوا سمې لیکلي سوي کلمې، ورانوي او په ناسم شکل

يې اړوي او داسي ګومان کوي چې په ليکنه کې يې سمون را وستلی دی، په داسي حال کې چې سم کلمات يې غلط کړی وي.

د ځينو عربي ترکيباتو په هکله هم ځيني ليکوالان تېروتني کوي.مثلاً: ان شاء الله، مع ذالک، مع هذا، عن قريب، من جمله، من بعد او د دې وو امثال په ناسمه بڼه انشاء الله،معذالک، معهذا، عنقريب، منجمله او منبعد ليکي.

په دې هکله نوري ډېري خبري هم سته خو موږ پر همدغونو بسنه کوو. والسلام

## د دې کتاب د ځينو لغاتو او اصطلاحاتو معناوي

آر: اصل، آرونه: اصول.

اډانه: اداره، تشکيل، ډانچه،.چارچوب، چوکاټ.

اريان، اريانوونکی، اريانتيا: آر او اصلي پښتو لغتونه دي، د دې وو پر ځای عربي حيران، حيرانوونکی او حيرانتيا ليکل ناسم باله سي.

اند: د فکر، تصور او خيال معنا ورکوي. زموږ پښتانه يې له لرغونو مهالونو څخه په خپلو خبرو اترو کي کاروي، لکه چي وايي: «ستا خبري د اند د پاسه دی». او دغه راز وايي: «ستا په اند به دا کار څنګه وي؟».

بيده: هماغه ويده دی. خو زما او د نورو ځينو سيمو خلک يې بيده وايي. پردې بنسټ د «بيده» د ويونکو شمېر ډېر ښکاري. او اصل يې هم ښايي بيده وي او ويده يې عاميانه وي. ځکه په پښتو او دري ژبو کي عام خلک زياتره «ب».په «و». تلفظ کوي، لکه چي «ابتر».«اوتر».«بار».«وار».

«عبدل».«اودل».«شوربا».«ښوروا».«به به».«وه وه»«بزه». يا «بز». «وزه».تلفظ کوي. په دې هکله نوري دغسي بېلګې ډېري دي. نو «بيده» ليکل غوره باله سي.

بېره: وېره. د بېري په هکله هم پورته خبري صدق کوي.

پاليسي: (policy) سياسي کړنلار، تلنلار، تدبير، حکمت عملي.

پېر: دور، دوره، مهال.

توپان: د طوفان مفغن سوې بڼه ده.

تهذيب: د يوې ټولني د ژوند تېرولو دوديزي لاري چاري، مادي پر مختګ، هڅوب، کلتور.

ثقافت: هڅوب، کلتور، تهذيب او تمدن.

جواب: ځواب، غبرګون. څنګه چي په پښتنو کي د ځواب په پرتله د جواب د ويونکو شمېر ډېر ښکاري ځکه نو موږ هم معياري ارزښت ورکړی دی.

جوړښتون: کارخانه.

څونه: څومره، څونده.

حدیث: په لغت کي هري نوي خبري او شي ته حدیث وایي او د محدثینو په اصطلاح حدیث هغه څه ته وایي چي د رسولﷺ قول، فعل او تقریر ته منسوب سي، او د تقریر معنا دا ده چي چا د رسولﷺ په حضورکي څه کار کړی وي او یا یې څه ویلي وي او د هغهﷺ علم په رسېدلی وي او بد یې نه وي ګڼلی او منع یې نه وي ځني کړې، بلکي سکوت یې اختیار کړی وي.

ختیځ: نوم دی، د لمر ختو د ځای، شرق، مشرق په معنا، لکه ګهیځ چي نوم دی او د سهار معنا ورکوي. په انګرېزي کي East

ختیز: د ختیځ اړوند. شرقي، مشرقي، ختیځ یا شرق ته منسوب په معنا. په پښتو کي په دغسي مواردو کي «ز» د نسبتي «ی» پر ځای راځي، لکه په لمریز او سپوږمیز کي. په اصل کي باید ختیځیز ولیکل سي، خو څنګه چي د «ځ» او «زی» یو ځای کېده پر ژبه باندي درونDوالي او ثقالت راوړي، ځکه نو «ځ» خذفیږي. په انګرېزي کي Eastern

درواغ: د دروغ په معنا. خو پام مو وي چي دروغ فارسي دی او درواغ پښتو.

دونه: دومره. زما د سیمي خلک دومره هیڅ نه وایي، بلکي دونه یا دوني وایي، نو چي داسي ده زه څله د نږدې خپلوانو پرځای د لیرو په لهجه وږغیږم؟

دوهم: هماغه دویم دی. خو څنګه چي یې ډېر پښتانه «دوهم»وایي نو «دویم» لیکل یې ناسم برېښي. بل دا چي د «دوه» وروستی توری «ه» ده،نو باید د «دوهم»،«م» د«ه» سره ونښلي نه د «ی» سره، لکه څنګه چي د درېیم «م» د «ي» سره او د څلورم «م» د «ر» سره نښلي او داسي نور هم.

ربړه: مسئله.

رپی: بیرغ.

رجزیه سندري: هغه سندري او شعرونه چي د جګړې پر مهال د ویاړ او د ځان یا جګړنو د ستاینې لپاره ویل کیږي.

سنت: د سنت لفظي معنا سيرت او د غوره طريقې اختيارول ده. په دې کتاب کي د سنتو معنا عبارت ده د رسولﷺ له ټولو قولي او فعلي احکامو څخه.

سو، سوی: دا او داسي نور د شو، شوی او داسي نورو سره په معنا کي هيڅ فرق نه کوي. څنګه چي د هيواد د ختيزو سيمو له پښتنو پرته نور ټول سو او سي وايي نو د دېرکي دا درست باله سي. اوس ډېر پښتانه ليکوال په خپلو ليکنو کي سو او سي او داسي نور ليکي، ان د جهاد يوه نامتو مشر ښاغلي حکمتيار لا هم د سو او سته ليکل خوښ کړي او تاييد کړي دي.

ښوول: ښودل، ښکاره کول، څرګندول. زه له پخوا څخه ښوول، کښېښوول او پرېښوول ليکم، خو ځينو نورو دا معياري نه بلل او ښودل او پرېښودل يې کره ګڼل اوس دوي هم ښوول او داسي نور معياري ګڼي.

صندخ: د صندوق پښتو سوې بڼه ده. څنګه چي زيات پښتانه صندوق ته صندخ وايي، نو موږ هم صندخ ليکو، لکه وقت چي وخت،سحر چي سهار او وسع چی وس او صلح چي سوله او طمع چي تمه ليکو.

غالب: د قالب پښتو سوې بڼه ده.

فرهنګ: هڅوب، کلتور.

کابو: نژدې، وخت.

کړکېچ: بحران، شخړه.

کړنلار: د کار او عمل لايحه او برنامه.

کي: د کي او کښي په هکله چي ماته معلومات سته ډېر پښتانه يې«کي» وايي او ليکي. اوس ډېر لږ ليکوال په خپلو ليکنو کي «کښي» کاروي. «کي» تر «کښي» آسانه هم دی. ځکه نو زه په خپلو ليکنو کي «کي» ليکم

ګومان: د فارسي «گمان»مفغن شکل دی. چي پښتانه ليکوال يې د پښتو وينګ سره سم ليکي.

لوېديځ: نوم دی د لمر لوېدو د ځای، غرب او مغرب په معنا، لکه دريځ چي نوم دی او د منبر، موقف او سټېج معنا ورکوي. په انګرېزي کيWest

لوېديز: د لوېديځ اړوند. غربي، مغربي، يا غرب ته منسوب. په پښتو کي په دغسي مواردو کي «ز» د نسبتي «ی» پر ځای راځي، لکه په لمريز او سپوږميز کي. په اصل کي بايد لوېديځيز وليکل سي، خو څنګه چي د «ځ» او «زی» يو ځای کېده پر ژبه باندي دروندوالي او ثقالت راوړي، ځکه نو «ځ» خذفيږي. په انګرېزي کي Western

مځکه: مځکه او ځمکه يا زمکه د «زمين» په معنا دي. خو مځکه سوچه پښتو لغت دی، اما ځمکه يا زمکه کېدای سي«زمين» ته د څه نږدې والي له امله د مځکي مقلوب شکل ګرځېدلی وي.

مساله: د عربي مصالح پښتو سوې بڼه. جمع يې مسالې.

نخشه: د نقشه پښتو سوې بڼه ده. څنګه چي زيات پښتانه نقشه په نخشه تلفظوي، نو موږ هم په خپله ژبه کي د «نقشې» پر ځای د «نخشې» ليکل غوره بولو، لکه وقت چي وخت، سحر چي سهار او وسع چی وس او صلح چي سوله او طمع چي تمه ليکو.

نژدې: د «نزديک» په معنا چي د «نږدې»په بڼه ليکل يې ناسم باله سي.

نړی وال: د نړيوال په بڼه ليکل يې ناسم باله سي،ځکه په «نړيوال» کي راغلې «يې» د ښځينه (ی) آواز نه ورکوي او پخپله دغه «ی» د لفظ په منځ کي راتلای نه سي. يعني «نړی» او «وال» يو ځای نه سي ليکل کېدلای.

ولکه: قبضه، کنټرول.

وو او وه: د «بود» په معنا د «و»يا «ؤ» او د «بودند»په معنا د «وو» ليکل ناسم دي. سم يې د «بود» لپاره «وو» او د «بودند» لپاره «وه» باله سي.

وېسا: اعتماد، باور.

همږغي: همآ هنګي.

يون: رفتار، تلل، سفر.

# د مجهولي (ې) او (و) غلطه کارونه

موحد

په داسي حال کي چي (و) يو حرف دئ نه کلمه، کلمه لږ تر لږه له دوو حروفو جوړېږي، (و) يا (ؤ) د يوې کلمې په توګه کارول غلطي ده، ځيني خلك د مفرد غائب لپاره د (وو) پر ځای (و) يا (ؤ) راوړي، استدلال ئې دا دئ چي وو د جمعي صيغه ده!! خو دا په بشپړه توګه غلط استدلال دئ، راشئ وګورو چي دا کلمه د ضمير له مخي څو حالته غوره کوي؟ زه وم، موږ وو، ته وې، تاسو وئ، دی وو، دوی ول، دا وه، دوی وې. لکه چي ګورئ د جمع غائب لپاره د (ول) صيغه راځي، خو خلك د لام د ثقلت له امله هغه حذفوي او پر ځای ئې (وو) ورته راوړي. همداسي لکه د شول پر ځای چي (شوو) وايي، اوس د دې پر ځای چي د غائب مفرد لپاره د (وو) اصلي حالت چي د ټولو پښتنو قومونو لهجه تمثيلوي او له قواعدو سره سم دئ وکاروي يو واو ئې حذفوي، کله (و) ترې جوړ کړي او کله (ؤ) چي دواړه غلط دي.

همداراز په پښتو کي استمراري ماضي د مصدر په پای کي د (و) يا (ه) په زياتولو سره جوړېږي، له کول کولو، له ويل ويلو، له وهل وهلو، او د مؤنث لپاره کوله، ويله، وهله راځي؛ چي د مذکر لپاره (و) او د مؤنث لپاره (ه) راځي، (ل) د ثقلت له امله اکثراً حذف کېږي او واو ئې په الف بدلېږي، لکه کولو- کاوو، ويلو- وايو، وهلو - واهو،... خو دا کار نه له مؤنثو صيغو سره کېږي او نه له ټولو مذکرو صيغو سره، ځيني اشتباه کوي او د مذکر لپاره (ه) کاروي او ليکي کاوه، وايه، واهه، حال دا چي د (ه) توری په استمراري ماضي کي د مؤنث لپاره راځي، ده جهاد کولو، ده مبارزه کوله، ده کتاب ويلو، ده مقاله ليکله، که وغواړو چي د کولو او ويلو کلمات مختصر کړو نو کاوو او وايو ترې جوړېږي نه کاوه او وايه، ځکه د مذکر لپاره د واو پر ځای هې راوړل د قاعدې خلاف کار دئ او په دې سره التباس رامنځته کېږي او د امر له صيغې سره شباهت پيدا کوي، کتاب وايه؛ په حقيقت کي مخاطب ته د کتاب

ویلو امر دئ، یعني ته کتاب وایه، دا غلط لیکنه ده چې ولیکو ده کتاب وایه، صحیح لیکنه ئې دا ده: ده کتاب وایو، همداراز په نورو مواردو کې هم دا کار غلط دئ.

د پښتو په اوسني لیکدود کې یوه ستونزه د (ی) ستونزه ده چې باید حل شي، باید دې ته ځواب ومومو چې د پښتو (یې) یوه ده که پنځه؟ چې د اوږده یا مجهوله (ې)، لنډه یا څرګنده (ي)، زورواله یا نرمه (ی)، او زورکی واله او لکۍ واله (ۍ، ئ) یا لکۍ واله او همزه واله (یې) په نامه یادېږي. که یوه وي ولې ئې په پنځه ډوله لیکو؟ که پنځه وي؛ هره یوه ئې چېري او څنګه راځي؟ د کومي قاعدې مطابق که نه هسي د تعامل او دود له مخې؟ او داسي چې د هري (ی) اړوند کلمات باید حفظ کړو، چي دا یقیناً ګران کار دئ، په ځانګړې توګه هغو خلکو ته چې نوې پښتو زده کوي. که په پښتو کې د (ی) د کاروني په اړه لږ دقت وکړو راته جوته کېږي چې د (ی) غږ او ډول د هغه توري په حرکت پوري تړلی دئ چې تر (ی) مخکي راځي، که دا حرف زور ولري، د (ی) تلفظ یو ډول وي، که زېر ولري بل ډول، که ساکن وي یو ډول او که زېرکی ولري بل ډول، د همدې لپاره موږ دې ته اړ شوي یو چې د دغو بېلا بېلو تلفظونو لپاره د (ی) بېل بېل ډولونه جوړ کړو. مجهوله یې: په مشرقي لیکدود کي مجهوله یې ډېره او بې ځایه کارول کېږي، د مثال په توګه چې، کي، مي، دي، داسي، هسي،... داسي لیکي: چې، کې، مې، دې، داسې، هسې... حال دا چې په کار ده (دي، کي، چي، مي، داسي، هسي... صحیح وګڼو او (دې، کې، چې، مې، نې، بې، زې، تې، داسې، هسې) د دغو ترکیبونو مخفف ومنو (دي ئې، که ئې، چي ئې، مي ئې، نه ئې، به ئې، زه ئې، ته ئې، داسي ئې، هسي ئې)، مثالونه ئې: کتاب دې ورکړ؟ یعنی د ده خپل کتاب دي ورکړ؟ او کتاب دي ورکړ؟ یعنی کوم کتاب دي ورکړ؟ کتاب دي ئې ورکړ غلط او د ټولو پښتنو قبیلو د مروج تلفظ خلاف دئ.

الله تعالی دې شهادت قبول کړي، یعنی الله تعالی دي د ده شهادت قبول کړي. دا سمه نه ده چي ولیکو: الله تعالی دي ئې (یا دې ئې) شهادت قبول کړي، د پښتنو هیڅ قبیله داسې نه وایي، نه پوهېږو دا د چا کوږ بدعت دئ؟

کتاب مې ورکړ، یعنی د ده خپل کتاب مي ورکړ، او کتاب مي ورکـړ، یعنـی یـو کتاب مي ورکړ.

کې ځواب ورکړی نه وی، یعنی که ئې ځواب ورکړی نـه وی. دا کتـاب چـې لیکلو، یعنی دا کتاب چي ئې لیکلو. نې خبر کړ له خطره، یعنی نه ئې له خطـره خبر کړ. چي دښمن بې خپل هېواد کي نه پرېښود: یعنی دښمن به ئې پـه خپـل هېواد کې نه پرېښود. زې لامنم، یعنی زه ئې لامـنم. تـې لازغمې، یعنـی تـه ئـې لازغمې؟ داسې ځواب کړه چي بیا رانـه شـي، یعنـي داسـي ئـې ځـواب کـړه.... هسې خبر کړ، یعني هسي ئې خبر کړ. په پښتونخوا کـي د مجهـولي (ې) لپـاره یوه نوې یې راایستل شوې چي له اردو ئې اخیستې ده، داسي ئـې لیکـي: (ے)، اردو ژبه هم د پښتو مجهولي یې ته ورته غږ لري چي همدا (ے) ورته راوړي. لکه کیلئـے.

ښځینه جمع ځیني ادعا کوي چي د ښځینه نومونو جمع باید په اوږده یې سره ولیکو، خو دا خبره صحیح او معیاري نده او د پښتنو د ټولو قبیلو له عام تلفظ سره مغایرت لري، صحیح او معیاري خبره دا ده چي هغه ښځینه نومونه چي په پای کي ئې هې وي په جمع کي همدا هې په یې بدلیږي، خو دا یې کله اوږده او کله لنډه تلفظ کیږي، که تر هې مخکي توری زورکی ولري، په جمع کي دا زورکی په زېر بدلیږي او د هې په ځای څرګنده (ي) راځي، لکه ښځه ښځي، کونډه کونډي، ژبه ژبي، او که تر هې مخکی توری زور ولري زور ئې په زورکي بدلیږي او د هې په ځای اوږده (ې) راځي؛ لکه څپه څپې، ړنده ړندې، خوږه خوږې، شپه شپې. د ښځینه جمع لپاره دا قاعده قبوله کړو چي: ښځه، کونډه، لنډه، تنده، مرسته، بېله، بله، پېښه (حادثه)، او دې ته ورته ښځینه مفرد په ښځي، کونډي، لنډي، تندي، مرستي، بېلي، پېښي او ټول هغه ښځینه نومونه چي تر یې مخکي توری ئې زېر ولري په (ي) سره ئې جمعه کړو او منه، لنده، اوږده، پېښه (تقلید)، څپه او دې ته ورته صیغې په منې، لندې، اوږدې، پېښې، څپې او ټولي هغه صیغې چي تر یې مخکی توری ئې زېرکی ولري په (ې) سره جمع کړو. اغلباً دا (ې) ډېره او بې ځایه استعمالیږي، په هغو ځایونو کي هم کارول کیږي چي د پښتنو د هیڅ قبیلې په تلفظ کي نه

احساس کېږي او په ډېرو مواردو کې نه يوازي له تلفظ سره اړخ نه لګوي بلکي د التباس باعث ګرځي، د مثال په توګه: د جمع لپاره هم او د ندا لپاره هم ښځې ليکل، چې له يوې خوا له عام تلفظ سره مغايرت لري او له بلي خوا مخاطب په اشتباه کې اچوي، بايد (ښځي د ښځه جمع او ښځې د اې ښځې په معنی) وليکو، په دواړو صورتونو کي ئې د ښځې په توګه ليکل د التباس باعث ګرځي. يا (ورځې) د ورځ جمع او له مخاطب نه د تلو په اړه پوښتنه (ته ورځې؟) سم ئې ورځي (د ورځ جمع) او ورځې د پوښتني لپاره.